وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآية)

۵

# زاد الخطباء

بیانات

## مولانا اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن)، چمن

ترتیب وتخریج

## مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب

فاضل دار العلوم کراچی
سابق استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن



مکتبۃ الهاشمیہ
0310-4594038

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیہ)

# زاد الخطباء

(بیانات)


مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن


جلد: (۵)


ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

سابق استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن



مکتبہ سلطانیہ الہاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

## د طباعت او کتابت حقوق محفوظ دي:

- د کتاب نوم:..........................زاد الخطباء
- **بيانات**:.......................... مولانا اطیع اللہ صاحب
- ترتيب وتخريج:..........................حافظ کلیم اللہ صاحب
- کره کتنه:.......... مولوی محمد ہاشم حذیفہ صاحب او عبد اللہ متعلم درجہ سابعہ
- کمپوز:.......................... عبدالوہاب او شبیر احمد
- تعداد:..........................۱۱۰۰
- ضخامت:.......................... ۵۴۶
- سنه طباعت:..........................جمادی الاولی ۱۴۴۲ ھ
- ناشر:..........................مکتبه سلطانيه الهاشميه

---

د ملاوېدو ځايونه:

۱. مکتبه عمريه:.......................... اباسين روډ چمن
۲. اسلامي کتب خانه:..........تاج مير خان روډ چمن
۳. شګيوال کتب خانه:..........................سپين بولدک
۴. مکتبه غفاريه:..........................ارګ بازار قندهار
۵. جامع مسجد حاجي عبد الودود :..........................چمن
٦. سعادت کتب خانه:..........عبد الرحمن کهول روډ چمن
۷. مکتبه رشيديه:..........................ملک مارکيټ کچلاګ

# تقریظ

استاد المفسرین و المحدثین محدث العصر، نمونہ اسلاف، جامع المعقول
والمنقول، شیخ الحدیث حضرت مولانا **نظر محمد** صاحب افغاني
دامت برکاتہم العالیہ

---

لله الحمد رب السموات والارض رب العالمین.
والصلوة والسلام علی قائد الغر المحجلین محمد و علی آله و صحبه دعاة الحق وهداة الدین.
اما بعد: قد طالعت نبذاً یسیرًا من زاد الخطباء لاخینا في الله المولوي اطیع الله فکما قیل ان الثمرة تنبئ عن الشجرة والانموذج یخبر عن البیدر وجدته قد لخص فیه من مهمات الدعوة وضوابط الابلاغ مع ان قضیة الدعوة لها اهمیة کبیرة في نفسها فجزاه الله تعالی خیرًا و جعل مصنفه نافع للخطباء وسائر من اراد. (آمـــین)

وانا عبد الفقیر الی الله خادم الاحادیث النبویة.

# تقريظ

استاد المفسرين والمحدثين فقيه العصر قدوة العلماء شيخ الحديث حضرت مولانا

## عبـــــد السلام صاحب دامت بركاتهم العاليه

باني جامعه دار العلوم رحمانیه چمن

الحمدلله الواحد الرحمن، والصلوة والسلام على سيد الانام، وعلى اصحابه الذين قلعوا اثار الاصنام، وعلى التابعين الذين اجتهدوا في القرآن، لاسيما على امام الهمام الذى اوسع طريقة الاسلام، سيدنا الامام ابو حنيفة النعمان.

وبعد حمدا وثناء خداى پاک لره وايم چي په هر وقت او په هره زمانه كي يې حقاني علماء او حق پرسته خادمان د اسلام پيدا كړي دي.

لكه: جناب محترم خادم الاسلام حق بين و حق شناس حضرت مولانا الحاج جامع العلوم كا الشمس بين النجوم مولوي اطيع الله صاحب چي زاد الخطباء يې دپاره د اصلاح د عقائدو د مسلمانانو په خلاصه او مختصرو عباراتو تصنيف كړى دئ او دلائل حقه د قرآن حكيم او احاديث نبويه ﷺ يې په لنډو عباراتو او په ښه توګه بيان كړي دي.

الله جل جلاله دي د دې كتاب نفعه او بركت و ټولو مسلمانانو ته ورسوي او د مؤلف سعى دي په قبول حسن سره قبوله كي او د آئنده دپاره دي الله جل جلاله د دغسي نورو خدمتو توفيق ورپه نصيب كي آمين.

(مولوي عبدالسلام القندهار مسكنه الاصلي والشمن مسكنه الفعلي)

# د عنواناتو اجمالي فهرست



| شماره | مضامين | صفحه | شماره | مضامين | صفحه |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱. | سريزه او عرض مرتب | ۲۸ | ۱۶. | د معجزاتو دوهم بيان | ۳۳۹ |
| ۲. | د ولادت بيان | ۳۱ | ۱۷. | اخلاق حسنه | ۳۵۹ |
| ۳. | د رضاعت بيان | ۵۵ | ۱۸. | حكمت او ذهانت | ۳۸۳ |
| ۴. | د مورد وفات بيان | ۷۹ | ۱۹. | د محبت بيان | ۳۹۹ |
| ۵. | د شام طرفته سفر كول | ۱۰۱ | ۲۰. | دوه لوى نعمتونه | ۴۲۱ |
| ٦. | د نبوت بيان | ۱۲۳ | ۲۱. | د رحمت تقسيم | ۴۴۱ |
| ۷. | د نبوت عام اعلان | ۱۴۵ | ۲۲. | د امت په هكله د پيغمبر ﷺ ژړا | ۴۵۹ |
| ۸. | عرض على القبائل | ۱٦۵ | ۲۳. | د شفاعت بيان. | ۴۷۹ |
| ۹. | د معراج اول بيان | ۱۸۵ | ۲۴. | د جوامع الكلم اول بيان | ۴۹۹ |
| ۱۰. | د معراج دوهم بيان | ۲۰۷ | ۲۵. | د جوامع الكلم دوهم بيان | ۵۲۱ |
| ۱۱. | د هجرت اول بيان | ۲۲۹ | ۲٦. | د وفات اول بيان | ۵۳۹ |
| ۱۲. | د هجرت دوهم بيان | ۲۵۱ | ۲۷. | د وفات دوهم بيان | ۵٦۳ |
| ۱۳. | د پيغمبر ﷺ حسن او جمال | ۲۷۵ | ۲۸. | د درود شريف فضائل، اول بيان | ۵۸۹ |
| ۱۴. | معجز كتاب قرآن كريم | ۲۹۵ | ۲۹. | د درود شريف فضائل، دوهم بيان | ٦۱۳ |
| ۱۵. | د معجزاتو اول بيان | ۳۱۷ | ۳۰. | د اتباع سنت بيان | ٦۳۵ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سریزه: | ۲۸ |
| | ﴿د ولادت بیان﴾ | |
| ۲. | ولادت با سعادت: | ۳۳ |
| ۳. | د ولادت په باره کي مختلف اقوال: | ۳۴ |
| ۴. | د انعام مخکي د امتحان مرحله: | ۳۴ |
| ۵. | د دریو (۳) لویو شخصیاتو امتحان: | ۳۵ |
| ٦. | د "عبد المطلب" امتحان: | ۳۵ |
| ۷. | د "عبد الله" امتحان: | ۳۸ |
| ۸. | د "بي بي آمنې" امتحان: | ۴۰ |
| ۹. | عجیب حالات ښکاره کېدل: | ۴۲ |
| ۱۰. | د یهودو پرېشاني: | ۴۳ |
| ۱۱. | د پیغمبر ﷺ د ولادت حالات: | ۴۳ |
| ۱۲. | د ملائکو راتلل: | ۴۵ |
| ۱۳. | د پیغمبر ﷺ عجیبه پیدائش: | ۴۹ |
| ۱۴. | د بیت الله سجده کول: | ۴۹ |
| ۱۵. | د ایوان "کسریٰ" زلزله او د نهر "ساوه" وچېدل: | ۵۰ |
| ۱٦. | د عامر واقعه چي په ابتداء کي "بت پرست" وو: | ۵۲ |
| | ﴿د رضاعت بیان﴾ | |
| ۱۷. | عقیقه، او تسمیه: | ۵۷ |
| ۱۸. | د "محمد" د نامه اېښولو وجه: | ۵۸ |
| ۱۹. | د خپلي مور شیدې رودل: | ۵۹ |
| ۲۰. | د "حلیمې سعدیه" تَی رَودَل: | ٦۱ |
| ۲۱. | د "حلیمه سعدیه" مکې مکرمې ته راتلل: | ٦۱ |
| ۲۲. | د "حلیمه سعدیه" په انتخاب کي پوشیده راز: | ٦۳ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۳. | د پیغمبر ﷺ خوبصورتي او ښائست: | ٦۴ |
| ۲۴. | د مور د دُعا ثمرات: | ٦۵ |
| ۲۵. | د نبي اکرم ﷺ د صدارت مقام: | ٦۷ |
| ۲٦. | د "حلیمه سعدیه" ورځ بدلېدل: | ٦۸ |
| ۲۷. | د بل تَي نه رودلو وجه: | ٦۹ |
| ۲۸. | د پیغمبر ﷺ حسن او جمال: | ٦۹ |
| ۲۹. | د "شیما" محبت: | ۷۱ |
| ۳۰. | د "بي بي آمنې" حضور ته واپسي: | ۷۲ |
| ۳۱. | په "یتیم" کېدلو کي حکمت: | ۷۳ |
| ۳۲. | په اسلام کي د "یتیم" مقام: | ۷۴ |
| ۳۳. | "شیما" ته د عزت ورکولو واقعه: | ۷٦ |
| | **﴿د مور د وفات بیان﴾** | |
| ۳۴. | د "ربیع الاول" معنٰی: | ۸۱ |
| ۳۵. | د حضرت "حلیمه سعدیه" بېره: | ۸۲ |
| ۳٦. | د حضرت "آمنې" بېره: | ۸۳ |
| ۳۷. | د "مدینې منورې" څخه "مکې مکرمې" ته راتلل: | ۸۳ |
| ۳۸. | "مکې مکرمې" ته واپس راتلل: | ۸۴ |
| ۳۹. | د حضرت یوسف علیه السلام په مثل: | ۸۷ |
| ۴۰. | د پیغمبر ﷺ تمنٰی: | ۸۸ |
| ۴۱. | چي کله مور معاف کړی: | ۸۸ |
| ۴۲. | د قیامت نښانه: | ۸۹ |
| ۴۳. | واقعې ته اعاده: | ۹۰ |
| ۴۴. | د موسی علیه السلام او د "قصابي" برابروالی: | ۹۱ |
| ۴۵. | موسی علیه السلام ته فرمان: | ۹۲ |

د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۴٦. | په جنت کي د حارثه بن نعمانﷺ تلاوت: | ۹۲ |
| ۴۷. | یو سړی د حضرت عمرﷺ په دربار کي: | ۹۳ |
| ۴۸. | د یو صحابي او د ده د زوی د درمیان واقعه: | ۹۳ |
| ۴۹. | نو هغه صحابي خپل اشعار په دا رنګه ورته پیشوي: | ۹۴ |
| ۵۰. | د اشعارو خلاصه: | ۹۵ |
| ۵۱. | د پلار محبت: | ۹٦ |
| ۵۲. | مقصد ته اعاده: | ۹۷ |
| ۵۳. | د "عبد المطلب" کفالت: | ۹۸ |
| ۵۴. | د "عبد المطلب" انتقال: | ۱۰۰ |
| | ﴿د شام طرفته سفر کول﴾ | |
| ۵۵. | د دنیا ناپایداره نظام حکومت: | ۱۰۳ |
| ۵٦. | و انساني معاشرې ته نجات ورکونکی: | ۱۰۴ |
| ۵۷. | د "بني اسرائیلو" مثال: | ۱۰۴ |
| ۵۸. | د "عربو" مثال: | ۱۰۴ |
| ۵۹. | د پیغمبرﷺ د زندګی داستان: | ۱۰٦ |
| ٦۰. | د "ابو طالب" کفالت: | ۱۰٦ |
| ٦۱. | عجیبه او غریبه واقعه: | ۱۰۷ |
| ٦۲. | د "شام" اول سفر: | ۱۰۸ |
| ٦۳. | د "بحیرا راهب" قصه: | ۱۰۸ |
| ٦۴. | د پیغمبرﷺ د نبوت تصدیق: | ۱۱۰ |
| ٦۵. | د "حجة الوداع" واقعه: | ۱۱۲ |
| ٦٦. | د سرکښه اوښانو واقعه: | ۱۱۲ |
| ٦۷. | د یو اعرابي زمیندار واقعه: | ۱۱۴ |
| ٦۸. | مقصد ته اعاده: | ۱۱۷ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۶۹. | د "شام" دوهم سفر، او د "نسطورا راهب" سره ملاقات:...... | ۱۱۸ |
| ۷۰. | د حضرت خدیجې رضي الله عنها سره نکاح:.............. | ۱۲۰ |
| | **(د نبوت بیان)** | |
| ۷۱. | پر څلوېښت (۴۰) کاله نبوت:.............. | ۱۲۵ |
| ۷۲. | د نبوت ابتداء:.............. | ۱۲۶ |
| ۷۳. | آفتاب رسالت ښکاره کېدل:.............. | ۱۲۷ |
| ۷۴. | د وحي څخه مخکي خوب لیدل:.............. | ۱۲۷ |
| ۷۵. | حضرت خدیجې رضي الله عنها ته خوب بیانول:.............. | ۱۲۸ |
| ۷۶. | د جبرائیل علیه السلام اول ځل راتلل:.............. | ۱۲۸ |
| ۷۷. | کورته راتلل:.............. | ۱۳۰ |
| ۷۸. | "ورقه بن نوفل" ته ورتلل:.............. | ۱۳۱ |
| ۷۹. | "عداس" نامي راهب ته ورتلل:.............. | ۱۳۳ |
| ۸۰. | تر درو (۳) کالو پوري خفیه دعوت:.............. | ۱۳۴ |
| ۸۱. | په صحابیاتو کي د دین جذبه:.............. | ۱۳۴ |
| ۸۲. | د شخصیت په تعمیر کي د زناني کردار:.............. | ۱۳۶ |
| ۸۳. | د حضرت خدیجې رضي الله عنها کردار:.............. | ۱۳۶ |
| ۸۴. | اصل کمال د مور دی:.............. | ۱۳۷ |
| ۸۵. | د "قریشو" اول ځل ضیافت کول:.............. | ۱۳۸ |
| ۸۶. | دوهم ځل ضیافت کول:.............. | ۱۳۸ |
| ۸۷. | تفسیر:.............. | ۱۴۰ |
| ۸۸. | د ابو طالب په کور کي مجلس جوړېدل:.............. | ۱۴۰ |
| | **(د نبوت عام اعلان)** | |
| ۸۹. | د نبوت اعلان:.............. | ۱۴۷ |
| ۹۰. | د "صفا" پر غونډۍ خلک را جمع کول:.............. | ۱۴۸ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۹۱. | د نبوت د اعلان څخه وروسته مصائب راتلل: | ۱۵۰ |
| ۹۲. | د ابو لهب د زوی "عتیبه" واقعه: | ۱۵۱ |
| ۹۳. | "ابو جهل" ته د اسلام دعوت: | ۱۵۳ |
| ۹۴. | پیغمبر ﷺ ته تکلیف رسول: | ۱۵۴ |
| ۹۵. | د تکلیف رسولو واقعه: | ۱۵٦ |
| ۹٦. | یوه بله واقعه: | ۱۵۷ |
| ۹۷. | د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د قرآن تلاوت کول: | ۱٦۱ |
| ۹۸. | د ضماد بن ثعلبه رضی الله عنه واقعه: | ۱٦۲ |
| | ﴿عرض علی القبائل﴾ | |
| ۹۹. | د سیرت تسلسل: | ۱٦۷ |
| ۱۰۰. | د "ابو طالب" په مجلس کي حاضرېدل: | ۱٦۸ |
| ۱۰۱. | "ابو طالب" ته جواب: | ۱٦۸ |
| ۱۰۲. | د قریشو دوهم ځل "ابو طالب" ته راتلل: | ۱٦۹ |
| ۱۰۳. | په "شعب ابي طالب" کي محصوره کېدل: | ۱٦۹ |
| ۱۰۴. | عام الحزن والملال: | ۱۷۰ |
| ۱۰۵. | پیغمبر ﷺ غمجن کېدل: | ۱۷۰ |
| ۱۰٦. | "ابو طالب" ته دعوت ورکول: | ۱۷۰ |
| ۱۰۷. | د حضرت سوده بنت زمعه رضی الله عنها سره نکاح کول: | ۱۷۲ |
| ۱۰۸. | د دعوت اسلام لپاره د "طائف" سفر: | ۱۷۳ |
| ۱۰۹. | د وریځو راتلل: | ۱۷۷ |
| ۱۱۰. | کلي ته داخلېدل: | ۱۷۸ |
| ۱۱۱. | د جناتو سره ملاقات: | ۱۷۹ |
| ۱۱۲. | د طفیل بن عمر دوسي رضی الله عنه اسلام قبلول: | ۱۸۰ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست

| شماره | | صفحه |
|---|---|---|

**﴿د معراج اول بيان﴾**


| | | |
|---|---|---|
| ۱۱۳. | د سيرت طيبه ممتازه واقعه: | ۱۸۷ |
| ۱۱۴. | د دنيا دستور: | ۱۸۹ |
| ۱۱۵. | د مسجد "اقصیٰ" څخه تر مسجد "حرام" پوري: | ۱۸۹ |
| ۱۱۶. | د دنيا څخه ځان ساتل: | ۱۹۴ |
| ۱۱۷. | د دنيا متعلق يو حديث: | ۱۹۴ |
| ۱۱۸. | د دنيا مثال: | ۱۹۶ |
| ۱۱۹. | د امام غزالي رحمة الله عليه په نزد د دنيا مثال: | ۱۹۶ |
| ۱۲۰. | د حضرت جي رحمة الله عليه فرمان: | ۱۹۷ |
| ۱۲۱. | د دنيا څخه د آخرت توښه حاصلول: | ۱۹۸ |
| ۱۲۲. | بهترينه دعاء: | ۱۹۹ |
| ۱۲۳. | ټوله دنيا د دوی غلامان سوه: | ۲۰۰ |
| ۱۲۴. | د شام والي حضرت عبيده ابن جراح ﷺ: | ۲۰۰ |
| ۱۲۵. | د شام د والي کور: | ۲۰۱ |
| ۱۲۶. | د حضرت فاروق اعظم ﷺ اوښکي تويول: | ۲۰۲ |
| ۱۲۷. | نزول اقدس در "بيت المقدس": | ۲۰۳ |
| ۱۲۸. | د انبياء کرامو سره ملاقات: | ۲۰۴ |
| ۱۲۹. | شيدې، نه شراب: | ۲۰۵ |


**﴿د معراج دوهم بيان﴾**


| | | |
|---|---|---|
| ۱۳۰. | د "بيت المقدس" څخه روانېدل: | ۲۰۹ |
| ۱۳۱. | په آسمانو کي د انبياؤ سره ملاقات: | ۲۱۰ |
| ۱۳۲. | د اول آسمان دروازه خلاصېدل: | ۲۱۱ |
| ۱۳۳. | دوهم آسمان ته رسېدل: | ۲۱۲ |
| ۱۳۴. | "سِدرة المنتهیٰ" ته رسېدل: | ۲۱۳ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۳۵. | د جبرائیل علیه السلام پاته کېدل:........................ | ۲۱۴ |
| ۱۳۶. | د "جنت" منظره:........................ | ۲۱۷ |
| ۱۳۷. | د حضرت بلال رضي الله عنه د قدمو آواز:........................ | ۲۱۸ |
| ۱۳۸. | د "جهنم" منظره:........................ | ۲۱۹ |
| ۱۳۹. | د درواغو شاهدي ادا کول:........................ | ۲۲۰ |
| ۱۴۰. | د زناني د خاوند سره د بد سلوک سزا:........................ | ۲۲۰ |
| ۱۴۱. | د تکبر انجام:........................ | ۲۲۱ |
| ۱۴۲. | د غیبت کونکو انجام:........................ | ۲۲۱ |
| ۱۴۳. | د جهنم خازن "مالک" فرشته لیدل:........................ | ۲۲۱ |
| ۱۴۴. | د لمانځه تحفه:........................ | ۲۲۲ |
| ۱۴۵. | د کائناتو نظام موقوفه کول:........................ | ۲۲۴ |
| ۱۴۶. | د جدید دور د حالاتو سره تطابق:........................ | ۲۲۴ |
| ۱۴۷. | د الله تعالی سره ملاقات:........................ | ۲۲۵ |
| ۱۴۸. | قریشو ته واقعه بیانول:........................ | ۲۲۵ |
| ۱۴۹. | د لارې واقعه بیانول:........................ | ۲۲۵ |
| ۱۵۰. | حبس الشمس:........................ | ۲۲۶ |
| ۱۵۱. | د ابوبکر رضي الله عنه تصدیق:........................ | ۲۲۶ |
| | **﴿د هجرت اول بیان﴾** | |
| ۱۵۲. | د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د "سیرت" یو اهمه حصه:........................ | ۲۳۱ |
| ۱۵۳. | د مدینې منورې قبائل "آوس" او "خزرج":........................ | ۲۳۲ |
| ۱۵۴. | په "مدینه منوره" کې د اسلام ابتداء:........................ | ۲۳۲ |
| ۱۵۵. | د انصارو اول بیعت:........................ | ۲۳۳ |
| ۱۵۶. | د اسید بن حضیر رضي الله عنه اسلام قبلول:........................ | ۲۳۴ |
| ۱۵۷. | د انصارو دوهم بیعت:........................ | ۲۳۷ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۵۸. | مدینې منورې ته هجرت: | ۲۴۰ |
| ۱۵۹. | په "دار الندوة" کې د پیغمبر ﷺ د قتل مشوره: | ۲۴۰ |
| ۱۶۰. | د حضرت ابو بکر ﷜ سعادت: | ۲۴۲ |
| ۱۶۱. | د مکې مکرمې څخه را وتل: | ۲۴۳ |
| ۱۶۲. | د حضرت ابو بکر ﷜ انتظار: | ۲۴۴ |
| ۱۶۳. | "غارِ ثور" ته راتلل: | ۲۴۵ |
| ۱۶۴. | د "قریشو" غار ته رارسېدل: | ۲۴۷ |
| ۱۶۵. | په دلائل بیهقي کې د ابو بکر ﷜ فضیلت: | ۲۴۸ |
| ۱۶۶. | د ابو بکر ﷜ ټوله کورنۍ د رسول الله ﷺ په خدمت کې: | ۲۴۹ |
| ۱۶۷. | د الله تعالی په لار کې خپل ټول مال خرڅول: | ۲۴۹ |
| | **﴿د هجرت دوهم بیان﴾** | |
| ۱۶۸. | د پیغمبر ﷺ مبارکه زندګي: | ۲۵۳ |
| ۱۶۹. | د تیرې جمعې اعاده: | ۲۵۴ |
| ۱۷۰. | د ام مَعبَد ﷝ قصه: | ۲۵۵ |
| ۱۷۱. | د "سراقه بن مالک" قصه: | ۲۵۶ |
| ۱۷۲. | د "بریده اسلمي" قصه: | ۲۵۷ |
| ۱۷۳. | مدینې منورې ته رارسېدل: | ۲۵۹ |
| ۱۷۴. | د حضرت علي ﷜ "قباء" ته رارسېدل: | ۲۶۰ |
| ۱۷۵. | په "قباء" کې د مسجد بنیاد: | ۲۶۰ |
| ۱۷۶. | په قبیله "بني سلمه" کې د پیغمبر ﷺ اوله جمعه: | ۲۶۰ |
| ۱۷۷. | په مدینه منوره کې د پیغمبر ﷺ استقبال: | ۲۶۱ |
| ۱۷۸. | د هرې قبیلې د مېزبانۍ درخواست: | ۲۶۱ |
| ۱۷۹. | د "اهل مدینې" جوش او جذبه: | ۲۶۱ |
| ۱۸۰. | د "مدینې منورې" ښار ته داخلېدل: | ۲۶۲ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۸۱. | د "بني نجار" د بچيانو اشعار: | ۲۶۲ |
| ۱۸۲. | "اوښه" د الله تعالی د طرفه ماموره ده: | ۲۶۳ |
| ۱۸۳. | د "تبع" بادشاه مدينې منورې ته راتلل: | ۲۶۴ |
| ۱۸۴. | د "مسجد نبوي" بنياد: | ۲۶۶ |
| ۱۸۵. | د ازواجِ مطهراتو د حجرو تفصيل: | ۲۶۷ |
| ۱۸۶. | د ټولو څخه بهترين ځای: | ۲۶۸ |
| ۱۸۷. | د يو اعرابي د مغفرت واقعه: | ۲۶۹ |
| ۱۸۸. | د "مدينې منورې" د حفاظت عجيبه واقعه: | ۲۷۰ |
| ۱۸۹. | په خوب کي د پيغمبر ﷺ زيارت: | ۲۷۰ |
| ۱۹۰. | د سلطان "نور الدين" پرېشاني: | ۲۷۱ |
| ۱۹۱. | د اهل مدينې دعوت: | ۲۷۱ |
| ۱۹۲. | د سلطان وينه جوشېدل: | ۲۷۲ |
| ۱۹۳. | خوفناکه انکشاف: | ۲۸۲ |
| ۱۹۴. | د مدينې والا وو حيرت: | ۲۸۳ |
| ۱۹۵. | د دې ملعونانو انجام: | ۲۸۳ |
| ۱۹۶. | د روضه رسول ﷺ د حفاظت انتظام: | ۲۸۴ |
| | **﴿د پيغمبر ﷺ حسن او جمال﴾** | |
| ۱۹۷. | معجزه د وقت د تقاضا سره برابره: | ۲۷۷ |
| ۱۹۸. | روحاني معجزه: | ۲۷۸ |
| ۱۹۹. | د ښائست حقيقت: | ۲۷۹ |
| ۲۰۰. | د سپوږمۍ څخه زيات ښائست: | ۲۸۳ |
| ۲۰۱. | د "حليمه سعديه" په کور کي د پيغمبر ﷺ حسن او جمال: | ۲۸۷ |
| ۲۰۲. | د پيغمبر ﷺ ښائست د يوسف عليه السلام په مقابله کي: | ۲۸۸ |
| ۲۰۳. | د يو شامي د اسلام راوړلو عجيب او غريب داستان: | ۲۸۹ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۰۴. | د حضرت سلمان فارسي ﷺ سره ملاقات: ........ | ۲۹۰ |
| ۲۰۵. | د پیغمبر ﷺ سره ملاقات نه کېدل: ........ | ۲۹۱ |
| ۲۰۶. | د پیغمبر ﷺ "حلیه مبارکه" بیانول: ........ | ۲۹۱ |
| ۲۰۷. | د هغه شامي وفات: ........ | ۲۹۴ |
| | ﴿معجز کتاب قرآن کریم﴾ | |
| ۲۰۸. | قرآني معجزه: ........ | ۲۹۷ |
| ۲۰۹. | د پیغمبر ﷺ روحاني معجزه قرآن کریم دی: ........ | ۲۹۸ |
| ۲۱۰. | د "ولید بن مغیره" واقعه: ........ | ۲۹۸ |
| ۲۱۱. | د "نجاشي" په دربار کي: ........ | ۲۹۹ |
| ۲۱۲. | د حضرت جبیر بن مطعم ﷺ واقعه: ........ | ۳۰۰ |
| ۲۱۳. | د یو عرب زمیندار واقعه: ........ | ۳۰۱ |
| ۲۱۴. | د شعراؤ د تصدیق واقعه: ........ | ۳۰۳ |
| ۲۱۵. | د "قرآن کریم" اعجاز او مقابله: ........ | ۳۰۴ |
| ۲۱۶. | د "قرآن کریم" مقدمیت: ........ | ۳۰۵ |
| ۲۱۷. | "قرآن کریم" عین جنت دی: ........ | ۳۰۷ |
| ۲۱۸. | "تورات" او میدان محشر: ........ | ۳۰۹ |
| ۲۱۹. | "قرآن کریم" او میدان محشر: ........ | ۳۱۰ |
| ۲۲۰. | "قرآن کریم" د انسانیت دستور: ........ | ۳۱۲ |
| | ﴿د معجزاتو اول بیان﴾ | |
| ۲۲۱. | د معجزې تعریف: ........ | ۳۱۹ |
| ۲۲۲. | د معجزې غوښتنه: ........ | ۳۲۱ |
| ۲۲۳. | معجزه شق القمر: ........ | ۳۲۱ |
| ۲۲۴. | معجزه رد الشمس: ........ | ۳۲۳ |
| ۲۲۵. | معجزه حبس الشمس: ........ | ۳۲۴ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| صفحه | | شماره |
|---|---|---|
| ۳۲۵ | د خورک متعلق معجزات: ........ | ۲۲٦. |
| ۳۲۵ | د "غزوه خندق" پر موقعه معجزه: ........ | ۲۲۷. |
| ۳۲۸ | د حیوانانو متعلق معجزات: ........ | ۲۲۸. |
| ۳۳۰ | د اوښانو د نبي اکرم ﷺ اطاعت کول: ........ | ۲۲۹. |
| ۳۳۲ | د مړه حیوان په شکل معجزه: ........ | ۲۳۰. |
| ۳۳۴ | د تعجب واقعه: ........ | ۲۳۱. |
| ۳۳۵ | د کاڼو شاهدي اداء کول: ........ | ۲۳۲. |
| ۳۳٦ | مړه زنانه ژوندۍ کېدل: ........ | ۲۳۳. |
| | **﴿د معجزاتو دوهم بیان﴾** | |
| ۳۴۱ | معجزه د الله تعالی فعل دی: ........ | ۲۳۴. |
| ۳۴۲ | د معجزې معنی: ........ | ۲۳۵. |
| ۳۴۳ | د پیغمبر ﷺ د ګوتو څخه اوبه جاري کېدل: ........ | ۲۳٦. |
| ۳۴۴ | د سفر "تبوک" عجیب او غریب معجزات: ........ | ۲۳۷. |
| ۳۴٦ | د توښه دان معجزه: ........ | ۲۳۸. |
| ۳۴۸ | د درختي کلمه ویل او د پیغمبر ﷺ تصدیق کول: ........ | ۲۳۹. |
| ۳۴۹ | د کوچنی بوزې په "تیو" کي شیدې راتلل: ........ | ۲۴۰. |
| ۳۵۰ | د شترمرغ په هګیو کي د پیغمبر ﷺ معجزه: ........ | ۲۴۱. |
| ۳۵۱ | د شیدو متعلق معجزه: ........ | ۲۴۲. |
| ۳۵۲ | د استوانه حنانه معجزه: ........ | ۲۴۳. |
| ۳۵۵ | د وریښتانو متعلق معجزه: ........ | ۲۴۴. |
| | **﴿اخلاق حسنه﴾** | |
| ۳٦۱ | د "اخلاق عظیمه" وو ګواهي: ........ | ۲۴۵. |
| ۳٦۲ | د اخلاقو مراتب: ........ | ۲۴٦. |
| ۳٦۳ | د "اخلاق عظیمه" وو معنی: ........ | ۲۴۷. |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۴۸. | د پېغمبر ﷺ اخلاق حسنه: .............. | ۳۶۵ |
| ۲۴۹. | د حضرت عمر رضي الله عنه واقعه: .............. | ۳۶۷ |
| ۲۵۰. | د پېغمبر ﷺ د اخلاقِ عظيمه وو مختلف واقعات: .............. | ۳۶۸ |
| ۲۵۱. | د يو بچي د پوښتني واقعه: .............. | ۳۶۹ |
| ۲۵۲. | د پېغمبر ﷺ د قريبانو سره حسن سلوک: .............. | ۳۷۰ |
| ۲۵۳. | د پېغمبر ﷺ عفو او درگذر .............. | ۳۷۱ |
| ۲۵۴. | د "مکې مکرمې" د زنانو ببره: .............. | ۳۷۳ |
| ۲۵۵. | انتقام نه اخيستل: .............. | ۳۷۴ |
| ۲۵۶. | د "عثمان بن طلحه" واقعه: .............. | ۳۷۴ |
| ۲۵۷. | د ټولو څخه زيات بد ترين سړی: .............. | ۳۷۶ |
| ۲۵۸. | د اخلاقِ حسنه وو فضيلت: .............. | ۳۷۷ |
| ۲۵۹. | اخلاقِ حسنه عين دين دی: .............. | ۳۷۹ |
| | ﴿حکمت او ذهانت﴾ | |
| ۲۶۰. | د پېغمبر ﷺ د صفاتو تذکره: .............. | ۳۸۵ |
| ۲۶۱. | د کفارو بهتان: .............. | ۳۸٦ |
| ۲۶۲. | د الله تعالی د طرفه جواب: .............. | ۳۸٦ |
| ۲۶۳. | د شبير احمد عثماني رحمة الله عليه تفسير: .............. | ۳۸۷ |
| ۲۶۴. | د پېغمبر ﷺ د خير ذکر: .............. | ۳۸۸ |
| ۲۶۵. | په لږ وسائلو انقلاب: .............. | ۳۸۸ |
| ۲۶۶. | په ډېر لږ وخت کې انقلاب: .............. | ۳۸۹ |
| ۲۶۷. | غير خوني انقلاب: .............. | ۳۸۹ |
| ۲۶۸. | د دنيا خوني انقلابونه: .............. | ۳۹۰ |
| ۲۶۹. | د پېغمبر ﷺ د دانائي او حکمت واقعات: .............. | ۳۹۰ |
| ۲۷۰. | د درو سوو (۳۰۰) انسانانو د اسلام قبلول: .............. | ۳۹۲ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شمېره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۷۱. | د پيغمبر ﷺ عقل او ذهانت: | ۳۹۳ |
| ۲۷۲. | د پيغمبر ﷺ د ذهانت يو څو واقعات: | ۳۹۳ |
| | **﴿د محبت بيان﴾** | |
| ۲۷۳. | د الله او د الله د رسول ﷺ سره محبت: | ۴۰۱ |
| ۲۷۴. | د حضرت عمر رضي الله عنه ايمان كامل كېدل: | ۴۰۳ |
| ۲۷۵. | سوال: | ۴۰۴ |
| ۲۷۶. | جواب: | ۴۰۴ |
| ۲۷۷. | د محبت درې (۳) اسباب: | ۴۰۷ |
| ۲۷۸. | د پيغمبر ﷺ سره د صحابه كرامو رضي الله عنهم محبت: | ۴۱۱ |
| ۲۷۹. | د پيغمبر ﷺ د وفات په وخت كې د صحابه وو حال: | ۴۱۲ |
| ۲۸۰. | د حضرت بلال حبشي واقعه: | ۴۱۳ |
| ۲۸۱. | د پيغمبر ﷺ د محبت امتحان: | ۴۱۵ |
| ۲۸۲. | د زنانو د الله د رسول ﷺ سره محبت: | ۴۱۸ |
| ۲۸۳. | په موجوده دور كې د ايمان كمال: | ۴۱۹ |
| | **﴿دوه (۲) لوى نعمتونه﴾** | |
| ۲۸۴. | د نبي اكرم ﷺ شفقت: | ۴۲۳ |
| ۲۸۵. | دوه بې مثاله نعمتونه: | ۴۲۴ |
| ۲۸۶. | اول لوى نعمت: | ۴۲۴ |
| ۲۸۷. | د عمر بن عاص رضي الله عنه آخري وينا: | ۴۲۴ |
| ۲۸۸. | د اسلام د نعمت تذكره: | ۴۲۷ |
| ۲۸۹. | دوهم لوى نعمت: | ۴۲۷ |
| ۲۹۰. | د پيغمبر ﷺ مقام او مرتبه: | ۴۲۸ |
| ۲۹۱. | په محبت كې عتاب: | ۴۲۸ |
| ۲۹۲. | پر انبياوٌ د پيغمبر ﷺ لوړوالى او بهترې: | ۴۲۹ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| .۲۹۳ | د پیغمبر ﷺ ذکر د الله تعالی سره کېدل: .................. | ۴۳۱ |
| .۲۹۴ | د پیغمبر ﷺ صفت په خپله ژبه مبارکه: .................. | ۴۳۲ |
| .۲۹۵ | د پیغمبر ﷺ په برکت سره د دې اُمت اعزاز: .................. | ۴۳۳ |
| .۲۹۶ | د محمد رسول الله ﷺ او د "اُمت محمدیه" فضیلت: .................. | ۴۳۵ |
| .۲۹۷ | د پیغمبر ﷺ پر "اُمت" دوه احسانه: .................. | ۴۳۶ |
| .۲۹۸ | د دې "اُمت" خصوصیات: .................. | ۴۳۷ |
| .۲۹۹ | د "اُمت محمدیه" سره احسانات: .................. | ۴۳۸ |
| .۳۰۰ | د یو مُحدِث واقعه: .................. | ۴۳۹ |
| | **﴿د رحمت تقسیم﴾** | |
| .۳۰۱ | هر کار د امت لپاره رحمت: .................. | ۴۴۳ |
| .۳۰۲ | د پیغمبر ﷺ په هېره کې د دې امت لپاره رحمت: .................. | ۴۴۳ |
| .۳۰۳ | د پیغمبر ﷺ په خوب کې د دې امت لپاره رحمت: .................. | ۴۴۵ |
| .۳۰۴ | د پیغمبر ﷺ بنرا د دې امت لپاره رحمت: .................. | ۴۴۶ |
| .۳۰۵ | د پیغمبر ﷺ د رحمت تقسیم: .................. | ۴۴۶ |
| .۳۰۶ | د "مور" حصه: .................. | ۴۴۶ |
| .۳۰۷ | د "لور" حصه: .................. | ۴۴۶ |
| .۳۰۸ | د "زناني" حصه: .................. | ۴۴۷ |
| .۳۰۹ | د "خاوند" حصه: .................. | ۴۴۸ |
| .۳۱۰ | د "کوچنیانو" او "لویانو" حصه: .................. | ۴۴۸ |
| .۳۱۱ | د "علماء کرامو" حصه: .................. | ۴۴۹ |
| .۳۱۲ | د "طالب العلم" حصه: .................. | ۴۴۹ |
| .۳۱۳ | د "مجاهد" حصه: .................. | ۴۵۰ |
| .۳۱۴ | د "تاجر" حصه: .................. | ۴۵۱ |
| .۳۱۵ | د "مزدور" حصه: .................. | ۴۵۱ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۱٦. | د "همسايه" حصه: | ۴۵۲ |
| ۳۱۷. | د "يتيم" حصه: | ۴۵۲ |
| ۳۱۸. | د "سائل" او د "محروم" حصه: | ۴۵۳ |
| ۳۱۹. | د حضرت عثمان رضي الله عنه او د سائل واقعه: | ۴۵۳ |
| ۳۲۰. | د "كسب كارانو" حصه: | ۴۵۴ |
| ۳۲۱. | د "مينځو" او "غلامانو" حصه: | ۴۵۴ |
| ۳۲۲. | د "حيواناتو" حصه: | ۴۵۵ |
| ۳۲۳. | د "جناتو" حصه: | ۴۵۵ |
| ۳۲۴. | د "درختو" حصه: | ۴۵٦ |
| ۳۲۵. | د "مړو" حصه: | ۴۵٦ |
| ۳۲٦. | د "جبرائيل عليه السلام" حصه: | ۴۵۷ |
| | ﴿د امت په هكله د پيغمبر صلى الله عليه وسلم ژړا﴾ | |
| ۳۲۷. | د "أمت محمديه" سره آساني: | ۴٦۱ |
| ۳۲۸. | د دې "أمت" حالت د نورو امتو په پرتله: | ۴٦۲ |
| ۳۲۹. | د امت په غم كي د پيغمبر صلى الله عليه وسلم ژړا: | ۴٦٦ |
| ۳۳۰. | د پيغمبر صلى الله عليه وسلم وربښتان سپين كېدل: | ۴٦۷ |
| ۳۳۱. | پر امت باندي د دعاگانو احاطه: | ۴٦۷ |
| ۳۳۲. | د پيغمبر صلى الله عليه وسلم خصوصي امتياز: | ۴٦۸ |
| ۳۳۳. | هر نبي ته د يو دعاء اختيار: | ۴٦۸ |
| ۳۳۴. | د محشر په ورځ د "أمت محمديه" نښان: | ۴٦۹ |
| ۳۳۵. | بلا حسابه جنت ته داخلېدل: | ۴٦۹ |
| ۳۳٦. | د محشر په ورځ "أمت محمديه" ته د سجدې حكم: | ۴۷۰ |
| ۳۳۷. | د "أمت" په غم كي انتهاء: | ۴۷۰ |
| ۳۳۸. | "أمت" تر اولاد ډېر ځان ته قريب كول: | ۴۷۵ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شمیره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۳۹. | د "ابن عباس رضي الله عنهما" عجیبه خوب لیدل: | ۴۷۷ |
| | **﴿د شفاعت بیان﴾** | |
| ۳۴۰. | د محشر په ورځ د آدم علیه السلام د اولاد پریشاني: | ۴۸۱ |
| ۳۴۱. | حضرت آدم علیه السلام ته درخواست: | ۴۸۲ |
| ۳۴۲. | حضرت نوح علیه السلام ته درخواست: | ۴۸۳ |
| ۳۴۳. | حضرت ابراهیم علیه السلام ته درخواست: | ۴۸۵ |
| ۳۴۴. | حضرت موسیٰ علیه السلام ته درخواست: | ۴۸۷ |
| ۳۴۵. | حضرت عیسیٰ علیه السلام ته درخواست: | ۴۸۷ |
| ۳۴۶. | شافع محشر محمد صلی الله علیه وسلم ته درخواست: | ۴۸۸ |
| ۳۴۷. | د حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه حساب او کتاب: | ۴۸۹ |
| ۳۴۸. | د حضرت عمر رضي الله عنه حساب او کتاب: | ۴۹۰ |
| ۳۴۹. | د حضرت عثمان غني رضي الله عنه حساب او کتاب: | ۴۹۱ |
| ۳۵۰. | د عثمان رضي الله عنه سخاوت: | ۴۹۱ |
| ۳۵۱. | د حضرت علي رضي الله عنه حساب او کتاب: | ۴۹۲ |
| ۳۵۲. | د پل صراط سفر: | ۴۹۲ |
| ۳۵۳. | د پیغمبر صلی الله علیه وسلم جنت ته داخلېدل: | ۴۹۳ |
| ۳۵۴. | مسلمانانو ته په جهنم کي د کفارو طعنه: | ۴۹۴ |
| ۳۵۵. | د جهنمي مسلمانانو سره د جبرائیل علیه السلام ملاقات: | ۴۹۴ |
| ۳۵۶. | د شفیع اعظم پر نامه د ګناهګارانو پیغام: | ۴۹۵ |
| ۳۵۷. | شفاعت کبریٰ: | ۴۹۵ |
| ۳۵۸. | "عُتقاء الرحمٰن": | ۴۹۶ |
| ۳۵۹. | د "عُتقاء الرحمٰن" فریاد: | ۴۹۷ |
| ۳۶۰. | د شفاعت دُعاء: | ۴۹۸ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست

### ﴿د جوامع الکلم اول بیان﴾


| شمله | | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۶۱. | د پیغمبر ﷺ "جوامع الکلم": | ۵۰۱ |
| ۳۶۲. | د مسلمان د پرېشانۍ لیري کولو ثواب: | ۵۰۲ |
| ۳۶۳. | و نادار ته د وخت ور کولو فضیلت: | ۵۰۲ |
| ۳۶۴. | نرمي کول الله تعالی ته ډېر خوښه ده: | ۵۰۴ |
| ۳۶۵. | د مسلمان حاجت پوره کول: | ۵۰۴ |
| ۳۶۶. | د الله تعالی پر مخلوق رحم کول: | ۵۰۵ |
| ۳۶۷. | د مجنون په زړه کي د لیلی د کوڅي محبت: | ۵۰۶ |
| ۳۶۸. | ایا د الله محبت د لیلی د محبت څخه کم دی؟: | ۵۰۷ |
| ۳۶۹. | یو "سَپي" ته د اوبو ور کولو واقعه: | ۵۰۸ |
| ۳۷۰. | پر "مَچ" باندي د شفقت کولو عجیبه واقعه: | ۵۰۸ |
| ۳۷۱. | د مخلوق خدمت کول لوی تصوف دی: | [illegible] |
| ۳۷۲. | د الله تعالی د خپل مخلوق سره محبت دی: | ۵۱۰ |
| ۳۷۳. | د حضرت نوح علیه السلام عجیبه واقعه: | ۵۱۱ |
| ۳۷۴. | د ډاکټر عبدالحي رحمة الله علیه یو خبره: | ۵۱۲ |
| ۳۷۵. | د اولیاء کرامو حالت: | ۵۱۳ |
| ۳۷۶. | د حضرت جنید بغدادي رحمة الله علیه واقعه: | ۵۱۳ |
| ۳۷۷. | د پیغمبر ﷺ پر خپل امت باندي شفقت: | ۵۱۴ |
| ۳۷۸. | د ګناهکاره مثال: | ۵۱۵ |
| ۳۷۹. | د یو تاجر د مغفرت واقعه: | ۵۱۶ |
| ۳۸۰. | پر نرمي کولو د الله تعالی د مغفرت واقعه: | ۵۱۷ |
| ۳۸۱. | دا د رحمت معامله ده څه قانون نه دی: | ۵۱۸ |
| ۳۸۲. | آساني کول د پیغمبر ﷺ سنت دی: | ۵۱۸ |
| ۳۸۳. | د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه وصیت: | ۵۱۹ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست

| شمله | | صفحه |
|---|---|---|
| | **﴿د جوامع الكلم دوهم بيان﴾** | |
| ۳۸۴. | تمهيد؛ ............ | ۵۲۳ |
| ۳۸۵. | د مسلمان عيب پټول؛ ............ | ۵۲۴ |
| ۳۸۶. | مسلمان ته پر ګناه پيغور ور کول؛ ............ | ۵۲۵ |
| ۳۸۷. | د خپل ځان فکر کول؛ ............ | ۵۲۶ |
| ۳۸۸. | د علم زده کولو فضيلت او بشارت؛ ............ | ۵۲۶ |
| ۳۸۹. | زموږ د اسلافو محنت؛ ............ | ۵۲۷ |
| ۳۹۰. | د يو حديث لپاره د يو طويل سفر واقعه؛ ............ | ۵۲۷ |
| ۳۹۱. | د علم زده کوونکو لپاره د پرلوی فضيلت؛ ............ | ۵۲۹ |
| ۳۹۲. | د پيغمبر ﷺ وصيت؛ ............ | ۵۳۰ |
| ۳۹۳. | د شاه عبدالقادر محدث دهلوي رحمة الله عليه واقعه؛ ............ | ۵۳۰ |
| ۳۹۴. | د مولانا احمد علي لاهوري رحمة الله عليه واقعه؛ ............ | ۵۳۱ |
| ۳۹۵. | د الله تعالى په کور کې د را جمع کېدونکو لپاره بشارت؛ ............ | ۵۳۳ |
| ۳۹۶. | ته د الله تعالى ذکر کوه الله به ستا تذکره کوي؛ ............ | ۵۳۴ |
| ۳۹۷. | د حضرت ابی بن کعب رضي الله عنه واقعه؛ ............ | ۵۳۵ |
| ۳۹۸. | د الله تعالى پر ذکر کولو عظيم بشارت؛ ............ | ۵۳۶ |
| ۳۹۹. | لوړ خاندان د نجات د پاره کافي نه دی؛ ............ | ۵۳۷ |
| ۴۰۰. | خلاصه؛ ............ | ۵۳۸ |
| | **﴿د وفات اول بيان﴾** | |
| ۴۰۱. | "حجة الوداع" ته تشريف وړل؛ ............ | ۵۴۱ |
| ۴۰۲. | د آيت اشاره؛ ............ | ۵۴۲ |
| ۴۰۳. | د حضرت ابو بکر رضي الله عنه ذکاوت؛ ............ | ۵۴۲ |
| ۴۰۴. | د حضرت معاذ رضي الله عنه "يمن" ته رخصتول؛ ............ | ۵۴۳ |
| ۴۰۵. | د ناجوړۍ ابتدا؛ ............ | ۵۴۵ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۰۶. | وصيت كول: ............ | ۵۴۸ |
| ۴۰۷. | د عائشې او خديجې ﷺ خوب ليدل: ............ | ۵۵۱ |
| ۴۰۸. | د حضرت علي ﷺ خوب ليدل: ............ | ۵۵۱ |
| ۴۰۹. | د حضرت فاطمة الزهراء ﷺ خوب ليدل: ............ | ۵۵۲ |
| ۴۱۰. | د حضرت حسن او حسين ﷺ خوب ليدل: ............ | ۵۵۲ |
| ۴۱۱. | د نورو انبياؤ څخه امتياز: ............ | ۵۵۳ |
| ۴۱۲. | د حضرت آدم عليه السلام وفات: ............ | ۵۵۳ |
| ۴۱۳. | د حضرت نوح عليه السلام وفات: ............ | ۵۵۴ |
| ۴۱۴. | د حضرت موسیٰ عليه السلام وفات: ............ | ۵۵۵ |
| ۴۱۵. | د حضرت جبرائيل راتګ: ............ | ۵۵۶ |
| ۴۱۶. | د صحابه وو ﷺ بې قراري: ............ | ۵۵۸ |
| | ﴿د وفات دوهم بيان﴾ | |
| ۴۱۷. | د سكرات كيفيت: ............ | ۵٦۵ |
| ۴۱۸. | د حضرت عزرائيل عليه السلام راتلل: ............ | ۵٦۵ |
| ۴۱۹. | د اول آسمان متصرفه فرښته راتلل: ............ | ۵٦۸ |
| ۴۲۰. | د صحابه كرامو ﷺ غم: ............ | ۵۷۳ |
| ۴۲۱. | پيغمبر ﷺ ته غسل وركول: ............ | ۵۷٦ |
| ۴۲۲. | د جنازې لمونځ كول: ............ | ۵۷٦ |
| ۴۲۳. | قبر ته شوه كول: ............ | ۵۷۷ |
| ۴۲۴. | د الله تعالى قدرت: ............ | ۵۷۸ |
| ۴۲۵. | د حضرت فاطمة الزهرا ﷺ غم: ............ | ۵۷۸ |
| ۴۲٦. | د حضرت عائشې ﷺ ندبه: ............ | ۵۸۰ |
| ۴۲۷. | د حضرت ابو ذويب ﷺ خوب ليدل: ............ | ۵۸۰ |
| ۴۲۸. | د حضرت معاذ ﷺ مدينې ته راتلل: ............ | ۵۸۱ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۲۹. | د حضرت بلال ؓ حالت: ........ | ۵۸۳ |
| ۴۳۰. | د حضرت بلال ؓ خوب ليدل: ........ | ۵۸۳ |
| ۴۳۱. | په "بيت المقدس" کي د بلال ؓ آذان: ........ | ۵۸۶ |
| ۴۳۲. | په قبر کي د امت غمخواري: ........ | ۵۸۷ |
| ۴۳۳. | د صحابه کرامو ؓ ويناگاني: ........ | ۵۸۷ |
| | **﴿د درود شريف فضائل، اول بيان﴾** | |
| ۴۳۴. | د انسانيت لوی مُحسِن: ........ | ۵۹۱ |
| ۴۳۵. | د پيغمبر ﷺ عجيبه وينا: ........ | ۵۹۳ |
| ۴۳۶. | الله تعالی هم په دې عمل کي شريک دی: ........ | ۵۹۳ |
| ۴۳۷. | بنده به څنګه درود وايي؟: ........ | ۵۹۴ |
| ۴۳۸. | پر "درود شريف" ويلو باندي ثواب: ........ | ۵۹۶ |
| ۴۳۹. | "درود شريف" د عباداتو مجموعه ده: ........ | ۵۹۷ |
| ۴۴۰. | د "درود شريف" سره دعاء قبليږي: ........ | ۵۹۷ |
| ۴۴۱. | "درود شريف" ويل د دنيا او آخرت کاميابي ده: ........ | ۵۹۸ |
| ۴۴۲. | د قيامت په ميدان کي د "درود شريف" وزن: ........ | ۵۹۹ |
| ۴۴۳. | د "درود شريف" په برکت سره مغفرت کېدل: ........ | ۶۰۰ |
| ۴۴۴. | د "درود شريف" ليکلو انعام: ........ | ۶۰۰ |
| ۴۴۵. | د اتيا (۸۰) ګناهونه معاف کېدل: ........ | ۶۰۱ |
| ۴۴۶. | په خوب کي د مړي سره د ملاقات کولو نسخه: ........ | ۶۰۲ |
| ۴۴۷. | "درود شريف" د خپل ژوند معمول جوړول: ........ | ۶۰۴ |
| ۴۴۸. | د "درود شريف" ويلو درجات: ........ | ۶۰۴ |
| ۴۴۹. | په "درود شريف" سره حاجتونه پوره کېدل: ........ | ۶۰۵ |
| ۴۵۰. | په جنت کي خپل ځای ليدل: ........ | ۶۰۵ |
| ۴۵۱. | اهمه خبره: ........ | ۶۰۶ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۵۲. | زر (۱۰۰۰) واره "درود شریف" او واقعه؛ | ٦۰٦ |
| ۴۵۳. | د "درود شریف" رسونکي ملائکي؛ | ٦۰۸ |
| ۴۵۴. | د علماء دیوبند متفقه عقیده؛ | ٦۰۹ |
| ۴۵۵. | "درود تُنجینا"؛ | ٦۰۹ |
| | **﴿د درود شریف فضائل، دوهم بیان﴾** | |
| ۴۵٦. | د تیري جمعې اعاده؛ | ٦۱۵ |
| ۴۵۷. | د "درود شریف" حکم؛ | ٦۱٦ |
| ۴۵۸. | د واجب او فرض فرق؛ | ٦۱۷ |
| ۴۵۹. | هر ځل "درود شریف" ویل؛ | ٦۱۷ |
| ۴٦۰. | چي کله لاس او پښې شل سي؛ | ٦۱۸ |
| ۴٦۱. | مسجد ته داخلېدل او را وتل؛ | ٦۱۹ |
| ۴٦۲. | د دې دعاګانو حکمت؛ | ٦۱۹ |
| ۴٦۳. | د اهمې خبري څخه مخکي "درود شریف"؛ | ٦۲۱ |
| ۴٦۴. | د غصې په وخت کي "درود شریف" ویل؛ | ٦۲۲ |
| ۴٦۵. | د خوب کولو څخه مخکي "درود شریف" ویل؛ | ٦۲۳ |
| ۴٦٦. | روزانه درې سوه (۳۰۰) ځله "درود شریف" ویل؛ | ٦۲۴ |
| ۴٦۷. | "درود شریف" د رسول الله ﷺ د دیدار سبب؛ | ٦۲۴ |
| ۴٦۸. | د پیغمبر ﷺ د زیارت طریقه؛ | ٦۲۵ |
| ۴٦۹. | پر "درود شریف" نه ویلو باندې وعید؛ | ٦۲٦ |
| ۴۷۰. | د حضرت حواء علیها السلام مهر؛ | ٦۲۸ |
| ۴۷۱. | د الله تعالی د قرب حاصلولو عمل؛ | ٦۲۸ |
| ۴۷۲. | د پیغمبر ﷺ مچول؛ | ٦۲۹ |
| ۴۷۳. | د حضرت شبلي رحمة الله علیه اعزاز؛ | ٦۳۰ |
| ۴۷۴. | عجیبه واقعه؛ | ٦۳۲ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست

| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| | **﴿د اتباع سنت بيان﴾** | |



| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۷۵. | د الله تعالی د محبت حاصلولو طريقه: ........ | ٦٣٧ |
| ۴۷٦. | د اعضاؤ زينت: ........ | ٦٣٨ |
| ۴۷۷. | پيغمبر ﷺ د ځان دپاره امام ګرځول: ........ | ٦٣٨ |
| ۴۷۸. | د اتباع بغير قبوليت نسته: ........ | ٦٣٩ |
| ۴۷۹. | د هدايت لپاره دوه (۲) شيان: ........ | ٦۴۰ |
| ۴۸۰. | د سلو (۱۰۰) شهيدانو ثواب: ........ | ٦۴۱ |
| ۴۸۱. | سنت نبوي د نوح علیه السلام د کښتۍ مثال لري: ........ | ٦۴۲ |
| ۴۸۲. | د تولو څخه لوی کرامت: ........ | ٦۴۲ |
| ۴۸۳. | د حضرت بايزيد بسطامي رحمة الله عليه وينا: ........ | ٦۴۳ |
| ۴۸۴. | د مجدد الف ثاني رحمة الله عليه اقوال: ........ | ٦۴۳ |
| ۴۸۵. | د ابوابکر رضي الله عنه اتباع سنت بلحاظ صورت: ........ | ٦۴۴ |
| ۴۸٦. | د ابوبکر رضي الله عنه اتباع بلحاظ سيرت: ........ | ٦۴۵ |
| ۴۸۷. | د حضرت ابن عمر رضي الله عنه اتباع سنت: ........ | ٦۴۷ |
| ۴۸۸. | د يو حبشي صحابي رضي الله عنه اتباع سنت: ........ | ٦۴۸ |
| ۴۸۹. | د حضرت حذيفه رضي الله عنه وينا: ........ | ٦۴۹ |
| ۴۹۰. | د علماء ديوبند اتباع سنت: ........ | ٦۵۰ |
| ۴۹۱. | حضرت عبدالله بن مبارک او اتباع سنت: ........ | ٦۵۴ |
| ۴۹۲. | د نبي اکرم ﷺ د شفاعت مستحق: ........ | ٦۵۴ |
| ۴۹۳. | د پيغمبر ﷺ زړه ته تکليف رسول: ........ | ٦۵۵ |
| ۴۹۴. | د يو بزرګ واقعه: ........ | ٦۵۷ |
| ۴۹۵. | د سلو (۱۰۰) شهيدانو ثواب: ........ | ٦۵۷ |
| ۴۹٦. | پر اتباع سنت باندې د حوض کوثر جام: ........ | ٦۵۸ |

# سریزه

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ مُبَارَكًا عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَيَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ خَيْرِ الْهُدٰى وَعَلٰى آلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ نُجُوْمُ الْاِهْتِدٰى.

امابعد؛ بنده ناچيز د ډيري زمانې څخه د جمعې د لمانځه د امامت کولو او د هغه څخه مخکې د تقرير کولو مصروفيت او شغل لرم.

چې غالبًا اوس يې پنځلس(۱۵)کاله پوره سول، چونکه په اصل کې د بنده سره د تقرير کولو استعداد ډېر کم وو.

نو د مجبوري په وجه به په هره "کتب خانه" کي د خپلو استاذانو او د بعضو نورو بزرګانو علماؤ ليکل سوي او چاپ سوي د تقرير کتابونه چي په عامه توګه هغه د خطباتو په نامه باندي شائع کېدل د هغه کتابو طلب او لټون مي پيل کړ.

د هغه طلب او لټون په نتيجه کي دا رنګه يوه لويه ذخيره را سره جمع سوه، بيا به مي د هري جمعې د تقرير لپاره د موضوع انتخاب کوئ، او د هغه موضوع په طبق به مي په کتابو کي مواد د قرآني آياتو، احاديثو، واقعاتو او امثالو په بڼه را جمع کول.

دغه مواد و ته به مي ترتيب ور کوئ، او د تقرير په شکل به مي د جمعې د لمانځه څخه مخکې عمومًا د يوه ساعت وخت په دوران کې د خلکو ومخته وړاندي کوئ.

چونکه په تقرير کي به کله د بنده د ډېر تتبع پخاطر ډېر بهترين او کافي مواد د احاديثو، او حکاياتو، د بعضو بزرګانو د حالاتو په شکل کي را جمع کېدل، نو سامعينو حضراتو به په شوق سره اورېدل، او په عامه توګه هغه ته ډېر زيات متوجه کېدل.

په دې دوران کي د بعضو علماؤو او طلباؤو چي د بنده د انډيوالانو يا شاګردانو په کتار کې وه، او په جمعه کي به شريکېدله، د هغوی لطرفه پر دې خبره زيات اصرار وو؛ چي دا مواد بايد جمعه سوي وای، ممکنه ده؛ چي د دې څخه يو چا فائده اخستي

وای، خدای سته زما هم دې طرفته څه میلان وو، لیکن د بیمارۍ پخاطر ما دې طرفته هیڅ قدم نه سو پورته کولای.

آخر زما یو ملګري "امیر محمد" دې تقریرو په ډېر اهتمام سره په "ټیپ ریکارډ" کي محفوظ کول شروع کړه، چي په هغه وخت کي د هغه سره زیات تقریرونه په "ټیپ ریکارډ" کي محفوظ سوه.

بیا د بنده څه شاګردانو لکه: مفتي عبدالمنان صاحب، ملا محمد سلیم او ملا نقیب الله آخند د "ټیپ ریکارډ" څخه پر بیاض را نقل کړل.

چي کله د "کمپوز" وخت راغلی، په منځ کي ئې څه تعطیلات راغلل، خو د هغه تعطیلاتو باوجود کار تر "کمپوز" ووتی، په آخره مرحله کي دي الله تعالی و قاري خلیل الرحمن صاحب عرف (مسلم اغا) ته جزاء خیر ور کړي، چي هغه د ترتیب او تزئین آخره مرحله په ډېر اخلاص سره سرته ورسول.

د دې کتاب د مطالعې په وخت کي باید دا خبره د مطالعه کونکو په ذهن کي پرته وي: چي دا څه با قاعده تصنیف نه دی، بلکه د لیکل سوو تقریرو یوه خلاصه ده، چي د کېستو (فیتو) څخه را اخستل سوېده.

نو په هم دغه وجه په اول او دوهم چاپ کي د حوالو او تخریج څه خاص اهتمام نه وو الله تعالی دي جزاء خیر ور کړي، ذکي فاضل مفتي حافظ کلیم الله صاحب ته چي هغه د تخریج محنت ور باندي وکړی، او یو څه ئې د خطبو اضافه هم ور سره وکړه، او دریم ځل ئې چاپ ته تیار کړئ،

نو د دې کتاب طریقه تحریري نه ده، بلکه تقریري او خطابي ده، کچیري یو مسلمان د دې څخه فائده واخلي، دا محض د الله تعالی کرم او مهرباني ده: چي پر دې باندي به زه بنده د الله تعالی شکر ادا کوم.

اوکه یو خبره په دې تقریرو کي غیر محتاطه او غیره مفیده وي، نو یقینا دا به زما د غلطۍ او کوتاهۍ په وجه وي، ځکه زه په دې خبره اقرار کوم: چي په ما کي ډېري کمزوریاني دي، شاید هغه کمزوریاني به په دې تقریرو کي هم راغلي وي.

لیکن بیا هم زه د احبابو علماء کرامو او طلباء عظامو څخه دردمندانه خواهش کوم چي یوه قاعده ده:

.......مَا لَا يُدْرِكُ كُلّهُ لَا يُتْرَكُ كُلُّهُ﴾.
کېدلای سي: چي په دې موادو کي ستاسو په کار يو شی درسي نو تاسو په خير او خوبي په دې کي نظر وکړی، او د کمزوريانو څخه يې خپل نظر را وګرځوی:
........وَالْعَفْوَ عِنْدَ كِرَامِ النَّاسِ مَأْمُوْلٌ﴾.
لېکن "الحمدلله" دا ويلای سم، چي د دې تقريرو مقصد صرف تقرير برای تقرير نه دی، بلکه د دې مقصد د ټولو څخه مخکي خپل ځان او بيا سامعين د خپل نفس و اصلاح ته متوجه کول دي.
لکه: استاد محترم فرمايلي دي؛

نه به حرف ساخته سرخوشم........ نه به نقش بسته مشوشم
نفس بياد تو ميزنم........... چه عبارت وچه معانيم

الله تعالی دي په خپل فضل او کرم سره دا يوڅو مختصر تقريرونه خپله زما بنده او د ټولو ويونکو لپاره د اصلاح ذريعه وګرځوي، او هم دي ئې د آخرت د نجات ذريعه وګرځوي، او چي کومو کسانو د دې تقريرو په برابرولو کي هر قسم خدمت کړی [illegible] الله تعالی دي دوی ته د خپل خدمت بهترينه صله او بدله ورکړي.
**يادونه:**
د زاد الخطباء پنځم(۵) جلد مخکي د داستان سيرت النبي ﷺ په نامه چاپ کېدی، خو دا په حقيقت کي د زاد الخطباء پنځمه حصه وه، چي اوس يو ځای ورسره چاپ سو.
﴿وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيْزٍ﴾
وَ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَ آلِهِ وَ صَحْبِهِ اَجْمَعِيْن

اطيع الله على عنه
بن حاجي ملا عبد العزيز (مرحوم)
خادم التدريس جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن
رمضان المبارک ۱۴۴۱ هجری بمطابق ۲۰۲۰

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللّٰهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآیہ)

# د ولادت بیان

(بیان)

مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبہ سلطانیہ الہاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع اللہ صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كـليم اللہ صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاريـــــخ | جمادي الاولى ۱۴۴۲ بمطابق ۲۴ جنوري ۲۰۲۱ |
| تـعــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ ﴿أنا سَيِّدُ وُلْدِ آدمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَبِيَدِي لِوَاءُ الْحَمْدِ وَلَا فَخْرَ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلى ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰه رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## ولادت باسعادت:

محترمو حاضرينو! د "ربيع الاول" مبارکه مياشت شروع سوېده، هغه به کم مسلمان وي چي د دې مياشتي د عظمت او برکت څخه به ناخبره وي.

که نور هيڅ هم نه وي د دې مياشتي د عظمت لپاره دا يوه خبره کفايت کوي چي په دولس (۱۲) مياشتو کي الله تعالی د دې مياشتي انتخاب د پيغمبر ﷺ د تشريف آورۍ لپاره کړيدی، بس داغه يوه خبره هم د دې مياشتي د فضيلت لپاره کفايت کولای سي.

سَروَر عالم سَيد وُلد آدم محمد مصطفی احمد مجتبی ﷺ غالبًا د واقعه "فيل" څخه پنځوس (۵۰) يا پنځه پنځوس (۵۵) ورځي وروسته د "ربيع الاول" په اتم (۸) تاريخ

---

(۱) الانبياء آيت نمبر، ۱۰۷

(۲) الشفا بتعريف حقوق المصطفى، فصل في ذكر تفضيله ﷺ صفحه، ۲۰۷

د دو شنبې په ورځ چي د اپريل مياشته ده او د عيسوي تاريخ په پنځه سوه اويايم (۵۷۰) کال په مکه مکرمه کي د صبح صادق په وخت کي د ابو طالب په کور کي پيدا سو.(۱)

## دولادت په باره کي مختلف اقوال:

د ولادت باسعادت د تاريخ په باره کي مشهور قول خو دا دی: چي حضور اقدس ﷺ په دولسم (۱۲) د "ربيع الاول" باندي پيدا سوی دئ.

لېکن د جمهور محدثينو او مورخينو په نزد باندي راجح او مختاره قول دا دی: چي د حضور اقدس ﷺ پيدائش د "ربيع الاول" په اتم (۸) تاريخ باندي سويدی.

د حضرت عبدالله ابن عباس او د حضرت جبير ابن مطعم ﷺ څخه هم دا خبره را نقل سوېده، او دا غه خبره علامه "قطب الدين" قسطلاني هم مختاره بللې ده.(۲)

د پيغمبر ﷺ ولادت په داسي حال کي دنيا ته کيږي چي د هغه د سره څخه د پلار سايه پورته سوېده، يعني دی د يو يتيم بچي په شکل دنيا ته تشريف را وړي او د دوابتدائي زندګي د يتيم والي او مشقت په شکل باندي شروع کيږي.

هغه ځکه چي د دې مشقتو وروسته الله تعالی و ده ته په را روانه زندګي کي د ډېري لوړي مرتبې ور کولو اراده کړېده.

نو يو ځل يې په مشقتو کي پخوي بيا به وروسته د نبوت صلاحيت او استعداد پکښي پيدا کيږي.

## د انعام مخکي د امتحان مرحله:

ځکه دا د الله تعالی دستور او قانون دی: چي کله الله تعالی خپل بنده ته يو خاص نعمت او لوړه مرتبه ور کول غواړي نو د هغه څخه مخکي پر هغه بنده باندي امتحانات او مشقتونه راولي او د هغه بنده پوره ازمائش او امتحان اخلي نو بيا يې د

(۱) سیرت مصطفی: جلد نمبر۱، صفحه نمبر۵۱
(۲) زرقاني جلد: ۱ صفحه: ۱۳۱

هغه څخه وروسته په یو خاص نعمت سره نازوي. لکه قرآن کریم هم پر دې باندي ګواه دئ:

الله تعالی چي کله ابراهیم علیه السلام ته د نبوت ور کولو اراده وکړه نو اول یې پر هغه باندي امتحانات راوستل لکه: الله تعالی په قرآن کي فرمایي:

........وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ﴾.(۱)

ای پیغمبره! هغه وخت در په یاد کړه چي کله الله تعالی په څو خبرو باندي د ابراهیم علیه السلام امتحان واخستی او ابراهیم علیه السلام په هغه خبرو کي پوره پوره کامیاب سو.

د هغه څخه بیا وروسته ابراهیم علیه السلام ته الله تعالی دا درجه ور کړه چي الله تعالی فرمایي:

..........قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا﴾.(۲)

ای ابراهیمه! زه تا د ټوله انسانیت امام جوړوم، نو د امامت څخه مخکي پر ده باندي یو ځل ازمائش او امتحان راغلی، د هغه څخه وروسته الله تعالی وده ته د ټوله انسانیت امامت ورپه نصیب کړی.

## د درو (۳) لویو شخصیاتو امتحان:

چي کله پیغمبر صلی الله علیه وسلم دنیا ته تشریف راوړي، او الله تعالی د قریشو په قوم او قبیله کي دی پیدا کوي، نو د ده په خاندان کي د ده د نږدې دریو (۳) شخصیاتو امتحان اخلي او هغه په مشقتو او تکلیفو کي اچوي.

### (۱) د عبدالمطلب امتحان:

یو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم نیکه "عبدالمطلب" چي وهغه ته د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د نیکه جوړېدلو سعادت حاصل وو، "عبدالمطلب" پخپل وخت کي ډېر خوبصورت او د ښائسته

(۱) البقرة آیت نمبر، ۱۲۴
(۲) البقرة آیت نمبر، ۱۲۴

شکل مالک وو چي کله دی پيدا سو نو د ده يو څو وريښتان پيدا ئشي سپين وه په دغه وجه باندي د ده ابتدائي نوم "شيبه" کښېښول سو. (١)

د الله تعالیٰ شان داسي وو چي يو څه زمانه وروسته د "عبدالمطلب" پلار وفات سو او د ده د مور نوم "سلمیٰ" وه هغه مديني منورې ته راغله نو "عبدالمطلب" د خپلي موره سره زندگي تېروله او پرورش يې پيدا کوی، حتی چي د ابتدائي ځوانی عمر ته ورسېدی.

د مکې مکرمې اوسېدونکی يو "حارثي" سړی (يعني د بنو حارث قبيلې) د يو کار په غرض مدينې ته ولاړئ نو هغه يو څه نوجوانان د غشو ويشتو د مقابلې کولو په حالت کي وليدل چي په هغه کي يو نوجوان د رنګه ډېر ښائسته ښکاره کېدی، چي د هغه په شخصيت کي ډېر جاذبيت هم وو، هغه چي به کله پر نښان باندي د غشي وار کوی، نو هغه غشی به سيده پر خپله نښانه باندي لګېدی.

بيا به هغه په خوشحالي کي د ځانه سره اشعار ويل: چي د هغه ترجمه دا رنګه وه چي ای خلګو! زه د مکې اوسېدونکی د قريشو د قبيلې بچی يم، زما غشي ... نښان باندي صحيح لګيږي.

نو د هغه "حارثي" سړي په زړه کي د ده سره ډېر محبت راغلی او د ده انداز ډېره مزه او خوند ور کوئ او پوښتنه يې کوي چي دا څوک دی نو هغه ته وويل سوه چي دا په مکه کي پيدا سوی يو بچی دی يو څه زمانه وروسته د هغه پلار وفات سويدی، او د خپلي موره سره دلته په خپلو "ماما خيلو" کي ګوزاره کوي هغه "حارثي" سړي ته چي کله معلومات وسو، نو په "مکه مکرمة" کي يې د ده ټوله قبيله پېژندله.

چي کله هغه "حارثي" سړی واپس "مکې مکرمې" ته راغلی نو د ده اکا "مطلب" ته يې وويل چي ته دومره مهمان نوازه يې او دومره سخي يې او د ډېرو ښو اخلاقو مالک يې، ايا تاته دا معلومه نه ده؟ چي ستا وراره په څومره سختو حالاتو کي په

(١) سيرت مصطفي، جلد نمبر١، صفحه نمبر ٣٢

"مدینه منوره" کي زندګي تېروي، هغه خپل وراره خپلي قبیلې ته راوله او د هغه ښه تربیت وکړه.

هغه "مطلب" په جواب کي هغه "حارثي" سړي ته قسم اخلي او ورته وايي چي تر څو پوري خپل وراره مکې ته را نه ولم تر هغه وخته به په آرام سره نه کښېنم چنانچه "مطلب" مدینې ته راغلی، او د ده د موره سره یې خبره وکړه.

او خپل خاندان هم د ده مور په دې پوه کړه چي دا بچی اوس لوی سو، کچیري ستا سره دلې پاته سي نو په صحیح طریقه باندي د عزت مقام نسي پیدا کولای، کچیري اوس خپلي قبیلې ته ولاړ سي نو د هغه ډېر لویه قبیله ده او هغه ډېر شریف خلک دي، هلته به د هغه ډېر لوړ مقام وي، نو هغه وو چي "شیبه" خپلي مور "سلمیٰ" د خپل اکا "مطلب" سره مکې ته واستوی.

چي کله هغه ښائسته نوجوان پر اوښ باندي تر شاه ناست دی او د ده اکا مخته ناست دئ په مکه مکرمه کي چي کله داخلېږي او چي کم سړی ورته ګوري د هغه دا ګمان وي چي "مطلب" د خپل ځان لپاره غلام را نیولی دئ، نو په دې وجه د ده نوم په "عبدالمطلب" باندي مشهوره سو، او دومره زيات مشهوره سو چي د "شیبه" پر ځای به ټولو خلکو و ده ته په "عبدالمطلب" ويل.

په دې نوجوان باندي الله رب العزت د یتیمۍ ورځي ولیدلې او زندګي یې ابتداءًا په مشقتو کي تېره سوه لېکن د دې څخه وروسته ډېر لوی انعام په لاس ورغلی.

هغه انعام څه وو؟ چي ده ته په خوب کي دا خبره ور ښکاره سوه چي پر فلانکي ځای باندي د "زمزم" څاه دی، کچیري د هغه ځای مځکه و کیندل سي، نو د هغه بند څاه څخه به اوبه رواني سي.

په دې ورځو کي په "مکه مکرمه" کي اوبه نه وې، د خلکو لپاره هلته استوګنه ډېره ګرانه وه، نه د ژوند تېرولو او نه د اوبو چیښلو دپاره څه بندوبست وو، چنانچه "عبدالمطلب" د هغه مځکي کېندل شروع کړل او یوائې په دې کار کي مشغول وو، بالآخر هغه ورځ راغله چي د زمزم د څاه پر خوله باندي پرته لویه ډبره ماته سوه او د

لاندي څخه يې اوبه را ووتې، او د هغه څخه وروسته الله تعالی "عبدالمطلب" د "بيت الله" متولي جوړ کړی.(١)

چونکه الله تعالی دَی د "بيت الله" متولي جوړوی نو ځکه د دې څخه مخکي الله تعالی پر ده باندي مشکلات او د تنګيو حالات را وستل چي دا د ده تربيت وو د الله تعالی د طرفه څخه.

نن سبا زموږ په دماغ کي دا خبره نه راځي کچيري لږ مشقت پر انسان راسي، نو د ده ګمان دا وي چي زه د الله څخه ليري سوم او الله تعالی زما څخه ناراضه دی، نو ځکه پر ما مشقتونه را روان دي حالانکه د الله تعالی رضا او نا راضګي دا د حالاتو سره نه ده.

بلکه کچيري د انسان زندګي د شريعت د احکامو مطابقه تيريږي نو الله ځني راضي بلل کيږي، که په هر څومره مشکلو حالاتو کي ژوند تېروي او که چيري د انسان زندګي د شريعت پر احکامو برابره نه وي، نو بيا الله ځني نا راضه دئ که په هر څومره عيش او عشرت کي د انسان ژوند تيريږي او دا يقيني او ښکاره خبره ده.

## (۲) د عبدالله امتحان:

د سيرت په کتابو کي ليکلي دي، چي "عبدالمطلب" نذر منلی وو که چيري ماته الله تعالی لس (۱۰) زامنان را کړل نو په هغو کي به زه يو د الله تعالی پر نامه باندي قربانوم، د الله شان داسي وو چي الله و ده ته لس (۱۰) زامن ور کړل نو دَی په دې فکر کي سو، چي زه به خپل نذر څنګه پوره کوم او په دې زامنو کي به کم يو ذبح کوم.

د خپل نذر پوره کولو لپاره ده قراع اندازي وکړه يعني هڅکه واچوله، چي په قراع اندازي (هڅکه) کي د ده په زامنو کي د داسي زوی نوم را وختی، چي ډېر زيات ښائسته وو او ده ته ډېر محبوب وو چي د هغه نوم عبدالله وو.

خلکو تولو ورته وويل چي دا بچی به نه ذبح کوې، بلکه د دې بچي او د اوښانو په مابين کي به قراع اندازي (هڅکه) و کړې، ګوندې د اوښانو نوم به را وخيږي او دا بچی به د ذبح کولو څخه خلاص سي.

---

(١) خطبات فقير، جلد نمبر ۱۶، صفحه نمبر ۱۹

چنانچه "عبدالمطلب" داغسې وکړل د بچي او د لسو (۱۰) اوښانو قراع اندازي (هشکه) يې وکړه مګر په هغه کي د عبدالله نوم را پورته سو، بيا يې دوهم ځل لس (۱۰) اوښان نور زيات کړه د شلو (۲۰) اوښانو سره يې د عبدالله قراع اندازي (هشکه) وکړه، نو په دې ځل بيا د عبدالله نوم را وختی، بيا يې د دېرشو (۳۰) اوښانو سره د عبدالله قراع اندازي (هشکه) وکړله، چي بيا د عبدالله نوم را پورته سو.

نو هر ځل يې اوښان ور سره زياتول چي کله تر سلو (۱۰۰) اوښانو پوري تعداد ورسېدئ، نو اوس قراع اندازي (هشکه) د اوښانو پر نامه را وختله، چنانچه "عبدالمطلب" د "عبدالله" په بدله کي سل اوښان قربان کړل، په دې وجه عبدالله ته "ذبيح الله" هم ويل کېدل، چي دی خپل پلار د الله پر نامه باندي د ذبحه کولو په نيت باندي پاللی وو.(۱)

يو ځل يو اعرابي راغلئ، پيغمبر ﷺ ته يې وويل؛

........يَا ابْنَ ذَبِيحَيْنِ﴾.

نو نبي اکرم ﷺ و خندل او ويې ويل، چي هو زه د اسماعيل علیه السلام د اولاده څخه يم او هغه نوم ذبيح الله دی او زه د عبدالله بچی هم يم چي د هغه نوم هم ذبيح الله وو.

حضرت عبدالله چي کله ځوان سو نو د هغه ځواني او ښائست چي کله خلکو وليدی، نو د خلکو به ډېر حسد او ضد په کېدی، يهودو پخپلو کتابو کي دا نښانې پيدا کړي وې، هغوی ته دا معلومه وه چي دا سړی به د "نبي آخر الزمان" پلار جوړېږي، چي د هغه پر تندي باندي يو قِسم نور ځلېدی، نو د يهودو زنانې به د داسي نوجوان په تلاش کي وې، چي هغه نور و دوی ته را منتقل سي.

يو ځل حضرت عبدالله د مکې څخه مدينې ته تلی نو په لاره کي يو "فاطمه" نامې زنانې ورته خپل ځان د نکاح لپاره پېش کړی، نو ده ورته ويل چي زه دا رقم نکاح ستا سره نسم کولای، هغې زنانې ورته ويل که نکاح نسې کولای خو هسې هم زما سره نږدېکت او ملاقات وکړه، د هغې مقصد د هغه نور نقل کېدل وه.

---

(۱) المواهب اللدنيه بالمنح المحمديه، باب طهارة نسبه ﷺ، صفحه نمبر ۶۶

حضرت عبدالله ورته ویل چې کم کار د انسانانو لپاره د ذلت او رسوایۍ سبب جوړېږي زه هیڅ کله هغه نسم کولای، واقعاً هم چې په کمو نسلو کې د نبوت نور را روان وي نو هغه هیڅکله د زنا د جرم ارتکاب نسي کولای.

چنانچه حضرت "عبدالله" مدینې ته راغلی په مدینه کې د "بنو زهره" قبیلې یوه نوجوانه زنانه چې د هغې نوم "آمنه" وه چې د ښو اخلاقو او د ښه تربیت او د ښه فطرت مالکه وه، چې ښه شکل او ښه عقل الله تعالی ور کړی وو، او په قسم قسم نعمتو باندې یې نازولې وه چنانچه دغه زنانه حضرت عبدالله د ځان لپاره خوښه کړه او د هغې سره یې د نکاح نصیب وسو.

د نکاح څخه وروسته چې کله "عبدالله" واپس مکې ته راتلی، نو هغه "فاطمه" نامې زنانې "عبدالله" ته وویل: چې مخکنې کم نور ستا پر تندي باندې ماته ځلېدئ هغه اوس په نظر نه راځي.(¹)

په حقیقت کې د "نبي الرحمة" هغه نور د خپل پلار د تندي څخه د خپلې مور بطن ته منتقل سوی وو.

نو تاسو ګورئ! چې د پیغمبرﷺ په نژدې قربانو کې اول ځل پر "عبدالمطلب" باندې امتحان راغلی او بیا دوهم ځل پر "عبدالله" باندې امتحان راغلی، اوس دریم شخصیت بي بي "آمنه" وه چې هغه د پیغمبرﷺ مور جوړېدله پر هغې باندې هم د امتحان شپې راغلې.

## (۳) د بي بي آمنې امتحان:

د واده څخه څو میاشتې بعد د "مکې مکرمې" یو قافله د تجارت لپاره د شام طرفته تلله حضرت "عبدالله" هم د هغې قافلې سره ولاړی، چونکه د واده ابتدائي ورځې وې، نو د رخصت په وخت کې د خاوند او د زنانې زړه ډېر غمجن او پرېشانه وي، نو د حضرت آمنې زړه ډېر پرېشانه وو.

(¹) خطبات فقیر: جلد نمبر ۱۶، صفحه نمبر ۲۳

حضرت "عبدالله" وعده ور سره وکړه چې ته پرېشاني مکوه زه به ډېر ژر راځم، او دا يې هم ورته وويل چې کله د قافلې د راتګ ږنګولې و ږغېږي، نو په دې وخت کې بهٔ ته دروازې ته راځې زما استقبال به کوې.

او زه به په ډېر محبت سره تاته تحفې را وړم، چې کله يې دا وعده وکړه نو حضرت "عبدالله" د قافلې سره رخصت سو.

يو څه زمانه يې په شام کې د تجارت لپاره تېره کړه، چې کله د هغه ځای څخه واپس راتلئ، نو په لاره کې د "مديني منورې" په علاقه کې حضرت "عبدالله" ته د تبې ناجوړي ور پېښه سوه، او هغه داسې بيماري وه چې د هغه لپاره سفر کول ممکن نه وه، چنانچه په مدينه منوره کې د خپلې خوسرګنی په کورو کې پاته سو.

چې کله قافله مکې مکرمې ته را ورسېده او ږنګولې و ږغېدې نو "بي بي آمنه" په ډېره خوشحالي سره د کور دروازې ته راغله، چې اوس خو به زما خاوند "عبدالله" د قافلې سره زما کور ته راځي، نو په دروازه کې يې ډېر انتظار و کړی د قافلې خلک خپلو کورو ته سره ولاړه، مګر "عبدالله" را نغلی، "بي بي آمنه" نوره پرېشانه سوه ځکه دا ور معلومه سوه چې هغه بيمار دی او په مدينه منوره کې دی، "عبدالمطلب" فورًا خپل مشر زوی "حارث" د عبدالله د راوستلو دپاره مدينې ته روان کړی مدينې ته چې کله ورسېدی.

نو دا معلومه سوه چې عبدالله د يوې مياشتې بيماری څخه وروسته وفات سويدی او د مدينې منورې په "نابغه" په مقام کې خاورو ته سپارل سويدی، چې کله "حارث" واپس راغلئ نو عبدالمطلب خپلو قريبانو ته د دې لويې حادثې اطلاع ور کړه، چې د هغه په وجه ټوله قريبان په ډېر سخت غم کې سول، د "قيس ابن مخرمه" څخه دا خبره را نقل سوېده: چې پېغمبرﷺ د مور په نس کې وو، چې حضرت عبدالله وفات سو.(۱)

(۱) زرقاني جلد: ۱ صفحه: ۱۰۹

حضرت عبدالله د اتلس (۱۸) کاله ځواني په عمر کي د الله طرفته رخصت سو، د "بي بي آمنې" عمر خو به د اتلسو (۱۸) کالو شخه هم کم وو، په دومره کم عمر کي بي بي آمنه د خاوند شخه پاته سوه نو په دې عمر کي به يقيناً هم پر هغې باندې ډېر مشکلات راغلي وي.

**عجيب حالات ښکاره کېدل:**

بي بي آمنه وايي چي ماته ډېر وروسته دا معلومات وسو، چي زما په نس کي بچی دی او دا هم ډېره عجيبه وه؛ ځکه بچی چي کله د مور نس ته راسي نو مور ته تکليف محسوسيږي او دا مبارکه وايي چي ماته هيڅکله د دې بچي د حمل شخه تکليف ندی محسوس سوی، البته حالات يو څه ناولده را معلومېدل هغه دا رنګه.

چي کله به زه يو ځای ته تلم، نو د هواء يو شپه به راتله او درختي به يې زما و مخ ته راکږولې، نو به ما درختي و خپل طرفته کږې ليدلې.(۱)

چي کله به زه د اوبو را وړلو لپاره د "زمزم" ځاه ته ورغلم، نو ما به ليدل چي د "زمزم" د ځاه اوبه به د ځاه کنارې او غاړې ته را نژدې کېدلې، چي کله به ما خپل لوښی ځني ډک کړل واپس به را روانه سوم، نو هغه اوبه به بيرته لاندې تللې، او د مکې نورو زنانو به زه ونيولم، او هلته به يې درولې وم او دا به يې راته ويل، چي الله به نه څې ډلې به ولاړه يې، ستا په وجه موږ ته د "زمزم" اوبه په اساني سره په لاس راځي. (۲)

او داغه رنګه ما به دا ليدل که به ما په لمر کي يو کار کوئ، نو د وريځي يو ټکره به راتلله او زما پر سر به يې سايه کوله، نو دا د درختو را کږېدل او د اوبو را پورته کېدل او د وريځي زما پر سر سايه کول دا داسي خبرې وې، چي ماته به ډيري ناولدي ناولدې معلومېدلې.

(۱)احسن المواعظ، صفحه نمبر۲۲
(۲)احسن المواعظ، صفحه نمبر۲۲

.........قَالَتْ آمِنَةُ: وَأَتَانِيْ آتٍ أيْ مِنَ الْمَلَائِكَةِ وَأنَا بَيْنَ النَّائِمَةِ وَالْيَقْظَانَةِ، فَقَالَ: هَلْ شَعُرْتِ بِأنَّكِ قَدْ حَمِلْتِ بِسَيِّدِ هٰذِهِ الْأمَّةِ وَنَبِيِّهَا؟﴾.([1])

حضرت آمنه مبارکه وايي، چې ماته په خوب کې يو ملائکه راغله، زه په خوب کې نيمحاله وم، او دا راته وايي، ايا ته په دې پوه يې؟ چې ستا په حمل کې د دې امت نبي او سردار دی، نو په دې خوب کې يې هم دې ته دا بشارت ورکړی، چې عنقريب به ته د يو ديزې مقدسې هستۍ مور جوړېدونکې يې.

## د يهودو پرېشاني،

بي بي آمنه وايي چې کله زما د بچي د ولادت ورځې نژدې راغلې، نو يو "سرخ ستوری" پر آسمان ځلېدی او په تورات کې دا نښانې وه چې کله نبي آخر الزمان پيدا کېږي نو يو سرخ ستوری به پر آسمان باندې ځليږي، چنانچه يهود به همېشه د دغه ستوري د ليدلو په فکر کې وه، چې کله هغه ستوری و ځلېدی نو په يهودو کې شر او شور جوړ سو او د دوی په قصرو او ماڼيو کې زلزلې راغلې، او دوی په دې ډېر زيات پرېشانه سول چې نبي آخر الزمان ﷺ خو پيدا کېدونکی دی،

چنانچه هغوئ به د يهودو د زنانو څخه دا معلومولهٔ چې هغه کمه زنانه داسې ده چې حامله وي او د هغې د وضع د حمل وخت نژدې وي، مگر هغوی ته يوه زنانه داسې په نظر نه ورتلله، بالآخر يو يهودي مکې مکرمې ته راغلی او په مکه مکرمه کې يې د پيغمبر ﷺ ځای د ولادت او کور پيدا کړئ او خپل قوم ته يې حال ورسوی.

## د پيغمبر ﷺ د ولادت حالات،

.........وَفَتَحَ اللهُ لِمَوْلِدِهٖ أبْوَابَ السَّمَاءِ وَجِنَانِهٖ فَكَانَتْ آمِنَةُ تُحَدِّثُ عَنْ نَفْسِهَا﴾.

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمايي چې الله تعالى د پيغمبر ﷺ د ولادت مبارک په وخت کې د آسمانو او د جنتو ټولې دروازې خلاصې کړې او بي بي آمنه مبارکه د پيغمبر ﷺ د ولادت حالات داسې بيانوي،

([1]) ماخوذ از سيرة الحلبيه باب ذکر حمل امه به ﷺ صفحه، ٦٩

.........وَتَقُوْلُ لَقَدْ اَخَذَنِيْ مَا يَأْخُذُ النِّسَاءُ وَلَمْ يَعْلَمْ بِيْ أَحَدٌ مِّنَ الْقَوْمِ فَسَمِعْتُ وَجْبَةً شَدِيْدَةً وَاَمْرًا عَظِيْمًا فَهَالَنِيْ فَإِذَا اَنَا بِشَرْبَةٍ بَيْضَاءَ لَبَنًا وَكُنْتُ عَطْشٰى فَتَنَاوَلْتُهَا فَشَرِبْتُهَا فَذَهَبَ عَنِّيْ كُلُّ رُعْبٍ وَكُلُّ وَجْعٍ﴾.

چي کله ماته د بچي پیدا کېدلو درد پیدا سو، نو یو دم یو ډېر خوفناکه او وېروونکی آواز مي واورېدی چي د هغه په وجه زه ډېره و بېرېدلم، د هغه څخه وروسته ماته په یو پیاله کي د سپینو شیدو غوندي شربت په نظر راغله، ما هغه و چیښل فورًا هغه ټوله بېره او خوف زما د زړه څخه ووته، او چي کم درد ماته محسوسېدی هغه ټول زما د بدن څخه ختم سو.

.........فَكَشَفَ اللهُ عَنْ بَصَرِيْ وَرَأَيْتُ رِجَالًا قَدْ وَقَفُوْا فِي الْهَوَاءِ بِأَيْدِيْهِمْ أَبَارِيْقَ فِضَّةٍ وَرَأَيْتُ قِطْعَةً مِنَ الطَّيْرِ وَرَأَيْتُ ثَلَاثَةَ أَعْلَامٍ مَضْرُوْبَاتٍ عَلَمًا فِي الْمَشْرِقِ وَعَلَمًا فِيْ الْمَغْرِبِ وَعَلَمًا عَلٰى ظَهْرِ الْكَعْبَةِ﴾.(۱)

بیا الله تعالی زما د سترګو څخه پرده پورته کړه او ماته د ډېرو انسانانو په شکل یو څه معلق صورتونه د آسمان او مځکي په مابین کي ولاړ په نظر راغلل چي د هغوی په لاس کي د سرو زرو کوزې وې.

بیا ماته یوه ډله د مرغانو چي د هغو مښوکي د زرغونو زمردو څخه وې او وزرونه یې د سرو یاقوتو څخه وه په نظر راغله او هغه مرغانو زما حجره پخپلو وزرو باندي پټه کړې وه، او د هغه څخه وروسته ماته درې(۳) بیرغه (جنډې) په نظر راغلل.

- چي یو پر مشرق وو.
- او دوهم پر مغرب وو.
- او دریم د کعبې پر چت ولاړ وو.

(۱)الخصائص الکبری للسیوطي صفحه۱ ۸۱

محدثينو د دې روايت په تشريح کي ليکلي دي، چي هغه خوفناکه آواز د آسمان د دروازو د خلاصېدو وو چي د پيغمبر ﷺ د پيدائش مبارک په وخت کي د ملائکو د حاضرېدلو لپاره خلاصېدلې.

د انسانانو په شکل کي چي په لاسو کي يې کوزې وې، دا هغه ملائکي وې چي د پيغمبر ﷺ د ولادت څخه وروسته د حوض کوثر او سلسبيل څخه د غسل ورکولو دپاره د پيغمبر ﷺ د ولادت لپاره حاضري او منتظري ولاړې وې.

او هغه د مرغانو ټولۍ دا هغه فرشتې وې چي د پيغمبر ﷺ د جناتو او شيطانانو او د بد نظر او بېکاره اثراتو څخه د محفوظ کولو دپاره راغلي وې.

او هغه درې(۳) بيرغه يو پر مشرق او دوهم پر مغرب او دريم د کعبې پر چت په دې کي اشاره دې ته وه چي د پيغمبر ﷺ دين به د کعبې څخه خورېږي، د مشرق او مغرب کنارو ته به رسيږي، د ولادت په وخت کي چي حضرت "آمنې" مبارکي څه ليدلي وه هغه ټوله پوره پوره په دنيا کي ښکاره سوه، چي نن د پيغمبر ﷺ په کلمه سره ټوله اطراف د عالم منور او روښانه دي.

## د ملائکو راتلل:

......... عَنْ عُثْمَانَ بْنِ اَبِي الْعَاصِ قَالَ حَدَّثَتْنِي اُمِّيْ اَنَّهَا شَهِدَتْ وِلَادَةَ آمِنَةَ اُمِّ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ لَيْلَةَ وَلَدَتْهُ قَالَتْ فَمَا شَيْءٌ اَنْظُرُ اِلَيْهِ فِي الْبَيْتِ اِلَّا نُوْرٌ وَاِنِّيْ لَاَنْظُرُ اِلَى النُّجُوْمِ تَدْنُوْ حَتّٰى اِنِّي لَاَقُوْلُ لَيَقَعْنَ عَلَيَّ﴾.(۱)

د عثمان بن ابي العاص مور مبارکه وايي: چي زه په دغه شپه چي کله پيغمبر ﷺ پيدا کېدئ د "بي بي آمنې" په خدمت کي حاضره وم ماته د آمنې په کور کي د نور او رڼا څخه ماسوا نور هيڅ هم په نظر نه راتلل.

او ماته داسي معلومېدله لکه: د آسمان ستوري چي د آمنې و حجرې ته نژدې راتلل، زما خيال به دا وو چي هسې نه چي دا ستوري پر مونږ را ونه لوېږي.

(۱) الخصائص الکبرٰی، جلد: ۱، صفحه: ۷۸

علماؤ ليکلي دي هغه نور چي د عثمان مور ليدلی وو دا د هغه ملائکو د مخ نور وو، چي د پيغمبرﷺ د ولادت په وخت کي په حجره کي حاضري وې او د آسمان ستوري را شوه کېدل دا هغه ملائکي وې چي د څلورو طرفو څخه يې حجره مبارکه په احاطه کي اخيستې وه.

حضرت آمنه مبارکه وايي:

..........فَلَمَّا خَرَجَ مِنْ بَطْنِيْ نَظَرْتُ إِلَيْهِ فَإِذَا أنا بِهِ سَاجِدًا قَدْ رَفَعَ إِصْبَعَيْهِ كَالْمُتَضَرِّعِ الْمُبْتَهِلْ وَ هُوَ يَقُوْلُ بِلِسَانٍ فَصِيْحٍ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَ اَنِّيْ رَسُوْلُ اللهِ﴾.(١)

چي کله رسول اللهﷺ زما له بدن څخه جدا سو او ما چي ورته وکتل نو دَی د سجدې په حالت کي دب بيا يې د سجدې څخه سر را پورته کړب او ګوته يې د آسمان طرفته پورته کړه او په نهايت فصيحه ژبه سره يې دا کلمه مبارکه وويله چي:

.........لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَ اَنِّيْ رَسُوْلُ اللهِ﴾.

نسته يو لائق د عبادت مګر يو الله دی او زه د الله رسول يم.

علماؤ ليکلي دي چي د "لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ" ذکر د ټولو اذکارو څخه افضل ذکر دی لکه: حديث شريف کي راځي:

.........أَفْضَلُ الذِّكْرِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ﴾.(٢)

بهترين ذکر د "لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ" دی.

د دې د افضليت يوه وجه دا هم ده چي افضل المخلوقات، سيد الاولين و الآخرين د ټولو څخه مخکي دغه ذکر پخپله ژبه مبارکه ادا کړيدی، بيا د وفات مبارک په وخت کي آخري کلام د پيغمبرﷺ هم "لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ" راغلی دئ لکه: د پيغمبرﷺ آخري کلام "لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ اللَّهُمَّ فِي الرَّفِيقِ الأَعْلَى".(٣)

---

(١) الخصائص الکبری صفحه: ٨٢
(٢) سنن ترمذي حديث: ٣٣٨٣
(٣) بخاري شريف حديث: ۴۴٣٧

نو دا هغه خاص ذکر دی چې د ټولو څخه اول هم دی او د ټولو څخه آخر هم دی نو په دې اعتبار سره "لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ" ته دا ويل کيږي چې "هُوَ الْاَوَّلُ وَ الْاٰخِرُ" يعني دا د ټولو څخه اول او اخر ذکر دی، نو دا د ده د فضيلت لپاره کامله وجه ده.

بي بي آمنه مبارکه وايي:

.........ثُمَّ رَأَيْتُ سَحَابَةً بَيْضَاءَ قَدْ أَقْبَلَتْ مِنَ السَّمَاءِ حَتّٰى غَشِيَتْهُ فَغَيَّبَتْهُ عَنِّيْ، ثُمَّ سَمِعْتُ مُنَادِيًا يُنَادِيْ طُوْفُوْا بِهِ مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا وَأَدْخِلُوْهُ الْبِحَارَ لِيَعْرِفُوْهُ بِاسْمِهِ وَنَعْتِهِ وَصُوْرَتِهِ﴾.(١)

چې کله پيغمبر ﷺ پيدا سو، ما يو سپينه نوراني اوريځ د آسمانه څخه را شوه کېدونکې وليدله، هغه اوريځ راغله پر حجره مبارکه يې احاطه وکړه او حجره مبارکه يې پخپل ځان کي پټه کړه او په دې وريځ کي يو اواز کونکي دا آواز وکړی: چې تاسو په دې ذات باندي د شرق او د غرب زيارت وکړی چې د ده نوم او صورت او صفت ټولو ته معلوم سي.

.........وَأَعْطُوْهُ خُلُقَ آدَمَ﴾ تاسو و ده ته د آدم عليه السلام اخلاق.

.........وَمَعْرِفَةَ شِيْثٍ﴾ د شيث عليه السلام معرفت.

.........وَشَجَاعَةَ نُوْحٍ﴾ د نوح عليه السلام شجاعت.

.........وَخُلَّةَ إِبْرَاهِيْمَ﴾ د حضرت ابراهيم عليه السلام خلت او دوستي.

.........وَلِسَانَ إِسْمَاعِيْلَ﴾ د اسماعيل عليه السلام ژبه.

.........وَرِضَا إِسْحَاقَ﴾ د اسحاق عليه السلام رضا.

.........وَفَصَاحَةَ صَالِحٍ﴾ د صالح عليه السلام فصاحت.

.........وَحِكْمَةَ لُوْطٍ﴾ د لوط عليه السلام حکمت.

---

(١) معجزات نبي ﷺ، باب تبشير مريم البشريات التي صاحبت مولد النبي ﷺ صفحه: ۴۷۲

...........وَبُشْرٰى يَعْقُوبَ﴾ د يعقوب عليه السلام بشارت.

...........وَشِدَّةَ مُوسٰى﴾ د موسى عليه السلام قوت.

...........وَصَبْرَ أَيُّوبَ﴾ د ايوب عليه السلام صبر.

...........وَطَاعَةَ يُونُسَ﴾ د يونس عليه السلام اطاعت.

...........وَجِهَادَ يُوشَعَ﴾ د يوشع عليه السلام جهاد.

...........وَعِصْمَةَ يَحْيٰى﴾ د يحيٰى عليه السلام عصمت.

...........وَزُهْدَ عِيسٰى﴾ د عيسٰى عليه السلام زهد.

.........وَاغْمِسُوْهُ فِي أَخْلَاقِ النَّبِيِّيْنَ﴾. او د ټولو انبياء كرامو غوره اخلاق و دې مباركې هستۍ ته ور كړئ.

........قَالَتْ: ثُمَّ انْجَلَتْ عَنِّيْ نَظَرْتُ إِلَيْهِ فَإِذَا بِهِ كَالْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ وَرِيْحُهُ يَسْطَعُ كَالْمِسْكِ الْأَذْفَرِ﴾. (۱)

له وخت وروسته هغه وريځ سره پورته سوه ما چې كله د ده مبارك رنګ ته وكتل نو د ده مخ مبارك د څوارلسم(۱۴) د سپوږمۍ غوندې رڼا كوې او د بدن مبارك څخه يې د مشكو او عنبرو غوندې خوشبويي ولاړېږي.

لكه: يو شاعر وائي:

حسن يوسف، دم عيسى، يد بيضا داري
آنچه خوبان همه دارند تو تنها داري

(۱) المواهب لدنيه آيات ولادت محمد ﷺ صفحه ۷۷

## د پیغمبر ﷺ عجیب پیدائش:

د پیغمبر ﷺ پیدائش د نورو بچیانو څخه ممتاز او جلا وو؛ ځکه بچي چي کله پیدا سي نو د هغه د "نوه" غوټی د مور سره تړلې وي نو بیا "دایي" هغه غوټه ورپرې کوي، پیغمبر ﷺ چي کله پیدا سو نو دئ "ناف بریده" وو یعني هغه د "نوه" غوټۍ یې خود بخود پرې سوې وه.

او د بچي د پیدائش څخه وروسته "خُتنه" یعني د هغه سنتي کیږي لیکن پیغمبر ﷺ پدائشي طور "خُتنه" شده وو، یعني د "خُتنه" د مور د نسه څخه سوې وه.

بچي ته عام طور "دایي" غسل ورکوي لیکن پیغمبر ﷺ چي د موره څخه پیدا سو نو د هغه پر بدن باندي یوه زره آلودګي نه وه چي هغه ته د غسل ضرورت وي.

## د بیت الله سجده کول:

.........قَالَ عَبْدُ الْمُطَّلِبِ: كُنْتُ تِلْكَ اللَّيْلَةَ فِي الْكَعْبَةِ أَرُمُّ مِنْهُ شَيْئًا، فَلَمَّا انْتَصَفَ اللَّيْلُ إِذَا أَنَا بِالْبَيْتِ الْحَرَامِ قَدِ اسْتَمَالَ بِجَوَانِبِهِ الْأَرْبَعِ، وَخَرَّ سَاجِدًا فِي مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ﴾.

"عبدالمطلب" د پیغمبر ﷺ د پیدائش د شپې واقعه په دې شکل بیانوي، او وایي چي په دې شپه باندي ما په "بیت الله" کي عبادت کوی چي یو دم ما "بیت الله" ته وکتل چي د هغې څلور سره دېواله د خپل ځای څخه را وختل او د "حطیم" په طرف کي یې سجده وکړه.

.........ثُمَّ اسْتَوَى الْبَيْتُ قَائِمًا أَسْمَعُ مِنْهُ تَكْبِيرًا عَجِيبًا يُنَادِيْ: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ، رَبُّ مُحَمَّدِ الْمُصْطَفَى، اَلْآنَ قَدْ طَهَّرَنِيْ بِهِ رَبِّيْ مِنْ أَنْجَاسِ الْمُشْرِكِيْنَ﴾.(۱)

بیا دوباره "بیت الله" پر خپل ځای سمه ودرېده او د هغې څخه ما د تکبیر آوازونه واورېدل او دا یې ویل چي نن زه د مشرکانو د نجاسته څخه پاکه سوم.

غالبًا درو پنځوس (۵۳) کاله وروسته بیا دا آیت راغلی:

---

(۱) تاریخ الخمیس ذکر بعض ما وقع حین الولادة صفحه: ۲۰۲

..........﴿إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هَذَا﴾(۱).

ناپاکه مشرکان به اوس "حرم" ته نه راځي، د دې څخه وروسته "کعبه معظمه" د همېشه لپاره د مشرکانو د نجاست او د بت پرستۍ څخه پاکه سوه.

## د ايوان کسرئ زلزله او د نهر ساوه وچېدل:

په داغه شپه باندي دا واقعه هم پېښه سوه چي د "کِسرٰی" په ايوان او ماڼۍ کي زلزله راغله، چي د هغه د ماڼۍ څخه څوارلس (۱۴) ځنبتي را ايله سوې او د فارس "آتش کده" چي زر (۱۰۰۰) کاله مسلسل روښانه وه د هغې اور مړ سو او درياب "ساوه" وچ سو.

چي کله سهار سو نو "کِسرٰی" نهايت پرېشانه دی، خو د بادشاهۍ وقار د دې خبرو د ښکاره کولو څخه مانع وو، بالآخر وزراء او ارکان د دولت يې ټول دربار کي سره راجمع کړل په دې دوران کي شاهي دربار ته دا خبر را ورسېدی چي د فارس د "آتش کدې" اور مړ سو.

نو د "کِسرٰی" پرېشاني نوره هم زياته سوه په داغه دوران کي يو "مجوسي عالم (موبذان) ولاړ سو هغه دا وويل: چي ما د شپې دا خوب ليدلی دی چي سخت عربي اوښانو آسان په مخه آخيستي وه او تر درياب "دجله" واوښتل او په ټولو ممالکو کي سره خواره واره سوه.

"کِسرٰی" د هغه مجوسي عالم څخه پوښتنه وکړه چي د دې خوب تعبير څه دی؟ هغه په جواب کي ورته وويل چي شايد د عربو د طرفه يو لويه حادثه پېښېدونکې ده.

"کِسرٰی" د توثيق او اطمنان لپاره د "نعمان ابن منذر" پر نامه باندي يو فرمان جاري کړی، چي يو لوی عالم زما حضور ته را واستوه چي هغه زما د سوالونو جواب را کړي.

(۱) التوبه آيت نمبر: ۲۸

"نعمان ابن منذر" یو جهان دیده عالم "عبدالمسیح غساني" را واستوی "عبدالمسیح" چې کله دربار ته حاضر سو، نو بادشاه ورته وویل چې د کم شي زه ستا څخه پوښتنه کوم ایا تاته به د هغه علم وي، "عبدالمسیح" ورته وویل چې ته خپله پوښتنه ذکر کړه کچیرې زما سره د هغه علم وو خو زه به جواب ور کړم او که نه وو نو بیا به تر خپل ځان د یو بل زیات علم لرونکي انسان وطرفته ستا رهنمایي و کړم.

بادشاه چې کله ټوله واقعه بیان کړه "عبدالمسیح" ورته وویل چې د دې خبرو تحقیق به غالبًا زما د ماما څخه چې د هغه نوم "سطیح" دی او نن سبا په شام کي اوسیږي معلوم سي.

"کسرٰی" "عبدالمسیح" ته حکم وکړی چې ته پخپله د خپل ماما څخه د دې خبرو تحقیق وکړه او بیا ماته راسه، "عبدالمسیح" خپل ماما "سطیح" ته راغلی چې کله دی راغلی نو "سطیح" په دې وخت کي د زکندن په حالت کي وو، مګر هوش یې باقي وو. "عبدالمسیح" سلام ورته وویلی، او یو څه اشعار یې وویل او په اشعارو کي یې هغه حالات ورته پېش کړل او د هغو جواب یې ترې وغوښتی.

"سطیح" چې کله د "عبدالمسیح" اشعار واورېدل نو د "عبدالمسیح" و طرفته متوجه سو او دا یې ورته وویل چې د دې حالاتو څخه دا معلومیږي او دا ښه واوره چې کله د کلام الهي تلاوت په کثرت سره شروع سي او "صاحب عصا" ښکاره سي او "وادي سماوه" روانه سي او "دریاب ساوه" خشک او وچ سي، او د فارس د "آتش کدې" اور مړ سي بیا به د "کِسرٰی" لپاره شام شام نه وي.

د "بني ساسان" یو څه انسانان نارینه او زنانه به د دې را لوېدلو ښنتو په مقدار بادشاهي وکړي خو چې کم څه راتلونکي دي ګویاکي هغه به ضرور راځي، او دا جواب یې ور کړی، "سطیح" پر هغه ځای باندي پر هغه وخت وفات سو.

"عبدالمسیح" واپس راغلی او "کِسرٰی" ته یې دا ټول حال بیان کړي، "کِسرٰی" چې کله دا واورېدل نو زړه یې ښه سو چې را لوېدلي ښنتي څوارلس (۱۴) دي، نو څوارلس (۱۴) سلطنته به تیریږي دا خو به ډېره زمانه وي.

مګر زمانه هم عجیبه تېرېدله لس (۱۰) سلطنته په ځلور کاله کي ختم سو؟ او دا نور ځلور سلطنته د حضرت عثمان غني ﷛ تر خلافته پوري ختم سوه او د هغه ځخه وروسته د مسلمانانو حکومت د شام پر ځمکه باندي مکمل قابض سو.[1]

## د "عامر" واقعه چي په ابتداء کي بت پرست وو:

د "یمن" په اطرافو کي د "عامر" په نامه یو بت پرست په خپله بت خانه کي ناست دی، د سید المرسلین د ولادت په وخت کي د ده مبارک د ولادت نور د "مشرق" ځخه تر "مغربه" د "جنب" ځخه تر "شماله" د ځمکي ځخه تر آسمانه پوري پر ټولو مخلوقاتو محیط دی.

الله تعالی د "عامر" د سترګو ځخه پرده پورته کړه "عامر" ته د آسمان دروازې خلاصي ور معلومېږي ملائکي را شوه کیږي غرونه او درختي پر سجده پرتې معلومېږي، دی ډېر حیران دی چي دا ځه کیږي یو دم د "عامر" خپل بت پر مخي را غوزار سو او دا کلام یې و کړی:

......... ﴿وُلِدَ النَّبِيُّ الْمُنْتَظَرُ يُخَاطِبُهُ الْحَجَرُ وَالشَّجَرُ وَ يَشُقُّ لَهُ الْقَمَرُ﴾. په عالم کي هغه نبي تشریف را وړی چي د کم نبي په سوو کلونو انتظار وو.

چي د هغه سره به درختي او ډبري کلام کوي او د هغه په اشاره سره به سپوږمۍ دوې ټکرې ګرځي، چي کله "عامر" دا واورېدل نو خپلي زناني ته وایي: ته یې اورې دا کلام، هغه زنانه ورته وایي: هو او دا پوښتنه ځني وکړه چي هغه نبي چیري پیدا کیږي او نوم به یې ځه وي نو.

......... ﴿فَقَالَ أَيُّهَا الْهَاطِفُ مَا اِسْمُ هَذَا الْمَوْلُوْدِ فَقَالَ اِسْمُهُ مُحَمَّدٌ مُصْطَفٰى﴾. ای هاطف غیبي! د دې مبارک نبي نوم به ځه وي؟ هغه خپل بت ورته وویل چي نوم به یې "محمد" مُصطفٰی وي.

---

(1) عیون الاثر لابن سید الناس: جلد نمبر۱، صفحه نمبر۲۹، تاریخ طبري: جلد نمبر۲، صفحه نمبر۱۳۱

د "عامر" يو بچى ډېر بيمار وو چي د "پالج" په مرض كي يې لاسونه او پښې وچې وې چي په لاندي مكان كي پروت وو چي كله يې د ولادت مبارک نور وليدی دستي يې دا عرض وكړی يا الله كچيرې په دې نور كي بركت وي نو ماته هم د دې يو څه حصه راكړه، فورًا الله تعالى صحيح او سالم او تندرست بدن په نصيب وركړی.

"عامر" چي كله دا واقعه وليدله، نو ډېر سخت حيران دی، د دې نبي د ليدلو دپاره يې عزم او قصد وكړی، او فورًا يې د تګ عزم او قصد وكړی او د خپلي زناني څخه يې اجازت او رخصت واخيستی او د مكې پر طرف را روان سو، د ډېره مزله څخه وروسته مكې مكرمې ته را ورسېدی او د ډېره تلاشه وروسته يې د بي بي آمنې كور پيدا كړی او د دروازې په خوا كي ودرېدی او د يو فقير په شان يې دا نعره يې وكړه، چي د خدای پخاطر يو مسافر غريب الوطن او عاشق زار ته د خپل نو مولود صاحب زاده جمال او حسن وربنكاره كړی.

"عبدالمطلب" چي كله خبر سو، نو پيغمبر ﷺ د يو ماشوم بچي په شكل را وړی او ور ښكاره يې كړی عامر چي كله د پيغمبر ﷺ حسن او جمال وليدی نو پر پښو او لاسو يې مچ كړی او پر هغه ځای باندي يې د پيغمبر په عشق كي روح پرواز و كړی او وفات سو، او دا د دې امت اولنی شهيد وو چي په دې امت كي د پيغمبر ﷺ په عشق او محبت كي صدقه سو. (۱)

.........اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنِيْ حُبَّکَ وَحُبَّ نَبِيِّکَ الْكَرِيْمِ﴾.

نو دا د پيغمبر ﷺ كراماتي پيدائش مبارک وو، چي په عالم كي د لوی انقلاباتو ذريعه او سبب وو، او د عامو انسانانو د ده سره محبت او مينه وه.

(۱) مواعظ ابراهيمي، احسن المواعظ صفحه: ۳۰

الله تعالىٰ دي مو په زړو کي د پيغمبر ﷺ سره د محبت کولو توفيق را نصيب کړي او الله تعالىٰ دي مي د قيامت په ميدان کي د ده د شفاعت څخه محرومه او بې نصيبه نه کړځوي. آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْنَ

وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآیه)

# د رضاعت بیان

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کاسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقــــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشــــاعــت | اول |
| تــاريـــــخ | جمادي الاولى ١٤٤٢ بمطابق ٢٤ جنوري ٢١ |
| تــعـــــداد | (١١٠٠) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللّٰهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ ذَلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ﴾.(١)

وقال رسول الله ﷺ ﴿كُنْتُ نَبِيًّا وَآدَمُ بَيْنَ الْمَاءِ وَالطِّيْنِ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## عقيقه او تسميه:

محترمو مشرانو! د "ربيع الاول" مبارکه مياشت ده، د سيرت مبارک په تسلسل کي خبره روانه ده، موږ په تېره جمعه کي د پيغمبر ﷺ د ولادت متعلق يو څه خبره وکړه نن هم هغه د سيرت متعلق خبري ته ادامه ورکوو، او ستاسو په مخ کي د پيغمبر ﷺ د سيرت مبارک يو حصه اېږدو، الله تعالی دي موږ او تاسو ټولو ته د پيغمبر ﷺ پر مبارکه نقشه زندګي را نصيب کړي.

(١) الفتح آيت نمبر: ۲۹

(٢) المواهب اللدنيه تشريف الله تعالى له ﷺ صفحه: ۴۱

د ولادت په اوومه(۷) ورځ عبدالمطلب د پیغمبرﷺ عقیقه وکړه او د عقیقې په مناسبت یې یو لویه مېلمستیا جوړه کړه، چې په هغه کې یې ټولو قریشو ته دعوت ور کړئ.

حافظ عسقلاني رحمة الله علیه لیکلي دي: چې کله قریش د دعوت څخه فارغ سوه نو یې پوښتنه و کړه، چې ای عبدالمطلب! تا د دې مولود مسعود نوم څه تجویز کړی دی؟"عبدالمطلب" په جواب کې ورته وایې چې ما د دې بچې نوم محمد تجویز کړی دی.

قریش بیا دا پوښتنه کوي چې ای "ابو الحارث"! (دا د عبدالمطلب کنیت وو) تا ولې داسې نوم تجویز کړی دی؟ چې ستا په پلرونو او نیکه ګانو کې او ستا په ټوله قوم کې تر اوسه پورې چا داسې نوم نه دی ایښی، عبدالمطلب په جواب کې وویل چې ما ځکه دا نوم ایښی دی:

..........اِنِّيْ لَاَرْجُوْ اَنْ یُّحْمَدَ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْاَرْضِ﴾.(۱)

زما دا امید دی چې ددې مولود حمدونه او صفتونه به په ځمکه او آسمانو کې ویل کیږي.

## د محمد د نامه ایښولو وجه:

درحقیقت د محمد د نامه ایښولو وجه دا وه، چې عبدالمطلب د پیغمبرﷺ د ولادت څخه مخکې یو خوب لیدلی وو، هغه دا چې د عبدالمطلب د ملا څخه یو ځنځیر ښکاره سو، چې د هغه ځنځیر یو طرف په آسمان کې او یو طرف په ځمکه کې او یو طرف په مشرق او یو طرف په مغرب کې وو.

یو څه زمانه وروسته هغه ځنځیر په درخته بدل سو، چې د هغه پر هره پاڼه باندې داسې نور وو چې د لمر د نوره څخه اویا (۷۰) درجې زائد وو، او د مشرق او مغرب خلک د

(۱) نهایة الایجاز في سیرة ساکن الحجاز، باب اسماؤهﷺ صفحه، ۲۴

دې په ښاخو پورې موښتي وه، د قريشو څخه هم يو څو خلګو دا ښاخونه نيولي وه او يو څو قريشو بيا د دې درختي د پرېکولو اراده کړې وه.

چې کله به دغه قريش د پرې کولو په اراده دې درختي ته ور نژدې سول، نو مخته به د پر ښائسته او حسين نوجوان راغلی، بيا به يې قريش د هغه درختي څخه ليري کړل.

معبّرينو عبد المطلب ته د دې خوب تعبير دا بيان کړی وو، چې ستا د نسله څخه به يو داسې هلک پيدا سي، چې د مشرق څخه تر مغربه پورې به خلګ د هغه اتباع کوي او د آسمان او مځکي والا به د ده حمد او ثناء کوي، پدې وجه عبد المطلب د ده نوم محمد ايښی وو.(١)

او بل طرفته د ده مور مبارکي ته هم د رؤيا صالحه (نېک خوب) په ذريعه سره دا ويل سوي وه، چې ته د يوه غوره خلګو او سيد الامم حامله يې د هغه نوم "محمد" کښېږده او په يو روايت کي د "احمد" نوم ايښوول راغلی دی.(٢)

## د خپلي مور شيدې رودَل:

د ولادت با سعادت وروسته درې (٣) څلور (۴) ورځي ده د خپلي مور "تی" ورودئ، د هغه څخه وروسته بيا د ده د اکا "ابو لهب" آزاده سوې مينځه "ثويبې" و ده ته "تی" ورکوی.

د ده اکا "ابو لهب" ته چې کله "ثويبې" د ده د ولادت با سعادت زيری ورکړی، نو ابو لهب د ده د ولادت په خوشحالي کي "ثويبه" آزاده کړه او "ثويبې" د دې څخه مخکي د ده سکه اکا حضرت "حمزه" ته هم تی ورکړی وو، په دې وجه هغه د ده رضاعي ورور بلل کېدی او د هغه څخه وروسته "ثويبې" "ابو سلمه" ته هم تی ورکړی وو.

د بخاري شريف روايت دئ ام المؤمنين "ام حبيبه" را نقل کړيدی: چې يو ځل ما د رسول اللهﷺ څخه پوښتنه وکړه، چې ته د "ابو سلمه" د لور "دُرِّې" سره د نکاح کولو اراده لرې؟ نو ده بطور تعجب راته ويل چې هغه خو ماته حلاله نه ده ځکه هغه

---

(١) روض الانف جلد ١ صفحه: ١٠۵
(٢) عيون الاثر جلد ١ صفحه: ٣٠

زما رضاعي "ورېره" ده، ځکه چي ما او د هغې پلار "ابو سلمه" دواړو ته "ثويبې" "تی" را کړېدی.(۱)

د ابن عباس څخه هم روايت دئ چي نبي اکرمﷺ ته يو چا دا عرض وکړی، چي ته که د حضرت حمزهؓ د لور سره نکاح وکړې، دا به څنګه وي؟ نو ده په جواب کي ورته وويل چي هغه زما رضاعي ورېره ده.

د ثويبې په اسلام راوړلو کي اختلاف دی خو حافظ "ابو منده" دا په صحابياتو کي ذکر کړېده.(۲)

نبي اکرمﷺ به د "ثويبې" ډېر اکرام کوی د حضرت خديجېؓ سره د نکاح کولو څخه وروسته "ثويبه" د ده خدمت ته ډېره را تلله.

د هجرت څخه وروسته به هم پيغمبرﷺ د مدينې منورې څخه "ثويبې" ته هديه را استوله، چي کله مکه مکرمه فتح سوه نو پيغمبرﷺ د "ثويبې" او د هغې د بچي "مسروح" په باره کي معلومات وکړی خو هغه دواړه وفات سوي وه، بيا پيغمبرﷺ دا وويل چي د هغې په قريبانو کي څوک ژوندي سته؟ چي موږ د هغه سره ښه سلوک او احسان وکړو، خو لېکن د هغې په قريبانو کي هم څوک ژوندی نه وو.

د وفات څخه وروسته حضرت عباسؓ "ابو لهب" په خوب کي وليدی چي په ډېر بدترين حالت کي وو، پوښتنه يې څني وکړه چي څنګه حال دي دی؟ ده په جواب کي ورته وويل چي ستاسو څخه د جدائی وروسته يعني د مرګ څخه بعد ما بيا هيڅ راحت نه دی ليدلی، مګر په هره دوه شنبه زما په عذاب کي يو څه تخفيف کيږي هغه په دې وجه چي په دې ورځ ما "ثويبه" د پيغمبرﷺ د ولادت په خوشحالي کي آزاده کړې وه.(۳)

(۱) بخاري شريف، حديث: ۵۱۰۱
(۲) فتح الباري جلد: ۹ صفحه: ۱۲۴
(۳) البداية والنهاية جلد: ۲ صفحه: ۷۳

## د حضرت حليمه سعديه تی رودل:

په عربو کي دا دستور وو چي شرفاؤ به خپل شېر خواره بچيان د ابتداء څخه د صحراء و کيلو ته استول، چي د کلو په صاف او شفاف آب و هواء کي د هغه نشو و نماء وسي، او د هغه ژبه فصيحه وي او د عربو اصلي تمدن او عربي خصوصيات په هغه کي راسي لکه د پيغمبر ﷺ قول دی:

.........تَمَعْدَدُوا، وَاخْشَوْشِنُوا، وَامْشُوا حُفَاةً﴾.(١)

تاسو د "معد بن عدنان" هيئت اختياروئ يعني د عجمو لباس او د هغو هيئت مه اختياروئ، او پر سختيو صبر کوئ، او سخت لباس اغوندئ، او لڅي پښې ګرځئ.

په رواياتو کي راځي چي حضرت ابو بکر يو ځل پوښتنه وکړه چي ای د الله رسوله! ستا ژبه ډېره فصيحه ده، ده په جواب کي ورته وويل اول خو زه د قريشو څخه يم، بيا په "بني سعد" قبيله کي ما تی رودلی دی.

نو د عربو د دستور مطابق هر کال د بني سعد قبيلې يو څه زناني د شېر خواره بچيانو په تلاش کي مکې ته راتلې، په دې کال باندي د "بني سعد" قبيلې لس (١٠) زناني مکې مکرمې ته راغلې، چي هغوی په خپل غېږ کي د قريشو بچيان د ځانه سره يوسي او هغوی ته پالنه ور کړي، او د هغو د والدينو (پلرو او مېندو) څخه اجر او مزدوري وصول کړي.

## د "حليمه سعديه" مکې ته راتلل:

په دې لسو (١٠) زنانو کي يوه زنانه حضرت "حليمه سعديه" وه، د هغې سره يوه اوښه ده او يوه خره ور سره ده، پر خره باندي يې د سفر سامان دی، او پر اوښه باندي حليمه او د هغې خاوند سپاره دي.

د حليمې سره شيدې رودونکی يو بل بچی هم ور سره دی چي د هغه نوم "عبد الله" او په کور کي د هغې دوې لوڼي "شيما" او "انيسه" پاته وې، د هغې اوښه ډېره دنګره

(١) المعجم الكبير للطبراني، باب القعقاع بن ابي حدرد الاسلمي صفحه: ٤٠

او کمزورې وه، چې کله دا لس (١٠) زناني را رواني سوې نو په هغو کي هغه نه (٩) زناني مخته ولاړې او حضرت حليمه تر شاه پاته سوه.

دوه (٢) درې (٣) ځله خو هغه زناني ورته ودرېدلې د حضرت حليمې انتظار يې و کړی، وروسته يې ورته وويل چې ستا په وجه زموږ په سفر کي ځنډ راځي، نو نور موږ تاته انتظار نسو کولای په دې وجه موږ ځو ته به وروسته را پسي راسې، چنانچه هغه نه (٩) زناني مخته ولاړې او د حليمې سعديې څخه مخکي مکې مکرمې ته ورسېدلې.

په هغو کي هرې زناني دا غوښتل چې زه د يو مالداره پلار بچی پخپل غېږ کي واخلم، چې و ماته زما د محنت زياته ثمره په لاس راسي، چنانچه زنانو د مالداره پلرو بچيان په غېږ کي واخيستل.

او هغه زناني چې به کله د حضرت "آمنې" کورته راغلې، او د نبي اکرمﷺ د پلار په باره کي به يې پوښتنه وکړه، چې د ده پلار چيري دی؟ چې کله به دا معلومات وسو چې هغه وفات سويدی، او دا بچی يتيم دی نو دستي به يې دا سوچ کوی چې د دې بچي پر پالنه به نو موږ ته څه په لاس راسي، نو ځکه هغوی به واپس تلې او د پېغمبرﷺ د ورلو څخه به يې انکار کوی.

چې کله راتلونکي زنانې د "آمنې" د کوره څخه خالي لاس واپس تلې او د دې د بچي ورلو ته څوک تيار نه وو نو د "بي بي آمنې" پر زړه به يو زخم لګېدی او د دې به غم زياتېدی او دې ته به خپل خاوند "عبدالله" ډېر په ياد ورتلی.

هسي خو دا د مخکي څخه لا غمجنه وه او غمجن انسان ته چې کله يو لفظ د نااميدی واوري نو هغه دستي په ژړا کيږي، نو د دې زنانو را تګ د حضرت آمنې کورته او د بچي د ورلو بغيره واپس تلل، دا د حضرت آمنې پر زړه باندي ډېر لوی غم وو هغې به دا فکر کوی کاش! نن عبدالله ژوندي وای چې هغه د دې خپل بچي لپاره ښائسته لباس را وړئ وای او د بچي د زړه د خوشحالی دپاره يې خپل بچی د ځانه سره سير و تفريح ته بېولی وای، او د پالني لپاره يې دا زناني تياري کړي وای.

بي بي آمنې پخپل غم کي د ځانه سره دا سوچونه او فکرونه کول هغې ته دا څه معلومه وه چي دا هغه هستي ده.

- ....چي د هغې لپاره به د آسمان سپوږمۍ تماشه او ساتپرې جوړیږي.
- ....چي د سیر کولو لپاره به یې الله تعالی خپل عرش ته را بولي.
- ....چي هغه ته الله رب العزت د آخرت څخه مخکي په دنیا کي هم بادشاهت په نصیب ور کوي.

## د "حلیمه سعدیه" په انتخاب کي پوشیده راز:

چي کله "حلیمه سعدیه" مکې ته راغله نو هغې ته هیڅ بچی هم نه وو پاته، وروسته دا ور معلومه سوه چي یو بچی باقي پاته دی، یعني چي کم ذات د یو الله عبادت کوی هغه یواځي پاته سوی دی، چي کم چا د یو قرآن و طرفته انسانان را بلل هغه یواځي پاته سوی دئ، چي کم چا د یو شریعت طرفته انسانان دعوت کول هغه د یو الله تعالی منونکی په مکه کي د نورو بچیانو څخه یواځي پاته دی.

حلیمې سعدیې ته چي کله بله هیڅ چاره نسوه پاته، نو د دې په زړه کي دا خبره راغله چي زه به ور سم هغه یتیم بچی به وګورم چي څنګه بچی دی.

چنانچه په روایاتو کي راځي چي نبي اکرمﷺ بیده وو او سر بېره پر ده باندي نرم چادر هوار وو، بي بي حلیمې چي څنګه چادر ځني پورته کړی نو هغه بچي سترګي را خلاصي کړې او دې ته یې په خندا وکتل، د هغه په دې خندا کي داسي جاذبیت داسي کشش او داسي نورانیت وو، چي د بي بي حلیمې په زړه کي یې ځای پیدا کړی.

دا خپل خاوند ته وایي چي که څه هم د دې بچي مزدوري خو به ډېره نه وي ځکه دا یتیم دی، مګر د دې بچي نوراني شکل زما د زړه تسلي کولای سي او خاوند ورته وویل:

........قَالَ: لَا عَلَيْكِ أَنْ تَفْعَلِي، عَسَى اللَّهُ أَنْ يَجْعَلَ لَنَا فِيهِ بَرَكَةً﴾.(۱)

---

(۱) سیرة ابن هشام باب حدیث حلیمه عما راته من الخیر صفحه ۱۶۳

چي بېشکه ته دا بچی د ځانه سره را واخله، کېداى سي الله تعالى به يې زموږ لپاره باعث د برکت وګرځوي.

په دې ځاى باندې علماؤ يوه نقطه ليکلې ده: چي په لسو (۱۰) زنانو کي چي کمي نه (۹) زناني وي، د هغوى نظر پر اسبابو وو، چي د دې بچيانو پلرونه به و موږ ته پوره اجر او مزدوري را کړي، يواځي "حليمه سعديه" داسي وه چي د هغې او د خاوند نظر د الله پر برکت باندي وو، نو ځکه يې وويل چي الله به يې زموږ لپاره د برکت سبب وګرځوي.

بله وجه د حليمې د انتخاب دا هم وه چي "حليمه" ډېره حلم والا وه او د هغې په طبعيت کي حلم وو، ډېر ځله داسي کېږي چي د مور په طبعيت کي حلم نه وي، نو هغه بچی پر معمولي خبرو باندي په چپلاخه وهي او بچي ته په خښم او غوصه کېږي.

لېکن چونکه دا پرورش د الله د محبوب وو، نو الله رب العزت د ده د پرورش لپاره د داسي زناني انتخاب وکړی چي د هغې په مِزاج کي حلم دی او د هغې د حِلم لوښی ډېر لوی دی، او د هغې حوصله ډېره پراخه ده، هغې ته ډېره ژر غوصه نه ورځي ځکه نوم حليمه (يعني برداشت والا) جوړ سوی دی.

## د پېغمبر ﷺ خوبصورتي او ښائست:

حليمې سعديې چي کله بچی را پورته کړی او په خپله سينه پوري يې ونيوی، دا مبارکه ډېره خوشحاله سوه او دا به يې ويل يې چي ما خو تر اوسه دومره خوبصورت او ښائسته بچی نه دی ليدلی، نو بار بار به يې دغه تعريف مکرره کوی، چي زما سترګي پر داسي خوبصورته بچي نه دي لګېدلي.

بي بي آمنه په جواب کي ورته وايي اى حليمې! ته د کلو او صحراء استوګنه يې تا به څه بچي ليدلي وي زه په مدينه کي هم اوسېدلې يم، او په مکه کي هم اوسېدلې يم، او په کيلو او ښارو ټولو کي اوسېدلې يم ما هم هيڅکله تر اوسه داسي ښائسته بچی ندی ليدلی.

عبدالمطلب ولاړ دی هغه ورته وايي ای زنانو! تاسو د کیلو او ښارو خبري کوی زه په ملکو کي ګرځېدلی یم، د "شام" او د "یمن" د ښارو سفرونه مي کړیدي، ما په ملکو کي هم هیڅکله داسي خوبصورته بچی نه دئ لیدلی.

حلیمه د کیلو خبره کوي، بي بي آمنه د ښارو خبره کوي، عبدالمطلب د ملکو خبره کوي، کچیري یو انسان د تخیل په سترګو ورته وګوري نو زړه به یې دا وغواړي کچیري جبرائیل آمین ولاړ وای نو هغه به په جواب کي ورته ویلي وای چي تاسو د کلو، او د ښارو، او د ملکو خبري پرېږدی ما د ټولو کائناتو سیر کړیدئ، ما تر اوسه پوري په ټولو کائناتو کي داسي خوبصورت بچی ندی لیدلی.

## د مور د دعاء ثمرات:

حضرت حلیمه سعدیه چي کله بچی د مور څخه روانوي او بچی د خپلي مور "آمنې" څخه رخصتیږي نو مور هغه بچي ته د رخصت په وخت کي دعاء کوي، او د مور پر زړه باندي د دې بچي د جدائي یو خاص کیفیت وي، چنانچه "بي بي آمنه" چي کله خپل بچی حلیمي سعدیې ته په لاس ور کوي، نو خپل بچی مچوي او د اوښکو په ډکو سترګو باندي هغه خپل بچي ته د حفاظت دعاء کوي، او دا د مور دعاء د بچي لپاره دېر لوی نعمت بلل کیږي.

تاسو راسئ! پر تاریخ باندي نظر واچوئ! مخکي هم داسي سویدي، چي "مېندو" به خپل بچیان د اوښکو په ډکو سترګو او د زړه د اخلاص په دعاګانو سره رخصت کړل د هغې به څه نتیجه را وتله؟ تاسو د قرآن کریم څخه معلومات واخلئ.

★.....بي بي هاجرې ته چي کله ابراهیم علیه السلام وویل چي خپل بچی تیار کړه موږ د یو چا ملاقات ته ورځو، بي بي هاجره بچی لمبوي، او کپړې ور اغوندي او د خپل خاوند سره یې روانوي، نو هغه مور هغه خپل بچی په دعاؤ رخصتوي.

بچی چي کله د کوره وځي نو "اسماعیل" دی، او چي کله واپس کور ته راځي نو "ذبیح الله" جوړ سویدی، دا د مور د دعاګانو برکت دی.

★.....د حضرت موسی علیہ السلام مور بي بي صفوراء خپل بچی په یو کوچني صندوق کي اچوي، او اوبو ته یې حواله کوي، په دې وخت کي د مور پر زړه باندي ډېر سخت حالات تېرېږي او هغه خپل بچي ته دعاګاني کوي.

لېکن هغې ته دا معلومه نه ده چي زما بچی چي کله زما څخه رخصتیږي نو دا "موسیٰ" دی او چي کله واپس ماته راځي نو الله هغه مقام ته رسولی دی چي اوس "کلیم الله" ځني جوړ سوی دی.

★.....عبدالمطلب چي کله د خپلي مور "سلمیٰ" سره په مدینه کي اوسیږي، نو په دې وخت کي د ده نوم "شیبه" دئ، چي کله یې اکا د مدینې څخه روانوي نو مور "سلمیٰ" یې په ډېرو دعاګانو کي رخصتوي.

نو د الله شان ګورئ! چي کله بچی د موره څخه رخصتیږي، نو "شیبه" دی او چي کله مکې مکرمې ته راورسېدی، نو الله تعالی هغه مقام ور کړی چي د "بیت الله" متولي او متصرف جوړ سو.

تاسو ګورئ! یو بچی د رخصت په وخت کي "اسماعیل"، واپس راځي "ذبیح الله" دی، او یو بچی د رخصت په وخت کي "موسیٰ"، چي واپس راځي نو "کلیم الله" دی. او یو بچی چي کله د موره څخه رخصتیږي "شیبه"، لېکن چي مکې ته ورسیږي، نو متولي "کعبه" جوړېږي، نو دا ټوله د مور د دعاګانو ثمره او نتیجه بلل کیږي.

نن هم حضرت "آمنه" خپل بچی په دعاګانو سره رخصتوي دا په دې نه ده خبره چي نن خو دا بچی "محمد" دئ لېکن آخر به الله هغه مقام ور کوي چي "محمد رسول الله" به جوړېږي.

محترمو! د مور د دعاګانو څخه ځان محرومه او بې نصیبه مه ګرځوئ، بعضي نوجوانان د مور او پلاره سره ضد کوي او بېځایه اختلافات کوي او د مور او پلار زړه زوروي، د هغه نتیجه دا را وځي چي د الله د طرفه چي کم انعامات راځي، د هغه څخه محرومه او بېنصیبه ګرځي، د مور دعاګاني د ځانه سره واخلی، بیا تاسو په دنیا کي وګرځئ او ګورئ! چي د الله د طرفه کم رحمتونه او کم برکتونه پر تاسو راځي.

## د نبي اکرم ﷺ د صدارت مقام:

بهر حال بي بي آمنې خپل فرزند رخصت کړی او حلیمې سعدیې د خپل ځانه سره را روان کړی، د الله شان داسي وو چي کله پر اوښ باندي سپاره سول.

نو د حلیمې سعدیې خاوند اول حلیمه او هغه بچی په غېږ کي مخته کښېنوله، چي یو څه ولاړل بیا په خپله مخته کښېنستئ چي زه به اوښ روانوم چي کله پخپله مخته کښېنستئ، نو اوښه نه تله.

په ډېر حیرت لاندي را شوه سو چي څنګه دی لاندي را شوه سو، نو اوښه د تګ لپاره تیاره سوه بیا دی مخته کښېنستئ لېکن اوښه د تګه څخه انکار کوي، دَی حیران دی چي اصل مسئله ده څه؟ بیا وروسته خپلي زناني ته وایي چي ته مخته سه زه به شاته کښېنم، حلیمې هغه بچی په سینه پوري ونیوی او مخته کښېنستله او خاوند شاته کښېنستئ، نو هغه اوښه په دې وخت کي د تګ لپاره تیاره سوه.

هغه اوښي ده ته دا په فهم کي ور کړه، چي ای د حلیمې خاونده! دا هغه مقدسه هستي او انسان دی که چیري یې ته د شاه و طرفته کښېنوې بیا هیڅکله زه تاسو نه وړم او زما قدم او زما پر قدم باندي تګ حرام دی، که چیري تګ کول غواړې نو دا د کائناتو صدر نشین دی نو دی مخته د صدارت پر ځای کښېنوه.

اوښه چي کله روانه سوه، نو په ډېره منډه تګ کوي او په داسي تېز رفتاري باندي ځغلي چي د حلیمې سعدیې اوښي په نورو زنانو پسي ځان ورسوی چي هغوی د دوی څخه ډېر مخکي سفر شروع کړی وو، هغه زنانو چي کله د دې اوښه ولیدله چي هغه ډېره مخته ځي نو په ډېره حیرانتیا پوښتنه ځني کوي "حلیمې" تا خپله سوارلي بدله کړېده؟ حلیمه په جواب کي ورته وایي: ما سوارلي نه ده بدله کړې البته د دې سوارلی سپور بدل سوید ی.

## د حليمې ورځ بدلېدل:

حضرت "حلیمه سعدیه" وایي چي ما پخپله سینه کي شیدې محسوس کړې او زما د سینې شیدو جوش شروع کړئ، حالانکه زما سره د خوراک هیڅ شی هم نه وو، ما دا محسوسه کړه چي زما خاوند ماته ویلي وه:

.........﴿عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَجْعَلَ لَنَا فِيهِ بَرَكَةً﴾. ماته هغه برکت په نظر راتلئ.

دا مبارکه وایي چي کله موږ کورته را ورسېدو نو د بزو غولانځي د شیدو ځخه ډکي دي چي په کور کي څومره لوښي وه هغه ټول د شیدو ځخه ډک سوه.

حلیمه سعدیه وایي چي د هغه بچي په وجه زموږ هغه د مسکنت ورځي په ډېر راحت بدلي سوې، زموږ په کور کي داسي برکتونه راغله چي په شاهي محلاتو کي هم داسي راحتونه نه وه.

د ده هغه رضاعي ورور هم په شیدو باندي موړ سو، "حلیمه سعدیه" چي کله د اوښي د لوښلو لپاره د اوښي غولانځي ته لاس ور وړي نو د هغې تي هم د شیدو ځخه ډک دي، دا مبارکه او خاوند یې په ډېر راحت سره چیښني او په نهایت ارامه طریقه سره د هغوی زندګي روانه سوه.

او خاوند خپلي زناني ته وایي:

.........﴿تعلّمي وَاللّٰهِ يَا حليمةُ، لَقَدْ اخذتِ نَسمةً مُبَارَكَةً﴾.(١)

ای حلیمې! ښه په خبره سر خلاص کړه، په خدای قسم تا ډېر مبارک بچی را روان کړیدی.

.........﴿فقُلْتُ: وَاللّٰهِ إنّي لَأَرْجُو ذٰلِكَ﴾.(٢)

(١) سیرت ابن هشام؛ جلد نمبر١، صفحه نمبر ١٦٣

(٢) سیرت ابن هشام؛ جلد نمبر١، صفحه نمبر ١٦٣

حلیمه سعدیه په جواب کي ورته وایي په خدای قسم زما دا یقین دی او د الله څخه زما دا امید دئ.

چي کله په کور کي ابادي ډېره راغله، نو نژدې زناني راځي او "حلیمې سعدیې" ته وایي چي تاسو خپل پسونه په کمه څراګاه کي څروی؟ دا ورته وایي چي پر فلانکي غره او غونډۍ باندي نو هغه زناني هم خپل پسونه هغه غره ته بیایي، لیکن چي ماښام راځي د هغوی په تیو کي دومره شیدې نه وي چي کمي شیدې د "حلیمې سعدیې" د کور د پسو په "تیو" کي وې.

## د بل تي نه رودلو وجه:

حلیمې سعدیې یو عجیبه خبره بله ولیدله، چي کله نبيﷺ ته د خپل یوه "تي" شیدې ورکوې، یو ځل د دې زړه وغوښتل چي د دوهم تي څخه زه شیدې ورکړم لیکن هغه بچی د دوهم تي شیدې نه خوري.

حلیمې سعدیې دا خبره د ځانه سره محفوظه کړه، چي زما بچی د بل "تي" څخه شیدې نه خوري په دې کي څه حکمت دی؟

حکمت په حقیقت کي دا دی: چي پیغمبرﷺ که د بل "تي" څخه هم شیدې خوړلي وای، نو وروسته راتلونکو دنیا والو به دا ویلای چي پخپله خو یې په ماشوموالي کي د خپل ورور د شیدو حق خوړلی دی، او نن دنیا ته د عدل او انصاف درسونه ورکوي.

د دې څخه دا معلومه سوه چي کله پیغمبرﷺ دنیا ته تشریف را وړی، نو د نبوت د فطري مزاجه سره راغلی چي په ماشوم والي کي لا الله تعالی ده ته داسي فطرت سلیمه ورکړی وو، چي د خپل ورور د حق و طرفته یې طمع نه کوله او نه یې د هغه پر "تي" باندې خوله ایښوله.

## د پیغمبرﷺ حسن او جمال:

د حضرت "حلیمې سعدیې" یوه لور چي "شیما" یې نوم وو یو عجیبه خبره ښکاره کوي "حلیمه سعدیه" ورته وایي "شیما" لوري ډېر نا وخته سو، پسونه د څړځد و لپاره صحراء ته بوزه، "شیما" په جواب کي ورته وایي مورې پسونه زیات دي زه یوا ځي

یم، زه چې کله په دوی پسې ځغلم، نو ډېره ستړې سم، نو ټول پسونه زه یواځې نسم سمبالولای، زما سره یو بل څوک هم واستوه نو زه به بیا پسونه بوزم.

"حلیمه سعدیه" ورته وایې لورې زه ستا سره څوک واستوم، په کور کې بل څوک نشته، ستا پلار بوډا دی او زه هم د دې نه یم، چې ستا سره ولاړه سم او بل څوک نسي تلای، نو پسونه به یواځې ګورې.

"شیما" ورته وایې مورې زما دا ماشوم ورور "محمد" زما سره واستوه حلیمه ورته وایې لورې ته به پسونه سمبالوې او که به دا ماشوم ورور آرامه وې هغه خو به ټوله ورځ ستا په غېږ پورې موښتی وي.

"شیما" ورته وایې مورې کچیرې ته ما یواځې واستوې نو پسونه نسم سمبالولای او که دا قریشي ورور را سره واستوې، نو پسونه به هم سمبالوم، او دا ورور به هم آراموم.

"حلیمې" چې کله دا خبره واورېدله پوښتنه ځنې کوي چې بچیه د خبرې حقیقت را ښکاره کړه اصل خبره څه ده؟

"شیما" په جواب کې ورته وایې مورې یو دوه ځله ما دا ورور د ځانه سره بیولی دی،

اول خو دا وي چې ټوله ورځ زما پر سر باندې وریځې سایه جوړه کړې وي او ماته لمر تکلیف نه را کوي.

او دوهم ما دا لیدلي دي چې کم مسافر پر لار تیرېږي په هغوی کې یو څه راهبان وي، هغه چې کله دې بچي ته ګورې نو د بچي سره ډېر محبت کوي او زما څخه پوښتنه کوي چې دا څوک دی او د دې بچي په وجه زما سره احسان کوي.

او دریم چې کله زه دا ورور د ځانه سره بوزم نو زه وینم چې زما پسونه ژر ژر واښه وخوري او ځانونه ماړه کړي، بیا چې په کم ځای کې زه ناسته یم، دا پسونه پر موږ باندې شاه و خوا را وګرځي، زه هم دې خپل قریشي ورور ته ګورم، زما سترګې نه په

مړېږي او زما پسونه هم دې قريشي ورور ته ګوري او د هغوی هم سترګي د ده په ديد نه ډکيږي. (۱)

الله رب العزت خپل حبيبﷺ ته کم حسن او جمال ور کړی وو.

حضرت حسان ابن ثابتؓ په خپلو اشعارو کي د ده د حسن او جمال منظرکشي په داسي شکل کوي؛

وَأَجْمَلَ مِنْكَ لَمْ تَرَ قَطُّ عَيْنِيْ ★ وَأَفْضَلَ مِنْكَ لَمْ تَلِدِ النِّسَاءُ

خُلِقْتَ مُبَرَّءًا مِنْ كُلِّ عَيْبٍ ★ كَأَنَّكَ قَدْ خُلِقْتَ كَمَا تَشَاءُ.(۲)

ستا څخه زيات ښائسته زما سترګو هيڅ کله ندی ليدلی او نه مېند و زېږولی دئ، ته د ټولو عيبو څخه پاک پيدا سوی يې ستا پيدائش لکه: ستا په خپله مرضي سره چي سوی وي (يا لکه ستا د مرضي مطابق چي سوی وي).

د الله رب العزت د محبوب په حسن او جمال کي هغه کشش او جاذبيت وو، چي کم سړي به ليدی نو هغه به د خپل زړه او د عشق سودا ورسره کوله.

## د "شيما" محبت؛

زنانې چي کله يو ماشوم په غيږ کي واخلي نو د هغه د ناز لپاره په ترنم کي کلمات ادا کوي چي په هغه کي د الله ياد هم وي او دې بچي ته دعاء هم وي.

شيما چي به کله هغه خپل ورور "محمد" په غيږ کي واخيستئ نو همېشه به يې د ده د ناز او دعاء لپاره دا الفاظ په خپله خوله ادا کول؛ بعض سيرت نګارانو هغه الفاظ په خپلو کتابو کي د برکت لپاره ليکلي دي چي د هغه يوه جمله دا وه:

---

(۱) السيرة الحلبيه، باب ذکر رضاعه ﷺ و ما اتصل صفحه، ۱۳۰

(۲) السيرة النبويه عرض وقائع و تحليل احداث، باب مقدمه، صفحه نمبر ۱۱

..........﴿یا رَبَّنا أَبْقِ لَنَا مُحَمَّدًا﴾.(۱)

ای زما پروردګاره! زما دا ورور محمد همېشه د همېشه زموږ لپاره سلامت او باقي ولرې.

## د بي بي آمنې حضور ته واپسي:

چي کله د دوه کاله عمر ته ورسېدی نو په دې عمر کي عام طور بچي بېرته خپلو حقیقي مېندو ته حواله کېږي، چونکه د پېغمبرﷺ په خاطر د حضرت "حلیمې" په کور کي ډېر زیات برکات وه نو حضرت حلیمې په یوه بهانه بله بهانه باندي یو کال نور هم پېغمبرﷺ د خپلي موره څخه په کور کي را وګرځوی، چي کله دی لږ غټ سو، دباندي را ووتی او ماشومان یې لیدل.

نو د خپلي مور حضرت "حلیمې" څخه پوښتنه کوي: موري زما نور ورونه "عبدالله" او "انیسه" او "شیما" ولي د ورځي نه وي، نو مور ورته وایي بچیه هغه ټوله ورځ د پسو سره وي ماښام راځي.

نو پېغمبرﷺ پر دې اِصرار شروع کړی چي موري ما به هم د دوی سره د پسو کتلو لپاره استوې، یو ورځ مور دی هم د "عبدالله" او "انیسه" او "شیما" سره یوځای د پسو کتلو لپاره واستوئ، نو د ورځي په نیمایي کي هغه نور بچیان خوف زده او په منډه راغله ورته وایي موري، په منډه ورسه هغه زموږ ورور محمد هلته خلکو قتل کړی.

"حضرت حلیمه" وایي زه په ډېره منډه راغلم چي ګورم د صحراء په یو طرف کي دی رنګ الوتی او تک ژړ ولاړ دی، (په دې وجه نه چي د ده سینه څیري سوېده، بلکي ملائکي ورته راغلي دي، د هغوی د لیدلو څخه دی د ډېر خوف په حالت کي دی).

"حلیمه" پوښتنه څني کوي بچیه څه پېښه ده؟

---

(۱) نهایة الایجاز في سیرة ساکن الحجاز، الباب رضاعه ﷺ صفحه:

دی په جواب کې ورته وایي چې ماته په سپین لباس کې دوه کسان راغلل (هغه حضرت جبرائیل او میکائیل علیهما السلام وه) یوه هغه بل ته ویل چې دا هغه دی.

هغه بل په جواب کې ورته ویل هو دا هغه دی، بیا دواړه راغله او زه یې پریستم، او زما سینه یې را څیرې کړه او د یو شي تلاش یې کوی آخر هغه شی ورته ملاو سو او هغه یې زما د سینې څخه وغورځوی زه په دې نه پوهېدم چې هغه څه وو.

د دې شي په باره کې په نورو روایاتو کې دا وضاحت سته چې هغه یو تور رنګ دانه وه دا د انسان په جسم کې د شیطان کور وي او شیطان د دغه ځای څخه د انسان پر زړه اثرات اچوي.

"حلیمه سعدیه" وایي بیا ما دی کور ته را وستی پدې وخت کې زما خاوند "عبدالله ابن حارث" ماته وویل "حلیمې"! دا بچی خپل اصلي کور ته ورسوه هسي نه چې زموږ په کور کې و ده ته یو نقصان ورسیږي.

ما ورته وویل صحیح خبره ده، نو حضرت حلیمې سعدیې دی خپل کور ته را وستی.

## په یتیم کېدلو کې حکمت:

د الله شان ګوریٰ! چې د ولادت څخه مخکې د پیغمبر ﷺ پلار وفات سو، بیا چې یې کله عمر شپږ (٦) کاله ته رسېدی مور یې وفات سوه، د هغه څخه وروسته د "عبدالمطلب" په کفالت کې سو، څه زمانه بعد "عبدالمطلب" وفات سو، بیا د اکا په کفالت سو، او د خپلې ځوانۍ په زمانه کې چې کله یې دعوه د نبوت وکړه نو اکا یې هم وفات سو، داسې ولې وسوه چې ټول معاونین او کفیلان یې د ده په زندګي کې رخصت سوه.

پدې کې امت ته یو پیغام پوشیده وو، چې د دې امت غریب انسانان چې د هغه پر سر باندې د لاس تېرولو څوک نه وي او د دنیا څخه محروم خلک چې په دنیا کې خپل ځان ته په یتیم وایي، هغوی ته دا تسلي وه، که نن ستاسو پر سر باندې د شفقت لاس تېرولو والا نسته، نو زما د محبوب زندګي ته ګوریٰ! کچیرې تاسو د هغه پر نقش قدم باندې ولاړ سئ نو زه پروردګار به په خپله ستاسو پر سرو باندې د رحمت تاج ایږدم.

## په اسلام کې د یتیم مقام:

چونکه د پیغمبرﷺ خپله زندګي د یتیم په شکل باندې تېره سوه نو ځکه د ده د یتیمانو سره ډېر محبت وو.

حدیث شریف کې راځي، چې د اختر ورځ وه، نبي اکرمﷺ د عیدګاه د لمانځه کولو لپاره د خپل کوره څخه را ووتی، په لار کې یو څه بچیان بازۍ او لوبې کوي هغه لمبېدلي دي او ښې کپړې یې اغوستي دي، او د هغوی سترګې په رنجو باندې توري او پر سر یې تېل لګېدلي دي.

د دوی څخه چې مخته را تېر سو یو بچی یوا ځې ناست دی ډېر غمجن دی او پر مخ یې د غم آثار دي، نبي اکرمﷺ چې کله ولیدئ نو ودرېدی ورته وایي: ای بچیه! ولې دومره غمجن ناست یې؟

هغه په جواب کې ورته وایي زه د مدینې یتیم یم زما پر سر د پلار سایه نسته چې زما لپاره کپړې راوړي او زما مور ما و لمبوي او کپړې را واغوندي، دا نور بچیان پخپل مابین کې د خوشحالۍ په شکل بازۍ کوي، او زه ناست یم خپل پلار یادوم.

پیغمبرﷺ ورته وایي ای بچیه! ته په دې خوشحاله یې چې زه ستا پلار سم، او عائشه ستا مور سي، د بچي په سترګو کې خوشحالي راغله، او په مخ کې یې د خوشحالۍ اثار ښکاره سوه، پیغمبرﷺ هغه بچی تر لاس ونیوی کورته یې را وستئ، حضرت عائشې مبارکې ته یې ورږغ کړه "حمیراء" (پیغمبر به همېشه حضرت عائشه د دغه ناز په نامه بلله) دا بچی و لمبوه، هغه بچی چونکه د حضرت حسن همزولی وو، چې کله یې عائشه لمبوي، پیغمبرﷺ په دې وخت کې د حضرت حسنؓ کپړې راوغوښتې نو بچي و لمبول سو، او د حضرت حسنؓ نوي جامې په واغوستل سوې، او سر یې ور غوړ کړی او ږمونځ یې کړی، خوشبو یې ور ولګوله او سترګي یې ور توري کړې، نو هغه بچی ډېر خوشحاله سو.

اوس په خوشحالي خوشحالي د نبي اکرمﷺ سره د عیدګاه میدان ته روان سو، نبي اکرمﷺ ورته کښېنستی او بچي ته یې اشاره وکړه چي ته خو نن یتیم یې ته نن پیاده زما سره نسې تلای، بلکه زما پر اوږه به سپور د عیدګاه میدان لره زما سره ځې.

چنانچه د الله محبوب هغه بچی پر اوږه سپور کړی چي کله په لاره کي روان دی نو کمو بچیانو چي بازی کولې، هغه ډېر حیران سوه چي دا بچی خو پر پښو هم تلای سو، لېکن د الله حبیبﷺ پر اوږو سپور را اخیستی دی.

چي کله هغه بچی نورو بچیانو ته نژدې راغلی نو په خوشحالي ورته وایي چي زه پیغمبرﷺ خپل بچی جوړ کړی یم او عائشه زما مور سوه، د دې بچي خبره چي هغه نورو بچیانو واورېده نو ټولو یوه د افسوس ساه را وکښه او دا به یې ویل چي کاش موږ هم د مدینې یتیمان وای او د الله نبي موږ د خپل ځان زامن جوړ کړي وای.

نبي اکرمﷺ هغه بچی راوړی چي په کم ځای باندي د عیدګاه لمونځ کېږي، پیغمبرﷺ پر منبر باندي بالا کښېنستی هغه بچی لاندي کښېنستی.

د الله حبیبﷺ و فرمایل ته به نن پر مځکه نه کښېنې، بلکه د خپل ځانه سره یې پورته پر منبر کښېنوی، او د هغه پر سر به یې د شفقت لاس ور تېروی او بیا به یې د عیدګاه خلکو ته ویل.

ای خلکو! چي کم څوک د یتیم پر سر باندي د شفقت لاس تېروي د ده تر لاس لاندي چي څومره وړېښتان وي الله تعالی هغومره نیکیاني د ده په عمل نامه کي لیکي.(١)

محترمو نن زموږ او ستاسو په معاشره کي څه حال دی؟ د یتیمانو حق ضائع کېږي او په ظلم سره د هغو حق غصب کېږي او په دنیا کي هغوی ته د ژوند تېرولو صحیح حق نه ور کول کېږي.

الله تعالی دي موږ ته هم د پیغمبرﷺ هغه اخلاق را په نصیب کړي چي په ښه طریقه او د محبت او شفقت په طریقه د یتیمانو سرپرستي او ولایت وکړو.

(١) خطبات فقیر، جلد نمبر ۱۶، صفحه نمبر ۴۴

## شیما ته د عزت ور کولو واقعه:

چي کله مکه مکرمه فتح سوه، د هغه څخه یو څه زمانه وروسته پیغمبر ﷺ د "حُنین" و طرفته ولاړی هلته غزوه "حنین" وسوه، تفصیل خو یې اوږد دی البته په مختصر شکل دومره عرض کوم چي په غزوه "حنین" کي نبي اکرم ﷺ ته شپږ زره (۶۰۰۰) قیدیان او دولس زره (۱۲۰۰۰) پسونه په غنیمت کي ورغلل، چي کله دومره قیدیان راغله، نو پیغمبر ﷺ اراده وکړه چي د غلامانو په شکل یې د صحابه وو په ما بین کي سره تقسیم کړي.

په دې دوران کي یو صحابي راغلی، وایي: ای د الله نبي ﷺ! یو د پاخه عمر زنانه په قیدیانو کي راغلې ده، هغه دا وایي چي تاسو به ما څنګه په قید کي راولئ زه ستاسو د نبي ﷺ خوریم ما هغه ته ورسوئ.

نبي اکرم ﷺ حیران سو چي زه خو یوازې د عبدالله او آمنې بچی وم د هغو خو بل بچی سوی نه دی دا څنګه وایي، چي زه د نبي ﷺ خوریم.

صحابه ورته وایي چي هغه پر دې باندي کلکه ولاړه ده، او دا وایي چي ما خپل نبي وروروته یو ځل ورولئ.

پیغمبر ﷺ ورته وویل تاسو یې ماته راولئ صحابه وو چي کله هغه زنانه راوسته، نو هغه ورته وایي، ای محمده! زه ستا خوریم پیغمبر ﷺ پوښتنه ځني کوي چي هغه څنګه؟

دا ورته وایي چي زما نوم "شیما" ده او زه د "حلیمې" لوریم، چي ما به کله ته په غیږ کي ګرځولې او ستا د آرامولو لپاره او تاته د دعا کولو لپاره به ما دا اشعار ویل،

.........یا رَبَّنَا أَبْقِ لَنَا مُحَمَّدًا﴾.

زما رب زما دعاء قبوله کړه او زما رب نن په ما دا منظر ولیدی، چي نن زه د یو قیدي په شکل ستا په دربار کي حاضره یم ماته دا نه وه معلومه چي الله تعالی به تاته دا شان در کوي.

چې کله پیغمبرﷺ دا واورېدل نو په سترګو مبارکو کې یې اوښکې راغلې او خپل څادر یې ورته هوار کړې او ورته وایي "شیما" ته زما خور یې راځه د نبوت پر دې څادر باندې کښېنه.

دنیا دا ولیده چې د الله محبوبﷺ د خپلې خور په کم شکل عزت افزائي وکړه.

بیا پیغمبرﷺ ورته وایي چې "شیما" که ته زما سره استوګنه غواړې زه به ستا د هر څه کفیل یم او که واپس خپلو قریبانو ته ځې، نو تا ته د تللو اجازت دی.

"شیما" ورته وایي چې زه خو واپس خپلو قریبانو ته ځم او زما بچي دي او زما قریبان دي. پیغمبرﷺ یو څو سوه پسونه هم ور کړه او غلامان یې هم ور کړه بیا یې دوه صحابه کرام د دې ملګري کړه چې زما خور به خپل کور ته ورسوئ او بیا به راسئ، "شیما" چې کله د تګ لپاره ولاړه سوه مګر ځي نه.

پیغمبرﷺ ورته وایي ای شیما! ته ولې نه ځې؟ هغه په جواب کې ورته وایي تا خو زه آزاده کړلم لیکن زما د قبیلې شپږ زره (۶۰۰۰) کسان ستا په قید کې دي که چیرې زه یوا ځې ولاړه سم نو خلک به وایي چې په خپله واپس راغله او د نورو قریبانو یې خیال نه و ساتی.

آخر پیغمبرﷺ د صحابه وو سره مشوره وکړه، د صحابه وو په مشوره باندې یې د "شیما" د عزت افزائي لپاره د دې د قبیلې ټول شپږ زره (۶۰۰۰) قیدیان ور سره آزاد کړل. دا د پیغمبرﷺ اخلاق حسنه وه چې د خپلو قریبانو سره یې کول. (¹)

الله رب العزت دي موږ ته هم د خپل حبیبﷺ په دې مبارکو طریقو باندې د عمل کولو توفیق را کړي.

او الله تعالی دي مو په زړو کې د پیغمبرﷺ د طریقو سره محبت را ولي چې کله د مرګ وخت راسي او فرښتې زموږ زړونه وګوري نو هغه هم د نبي د عشقه څخه ډک وي او زموږ دماغونه وګوري هغه هم د نبي د عشق څخه معمور او اباد وي، او زموږ اندامونه وګوري، هغه هم د نبوي سنتو په نقشه وي.

---

(¹) خطبات فقیر: جلد نمبر ۱۶، صفحه نمبر ۴۵

او په دې شکل دي الله تعالی مونږ ته پخپل حضور کي د پیشولو توفيق را په نصیب کړي.

الله تعالی دي دا څو مختصري خبري پخپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن

وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآیه)

# د مورد وفات بیان

(بیان)

مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامہ ٹاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقـــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كـليم الله صاحب |
| مـقــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشــاعــت | اول |
| تــاريـــــخ | جمادي الاولى ١٤٤٢ بمطابق ٢٤ جنوري ٢٠٢١ |
| تــعـــداد | (١١٠٠) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ، وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ﴾.(١)

وقال رسول الله ﷺ ﴿قَالَ إِنِّي لَمْ أُبْعَثْ لَعَّانًا وَإِنَّمَا بُعِثْتُ رَحْمَةً﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## د ربيع الاول معنٰی:

محترمو مشرانو! د "ربيع الاول" مياشت ده او دا د "مُحسنِ" انسانيت سيد الاولين و الآخرين امام الانبياء حضرت محمد مصطفٰی احمد مجتبٰی ﷺ د ولادت مياشت ده، د "ربيع" معنا د بهار او سپرلي ده، پدې وجه په روحاني دنيا کې هم دا د بهار او سپرلي مياشته بلل کيږي.

پدې مياشته کې عمومًا زموږ د اکابرو دا عادت راغلی دی: چې دوی به همېشه د سيرت پر عنوان وينا کوله چې خلکو ته د سيرت څه معلومات وسي او پخپله زندګي کې د سيرت اتباع وکړي.

او خپله زندګي د سنت مطابق جوړه کړي، چې د پېغمبر ﷺ د تشريف آوری او بعثت مقصد پوره سي.

(١) الشرح آيت نمبر: ١-۴
(٢) الانوار في شمائل النبی المختار حديث نمبر: ۲۵۱

په تېرو جمعو کي د سيرت متعلق مورړ يو څه مختصره خبره کړې وه، پدې جمعه کي هم د پيغمبر ﷺ د زندگی يو حصه ستاسو په مخ کي پېشو و.

الله تعالى دي ماته د صحيح بيانولو توفيق راکړي، او الله تعالى دي موږ او تاسو ټولو ته د پيغمبر ﷺ پر نقشه باندي ژوند او زندگي را په نصيب کړي.

حالانکه زما غوندي طالب العلم لپاره د نبي ﷺ د سيرت پر عنوان باندي خبره کول ډېره لويه د ذمه داری خبره ده، ځکه زموږ مشائخو داويلي دي:

هزار بار بشویم دهن بمشک وگلاب

هنوز نام تو گفتن کمال بی ادبیست

کچيري زه زر واره خپله خوله په مشکو او گلابو سره پرېمنځم، لا اوس هم ستا نوم او بيان پر ژبه راوړل زما لپاره مکمله بې ادبي ده.

**د حضرت "حليمه سعديه" وېره:**

د شق صدر د واقعې څخه وروسته حضرت "حليمې سعديې" ته دا وېره ورپيدا سوه چي نبايده ده ته يو داسي صدمه و نه رسيږي چي هغه بيا قابل برداشت نه وي.

پدې وجه باندي يې دی خپلي مور حضرت "آمنې" ته را وسپارى او ټوله واقعه يې ورته بيان کړه، حضرت "آمنې" چي کله دا واقعه واورېده يوه زره خوف يې هم نه و کړی، هغې د حمل د زمانې او د ولادت په وخت کي چي کم انوارات او تجليات ليدلي وه "حضرت حليمې" ته يې بيان کړه، او ورته ويې ويل چي د دې بچي شان ډېر لوړ دی، تر دې بچي پوري د شيطان ځان رسول ممکن نه دي، ته مطمئنه اوسه ده ته هيڅوک تکليف نسي رسولای.

حضرت حليمه واپس کورته راغله او پيغمبر ﷺ يې خپلي مور حضرت "آمنې" ته ور وسپاری.

## د حضرت آمنې وېره:

پيغمبرﷺ چې کله د خپلې مورې سره په "مکه مکرمه" کې د ماشوم والي وخت تېروي چونکه د ده د ژوندۀ سره په عالم کې ډېر "خارق العادة" کيفيات ښکاره کيږي چې کله دی روان وي نو وريځې يې پر سر سايه کوي، او درختې او کاڼي سلامونه ورته پېشوي.

او د عالم د اطرافو څخه د عسويت د دين راهبان او د يهودو علماء د ده د ديد لپاره "مکې مکرمې" ته راځي، نو د حضرت "آمنې" مبارکې سره دا خوف او وېره پيدا سوه چې په مکه مکرمه کې د ده د حالاتو شهرت زيات سو، او د دنيا انسانان د ده د ليدلو لپاره راځي، هسې نه چې و ده ته څوک د قتل يا بل تکليف رسولو اراده و نه کړي.

نو حضرت "آمنه" مبارکه د "ام ايمن" سره چې د دې خپله مينځه وه او د خپل بچي سره د "مکې مکرمې" څخه په يو گمنامه او نامعلومه وخت کې "مدينې منورې" ته او د خپلي پلارگنۍ وطرفته سفر شروع کړی، چې هلته به زما او زما د بچي په ښه طريقه حفاظت وسي.

## د مدينې منورې څخه مکې ته راتلل:

چې کله په "مدينه منوره" کې د حضرت "آمنې" زندگي د خپل بچي سره پخپله پلارگنۍ کې تېريږي او "ام ايمن" هم ور سره ده.

بيا چې کله يو څه زمانه تېره سوه، نو هلته هم د پيغمبرﷺ په وجه د "مدينې منورې" په استوگنه کې "خوارق العادة" خبرې شروع کيږي.

"ام ايمن" وايي يوه ورځ د مدينې دوه(۲) يهودي کسان ماته راغله او ماته يې وويل محمد خو زمونږ مختهلږ راوله، مونږ د ده د ديد لپاره د ليرې ځايه څخه راغلي يو، دا وايي چې ما کله پيغمبرﷺ د دوی مخته حاضر کړی دوی په ډېر غور باندې د هغه و مخ او ټولو اندامو ته کتل.

آخر هغه یو و دا بل ملګري ته وایي دا د دې امت نبي دی او دا ښار به د ده د هجرت ځای وي او دلته به زبردست جنګونه کیږي او دلته به ډېر انسانان په قید کي لوېږي.

دا رنګه په مدینه منوره کي هم د ده د دید په شوق باندي ډېر انسانان د اطرافو څخه را شروع سول، چي کله حضرت "آمنې" ته د دې خبرو معلومات وسو نو د هغې سره بیا دا وېره پیدا سوه چي هسي نه په "مدینه منوره" کي ده ته څوک تکلیف ونه رسوي.

## مکې مکرمې ته واپس راتلل؛

نو حضرت "آمنې" د "ام ایمن" او د بچي سره دا مختصره قافله د "مدینې منورې" څخه یې په یو نامعلومه وخت کي د "مکې مکرمې" و طرفته را روانه کړه.

چي کله یو څه سفر وسو نو په لاره کي د پیغمبرﷺ د پلار "عبدالله" قبر راغلی نو حضرت "آمنه" د خپل بچي سره د خپل خاوند و قبر ته ودرېده او بچي ته وایي ای محمده! دا ستا د پلار قبر دی.

هغه زما سره دا وعده کړې وه چي ای آمنې! چي زه کله د سفر څخه واپس راځم چي د قافلې د اوښانو ږنګولې و ږغېدې ته به زما استقبال ته راسې، ما به ستا لپاره ډیري تحفې او تحائف راوړي وي.

مګر د هغه څخه وروسته ډیري لوی قافلې راغلې مګر نه زما د کوز و مختهٔ د قافلې ږنګوله و ږنګېدله او نه د "عبدالله" دید زما په نصیب سو، بلکه زما د کور و مخته د هغه د مرګ ږنګوله و ږغېدله.

بیا حضرت "آمنه" د خپل خاوند قبر ته مخاطبه سوه ورته وایي ای عبدالله! تا زما سره د راتللو وعده کړې وه، ما خپلي سترګي د لاري په انتظارونو باندي ستړي کړې، کلونه تېر سوه، عمرونه تېر سوه، مګر ته نه راغلې او په ډېره ژړا ژړا زما سترګي سرې سوې.

ای عبدالله! دا "محمد" ستا ماشوم بچی دی او ستا ملاقات ته راغلی دی، لږ خو د دې خپل بچي حسن ووینه او لږ د دې خپل بچي معلومات واخله چي د هغه په وجه

باندي نن تولهدنیا پر ما باندي سره سکروټه ده او زه حیرانه یم چي د خپل بچي حفاظت به چیري او څنګه کوم؟

د ډیري ژړا او افسوس وروسته د خاوند تر قبر را تېره سوه، ورځ او دوې یې د غم او ژړا په حالت کي سفر وکړی چي کله "ابواء" مقام ته را ورسېده.

نن سبا چي کله سړی د "ابواء" دړې ته ورسي، نو پر څلور طرفه خاموشي ده، کوچنۍ کوچنۍ د "کِکرو" ازغي داره درختي چي پاڼي یې کمې او ازغي یې زیات دي، داسي ځای دی چي تک تور غرونه او د تورو کاڼو او ډبرو څخه ماسوا انسان ته نور هیڅ په نظر نه ورځي، چي په اوس دور کي هلته داسي ویرانه فضاء ده نو څوارلس سوه (۱۴۰۰) کاله مخکي به هلته کم حال وو.

د حضرت "آمنې" عمر پدې وخت کي اووه ویشت (۲۷) یا څلور ویشت (۲۴) کاله د ځوانۍ عمر دی، یوه "ام ایمن" او یو شپږ کلن ماشوم بچی ور سره دی چي د غم او ژړا په شکل د مازیګر لمر پرېوتو په وخت کي د "ابواء" دَړې ته را ورسېدل.

نوره هغه مبارکه د ډیري ژړا او غمه څخه د تګ کولو څخه ولوېدله، او په "ابواء" کي په داسي حال کي پر مځکه پرېوتله، چي د دې مبارکي سترګي پټې سوې، بیا یو ځل بچي ته وکوري او سترګي را روڼي کړي، بیا بې اختیاره څني پټې سي، او بچی محمد آواز ور باندي کوي "یَا اُمِّيْ، یَا اُمِّيْ" د دې سره د جواب ور کولو هیڅ طاقت نه وي.

آخر یې په ډېر طاقت سره خپلي سترګي را روڼي کړې او بچي ته یې آخر نظر وکړی او ورته وایي چي هر ژوندي لره مرګ سته، او هر نوي شي لره زروالی سته، او دنیا د پرېښولو ځای دی.

او "ام ایمن" ته وایي: زه خو رخصتېږم او دنیا ته داسي بچی پرېږدم چي تول ه عالم به د هغه په نور سره روښانه سي، دا یې آخري وینا وکړه د مازیګر او لمر لوېدو په وخت کي یې سترګي بندي کړې، او روح یې د دُنیا څخه رخصت سو.

چي کله د مرګ په وخت کي د مور سترګي بندي سوې نو د پيغمبرﷺ سلګۍ شروع سوې، تسلي ور کونکی هيڅوک نه وو يو "ام ايمن" ده چي هغه ده ته تسلي ور کوي هغه هم مينځه ده او د مينځي په تسلي به ګُد انسان څه تسلي وسي.

د غم په وخت کي چي انسان کله د يو خپل قريب پر اوږه باندي سر کښېږدي او ژړا وکړي، نو لا هم د هغه خپل قريب د دلاسائۍ په وجه انسان ته يو څه تسلي حاصله سي، لېکن د پيغمبرﷺ سره په دې وخت کي د مينځي څخه علاوه هيڅ تسلۍ ور کولو والا څوک نسته.

تاسو ګورئ! د ټولو څخه پر محبوب ذات څومره لوی امتحان وو، ځکه پلار خو يې په خپله زندګي کي نه وو ليدلی، ځکه دی د مور په نس کي وو چي پلار يې رخصت سوی دئ، او مور لره د "ابواء" په ځنګل او دره کي الله مرګ راوستی، کچيري څلور (۴) ورځي الله تعالی دا سفر وځنډوي، او پخپلو ما ماګانو کي د ده مورته مرګ راسي، نو بيا خو به په مدينه کي د ده د تسلۍ لپاره انا او ماماګان ټوله موجود وي بيا به هم د ده څه تسلي وي.

او کچيري څلور (۴) ورځي الله تعالی مرګ وروسته کړي نو بيا خو به "مکې" ته را ورسيږي او په "مکه" کي به هم د مور د مرګ په وخت کي د پيغمبرﷺ د تسلۍ لپاره قريبان وي.

لېکن د ځنګله په مابين کي د مازيګر لمر لوېدو په وخت کي په تورو کاڼو او غرو کي د پيغمبرﷺ مورته مرګ راځي، چي په کم کيفيت دی ورته ولاړ دی، هغه زه تاسو ته دومره ويلای سم چي يو طرفته د دنيا لمر لوېږي او لمر خپلي کنارې ته ځان رسوي او خاموشه خاموشي ده او ماحول عجيبه غمجن دی او شپږ (٦) کلن بچی د مور په سينه پوري موښتی دی، او د "يَا اُمِّيْ يَا اُمِّيْ" په آوازو کي ژړا کوي.

او "ام ايمن" تسلي ور کوي او هغه زنانه سترګي يو ځل بندي کړي، او بيا يې خلاصي کړې او ساه يې بنده بنده کيږي او د دنيا د بېوفا زندګۍ څخه رخصت اخلي.

د دې شخه زيات نور څه کيفيت زه تاسو ته نسم بيا نولای، کيفيات همېشه ګيله کوي، چي زموږ د بيانولو لپاره د انسانانو سره الفاظ په ښه طريقه نه موجود يږي.

اوس د دې مور قبر دلته چا جوړ کړی؟ دا مسئله تر اوسه پوري حل نه سوه ځکه نه په يو کتاب کي مخته راغلي دي، او نه مو د چا شخه څه اورېدلي دي، چي دلته قبر چا جوړ کړی، صرف د درو (۳) انسانانو مختصره قافله ده "ام ايمن" چي خادمه ده او يوه مور چي انتقال يې وکړی او يو "محمد رسول الله" دی چي صرف شپږ (٦) کلن بچی دی، او د دې ځايه شخه چي د "ابواء" کم کلی دی غالبًا لس (۱۰) کلو ميتره ليري دی.

په هغه وخت کي ممکنه ده چي درې څلور خيمې به وې، ځکه نن سبا هم هغه يو ډېر کوچنی کلی دی، څه لوی ځای خو نه دی ممکنه ده: د هغه ځايه شخه څه خلک راغلي وي، يا يو بله داسي سلسله جوړه سوې وي، قبر عام طور نارينه جوړوي ځکه ممکنه ده نو زناني به هلته قبر څنګه جوړ کړي.

چي کله د هغه ځايه شخه را روانيږي نو پيغمبر ﷺ د مور په قبر پوري موښلي، او په ژړا کي دا وايي چي زه د خپلي مور بغير د دې ځايه شخه نه ځم، "ام ايمن" هغه تر لاس نيسي او په زور يې را روانوي او دی لاس ځني خلاصوي او بيا په منډه ورځي د خپلي مور په قبر پوري موښلي او د "يَا أُمِّيْ يَا أُمِّيْ" په نعرو کي د خپلي مور تلاش کوي.

درې (۳) ځله "ام ايمن" دی د قبره شخه را روانوي او دی واپس لاس خلاصوي او په منډه ورځي او د مور په قبر پوري موښلي.[1]

## د حضرت يوسف عليه السلام په مثل:

لکه حضرت يوسف عليه السلام چي په کنعان کي ورونو د "مصر" پر قافله باندي خرڅ کړی قافلې والا چي يې د ځانه سره روانوي، نو په لاره کي د ده د مور "راحيل" قبر راځي نو دی د اوښه شخه ځان شوه کوي او د مور په قبر پوري موښلي او د "يَا أُمِّيْ يَا أُمِّيْ" آواز کوي، بيا يې وروسته قافلې والا په زبردستي د ځانه سره روانوي.

---

(۱) ماں کی عظمت: صفحہ نمبر ۲۲

## د پیغمبر ﷺ تمنی:

د مور هغه یادونه د پیغمبر ﷺ پر زړه باندي تر مرګه پوري نقش وه او هیرولای یې نسوه، او کله به یې د هغې تذکره کوله، او د مور خدمت د پیغمبر ﷺ لویه تمنی وه کله به یې ویل کاشکي نن د "محمد" مور ژوندی وای، او زه د ماخستن پر فرضي لمانځه ولاړ وای، او "سورة الفاتحه" مي شروع کړې وای، او زما د کور کړکۍ را خلاصه سوې وای، او زما د مور آواز وای، او د "محمد" په نامه یې زه ور بللی وای.

نو په خدای قسم ما به فرضي لمونځ پرې ایښی وای، او دا به مي ورته ویلي وای چي ﴿لَبَّیْکَ مَا تَقُوْلُ یَا اُمِّیْ﴾ ای موري! زه په خدمت کي حاضر یم اول ته دا راته ووایه چي ستا څه حکم دی هغه به پوره کړم؟ د هغه څخه وروسته به زه خپل لمونځ پوره کړم.

دا د هغه چا جذبات او د خپلي مور سره محبت او د مور د خدمت پر زړه ارمان وو، چي کم څوک الله تعالی د ګناهونو څخه معصوم پیدا کړی وو.

## چي کله مور معاف کړي:

د نن سبا نوجوانانو دپاره ډېر لوی د عبرت درس دی، چي هغه د خپلي موره سره په کم شکل ګوزاره کوي، مورته تکلیف رسول او د موره سره بېکاره ګوزاره کول عام وبالونه خو یې ډېر دي، د ټولو څخه خطرناکه وبال دا دی: چي کله کله داسي وسي چي د زکندن پر وخت باندي الله تعالی انسان ته د شهادت د کلمې توفیق نه ورکوي.

په روایاتو کي راځي د پیغمبر ﷺ زمانه ده یوه زنانه مسجد نبوي ته حال را استوي چي زما خاوند "علقمه" چي صحابي دی (د صحابي هغه لوړه درجه ده که د ټولي دنیا غوث، ابدال، او قطب سره یو ځای سي لا هم د یو صحابي د پښو د خاورو ځای ته ځان نسي رسولای) نو هغه زنانه وایي چي زما پر خاوند باندي داسي حال دی، چي د زکندن پر حالت باندي یې پر ژبه د توحید کلمه نه جاري کیږي.

پیغمبر ﷺ د هغه صحابي د زکندن پر حالت باندي د هغه کورته راځي، د راتګ څخه وروسته او له پوښتنه دا کوي چي د ده مور او پلار ژوندي دي؟

نو هغه ته دا وېل کیږي چي پلار یې وفات سوی دی، مور یې ناراضه ده، د ده سره په کور کي نه اوسیږي پیغمبر ﷺ فوراً حال ور استوي چي د دې صحابي مورته ووایه ته دلته راځې او که زه هلته در سم، هغه زنانه چي دا اوري وای ای د الله رسوله! زه درځم چي کله هغه بوډی زنانه راغله پیغمبر ﷺ ورته وایي ستا د دې خپل بچي "علقمه" څخه څه شکایت او ګیله ده؟

دا په جواب کي ورته وایي چي زما نور هیڅ شکایت او ګیله نسته ځکه زما بچی دیندار ه تهجد ګذاره او عبادت ګذاره وو، لیکن چي کله به ده په تېزه ژبه زما سره خبره کوله نو په دې تېزه ژبه به یې زما زړه زوروی، زه مور وم ما ده ته شیدې ور کړي وې، چي کله په دې تېزه لهجه سره ده زما سره خبره کوله نو زما زړه به زورېدی.

دا یو حقیقت دی چي کله اولاد مور او پلار ته وایي تا نو تر اوسه پوري زما لپاره څه کړي دي؟ کچیري دنیا د امتحان ځای نه وای نو پر هغه کم نصیبه اولاد به الله د ډبرو باران کړی وای.

**د قیامت نښانه:**

عجیبه خبره ده د الله د نبي څخه یو صحابي پوښتنه کوي چي ای د الله رسوله! قیامت کله راځي؟

پیغمبر ﷺ په جواب کي ورته وایي:

.........اَللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ﴾.

هغه صحابي بیا ورته وایي چي ای د الله رسوله! یو نښاني خو یې را وښیه. چي د هغه په وجه د قیامت را نژدې کېدل انسان ته معلوم سي.

پیغمبر ﷺ دا نه ورته وایي چي کله شرک زیات سي، کله کفر زیات سي، کله زنا زیاته سي، یا شراب چیښل زیات سي، یا نور ګناهونه زیات سي.

بلکه د الله رسول ورته وايي چي کله په معاشره کي نوجوانان د خپلو مېندو او پلورو سره د نوکرانو غوندي سلوک شروع کړي، نو پدې باندي پوه سه چي قيامت را رسېدونکی دی.(۱)

ځکه چي کله په معاشره کي د مور او پلاره سره ګوزاره خرابه روانه سي، نو هغه معاشره بيا د انسانانو نه بلکي د درندګانو معاشره بلل کيږي.

او الله تعالی دا دومره نظام او دا آسمان او مځکه او دا لمر او سپوږمۍ د درندګانو لپاره نه چلوي، نو ځکه الله تعالی لمر او سپوږمۍ آسمان او مځکي ته د خرابېدلو حکم کوي. نو د هغوی په خرابېدو سره قيامت جوړيږي.

## واقعې ته اعاده:

نو پيغمبر ﷺ هغي مورته وايي چي دې بچي ته معافي وکړه هغه مورته دا معلومه نه ده چي زما بچی د مرګ په حالت کي دی نو دا په جواب کي ورته وايي ای د الله رسوله! نه يې سم معافولای، ځکه د ده ژبي ماته ډېر لوی تکليف راکړی دی او زما زړه يې ډېر زهير کړی دی.

پيغمبر ﷺ حضرت بلال ؓ ته وايي چي ته لرګي را جمع کړه چي دې "علقمه" صحابي ته اور ولګوو، هغه مور زنانه ورته وايي ای د الله رسوله! دا ته څه وايې؟ "علقمه" ولي په اور سوځې؟

پيغمبر ﷺ ورته وايي چي ګوره دا حالت د زکندن دی، کچيري تا معاف نکړی نو سيده به جهنم ته ځي او که يې زه وسوځم، نو اميد سته چي الله تعالی به يې د جهنمه څخه خلاص کړي.

هغه مور ورته وايي: ای د الله رسوله! په اور يې مه سوځه، زه يې معافوم زما د زړه ټکره ده زما د طرفه ورته معافي ده، چي څنګه د مور د طرفه معافي راغله، هلته د علقمه پر ژبه کلمه جاري سوه.

(۱) ماں کا مقام: صفحہ نمبر ۲

پیغمبر ﷺ پخپله د هغه جنازه وکړه او تر پټېدو پورې ور سره شریک دی او چې کله بېرته سو نو د قبر پر غاړه صحابه وو ته وینا کوي، چې کم سړي مور او پلار ته تکلیف ور کړی پر هغه به د الله لعنت، د فرشتو لعنت، د مځکې او آسمان لعنت وي، نه د هغه لمونځ قبول دی، او نه د هغه روژه او صدقه قبوله ده.(۱)

## د موسی علیه السلام او د قصابي برابروالی:

موسی علیه السلام د الله په دربار کې خواست کوي یا الله په جنت کې به زما ملګری څوک وي؟ نو الله تعالی ورته فرمایي چې "فلان قصاب"، نه عابد، نه زاهد، نه عالم، نه صوفي، نه مجاهد، نه غازي بلکه "فلان قصاب".

حضرت موسی علیه السلام حیران سو چې "قصاب" زما سره څنګه یو ځای دی په جنت کې، د الله په دربار کې خواست کوي چې یا الله، هغه "قصاب" چیري دی؟ چې کله الله تعالی هغه ځای ور ښیي نو موسی علیه السلام پوښتنه پر پوښتنه د "قصاب" کورته راغلی، چې کله یې ولیدی عام قصاب دی د ورځې په بازار کې خپله دکانداري کوي او غوښې خرڅوي.

حضرت موسی علیه السلام په انتظار تولہ ورځ ورته تېره کړه، چې کله ماښام سو غوښې ختم سوې نو یو ټکړه د غوښو یې په "ټکری" کې واچوله او دکان یې بند کړی د کور پر طرف را روان سو.

حضرت موسی علیه السلام ورته وایي چې زه هم ستا سره ځم ستا په کور کې مېلمستیا غواړم.

هغه ورته وویل راځه، هغه "قصاب" ته دا معلومه نه ده چې دا د وخت پیغمبر حضرت موسی علیه السلام دی، په کور کې یې د غوښې هغه "ټکړه" میده کړه او په کټو کې یې پخه کړه، دوډی او سالن یې سره برابر کړل.

(۱) ماں کی عظمت صفحہ: ۲۸

چي کله دودی کښېښول سوه نو د خوني په کونج کي یوه بوډۍ چي د هغې عمر و انتهاء ته رسېدلی دی هغه یې په ډېر عزت او احترام را پورته کړه او هغه "قصاب" یوه ګوله پخپل لاس جوړوي او د هغه بوډۍ په خوله کي یې ور اچوي، چي کله هغه بوډۍ ویل بس، نو ده خوله ور صفا کړه چي کله هغه مړه سي، نو آسمان ته ګوري او خپل شونډان ښوروي یو څه د خدایه څخه غواړي.

نو حضرت موسی علیه السلام پوښتنه ځني کوي چي دا بوډۍ زنانه څوک ده هغه "قصاب" ورته وایي چي دا زما مور ده زه چي سهار ځم د دې ټول خدمت پر ځای کوم، او ماښام چي راځم د ټولو څخه مخکي د دې خدمت کوم، د هغه څخه وروسته خپلو بچیانو ته وخت ور کوم.

حضرت موسی علیه السلام ورته وایي چي دې بوډۍ آخر څه ویل، هغه "قصاب" ورته وایي چي کله زه د دې خدمت وکړم، نو دا د هغه څخه وروسته ما ته دعاء کوي چي الله دي تا په جنت کي د حضرت "موسیٰ پیغمبر" سره ملګری کړي.

دا هغه مور ده چي کله د انسان مور وفات سي نو هغه فقیر سي، چي کله پلار هم وفات سي نو بیا خو هغه انسان بالکل د دعاګانو څخه فارغه او بې نصیب سو.(۱)

## موسی علیه السلام ته فرمان:

د حضرت موسی علیه السلام چي کله مور وفات سوه نو دی به "کوه طور" ته راتلی الله تعالی به ورته ویل چي ای موسی! اوس خپل قدمونه په ډېر احتیاط اخله اوس خپل سوالونه او پوښتني په ډېر احتیاط پېشوه چي د کم چا د دعاء په خاطر مي رعایت در سره کوی هغه اوس در څخه رخصت سو(۲).

## په جنت کي د حارثه بن نعمان رضی الله عنه تلاوت:

پیغمبر صلی الله علیه وسلم د جنت سیر کوي نو په جنت کي د قرآن کریم د تلاوت آواز اوري، پیغمبر صلی الله علیه وسلم پوښتنه کوي چي دا د چا تلاوت دی.

---

(۱) ماں کی عظمت صفحہ: ۳۰

(۲) ماں کی عظمت صفحہ: ۳۰

فرښتې په جواب کې ورته وایي چې دا د "نعمان بن حارثه" تلاوت دئ، "نعمان ابن حارثه رضی الله عنه" د لویو شپږو صحابه وو څخه وو، چې په مکه مکرمه کې یې د پیغمبر ﷺ پر لاس باندې د نبوت پر یوولسم کال بیعت وکړئ او په هغو کې یو نعمان وو. نو نعمان په مدینه کې ناست دی لیکن په جنت کې آواز څنګه راځي؟

نو په جواب کې ورته وویل سوه چونکه په دنیا کې هغه د خپلې مور په زیاته طریقه سره فرمانبرداري کوي پدې وجه الله تعالی د ده آواز په ټوله جنت باندې اوري.

## یو سړی د حضرت عمر رضی الله عنه په دربار کې:

یو سړی د حضرت عمر رضی الله عنه دربار ته راغلی ورته وایي زما مور زما بولي را پرېوللي، ما هم د دې بولي ور پرېولې دي زما غلاظت پورته کړېدی، ما هم د دې دا پورته کړېدی، دې زما کپړې راپرېوللي دي، ما هم د دې کپړې ور پرېوللي دي.

ایا ما د دې خپلې مور حق ادا کړی دی او که نه؟

حضرت عمر رضی الله عنه په جواب کې ورته وایي هیڅکله نه، هغه مور چې کله ته پاللې نو پر ګړې ګړې به یې ستا د زندګی لپاره دعاګاني کولې چې یا الله زما بچي ته بهترینه زندګي په نصیب ور کړې.

او نن چې کله ته د دې خدمت کوې نو د خدمت سره سره دا دعاګاني هم کوي چې یا الله زما څخه یې ژر واخلې زه د دې په خدمت ستړی یم، ته ژر دا زما څخه رخصت کړې. نو په دا شکل به ته څنګه د مور حق ادا کړې.(۱)

## د یو صحابي او د ده د زوی د درمیان واقعه:

حضرت جابر رضی الله عنه روایت کوي چې یو صاحب پیغمبر ﷺ ته راغلی د خپل پلار شکایت کوي، چې ای د الله رسوله! زما پلار زما څخه پوښتنه نکوي او بغیر د پوښتنې زما مال خرڅوي، زه یې ګټم دی یې خرڅوي.

پیغمبر ﷺ هغه ته وویل چې ورسه خپل پلار ماته را وله.

---

(۱) موت کی حقیقت صفحہ: ۱۹

چي کله پلار ته دا معلومه سوه چي زما بچي رسول الله ﷺ ته زما شکایت کړیدی نو هغه ډېر په زړه کي زهیر سو او را روان سو.

د عربو په فطرت کي د شاعری ډېر شوق وو نو هغه پلار په لاره کي را روان دی او په دې زړه کي د ځانه سره یو څه د افسوس اشعار وایي په ژبه یې ادا کړي نه دي.

د ده د را رسېدو څخه مخکي پیغمبر ﷺ ته جبرائیل علیه السلام راغلی ورته وایي ای د الله رسوله! د ټولو څخه مخکي دا پوښتنه ځني وکړه چي تا په لاره کي په زړه کي کم اشعار ویل هغه راته پېش کړه، چي ستا په سوچ او فکر کي راګرځېدلي دي، او ستا ژبي ادا کړي نه دي، او ستا غوږو اورېدلي نه دي نو د هغه څخه وروسته به ستا او د زوی په مابین کي فیصله کوم.

چي کله هغه سړي دا واورېدل ورته وایي چي ای د الله رسوله! زه پر دې شاهدي ادا کوم چي ته د الله حقیقي رسول یې پر دې زما ایمان دی چي ته هم رشتونی یې او ستا رب هم رشتونی ذات دی.

صرف زما په تصوراتو کي یو څو خبري یو څو کلماتي د هواء د څپو غوندي راغلې ما خو په ژبه نه دي ادا کړي لېکن ستا رب هغه واورېدلې او ته د هغه تصدیق زما څخه غواړې.

## نو هغه صحابي خپل اشعار په دا رنګه ورته پېشوي:

غَذَوْتُكَ مَوْلُودًا وَعُلْتُكَ يَافِعًا ★ تُعَلُّ بِمَا أَجْنِي عَلَيْكَ وَتَنْهَلُ

ما تاته په ماشوم والي کي غذا در کوله او د ځوانی وروسته مي هم ستا ذمه واري پوره کوله، ستا ټوله خوړکه زما د ګټې څخه وه.

إِذَا لَيْلَةٌ ضَافَتْكَ بِالسُّقْمِ لَمْ أَبِتْ ★ لِسُقْمِكَ إِلَّا سَاهِرًا أَتَمَلْمَلُ

چي کله به یو شپه ناجوړي پر تا باندي راغله، ستا د ناجوړی په وجه ما ټوله شپه بې قراره تېروله.

لتَخَافُ الرَّدَى لنفسي عَلَيْكَ وَإِنَّهَا ★ لَتَعْلَمُ أَنَّ الْمَوْتَ حَتْمٌ مُوَكَّلُ

زما زړه به ستا د مرګه څخه بېرېدی، حالانکه زه په دې پوهېدم چې د مرګ يو ورځ مقرره ده.

فَلَمَّا بَلَغْتَ السِّنَّ وَالْغَايَةَ الَّتِي ★ إِلَيْكَ مَدَى مَا كُنْتُ فِيكَ أُؤَمِّلُ

چې کله ته بلوغ او دې حد ته ورسېدلې، چې اوس به نو زه ستا څخه يو امېد ساتم (يعني ته ځوان سوې).

جَعَلْتَ جَزَائِيْ غِلْظَةً وفظَاظَةً ★ كَأَنَّكَ أَنْتَ الْمُنْعِمُ الْمُتَفَضِّلُ

ته اوس ماته زما جزاء په ترش رويي او سختي سره راکوې، ګواکې ته پر ما باندې يو فضل او احسان کوې.

فَلَيْتَكَ إِذَا لَمْ تَرْعَ حَقَّ أُبُوَّتِي ★ كَمَا يَفْعَلُ الْجَارُ الْمُجَاوِرُ تَفْعَلُ.(١)

کاش! چې تا زما د پلار والي خيال نه ساتلای، کم از کم داسې سلوک دې را سره کولای لکه يو همسايه چې يې د بل همسايه سره کوي.

## د اشعارو خلاصه:

زما بچيه چې په کمه ورځ ته پيدا سوې، د هغې ورځې څخه زما ارمانونه ستا سره ولګېدل، او زما زندګي ستا پخاطر روانه وه، زما ګټه ستا وه، تا د ګرمو هواګانو څخه د محفوظ کولو په خاطر زما هډوکي و سوځل، او ستا د راحت او ګرموالي په خاطر زه په يخو شپو کي پرله ګرځېدم.

چې کله به تا ژړل زه به نسوم بېدېدای، چې تا به خورک نکوی ما خورک نسو کولای، ستا بيمارۍ به موږ بې تابه کړي وو د مرګ د ېيرې په وجه، حالانکه مرګ د هر شي پر خپل ځای مقرر وو، او ستا د ناجوړۍ سره به زموږ زړه رېږدی چې هسې نه زما بچی مړ نسي.

(١) الخصائص الكبري: باب كر المعجزات فيما اخبر به من المغيبات، صفحه نمبر ١٧٣

د اولاد د پلار د بودا والي په وخت کي تمناه دا وي چي زما پلار رخصت سي، او د مور او پلار ییا لویه تمناه دا وي چي زما بچي ته الله تعالی خوشحاله زندګي ورکړي.

## د پلار محبت:

د پلار زړه خو ییا هم آخر د پلار زړه وي، او چي په هغه کي د پلار والي په وجه د بچي سره څومره مینه او محبت وي.

زموږ پیغمبرﷺ بودا والي په وخت کي په یو شپېته (٦١) کاله عمر باندي د "ماریه قبطیه" څخه الله "ابراهیم" ور کړی، د مدینې منورې پُر "فضاء" مقام باندي یې د هغه د استوګني بندوبست و کړی، چي کم چا د دې بچي زېږی ور باندي و کړی هغه ته یې په زیري کي یوه اوښه ور کړه.

هغه ځای هم نن سبا خلګو ته نه معلومېږي، پر هغه باندي اوس چهار دېوالي را ګرځېدلې ده چي کله چهار دېوالي نه وه زموږ استاد به ویل چي هلته زه دېر ورتلم، هغه ځای څلور طرفه په باغو کي را ګیر وو.

پیغمبرﷺ به سهار او ماښام د خپل بچي حال اخیستلو لپاره ورتلی او محبت به یې ور سره کوی، چي کله د پیغمبرﷺ عمر دوه شپېته نیم کاله ته ورسېدی یو دم خبر راغلی، د څه ناجوړی خبر نه وو چي انسان ذهني طور ورته تیار سي، بلکه دا خبر راغلی یا رسول الله! ابراهیم د خپلي زندګی آخری ساهو نه اخلي.

هغه منظر هم لیدلو والا وو چي کله دی د مسجد څخه را ووتی، آخر خو پلار دی که هر څومره لوړي درجې والا وي لېکن د بچي په خاطر لکه: د هوا یو څپه، په منډه را روان دی او په دومره تېزي سره منډي را وهي، چي تر شاه کم صحابه کرام په پسي دي نو د هغوی د اوږو څخه پټوکان او څادرونه لوېدل، چي ییا یې د را اخیستلو لپاره د هیچا سره موقعه او فرصت نه وو.

چي کله د "ماریې قبطیې" کورته را ورسېدی او پر دې خپل بچي یې نظر و لګېدی نو په غېږ کي یې را واخیستی او چي کله د زوی او پلار نظر سره برابر سو نو ابراهیم

سترګي پټې کړې او زموږ د "نبي" د سترګو څخه اوښکي را توی سوې، او "ابراهیم" وفات سو.

چي کله قبر ته یې شوه کوي نو شرعي مسئله دا ده چي هر انسان به خپل قریب په قبر کي ایږدي، پېغمبر ﷺ خپل ټول قریبان و قبر ته پخپله شوه کړل، حضرت زینب او ډېر صحابه کرام پېغمبر ﷺ پخپل لاس د قبر په ډوري کي کښېښول.

لېکن چي کله "ابراهیم" د قبر ډوري ته شوه کوي د غم او صدمې په وجه بیرته شاته سو، صحابه کرامو ته وایي "ابراهیم" تاسو قبر ته ور شوه کړی، زما سره دومره وس او طاقت نسته چي زه "ابراهیم" په قبر کي کښېږدم، لیري یو ځای کښېنستی.

لېکن چي کله صحابوو "ابراهیم" په قبر کي کښېښوی، پېغمبر ﷺ پخپله بیرته راغلی د قبر پر غاړه ورته ودرېدی او دا کلمات ادا کوي او د سترګو اوښکي یې پر ږیره او ګرېوان باندي را بهېږي.

.........إِنَّ الْقَلْبَ سَيَحْزَنُ وَإِنَّ الْعَيْنَ سَتَدْمَعُ وَلَنْ نَقُولَ مَا يُسْخِطُ الرَّبَّ. وَلَوْلَا أَنَّهُ وَعْدٌ صَادِقٌ وَيَوْمٌ جَامِعٌ لَاشْتَدَّ وَجْدُنَا عَلَيْكَ وَإِنَّا بِكَ يَا إِبْرَاهِيمُ لَمَحْزُونُونَ﴾.(۱)

دا زړه مي ډېر غم کوي، او تر سترګو مي اوښکي راځي، او د الله د ناراضګۍ خبره نه کوو، کچیري د الله صادقه وعده نه وای نو نن به موږ پر تا باندي ډېر زیات غم کړی وای، لېکن بیا هم ای ابراهیمه! ستا په فراق او جدائي کي موږ غمجن یو.

نو مور او پلار دا سي وي چي د بچي ناجوړي مور او پلار ناقراره او د ناجوړی سره یې مخامخ ګرځوي.

**مقصد ته اعاده:**

هغه صحابي په اشعارو کي دا وایي چي ما د غوټیو غوندي مځکي سره ځیرلې او هم مي کرلې، او په ډېره سختي کي مي زندګي تېروله، چي ستا ارمانونه در پوره کړم، لېکن چي کله بوډا والي زه دې حال ته را ورسولم او پر تا باندي د ځواني بهار راغلی،

(۱) الطبقات الکبری العلمیه، الباب ذکر ابراهیم بن رسول ﷺ صفحه: ۱۱۰

زما ملا کږه سوه، او ستا په بدن کي قوت راغلی، زما ښاخونه مات سول، او ته مېوه داره او سایه داره درخته سوې.

اوس خو به ته زما اسره جوړېږي لکه: ما چي به ته تر ګوته نیولی او په ناز او نعمت سره به مي ګرځولې، ته به هم زما سره دغسي معامله کوې.

لېکن یو دم ستا طبعیت بدل سو، او ستا سترګي بدلي سوې، او ستا پر تندي باندي ګونجي راغلې.

ته زما سره داسي وېنا کوې چي زما زړه ټکره ټکره سي، زه پخپل فکر کي ولاړ سم، زما په خیال کي دا راسي چي زه د ده پلار نه یم بلکه نوکر یم، د پلاره سره خو خلګ داسي وېنا نکوي، لکه دی چي یې زما سره کوي.

زه دا خپله د ېرش (۳۰) کلنه زندګي دروا غجنه وبولم، او د ځانه سره دا وایم، چي زه د ده پلار نه یم، زه د ده مزدور یم، نو ځکه دی ماته غوصه کوي، او ما بېعزته کوي؛ ځکه مالک د خپل نوکرانو سره هنسي هم دغه رنګه معامله کوي، زما بچیه زه دوکه وم، زه اوس ستا نوکر یم، ته زما باداري یې، کم از کم د یو ښه بادار په شکل خو زما سره ګوزاره وکړه، چي کله پلار دا اشعار د پېغمبرﷺ په حضور کي پېش کړل:

..........فَبَكَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَأَخَذَ بِتَلْبِيبِ ابْنِهِ وَقَالَ: أَنْتَ وَمَالُكَ لِأَبِيكَ﴾.

پېغمبرﷺ د اشعارو په اورېدو سره ډېره زیاته ژړا وکړه، او ټوله ږیره مبارکه یې په اوښکو لنده سوه، او هغه زوی یې تر ګرېوان ونیوی او ورته ویې ویل زما د نظره څخه ورک سه، چي زه ستا شکل بیا و نه وینم، ته او ستا مال ټوله ستا د پلار ریاست.(۱)

## د عبدالمطلب کفالت:

د "ابواء" پر مقام باندي چي کله د پېغمبرﷺ د مور وفات وسو نو "ام ایمن" دَی مکې مکرمې ته را وستی او خپل نیکه "عبدالمطلب" ته یې ور وسپاری، "عبدالمطلب" به همېشه د ځانه سره ساتی، په مسجد حرام کي به د خانه کعبې و سایه

(۱) دلائل النبوة، باب ما جاء في اخباره من قال في نفسه شعرا، صفحه: ۳۰۵

ته د "عبدالمطلب" لپاره یو خاص فرش هواریدی، د هیچا مجال به دا نه وو چي پر هغه فرش باندي پښه کښېږدي، حتی چي د "عبدالمطلب" اولاد به هم د فرش پر حاشیه او کناره باندي کښېنستل، مګر چي کله به پیغمبرﷺ راغلئ نو بلا تکلفه به پر هغه فرش کښېنستئ.

د ده اکا به دی د هغه فرش څخه ولاړوئ مګر "عبدالمطلب" به د کمال شفقت په شکل دا ویل زما دا بچی پرېږدئ په خدای قسم د ده شان ناولده دی، بیا به یې را وبلی او د خپل ځانه سره به یې کښېنوی.(۱)

په مستدرک "حاکم" کي "کندیر ابن سعید" د خپل پلاره څخه روایت کوي چي د جاهلیت په زمانه کي د اسلامه څخه مخکي حج ته راغلم پر مکه مکرمه طواف کوم که ګورم یو ښائسته او د لوی قد مالک سړی په طواف کي مصروف دی او دا شعر د ده پر ژبه دی:

يَا رَبِّ رُدَّ رَاكِبِي مُحَمَّدًا ★ يَا رَبِّ رُدَّهُ وَاصْطَنِعْ عِنْدِي يَدًا

ای الله! زموږ هغه سپور "محمد" واپس را ولې او پر ما باندي د دې عظیم انسان احسان وکړې،

ما د خلګو څخه پوښتنه وکړه چي دا څوک دی؟ نو دوی په جواب کي راته وویل چي دا "عبدالمطلب" دی، ده خپل لمسی په ورک سوي اوښ پسي استولی دی هغه لمسی چي به ده په کم کار پسي واستوی په هغه کي به ضرور کامیابه کېدی.

اوس چونکه هغه لمسی په ورک اوښ پسي ډېر ځنډېدلی دی، نو ځکه "عبدالمطلب" ډېر بې آرامه دی دا اشعار د ځانه سره وایي، څه زمانه نه وه تېره سوې چي پیغمبرﷺ د اوښه سره راغلی "عبدالمطلب" چي ولیدی ور ولاړ سو، په دې خپل زړه پوري یې ونیوی، ورته وایي بچیه زه ستا په وجه پرېشانه وم، د دې څخه وروسته به زه هیڅکله تا د ځانه څخه جلا نکړم.(۲)

---

(۱) خصائص الکبری جلد : ۱ صفحه : ۸۱

(۲) دلائل النبوه للبیهقي محققا : باب ذکر اسماء رسول اللهﷺ صفحه نمبر ۱۵۱

## د عبدالمطلب انتقال:

تر دوو (۲) کالو پوري دی د خپل نیکه "عبدالمطلب" په تربیت کي وو چي کله یې عمر مبارک اته (۸) کاله ته ورسېدی نو "عبدالمطلب" هم د دنیا څخه رخصت سو، علی اختلاف الاقوال دو اتیا (۸۲) یا پنځه اتیا (۸۵) یا پنځه نیوي (۹۵) یا یو سل او لس (۱۱۰) یا یو سل او شل (۱۲۰) کاله په عمر کي "عبدالمطلب" وفات سو، پدې شکل دی د یو عظیم سرپرست د سرپرستی څخه محروم سو.

چي کم وخت "عبدالمطلب" وفات سو نو دی د هغه د جنازې د چارپایي و سرته ناست دی ژاړي، "عبدالمطلب" د "حجون" پر مقام د خپل نیکه "قصی" و څنګ ته خاورو ته وسپارل سو.

"ابو طالب" چونکه د "عبدالله" حقیقي او عیني ورور وو په دې وجه "عبدالمطلب" د مرګ په وخت کي دی "ابو طالب" ته وسپاری او دا وصیت یې ورته وکړی: چي د ده به په کمال شفقت او نهایت محبت سره کفالت او تربیت کوې.

"ام ایمن" وایي چي کم وخت د "عبدالمطلب" جنازه پورته سوه نو پیغمبرﷺ په داسي حال کي لیدل کېدی چي د جنازې څخه وروسته په ژړا ور سره روان دی.

یو ځل د ده څخه دا پوښتنه وسوه چي ای د الله رسوله! د "عبدالمطلب" مرګ ستا په یاد دی ده په جواب کي ورته ویل، چي زما عمر په هغه وخت کي اته (۸) کاله وو.

د دې څخه وروسته بیا د اکا ابو طالب په کفالت کي راغلی چي د لوی والي څخه وروسته الله تعالی د تمام جهان لپاره نور او د هدایت ذریعه وګرځوله.

الله تعالی دي موږ او تاسو د ده د اُمتیت څخه نه محرومه کوي، او الله تعالی دي تر مرګه پوري د ده د نبوت په سایه کي زندګي را په نصیب کړي. او الله تعالی دي مو د قیامت په میدان کي د ده د "شفاعت کبرٰی" څخه برخه مند وګرځوي. او الله تعالی دي دا څو خبري پخپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

آمین یا ربّ العالمین

وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآيه)

# د شام طرفته سفر کول

(بیان)


مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن



مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقرير | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتي حافظ كليم الله صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشاعت | اول |
| تاريخ | جمادي الاولى ١۴۴٢ بمطابق ٢۴ جنوري ٢٠٢١ |
| تعداد | (١١٠٠) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾([1]).

وقال رسول الله ﷺ ﴿وَإِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّمًا﴾.([2])

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## د دنیا نا پایداره نظام حکومت،

محترمو مشرانو! د تیرو څو جمعو څخه مسلسل د پیغمبرﷺ پر سیرتِ مبارک باندې خبره روانه ده.

تېره جمعه کې ما درته وویل چې په دنیا کې انساني معاشره ته الله تعالی وجود ورکړیدی، کچیرې انسان د انساني معاشرې پر تاریخ نظر واچوي نو دا خبره تر لمر روښانه ده چې دنیا ته ډېر لوی لوی حکمرانان، فاتحین، او بادشاهان راغلي دي، چې د قومونو پر ځان او مال باندې قابض ګرځېدلي دي.

یو ملک یې خراب کړیدی، دوهم یې اباد کړیدی.

یو یې کم کړیدی، بل یې زیات کړیدی،

---

(1) الاحزاب آیت نمبر، ۲۱

(2) ابن ماجه حدیث، ۲۲۹

د یوه څخه یې اخیستی دئ، بل ته یې ور کړېدی.

هغوی په لارو او کوڅو کي امن قائم کړی دئ، مګر د معاشرې د زړه په دنیا کي تر اوسه چا امن نه دئ را وستلی، بلکه حقیقت ته که سړی وګوري هر قسم روحاني بربادي، د دغه دربارو څخه سره غوړېدلې ده.

د هغه نتیجه دا را وتلې ده چي د دوی وضع کړي قوانین ډېره اوږده زمانه نه دي چلېدلي، بلکه د هغوی شاګردانو او پیروکارانو د هغوی قوانین بدل کړېدي.

## و انساني معاشرې ته نجات ور کونکي:

که په دنیا کي خیر و نیکي غوړېدلې ده صرف د هغه هستیو څخه غوړېدلې ده چي هغو ته انبیاء کرام علیهم السلام ویل کېږي، او دا خبره هم در لمر ښکاره ده: چي هر کله مشکلات راغلي دي، نو د مشکلاتو څخه نجات ور کونکي هم داغه انبیاء کرام دي.

## د بني اسرائیلو مثال:

بني اسرائیلو ته موسی علیه السلام د فرعون د ظلم او ستم څخه نجات ور کړی، حتی چي هغوی ته د پرلوی حکومت په لاس ورغلی لېکن بني اسرائیلو د الله د احکامو ناقدري وکړه او د بد عملۍ زندګي یې اختیار کړه، د هغه نتیجه دا را ووتله چي "بخت نصر" بادشاه د دوی پر ملک باندي حمله وکړه، بیا یې دوی د ذلت او خوارۍ سره مخامخ کړل.

دوهم ځل بیا حضرت دانیال علیه السلام و دوی ته د یو نجات ورکونکي په شکل باندي تشریف راوړی او بیا یې دوی ته د ظلم او ستم څخه نجات ور کړی.

## د عربو مثال:

داغه رنګه مثال د عربو دی، د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د تشریف را وړلو څخه مخکي د مکې مکرمې مشرکینو د جهالت زندګي تېروله، قتل او غارت، ظلم او ستم، جنګ او جدال، غلا او زنا د دوی خوی او عادت وو.

دومره بې حسه انسانان وه چې د ملګرو په مجلس کې به يې د غوښې خوړلو لپاره د ژوندي حيوان څخه غوښې پرې کولې او بيا به يې پخولې او خوړلې به يې.

دې خبرې ته د دوی هيڅ پام نه راګرځېدی چې په دې حالت کې به پر دې ژوندي حيوان باندې څه تيريږي.

په معمولي خبرو به چې کم جنګونه شروع سول هغه به د سلګونو انسانانو د مرګ سبب جوړېدی.

چې "قيصر" او "کِسرٰی" هم پر دوی باندې حکومت کول ناخوښه بلل، د خاوند د مرګه څخه وروسته به زنانه هم دې ته مجبوره کېدله چې خپل مال به يې د ميراث په شکل ميراث خورو ته تقسيموی.

کونډې زنانې به د ذلت او رسوايۍ طوق و غاړه ته اچوي او بغير د بلې نکاح کولو څخه به يې ژوند او زندګي تېروله او لوڼې به ژوندی په قبرونو کې ښخېدې، دا د دوی عام زواج وو.

په دې وخت کې عرب د دنيا جاهل ترين او پسمانده ترين قوم وو، چې هغوی ته د الله حبيب ﷺ تشريف را وړی، په پنځه ويشت (۲۵) کاله مبارکه زندګۍ کې يې و دوی ته دين ورزده کړی، او هغه درنده صفته انسانان يې په صحيح معنی باندې انسانان جوړ کړل چې بيا د ټوله عالم لپاره د هدايت يو نقشه بلل کېدل.

ځکه په آخر عمر کې به پيغمبر ﷺ ويل:

........أَصْحَابِي كَالنُّجُومِ بِأَيِّهِمُ اقْتَدَيْتُمُ اهْتَدَيْتُم﴾.(١)

زما صحابه اوس ستاسو لپاره د ستورو په مثل دي، لکه: په ستورو باندې خلک لار پيدا کوي داغه رنګه د هدايت پيدا کولو لپاره زما د هر صحابي زندګي ستاسو لپاره صحيح نقشه او د هدايت لاره ده.

---

(١) شفا بتعريف حقوق المصطفی، الباب توقير اصحاب صفحه: ۱۱۸

## د پیغمبرﷺ د زندګۍ داستان:

په تېره جمعه کې مې درته ویلي وه چې کله د "عبدالمطلب" د وفات په وخت کې د پیغمبرﷺ کفالت "ابو طالب" ته وسپارل سو نو د "عبدالمطلب" د وفات څخه وروسته دی د خپل اکا "ابو طالب" په پالنه او تربیت کې راغلی.

"ابو طالب" به دی د خپل اولاد څخه زيات ځان ته قريب بالۍ، او تر مرګه پورې يې د ده سره د شفقت او محبت ګوزاره کوله او د پيغمبرﷺ د تربيت او کفالت حق يې په پوره طريقه سره ادا کړی.

افسوس "ابو طالب" د ده د عاشقانه کفالت او تربيت سره سره د ايمان د دولته څخه او د اسلام د نعمته څخه محروم او بې نصيبه د دنيا څخه رخصت سو.

## د ابو طالب کفالت:

يو ځل په "مکه مکرمه" کې قحط او خشک سالي راغله باران بالکل بند سو، خلګو به يو بل ته سره ويل د "لات" او "عزی" په وجه د باران دعاء وکړئ، چا به بيا ويل پر دريم بت "منات" باندې بروسه او اعتماد وکړئ او د هغه په وجه باران وغواړئ.

په دې دوران کې يو بوډا ولاړ سو هغه دا وويل تاسې د حق او صداقته څخه ولې ګرځئ؟ په تاسو کې د ابراهيم، او اسماعيل عليهما السلام نښانه موجوده ده، تاسو هغه پرې ايښې ده پر غلطو لارو ولې روان ياست؟

نو خلګو ورته ويل چې د دې څه مطلب دئ؟ هغه بوډا په جواب کې ورته وويل چې زما مراد "ابو طالب" دئ. نو ټول خلګ "ابو طالب" ته راغلل چې د باران لپاره دعاء وکړه.

"ابو طالب" د يوې غټې ډلې انسانانو سره نبي اکرمﷺ هم حرم ته راوستئ او د ده ملا مبارکه يې خانه کعبې ته ولګوله او بطور تضرع او التجاء يې د پيغمبرﷺ د شهادت ګوته د آسمان طرفته پورته کړه.

حالانکه په آسمان کي د وريځي هيڅ نوم او نښان نه وو، د ده د اشارې سره د هر طرفه ځخه وريځ په جوش کي راغله، او په دومره زياته اندازه باران وسو، چي تولې ولې او مڅکې وبهېدلې، په دې باره کي به "ابو طالب" دا شعر وايئ:

وَأَبْيَضُ يُسْتَسْقَى الْغَمَامُ بِوَجْهِهِ ★ ثِمَالُ الْيَتَامَى عِصْمَةٌ لِلْأَرَامِلِ

داسي روښانه او منوره چهره چي د هغه په برکت سره بارانونه اورېږي چي د يتيمانو لپاره پناه او د کونډو لپاره د حفاظت ځای بلل کيږي.(۱)

## عجيبه او غريبه واقعه:

د پيغمبرﷺ په ذريعه سره بارانونه اورېدل دا صرف د ده د زندګی خصوصيت نه وو بلکه د مرګه بعد هم الله تعالی د ده په ذريعه پر قومونو ابادي را وستله.

د حضرت عمرؓ په زمانه کي هم يو ځل په مدينه کي قحط او خشک سالي راغله بارانونه نه کېدل، نو ده خضرت عائشې مبارکې ته د دغه حالت ځخه د وتلو لپاره رجوع وکړه.

په رواياتو کي راځي زموږ د ټوله امت مور حضرت عائشې مبارکې حضرت عمرؓ ته وويل چي زموږ کور (يعني روضه رسول) د آسمان و طرفته سوری کړه او د پيغمبرﷺ قبر و آسمان ته ور ښکاره کړه چي کله آسمان د پيغمبرﷺ قبر ووينې بيا ته د آسمان ژړا ته ګوره چي هغه په کم قسم د اوبو په شکل کي اوښکي را تويوي.

چي کله د روضې مبارکې چت سوری سو، او د پيغمبرﷺ قبر آسمان ته ور ښکاره سو، داسي اوبه د آسمانه ځخه را توی سوې چي د هغه کال نوم "عام الفتح" و بلل سو، سرسبزي، او شاه دابي، زياته سوه او د حيوانانو غوښې او چربياني د هغوی پر بدنو را پورته سوې الله تعالی داسي برکات را نازل کړل.(۲)

(۱) سيرة ابن هشام، الباب شعر ابي طالب في استعطاف قريش صفحه، ۲۷۶
(۲) خطبات کريم جلد، ۱ صفحه، ۲۹۲

**د شام اول سفر:**

چي کله د پیغمبرﷺ عمر دوولس (۱۲) کاله ته ورسېدی، "ابو طالب" د قریشو د تجارت د قافلې سره د شام اراده وکړه، د سفر د سختئ په خاطر د "ابو طالب" په نیت کي د پیغمبرﷺ بېول د ځانه سره نه وه. خاص د روانېدو پر وخت باندي د پیغمبرﷺ پر مخ باندي د غم او د پرېشانئ څه آثار وه.

په بعضي روایاتو کي راځي چي پیغمبرﷺ "ابو طالب" ته د سفر کولو خاص فرمائش وکړی چي ما درسره بوزه، "ابو ظالب" چي کله د ده شوق ولیدی ورته وایي، زما دي په رب د کعبې قسم وي، چي تا به ضرور د ځانه سره بیایم، نه ته زما څخه هیڅکله جدا کېدای سې، نه زه ستا څخه هیڅکله جدا کېږم.

په یو روایت کي دا هم راځي چي ده د "ابو طالب" د اوښي جلو ونیوی ورته وایي ای اکاجانه! ته ما چاته پرېږدې؟ دلته خو نه زما مور سته او نه زما پلار نو د "ابو طالب" زړه درد وکړی، او دی ئې د ځانه سره روان کړی.(1)

**د بحیرا راهب قصه:**

چي کله دوی په سفر روان سوه، او د "بُصرٰی" ښار ته قریب راغلل نو هلته یو نصراني "راهب" اوسېدئ چي د هغه نوم "جرجیس" وو او په "بُحیرا" راهب باندي مشهوره وو.

د نبي آخر الزمان چي کمي علامې په آسماني کتابو کي ذکر سوي وې د هغه څخه دَی مکمل واقف او با خبره وو، چنانچه د مکې دا قافله چي کله د "بُحیرا" راهب د "صومعه" (عبادت خاني) سره تېرېدله نو هغه "راهب" چي کله د پیغمبرﷺ صورت او شکل ولیدئ، دستي یې وپېژندی، چي دا خو هغه نبي دی چي په سابقه آسماني کتابو کي یې خبر ورکول سویدي، او دی یې تر لاس ونیوی.(2)

---

(1) سیرت ابن هشام جلد: ۱ صفحه: ۶۱

(2) زرقاني جلد: ۱ صفحه: ۱۹۴

په جامع الترمذي کې د حضرت "ابو موسی اشعري" روایت دی چې یو ځل "ابو طالب" د قریښو د مشرانو سره د شام و طرفته تللی چې پر کمه لاره تېرېدل هلته یو "راهب" اوسېدی د دې ځخه مخکې ډېر ځله د دوی پر هغه "راهب" باندې تېرېدل سوي وه، مګر هغه هیڅکله د دوی طرفته التفات نکوی.

خو په دې ځل د قریښو کاروان د تجارت چې کله هلته ورسېدی نو هغه "راهب" د معمول خلاف د خپلې "صومعې" یعني عبادت خانې ځخه په منډه را ووتی، او په ډېر باریک نظرو سره یې یوه یوه ته کتل، آخر یې د پیغمبر ﷺ لاس ونیوی او دا یې ویل:

........هَذَا سَيِّدُ الْعَالَمِيْنَ هَذَا رَسُولُ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ هَذَا يَبْعَثُهُ اللهُ رَحْمَةً لِّلْعَالَمِيْنَ﴾.

دا دواړو جهانو سردار دی او دا د الله رسول دی، او دا د ټوله انسانیت لپاره رحمت دی.

سردارانو د قریښو هغه "راهب" ته وویل چې دا ځنګه درته معلومه سوه؟ نو "راهب" ورته وایې چې کله تاسو پدې دَرَه کې را روان واست، داسې درخته او ډبره پاته نه سوه چې هغه دې وده ته سجده نکوې، درختې او ډبرې چې کم چاته سجده کوې هغه یقیني نبي وي.

د دې ځخه علاوه زه دَی په مهر نبوت باندې هم پېژنم چې د سېب غوندې د ده تر اوږه لاندې واقع دئ، "راهب" دا وویل او واپس ولاړی.

هغه راهب صرف د پیغمبر ﷺ په وجه د ټولې قافلې لپاره خوړکه تیاره کړه چې کله د خوړکې لپاره ټول حاضر سوه نو پیغمبر ﷺ موجود نه وو، "راهب" دستې معلومات وغوښتی چې دی چیرې دی نو دا معلومه سوه چې د اوښانو د څرولو لپاره دی تللی وو.

یو څوک یې پسې واستوئ پیغمبر ﷺ یې را وبولئ چې کله دَی را روان دئ نو یوې وریځې د ده پر سر سایه جوړه کړېده او ورسره را روانه ده.

چې کله دَی د خپل قوم کسانو ته نژدې راغلی، نو که ګوري چې ټول خلک د درختې په سایه کې ناست دي او نوره د درختې سایه دومره نسته چې دی ورته کښیني نو په یو

کونج کي و لمر ته کښېنستی، درخته دستي ور کړه سوه او ټوله سایه یې پر ده باندي وکړه او د ده د قوم نور انسانان و لمر ته پاته سوه. "راهب" وویل چي تاسو د درختي سایه ته وګورئ چي په کم شکل د ده طرفته ولاړه.(۱)

ځکه د پیغمبر ﷺ نبوت دا صرف د انسانانو لپاره نه وو، بلکي د پیغمبر ﷺ نبوت دا د انسانانو د جناتو، د جماداتو، نباتاتو، ملائکه وو، حیواناتو، د ټولو لپاره وو یعني چي دی به پر کمه لار تېرېدئ، دې ټولو ته به دا معلومه وه چي دا د الله یو مبعوث پیغمبر ﷺ دی چي پر لاره تېرېږي.

## د پیغمبر ﷺ د نبوت تصدیق:

په مدینه منوره کي یو ځل حضور اکرم ﷺ یو سفر څخه واپس را روان وو یو ځای قیام کوي، د شاه و خوا کلو والا خلک د پیغمبر ﷺ د دیدار لپاره راغله یو "اعرابي" کلي والا ته پیغمبر ﷺ وویل چي ته چیري ځې؟

هغه کلي والا ورته وویل: چي زه خپل کور ته ځم پیغمبر ﷺ ورته وویل چي یو ځل د "لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ" د کلمې اقرار وکړه، مسلمان سه بیا به هسي هم کورته ولاړ سې.

هغه "اعرابي" پیغمبر ﷺ ته وایي چي ایا ستا سره د خپل نبوت څه نښاني ده چي ستا پر صداقت باندي روښانه دلیل وګرځي.

پیغمبر ﷺ چي کله دا واورېدل نو هغه "اعرابي" ته وایي چي ګوره هغه لیري ولاړه د کیکر درخته وینې ته هغې ته ورسه او ورته وو ایه چي پیغمبر ﷺ دي غواړي.

هغه زمین دار د ډېر تعجب په حالت کي درختي ته راغلی او درختي ته یې د حضور اکرم ﷺ پیغام ورساوی، درختي چي کله د پیغمبر ﷺ نوم واورېدی نو هغه ډېره بې چینه او بې آرامه سوه، او څلور (۴) سره طرفه ته یې حرکت ورکړی او په مځکه کي یې د ننه مځکه څیري کړه او خپلي ریښې یې پرې کړې او د پیغمبر ﷺ طرفته را روانه سوه.

(۱) زرقاني: جلد نمبر۱، صفحه نمبر۱۹۴، نبوت النبي ﷺ، جلد نمبر۲، صفحه نمبر۲۰۲

چي کله د پیغمبر ﷺ خدمت ته را حاضره سوه نو په ډېره صفا ژبه یې "اَلسَّلَامُ عَلَیْکَ یَا رَسُوْلَ اللهِ" ادا کړل، یعني پر پیغمبر ﷺ یې سلام پېش کړی پیغمبر ﷺ ورته وویې ای درختي! ایا ته زما د رسالت شاهدي ور کوې، درختي په صفا ژبه درې (۳) ځله گواهي پېش کړه، او ورته ویې ویل بېشکه ته د الله رسول یې.

چي ځومره حاضر انسانان دي هغوی چي کله دا واقعه ولیدله نو ډېر حیران سوه، هغه "اعرابي" پیغمبر ﷺ ته وایي ایا دا درخته اوس واپس خپل ځای ته هم تلای سي؟

نو پیغمبر ﷺ هغه درختي ته وایي واپس خپل ځای ته ولاړه سه، درختي چي کله دا واورېدل واپس خپل ځای ته راغله او خپل پاته ریښې یې و مځکي ته ور شوه کړې، پر ځای ودرېدله.

"اعرابي" چي دا واقعه ولیدله د پیغمبر ﷺ په حضور کي دا درخواست کوي چي ای د الله رسوله! ماته اجازه راکړه چي زه و تاته سجده وکړم.

پیغمبر ﷺ ورته وایي ماته د دې خبري اجازت نسته، کچیري ما یو چاته د سجدې کولو اجازه ور کولای نو زنانو ته به مي دا حکم کړی وای چي خپلو خاوندانو ته سجدې وکړئ.

"اعرابي" چي کله دا واورېدل نو دا عرض پېشوي، ای د الله رسوله! که ماته د سجدي کولو اجازت نه را کوې نو پر لاسو باندي د مچولو اجازت خو راکړه.

پیغمبر ﷺ د لاسو د مچولو اجازت ور کړئ، هغه اعرابي کلیوالا پیغمبر ﷺ پر لاسو مچوي او د کلمې طیبې په وینا سره مسلمان کیږي.

نو د پیغمبر ﷺ د نبوت معلومات د درختو سره هم وو. حیوانانو ته به هم دا معلومات کېدئ چي دا د الله رسول دی.[1]

---

[1] مواعظ ابراهیمي صفحه، ۱۳۰

## د "حجة الوداع" واقعه:

د "حجة الوداع" پر موقعه باندي پېغمبرﷺ د اوښانو قرباني کوي، د خپل علم مطابق يې هغه اوښان ذبح کړل، سل (۱۰۰) اوښان حضرت عليؓ د يمن څخه را وستلي وه، اوښانو غاړي جګي نيولي دي او پېغمبرﷺ يې ذبح کوي.

او اوښان رسی شکوي، هر يو خپله غاړه پېغمبرﷺ ته د نورو څخه مخکي پېشوي، او دا کوشش کوي چي زه مخکي ذبح سم، حالانکه هغه اوښان دا په سترګوويني چي کم اوښ مخته سو، د هغه پر غاړه باندي چاړه تېره سوه.

لېکن چونکه د رسول اللهﷺ د لاس چاړه ده نو هغه يې د ټولو څخه مخکي پر خپله غاړه تېرېدل د ځان لپاره سعادت او نېکبختي بولي.

نو ځکه حضرت عليؓ فرمايي:

﴿كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ فِيْ مَكَّةَ فَخَرَجَ فِيْ بَعْضِ نَوَاحِيْهَا فَمَّا اسْتَقْبَلَهُ شَجَرٌ وَلَا جَبَلٌ إِلَّا قَالَ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ﴾.

موږ د مکې په لارو کي د پېغمبرﷺ سره ملګري وو چي مخته به يو درخته يا يو غر يا يو کاڼی راتلی نو هغوی ټولو به پېغمبرﷺ ته د صلوٰة او سلام نعره کوله، لکه څنګه چي درختو ته د پېغمبرﷺ د نبوت معلومات وو دا رنګه حيوانان هم په دې پوهېدل چي دا د الله رسول پر دې لاره روان دی.(۱)

## د سرکښه اوښانو واقعه:

يو انصاري صحابي مسجد نبوي ته په منډه راځي او د پېغمبرﷺ په حضور کي دا درخواست پېشوي، چي ای د الله رسوله، زما دوه (۲) اوښان سرکښه سويدي او زه د هغوی د خوف څخه خپل باغ ته ورتلای نسم نو ته زما نصرت او مدد وکړه.

پېغمبرﷺ ورته وايي چي ته باغ ته در ځه نو انصاري صحابي دمخه دی او پېغمبرﷺ ور پسې دی چي کله د باغ دروازې ته راغله نو دروازه بنده ده، يو اوښ د

(۱) اعلام النبوة للماوردي، باب اقسام الاخبار الآحاد صفحه: ۱۴۵

دروازي هغه بلي خواته ولاړ دی، د خپل خښم په شکل آواز کوي او خوله يې د ځګونو ډکه ده.

پیغمبر ﷺ ورته وايي دروازه را خلاصه کړه هغه انصاري صحابي ورته وايي ای د الله رسوله! زه بېرېږم چي تاته به نقصان ورسوي.

نو پیغمبر ﷺ ورته وویل:

..........ادْخُلُوا فَلَا بَأْسَ عَلَيْكُمْ﴾. تاسو دروازه خلاصه کړئ، دوی موږ ته هيڅ ضرر نه رسوي:

.........فَلَمَّا رَآهُ الْجَمَلُ﴾. چي کله يې دروازه خلاصه کړه او د اوښ نظر پر پیغمبر ﷺ ولګېدئ:

..........أَقْبَلَ يَمْشِي وَاضِعًا رَأْسَهُ حَتَّى قَامَ بَيْنَ يَدَيْهِ، فَسَجَدَ﴾. نو اوښ په منډه راغلی او خپل سر يې د پیغمبر ﷺ په پښو کي کښېښوی او سجده يې ورته وکړه.

پیغمبر ﷺ ورته وايي تاسو رسۍ راوړئ:

..........ائْتُوا جَمَلَكُمْ فَاخْطِمُوهُ وَارْتَحِلُوهُ﴾. چي کله يې رسۍ ورته راوړه پیغمبر ﷺ په رسۍ وتړئ او ور بار يې کړی او ورته ويې ويل چي دا به بيا هيڅکله ستا نافرمانه نسي.

هغه دوهم اوښ د باغ په يو کونج کي د غصې او غضب په حالت کي ولاړ دی او خپل د خښم آواز کوي لېکن چي کله يې ستر ګي پر پیغمبر ﷺ ولګېدې، نو په منډه راغلی او دا سر يې د پیغمبر ﷺ په پښو کي کښېښوی او د سترګو اوښکي يې د پیغمبر ﷺ پر پښو و بهيدلې، پیغمبر ﷺ په رسۍ ور وتړی ورته وايي دا به بيا هيڅکله ستا نافرماني و نکړي.(1)

نو حیوانانو ته هم دا معلومېدله چي دا د الله رسول دی.

---

(1) دلائل النبوة، باب ذكر البعير الذي سجد للنبي ﷺ صفحه: ۲۸

**د يو اعرابي زمين دار واقعه:**

يو ځل پيغمبرﷺ په مدينه منوره کي ناست دی، د صحابه کرامو يوې ډلي يو "اعرابي" زمين دار چي د ښکاره ځخه را روان دی تر لاس نيولی، د پيغمبرﷺ په خدمت کي يې حاضر کړی.

"اعرابي" پوښتنه کوي چي دا څوک دئ صحابه کرام ورته وايي چي دا د الله رسولﷺ دئ. "اعرابي" چي کله دا واو رېدل وای زما دي د "لات" او "عزی" په بتانو قسم وي، چي ما د ده ځخه زيات درواغجن (نعوذ بالله) ندی ليدلی، کچيري د عربو خلکو زه جلد بازه او تلواري نه بللی ما به اوس په دې خپله توره دی قتل کړی وای.

چي کله د هغه "اعرابي" هغه بېهوده او عبث کلام صحابه کرامو واورېدی نو حضرت عمرؓ توره وکښه چي ای د الله رسوله! ماته د ده د قتل کولو اجازت راکړه.

پيغمبرﷺ ورته وايي ای عمره! حلم او برداشت اختيار کړه ايا ته په دې خبره نه يې پوه چي په حليم سړي کي د نبوت قابليت وي، د پيغمبرﷺ په دې وينا سره حضرت عمرؓ خاموشه سو.

بيا هغه "اعرابي" ته پيغمبرﷺ دعوت ور کوي چي ای وروره! مسلمانېدل ډېره لويه ښه خبره ده، "لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ" ويل دا لوی عبادت دی.

هغه "اعرابي" چي دا واورېدل نو هغه د خپل لستوڼي ځخه يو ښکار سوی او مړ حيوان را ويستئ، چي هغه ته په عربي کي "ضب" وايي: د "پيشو" ځخه لږ کوچنی دئ او د "سمسارې" ځخه لږ غټ دئ چي عام طور د حجاز مقدس په غرو کي پيدا کيږي او دوی يې ښکار کوي او خورک يې وځان ته جائز بولي.

د پيغمبرﷺ و مخته يې وغورځوئ، ورته وايي چي زما دي په "لات" او "عزی" قسم وي، کچيری دا پر تا ايمان راوړي نو زه به هم پر تا ايمان راوړم.

پیغمبرﷺ د هغه حیوان طرفته متوجه سو ورته وایي: "یا ضبُّ" چي کله هغه ته د پیغمبرﷺ کلام وسو نو هغه حیوان د پیغمبرﷺ طرفته متوجه سو او په صفا عربي ژبه باندي پیغمبرﷺ ته جواب ورکوي:

.........لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ يَا رَسُولَ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾. ای د الله رسوله! زه په خدمت کي ولاړیم څه فرمایي؛

..........فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَمَنْ تَعْبُدُ يَا ضَبُّ؟﴾. پیغمبرﷺ ورته وایي ته د چا عبادت کوې، هغه په جواب کي ورته وایي:

........اللهَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ عَرْشُهُ وَفِي الْأَرْضِ سُلْطَانُهُ وَفِي الْبَحْرِ سَبِيلُهُ وَفِي الْجَنَّةِ رَحْمَتُهُ وَفِي النَّارِ عَذَابُهُ﴾.

زه د هغه چا عبادت کوم چي په آسمان کي عرش او په مځکه کي حکومت لري، او په دریابو کي لاري او جنت او جهنم یې د ثواب او د عقاب ځایونه دي.

..........قَالَ: فَمَنْ أَنَا يَا ضَبُّ﴾. بیا پیغمبرﷺ ورته فرمایي چي زه څوک یم هغه حیوان په جواب کي ورته وایي:

..........قَالَ: أَنْتَ رَسُولُ رَبِّ الْعَالَمِينَ وَخَاتَمُ الْمُرْسَلِينَ، قَدْ أَفْلَحَ مَنْ صَدَّقَكَ، وَقَدْ خَابَ مَنْ كَذَّبَكَ﴾.

ته د الله رسول یې او د ټولو انبیاؤو آخیرنی نبي یې چي کم څوک ستا تصدیق کوي هغه به همېشه کامیابه وي او چي کم څوک ستا تکذیب کوي هغه به همېشه ناکامه وي.

چي کله د هغه بې زبانه حیوان د خولې څخه د پیغمبرﷺ د نبوت اقرار واورېدل سو، نو ټوله مجمع حیرانه ده هغه "اعرابي" ولاړ دی چي کله حیوان خپل کلام پوره کړی، نو هغه "اعرابي" په ډېر شوق سره د توحید کلمه وویله، او دا یې وویل:

......... أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّكَ رَسُولُ اللّٰهِ حَقًّا وَقَدْ آمَنْتُ بِشَعْرِي وَبَشَرِي، وَدَاخِلِي وَخَارِجِي، وَسِرِّي وَعَلَانِيَتِي وَاللّٰهِ لَقَدْ أَتَيْتُكَ وَمَا عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ أَحَدٌ هُوَ أَبْغَضُ إِلَيَّ مِنْكَ ووَاللّٰهِ لَأَنْتَ السَّاعَةَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ نَفْسِي وَمِنْ وَلَدِي﴾.

ای د الله رسوله! ما پر تا ایمان راوړی، زما ظاهر زما باطن، زما غوښه زما پوست زما وربښته، وربښته، ستا د صداقت اقرار کوي، ای د الله رسوله! د دې څخه مخکي ستا ذات زما په نزد د ټولو څخه زيات مبغوض وو لېکن الله تعالی اوس په ما باندي داسي حالت راوستی چي ستا د ذات څخه زيات محبوب ماته په ټوله جهان کي څوک نسته.

پيغمبرﷺ ورته وايي چي ای وروره! الله تعالی د يو چا کلمه نه قبلوي چي دی د لمانځه پابنده نه وي، لمونځ کوه او لمونځ بغير د قرآنه قبلېږي نه.

"اعرابي" عرض کوي چي ماته د لمانځه او د قرآن کريم تعليم راکړه، پيغمبرﷺ و ده ته دوه (۲) سورتونه "سورة الفاتحه" او "سورة الاخلاص" ورياد کړل.

"اعرابي" چونکه د عربو د علاقې وو هغه چي کله قرآن کريم واورېدی په ډېر حيراتيا سره د پيغمبرﷺ په حضور کي دا خبره پېشوي، چي ما خو داسي فصيح او بليغ په حيراتيا کي اچونکی کلام تر ننه پوري نه وو اورېدلی.

پيغمبرﷺ ورته وايي چي دا د بنده کلام ندی دا د "رب العالمين" کلام دی چي کم سړی "سورة الاخلاص" يو ځل ووايي نو الله تعالی د دريمي حصې د قرآن کريم ثواب ور کوي، او چي کم سړی دوه (۲) ځله دا سورة ووايي، الله تعالی د قرآن کريم د دوو حصو ثواب ور کوي، او چي کم سړی درې (۳) ځله "سورة الاخلاص" ووايي الله تعالی هغه ته د ټوله قرآن کريم ثواب ور کوي.

چي کله يې دا واورېدل نو هغه اعرابي ډېر خوشحاله سو، ويل يې چي الله تعالی د بنده لږ عمل قبلوي، ثواب او بدله ډېره زياته ور کوي.(۱)

(۱) دلائل النبوة، الباب ذکر الظبی والضب صفحه: ۳۷۶

**مقصد ته اعاده**

نو هغه "بحيرا راهب" ولاړ سو قسمونه يې خوړل ويل اى قريشو! دا سړى د روم طرفته مه بيا ياست، روميان كه دَى ووينې او دَى پر خپلو صفاتو او علاماتو باندې وپيژني نو دَى به ضرور قتل كوي.

چې كله دا خبره روانه وه اچانک د "راهب" نظر يو طرفته واوښتې كه گوري د روم اووه (۷) كسان د يو شي په تلاش كي د دوى طرفته را روان دي چې كله را ورسېدل.

"راهب" پوښتنه ځني وكړه چې تاسو څنگه راغلاست؟ روميانو ورته وويل چې موږ د هغه نبي په تلاش كي را وتلي يو (چې د كم چا په "تورات" او "انجيل" كي بشارت ذكر دى) هغه په دې مياشته كي د يو قافلې په سفر كي را وتلى دى، نو هر طرفته د هغه په تلاش كي موږ خلگ سره استولي دي.

"راهب" ورته وويل چې دا راته ووايا ست چې د كم شي خداوند ذوالجلال اراده كړې وي ايا هغه څوک را گرځولاى سي، روميانو ورته وويل نه، د دې څخه وروسته روميانو د "بحيرا راهب" سره عهد وكړى چې د دې څخه وروسته به موږ د هغه نبي تلاش نه كوو.

او دا اووه (۷) روميان دا لته د "بحيرا راهب" سره استوگن پاته سوه، ځكه چې د كم مقصد لپاره را وتلي وه هغه خيال يې پر هغه ځاى بدل سو، نو اوس د دوى لپاره واپسي خلاف مصلحت وه نو ځكه د "بحيرا راهب" سره يې خپله استوگنه شروع كړه.

"راهب" بيا د قريشو و قافلې ته قسم ور كړئ او دا يې ورته وويل چې په تاسو كي د دې نوجوان ولي او قريب څوک دى؟

خلكو "ابو طالب" ته اشاره وكړه، "راهب" "ابو طالب" ته وويل چې ته دى ضرور واپس واستوه، "ابو طالب" دى د ابو بكرؓ او بلالؓ په ملگرتيا كي مكې ته واپس واستوى، "راهب" د لارې د نفقې لپاره يو څه دوډى او د زيتون تېل ور كړه.

په "بيهقي" کي لا دا روايت هم راغلی دی چي "بحيرا راهب" ورولاړ سو او د ده ملا مبارکه يې وکتله چي د دواړو اوږو په مابين کي يې "مهر نبوت" وليدی او "مهر نبوت" بعينه پر هغه شکل وو، چي څنګه د "راهب" په علم کي وو.(١)

## د شام دوهم سفر او د "نسطورا راهب" سره ملاقات:

چي کله د ده مبارک عمر څلور ويشت (٢۴) يا پنځه ويشت (٢۵) کاله ته ورسېدی نو حضرت "خديجه" د عربو د يو شريفه خاندان مالداره زنانه وه، چي د هغې د شرافت نسبي او عفت او پاک دامني په وجه په جاهليت او اسلام دواړو کي په "طاهره" نامه سره يادېدله.

قريشو چي به کله خپله قافله د تجارت روانوله نو حضرت "خديجې" به هم خپل مال يو چاته بطور مضاربت ورکوی او د قافلې سره به د دې مال تلی.

صرف د حضرت "خديجې" مال به دومره زيات وو چي هغه به د قريشو د ټولو مالو سره برابر وو، چي کله د پيغمبرﷺ په مکه مکرمه کي ښکه زندګي تېروله، او په کور کور کي د ده د امانتدارۍ او ديانتدارۍ شهرت وو او هيڅ څوک په مکه کي داسي نه وو چي دی دې يې د آمين او د صادق په لقب باندې نه يادوئ.

حضرت "خديجې" و ده ته پيغام ور واستوی، کچيرې ته زما مال تجارت د ځانه سره شام ته يوسې نو د نورو انسانانو په نسبت به زه و تاته دو چنده معاوضه درکوم.

پيغمبرﷺ د "ابو طالب" د مالي مشکلاتو په وجه دا پيغام قبول کړئ او د حضرت خديجې د غلام "ميسره" سره د شام طرفته روان سو چي کله "بصرٰی" ته ورسېدئ نو تر سايه داره درخته لاندې کښېنستل هلته يو "راهب" اوسېدی چي د هغه نوم "نسطورا" وو.

هغه چي کله دی وليدئ نو د ده طرفته راغلئ او ده ته يې وويل چي د "عيسی ابن مريم" څخه بعد بيا تر اوسه پوري پر دې مځکه ستا څخه ماسيوا بل نبي نه دی راغلی.

(١) دلائل النبوة للبيهقي، باب ما جاء في خروج النبيﷺ صفحه، ٢۴

بیا یې "میسره" ته وویل چې د ده په سترګو کې سرخوالی دی، "میسره" ورته وویل چې دا سرخوالی د ده د سترګو څخه هیڅکله نه جلا کیږي.

........فَقَالَ الرَّاهِبُ هُوَ هُوَ آخر الْأَنْبِيَاء وياليت اَنِّي اُدْرِكُهُ حِينَ يُؤْمَرُ بِالْخُرُوجِ﴾.

نو "راهب" ورته وویل، دا هغه آخرنی نبي دی، کاشکي ماته الله د ومره ژوند را کړی وای، چې دَی خپل قوم د خپل کلي څخه باسي نو ما به د ده معاونت کړی وای.

بیا پیغمبر ﷺ په خرید او فروخت باندي مشغوله سو، په دې دوران کي یې د یو سړي سره پر یو خبره اختلاف راغلی هغه سړي ده ته ویل چې په "لات" او "عزی" باندي قسم واخله.

پیغمبر ﷺ ورته وویل چي زه په "لات" او "عزی" قسم نه اخلم، اتفاقًا چې کله زما پر "لات" او "عزی" باندي تېرېدل راسي، نو زه د اعراض او کناره کشی په شکل د هغه څخه تېرېږم.

چې کله هغه سړي دا واورېدل ورته وایي چې بېشکه ته صادق یعني رشتونی یې.

بیا هغه سړي نعرې کړې چې والله دا هغه سړی دی چې د هغه شان او صفت زموږ علماؤ په خپلو کتابو کي لیکلی پیدا کړیدی.

د "میسره" بیان دی چې کله به غرمه سوه او ګرمي به تېزه سوه نو ما بهٔ دوې (۲) ملائکي لیدلې چې هغوی به د ده پر سر سایه جوړوله چې کله د شامه څخه واپس را روان دي، نو د غرمې وخت دی، او دوو (۲) ملائکو د ده پر سر سایه جوړه کړېده.

حضرت "خدیجې" د خپلې بالا خانې څخه په داسي شان باندي راتلونکی ولیدی او نورو زنانو ته یې هم وویل چې تاسو ورته ګوري!! ، ټولو زنانو د ده په دا رنګه راتګ باندي تعجب کوی.

د هغه څخه وروسته "میسره" د سفر ټوله حالات او واقعات حضرت "خدیجې" ته پېش کړل او پیغمبر ﷺ د تجارت مال حضرت "خدیجې" ته وسپاری، په دې ځل د

حضرت "خديجې" په مال کي دومره زياته نفع راغلې وه، چي حضرت "خديجې" د دې څخه مخکي هيڅکله دومره نفع نه وه ليدلې.(¹)

حضرت "خديجې" چي څومره معاوضه ده ته ور مقرره کړې وه د هغه څخه يې زياته ور کړه.

## د حضرت خديجې سره نکاح:

د "ابن اسحاق" يو روايت دی چي حضرت "خديجې" د ده تمام حالات د سفر او د "راهب" وينا او د ملائکو د ده پر سر سايه کول "ورقه ابن نوفل" ته بيان کړل.

"ورقه" ورته وويل ای خديجې! کچيري دا واقعات ريشتوني وي نو بيا خو يقينا "محمد" د دې امت نبي دی او زه پدې ښه خبر يم چي په دې امت کي يو نبي راتلونکی دئ چي موږ تول د هغه انتظار کوو او د هغه زمانه را نژدې سوېده.(²)

چي کله حضرت "خديجې" دا واقعات واورېدل نو د حضرت "خديجې" په زړه کي د ده سره د نکاح کولو شوق پيدا سو، چنانچه د شام د سفره څخه پر واپسي باندي دوې مياشتي او پنځه ويشت (۲۵) ورځي بعد پخپله حضرت "خديجې" ده ته د نکاح پيغام ور کړی، ده د خپل اکا ابو طالب په مشوره هغه پيغام قبول کړئ.

پر يو معين تاريخ باندي دی د خپل اکاګانو "ابو طالب" او حضرت "حمزه" او د خپل خاندان د نورو مشرانو په ملګرتيا کي د حضرت "خديجې" کورته راغلی.

د "مبرد" څخه را منقول دي چي د حضرت "خديجې" پلار د "حرب فُجار" څخه مخکي وفات سوی وو د نکاح په وخت کي د حضرت "خديجې" اکا "عمر بن اسد" موجود وو. لېکن د بعضي مورخينو قول دا دی: چي د نکاح په وخت د حضرت "خديجې" پلار "خويلد" هم موجود وو. څو علامه "سهيلي" ليکلي دي چي د

(¹) طبقات ابن سعد، جلد ۱، صفحه ۸۳،، الخصائص الکبری، جلد ۱، صفحه ۹۱،، عيون الاثر، جلد ۱، صفحه ۴۹ صفحه ۴۹

(²) عيون الاثر جلد، ۱ صحفه، ۵۱

"مبرد" قول صحيح دی، د نکاح په وخت کي چي ابو طالب کمه خطبه وويله د هغې خطبې آخيري الفاظ دا سي وه:

......... أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ مُحَمَّدًا مِمَّنْ لَا يُوَازَنُ بِهِ فَتًى مِنْ قُرَيْشٍ إِلَّا رَجَحَ بِهِ شَرَفًا وَنُبْلًا وَفَضْلًا وَعَقْلًا، فَإِنْ كَانَ فِي الْمَالِ قُلٌّ، فَإِنَّمَا ظِلٌّ زَائِلٌ وَعَارِيَةٌ مُسْتَرْجَعَةٌ، وَلَهُ فِي خَدِيجَةَ بِنْتِ خُوَيْلِدٍ رَغْبَةٌ، وَلَهَا فِيهِ مِثْلُ ذَلِكَ﴾.(۱)

اما بعد: "محمد" هغه دی چي د قريشو کم ځوان په شرافت او رفعت کي او په عقل کي د ده سره وزن کړي، نو دَی به ضرور پر درونډ وي، په مال کي که څه هم دی کم دی، خو مال يو ختمېدونکي سايه ده.

او د ده د "خديجې" د نکاح وطرفته رغبت دی او دا رنګه خديجه هم د ده د نکاح و طرفته ميلان لري.

د نکاح په وخت کي د پيغمبرﷺ عمر پنځه ويشت (۲۵) کاله وو او د حضرت "خديجې" عمر څلوېښت (۴۰) کاله وو، او شل (۲۰) اوښان مهر مقرر سو.

په بعضو رواياتو کي دا راځي چي د مهر مقدار دولس نيمي اوقيې وو او يوه اوقيه څلوېښت (۴۰) درهمه وي.

لهذا کل مهر پنځه سوه (۵۰۰) دراهمه شرعي جوړ سو. دا د پيغمبرﷺ اوله نکاح وه.(۲)

---

(۱) روض الانف، جلد نمبر۱، صفحه نمبر۱۲۲

(۲) زرقاني، جلد نمبر۱، صفحه نمبر۲۰۲

الله تعالی دي زندګي د محمد رسول الله ﷺ پر نقشه را په نصیب کړي، الله تعالی دي دا څو خبري پخپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

(آمین یا رب العالمین).

وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآیه)

# د نبوت بیان

(بیان)


مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج؛

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن



مکتبه سلفیه النصحیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقــــــريــر | الحاج مولوي اطيع اللہ صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتــي حـافـظ كـليم اللہ صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | اول |
| تــاريـــــخ | جمادي الاولى ۱۴۴۲ بمطابق ۲۴ جنوري ۲۰۲۱ |
| تــعـــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ، خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ، اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ، الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ، عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ﴾.(۱)

وقال رسول الله ﷺ ﴿كُنْتُ نَبِيًّا وَآدَمُ بَيْنَ الْمَاءِ وَالطِّيْنِ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْمِ وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## پر څلوېښت (۴۰) کاله نبوت:

محترمو حاضرينو! د الله تعالی عادت مبارک دی، چي کله هم يو نبي ته نبوت ور کوي چي د هغه عمر څلوېښت کاله (۴۰) ته ورسيږي نو بيا وروسته د الله په دربار کي د نبوت مستحق بلل کيږي.

ځکه په څلوېښت (۴۰) کاله عمر باندي د انسان عقل، کامل او مکمل او پوخ سي، په اقوالو او افعالو کي يې قرار، سکون، سنجيدګي او آرام راسي، په مزاج کي تحمل او برداشت پيدا سي، او د شدائدو او مصيبتو سره په مقابله کولو کي په ده کي توان او طاقت پيدا سي.

---

(۱) العلق آيت نمبر: ۱، ۲، ۳، ۴، ۵

(۲) شرف المصطفی باب ظهور النبي ﷺ صفحه: ۲۹۱

په دې وجه باندې د يو دوو (۲) انبياء کرامو څخه علاوه الله تعالى ټولو انبياء کرامو ته د څلوېښتو (۴۰) کالو پر پوره کېدو باندې نبوت ور کړېدی.

او داغه نبوت يو وهبي شی دی، چې د هغه تعلق د الله تعالى د ور کړې سره دی. څه کسبي شی نه دی، چې انسان يې په کسب او کمال لاس ته راوړي، نو ځکه يو نبي هم د نبوت د ورکړې څخه مخکې د نبوت اميد واره نه وي، او نه په يو مکتب کې د تعليم ويلو پخاطر، نبي نبي جوړېږي.

بلکه نبي براه راست د الله شاګرد وي، په خپله د حضور اکرم ﷺ نه تعليم او نه يې خط زده وو، نه د شعر او شاعرۍ سره واقف وو، چې يو دم الله تعالى نبوت ور کړی.

ځکه چې څوک اعتراض ونکړي چې دې سړي خو په زده کړه او علم کې کمال حاصل کړی، يا يې په شعر او شاعرۍ کې ترقي وکړه نو ځکه يې د نبوت دعوه وکړه.

او دا هم يقيني ده چې الله تعالى چې کم څوک د نبوت لپاره منتخب کړېدی، هغه د رسالت فريضه په پوره طريقه سره ادا کړېده، د الله په دې انتخاب کې هيڅکله داسې نه دي سوي، چې منتخب نبي دې د نبوت په فريضه کې کوتاهي کړې وي.

## د نبوت ابتداء:

چې کله د الله تعالى د جلال او د رحمت الٰهي د ظهور وخت را ورسېدی، او د نبي اکرم ﷺ عمر څلوېښت (۴۰) کاله سو، او په زمانه کې د بدلون او د لويو انقلاباتو دور شروع کېدونکی وو د کفر تاريکي ختمېدونکې وه، او د اسلام نور پر مځکه غوړېدونکی وو، او د مخکنی انبياء پېش ګوياني رښتيا کېدونکې وې، د مختلفو مذاهبو ذيهوش موحد علماء، او عبادت کش صوفياء، او د اقوامو د عالم زاهدېن، د کفر او شرک، د ظلم او ستم، او د مخلوق د غلامۍ څخه د آزادولو لپاره د يو عظيم پېغمبر ﷺ د راتللو منتظر وو.

چې يو دم د سيدنا محمد ﷺ د قوت قدسيه فيضان او برکات ښکاره کېدل شروع

## آفتاب رسالت ښکاره کېدل:

نو چي کله د پیغمبرﷺ عمر مبارک څلوېښت (۴۰) کاله ته ورسېدی نو ورځ تر بلي به د ده په مزاج کي ګوشه نشیني او خلوت پسندي زیاتېدله.

په دې زمانه کي به پیغمبرﷺ ته صالح او رشتونکي خوبونه ډېر راتلل، هغه خوبونو به ده ته دا خبر ورکوی، چي عنقریب یعني ډېر ژر به آفتاب د نبوت پر دنیا را خیږي، او دا د خوبو سلسله تر شپږو (٦) میاشتو پوري جاري وه، چي کم خوب به یې د شپې ولیدی، سهار به مِن و عَن هغه خوب ده ته ښکاره کېدئ.

## د وحی څخه مخکي خوب لیدل:

د وحی د نازلېدو څخه درې (۳) ورځي مخکي پیغمبرﷺ په "غار حرا" کي خوب ویني، چي یو سړی راغلی او دَی یې را پورته کړی، "صفا" او "مروی" ته یې قریب را وستی او زړه مبارک یې ور څیري کړی، او بیا یې پرېولی او د انواراتو و برکاتو یې ډک کړی، او بیا یې وګنډی.

پیغمبرﷺ په دې خوب کي داسي ویني چي یو سړی داسي هم دی، چي د هغه پښې پر مځکه او سر یې پر آسمان دی، او دوه(۲) یې وزر دي یو یې پر مشرق او بل یې پر مغرب دی، او د پښو رنګ یې زعفراني دی، او وزر یې د زرغونو زمردو دي او د یاقوتو سور طوق یې پر غاړه دی، او تندی یې د سپوږمۍ غوندي ځلیږي، او پر تندي باندي یې په نوراني قلم سره دا لیکلي دي: "لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ".

پیغمبرﷺ چي کله دې لوړ قامت ته وکتل نو د ېېري څخه یې بدن لړزیږي او پوښتنه ځني کوي چي ته څوک یې؟ ستا څخه زیات لوی قامت والا او ستا څخه زیات حسن او جمال والا خو ما تر اوسه پوري نه وو لیدلی، هغه په جواب کي ورته وایي:

........اَنَا الرُّوْحُ الْاَمِيْنِ اِلَى النَّبِيِّنَ وَ انْتَ سَيِّدُ الْمُرْسَلِيْنَ﴾.زه جبرائیل آمین یم، چي ټولو انبیاء ته ورځم او ته سید المرسلین یې.(۱)

(۱) مواعظ ابراهیمي: افضل المواعظ، صفحه نمبر ۲۶

چي کله یې دا وینا وکړه نو د پیغمبر ﷺ د نظره څخه غائب سو.

## حضرت خدیجې ته خوب بیانول:

حضور اکرم ﷺ د خوب دا واقعه حضرت "خدیجې" ته بیان کړه، او د خپل خوف او بیري ذکر یې ورته وکړی، هغې مبارکي زناني ورته وویل چي الله تعالی ضرور تا ته یو لویه مرتبه درکوي ته هیڅ قسم بېره په زړه کي مه را ګرځوه، او بدستور "غار حراء" ته د خپل عبادت او "اعتکاف" کښنلو لپاره ځه.

## د جبرائیل علیه السلام اول ځل راتلل:

چي کله د دې واقعې درې (۳) ورځي تیري سوې نو حضور اکرم ﷺ په "غار حراء" کي معتکف دی یو دم او ناڅاپه دا آواز او نداء وسوه یا محمد!

پیغمبر ﷺ چي کله نظر ور پورته کړی، که ورته ګوري د ځمکي او آسمان په مابین کي د سرو زرو پر کرسۍ باندي یو عظیم الشان تشخص ناست دی کم تشخص چي دوې (۲) ورځي مخکي په خوب کي ده لیدلی وو، چي د هغه وزر د مشرق او تر مغربه رسیدلي دي.

پیغمبر ﷺ چي ورته وکتل نو ډېر وبېرېدی، هغه تشخص په انساني شکل یو دم په غار را ننه وتئ او پیغمبر ﷺ ته وایي "اِقْرَءْ" ای حضرت ووایه! پیغمبر ﷺ په جواب کي ورته وایي: "مَا اَنَا بِقَارِئٍ" زه خو ویونکی نه یم.

چي کله پیغمبر ﷺ د وینا څخه عذر کوي، هغه تشخص په ډېر زور سره ذَی په دې خپله سینه پوري نیسي، او دوهم ځل بیا ورته وایي "اِقْرَءْ" ووایه! پیغمبر ﷺ بیا هغه عذر کوي، چي ما ته وینا نه راځي، او نه زه څه ویلای سم.

چي کله پیغمبر ﷺ عذر وکړی نو ده دوهم ځل بیا د اول ځل څخه زیات په زور سره په خپله سینه پوري ونیوی، بیا ورته وایي چي ته قرائت وکړه.

نو پیغمبرﷺ بیا عذر وکړی، دریم ځل هغه تشخص د ټولو څخه زیات په زور سره په سینه پوري ونیوی، نو بیا ورته وایي "اِقْرَءْ" نو پیغمبرﷺ په جواب کي ورته وایي زه څه ووایم؟ هغه ورته وایي زه چي څه وایم هغه را سره وایه.

نو هغه عظیم تشخص دغه آیت شروع کړی؛

﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ، خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ، اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ﴾.

شروع کوم د الله په نامه سره چي هغه ټوله دنیا پیدا کړېده، او انسان یې د ټوټې وینې څخه پیدا کړیدی، او دا وایه چي ستا رب ډېر کرم او احسان کونکی ذات دی.

چي کله یې دا وویل: هغه شخص د غار څخه ووتی او دا یې بیا ورته وویل: زه جبرائیل آمین فرشته یم، ته د ټوله جهان لپاره رسول یې.[1]

**نکته:**

علماء لیکلي دي چي دوې (۲) مرحلې مخکي وې او درې (۳) اوس وې د دې پنځو (۵) مقاماتو څخه د تېرېدو وروسته پیغمبرﷺ ته رسالت ورکول سو.

یعني دوه (۲) ځله د نبوت څخه مخکي شق صدر وسو، یو (۱) ځل د حضرت حلیمې په کور کي، دوهم (۲) ځل د وحی د نازلېدو څخه درې (۳) ورځي مخکي، او درې (۳) ځله جبرائیل آمین په شدت سره پخپله سینه پوري ونیوی، د دې پنځو (۵) مقاماتو څخه وروسته ده ته نبوت په نصیب ورغلی.

امت چونکه کمزوری دی، هغه دا مقاماتو ته په آسانه ځان نسي رسولای، نو د پیغمبرﷺ په برکت او د الله په فضل سره دې امت ته پنځه (۵) لمنځونه د هغه پنځو (۵) مقامات پر ځای په نصیب ورغلل، چي د هغه پنځو (۵) لمنځو په کولو سره امت ته د الله تعالی حضور پیدا کیږي، په کولو کي ډېر آسانه او په ثواب کي د لوی لوی غرو څخه زیات وزني دي.

---

[1] مواعظ ابراهیمي: صفحه نمبر ۲۷

**کور ته راتلل:**

حضور اکرمﷺ چي کله په "غار حراء" کي پر تخت نبوت کښېنول سو، او تاج د نبوت يې پر سر ور کښېښنول سو، او شاهي فرمان يې د "اِقْرَءْ" د آياتو په شکل پر ژبه جاري سو، نو د خپل کور پر طرف د "غار حراء" څخه را روان سو.

چي کله د غاري څخه را ووتی نو د ټولو څخه مخکي هغه غر چي په هغه کي تقريبا دی د شپږو (٦) مياشتو څخه معتکف وو، د هغه غره څخه دا آواز پورته کيږي، "اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْکَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ".

چي کله د غره څخه را شوه کيږي، او مخته يې هره درخته او کاڼي راځي، نو هغوی پر ده باندي د "اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْکَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ" ترنم او آوازونه کوي، او د سلامو په داغه ترنم او آوازو کي د کور دروازې ته را ورسېدی.

چي کله د دروازې مخته ږغ کوي نو د ده په آواز کي يو عجيب او غريب لهجه او لذت دئ، نو د کور زنانه حضرت "خديجة الکبرى‏رضي الله عنها" په منډه راغله دروازه يې ور خلاصه کره، چي کله يې مخ مبارک ته ګوري نو پر مخ يې عجيب انوارات او برکات محسوسيږي.

هغه زناني په ډېر تعظيم سره دی پخپل کور کي پر خپل مسند کښېنوئ او ورته وايي زما مور او پلار دي تر تا قربان وي، نن ستا صورت ډېر ناولده، خوشبو ناولده، او په خبره او کلام کي لهجه او لذت ناولده، او ستا د مخ نور نن ډېر زيات دی.

چي د دې څخه مخکي مي هيڅکله نه وو ليدلی، نن ستا د تنه څخه داسي تېزه خوشبويي راځي چي د دې څخه مخکي ما هيڅ کله نه وه محسوسه کړې، د الله په خاطر ما د نن د واقعاتو څخه خبره کره.

او دا رشتيا مثل دئ، (ولی را ولی می شناسد) چي ولي ولي پېژني، مګر دلته زياته خبره دا وسوه چي نبي (پېغمبرﷺ) ولي (حضرت خديجة الکبرٰی) و پېژندی.

چي کم کيفيت پر پيغمبرﷺ تېر سوی وو، هغه ټوله په يو نظر د حضرت "خديجې" په زړه کي نقش سو، البته حضرت "خديجه" ډېره په تعجب کي ده، چي دا نور دا خوشبويي، او دا سرور او خوشحالي د نور کله څخه نن ډېره زياته ده.

ځکه چي يو خو د پيغمبرﷺ ذات په خپله منور او معطر دی، بيا د روح الآمين چي سردار د ملائکو دی د هغه سره ملاقات او معانقه، او دريم د الله د کلام نازلېدل، او د پيغمبرﷺ په سينه کي ايښول، نو ځکه دا انوارات حضرت خديجة الکبری رضي الله عنها ته زيات محسوسيږي.(١)

## ورقه ابن نوفل ته ورتلل:

و کورته د راتللو وروسته پيغمبرﷺ خپل ټوله داستان و حضرت خديجې رضي الله عنها ته بيان کړی او ورته وايي:

.........لَقَدْ خَشِيتُ عَلَى نَفْسِي﴾ چي زه پر خپل ځان باندي ډېرېږم چي الله تعالی خو به ما د رسوايۍ سره نه مخامخ کوي.

.........فَقَالَتْ خَدِيجَةُ: كَلَّا وَاللَّهِ مَا يُخْزِيكَ اللَّهُ أَبَدًا﴾. حضرت "خديجه" تسلي ور کوي چي الله تعالی هيڅکله تا نه رسوا کوي.

.........إِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ، وَتَحْمِلُ الكَلَّ، وَتَكْسِبُ المَعْدُومَ، وَتَقْرِي الضَّيْفَ، وَتُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الحَقِّ﴾.

ځکه ته وصله رحمي د قريبانو سره کوې، او د خلکو په مشکلاتو کي مرسته کوې، او د فقيرانو سره کومک کوې، او په تا کي د سخاوت ښه صفت دی، او د خلکو سره په مشکلو حالاتو کي مرسته کوې.

(١) مواعظ ابراهيمي، افضل المواعظ، صفحه نمبر۲۸

..........﴿فَانْطَلَقَتْ بِهِ خَدِيجَةُ حَتَّى أَتَتْ بِهِ وَرَقَةَ بْنَ نَوْفَلِ بْنِ أَسَدِ بْنِ عَبْدِ الْعُزَّى ابْنَ عَمِّ خَدِيجَةَ وَكَانَ امْرَأً تَنَصَّرَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ يَكْتُبُ الْكِتَابَ الْعِبْرَانِيَّ، فَيَكْتُبُ مِنَ الْإِنْجِيلِ بِالْعِبْرَانِيَّةِ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَكْتُبَ، وَكَانَ شَيْخًا كَبِيرًا قَدْ عَمِيَ﴾.

حضرت "خديجې" پيغمبرﷺ د ځانه سره روان کړی، د خپل اکا د زوی "ورقه ابن نوفل" خدمت ته يې ورروستی، هغه د سل (۱۰۰) کاله ځخه په زيات عمر کې دی، او د "تورات" او د "انجيل" عالم دی، او د مخکنی او ورستنی کتابو ماهر دی.

..........﴿فَقَالَتْ لَهُ خَدِيجَةُ: يَا ابْنَ عَمِّ، اسْمَعْ مِنَ ابْنِ أَخِيكَ، فَقَالَ لَهُ وَرَقَةُ: يَا ابْنَ أَخِي مَاذَا تَرَى؟ فَأَخْبَرَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَبَرَ مَا رَأَى، فَقَالَ لَهُ وَرَقَةُ: هَذَا النَّامُوسُ الَّذِي نَزَّلَ اللَّهُ عَلَى مُوسَى﴾.

حضرت "خديجې" "ورقه" ته سلام وايي او ورته وايي چې دا "محمد بن عبدالله" وايي چې ماته يو فرشته راغله.

"ورقه" چې کله د فرشتې نوم واورېدی، پر خپل ځای ولاړ سو او په ډېر حيرت سره وايي، چې فرشته مبارک ذات دې ناپاکه د بت پرستی کورو ته څنګه راتلای سي، که چيري في الواقع پر دې ځکه باندي د هغه تېرېدل سوي وي، نو دا خو ډېره لويه خوش نصيبي ده، خو بچيه! ستا لپاره د مشکلاتو لوی خبر، او تاته د دين لويه ذمه داري ده.

..........﴿يَا لَيْتَنِي فِيهَا جَذَعٌ، لَيْتَنِي أَكُونُ حَيًّا إِذْ يُخْرِجُكَ قَوْمُكَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَوَ مُخْرِجِيَّ هُمْ ، قَالَ: نَعَمْ، لَمْ يَأْتِ رَجُلٌ قَطُّ بِمِثْلِ مَا جِئْتَ بِهِ إِلَّا عُودِيَ، وَإِنْ يُدْرِكْنِي يَوْمُكَ أَنْصُرْكَ نَصْرًا مُؤَزَّرًا. ثُمَّ لَمْ يَنْشَبْ وَرَقَةُ أَنْ تُوُفِّيَ﴾.(۱)

"ورقه" ورته وايي کاشکي هغه وخت زه ژوندی وای چې کم وخت تا خپل قوم د مکې مکرمې څخه ايستلو ته مجبوره کوي، او هم به قسما قسم تکليفونه دررسوي.

پيغمبرﷺ په ډېر تعجب کې وايي چې ايا زما قوم به ما د مکې څخه باسي؟

---

(۱) بخاري شريف حديث: ۳

"ورقه" په جواب کي ورته وايي چي هو دغه دین چي کم چا خپل قوم ته پیش کړیدی، نو د هغه سره ضرور قوم په عداوت او دښمني کي را غلی دی.

خو کچیري هغه وخت کي زما ژوند زما سره وفا وکړه نو زه به ستا په کلکه ملاتړ کوم.

حضرت "خدیجه" "ورقه" ته وايي، چي تا خو "تورات" هم ویلی دی، "انجیل" دي هم ویلی دی، ایا دا راته ووایه په دې کتابو کي د یو نبي د ښکاره کېدلو بشارت یا خبر سته؟

ورقه په جواب کي ورته وايي هو ضرور به یو نبي یتیم پیدا کیږي، چي د هغه کفالت به په خپله الله تعالی کوي، هغه نبي به فقیر وي، چي پر هغه باندي به د قریشو یوه زنانه خپل مال ټول قربانوي، ای خدیجې! ماته دا علامې په تا کي را معلومیږي.

حضرت "خدیجه" بیا ورته وايي چي د دې څخه ماسوا یو څه نوري علاماتي په دې آسماني کتابو کي د دې نبي لیکلي دي؟

"ورقه" په جواب کي ورته وايي چي هو د ځنګله درختي او د غرو ډبري به ټول وده ته سلام کوي، او حیوانان به د ده د وینا تابع وي، او مړي به ژوندي کوي، لکه: ابن مریم علیه السلام چي ژوندي کړیدي، هغه به پر لوبو باندي بغیر د کښتی څخه تګ کوي، لکه: ابن مریم علیه السلام چي تګ کړی وو.(۱)

## عداس نامي راهب ته راتلل:

حضرت "خدیجې" پیغمبر ﷺ "عداس" نامي راهب ته را وستی، هغه ته یې ټوله واقعه بیان کړه.

"عداس" ورته وویل چي زه خو ضعیف البصر یم دی زما مخته را ولې! او ماته یې را ښکاره کړئ! "عداس" چي کله پیغمبر ﷺ ولیدی لمن یې څخني پورته کړه، او د ده نظر د نبوت پر مهر باندي ولګېدی، او د مهر نبوت څخه یو نور وده ته ور ښکاره سو،

(۱) مواعظ ابراهیمي صفحه: ۲۷.

نو "عداس" په سجده کي ولوېدی او د "قدوس، قدوس" نعرې یې وهلې او دا یې ویل چي بېشک دَی هغه نبي دی چي د هغه زېری مخکني انبیاؤ ور کړیدی.

حضرت موسی علیه السلام د ده ذکر کړی، او حضرت موسی علیه السلام د ده د نبوت خبر ور کړیدی، او ورته وایي ای نبي! ته د ډیري لوړي مرتبې والا یې، او د الله ډېر لوی رحمت موږ ته راغلی یې، یو ورځ به ستا قوم تا د مکې څخه باسي مګر الله تعالی به ستا مدد ګاره وي، او ملائکي به ستا سره وي.

د دې څخه وروسته حضرت "خدیجة الکبریٰ" خپل کور ته را وستی او په کور کي د پیغمبر ﷺ زندګي روانه سوه.(۱)

## تر درو (۳) کالو پوري خفیه دعوت:

ده په ابتداء کي دعوت تر خپل کوره پوري محدود کړی، او په زنانو کي د ټولو څخه مخکي حضرت "خدیجة الکبریٰ" اسلام راوړی، چي تر قیامته پوري یې زنانو ته دا تعلیم ور کړی، چي زنانه په دیني خدماتو کي او په نیکو اعمالو کي د نارینه وو څخه یوه ذره هم پاته نه ده، بلکه په ابتداء کي د اسلام د باغ او بېدل د زنانو په زېوراتو او په نورو قربانیو سره سوېدي.

نن سبا خو د زناني صرف دا خیال پاته سویدی، چي بس دِا خو د زېب او زینت د ښائست او د سنګار لپاره پیدا سوېدِه.

پر دین باندي تګ کول یا د دین خدمت کول صرف د نارینه وو کار دی او د زنانو په دې کي څه حصه نسته.

## په صحابیاتو کي د دین جذبه:

پر تیر دور او زمانه باندي کچیري انسان نظر واچوي نو په زنانو کي د دین د محنت کولو جذبه ډېره ښکاره معلومېږي، د صحابیاتو پر زندګي که سړی غور وکړي، د دین د محنت په میدان کي د نارینه وو څخه یوه زره هم پاته نه دي، بلکه هغوی په بعضو

---

(۱) مواعظ ابراهیمي صفحه، ۲۷

حالاتو کي د نارینه څخه هم زیات محنتونه او قرباني پیش کړیدي، لکه د دې زه تاسو ته یو چند مثالونه پیشوم:

★......علماؤ لیکلي دي چې په یو لک او څلور ویشت زره (۱۲۴۰۰۰) زیات او کم صحابه کرامو کي صاحب فتوی یعني هغه صحابه چي علماء بلل کېدل، او نورو صحابه وو به د دوی څخه د مسائلو پوښتنه کوله او د دوی پر هدایاتو به یې عمل کوی.

د هغوی عدد یو سل نه پنځوس (۱۵۹) دی، په دې یو سل او نه پنځوس (۱۵۹) کي بیا څوارلس (۱۴) صحابه داسي وه چي ټوله صحابه وو به د ځان دپاره علماء او امامان بلل.

کچیري پر هغه څوارلسو (۱۴) صحابه وو نظر وکړې، نو په هغوی کي د حضرت "عائشې" مبارکې نوم ډېر ښکاره راځي، د دې څخه دا معلومه ده، چي ام المؤمنين حضرت "عائشې" مبارکې داسي علم حاصل کړی وو چي د وخت لوی لوی صحابه کرامو به د دې څخه په پرده کي د مسائلو معلومات کوی.

★......په دې امت کي د قرآن کریم حافظه جوړېدل، او پخپله سینه کي قرآن کریم محفوظ کول، د ټولو څخه لوی اعزاز بلل کیږي دا اعزاز هم په ټوله امت کي اول د حضرت "عائشې" صدیقې ﷝ په نصیب وو.

★......دا هم عجیبه خبره وه چي کله قرآن کریم را نازل سو نو د لسان نبوت څخه (یعني د نبي ﷺ د ژبي مبارکي څخه) د ټولو څخه مخکي په دې امت کي د قرآن کریم د اورېدلو شرافت هم د یو زناني په نصیب وو، چي د هغې نوم حضرت خدیجه الکبری ﷝ وه.

★......دا هم وسوه چي کله د اسلام ابتداء وه او نبي ﷺ خلکو ته د دین دعوت ور کوئ، او په هغه کي مشکلات او شهادتونه راتلل نو په اسلام کي د شهادت د ټولو څخه مخکني مرتبه هم په دې امت کي یو زناني پیدا کړه چي د هغې نوم حضرت "سمیه" وه.

تاسو گورئ! په دې وخت کې زنانو څومره لوی اعزازات پیدا کړیدي، او د دین په خاطر یې څومره لوی لوی قرباني پیش کړیدي.

## د شخصیت په تعمیر کې د زنانې کردار:

که تاسو غور وکړی! نو هر کامیابه شخصیت چې په دنیا کې جوړ سوی دی که چیرې د هغه تر شاه نظر وکړئ نو ضرور به د یو زنانې کردار تاسو ته په نظر درځي، کله د مور په شکل، کله د کور والا زنانې په شکل، کله د خور په شکل، کله د لور په شکل.

## د حضرت خدیجې رضي الله عنها کردار:

تاسو اوس واورېدل چې پر نبي ﷺ سید الاولین والآخرین باندې چې کله وحي نازلې سوې، نو کورته راغلی د ﴿زَمِّلُونِيْ زَمِّلُونِيْ﴾ تمنی یې شوې په دې وخت کې دَی مبارک وایي:

........لَقَدْ خَشِيتُ عَلَى نَفْسِيْ﴾.

ماته پر خپل ځان ډېره وېره ده، چې الله تعالی به ما رسوا کړي.

په دې وخت کې سیده خدیجه رضي الله عنها ده ته تسلي ور کوي او ورته وایي ای د الله محبوب ﷺ! ﴿كَلَّا﴾ هیڅکله داسې نه ده.

........إِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ﴾.

ته خو وصله رحمي کوې، د مېلمه اکرام کوې، چې د چا سره څه نه وي، هغه ته مال او دولت ور کوې، او د دین په کارو کې د نورو خلکو مدد کوې، د دې صفاتو په وجه الله تعالی هیڅ کله تا نه رسوا کوي، لهذا د پېغمبر ﷺ په زړه کې تسلي پیدا کېږي.

د پېغمبر ﷺ تر شاه چې کم تعاون دی په دې کې به تاته یو زنانه په نظر درځي چې د ده ﷺ د بې بې حیثیت لري، چنانچه هغې خپل مال پیش کړئ او خپل راحت ئې قربان کړی، او د نبي ﷺ خدمت یې وکړی، چې کم وخت دی خپلو نژدې قریبانو پرېښوی، نو بیا د ده د مدد او نصرت لپاره د حضرت خدیجة الکبری رضي الله عنها شخصیت تر ټولو

زیات نمایان دی، او دا د ده د کور زنانه وه، نو زنانې د دین په خدمت کې تر نارینوو شاته ندي، بلکه د انسانیت د تعمیر خدمت همېشه زنانو کړیدی.

## اصل کمال د مور دی:

خواجه معین الدین چشتي اجمیري رحمة الله علیه د بغداد په دوره راغلی د هغه په یوه دوره کې اووه لکه (۷۰۰۰۰۰) انسانانو د ګناهو څخه توبه وکښه.

او اویا زره (۷۰۰۰۰) هندوانو د ده پر لاس اسلام قبول کړی، چې واپس هندوستان ته راغلی نو ډېر خوشحاله معلومېدی، مور ورته وایې بچیه، ډېر خوشحاله معلومېږې.

دی ورته وایې موري خوشحاله خو څکه یم، چې الله تعالی ماته دا سعادت را کړی، چې زما پر لاس دومره انسانانو د ګناه څخه توبه وکښله، او دومره انسانانو اسلام قبول کړی.

مور ورته وایې بچیه دا ستا کمال ندی، دا زما کمال دی، دی ورته وایې موري خبره خو ډېره صحیح ده لېکن په دې سر را خلاص کړه چې ستا کمال څنګه دی؟

مور ورته وایې بچیه زما کمال داسې دی چې کله ته پیدا سوې، نو ما په زړه کې دا نیت کړی وو، چې زه به هیڅکله هم تاته بې اودسه شیدې نه در کوم، ما په ټوله ژوند کې هیڅ کله هم تاته بې اودسه خپل تی ندی در کړی، دا د هغه برکت دئ چې الله تعالی ستا پر لاس باندې و لکونو انسانانو ته د کلمې ویلو توفیق ور کړی.(۱)

نو حضرت "خدیجه الکبری" په اسلام را ورلو سره تر قیامت پورې چې څومره زنانې راځي د هغو ټولو رهنمائي وکړه او هغه ته یې دا پیغام پرېښوی چې زنانه باید خپله حصه په دیني خدماتو کې د نارینه وو څخه کمه نه وبولي.

- او په اشرافو د قریشو کې حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه مسلمان سو.
- او په غلامانو کې زید ابن حارثه رضي الله عنه، او حضرت بلال رضي الله عنه مسلمانان سول.

(۱) دین ودنیا اور اللہ کی رضا صفحہ: ۱۳۱

- په بچیانو کي حضرت علي ﷺ د لسو (۱۰) کالو په عمر کي اسلام قبول کړی.

تر دري (۳) کالو پوري دغسي خفیه دعوت روان وو، چي یو دم جبرائیل علیه السلام د الله تعالی د طرفه څخه دا آیت را وړی:

........﴿وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ﴾.(۱)

یعني خپل قریب ترین رشته داران د عذابِ الٰهي څخه وبېروه، او د توحید په مسئله سر ور خلاص کړه.

## د قریشو اول محل ضیافت کول:

ده مبارک د حضرت علي ﷺ په واسطه د قریشو د سردارانو لپاره د ضیافت او مېلمستیا ترتیب برابر کړی، او هغه ټولو ته یې د ضیافت دعوت ور کړی، چي په دوی کي د ده قریبي رشته داران عباس، ابو جهل، ابو لهب، ابو طالب وغیره تر څلوېښتو (۴۰) کسانو پوري شرکت وکړی.

د ده دا اِراده وه چي د ډوډۍ څخه وروسته د رشته دارانو په مخکي د توحید او خپل نبوت مسئله پېش کړي، لېکن کله چي هغو ډوډۍ وخوړله، نو "ابو لهب" وېل ای خلکو! "محمد" زموږ پر ډوډۍ جادو کړی وو، چي د یوه سړي خوړکه یې د څلوېښتو (۴۰) انسانانو لپاره کفایت وکړی.

پیغمبر ﷺ لا خبره نه وه شروع کړې، "ابو لهب" د ده د کوره څخه ټوله قریبان ولاړ کړه، د پیغمبر ﷺ چي د زړه کمه خبره وه، هغه په زړه کي دغسي پوشیده پاته سوه.(۲)

## دوهم محل ضیافت کول:

یو څو ورځي بعد پیغمبر ﷺ دوباره د یو دعوت اهتمام وکړی، او خپل قریبان یې بیا را وبلل، په دې کي هغه خلک هم وه چي په مخکي ضیافت کي شریکان سوي وه، چي

---

(۱) الشعراء آیت نمبر ۲۱۴

(۲) علمي تقریرونه، جلد نمبر ۱، صفحه نمبر ۱۰۹

## دوهم ځل ضیافت کول:

یو څو ورځي بعد پیغمبرﷺ دوباره د یو دعوت اهتمام وکړی، او خپل قریبان یې بیا را وبلل، په دې کي هغه خلک هم وه چي په مخکي ضیافت کي شریکان سوي وه، چي کله ټولو په ماړه نس باندي ډوډۍ وخوړله، نو پیغمبرﷺ په دې شکل دوی ته وینا شروع کړه.

ای بني عبدالمطلب! د الله تعالی په دې پراخه مځکه کي تر اوسه پوري زما څخه زیات بهتر دین یعني دین اسلام هیڅ انسان هم دې مځکي ته ندی پیش کړی.

زه تاسو ته د الله تعالی هغه فرمان پیشوم چي ستاسو د ټولو پر دیني ضروریاتو باندي حاوي دئ، او ستاسو د آخرت د کامیابۍ لپاره کافي دی، نو ماته د الله حکم دی، چي اوس زه تاسو ته د دین هغه ټولي ښې طریقې پیش کړم.

اوس به دې ته ګورو چي په تاسو کي کم یو دا سعادت حاصله وي، او زما خبره مني، د الله تعالی د رسول مدد ګار د ځانه جوړوي.

چي کله د نصیحت دا سیده او واضح کلمات داسي وه، چي د هر انصاف پسند انسان پر طبیعت باندي اثر کوی.

لیکن ازلي بد بخت "ابو لهب" په زوره قهقهه او خندا وکړه، د پیغمبرﷺ اکا ته وایي چي ای ابو طالبه! هغه وراره چي تا تر خپل زوی و ځان ته ډېر قریب کړی وو، نن و تاته وایي، چي زما اطاعت وکړه او زما تابعداره سه.

پر دې باندي ټولو مذاق او مسخرې شروع کړې، پیغمبرﷺ ولاړ دئ او د قریشو د طرفه مذاق پر مذاق او خندا پر خندا پر ده باندي کیږي، یو څه وخت وروسته هغه خلکو پر "ابو طالب" د مذاق آوازونه کول، او د کوره ځني ووتل. پر خپل کفر او شرک او پر خپله بت پرستي یې یو و بل ته تلقین ور کوی.(۱)

(۱) علمي تقریرونه؛ جلد نمبر۱، صفحه نمبر۱۰۹

..........وَعَجِبُوا اَنْ جَاءَهُمْ مُنْذِرٌ مِنْهُمْ وَقَالَ الْكَافِرُونَ هَذَا سَاحِرٌ كَذَّابٌ﴾. د قریش کفارو پر دې خبره تعجب کوئ، چې دوی ته یو بېرونکی راغلی دی، او دې کافرانو به ویل چې دا درواغجن او جادوګر دی.

..........أَجَعَلَ الْآلِهَةَ إِلَهًا وَاحِدًا إِنَّ هَذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ﴾. او دوی وایي: ایا د دې دونه خدایانو د بندګۍ په بدله کي به اوس د یو خداي بندګي کیږي، دا هم ډېره د تعجب خبره ده.

..........وَانْطَلَقَ الْمَلَأُ مِنْهُمْ أَنِ امْشُوا وَاصْبِرُوا عَلَى آلِهَتِكُمْ إِنَّ هَذَا لَشَيْءٌ يُرَادُ﴾. او د دوی څخه سرداران ولاړ سوه، سره ویل به یې چې پر خپلو خدایانو کلک ودرېږئ، بې شکه دا زموږ غرض او مقصد دی.

..........مَا سَمِعْنَا بِهَذَا فِي الْمِلَّةِ الْآخِرَةِ إِنْ هَذَا إِلَّا اخْتِلَاقٌ﴾. دا کمي خبري چې محمد ﷺ و موږ ته کوي، په مخکني دینو کي موږ نه دي اورېدلي، نور هیڅ نه دي صرف د ځانه څخه جوړ سوي درواغ دي.(۱)

## تفسیر:

یعني دومره بې شماره خدایان ختم کول صرف یو خدای باقي پرېښول، د دې څخه لویه د تعجب خبره به کمه وي، د دې دومره لوی جهان انتظام، یواځې یو خدای ته سپارل او په مختلفو شعبو او محکمو کي چې د کمو خدایانو بندګي د ډېرو قرنو او زمانو څخه راغلې ده هغه ټوله یک دم موقوفه کول، ګویا زموږ پلار او نیکه ګان جاهلان او بې وقوفه وه، چې د دې دومره خدایانو و مخته یې د عبودیت سر کړاوی.

## د ابو طالب په کور کي مجلس جوړېدل:

په روایاتو کي راځي چې د "ابو طالب" د بیمارۍ په وخت کي سرداران د قریشو راغلل "ابو طالب" ته یې شکایت وکړی، چې دا ستا وراره زموږ معبودانو ته بدي خبري کوي، او موږ ته رنګارنګ د بېوقوفۍ او حماقت القاب را کوي.

(۱) سورة "ص" آیت نمبر: ۴، ۵، ۶، ۷

د مجلس په دوران کي "ابو طالب" پیغمبرﷺ را طلب کړی، چي کله حاضر سو، نو د قریشو په مخ کي یې د دوی شکایت ورته پیش کړی، پیغمبرﷺ ورته وایي:

..........﴿يَا عَمِ، كلمة وَاحِدَة تعطونها تَمْلِكُونَ بِهَا الْعَرَبَ وَتَدِينُ لَكُمْ بِهَا الْعَجَمُ﴾.

ای اکا جانه! زه د دوی څخه صرف یوه کلمه غواړم، چي د هغه څخه وروسته به ټوله عرب د دوی مطیع او فرمانبرداره سي، او د عجمو قومونه به د دوی په خدمت کي جزیې او مالونه پېشوي.

قریشو چي کله دا واورېدل ډېر خوشحاله سول:

..........﴿فَقَالَ أَبُو جَهْلٍ: نَعَمْ وَأَبِيكَ وَعَشْرَ كَلِمَاتٍ﴾.

نو ابو جهل ورته وویل چي کله ته زموږ څخه یوه کلمه غواړې هغه زموږ په حق کي دومره خیر ده زما دي ستا په پلار قسم وي، چي یو ځل نه لس ځله به یې وایم.

..........﴿قَالَ: تَقُولُونَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَتَخْلَعُونَ مَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِهِ﴾.

پیغمبرﷺ ورته وایي: چي د ﴿لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ﴾ کلمه ووایاست او د الله د ذات څخه ماسوا چي د کمو خدایانو عبادت کوی د هغه څخه کناره کشي وکړی.

..........﴿فَصَفَقُوا بِأَيْدِيهِمْ﴾.

دوی چي کله دا واورېدل نو لاسونه یې وټکول او چک چکي یې وکړې.

..........﴿ثُمَّ قَالُوا: يَا مُحَمَّدُ أَتُرِيدُ أَنْ تَجْعَلَ الْآلِهَةَ إِلَهًا وَاحِدًا؟ إِنَّ أَمْرَكَ لَعَجَبٌ﴾.

او ویل به یې چي ای محمده! ته زموږ ټوله خدایان په یو خدای را بدلوې، دا ډېره د تعجب خبره ده.

نو دوی پخپل مابین کي وصیتونه سره شروع کړل، چي تاسو پر خپلو خدایانو باندي مضبوط العقیده اوسئ، هسي نه چي د "محمد" په خبرو کي را نسئ!.

"ابو طالب" چي کله د پیغمبرﷺ ښکاره او صفا خبره واورېدله، او د قریشو تجاوز او ناجائز یې ولیدل نو پیغمبرﷺ ته وایي چي ای بچیه! دوی چي ستا د خبري په مقابل کي څه وکړل دا د دوی ظلم دی.

پیغمبرﷺ چي کله د "ابو طالب" همدردي او شفقت ولیدی، او د هغه وینا یې د مهربانۍ او شفقته ډکه ولیدله، نو د "ابو طالب" د اسلام را وړلو طمع یې پیدا سوه، د قریشو په مخکي "ابو طالب" ته وایي:

.........﴿أَيْ عَمّ فَأَنْتَ فَقُلْهَا أَسْتَحِلُّ لَكَ بِهَا الشَّفَاعَةَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾.

ای اکا جانه! دوی که دا کلمې ته تیار نه دي ته دا کلمه ووایه د قیامت په میدان کي به ستا شفاعت کول ماته حلال وي، او زه به د دې کلمې په ذریعه ستا شفاعت کوم، او زما په شفاعت به الله تعالی تا د عذابه څخه محفوظه ساتي.

..........﴿فَلَمَّا رَأَى حِرْصَ رَسُولِ اللّٰهِﷺ﴾.

چي کله "ابو طالب" د پیغمبرﷺ د کلمې پر وینا باندي ډېر حرص ولیدی نو ورته وایي:

..........﴿قَالَ: يَا بن أَخِي وَاللّٰهِ لَوْلَا مَخَافَةُ السَّبَّةِ عَلَيْكَ وَعَلَى بَنِي أَبِيكَ مِنْ بَعْدِي، وَأَنْ تَظُنَّ قُرَيْشٌ أَنِّي إِنَّمَا قُلْتُهَا جَزَعًا مِنَ الْمَوْتِ لَقُلْتُهَا، لَا أَقُولُهَا إِلَّا لِأَسُرَّكَ بِهَا﴾.(۱)

ای وراره! که چیري دا غم او بېره نه وای چي خلک بهٔ ماته ښکنځل او پېغور را کوي، او زما څخه وروسته به زما بچو او تا ته خلک پېغور در کوي، چي "ابو طالب" د مرگ د بیري څخه کلمه وویله، ما به یقینًا اوس پر تا کلمه ویلې وای ځکه ماته دا معلومه ده، چي ستا دین د دنیا په ادیانو کي تر ټولو بهترین دین دی.

که نور هیڅ نه وای صرف او صرف ستا د خوشحالۍ لپاره مي ویلې وای، خو لېکن پېغور زما و مخته ډېر لوی مانع دی.

(۱) سیرت ابن هشام، باب ما نزل فیمن طالبوا العهد علی الرسول، صفحه نمبر ۴۱۸

نو په روایاتو کې راځي ﴿فَاخْتَارَ النَّارَ عَلَی الْعَارِ﴾ د جهنم اور یې د ځان لپاره خوښ کړی د تکبر او پیغور څخه یې د ځان خلاصولو په وجه د کلمې د ویلو څخه انکار وکړی.

په حدیث شریف کې راځي؛

﴿اَلْمُهْلِكَاتُ الثَّلَاثَةُ﴾ درې (۳) امور انسان د هلاکت سره مخامخ کوي او د ټولو ګناهونو بنیاد بلل سوي دي.

۱. "اَلْكِبْرُ": اول کبر دئ ځکه تکبر د ابلیس په دماغ کې راغلی چې هغه کبر ابلیس دې ته اماده کړی، چې آدم علیه السلام ته به سجده نه کوې، نو د الله تعالی د درګاه څخه رانده سو.

۲. "اَلْحِرْصُ": دوهم حرص دی یعني طمع کول چې کله د آدم علیه السلام په دماغ کې حرص راغلی د نو د دانې د خوړلو په وجه د جنت څخه را ویستل سو.

۳. "اَلْحَسَدُ": دریم حسد دی چې هغه "قابل" د "هابل" و مرګ ته تیار کړی او په دنیا کې یې د قتلونو بنیاد کېښېښوی.(۱)

نو دا امور د ګناهونو بنیاد دي، خو په دې ټولو کې بیا اولنی بنیاد دګناهونو هغه تکبر دئ، الله تعالی دې مو پخپل حفاظت کې ځني وساتي.

چونکه بنیادي طور پیغمبر صلی الله علیه وسلم یو نظام د دې خلګو و مخته کېښېښوی، چې د دوی د باطلو عقائدو سره ټکر وو، په دې وجه چې کم خلک پنځه (۵) منته مخکي په دې قائل وه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم جامع الکمالات، جامع الصفات، صادق الآمین دی.

پنځه (۵) منته وروسته یو دم هغه ټوله نقشه بدله سوه، د "صادق" پر ځای یې "کاذب" ورته ویل، او د "امین" پر ځای یې "ساحر" او جادوګر ورته ویل؛ او په نفرت او په چیغو کې خپلو کورو ته سره ولاړل.

(۱) خطبات جمیل صفحه، ۱٦٥

چنانچه د "تاريخ عالم" داغه نقشه ده چې د حق او د باطل به همېشه سره مقابله وي او دا مقابله به تر قيامته پورې روانه وي.

الله تعالی دې زموږ د ټولو حفاظت وکړي او الله تعالی دې دا څو خبرې پخپل دربار کې قبولې او مقبولې وګرځوي.

آمين يا رب العالمين

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

1

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الایه)

# د نبوت عام اعلان

(بیان)


مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن



مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاريـــخ | جمادي الاولى ١٤٤٢ بمطابق ٢٤ جنوري ٢٠٢١ |
| تـعـــداد | (١١٠٠) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ﴾.(١)

وقال رسول الله ﷺ ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ قُولُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ تُفْلِحُوا فإني نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## د نبوت اعلان:

محترمو حاضرينو! چي كله حضور اكرم ﷺ ته نبوت ور كول سو، او د نبوت د عظيمي سرمايې سره دَی مکې مکرمې ته راغلئ نو تر درو (۳) کالو پوري يې پټپل کور او خپل خاندان کې پټ دعوت جاري وساتی.

په "مکه مکرمه" کي د نبوت دوهمه مرحله راغله چي درې (۳) کاله وروسته الله تعالى ده ته په ښکاره الفاظو د عامو انسانانو و مخته د نبوت د واضح اعلان کولو حکم وکړی.

(١) سورة الحجر آيت نمبر: ۹۴

(٢) دلائل النبوت باب قدوم طارق بن عبدالله صفحه: ۳۸۰

## د صفا پر غونډۍ خلک را جمع کول:

حضور اکرمﷺ د عربو د عام عادت مطابق د دې اعلان اهتمام وکړ، د عربو عام عادت دا وو که به یو سړي یو اهم اعلان کوئ، یا به یې یو خوف ناکه خبر د قوم و مخته پېشوی.

نو د هغه لپاره به پر یو غره یا پر یو ښکاره ځای ودرېدی، و ځان ته د متوجه کولو لپاره به یې د خلکو و مخته په یو مخصوص انداز سره اعلان کوی،

چې کله به خلک را جمع سول، نو بیا به یې خپله خبره د هغو و مخته ایښوله او د خلکو له طرفه به یې پر هغه خبره باندې حمایت حاصلوی، نو په روایاتو کې راځي چې:

.........خرج رَسُول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى أَتَى الصَّفَا، فَصَعِدَ عَلَيْهِ فَهَتَفَ﴾.

د دې عادت مطابق پیغمبرﷺ د بیت الله و مخته د صفا پر غونډۍ وختی او پر لوړه ډبره ودرېدی او دا رنګه اعلان یې وکړی:

.........يَا صَبَاحَاهُ وَاصَبَاحَاهُ﴾.

ای خلکو! د سهار په وخت کې چې کم لښکر پر یو قوم حمله کوي د هغه لښکره څخه ووېرېږی.

چونکه پیغمبرﷺ د مکې مکرمې په معاشره کې په خلکو کې صالح، وقیع، او صادق الآمین، بلل کېدی، لهذا د ده آواز خلکو په ډېر اهمیت سره واورېدی، او ټول د ده طرفته په منډه راغله، په لږ وخت کې د صفا غونډۍ د مکې د اوسېدونکو څخه ډکه سوه، چې کم سردار په خپله نه سو راتلای، هغه د خپل طرفه څخه یو بل څوک د نمائنده په شکل را واستوی، چې ته ورسه دا سړی څه اعلان کوي؟

.........فَلَمَّا اجْتَمَعُوا إِلَيْهِ﴾.

چې کله خلک دلته را جمع سوه نو پیغمبرﷺ د ټولو څخه مخکې د خپل ذات او سیرت متعلق د قریشو و مخته دا رنګه سوال کښېښوی.

.........لَقَدْ لَبِثْتُ فِيكُمْ عُمُرًا اَفَهَلْ وَجَدتُمُوْنِيْ صَادِقًا اَمْ كَاذِبًا﴾.

ما خو په تاسو کې يو ډېره اوږده زمانه عمر تېر کړی، زما ماشوم والی زما هلک والی او زما ځواني ټوله په تاسو کې تېره سوه او اوس د پاخه عمر په وخت کې ستاسو په مابين کې ولاړ يم، ايا پدې اوږده زمانه کې تاسو زه رشتيا ويونکی او که درواغ ويونکی پيدا کړم.

دا يو ډېر حکيمانه سوال وو او ډېر سخت سوال هم وو، د څلوېښت (۴۰) کاله زندګی پوره سيرت او کردار د قوم و مخته ايښول او بيا پر هغه باندې د هر کشر او مشر څخه رايه طلبول او بطور چيلنج د عيب ويلو لپاره خپله زندګي هغو ته پېشول، څه معمولي خبره نه وه.

قريشو ټولو په يوه خوله دا جواب ورکړی:

..........﴿قَالُوْا جَرَّبْنَاکَ مِرَارًا فَمَا وَجَدْنَا فِيْکَ اِلَّا صِدْقًا﴾. موږ خو ډېر ځله ته تجربه کړی يې مګر د رشتيا بغير په تا کې بل خصلت موږ ندی پيدا کړی.

د دې توثيق او تائيد وروسته حضور ﷺ ورته وايي چې زه د غره پر څوکه باندې ولاړ يم ما ته د دې غره دواړه طرفه په نظر راځي، کچيري زه تاسو ته دا ووايم:

..........﴿اَنَّ خَيْلًا تَخْرُجُ مِنْ سَفْحِ هٰذَا الْجَبَلِ اَکُنْتُمْ مُصَدِّقِيَّ﴾. چې د دې غره د دې بل طرف څخه يو لښکر پر تاسو د حملې کولو لپاره تيار ولاړ دی، ايا تاسو به زما خبره ومنئ؟

..........﴿قَالُوا: مَا جَرَّبْنَا عَلَيْکَ کِذْبًا﴾. قريش ورته وايي چې موږ ته رشتونی ښللی يې، ستا پر خبره به اعتماد کوو، موږ تر اوسه په تا کې درواغ ندي تجربه کړي، نو د دې څخه وروسته پيغمبر ﷺ ورته وايي:

..........﴿قُوْلُوْا لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ تُفْلِحُوْا فَاِنِّي نَذِيْرٌ لَّکُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيْدٍ﴾.

ای خلکو! د ﴿لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ﴾ کلمه ووايا ست! پدې کې ستاسو نجات دی او پدې به سر خلاص کړی چې زه تاسو ته د يو سخت او دردناکه عذاب څخه د بېرولو لپاره راغلی يم، چې هغه عذاب بالکل ستاسو و مخته دی.

قریښو چي کله دا اعلان واوریدی، نو ټول یو طرف او بل طرفته منتشر او متنفر سوه، چا غوصه کوله، چا مذاق او مسخري کولې، د حضور اکرمﷺ اکا "ابو لهب" د ده و طرفته یو لوی کاڼی را پورته کړی، او ورته وایي:

..........تبًّا لَكَ سَائِرَ الْيَوْمِ أَلِهَذَا جَمَعْتَنَا؟﴾. ته هلاک سې دا دومره قوم دي دا ټوله ورځ صرف د دې خبري لپاره را جمع کړی وو. (۱)

..........فَأَنزَلَ اللهُ تَعَالَى: تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ﴾.

د هغه په جواب کي الله تعالی د قرآن کریم سورة لهب را نازل کړی چي په عامو منبرو او محرابو او عیدګاوو کي یې "ابو لهب" رسوا کړی.

پدې کي دې طرفته اشاره وه چي کم سړی د پیغمبرﷺ توهین کوي الله تعالی په لس (۱۰) چنده باندي جواب ور کوي، لکه: څنګه چي یو څل یو څوک درود ووایي د هغه څخه لس رحمتونه پر انسان را نازلیږي.

د نبوت د اعلان څخه وروسته د حق او باطل یو ډیره لویه مقابله شروع سوه، چي د هغه بیانول دومره مشکل دي چي کله هغه سړی اوري، نو پر انسان باندي د جزباتو کیفیات غالبه کیږي.

## د نبوت د اعلان څخه وروسته مصائب راتلل:

د صفا پر غونډی باندي چي کله د حق اعلان وسو د هغه څخه وروسته د حق او باطل مقابله شروع سوه، هغه سړی چي لس (۱۰) دقیقې مخکي ټولو انسانانو په صادق او په امین سره یادوی، اوس یې ټول په ساحر، کاذب، او مجنون سره یادوي.

او د مکې مکرمې هر سړی چي په کم شکل ده ته بنکنځل او بده وینا کوای سي، په هغه شکل یې ورته کوي.

(۱) شرف المصطفی، باب ما خص به النبيﷺ، صفحه نمبر ۱۳۵

★.... "ابو لهب" په پیغمبر ﷺ پسې سو، چې کله به حضور اکرم ﷺ په یو عامه مجمع کې یا په یو عامو ځایو کې یا د تجارت په بازارو کې د نورو علاقو راغلو انسانانو ته دعوت ور کوی، نو ده به ویل؛

......... ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ قُولُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ تُفْلِحُوا﴾.

ای خلکو! دا اقرار وکړی چې حاجت روا او مشکل کشا صرف یو د الله ذات دی تاسو به کامیابه سی.

"ابو لهب" به تر شاه ور پسې وو او هغه خلکو ته به یې ویل دا زما وراره دی، دا لېونی سوی دی، د یوې خوا او بلې خوا خبرې کوي، د ده خبرې مه اوری او کله به یې یو مټ د خاورو ډک د پیغمبر ﷺ په سترګو کې ور پاشی، او خلک به یې د ده څخه لیرې کړل.(١)

## د ابو لهب د زوی "عتیبه" واقعه:

د ابو لهب د یو زوی نوم "عتبه" او د دوهم زوی نوم ئې "عتیبه" وو د اعلان نبوت څخه مخکې د پیغمبر ﷺ د دوو (٢) لوڼو "رُقیه" او حضرت ام کلثوم رضي الله عنها نکاح د "ابو لهب" د دې دوو (٢) زامنو سره سوې وه، صرف نکاح سوې وه او واده لا نه وو سوی چې کله د اسلام آغاز او شروع وسوه او "سورة لهب" نازل سو.

نو "ابو لهب" او د ده زنانې "ام جمیل" په غصه کې خپلو زامنو ته وویل که تاسو د محمد لوڼو ته طلاق ور نه کړی، ستاسو مخونه بیا موږ نه وینو، یعني موږ ستاسو څخه بې زاره یو، چنانچه هغو دواړو د پیغمبر ﷺ و لوڼو ته طلاق ور کړی او دا رشته یې د اسلام د دښمنۍ پر بنیاد باندې ختمه کړه، چونکه دا دواړې زنانې د پیغمبر ﷺ بچیانې وې، نو پدې وجه دوی دا عمل وکړی.

پر دې موقعه باندې "عتیبه" د پیغمبر ﷺ مخته راغلی او د هغه خدمت ته حاضر سو او د پیغمبر ﷺ په شان کې یې ګستاخي وکړه، پیغمبر ﷺ چونکه د خپلې لور د طلاق

(١) علمي تقریرونه، جلد نمبر١، صفحه نمبر١١٣

په وجه د مخکي شخه هم غمجن وو، بیا چي کله استهزاء وسوه نو پدې حالاتو کي پیغمبرﷺ هغه ته بنراء وکړه چي ای الله! د خپلو سپیانو شخه یو سپی پر ده باندي مسلط کړې.

"عتیبه" چي کله دا بنراء واورېده نو راغلی خپل پلار ته یې دا قصه وکړه، د هغه شخه وروسته پلار او زوی دواړه د یو قافلې سره د شام طرفته روان سوه، په لاره کي یو ځای قافله ودرېدله هلته نژدې د یو "راهب" عبادت ګاه وه، هغه ورته راغلی قافلې والا ته یې وویل چي پدې علاقه کي زنګلي درندګان اوسېږي.

"ابو لهب" چي دا واورېدل د ېر خوف زده سو ځکه د "پیغمبر" بنراء په یاد ورغله نو قافلې والا ته یې وویل تاسو زما د حیثیت شخه با خبره یاست او په دې هم پوهېږی چي زما پر تاسو څه حق دی.

هغو په یوه خوله ورته وویل بېشکه موږ ته معلومه ده چي ته پر موږ حق لرې، "ابو لهب" چي دا واورېدل نو یې ورته وویل تاسو به زما مدد کوئ، زه د "محمد" د بنراء شخه په بېره کي یم، تاسو به زما سامان پدې عبادت ګاه کي کښېږدئ او پر هغه سربېره به زما د زوی بستره هواره کړئ او تاسو به څلور (۴) طرفه شاه وخوا ورته پرېوځئ.

هغه خلګو داسي وکړه بلکه خپل اوښان یې هم شا وخوا را وګرځول پدې شکل "عتیبه" د ټولو په درمیان کي پرېوتی او ټولو د هغه چوکیداري کوله، د دې ټولو احتیاطي تدابیرو باوجود د پیغمبرﷺ پېش ګویي پوره سوه.

نیمه شپه وه یو زمری راغلئ او دا بیده خلک یې بوېول، د یوه یوه د بویلو سره مخته تلئ، آخر په غورځېدلو سره "عتیبه" ته ورسېدی، او د رسېدلو سره سره یې "عتیبه" سره څیري کړئ او پر هغه ځای یې ختم کړی. ([1])

([1]) علمي تقریرونه، جلد نمبر۱، صفحه نمبر۱۱۵

## ابو جهل ته د اسلام دعوت ور کول:

د سیرت په کتابو کي لیکلي دي چي پیغمبرﷺ د "ابو جهل" کور ته دري زره (۳۰۰۰) واره د دعوت ور کولو لپاره ورغلی دی، یو ځل په مکه مکرمه کي باران دی او طوفان دی او خلک د ډیري بیري او خوف څخه په خپلو کورو کي محبوس او بند پاته دي، هیڅوک هم د خپل کوره څخه د باندي را وتلو فکر او سوچ نسي کولای.

چي کله د شپې یو څه حصه تېره سوه، نو د "ابو جهل" د کور دروازه وټکېدله ابو جهل خپلي زناني ته وایي چي په دې وخت کي چي کمځوک زموږ د کور دروازه ټکوي د دې څخه دا معلومیږي چي دا سړی ډېر زیات ضرورت مند دی، چي پدې وخت کي زموږ کورته د راتلو دپاره مجبوره سویدی.

"ابو جهل" خپلي زناني ته وایي زما دي په رب د کعبې قسم وي چي دا سړی ماته دومره مجبوره معلومیږي چي د ده د ضرورت پوره کولو په خاطر زه دا وایم کچیري دا سړی زما څخه نن پدې وخت کي د لور د نکاح پیغام و غواړي، لا به هم زه انکار نه ځني وکړم، او د ده ضرورت به ضرور ورپوره کړم.

"ابو جهل" چي کله دروازې ته راغلی که ګوري پیغمبرﷺ دروازې ته د مجبور او ضرورت مند شخص په شکل ولاړ دی.

"ابو جهل" ورته وایي چي پدې وخت کي څنګه راغلې، نو دی په جواب کي ورته وایي چي زما په زړه کي دا خبره راغله چي ممکنه ده په دې وخت کي به الله ستا زړه د دین لپاره نرم کړیوي.

"ابو جهل" چي کله خبره واورېدله چونکه هغه ازلي بدبخت او شقي دئ نو د څه ویلو بغیر بیرته خپل کور ته ننوتی.

پیغمبرﷺ په دروازه کي ډېر انتظار وکړی، چي کله مایوس او نا امیده سو، نو د انتظاره وروسته د یو مایوس او نا امیده انسان په شکل خپل کور ته روان سو.

**پیغمبرﷺ ته تکلیف رسول:**

د حضرت مُنیب غامدي ﷛ څخه روایت دی چي ما پیغمبرﷺ ولیدی چي د "مِنٰی" په دره کي ولاړ دی او خلکو ته د توحید خبره کوي، چي کله نوو ارده (یعني نوي راغلي) خلک تیریږي نو هغه را ګرځوي او د توحید دعوت ورته پیشوي، تر دې حده پوري ﴿حَتَّى انْتَصَفَ النَّهَارُ﴾ چي لمر پر سر راغلی، دَی پخپل دعوت کي لګیا دی.

د قریشو یو څه نوجوانان راغلل دی هغو ته د اسلام دعوت پیشوي، هغه چي کله د ده دعوت اوري، نو په هغوی کي یوه بد بخت د ده لنګوټه مبارکه ونیوله یو بل "شقی القلب" انسان د ده په غاړه کي هغه لنګوټه ور واچوله او دریم پر دې مخ لاړي ور توه کړې، هغه بل هم ور توه کړې، آخر یو بد بخت انسان لاس د خاورو ډک کړی او پر دې مخ یې ور وپاشلې چي د ده مخ مبارک په خاورو او ختو ولړل سو، پر هغه ځای کښېنستی.

"حضرت منیب" د اسلام را وړلو څخه وروسته فرمایي: چي زما دي د الله په ذات قسم وي، چي کم مخ الله تعالی په ﴿وَالضُّحٰى﴾ ستایلی وو، هغه په خاورو او ختو لړلی ما لیدلی دی.

د دومره پرېشانۍ څخه وروسته هغه قریشان ورته وایي که دوباره تا زموږ د خدایانو خلاف خبره وکړه، بیا به دي ګورو.

په دې دوران کي د قریشو یوه ماشومه زنانه په منډه راغله چي د منډي څخه د هغې غاړه د خپل څادر او پوړني څخه ښکاره سوه،

........وَأَقْبَلَتِ امْرَأَةٌ قَدْ بَدَا نَحْرُهَا تَحْمِلُ قَدَحًا وَمِنْدِيلًا، فَتَنَاوَلَهُ مِنْهَا وَشَرِبَ وَتَوَضَّأَ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ وَقَالَ: يَا بُنَيَّةُ خَمِّرِي عَلَيْكِ نَحْرَكِ، وَلَا تَخَافِي عَلَى أَبِيكِ. قُلْنَا: مَنْ هَذِهِ؟ قَالُوا: زَيْنَبُ بِنْتُهُ﴾.

نو هغه زنانه په لاس کي اوبه را څغلوي او د دې سري لاسونه او مخ ور مینځي او چي کله د ده دې بې وسعۍ او بې کسۍ ته ګوري نو هغه دېره ژړا کوي، نو دَی هغه زنانې ته تسلي ور کوي، ورته وایي بچیه ته ژاړه مه! او دا خپله غاړه پټه کړه چي کم دین ستا

پلار را وړی دی، زما په خدای قسم، چي یو وخت به داسي راځي چي د مکې هر کچه او پاخه کور ته به ستا د پلار دین ورننوځي.[1]

ما د خلکو څخه پوښتنه وکړه چي دا سړی څوک دی؟ نو دوی راته وویل: چي دا "محمد بن عبد الله" دئ، چي کم چا په مکه کي د نبوت دعوه کړې ده، او دا زنانه د ده لور "زینب" ده، چي د ده د کومک لپاره راغله.

د طارق ابن عبدالله المحاربي ﷺ څخه یو روایت را نقل سویدی چي ما رسول الله ﷺ د "ذی المجاز" په بازار کي ولیدی چي دا یې ویل:

............﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ قُولُوا: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ تُفْلِحُوا﴾ ای خلکو! د توحید کلمه ووایاست ستاسو لپاره کامیابي ده.

............﴿وَرَجُلٌ يَتْبَعُهُ بِالْحِجَارَةِ﴾. یو سړی په پسې دی په کانړو یې ولي.

............﴿وَهُوَ يَقُولُ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ! لَا تُطِيعُوهُ فَإِنَّهُ كَذَّابٌ﴾. او دا وایي ای خلکو! د ده خبره مه منئ دا درواغجن دی.

﴿قُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالُوا: غُلَامٌ مِنْ بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِب، قُلْتُ: فَمَنْ هَذَا يَتْبَعُهُ يَرْمِيهِ؟ قَالُوا: هَذَا عَمُّهُ عَبْدُ الْعُزَّى وَهُوَ أَبُو لَهَبٍ﴾.

ما پوښتنه وکړه چي دا څوک دی؟ دوی راته وویل چي د عبدالمطلب د خاندان یو بچی دی، ما ویل دا د بري ویشتونکی څوک دی؟ دوی راته ویل دا یې خپل اکا عبدالعزی (یعني ابو لهب) دی.[2]

د "بني کنانه" یو شیخ وایي چي ما پیغمبر ﷺ د ذی المجاز په بازار کي ولیدی:

.........﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ، قُولُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ تُفْلِحُوا﴾. چي خلکو ته د توحید د کلمې او د کامیابۍ دعوت ور کوي.

---

(۱) المعجم الکبیر للطبراني، باب الحارث بن حارث الغامدي صفحه، ۲۶۸
(۲) کنز العمال حدیث، ۳۵۵۳۸

..........قَالَ: وَأَبُو جَهْلٍ يَحْثِي عَلَيْهِ التُّرَابَ﴾. او "ابو جهل" ورپسې دی دا خپل موټان د خاورو ډکوي او پر مخ يې ورپاشي.

..........وَيَقُولُ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ، لَا يَغُرَّنَّكُمْ هَذَا عَنْ دِينِكُمْ، فَإِنَّمَا يُرِيدُ لِتَتْرُكُوا آلِهَتَكُمْ، وَتَتْرُكُوا اللَّاتَ وَالْعُزَّى﴾.

او دا وايي چي ای خلګو! د دې سړي خبره مه منئ! دا تاسو د خپل دينه څخه دوکه کوي او د دې اراده دا ده چي تاسو د خپلو بتانو څخه بې زاره کړي.(١)

## د تکليف رسولو يو بله واقعه:

يوه ورځ پيغمبرﷺ په مسجد حرام کي لمونځ کوی، نژدې يو څه حيوانان ذبح سوي وه ځکه هغه خلګو به د خپلو خدايانو پر نامه قرباني کولې، په دې حيوانانو کي د يوه حيوان لړی او کولمې دلې پرتې وې.

"ابو جهل" خپلو ملګرو ته وايي ايا په تاسو کي داسي سړی سته چي دغه لړي او کولمې د "محمد" پر سر وراچوي؟

په يو روايت کي داسي ليکلي دي: ايا تاسي هغه منظر ليدل نه غواړئ؟ په تاسو کي به څوک داسي وي چي هلته ولاړ سي، چي فلانی قبيلې حيوانان ذبح کړيدي، د هغه ګوبر او وينې، لړي او کولمې او د هغه ګندګي د هغه ځايه څخه را واخلي او د "محمد" د سجدې انتظار وکړي چي څنګه دی پر سجده پرېوزي، نو دا ګندګي د ده د اوږو په مابين کي کښېږدي.

په مشرکينو کي يو سړی ولاړ سو چي د هغه نوم "عقبه ابن ابي معيط" وو او دا په خپل قوم کي د ټولو څخه زيات بد بخته انسان وو، نو را ولاړ سو، هغه لړي او کولمې يې راوړلې چي کله پيغمبرﷺ د سجدې په حالت کي وو، نو په اوږو کي يې ور کښېښولې.

(١) مسند احمد حديث: ١٦٦٠٣

پر دې باندې مشرکانو په زوره زوره خنداوې وکړې، تر دې حده پورې چې د خپلو خنداگانو څخه بې حاله سوه، او یو پر بل باندې غوځارېدل.

په دې دوران کې یو چا حضرت "فاطمة الزهراء" ته وویل په دې وخت کې د هغې عمر مبارک تقریبًا څلور (۴) یا پنځه (۵) کاله وو، په ډېره منډه راغله او د ده څخه یې هغه بوج پورته کړی، د هغه څخه وروسته پیغمبر ﷺ د سجدې څخه را پورته سو.

د لمانځه څخه چې کله فارغه سو، نو ده د دې ټولو په حق کې ښراء وکړه، چې ای الله! قریشو ته سزا ور کړې، ای الله! قریشو ته سزا ور کړې، ای الله! قریشو ته سزا ور کړې.

چې کمو کسانو خندا کوله چې کله یې د پیغمبر ﷺ ښراء واورېدله د هغه ښراء په وجه په ډېر وهم او خوف کې سوه، د هغه څخه وروسته پیغمبر ﷺ نام په نام یادول او ښراء یې ورته کول، ای الله ته "عمر بن هشام" ته سزاء ور کړې، (یعني ابو جهل ته) "عقبه ابن معیط" او "أمیه ابن خلف" ته سزاء ور کړې.

حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ وایي د خدای په ذات قسم چې پیغمبر ﷺ د کمو قریشانو نومونه اخیستي وه، ما په غزوه بدر کې په خپلو وینو او خاورو باندې لړلي ټول په ریګو کې پراته ولیدل او بیا د هغه بدنونه په یو کنده کې واچول سول.(١)

## یوه بله واقعه:

داغه رنګه حضرت عثمان غني ﷺ فرمایي یو ورځ پیغمبر ﷺ طواف کوی، په دې وخت کې د ده لاس د ابوبکر په لاس کې وو، د "حجر اسود" سره درې (۳) کسان ناست وه، چې کله دی د "حجر اسود" سره را تېرېدی او نژدې راغلی، نو دې درو (۳) کسانو به د پیغمبر ﷺ پر ذات باندې مذاق او مسخرې کولې، او د پیغمبر ﷺ په حقله به یې بیهوده جملې استعمالولې، چې کله به دا جملې پیغمبر ﷺ واورېدلې نو ده ته به تکلیف رسېدی او د تکلیف اثار به د ده په مخ کې ښکاره کېدل.

(١) سیرت مصطفی، جلد نمبر١ صفحه نمبر٢٠٧

په دې کسانو کي به ابو جهل ورته وويل چي ته موږ د هغه خدايانو د عبادت څخه را ګرځوې چي زموږ پلار او نيکه د هغه عبادت کړی دی، موږ ستا سره صلح نه کوو، په جواب کي پيغمبرﷺ ورته وويل چي زما هم دا حال دی، چي کله څني تېر سو.

د هغه څخه وروسته هغوی بيا داسي وکړه او بې هوده کلمات يې استعمال کړل، نو د پيغمبرﷺ رنګ مبارک متغير سو، او ودرېدی او ورته وې ويل چي زما دي په خدای قسم وي، که تاسو د دې خپلو اعمالو څخه نه را وګرځی، نو د الله عذاب به ډېر ژر پر تاسو راسي.

حضرت عثمانؓ فرمايي چي په دې وخت کي داسي سړی نه وو چي هغه به د ويري او د خوف څخه نه بلګېدی.

پيغمبرﷺ د هغه څخه وروسته د کور پر طرف روان سو او موږ په پسې وو په دې وخت کي ده دا ويل:

.........أَبْشِرُوا، فَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ مُظْهِرٌ دِينَهُ، وَمُتِمٌّ كَلِمَتَهُ، وَنَاصِرٌ نَبِيَّهُ، إِنَّ هَؤُلَاءِ الَّذِينَ تَرَوْنَ مِمَّا يَذْبَحُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ عَاجِلًا﴾.

تاسو ته زه زېری درکوم چي الله به خپل دين غالبه کوي او خپله کلمه به پوره کوي او د خپل دين به مدد کوي، او دا خلګ به تاسو نژدې پخپل لاس بانديي ذبح سوي ووينئ.

..........فَوَاللهِ لَقَدْ رَأَيْتُمْ قَدْ ذَبَحَهُمُ اللهُ﴾. حضرت عثمانؓ فرمايي په خدای قسم تاسو ټول ذبح سوي وليدل.(¹)

★.....يو ځل پيغمبرﷺ د بيت الله په حطيم کي لمونځ کوی چي "عقبه ابن ابي معيط" د ده په غاړه کي پټو ور واچوی، په دومره زور سره يې را کش کړی چي د پيغمبرﷺ ساه بنده سوه نو سترګي مبارکي يې د خپلو ځايو څخه راپورته سوې، او د پيغمبرﷺ روح وختلو ته نژدې سو، چي يو دم ابو بکر راغلی او په دې الفاظو باندي يې پيغمبرﷺ څني خلاص کړی:

(¹) عيون الاثر: باب ذکر ما لقی رسول اللهﷺ، صفحه نمبر ۱۲۲

.........﴿أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا أَنْ يَقُولَ رَبِّيَ اللَّهُ﴾.(¹)

ایا تاسو یو سړی صرف پر دې باندې وژنی چي هغوی ستاسو په مخکي دا اعلان کوي چي زما رب الله تعالی دی.

ابو بکر د اسلام پر اظهار او د پیغمبرﷺ پر حمایت باندي قریشو د "مکې مکرمې" په حرم کي دومره وواهی چي د هغه مخ مبارک ټوله په وینو باندي ولړل سو، او د هغه پزه، سترګي او غوږونه په وینو داسي ورنګېدل، چي بیا به هغه د خپلو وینو د رنګېدو څخه نه پېژندل کېدی، او په چوټو او په لغطو ورکي وختل.

حضرت ابو بکرؓ د کفارو د وهلو څخه بې هوښه سو، "بنو تیم" یعني د حضرت ابوبکرؓ د قبیلې خلګو ته چي کله خبر ورسېدی نو هغوی هغه د هغه ځایه څخه را پورته کړی، د ټولو دا یقین وو چي "ابو بکر" به د دې حملې څخه ژوندی پاته نسي.

"بنو تیم" حرم ته راغلل او اعلان یې وکړی کچیري "ابو بکر" په دې واقعه کي وفات سو، نو موږ به د ده بدله د "عتبه ابن ربیعه" څخه اخلو، عتبه د "ابو بکر صدیق" په وهلو کي د ډیري زیاتي بد بختۍ اظهار کړی وو.

تر ماښامه پوري "حضرت ابو بکر صدیق" بېهوښه وو، چي دوی به هر څه آوازونه ور باندي وکړل، هغه نه د چا خبره اورېدله او نه یې چاته جواب ور کوئ، ماښام چي کله "ابو بکر" په هوښ کي راغلئ، سترګي یې را روڼي کړې، او د ټولو څخه اوله خبره یې دا وکړه چي نبي اکرمﷺ په کم حال کي دی؟

نو د "بنو تیم" خلګو پر دې خبره هغه ملامت کړی چي د هغه په ملګرتیا کي و دې حال ته ورسېدې او ټوله ورځ موږ ته مړ بللی وې، نن چي بیرته خدای ژوند در کړی نو ستا اوله خبره بیرته د هغه چا پوښتنه ده چي د کم چا د لاسه در پېښه ده.

نو هغه خلک د ناراضګۍ په شکل ځني ولاړ سوه او د ده مور "اُم خیر" ته یې وویل: چي د ده د خوراک دپاره څه انتظام وکړه، مور یې په کور کي څه تیار کړل او را یې وړل

---

(¹) الغافر آیت نمبر، ۲۸

او پر خوړلو یې اِصرار وکړی، خو د "ابوبکر صدیق" هم هغه یوه خبره وه چې مورې په خدای قسم تر هغه وخته به څه نه وخورم چې د رسول الله معلومات راته سوی نه وي.

او دا راته معلومه نسي چې نن پر هغه څه تېر سویدي، مور چې یې کله د خوړک کولو څخه مایوسه او نا امیده سوه، ورته وایي زوی‌یه ماته د هغه څه معلومات نسته، زه د چا څخه د هغه معلومات درته راوړم.

حضرت "ابو بکر" ورته وایي چې "ام جمیل" (چې د حضرت عمر ﷺ خور وه) ته ولاړه سه پوښتنه ځني وکړه چې د پیغمبر ﷺ څه حال دی؟

هغه غریبه د زوی د دې مظلومانه حالت او د پرېشانۍ درخواست پوره کولو لپاره "اُم جمیل" ته ولاړه او د "محمد" د حال پوښتنه یې ځني وکړه، هغې هم د عام دستور موافق تر دغه وخت پوري خپل اسلام پټ ساتلی وو.

ورته ویې ویل چې زه یې څه پېژنم چې څوک "محمد" دئ، او څوک "ابو بکر" دی، البته ستا د زوی متعلق مې نن اورېدلي دي چې خلکو په ډېر ناترسي سره وواهئ نو ډېره خفه سوم، که چیري ته وایي نو ستا سره به ولاړه سم، چې د هغه حالت ووینم.

"ام خیر" دا خبره قبوله کړه "ام جمیل" ور سره راغله چې کله یې د حضرت ابو بکر ﷺ حالت ولیدی برداشت یې نه کړی بې اختیاره په ژړا سوه، چې هغه بد بختو انسانانو کم حال ته رسولی وو الله تعالی دي و دوی ته خپله سزا ور کړي.

حضرت ابو بکر ﷺ پوښتنه ځني کوي چې د نبي اکرم ﷺ څه حال دی، "ام جمیل" د حضرت ابو بکر ﷺ مور ته اشاره وکړه ویې ویل چې دا ینې اوري.

حضرت ابو بکر ﷺ ورته وفرمایل چې د دې څخه مه وېرېږه، نو "ام جمیل" ورته وایي چې هغه په خیریت دئ، بالکل صحیح، سالم دی، ده پوښتنه ځني وکړه چې دا وخت په کم ځای کي دی، هغې ورته وویل چې د "ارقم" په کور کي دی.

حضرت ابو بکر ﷺ ورته وایي چې زما دي په الله قسم وي، چې تر هغه وخته پوري به هیڅ و نه خورم او نه به بل څه وکړم تر څو چې د پیغمبر ﷺ زیارت و نه کړم، د ده مور خو هسي هم دې ته ناقراره وه چې دی څه وخوري، او ده قسم وخوړی چې تر څو پوري

زيارت ونکړم هيڅ به نه خورم، نو ځکه مور يې د دې انتظار وکړ چې د خلکو تګ راتګ بند سي، او د شپې يو څه حصه تېره سي، هسې نه چې څوک يې ووينې او بيا څه تکليف ورته ورسوي.

هر کله چې د شپې يو څه حصه تېره سوه نو حضرت ابو بکرﷺ يې را روان کړی د نبي اکرمﷺ خدمت ته د "ارقم" کورته يې را ورسوی، پيغمبرﷺ چې کله ابو بکرﷺ وليدئ ور ولاړ سو، او په دې زړه پوري يې ونيوی، پيغمبرﷺ او ابوبکرﷺ دواړه ژاړي د دوی په ژړا باندي په دې حاضر مجلس کي ټول انسانان په ژړا سوه، ځکه چې د "ابوبکر" حالت د ليدلو نه وو.

د دې څخه وروسته حضرت ابو بکرﷺ درخواست وکړی چې ای د الله رسوله! دا زما مور ده ته د دوی لپاره د هدايت دعاء وکړه او دوی ته د اسلام تبليغ وکړه نو پيغمبرﷺ اول دعاء وکړه د دې څخه وروسته يې د اسلام ترغيب ور کړی، هغه هم په دې وخت کي مسلمانه سوه.(۱)

## د حضرت عبدالله ابن مسعود د قرآن تلاوت کول:

يوه ورځ صحابه کرامﷺ د نبيﷺ شاوخوا را جمع دي، په دې دوران کي يوه دا وويل چې د قريشو تر اوسه پوري د نبي اکرمﷺ څخه علاوه د بل چا د ژبي څخه په لوړ آواز قرآن ندی اورېدلی، نو په تاسو کي به کم يو داسي نېک بخت وي، چې د دوی و مخته په لوړ آواز سره د قرآن کريم تلاوت وکړي.

حضرت عبد الله ابن مسعودﷺ ولاړ سو، چې زه به د قريشو و مخته په لوړ آواز د قرآن کريم تلاوت کوم، د "عبد الله ابن مسعود" خبره چې کله صحابه ووﷺ واورېده، نو يې وويل موږ د قريشو د طرفه ستا په باره کي لويه خطره محسوسه وو، موږ داسي څوک يادوو چې د هغه خاندان د هغه حفاظت د قريشو څخه وکړي.

د دوی په جواب کي عبد الله ابن مسعودﷺ وويل: تاسو زما پروا مکوئ، الله په خپله زما حفاظت کوي، د غرمې وروسته حضرت عبد الله ابن مسعودﷺ بيت الله ته راغلی

(۱) تاريخ خميس باب ذکر اسلام الحمزه صفحه: ۲۹۴

د مقام ابراهيم سره ودرېدی، په دې وخت کي قريش په خپلو کورو کي وه، ده په لوړ آواز د قرآن تلاوت شروع کړئ.

قريشو چي کله تلاوت واورېدئ، نو يې وويل: چي دې د غلام و زوی ته څه ورپېښه ده چي نعرې وهي، يو چا ورته وويل چي پر "محمد" چي کم کلام راغلی دی، دی هغه وايي، چي کله قريشو دا واورېدل د ده و طرفته يې رامنډې کړې، او پر ده څهار چاپېره را وکرځېدل، او د ده په وهلو يې شروع وکړه.

حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ د داغه وهلو په دوران کي هم د قرآن تلاوت کوي، تر دې حده پوري چي د سورة اکثره حصه يې تلاوت کړه، د هغه څخه وروسته خپل بدن په وينو لړلی خپلو ملګرو صحابه وو ﷺ ته راغلی.

صحابه وو ﷺ ورته وويل: چي موږ خو دا خطره په سترګو ليدله. حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ ورته وويل: چي په خدای قسم د الله دښمنان ما د خپل ځان لپاره تر نن ورځ هيڅ کله هم سپک او کمزوري نه وو ليدلی، که تاسو واياست زه به سبا دوباره ور سم، او د دوی و مخته به د قرآن تلاوت وکړم.

صحابه کرامو ﷺ ورته وويل: نه، ځکه هغه خلکو چي کم شی ناخوښه بالی، تا هغه کافي و دوی ته واوراوی.

## د ضماد ابن ثعلبه ﷺ واقعه:

د ضماد ابن ثعلبه واقعه به ما غالباً تاسو ته مخکي هم بيان کړې وي، د قبيلې "آزد" يو سړی وو، "مکې مکرمې" ته راغلئ چي د هغه نوم "ضماد" وو، دا سړی په دم او تعويذ کولو باندي د جناتو اثر زائل کوي.

د مکې خلګو ده ته وويل: چي پر "محمد" باندي د جناتو اثر دی، ده چي دا واورېدل په جواب کي يې ورته وويل: که زه چيري "محمد" ووينم، نو شايد زما پر لاس به الله تعالی هغه ته شفا ورکړي.

د هغه څخه وروسته ضماد ﷺ د پېغمبر ﷺ خدمت ته راغلی د ده خپل بيان دی، چي ما پېغمبر ﷺ ته وويل چي ای محمده! زه د جادو او د جناتو علاج په دم او چوه سره

کوم، خلک وايي چي پر تا د جناتو اثر دی، کچيري دا خبره وي، نو زه به ستا علاج وکړم. پيغمبر ﷺ چي کله د ده خبره اوري نو په جواب کي دا کلمات ورته پېشوي:

﴿.........إنَّ الْحَمْدَ للّٰه أحْمَدُهُ وَأسْتَعِينُهُ، نَعُوذُ باللّٰه مِنْ شُرُورِ أنْفُسِنَا، وَسَيِّئَاتِ أعْمَالِنَا الخ﴾.

ټول تعريفونه د الله دپاره دي د الله تعالی څخه مدد غواړو او د خپل نفس د شرورو څخه پناه غواړو. چي کله يې دا الفاظ ورته ادا کړه او "ضماد ابن ثعلبه ﷺ" چي کله دا واوريدل نو يې ورته وويل دا کلمات زما و مخته دوباره را وګرځوه.

پيغمبر ﷺ دا کلمات درې (۳) ځله را وګرځول، ده ورته وويل: ما د کاهنانو کلمات اوريدلي دي، د جادوګرانو او شاعرانو کلمات مي هم اوريدلي دي.

مګر ستا د کلماتو رنګه، داسي کلمات مي هيڅکله نه دي اوريدلي، ته لاس را وړاندي کړه زه اسلام قبلوم، چنانچه ضماد ﷺ په هغه وخت کي د ده پر لاس باندي بيعت وکړی.

پيغمبر ﷺ ورته وويل د خپل قوم لپاره هم بيعت کوې، "ضماد" په جواب کي ورته وويل هو د خپل قوم لپاره هم بيعت کوم.

نو دا صاحب د جناتو د اثر ليري کولو په نيت راغلی وو، لېکن الله تعالی د هغه پر ځای په اسلام مشرف کړی.(¹)

په دې شکل پيغمبر ﷺ د دين دعوت وچلوی، او انسانان يې دين ته متوجه کړل، او د دين پخاطر يې ډيري قرباني پېش کړې، او د دين پخاطر يې د هر تکليفونه برداشت کړل.

(¹) الاصابه، جلد نمبر۲، صفحه نمبر۲۱۰

الله تعالی دي موږ او تاسو ته هم پر دین باندي د قربانۍ پیشولو او د تکلیفو برداشتولو استعداد را په نصیب کړي. او الله تعالی دي دا څو خبري پخپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

آمین یا رب العالمین.

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآیہ)

# عرض علي القبائل

(بیان)

مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبہ سلطانیہ الہاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاريـــخ | جمادي الاولى ١۴۴٢ بمطابق ٢۴ جنوري ٢٠٢١ |
| تـعـــداد | (١١٠٠) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿وَعَجِبُوا أَنْ جَاءَهُمْ مُنْذِرٌ مِنْهُمْ وَقَالَ الْكَافِرُونَ هَذَا سَاحِرٌ كَذَّابٌ أَجَعَلَ الْآلِهَةَ إِلَهًا وَاحِدًا إِنَّ هَذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ﴾.(۱)

وقال رسول اللهﷺ ﴿لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْمِ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## د سیرت تسلسل:

محترمو حاضرينو! د تیرو څو جمعو څخه مسلسل د پیغمبرﷺ د سیرت متعلق یو څه مذاکره کوو.

چونکه د پیغمبرﷺ سیرت زموږ او ستاسو لپاره مکمل نور او هدایت دی، داغه رنګه د ټوله انسانیت لپاره د زندګۍ تیرولو بهترینه نقشه ده، ځکه دا د الله تعالی د طرفه د انسانانو لپاره د زندګۍ تیرولو یو نمونه وي، چي الله تعالی کمه زندګي د انسانانو څخه غواړي نو د هغې یو نمونه او نقشه یې د پیغمبرﷺ د زندګۍ په شکل ورته پیش کړیده.

(۱) سورة "ص" آیت نمبر: ۴-۵

(۲) بخاري شریف حدیث، ۱۴

الله تعالی دي موږ او تاسو ته د اسلام پر اصولو او د پيغمبرﷺ پر نقشه باندي د زندگۍ تېرولو توفيق را نصيب کړي.

## د ابو طالب په مجلس کي حاضرېدل:

چي کله د پيغمبرﷺ په "مکه مکرمه" کي د قريشو سره مخالفت، شدت او انتهاء ته ورسېدئ، نو يو ځل قريشو په گډه دا مشوره وکړه چي درځئ "ابو طالب" ته ورسو، چي بس دا قضيه ختمه کړه، يا د "محمد" ملگری سه، يا ده ته ووايه چي زموږ د خدايانو په باره کي دسپکاوي کولو څخه لاس واخلي.

"ابو طالب" پيغمبرﷺ را وبلی، نو ورته وايي ای زما وراره! زه اوس بوډا سوم، ته زما پر دې بوډاوالي رحم وکړه، او پر خپله ځواني ترس وخوره، د قريشو سره صلح وکړه، دا خلک په مختلفو طريقو سره تا ته د هر څه پېش کش کوي، ته يې څني قبول کړه.(۱)

## ابو طالب ته جواب:

پيغمبرﷺ چي کله د "ابو طالب" خبره واورېده نو يې وژړل ورته وايي، چي ای اکا جانه! په آرام کښېنه، زه د الله د دين دعوت نسم پرېښولای، که چيري دا خلک زما په راسته لاس کي لمر او په چپه لاس کي سپوږمۍ را کښېږدي، بيا هم د دې خپلي مدعی څخه نسم را گرځېدای.

و "ابو طالب" ته د دې وينا کولو وروسته حضور اکرمﷺ د ژړا په حالت کي د ابو طالب د کوره ووتی.

"ابو طالب" بيرته را وبلئ، ورته وايي چي بچيه! زه ستا ملگرتيا کوم، چي څه کوې هغه کوه، زه به دې تر مرگه د دفاع کوشش کوم. (۲)

---

(۱) علمي تقريرونه؛ جلد نمبر ۱، صفحه نمبر ۱۱۷

(۲) علمي تقريرونه؛ جلد نمبر ۱، صفحه نمبر ۱۱۷

## د قریشو دوهم ځل ابو طالب ته راتګ:

چنانچه یو ځل بیا قریش "ابو طالب" ته راغلل، او ورته وایي چي موږ به تاته د "بني مخزوم" قبیلې مشهور نوجوان درکړو، ته هغه د "محمد" پر ځای د ځانه سره وساته، هغه به ستا خدمت کوي او "محمد" زموږ په حواله کړه، چي موږ یې قتل کړو.

"ابو طالب" ورته وایي چي عجیبه فیصله ده، تاسو به زما د زړه ټکره قتل کوی، او زه به ستاسو بچی ستاسو لپاره په نعمتو او خورکو باندي پالم. (۱)

## په "شعب ابي طالب" کي محصوره کېدل:

په اوم(۷) کال د نبوت قریشو د "بنو هاشم" د خاندانه څخه مقاطعه اعلان کړه، او یو دستاویزي معاهده یې ولیکله پر خانه کعبه یې را وځړوله، چي په هغه کي د "بنو هاشم" سره په تجارت باندي پابندي، پر سلام او کلام پابندي، پر خرید او فروخت پابندي، د دباندي څخه و دننه ته د غلې پر ورلو پابندي، او یو نووارده قافله دننه ورتلل او پر تجارت کولو پابندي، ګویا پر "بنو هاشم" خاندان مکمله پابندي راغله.

او په "شعب ابي طالب" کي د "بنو هاشم" خاندان مسلمان او غیر مسلمان د ابو لهب ماسوا ټول له محصوره پاته سوه.

تر درو (۳) کالو پوري د لوږي او د تندي وخت صحابه کرامو ﷺ او حضور اکرم ﷺ او د بنو هاشم نورو انسانانو تېر کړی، ډېر انسانان به د لوږي په وجه باندي غوځارېدل، د غوځارېدلو څخه وروسته به پیغمبر ﷺ را پورته کړه تسلي به یې ور کوله چي کم درجات الله تعالی ستاسو لپاره ټاکلي دي، زما عقیده دا ده چي د هغو په مقابل کي دا تکلیفونه تېرول هیڅ هم نه دي. (۲)

---

(۱) علمي تقریرونه، جلد نمبر۱، صفحه نمبر ۱۱۷
(۲) فتح الباري، جلد نمبر۱، صفحه نمبر ۱۴۷

## عام الحزن والملال:

په لسم(۱۰) کال د نبوت د "شعب ابي طالب" څخه د را وتلو څو ورځي وروسته د شوال پر لسمه (۱۰) "ابو طالب" وفات سو، د هغه څخه درې (۳) یا پنځه (۵) ورځي وروسته حضرت "خديجة الكبرىٰ" وفات سوه، نو د پيغمبرﷺ په سيرت كي دې كال ته نوم د "عام الحزن والملال" ور كړل سويدی.

د حضرت "خديجة الكبرىٰ" عمر د وفات په وخت كي غالبًا پنځه شپېته (۶۵) كاله وو، او په دې وخت كي د جنازې د لمانځه حكم نه وو راغلی نو د جنازې لمونځ نه ور باندي وسو.[۱]

## د پيغمبرﷺ غمجن كېدل:

چونكه پر هره موقعه باندي دغه دوو هستيانو د پيغمبرﷺ معاونت او كومك كوی نو د دوی په رخصت او وفات كېدو سره به پيغمبرﷺ همېشه غمجن او پرېشانه وو، د كوره څخه به د بهر كم را وتی.

حضرت "خديجة الكبرىٰ" د واده څخه وروسته غالبا پنځه ويشت (۲۵) كاله د ده سره وه، او دومره اوږده موده د ده د هغې سره رفاقت وو؛ نو ځكه د هغې پر جدائي هم زيات تكليف وو.

## ابو طالب ته دعوت ور كول:

د "ابو طالب" د بيمارۍ په وخت كي پيغمبرﷺ و ده ته د دين او د كلمه توحيد دعوت ور كوي په دې وخت كي د قريشو سرداران هم هلته ناست دي، نو دی ورته وايي ای اكا جانه! دا كلمه ووايه چي ﴿لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ﴾ چي د قيامت په ميدان كي زه ستا شفاعت وكړم.

"ابو طالب" په جواب كي ورته وايي په خدای مي دي قسم وي، كچيري زما سره دا ببره نه وای چي زما د مرګ بعد به تا ته او ستا خاندان ته د پيغور او عار خبره جوړېږي،

---

(۱) زرقاني، جلد نمبر۱، صفحه نمبر۲۹۱ تا ۲۹۶

او قریش به دا وایي چې د مرګ د ویرې څخه یې کلمه وویله نو ما به په کلمه ویلو ضرور ستا زړه خوشحاله کړی وای او زه په دې هم پوهېږم، چې ستا ځومره زیات خواهش دی، چې زه دا کلمهووایم.

لېکن آخري خبره یې بیا هم دا وویل:

﴿........حَتّٰى قَالَ عِنْدَ الْمَوْتِ أَنَا عَلَى مِلَّةِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ﴾.

یعني زه د "عبدالمطلب" پر دین یم.(۱)

پر دې باندې د الله تعالی د طرفه دغه آیت راغلی:

﴿...........إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ﴾.(۲)

ای پیغمبره! هدایت ستا په اختیار کې ندی، بلکه هدایت د الله تعالی په قدرت کې دئ، او د هدایت قبلولو علم د الله سره دی.

نو "ابو طالب" پر کفر باندې مړ سو، او تر آخري سلګۍ پورې کافر وو.

حضرت عباس ﷺ فرمایي چې ما یو ځل د رسول الله څخه پوښتنه وکړه، چې ای د الله رسوله! "ابو طالب" خو همېشه ستا مدد او حمایت کوی، ایا دا به ده ته په آخرت کې څه فائده ورورسوي؟

پیغمبر ﷺ ورته وایي هو، چې ماته الله تعالی د ده د قیامت حالت را ښکاره کړی، دی د جهنم په لوړه حصه کې وو، که دا نه وای نو دی به د جهنم د ټولو څخه په لاندې حصه کې وای.

د ابو طالب د مرګ په وخت کې پیغمبر ﷺ وویل: په خدای قسم زه به تر هغه وخته پورې د ده لپاره مغفرت طلبوم، چې تر څو ما الله تعالی د ده د مغفرت څخه منع نه کړي.(۱)

---

(۱) الروض الانف، باب کفایة الله امر المستهزئین صفحه: ۱۸

(۲) القصص آیت نمبر: ٥٦

د پیغمبر ﷺ پر دې وینا باندې د الله تعالی دا آیت راغلی:

﴿مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَى مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ﴾.(۲)

د پیغمبر او د نورو مسلمانانو لپاره دا جائز نه دي، چې د مشرکانو دپاره مغفرت طلب کړي، که څه هم هغه د دوی قریبان وي چې کله دا ښکاره سوه، چې دا خلک دوږخیان دي.

## د حضرت سوده بنت زمعه رضي الله عنها سره نکاح کول:

د حضرت "خدیجة الکبری" د وفاته څخه څو میاشتې وروسته پیغمبر ﷺ د حضرت سوده بنت زمعه رضي الله عنها سره نکاح وکړه، د هغې اوله نکاح د خپل اکا د زوی سکران رضي الله عنه سره سوې وه، د حضرت سکران رضي الله عنه سره یې د دوهم هجرت پر موقعه حبشې ته هجرت کړی وو، بیا واپس مکې ته راغلل، نو دستي د حضرت سکران رضي الله عنه وفات راغلی، چې کله حضرت سودې رضي الله عنها عده پوره کړه، نو پیغمبر ﷺ د هغې سره نکاح وکړه.

د دې نکاح څخه مخکې حضرت سودې رضي الله عنها عجیب خوب لیدلی وو، او دې خپل خاوند سکران رضي الله عنه ته بیان کړی وو، سکران ورته ویلي وه، کچیرې دا خوب یقیني وي نو زه به ډېر ژر وفات کېږم او ستا نکاح به د رسول الله ﷺ سره کیږي.

دوهمه شپه بیا دې خوب لیدلی وو چې دا ییده وي د آسمان سپوږمۍ پر دې باندې را ایله سي، دې دا خوب خپل خاوند ته ووایه، هغه ورته وویل، اوس خو به ډېر ژر زه وفات کېږم، په داغه ورځ سکران رضي الله عنه وفات سو، او د حضرت سوده رضي الله عنها د نکاح څخه وروسته بیا ده مبارک د حضرت عائشې صدیقې سره نکاح وکړه. (۳)

(۱) بخاري شریف حدیث: ۱۳۶۰
(۲) سورة التوبة آیت نمبر: ۱۱۳
(۳) تاریخ الخمیس في احوال انفس النفیس: باب تزوجه علیه السلام امهات المؤمنین: صفحه نمبر ۲۶۶

## د دعوت اسلام دپاره د طائف سفر :

د "ابو طالب" د وفات څخه وروسته د پیغمبرﷺ هیڅ څوک حامي او مدد گار نه وو، د حضرت "خدیجة الکبری" د رخصتېدو څخه وروسته هیڅ تسلی ور کونکی او غمخوار پاته نسو، نو ځکه دی د قریشو د مظالمو څخه ډېر تنګ سو.

د شوال په میاشته کي پر لسم (۱۰) کال د نبوت ده د "طائف" قصد وکړی چي شاید دا خلګ به د الله تعالی دین قبول کړي، او د الله تعالی د دین به حامي او مددګاران سي، د "زید ابن حارثه" په ملګري کي "طائف" ته راغلی.

د "طائف" د راتګه څخه وروسته د ټولو څخه مخکي د قبیلې سردارانو ته ورغلی دا درې (۳) ورونه وه، د یوه نوم "عبد یا لیل"، د دوهم نوم "مسعود"، او د دریم (۳) نوم "حبیب" وو، خو د دې درو (۳) په باره کي وروسته د تاریخ څخه دا معلومه سوې نه ده چي الله تعالی هغوی ته اسلام ور نصیب کړی او کنه.

بهرحال ده د دې درو سره ملاقات وکړی او د خپل راتګ مقصد یې ورته بیان کړی، او د اسلام دعوت یې ور کړی او د خپلو مخالفینو په مقابله کي یې د ځان د ملګرتیا تمناه ځني ښکاره کړه.

- په هغوی کي هغه یو ورته وایي ایا ته هغه یې چي خدای را استولی یې.
- دوهم ورته وایي چي خدای ته د رسول جوړلو لپاره ستا بغیر بل څوک نسو ور پیدا؟
- او دریم ورته وایي زه ستا سره خبري نکوم، کچیري ته واقعي رسول یې نو بیا خو ستا سره خبري کول، او ستا خبره ردول خطرناکه دي، او که ته د الله رسول نه یې نو بیا خو قابل د خطاب او د التفات نه یې.

چي کله پیغمبرﷺ ځني مایوسه سو، نو را روان سو، نو هغه ظالمانو د هغه څخه وروسته د کلي او باش او بازاري هلکان په ده پسي ورېغول، چي په کانو یې ولئ، او پر ده باندي مذاق او مسخرې کوئ.

نو هغه اوباش هلکان پر ده باندي شا وخوا را جمع سول، او د لاري په دواړو طرفو کي د هغو رش او هجوم سو، چي کله به دی په مايين کي تېرېدی، نو هغه بد بخته انسانانو به په کاڼو ویشتی، تر دې حده چي ده به کم قدم پورته کوی هغو به د کاڼي واری ور باندي کوئ، حتی چي آخر د ده مچڼي مبارکي هم په وینو ډکي سوې.

چي کله د ځلورو (۴) طرفو د کاڼو ویشتلو باران دی، نو د پیغمبرﷺ زړه د ډېرو وینو تللو په وجه ضعف وکړی او کښېنستی، نو هغه بدبخته انسانانو به بیرته تر بازوګانو ونیوی او پر تګ باندي به یې مجبوره کړی، چي کله به دی روان سو، نو هغوی به بیا په کاڼو ویشتی او خپلي مذاق او مسخرې به یې ور باندي کولې.

د "زید ابن حارثه" حال دا وو، چي هغه دی د کاڼو څخه د بچاولو لپاره خپل ځان د کاڼو و مخته پېشوی، چي په دې شکل هغه هم پخپلو وینو ورنګېدی، لېکن په دې حالت کي د هغه سره صرف د پیغمبرﷺ فکر ور سره وو، د خپل ځان یې هیڅ پروا نه ساتله، چي هغه هم دومره زخمي سو، چي سر یې سره وچاودل سو.

چي کله پیغمبرﷺ د هغه کلي څخه را ووتی، نو په لاره کي یو باغ ته راغلی په دې شکل د هغه بد بختانو د تکلیفو څخه راووتی.

پیغمبرﷺ او زید ابن حارثه دواړه د خپل بدن په وینو رنګېدلي او زخمي زخمي بدنونه د یوې درختي په سایه کي کښېنستل، په دې وخت کي ده د الله څخه دا دعا وغوښتل:

............اللّٰهمّ إِلَيْكَ أَشْكُو ضَعْفَ قُوَّتِي، وَقِلَّةَ حِيلَتِي، وَهَوَانِي عَلَى النَّاسِ، يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ الخ﴾.

ای الله! زه د خپلي کمزوری او بېوسی و تاته فریاد کوم، یا ارحم الراحمین ته د کمزورو ملګری یې او ته زما رب یې، او زه پر تا بروسه کوم، که ته پر ما باندي په غضب او غوصه نه یې نو بیا ماته د هیڅ چا پروا نسته.(۱)

---

(۱) سیرة ابن هشام، باب توجهﷺ الی ربه صفحه: ۴۲۰

په دې وخت کي اچانک چي ده وکتل هلته د باغ مالکان "عتبه" او "شیبه" هم موجود دي، هغوی چي دَی کله ولیدی چي د طائف اوباشه خلکو د ده سره څنګه سلوک وکړئ، (نو پیغمبرﷺ دستي د باغه څخه ولاړ سو، ځکه ده ته دا معلومه وه، چي دا دواړه د الله د دین دښمنان دي) هغوی چي کله دَی ولیدی د ده د حالت لیدلو په خاطر د هغوی هغه د قرابت وینه او د حمیت زګونه په جوش کي راغله، او د ده پر حالت یې زړه درد وکړی، او پر ده یې رحم راغلی، نو دستي یې خپل نصراني غلام "عداس" را طلب کړی هغه ته یې وویل چي د انګورو یو څو وړې پرې کړه ور سه د ده و مختـه یې کښېږده.

"عداس" چي کله د ده و مختـه انګور پیش کړل پیغمبرﷺ چي کله خورک شروع کوئ، نو ﴿بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ وایې.

"عداس" چي کله د ده د خولې څخه ﴿بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ واورېدله، ورته ویې ویل چي د دې علاقې خلک خو داسي نه وایي، پیغمبرﷺ پوښتنه ځني وکړه، چي ته د کمي علاقې استوګن یې، او ستا دین څه دی.

"عداس" ورته وایي چي زه نصراني یم، او د "نینوٰی" استوګن یم، چي کله د "عداس" د خولې څخه، د "نینوٰی" لفظ پیغمبرﷺ واورېدی ورته وایي ته د یونس (علیه السلام) هم وطنه یې چي د "مَتّٰی" زوی وو.

"عداس" ډېر حیران سو، ورته وایي تا ته د "یونس ابن متّٰی" په باره کي څنګه معلومه سوه؟ په خدای قسم چي زه کله د "نینوٰی" څخه را وتلم، نو هلته لس (۱۰) انسانان هم دا رنګه نه وه چي "یونس ابن متّٰی" دي پېژني چي هغه څوک وو؟ نو ځکه زه دا وایم چي د "یونس ابن متّٰی" په باره کي ستا معلومات عجیب دي.

پیغمبرﷺ ورته وایي، هغه زما ورور دی د الله نبي وو، زه هم د الله رسول یم، الله تعالی ما ته د هغه په باره کي معلومات راکړیدی، او دا یې هم راته ویلي دي چي د هغه قوم د هغه سره څه وکړه.

"عداس" چي کله د پيغمبرﷺ د ژبي مبارکي څخه دا الفاظ اوري نو فورًا نژدې ورته راغلی او د ده لاسونه او پښې يې ورمچ کړل، د باغ مالکان، "عتبه" او "شيبه" د ليرې څخه دا حال ويني.

نو "عداس" چي کله د پيغمبرﷺ پښې او لاسونه ورمچ کړل، نو دوی وليدی نو يوه و هغه بل ته ويل، چي زموږ دا غلام خو هم، دې سړي گمراه کړی.

"عداس" چي کله واپس راغلی، نو دوی ورته ويل چي ستا دي کور خراب سي، په تا څه وسوه چي تا د هغه سړي پښې او لاسونه ورمچ کړل.

"عداس" په جواب کي ورته وايي چي زما دا عقيده سوه چي تر دې سړي بهتر انسان د مځکي پر مخ باندي نسته.

دې سړي و ماته داسي خبره وکړه چي صرف نبي يې کولای سي، "عتبه" چي دا واورېدل نو فورًا "عداس" ته وايي چي ته غرق سې، چي د خپل دينه څخه وانه وړې، د "عداس" په باره کي راځي چي دی مسلمان سو. (۱)

د "حکيم ابن حزام" څخه روايت دی چي کله "عتبه" او "شيبه" د قريشو د مکې سره د جنگ بدر طرفته روان سوه، نو "عداس" د "شيبه" او د "عتبه" پښې ونيولې او ورته يې ويل چي د الله په ذات دې مي قسم وي، چي هغه رسول دی او دا خلگ د خپل مقتل طرفته روان دي.

"عداس" ناست دئ ژاړي، "عاص ابن شيبه" پر لاره تېرېږي نو د "عداس" څخه پوښتنه کوي چي ولي ژاړې، "عداس" په جواب کي ورته وايي د دې خپلو سردارانو په وجه ژاړم دوی په دې وخت کي د الله د رسول مقابلې ته روان دي.

"عاص ابن شيبه" ورته وايي، ايا واقعي هغه د الله رسول دی، "عداس" ورته وايي چي هو، په خدای قسم بلا شبه هغه د ټولي دنيا لپاره د الله رسول راغلی دئ. (۲)

---

(۱) الاصابه: جلد نمبر۲، صفحه نمبر ۲۶۶،، البدايه و النهايه: جلد نمبر۳، صفحه نمبر ۱۳۵

(۲) الاصابه: جلد نمبر۲، صفحه نمبر ۲۶۷

**دوريځو راتلل:**

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چي يو ځل ما د الله د رسوله څخه پوښتنه وکړه، چي ايا پر تا باندي د "أحد" د ميدانه څخه هم زياته سخته ورځ تېره سوې ده؟

پيغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وايي اى عائشې! چي ستا قوم ماته کم تکليفونه را ورسول، هغه خو يې را ورسول لېکن د ټولو څخه سخته ورځ هغه تېره سوه، چي په کمه ورځ ما خپل دعوت په "طائف" کي "عبد ياليل" ته پېش کړې، هغه زما خبره نه ومنله او په ډېره پرېشاني کي زه واپس "قرن ثعالب" ته را ورسېدم.

نو ما چي کله لوړ وکتل نو زما پر سر يو وريځ ولاړه وه، چي په هغه کي جبرائيل علیه السلام ښکاره وو هغه راته وويل تا خپل قوم يعني "بنو ثقيف" ته چي څه وويل هغوى چي تاته کم جواب در کړی الله تعالى هغه ټوله واورېدل او زه الله تعالى د دې غرونو د نګراني فرشتې سره را استولى يم، نو ځکه د "بنو ثقيف" په باره کي چي څه غواړې نو دې فرشتې ته حکم وکړه.

د دې څخه وروسته د غرونو متصرفي فرشتې ماته پېشکش وکړی چي اى د الله رسوله! که ته غواړې، نو زه به دوى د دې غرونو په مابين کي سره ختم کړم، يا به يې په ځمکه کي خسف کړم، او د لوړي خوا به غرونه ورباندي را ولم.

د غرونو د فرشتې د خبري په جواب کي رحمت عالم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمايل، نه زما دا توقع ده، چي الله تعالى به د دوى په اولاد کي ضرور داسي خلک پيدا کوي، چي هغه به د الله تعالى عبادت کوي، او د الله تعالى سره به څوک شريک نه جوړوي او زما د دين د خورېدلو سبب به وګرځي.

نو د غرونو فرشتې په جواب کي راته وويل: چي الله تعالى لکه څنګه نوم چي يې در کړيدى، ته په حقيقت کي هم هغسي "رؤوف" او "رحيم" ذات يې يعني زيات معافي کونکى او زيات رحم کونکى يې. (١)

---

(١) فتح الباري، جلد نمبر ۶، صفحه نمبر ٢٢۵، بحواله سيرت مصطفى، جلد نمبر١، صفحه نمبر٢٧٨

**مکې ته داخلېدل:**

چي کله مکې ته قريب را ورسېدل نو زيد ابن حارثه ﷺ ورته وايي چي مکې ته به څنګه داخلېږو مکې والا خو هسي هم موږ د خپل کلي څخه ايستلي يو، پيغمبر ﷺ ورته وايي چي ای زيده! الله تعالی به زموږ د دې مصيبت څخه د خلاصوالي يو صورت ضرور پيدا کوي، الله تعالی د خپل دين، حامي او مددګاره دی، او هغه يقينًا خپل نبي پر ټولو غالب کونکی دی.

د "زيد ابن حارثه" په ملګرتيا کي "غار حراء" ته راغلی، او بيا يې "اخنس ابن شريق" ته پيغام ور واستوی چي ايا زه ستا په پناه کي مکې ته تلای سم.

"اخنس" په جواب کي ورته وويل چي زه د قريشو "حليف" يم، نو ځکه تا ته پناه نه سم در کولای.

دوهم ځل يې "سهيل ابن عمرو" ته پيغام ور واستوی، "سهيل" په جواب کي ورته وويل چي "بنو عامر" د "بنو کعب" په مقابله کي چا ته پناه نسي ور کولای.

دريم ځل يې "مطعم بن عدي" ته پيغام ور واستوی چي زه ستا په پناه کي مکې ته راتلای سم، او ته ما ته پناه را کوې، چي پخپله پناه کي مي مکې ته داخل کړې، مطعم د ده پيغام قبول کړی، خپل زامن او د قوم خلک يې را طلب کړل، او ټول يې مسلح کړل.

او د حرم پر دروازه ودرېدی، او دا يې وويل: ای خلکو! ما "محمد" ته پناه ور کړې ده، پر هغه به هيڅ تعرض نه کوی، نو پيغمبر ﷺ د "مطعم" په پناه کي حرم شريف ته راغلئ او "حجر اسود" يې مچ کړی، او طواف يې وکړی، او دوه (۲) رکعته لمونځ يې د طواف ادا کړی، او خپل مکان ته واپس راغلی، "مطعم" او د هغه زامن پر ده را ګرځېدلي وه.

د "مطعم" د دې احسان پر بنياد د "بدر" د اسيرانو په ورځ پيغمبر ﷺ به دا ويل:

........لَوْ كَانَ الْمُطْعِمُ بْنُ عَدِيٍّ حَيًّا ثُمَّ كَلَّمَنِي فِي هَؤُلَاءِ النَّتْنَى لَتَرَكْتُهُمْ لَهُ﴾.

که نن "مطعم ابن عدي" ژوندی وای او بیا یې زما سره د دې ګنده انسانانو په باره کي خبره کړې وای ما به د هغه په لحاظ تول هغه آزاد کړي وای.(۱)

## د جناتو سره ملاقات:

د "طائف" د دې سفره څخه پر واپسي باندي نه (۹) جنات (پېرانان) پر دوی باندي راغلل، چي هغه د "نصیبین" استوګن وه، چي دا د شام د یو ښار نوم دی، پیغمبرﷺ په دې وخت کي لمونځ کوی، نو جناتو چي کله د قرآن کريم قرآئت واورېدی، نو په هغه وخت کي مسلمانان سول، اول دوی یهودیان وه، نو هغه جنات (پېرانان) خپل قوم ته ولاړه، او دا یې ورته وويل:

......... ﴿إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا، يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ وَلَنْ نُشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَدًا﴾.(۲)

چي موږ یو ډېر عجیبه قرآن اورېدلی دی، چي د انسانانو د هدایت ذریعه ده، او د دې څخه وروسته بیا موږ د الله تعالی سره شرک نه کوو.

دغه نه (۹) جناتو (پېرانانو) خپل قوم ته وویل نو ټول یې مکې ته را جمع کړل او د "حجون" پر مقام باندي یې قیام وکړی او خپل یو ملګری یې پیغمبرﷺ ته را واستوئ، هغه پیغمبرﷺ ته دا غرض پیش کړی چي زما قوم د "حجون" پر مقام ستا انتظار کوي، ته هلته تشریف راوړه.

پیغمبرﷺ وعده ور سره وکړه، چي د شپې یو وخت "حجون" ته راځم "حجون" د مکې د یو قبرستان نوم وو، چي اوس "جنة المعلی" ورته وایي د شپې په وخت کي دی هلته راغلی حضرت عبد الله ابن مسعودؓ ور سره وو، "حجون" ته چي کله راغلل نو ده پر حضرت عبد الله ابن مسعودؓ باندي یوه لیکه را وګرځول او ورته ویې ویل د دې څخه د باندي مه وځه که دي د دې دائرې څخه د باندي پښه کښېښول، نه به ته ما تر قیامته وُوینې نه به زه تا ووینم.

(۱) عیون الاثر جلد: ۱ صفحه: ۱۳٦
(۲) الجن آیت نمبر: ۱-۲

په يو بل روايت کي راځي پيغمبرﷺ ورته وايي زما د راتلو تر وخته پوري پر دې ځاى قائم اوسه، ته د هيڅ شي څخه مه بېرېږه هر څه چي دي وليدل نو په زړه کي بېره مه پيدا کوه.

د دې څخه وروسته نبي اکرمﷺ پر يو صفا کاني ورته کښېنستی، چي اچانک د ده و حضور ته يو چند "سياه فام" خلک راغلل چي کافي تعدا ديې وو، او پر پيغمبرﷺ را وګرځېدل، او د پيغمبرﷺ څخه يې د قرآن اورېدلو خواهش وکړی، چي کله پيغمبرﷺ قرآن ورته شروع کړی، نو دوی يو پر بل را غوځارېدل.

په دې موقعه باندي عبدالله ابن مسعود ﷺ دا وغوښتل چي ور وړاندي سي، او دا خلک د پيغمبرﷺ څخه ليري کړي، لېکن بيرته د پيغمبرﷺ فرمان په ياد ورغلی او د خپله ځايه څخه نه وښورېدی.

جناتو پيغمبرﷺ ته وويل چي ای د الله رسوله! موږ چي په کم ځای کي اوسېږو يعني کم ځای ته چي زموږ اوس تګ دی، هغه ډېر ليري دی، زموږ او زموږ د سوارليو د خورک انتظام وکړه.

پيغمبرﷺ ورته وايي: هر هغه هډوکی چي پر هغه د الله نوم اخيستل سوی وي، چي ستاسو لاسو ته درسي، نو د مخکي څخه به زياته غوښه ور باندي پيدا کيږي، او دا خوشايي او ګوبر دا به ستاسو د حيوانانو خورکه وي. په دې شکل جناتو پر ده ايمان راوړی او پيغمبرﷺ رخصت کړل.

## د طفيل بن عمرو دوسيﷺ اسلام قبلول:

طفيل بن عمرو دوسيﷺ د ډيري لوړي درجې شاعر وو، يو ځل مکې مکرمې ته راغلئ د ده د راتګ خبر چي کله قريشو واورېدی نو پر ده باندي شا وخوا راټول سوه.

او ده ته يې وويل چي ته په داسي وخت کي موږ ته راغلې چي زموږ په مابين کي يو سړي زموږ معاشره ډېره ګډه وډه کړې ده، په موږ کي يې اختلافات روان کړيدي، ځکه د ده په خبرو کي د جادو غوندي اثر دی، د ده په وجه دوه (۲) سکه ورونه چي د يوې مور زامن وي لا هم يو د بل سره په اختلاف کي دي.

اوس چې ته راغلې مور ته ستا او ستا د قوم د طرفه پرېشاني ده، او مور په تاسو پرېشانه يو، هسې نه چې تا هم بېدينه نه کړي، هغه غريب يې دومره په دباو او بېره کې را وستی چې هغه على الاعلان و دې خبرو کولو ته مجبوره سو، چې زه نه د محمد ﷺ خبره اورم، او نه د ده سره څه خبره کوم.

دوهم مورخ طفيل بن عمرو دوسي رضي الله عنه د کعبې د طواف کولو لپاره حرم ته ورغلی، نو ده په خپلو غوږو کې پنبه ايښې دي، چې هسې نه چې د "محمد" يوه خبره بلا اراده زما غوږو ته را ونه رسيږي.

پيغمبر ﷺ په دې وخت کې په کعبه کې لمونځ کوی، دی د پيغمبر ﷺ سره نژدې ودرېدی الله ته دا منظوره وه، چې د پيغمبر ﷺ يو څه خبري د ده غوږو ته ور ورسيږي چنانچه ده د پيغمبر ﷺ د خولې څخه يو ډېر نهايت پاکيزه او خوبصورته کلام واورېدی او په زړه کې دا وايي چې زه خو د ښو او بدو تميز کولای سم، نو څکه د دې صاحب په خبره اورېدلو کې به څه حرج وي؟ که يې چيري ښه خبره وکړه زه به يې قبوله کړم او که يې چيري بده خبره وکړه نو زه به يې پرېږدم او اعراض به څني کوم.

يو څه وخت وروسته پيغمبر ﷺ د لمانځه څخه فارغه سو، او د خپل کور طرفته روان سو، نو ده ورته وويل ای محمده! ستا قوم ماته ستا متعلق داسي او داسي ويلي دي، په دې وجه ما ستا د خبرو اورېدو څخه د حفاظت پخاطر په غوږو کې پنبه ايښې دي، مګر ته خپله خبره زما مخته پيش کړه.

نبي اکرم ﷺ چې کله د ده خبره واورېده نو يې پر ده باندي اسلام عرض کړی، او د ده و مخته يې د قرآن کريم، يو څو آياتونه تلاوت کړل، په بعضو رواياتو کې د هغه آياتو تعين د "سورة الاخلاص" او د "معوذتين" په شکل باندي سويدی.

طفيل بن عمرو دوسي رضي الله عنه چې کله د قرآن آياتونه واورېدل، وايي زما دې د الله په ذات قسم وي، چې د دې څخه ښائسته کلام ما هيڅکله نه دی اورېدلی، د دې څخه وروسته هغه کلمه وويله او مسلمان سو.

طفیل بن عمرو دوسي ﷺ پیغمبر ﷺ ته وایي ای د الله نبي! زه په خپل قوم کي لوړ حیثیت والا سړی یم، هغه ټوله زما خبره اوري او مني یې، زه به واپس ولاړ سم، خپل قوم ته به د اسلام دعوت ور کړم، نو څکه ته ماته دعاء وکړه.

نو پیغمبر ﷺ د ده لپاره دعاء وکړه، چي کله روان سو، خپل کلي ته نژدې و رسېدی نو هلته پر اوبو باندي ولاړي یو څه قافلې په نظر ورغلې، عیني دا وخت د ده د دوو سترګو په مابین کي د څراغ په مثل یو نور پیدا سو، او دا د پیغمبر ﷺ د دعاء په وجه وو.

څکه شپه هم ډېره تاریکه وه، په دې وخت کي هغه دا دعاء وکړه، ای الله! دا نور زما د مخ څخه علاوه د بدن پر بل اندام پیدا کړې.

څکه زه بېرېږم چي زما د قوم خلګ دا ونه وایي چي د دین د بدلېدو په وجه د ده شکل داسي خراب سوېدی.

چنانچه هغه وخت هغه نور د ده د مخ څخه راکښته سو د ده تر زني لاندي راغلی، اوس د ده زنه د یو څراغ غوندي روښانه سوه.

په دې وجه باندي حضرت طفیل ته "ذوالنور" ویل کېدل، یعني نور والا، چي کله کور ته راغلی پلار ورته راغلی، ده ورته وویل ته به ماته نه راځې، اوس زما او ستا هیڅ تعلق نسته.

پلار چي یې دا واورېدل پوښتنه څني کوي، ورته وایي زویه! ولې؟ دی ورته وایي زه مسلمان سوی یم، او ما د محمد ﷺ دین قبول کړیدی.

پلار چي کله دا واورېدل نو دستي یې ورته وویل زویه! ستا دین زما دین دی.

نو وروسته طفیل بن عمرو دوسي ﷺ ده ته د غسل کولو او د پاکو کپړو اغستلو وویل چي کله هغه داسي وکړه، ده و هغه ته اسلام پېش کړی، هغه په دې وخت کي کلمه وویله مسلمان سو.

بیا د طفیل بن عمرو دوسيﷺ کور والا راغله هغې هم اسلام قبول کړی، اوس ده اسلام د خپل قوم پر خلکو باندي پېش کړی، لېکن د هغو معاشره ډېر برباد سوې وه هغو اول ځل د اسلام قبلولو څخه انکار وکړی.

طفیل بن عمرو دوسيﷺ چي کله د دوی دا حال ولیدی، بیا پیغمبرﷺ ته راغلی او ورته ویې ویل ای د الله رسوله! د "دوس" قوم پر ما باندي غالب سو، ته دوی ته دعاء وکړه، پیغمبرﷺ دعاء ورته وکړه، چي ای الله! دې قوم ته هدایت ور کړې، او دوی د اسلام طرفته را ولې.

دوهم ځل حضرت طفیل بن عمرو دوسيﷺ بیا خپلو خلکو ته ورغلی او د اسلام تبلیغ یې ورته شروع کړی او دی مسلسل هغو ته تبلیغ کوي، چي پیغمبرﷺ د مکې څخه هجرت وکړی مدینې ته ولاړی، آخر هغه ځلکو اسلام را وړی او ټول په اسلام مشرف سوه.

حضرت طفیل بن عمرو دوسيﷺ دوی د خپله ځانه سره مدینې ته را وستل په دې وخت کي "غزوه بدر، غزوه احد، غزوه خندق" سوي وې، نبي اکرمﷺ خیبر ته تللی وو.

د حضرت طفیل بن عمرو دوسيﷺ سره د اویا (۷۰) یا اتیا (۸۰) کورنیو خلک، چي په هغو کي حضرت ابو هریرهﷺ هم وو، چونکه دا خلک د غزوه خیبر په وخت کي هلته را رسېدلي وه، په دې وجه پیغمبرﷺ د ټولو مسلمانانو سره دوی ته د غنیمت حصه ور کړه، که څه هم دوی په دې جنګ کي شریک سوي نه وه.(۱)

د پیغمبرﷺ زندګي چونکه د مشکلاتو یو داستان وو، لېکن هغو هغه مشکلات په ډېر استقامت سره سرته ورسول چي وروسته الله تعالی قومونه په اسلام کي داخل کړل، او د هغوی په ذریعه سره فتوحات راغلل، او په مدینه منوره کي صحابه کرامﷺ ته الله تعالی خوشحاله زندګي ور په نصیب کړه.

(۱) الاستیعاب جلد: ۲ صفحه: ۱۳۲

الله تعالی دي موږ او تاسو ته د پیغمبر ﷺ او د صحابه کرامو پر نقشه باندي زندګي تېرول را په نصیب کړي، او د اسلام پخاطر چي کم مشکلات راځي، الله تعالی دي په هغوی تېرولو کي د استقامت کولو توفیق را نصیب کړي.

او الله تعالی دي دا ټو خبري پخپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

آمین یا رب العالمین

وَصَلّی اللهُ تَعَالی عَلی خَیْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِیْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآیه)

# د معراج اول بیان

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتي حافظ كليم الله صاحب |
| مقـــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاريــــخ | جمادي الاولى ۱۴۴۲ بمطابق ۲۴ جنوري ۲۰۲۱ |
| تـعـــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْــــمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴾.(۱)

وقال رسول الله ﷺ ﴿عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه، قَالَ: لَمَّا عُرِجَ بِالنَّبِيِّ ﷺ إِلَى السَّمَاءِ، قَالَ: "أَتَيْتُ عَلَى نَهَرٍ، حَافَتَاهُ قِبَابُ اللُّؤْلُؤِ مُجَوَّفًا، فَقُلْتُ: مَا هَذَا يَا جِبْرِيلُ؟ قَالَ: هَذَا الكَوْثَرُ﴾.(۲)

سَرَيْتَ مِنْ حَرَمٍ لَيْلًا إِلَى حَرَمٍ ★ كَمَا سَرَى الْبَدْرُ فِي دَاجٍ مِّنَ الظُّلَمِ

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## د سیرت طیبه ممتازه واقعه:

محترمو سامعینو! چونکه د پیغمبر ﷺ د سیرت متعلق د موضوعاتو سلسله روانه ده او د پیغمبر ﷺ په ژوندکي کي د "اسراء" او "معراج" واقعه ډېره عظیمه واقعه ده، او د ده د نبوت یو ځلېدونکی باب دی، لهذا د سیرت په ضمن کي د هغې ذکر کول ضروري دي.

---

(۱) الاسراء آیت نمبر: ۱

(۲) بخاري شریف حدیث: ۴۹۶۴

د دې واقعې دپاره شریعت دوه (۲) الفاظ استعمال کړيدي، یو لفظ د "اسراء" دی، دا د شپې سیر او سفر کولو ته ویل کیږي، چونکه د پیغمبرﷺ دغه سفر هم د شپې سویدی، پدې وجه قرآن کریم دا لفظ د دې سفر لپاره استعمال کړیدی.

لېکن دا لفظ عام طور د ځکي پر مخ باندي تګ کولو ته وایي، نو ځکه علماؤ "اسراء" او "معراج" پر دوو (۲) جلا جلا حصو باندي تقسیم کړیدي.

د مکې مکرمې څخه تر "مسجد اقصیٰ" پوري یعني د "بیت المقدس" پوري، دې حصې د سفر ته دوی د "اسراء" نوم ور کړیدی او د "بیت المقدس" څخه تر "سدرة المنتهی" پوري دې سفر ته دوی د "معراج" نوم ور کړیدی.

لېکن پدې کي څه خاص شرعي پابندي نسته کله کله دواړو حصو د سفر ته د "اسراء" نوم او کله دواړو حصو ته د "معراج" نوم ور کول کیږي.

چي کله د پیغمبرﷺ عمر مبارک تقریبًا یو پنځوس یا دو پنځوس (۵۱ یا ۵۲) کاله ته ورسېدی، په مکه مکرمه کي یې ډېر تکالیف برداشت کړل، تر انساني تصور بالا مظالم پر ده باندي راغلل.

په "شعب ابي طالب" کي درې (۳) کاله قید او بند، او د پابندیو سختی یې براشت کړې، د هغه څخه وروسته د ده د "طائف" سفر وسو، چي پدې سفر کي هم کفارو د ده سره څه وکړل؟ چي د هغه بیانول ډېر ګران دي.

پر ځکه باندي استوګن یو مغرور انسان نبي آخر الزمان ته وایي، چي ته زما د مخه څخه لیري سه، ته د دې قابل نه یې چي ستا سره څوک خبري وکړي، صرف پر دې باندي بس نه وو بلکه د هغه بد عمله او اوباشو هلکانو د ډبرو ویشتلو په شکل یې ده د خپل کلي څخه وایستئ.

چي کله دا ټول تکلیفونه تېر سول نو اوس د پیغمبرﷺ د ذات با برکات سره دا مناسب وه چي د "احکم الحاکمین" ذاته سره دی د راز او نیاز خبري وکړي، او دی تر عالي مقامه ورسوي.

## د دنیا دستور:

ځکه په دنیا کي هم دا دستور دی چي کله د اوسپني څخه یو څوک اعلی زېور جوړل غواړي نو د ګرمۍ په تېزولو بټیو کي دا سوځي، او د چټکانو پر دې باندي وارونه کېږي د هغه څخه وروسته بیا د اعلی زېور په شکل باندي د عزت او شرافت مقام ته رسیږي.

بالکل داغه رنګه چي کله د "طائف" پر سفر باندي تکالیف انتهاء ته ورسېدل او د دنیا حقیر انسان د خاتم النبیین سره د خبرو کولو څخه انکار وکړی، نو اوس الله تعالی دی را بولي چي ده ته ټول رفعتونه، عظمتونه، او برکتونه په نصیب ور کړي، او د دنیا انسانانو ته دا ښکاره کوی، چي د کم چا سره تاسو خبرو کولو ته تیار نه واست، خالق کائنات هغه پخپله را بولي او د هغه سره د راز او نیاز خبري کوي.

## د "مسجد اقصی" څخه تر "مسجد حرام" پوري:

چي پیغمبر ﷺ د "طائف" د سفره څخه راغلئ نو په مکه مکرمه کي د حضرت ام هاني رضي الله عنها په کور کي د شپې آرام کوي، الله تعالی حضرت جبرائیل علیه السلام او مکائیل علیه السلام دواړه ورته را واستول، چي دی مسجد حرام ته راولي.

نو جبرائیل علیه السلام او میکائیل علیه السلام دَی د بیت الله "حطیم" ته راوستئ په "حطیم" کي دَی بیده سو، د هغه څخه وروسته "جبرائیل" او "میکائیل" دواړو دَی را کښېنوی، د "زمزم" څاه ته یې راوستی، او د ده سینه مبارکه یې ور څیري کړه، او قلب اطهر یې ځني ویستئ، د "زمزم" په مبارکو اوبو یې پرېولی، د ایمان او د یقین د انواراتو څخه یې ډک کړئ، او بیا یې په خپل ځای کي کښېښوی، او سینه یې بیرته ورپسي وګنډله.

او بیا یې یو "بُراق" چي د خچر څخه کوچنی او تر خره غټ وو، راوستئ او دا "بُراق" دومره چابک وو چي د هغه قدم د نظر پر آخري کناره لګېدی.

پر بُراق باندي مخته پیغمبر ﷺ وروسته حضرت جبرائیل علیه السلام سپور سو، او د دوی دواړو سفر د مسجد حرام څخه روان سو.(۱)

(۱) سیرة المصطفی، جلد نمبر۱، صفحه نمبر ۲۹۰

چي كله د دوى تېرېدل په لاره كي د درختو پر علاقه وسوه، نو "جبرائيل" پر هغه ځځكه باندي د دوه (۲) ركعته لمانځه تلقين ورته كوي، پيغمبر ﷺ چي كله دوه(۲) ركعته لمونځ وكړى.

نو جبرائيل عليه السلام ورته وايي دا درته معلومېږي چي تا پر كم ځاى لمونځ وكړى، پيغمبر ﷺ چي كله په نفي سره جواب ور كړى، نو "جبرائيل" ورته وايي: چي تا په "يثرب" يعني مدينه منوره كي لمونځ وكړى، چي كم ځاى ستا د هجرت لپاره انتخاب سويدى.

چي دوباره سفر شروع سو، نو "جبرائيل" بيا پر يو ځاى باندي د دوه (۲) ركعته لمانځه تلقين ورته كوي، پيغمبر ﷺ چي كله لمونځ وكړئ نو خپله پوښتنه كوي، چي دا كم ځاى دى، نو حضرت جبرائيل عليه السلام ورته وايي چي دا "كوه طور" دى، چي په كم ځاى كي "شجره موسىٰ" ده، هلته تا لمونځ وكړى.

دريم ځل چي سفر روانېږي حضرت جبرائيل عليه السلام بيا پر يو ځاى باندي د لمانځه كولو تلقين ورته كوي، او ورته وايي چي دا د شعيب عليه السلام علاقه "مدين" دئ، چي په هغه كي تا لمونځ وكړى.

د هغه څخه وروسته پيغمبر ﷺ پر يو ځځكه تيرېږي او د جبرائيل عليه السلام په تلقين سره دوه (۲) ركعته لمونځ كوي، حضرت جبرائيل عليه السلام ورته وايي دا "بيت اللحم" دى، چي په كم ځاى كي حضرت عيسى عليه السلام پيدا سويدى.[1]

پدې سفر كي د پيغمبر ﷺ مخ ته ډېر عجائبات را غلي دي، چي زه د هغه مختصر تفصيل ستاسو په مخ كي پېشوم.

۱. د پيغمبر ﷺ تېرېدل پر يو داسي قوم كيږى، چي هغو د بټو او خاشاكو يو غټ بار تړلى دى د هغه د پورته كولو طاقت نه لري لېكن د هغه باوجود د خپل بار د زياتېدلو لپاره نور لرګي هم را جمع كوي.

(۱) خصائص الكبرٰى، جلد نمبر۱، صفحه نمبر ۱۵۳

پيغمبرﷺ د جبرائیل څخه پوښتنه کوي چي دا څوک دي؟ حضرت جبرائيل علیه السلام په جواب کي ورته وايي چي دا هغه خلک دي چي پر هغوی باندي د خلکو حقوق او امانتونه بار دي، د هغه باوجود دوی خپل بوج پر ځان نور هم درنوي، يعني نور امانتونه هم د خلکو پر خپله ذمه اخلي او د ادا کولو فکر يې نلري.

۲. د دې څخه وروسته پر يو بل قوم باندي دوی تیرېږي چي د هغو ژبي او شونډان د اوسپني په غچیانو پرې کيږي او چي کله پرېسي نو د اول ځل غوندي بیرته صحیح او سالم جوړيږي، او داغه سلسله د پرې کېدلو او جوړېدلو روانه او جاري وي.

نو پيغمبرﷺ د جبرائيل علیه السلام څخه د دې قوم په باره کي پوښتنه کوي، "جبرائيل" ورته وايي چي دا ستا د امت خطيبان واعيظان خلک دي، چي نورو خلکو ته نصيحتونه کوي، لېکن پخپله په هغه باندي عمل نکوي، نو د الله په دربار کي د هغوی دغه سزا او انجام دی.

۳. په داغه سفر کي د پيغمبرﷺ تېرېدل پر يو داسي قوم کيږي چي د هغوی و مخته په يو کټو کي پخې او صفا غوښي پرتې دي، او په يو بله کټو کي اومي او بد بويه غوښي پرتې دي، او د هغه خلکو حالت دا دی: چي کمي پخې او صفا غوښي دي، هغه نه خوري د هغو پر ځای په هغه اومو او بد بويه غوښو کي لوېدلي دي.

د پيغمبرﷺ پر پوښتنه باندي "جبرائيل" ورته وايي دا ستا د امت هغه خلک دي، چي خپله په حلاله نکاح زنانه پرېږدي، او په حرام کاريو او زناوو کي مبتلا وي، يعني د زنا کاره نارينه او د زنا کاري زناني دغه سزا او انجام دی.

۴. داغه رنګه د پيغمبرﷺ تېرېدل پر يو داسي قوم هم کيږي، چي په يوه ورځ کي کښت کري، او په داغه ورځ کي يې بيرته پرې کوي، او د پرېکولو څخه هغه

کښت پيرته سرسبز او زرغون گرځي، لکه: د پرېکولو څخه مخکې چې څنګه وو.

پيغمبرﷺ چې کله د دې قوم متعلق پوښتنه کوي، نو حضرت جبرائيل عليه السلام ورته وايي چې دا د الله په لاره کې مجاهدين دي، چې د هغوی يوه نېکي تر اووه سوه (۷۰۰) لا هم په زياته طريقه ور کول کيږي.

۵. بيا پر يو قوم باندې دوی راځي چې د هغو دا انجام دی، چې د هغوی د شرم گاه مخ او شاته کولمې ور پورې څرېږي او د اوښانو او پسو غوندې څرېږي او د "زقوم" د درختي ترخې پاڼې او ازغي خوري.

د "زقوم" درختي په باره کې راځي: چې هغه د ومره ترخه او زهرجنه درخته ده، چې د هغې د تريخ والي مقابله د دنيا هيڅ تريخ شی نسي کولای.

د هغې درختي يوه ذره کچيرې د دنيا په يو خواږه درياب کې واچول سي، نو د ټوله درياب اوبه به ترخې سي.

پيغمبرﷺ وايي، چې کم خلک په دنيا کې د مذاق او مسخرو زندگي تېروي هغوی ته به هم د دې درختي څخه خوړکه ور کول کيږي.

د دې درختي د پاڼو او ازغيو څخه علاوه دا خلک د جهنم د برې هم ځپښتي.

پيغمبرﷺ چې کله د جبرائيل عليه السلام څخه معلومات غواړي نو هغه ورته وايي چې دا ستا د امت هغه مالداران دي چې هغوی د خپل مال زکوة په ښه شکل نه ادا کوی.

۶. په دې سفر کې د پيغمبرﷺ تېرېدل پر يو بل قوم هم کيږي، لکه په حديث شريف کې راځي:

............لَمَّا عُرِجَ بِي مَرَرْتُ بِقَوْمٍ لَهُمْ أَظْفَارٌ مِنْ نُحَاسٍ يَخْمُشُونَ وُجُوهَهُمْ وَصُدُورَهُمْ، فَقُلْتُ: مَنْ هَؤُلَاءِ يَا جِبْرِيلُ، قَالَ هَؤُلَاءِ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ لُحُومَ النَّاسِ، وَيَقَعُونَ فِي أَعْرَاضِهِمْ﴾.(۱)

---

(۱) سنن ابي داؤد حديث: ۴۸۷۸

چي کله زه د معراج په سفر کي وم، نو ما داسي قوم وليدی چي د هغوی نوکان د اوسپني څخه و، چي په هغه نوکانو سره دوی د خپلو مخانو غوبني پري کولي.

ما د جبرائيل عليه السلام څخه پوښتنه وکړه چي دا کم خلک دي؟ ده راته وويل چي دا هغه خلک دي چي په دنيا کي يې د خلکو غيبتونه کول، او د خلکو عزتونه يې خرابول.

۷. داغه رنګه پدې سفر کي د پیغمبر ﷺ نظر پر يو سړي لګيږي چي هغه په نهر او درياب کي تېرېږي او د درياب لوی لوی کاڼي په خوله کوي او خوري يې.

چي پیغمبر ﷺ د جبرائيل عليه السلام څخه پوښتنه کوي، نو هغه ورته وايي دا ستا د امت سود خواره دي.

۸. او پر داسي خلکو هم د پیغمبر ﷺ نظر لګيږي چي د هغو سرونه په يو دېر لوی کاڼي باندي وهل کيږي، او سرونه يې د ټکی (پتيري) غوندي ميده کيږي، بيرته جوړيږي او د جوړېدو وروسته بيرته وهل کيږي، او دا سلسله غير متناهي جاري وي، "جبرائيل امين" ورته وايي چي دا د امت هغه انسانان دي، چي فرضي لمنځونه پرېږدي او په هغه کي سستي کوي.

۹. د پیغمبر ﷺ و مخته پدې سفر کي دنيا را وستل سوه، چي هغه د يو ډيري حسيني او جميلي زناني په شکل وه، هغه زناني پیغمبر ﷺ ته آواز وکړئ ای محمده! زما طرفته وګوره زه تاته يو څه ويل غواړم.

پیغمبر ﷺ د هغې وطرفته څه توجه ونکړه، او د جبرائيل عليه السلام څخه يې پوښتنه وکړه، چي دا څوک ده؟ نو هغه ورته ويل چي دا دنيا ده، کچيري تا د دې و طرفته توجه کړې وای نو ستا امت به د آخرت په مقابله کي دنيا خوښه کړې وای، او ستا د امت د ټولو فتنو څخه لويه فتنه هغه دنيا ده.

**د دنیا څخه ځان ساتل:**

لکه د پیغمبرﷺ یو حدیث مبارک د دنیا په باره کې راځي، چې پیغمبرﷺ خپل امت ته د دنیا څخه د ځان ساتلو وصیت کوي:

........إِنَّ الدُّنْيَا حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ، وَإِنَّ اللَّهَ مُسْتَخْلِفُكُمْ فِيهَا فَنَاظِرٌ كَيْفَ تَعْمَلُونَ، أَلَا فَاتَّقُوا الدُّنْيَا وَاتَّقُوا النِّسَاءَ﴾.(۱)

دنیا ډېره خوږه او سرسبزه ده، الله تعالی پدې دنیا کې تاسو د مخکنی خلکو خلیفګان جوړ کړي یاست یعني د مخکنی خلګو پر ځای یې کېښنولي یاست! یو نسل ولاړی، د هغه پر ځای بل نسل راغلی.

الله تعالی تاسو ګوري! چې تاسو پدې دنیا کې څنګه عمل کوی، خبردار! تاسو د دنیا څخه ځان ګورئ! او دا رنګه د زنانو د فتنې څخه خپل ځان محفوظه وساتئ.

واقعي هم دنیا ډېره خوږه او سرسبزه ده چې د هر سړي د دنیا سره ډېر رغبت او مینه ده، د دې دنیا مال او دولت او د دې لذت او راحت او د دنیا ساز او سامان هر سړي ته ډېر مرغوب دی، او ټی د هغه حاصلول غواړي.

**د دنیا متعلق یو حدیث:**

په یو حدیث کې پیغمبرﷺ فرمایي: چې کله د پسرلي زمانه سي، مځکه سرسبزه او زرغونه سي نو د مځکي نرم او زرغونه او نازک واښه حیوانانو ته ډېر مرغوب او محبوب وي.

اوس یو قسم حیوان داسي وي چې کله تازه او نرم واښه ووینې، نو د هغه خورکه شروع کړي، چونکه تازه او نرم واښه ډېر خواږه او لذیذ دي، لهذا مسلسل یې خوري، تر دې حده پوري چې هاضمه یې خرابه سي، او نس یې وپړسیږي او د دې وښو د زیات خورکه څخه هغه حیوان د "جوع البقر" په ناجوړي مړ سي.

(۱) سنن ترمذي حدیث: ۲۱۹۱

دوهم حیوان بیا هغه دی چي هغه د ضرورت په مقدار خورکه څني وکړي او د خورکې کولو څخه وروسته په ګرمي کي وګرځي، او شخوند ووهي، او هغه وابنه هضم کړي، د هضمېدو څخه وروسته بیا په قدرد ضرورت د وښو څخه خورک کوي.

د دې څخه وروسته پیغمبرﷺ وویل چي دنیا ډېره خوږه او تازه او زرغونه ده، چي کم سړی یې په حرص سره راټولوي، او سره را نغاړي یې نو هغه سړي ته د "جوع البقر" ناجوړي ورپېښه وي، لکه: هغه حیوان چي په خورک نه مړېږي.

نو دَی هم د دنیا په را ټولولو نه سترې کېږي، نو دا سړی به د هغه حیوان غوندي هلاک کېږي چي د ډېره خورکه څخه د هغه نس سره وچاودلسي او هلاک سي.

او چي کم سړی په حقه طریقه سره دنیا ګټي او په حقه طریقه سره یې استعمالوي، یعني د شریعت د قواعدو مطابق دنیا ګټي او چي کم ځای الله د خرڅولو ورته ویلي دي، هلته یې خرڅوي، نو هغه سړی بیا د ځان تباه کولو څخه محفوظ وي. (١)

یقینًا هم دنیا داسي خوږه ده چي د انسان زړه وړي او سترګي یې نه په مړېږي چي د هغې و پرېښولو ته د انسان زړه نه غواړي، د انسان عمر ډېر پوخ او پوره سي، بوډا والی راسي، ټول اندامونه او قوتونه کمزوري سي، دماغ او عصاب د کمزوری سره مخامخ وي، په کار خو دا دی: چي اوس نو سړی د دنیا څخه ځان را ټول کړي، او دا د مصیبت کور پرېږدي، او د آخرت فکر وکړي.

لېکن پدې عمر کي هم د انسان زړه د دنیا و پرېښولو ته نه ور غواړي، چي زه دي دنیا پرېږدم، نه معلوم چي الله تعالی پدې دنیا کي کم خوږ والی ایښی دی.

حالانکه دلته ټول مصیبتونه، پرېشانیاني او غمونه دي، او د دې رنځ او تکلیف ډېر زیات او راحت یې ډېر کم دئ، چي کم راحتونه دي، هغه صرف ظاهري دي، په باطني مشقتو او تکلیفو کي پېچلي دي.

لېکن د هغه باوجود دنیا ډېره خوږه او ډېره تازه او ډېره لذیذه وي و انسان ته ور معلومېږي، چي هغه د انسان زړه وړي.

---

(١) اصلاحي مواعظ، جلد نمبر١، صفحه نمبر٢٧

## د دنيا مثال:

"شيخ فريد الدين عطار رحمته الله عليه" د دنيا مثال په داسي شکل بيان کړيدی:

*زہر دار در اندرون دنیا چون مار... گرچہ بینی ظاہرش نقش ونگار*

*زہر این مار منقش قاتل است... باشد ازوی دور ہر کو عاقل است*

يعني د دنيا مثال د يو نقش داره مار غوندي دی، چي د هغه پر پوست باندي ډېر خوبصورت او ښائسته نقشونه معلوميږي.

عقل مند انسان چي کله ودې مار ته وګوري نو ځني بيريږي، ځکه هغه ته دا ور معلوميږي چي دا مار ډېر زهريله دی که زه ور نزدې سم، نو ما په نښښ باندي وهي او زما بدن د زهرو ډکوي.

لېکن يو نادان او ماشوم بچی چي هغه ته د دې مار د حقيقت څه معلومات نه وي، هغه چي د دې مار ظاهري نقش ونکار او ښائست ته وګوري نو هغه د دې د نيولو کوشش کوي، نو ځکه فرمايلي يې دي، چي دنيا ظاهرًا نقش داره ده، لېکن باطنًا د زهرو ډکه ده، نو ظاهرًا نادان سړی د هغه په نقش او نګار باندي خطا کيږي، لېکن چي کم سړی دانا وي او د دې د حقيقت څخه باخبره وي، هغه د دې د زهرو څخه ډېر په خوف او په بېره کي وي.

## د امام غزالي رحمته الله عليه په نزد د دنيا مثال:

"امام غزالي" رحمته الله عليه فرمايي: چي د دنيا او د دنياوالاوو مثال د مار او د مارګير دئ.

کم مارګير چي هغه د مار د زهرو غاښونه ور ماتولای سي، او هغه د دې زهرو د اثر ختمولو ترياق هم پېژني چي کله مار ونيسي، اول خو هغه د هغه مار غاښونه ور ماتوي، چي هغه د دې لائق پاته نسي چي څوک په غاښو باندي وخوري.

او کچيري بالفرض هغه مار سړی وخوري، نو هغه ته دا علاج هم ور معلوميږي چي د مار د زهرو اثر پدې ترياقو زائليږي.

نو هغه مارګیر مار نیسي او پر اوږه یې را اخیستئ وي او قسم قسم، تماشې په کوي، او مار په ده هیڅ کولای نسي.

لیکن چي کم بې چاره ته نه د مار د زهرو غابښونه ور معلوم دي، او د نه د مار د زهرو ختمولو تریاق ور معلوم دی، هغه کچیري مار ته لاس ور وړي، نو د هغه زندګي به د تباهی سره مخامخ کیږي.

بعینه دغه مثال د دنیا او د دنیا ګټونکي دئ، چي کم چا ته د مار غابښونه ور معلوم دي، او د هغه علاج هم ور معلومیږي نو مار هغه ته ضرر نسي رسولای.

چنانچه زموږ اوس داغه حالت دی نه مو د مال ګټلو احکام ازده دي نه د هغې د خوندي کولو اداب را معلوم دي، او نه یې د خرڅېدو ځایونه او طریقې را معلومیږي نو د هغې نتیجه دا ده چي دغه دنیا موږ په ښښ وهلي یو، او زموږ د بدن په ټولو اندامو کي د هغې زهر سره غوړېدلي دي.

د هغې زهر څه دي؟ صرف د آخرت څخه غفلت دی.

بس دا یوه خبره مو اورېدلې ده چي د بچیانو نفقه ګټل فرض دي، دا یو فرض مو په یاد، نور هر څه را څخه هېر دي. [1]

## د حضرت جي رحمة الله علیه فرمان:

"حضرت جي مولانا محمد یوسف" رحمة الله علیه یو ځل بیان کاوی، نو په جوش کي راغلی، هغه به دا ویل ای خلکو! تاسو ته چا دا ویلي دي، چي پیسې ګټئ، دکانونه خلاص کړی، او د ځان او عیال دپاره نفقه پیدا کړی او د عیال نفقه پیدا کول فرض دي.

ستاسو سر غلط خلاص سویدی، چي نفقه فرض ده چي په کمه رنده طریقه سره تاسو نفقه ګټئ، په دې شکل فرض نه بلکه حرامه ده، اول د نفقې ګټل ازده کړئ، د هغه څخه وروسته بیا نفقه وګټئ.

---

(1) اصلاحي مواعظ، جلد نمبر۱، صفحه نمبر۲۹

حلال وحرام، جائز او نا جائز سره وپیژنئ، نو بیا ستاسو لپاره حلاله گټه کول فرض دي، او د حرامي څخه ځان وساتئ.

بهر حال پیغمبر ﷺ فرمايي چې دنیا خوږه ده الله تعالی ستاسو څخه مخکني خلک رخصت کړل او تاسو یې د هغو پر ځای را وستاست.

دلته دنیا ته تاسو د عیش او عشرت لپاره نه یاست راغلي چې صرف خورکونه او نعمتونه استعمالوئ، بلکه د دې لپاره راغلي یاست، چې الله تعالی دا گوري چې د دې ځایه څخه تاسو د را روان سفر لپاره د اعمالو څه توښه برابره کړېده؟ او پدې دنیا کې تاسو د مخکنی خلکو د حالاتو څخه څه عبرت اخیستی دی او کنه؟.

لیکن په موږ کي اکثریت خلک داسي دي چې هغو د مخکنی خلکو د حالاتو څخه هیڅ عبرت ندی حاصل کړی، الله تعالی دې موږ معاف کړي، او الله تعالی دې زموږ د دماغو څخه د غفلت پردې لیرې کړي.

## د دنیا څخه د آخرت توښه حاصلول،

نو دنیا د دې لپاره ده چې د دې څخه یو څه توښه انسان د آخرت د را روانو سفرو لپاره د ځانه سره واخلي.

پیغمبر ﷺ به حضرت ابو ذر غفاري رضی الله عنه ته ویل،

ای ابو ذره! توښه در سره واخله! ځکه سفر دېر اوږد دی او خپل بوج لږ سپک کړه! ځکه مخته دَره دېره دشوارگزاره ده، چې پر هغه باندې به ستا پورته ختل وي، او پر خپله ملا به تو له بوج وړل وي، (۱)

لکه، په قرآن کریم کې هم دا راځي، چې تو له خپل بوجونه به هر انسان پر خپله ملا باندې وړي.

په مشکوة شریف کې پر صفحه، (۲۴۳) باندې یو حدیث دی،

(۱) اصلاحي مواعظ، جلد نمبر۱، صفحه نمبر۲۹

......وَعَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ قَالَتْ: قُلْتُ: لِأَبِي الدَّرْدَاءِ﴾. حضرت ام درداء رضي الله عنها فرمايي: چي ما خپل خاوند "ابو درداء" ته وويل:

......مَالَكَ لَا تَطْلُبُ كَمَا يَطْلُبُ فُلَانٌ﴾. چي ته ولي روزي نه گټې؟ لکه فلانکی سړی چي يې گټي.

......فَقَالَ: أَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ﴾. ده راته وويل: چي ما د پيغمبر ﷺ څخه دا اورېدلي دي، چي هغه به ويل:

......إِنَّ أَمَامَكُمْ عَقَبَةً كَئُودًا لَا يَجُوزُهَا الْمُثْقَلُونَ﴾. ستاسو مخته يو دره ډېره دشوار گزاره ده چي د کم چا بار درونددي هغه پر دې دره نسي تېرېدلای.

......فَأُحِبُّ أَنْ أَتَخَفَّفَ لِتِلْكَ الْعَقَبَةِ﴾. نو زه ددې درې په خاطر خپل بوج لږ سپک کرځوم، چي سبا پر دې دره باندې د ختلو په وخت کي ماته مشکلات نه وي.(۱)

او داغه رنگه پيغمبر ﷺ حضرت ابو ذر رضي الله عنه ته وايي: عمل خالص در سره واخله ځکه مخته تلابنې کونکی ډېر باريک بينه دی، کچيري په عمل کي کډوډي وي، هلته يې بيا نسې تېرولای.

## بهترينه دعاء:

زموږ يو "استاد" به ويل چي ماته پر اکثرو ځايو بيا خاصکرد طواف په دوران کي يو دعاء پر خوله ډېره راځي او زه اکثره هغه وايم:

......اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ نَفْسًا مُطْمَئِنَّةً، تُؤْمِنُ بِلِقَائِكَ وَتَرْضَى بِقَضَائِكَ، وَتَقْنَعُ بِعَطَائِكَ﴾.(۲)

يا الله! زه داسي نفس غوارم چي مطمئن وي، چي ستا پر ملاقات ايمان لري، او ستا د قدر او قضا پر فيصلو باندې راضي وي، او چي ستا پر عطاء باندې قناعت لري (يعني چي زما مالک ماته راکړيدي هغه زما لپاره کافي دي د دې څخه زيات نور نه غوارم بس داغه زما لپاره ډېر دي).

---

(۱) فوائد تمام، حديث نمبر ۱۶۳۲

(۲) موارد الظمان، باب يحتوي على الدعاء صفحه، ۶۱۵

## تولہ دنیا د صحابه وو غلامان سوه:

حضور اکرمﷺ د دنیا حقیقت د صحابه کرامو﷡ په زړو کي ور کښېنولی وو، چي د دنیا سره زړه مه تړئ، د دنیا و طرفته رغبت مکوئ، او د ضرورت پر وخت دنیا استعمالوئ، لېکن د دنیا سره دومره محبت مه کوئ، چي د هغې په خاطر ستاسو آخرت ته نقصان ورسيږي.

چي کله د دنیا محبت د صحابه کرامو﷡ د زړو څخه ووتی نو بیا الله تعالی تولہ دنیا د دوی غلامان کړل، "کِسریٰ" د دوی پښو ته راغلی د هغه خزانې د دوی په مسجدانو کي تقسیمېدلې، او د هغه لوښو به د مینځانو په شکل د دوی د کورو بسترې هوارولې، که هر څومره مال او دولت راغلی خو دوی د قدر او عزت په شکل مال او دولت ته نه وکتل.

## د شام والی حضرت عبیده ابن جراح:

د حضرت عمر﷜ په زمانه کي "حضرت عبیده﷜" د شام والی جوړ سو، ځکه د شام اکثره علاقه ده فتح کړېوه، او په هغه وخت کي شام ډېره لويه علاقه وه، نن سبا هغه شام پر څلور (۴) حصې تقسیم دی، یعني شام، اردن، فلسطین، لبنان.

او په هغه وخت کي دا څلور (۴) اسلامي سلطنته د اسلامي خلافت یو ولایت وو چي حضرت ابو عبیده﷜ د هغه والی وو، او د شام علاقه، ډېره زرخېزه او مال او دولت ډېر پکښې زیات او د روم ډېره سرسبزه او ښائسته علاقه وه.

حضرت عمر﷜ په مدینه منوره کي ناست د تولہ اسلامي سلطنت واګي په لاس کي لري، چنانچه يو ځل د معاينې لپاره د شام په دوره راغلیَ د شام د دورې په وخت کي حضرت ابو عبیده﷜ ته وايي چي زما زړه دا غواړي چي زه د خپل ورور یعنې ستا کور ووینم چي کم ځای ته اوسېږي.

د حضرت عمر﷜ په ذهن کي دا ده چي ابو عبیده﷜ د دومره لوی ولایت والی جوړ سو او دلته خو مال او دولت ډېر زیات دی، زه به د هغه کور ووینم چي هغه دلته څه جمع کړيدي.

## د شام دوالي کور:

حضرت ابو عبیده‌ﷺ په جواب کي ورته وايي چي ای امیر المؤمینه! ته زما کور لیدل څه کوې؟ ځکه که ته زما کور ووینې نو د سترګو نستېږلو یعني د اوښکو تویلو بغیر به نور هیڅ ونکړې.

حضرت عمر فاروقﷺ اصرار کوي چي نه زه ستا کور وینم.

چنانچه "حضرت ابو عبیده" "امیر المؤمنین" روان کړئ، د ښار څخه تېر سوه، چي کله د ښار ابادی ختمي سوې، نو حضرت عمرﷺ پوښتنه کوي، چي ته ما چیري بیایې؟

"حضرت ابو عبیده" په جواب کي ورته وايي چي بس اوس نزدې دی، چنانچه د دمشق پوره ښار چي د دنیا د مال او د اسبابو څخه ډک وو او د رڼاګانو او څراغانو څخه ځلېدئ تېر سو. په آخر کي یو د نلانو ځنګله ته راغله، د خورما د پاڼو څخه یو کودل ته ودرېدل.

"حضرت ابو عبیده" ورته وايي "امیر المؤنین" دغه زما کوز دی، زه پدې کي اوسېږم.

حضرت عمرﷺ کوډلي ته ور ددننه سو، څلور (۴) طرفه یې نظر واړوی، په ټوله کوډل کي یوه د لمانځه مصله هواره ده، نور هیڅ نسته.

حضرت عمرﷺ ورته وايي ای ابو عبیده! ته پدې کي اوسېږې، دلته خو هیڅ سامان او د ژوند تېرولو بندوسبت نسته، نه د خورک څه سته، نه د خوب انتظام سته، ته دلته څنګه اوسېږې؟

دَی په جواب کي ورته وايي "امیر المؤمنین" زما ټول ضرورتونه دلته پوره دي، دا مصله ده د لمانځه پروخت لمونځ ور باندي کوم، او د شپې ور باندي آرام کوم، بیا ده خپل لاس د کوډلي د سر وطرفته وغځوی، او د خاشو څخه یې پیاله را وایسته چي مخکي نه معلومېدله، ورته وايي "امیر المؤمنین" دا زما د خورک لوښی دی.

حضرت عمر فاروق رضی الله عنه چې کله هغه لوښې ته وکتل نو د اوبو ډکې وې، او د سپرو دودۍ یو څو ټکرې پکښې خشتې سویدې.

بیا حضرت ابو عبیده رضی الله عنه ورته وایي چې "امیر المؤمنین" زه ورځ او شپه د حکومت په کارو کې مصروف یم، د خوراک او د نورشه د انتظام کولو فرصت او وخت را سره نه وي.

یو زنانه زما لپاره د دوو (۲) یا درو (۳) ورځو دودۍ پر یو ځای پخوي، زه هغه دودۍ کښېږدم، چې کله وچه سي، نو بیا یې پدې اوبو کې خشتوم، او د شپې یې د خوب څخه مخکې خورم او بیا ویده کېږم.(۱)

## د حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه اوښکې تویول:

حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه چې کله دا حالت ولیدۍ نو په سترګو کې یې اوښکې راغلې.

حضرت ابو عبیده رضی الله عنه ورته وایي چې ای امیر المؤمنین! ما مخکې لا هم درته ویلې وه چې زما د کور لیدلو وروسته به ته د سترګو څخه د اوښکو تویلو څخه ماسوا هیڅ نکرې حاصل.

حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه ورته وایي چې ای ابو عبیده! د دنیا کثرت او ډېروالي موږ ټوله بدل کړو، لیکن په خدای قسم، ته پر هغه شان یې، چې څنګه د پیغمبر ﷺ په زمانه کې وې، او دا دنیا پر تا هیڅ اثر ندی کړی.

دا هغه صحابه کرام وه چې د هغوی پښو لره دنیا د ذلت په شکل راغله، لیکن د دنیا محبت ته دوی په زړه کې ځای ور نکړی، په حقیقت کې دا د پیغمبر ﷺ تربیت وو،

(۱) سیر اعلام النبلاء، جلد: ۱ صفحه: ۷

ځکه ده بار بار صحابه کرام د دنیا و حقیقت ته متوجه کړیوه، او بار بار به یې دا ورته ویل:

...........الا فاتقوا الدنيا﴾.

خبردار! تاسو د دنیا څخه ځان وګورئ، په حقیقت سره صحابه کرامو د پیغمبرﷺ دې وینا ته په زړه کې ځای ور کړی وو، او په پوره طریقه سره یې پر دې باندې عمل کړی وو.

## نزول اقدس در بیت المقدس:

سَرَيْتَ مِنْ حَرَمٍ لَيْلًا إِلَى حَرَمٍ

كَمَا سَرَى الْبَدْرُ فِي دَاجٍ مِّنَ الظُّلَمِ

وَبِتَّ تَرْقَى إِلَى أَنْ نِلْتَ مَنْزِلَةً

مِنْ قَابَ قَوْسَيْنِ لَمْ تُدْرَكْ وَلَمْ تُرَمِ.(۱)

پیغمبرﷺ د شپې په لږ حصه کې د "مسجد حرام" څخه "مسجد اقصیٰ" ته ورسېدئ، او د مځکې د مخ سفر پر دې ځای پای ته ورسېدی.

پیغمبرﷺ د "جبرائیل امین" په ملګرتیا کې پر "مسجد اقصیٰ" چې د "بیت المقدس" سرزمین وو را ښوه سو.

جبرائیل علیه السلام "براق" په هغه حلقه پورې وتړی، چې هلته د ټولو انبیاؤ د خپلې خپلې زمانې سوارلیانې تړلې وې.

د دې څخه وروسته پیغمبرﷺ "مسجد اقصیٰ" ته ور ننوتئ او دوه (۲) رکعته "تحیة المسجد" یې ادا کړه او بیا یو آذان کونکی آذان وکړی، اقامت وسو او صفونه سیده سوه.

(۱) سبل الهدی والرشاد في سیرة خیر العباد: صفحه نمبر ۹۵

تو له انبیاء کرام د خپلو اجسام مثالیو یعني په (روحاني حضور) سره په "مسجد اقصیٰ" کي په صفو کي موجود دي، فرشتې هم د آسمانو څخه راغلي دي.

تول پدې انتظار دي، چي د دې مبارک قوم امامت به څوک کوي، د چا نظر پر حضرت آدم علیه السلام باندي دی، چي د تو له انسانیت پلار وو، او څوک د نوح علیه السلام په فکر کي دي، او د چا گمان دا دی؛ چي هغه ابراهیم علیه السلام چي د الله خلیل دی، چي هغه به نن د دې قوم امامت کوي.

.........اِمَامُ الْقَوْمِ سَیِّدُهُمْ﴾.

ځکه چي امام د قوم سردار بلل کیږي، نو د دې مبارک قوم سرداري به د چا په نصیب وي.

پدې دوران کي حضرت جبرائیل علیه السلام را مخته سو، او پیغمبر صلی الله علیه وسلم یې تر لاس ونیوی او د امامت پر مصله یې ودروی، پیغمبر صلی الله علیه وسلم امامت وکړی.

بیا وروسته حضرت جبرائیل علیه السلام ورته وایي چي ستا په امامت کي تو لو انبیاء کرامو لمونځ ادا کړی.

## د انبیاء کرامو سره ملاقات:

د دې څخه وروسته د انبیاء کرامو سره د ملاقات سلسله شروع سوه، حضرت ابراهیم علیه السلام او حضرت موسی علیه السلام د خپل نبوت او حیثیت او د خپل مقام مطابق د الله تعالی "عظمة الشان" بیان کړی.

حضرت داؤد علیه السلام او حضرت سلیمان علیه السلام هم د الله تعالی رفعت شان او خپل خپل مقام ظاهر کړي.

په آخر کي حضرت عیسی علیه السلام د الله تعالی حمد او د الله تعالی د انعاماتو او احساناتو تذکره وکړه.

خو په آخر کې پیغمبر ﷺ په نهایت جامع انداز باندې د الله تعالی عظمت او د دې امت خصوصیت او د خاتم النبیین منقبت بیان کړی.

چې پر هغه باندې حضرت ابراهیم علیه السلام وویل چې محمد ﷺ په خپلو فضائلو او برکاتو سره د تاسو ټولو څخه سبقت یووړی. (۱)

## شیدې نه شراب:

چې کله د مسجد اقصیٰ څخه دباندې را ووتئ نو پیغمبر ﷺ ته دوې (۲) پیالې پېش سوې، په یوه کې شیدې وې او په بله کې شراب وه، ده د شرابو پیاله پرېښوله او د شیدو پیاله یې را واخیسته.

حضرت جبرائیل علیه السلام ورته وایې چې تا فطرت اختیار کړی، کچیرې تا د شرابو پیاله چیښلې وای، نو ستا امت به گمراه سویوای.

په بعضِ روایاتو کې د څلورو (۴) پیالو ذکر راغلی دی، یعني شیدې، شراب، اوبه، او شهد، پیغمبر ﷺ د شرابو او د اوبو څخه کناره کشي وکړه، او د شیدو پیاله یې خوښه کړه، او یو څه یې شهد ورسره وخوړل.

جبرائیل آمین ورته وویل: که دې چیرې شراب اختیار کړیوای، نو ستا امت به گمراه سویوای، که دې چیرې اوبه اختیار کړې وای، نو ستا امت به غرق سوی وای.

د هغه څخه وروسته د ده د سفر دوهمه مرحله شروع سوه. چې عروج الی السماوات دی. (۲)

(۱) علمي تقریرونه، جلد نمبر ۱، صفحه نمبر ۱۸۰
(۲) علمي تقریرونه، جلد نمبر ۱، صفحه نمبر ۱۸۱

کچیري زندګي وه د هغې متعلق به په را روانه جمعه کي تفصیلا بیان کوو، الله تعالی دي دا څو خبري پخپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

آمین یا رب العالمین

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ أَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ.

بسم الله الرحمن الرحيم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآیه)

# د معراج دوهم بیان

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقــــــــريــر | الحاج مولوي اطيع اللہ صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم اللہ صـاحب |
| مــقـــــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــــاعـــت | اول |
| تـــاريــــــخ | جمادي الاولى ١٤٤٢ بمطابق ٢٤ جنوري ٢٠٢١ |
| تـــعــــــداد | (١١٠٠) |

بسم الله الرحمن الرحیم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى، عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى، عِنْدَهَا جَنَّةُ الْمَأْوَى، إِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشَى، مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغَى، لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى﴾.(1)

﴿عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه لَمَّا عُرِجَ بِي مَرَرْتُ بِقَوْمٍ لَهُمْ أَظْفَارٌ مِنْ نُحَاسٍ يَخْمُشُونَ وُجُوهَهُمْ وَصُدُورَهُمْ، فَقُلْتُ: مَنْ هَؤُلَاءِ يَا جِبْرِيلُ، قَالَ هَؤُلَاءِ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ لُحُومَ النَّاسِ، وَيَقَعُونَ فِي أَعْرَاضِهِمْ﴾.(2)

وَبِتَّ تَرْقَى إِلَى أَنْ نِلْتَ مَنْزِلَةً ★ مِنْ قَابَ قَوْسَيْنِ لَمْ تُدْرَكْ وَلَمْ تُرَمِ

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمُ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمُ، وَ نَحْنُ عَلَى ذَٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

## د بیت المقدس څخه روانېدل:

محترمو سامعینو! د پیغمبر ﷺ د دې عظیم سفر متعلق په تېره جمعه کې څه وینا وسوه، چې هغه د معراج هغه حصه وه، چې د "مسجد حرام" څخه تر "مسجد اقصیٰ" پورې پر حالاتو مشتمله وه.

اوس د دې سفر دوهمه حصه چې د "مسجد اقصیٰ" څخه تر "سِدرة المنتهیٰ" پورې او تر هغې بالا پر حالاتو او واقعاتو مشتمله ده.

(1) النجم آیت نمبر، ۱۳-۱۴-۱۵-۱۶-۱۷-۱۸

(2) أبو داوٗد، حدیث، ۴۸۷۸

حافظ ابن کثیر رحمة الله علیه فرمایي: چې کله پیغمبر ﷺ د "بیت المقدس" د مشاغلو څخه فارغه سو، نو د آسمانو د سفر لپاره ده ته یو "خود کاره" ځینه راوړل سوه، چې نهایت ښائسته او په ضمرد و، زبرجد و او جواهراتو باندي جوړه سوې وه.

چې دَی د ملائکو د ډلي سره پر دې ځینه باندي آسمانو ته پورته سو او "بُراق" دالتهٔ د "مسجد اقصیٰ" پر دروازه تړلی پاته سو، چې کله پیغمبر ﷺ واپس د آسمانه څخه "بیت المقدس" ته راځي، بیا پر داغه "بُراق" باندي سپریږي او واپس مکې مکرمې ته راځي(۱).

او دا هم ممکنه ده چې پیغمبر ﷺ دي پر "بُراق" باندي سپور پر دې ځینه باندي کښېنستلی وي او د "بُراق" سره دي آسمانو ته پورته سوی وي، لکه: د بعضو علماؤ هم دا قول دی، په دې صورت کي به روایات هم تول متفق سي او دا به د پیغمبر ﷺ د زیات اکرام او اعزاز سبب او موجب هم وي.(۲)

## په آسمانو کي د انبیاؤ سره ملاقات:

"مسجد اقصیٰ" ته انبیاء کرام د خپلو اجسامو مثالیه وو سره روحانیهٌ حاضر سوي وه، بیا هر آسمان چې د کم "نبي" مستقر وو، په هغه کي د هغه "نبي" سره ملاقات هم وسو، چنانچه د "مسلم شریف" په حدیث کي چې کم ترتیب مذکور دی، د هغه مطابق:

- ❖ په اول آسمان کي حضرت آدم علیه السلام.
- ❖ په دوهم آسمان کي حضرت عیسی علیه السلام.
- ❖ په دریم آسمان کي حضرت یوسف علیه السلام.
- ❖ په څلورم آسمان کي حضرت ادریس علیه السلام.
- ❖ په پنځم آسمان کي حضرت هارون علیه السلام.
- ❖ په شپږم آسمان کي حضرت موسی علیه السلام.

---

(۱) البدایة والنهایة جلد: ۳ صفحه: ۱۱۰
(۲) الزرقاني جلد: ٦ صفحه: ۳۲

❖ په اووم آسمان کي حضرت ابراهيم عليه السلام.

سره ملاقات وسو. د دې ترتيب د يادولو لپاره علماؤ د کلمې د ﴿أَعَبَاهُمَا﴾ انتخاب کړی دی، يعني چي د دې کلمې کم حرف مخکي راغلی هغه حرف د هغه نبي د نامه اول حرف دی، چي د کم "نبي" سره پيغمبر ﷺ ملاقات کړيدی، مثلا همزه د آدم عليه السلام د نامه اول حرف دی، نو د ﴿أَعَبَاهُمَا﴾ د کلمې هم همزه اول حرف دی، د دې معنی ده چي د حضرت آدم عليه السلام سره په اول آسمان کي ملاقات سويدی، او عين د ﴿أَعَبَاهُمَا﴾ د کلمې دوهم حرف دی د حضرت عيسي عليه السلام د نامه اول حرف هم عين دئ، نو د دې معنی ده چي په دوهم آسمان کي د حضرت عيسي عليه السلام سره ملاقات سويدی.(1)

## د اول آسمان دروازه خلاصېدل:

چي کله پيغمبر ﷺ اول آسمان ته ورسېدی نو د "جبرائيل امين" څخه د اول آسمان دربان او محافظ معلومات غواړي چي ستا سره څوک درسره دی؟

"جبرائيل" په جواب کي ورته وايي: چي محمد رسول الله ﷺ را سره دی، هغه فرشته بيا معلومات غواړي، ايا ده ته د رابللو پيغام وراستول سوی وو، "جبرائيل" ورته وايي چي "هو" نو بيا وروسته دا فرشته دوی ته د ننوتلو اجازه ورکوي او مرحبا ورته وايي.

فرشتو چي دا واورېدل نو دروازه يې ور خلاصه کړه، چي کله دوی آسمان ته ننوتل نو يو ډېر نهايت بزرگ او د پاخه عمر انسان يې وليدی.

حضرت جبرائيل عليه السلام ورته وايي، چي دا ستا پلار آدم عليه السلام دئ، ده ته سلام ووايه.

پيغمبر ﷺ چي کله ده ته سلام وايی، نو دی په جواب کي ورته وايي:

﴿......مَرْحَبًا بِالْاِبْنِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ﴾.

زما دې صالح بچي او صالح نبي ته دي ښه راغلی وي او ده ته يې د خير دعاء وکړه.

(1) علمي تقريرونه: جلد نمبر ۱، صفحه نمبر ۱۸۶

په دې وخت کې پيغمبر ﷺ ته يو څه صورتونه او شکلونه په نظر راځي د حضرت آدم علیه السلام راسته او چپه طرفته.

چې کله راسته طرفته وګوري نو خوشحاله سي او خاندي، چې کله چپه طرفته وګوري، نو پرېشانه سي او ژاړي.

د پيغمبر ﷺ پر پوښتنه حضرت جبرائيل علیه السلام ورته وايي: چې راسته طرفته د ده د نېک اولاد صورتونه دي، چې هغه "اصحاب اليمين" او جنت والا دي، د هغه په ليدلو دی خوشحاله کيږي.

او چپه طرفته د ده د بدعمله اولاد صورتونه دي، دا "اصحاب الشمال" او "اصحاب النار" دي، نو ځکه دی د هغه په ليدلو سره پرېشانه کيږي. (١)

## دوهم آسمان ته رسېدل:

چې کله دوهم آسمان ته ورسېدل نو جبرائيل علیه السلام د دروازې خلاصېدلو ږغ وکړی، نو دربان او محافظ بيا معلومات غواړي چې ستا سره څوک در سره دی؟

جبرائيل علیه السلام د محمد ﷺ نوم ورته اخلي، نو هغه فرشته وايي چې ايا دی را بلل سوی دی، "جبرائيل علیه السلام" ورته وايي هو. هغه دا الفاظ ورته ادا کوي:

..........﴿مَرْحَبًا نِعْمَ الْمَجِيْءُ جَاءَ﴾. مرحبا څه بهترين راتلونکی راغلی دی.

په دې آسمان کې بيا د حضرت يحيٰی علیه السلام او د حضرت عيسٰی علیه السلام سره ملاقات وسو.

حضرت جبرائيل علیه السلام ورته وايي چې دا حضرت يحيٰی او عيسٰی علیهما السلام دي، ته سلام ورته وکړه، ده سلام ورته وکړی، هغه دواړو حضراتو د سلام جواب ور کړی.

او ورته وايي:

..........﴿مَرْحَبًا بِالْأَخِ الصَّالِحِ وَبِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ﴾. موږ خپل صالح ورور او صالح نبي ته ښه راغلی وايو.

---

(١) سيرت المصطفی، جلد نمبر١، صفحه نمبر٢٠٣

د دې څخه وروسته دريم آسمان ته چې ورسېدل، داغه رنګه د هغه سوال او جواب څخه وروسته دروازه ور خلاصيږي، هلته د حضرت يوسف عليه السلام سره ملاقات وسو او داغسې سلام او کلام وسو.

پيغمبر ﷺ به فرمايل: چې حضرت يوسف عليه السلام ته الله تعالى د حسن او جمال ډېره لويه حصه ور کړې وه.

پر څلورم آسمان د حضرت ادريس عليه السلام سره ملاقات وسو.

پر پنځم آسمان باندې د حضرت هارون عليه السلام سره ملاقات وسو.

پر شپږم آسمان د حضرت موسى عليه السلام سره ملاقات وسو.

او پر اووم آسمان د حضرت ابراهيم عليه السلام سره ملاقات وسو.

حضرت ابراهيم عليه السلام "بيت المعمور" ته شاه لګولې وه، او ناست وو. "بيت المعمور" د ملائکو قبله ده، چې د خانه کعبې په برابرې کې په آسمانو کې وجود لري.

بالفرض که هغه را ولوېږي، نو سيده به پر خانه کعبه باندې را ايله کيږي، روزانه پر هغه باندې اويا زره فرښتې طواف کوي، چې تر قيامته پورې بيا هغو ته نوبت نه ور سيږي.

حضرت جبرائيل عليه السلام ورته وايي چې دا ستا پلار دی، ده ته سلام ووايه! پيغمبر ﷺ سلام ورته وايي، حضرت ابراهيم عليه السلام په جواب کې ورته وايي:

﴿...........مَرْحَبًا بِالْإِبْنِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ﴾.(۱)

## "سدرة المنتهى" ته رسېدل:

د دې څخه وروسته پيغمبر ﷺ "سدرة المنتهى" ته پورته سو، چې پر اووم آسمان باندې يو د "بيرې" درخته ده، د مځکې څخه چې کم شئ پورته کيږي، هغه "سدرة المنتهى" ته رسيږي د هغه ځايه څخه بيا لوړ پورته کيږي.

---

(۱) سيرت المصطفى، جلد نمبر۱، صفحه نمبر ۲۰۳

او د "ملاء اعلیٰ" څخه چې کم شی کښته را شوه کیږي، هغه "سِدرة المنتهیٰ" ته را رسیږي، بیا د هغه څخه وروسته مځکي ته را شوه کیږي، نو پدې وجه د هغې نوم "سِدرة المنتهیٰ" دہ. (۱)

## د جبرائیل پاته کېدل:

پر "سِدرة المنتهیٰ" باندې "جبرائیل علیه السلام" رخصت مخني اخلي او سلام ورته وایي، خو دا هم ورته وایي چې د دې ځایه څخه پورته قدم ایښول دا ستا بغیر د بل هیچا کار نه دئ، او نه بل څوک کولای سي.

شیخ سعدي رحمة الله علیه دا مکالمه په خپلو اشعارو کي را نقل کړېده.

پیغمبر ﷺ ورته وایي:

چون در دوستی مخلص یافتی ★ عنانم ز صحبت چرا تافتی

چي کله تا زه په دوستي کي مخلص پیدا کړم، نو زما د ملګرتیا څخه دي ولي خپل جلو را وګرځوی؟

جبرائیل ورته وایي:

اگر یک سر موئی برتر پرم ★ فروغ تجلی بسوزد پرم

یعني که یو ورېښته مقدار هم زه پورته ولاړ سم، نو د الله د ذات تجلاوي به زما وزر را وسوځي.

اوس هغه نوراني مخلوق شاته پاته سو، او پیغمبر ﷺ پر مخ روان سو. د حضور اکرم ﷺ دا سفر د لا مکان هغه سفر وو، چي په هغه کي نه سواري وه، نه رهبر وو، بلکه پیاده تن تنهاء د "رب ذوالجلال" د دربار بلا کیف و طرفته ده د غیبي رهبری په مدد سره یې سفر روان کړی.

د عالم لا مکان او د عالم غیب د طرفه آواز پر کیږي؛

(۱) زرقاني، جلد نمبر ۶، صفحه نمبر ۱۸

............اُدْنُ يَا خَيْرَ الْبَرِيَّةِ! اُدْنُ يَا اَحْمَدُ! اُدْنُ يَا مُحَمَّدُ!﴾.

ای د ټولو مخلوقاتو بهترینه! ای احمد ای محمده! نژدې راسه. (۱)

چنانچه سفر هم مکمل سو، او حضور اکرم ﷺ د الله تعالی دیدار ته ورسېدی.

ابو اللیث سمرقندي رحمة الله علیه په "تنبیه الغافلین" کي د ده مکالمه د الله د ذاته سره په دې شکل را نقل کړېده، چي پیغمبر ﷺ فرمایي: چي الله تعالی زما څخه دا سوال وکړی چي کله یو محبوب بل محبوب لره ور ځي، نو یو تحفه ورته ور وړي، ایا تا زما دپاره څه تحفه را وړېده؟

پیغمبر ﷺ وایي چي زه د "التحیات" په شکل کښېنستم؛

.........فَبَدَأْتُ بِالثَّنَاءِ عَلَى اللّٰهِ تَعَالَى فَقُلْتُ: اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ﴾. زما ځاني او مالي او قولي عبادتونه ټول یا الله تا ته په تحفه کي پېشوم.

الله تعالی ورته فرمایي:

..........اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ﴾. پر تا دي سلامتي او رحمتونه او برکتونه وي، ای زما نبي!

پیغمبر ﷺ هغه رحمتونه او برکتونه د خپل امت لپاره عامه وي:

.........فَقُلْتُ: اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِينَ﴾. نو ځکه ورته وایي چي پر ما او زما د امت پر نیکو انسانانو دي سلامتي وي.

ملائکي چي کله دا مکالمه اوري نو هره یوه دا وایي؛

---

(۱) علمي تقریرونه، جلد نمبر۱، صفحه نمبر۱۹۰

.........أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ﴾. زه پر دې شاهدي ادا کوم چې د الله څخه ماسوا بل معبود نسته او "محمد ﷺ" د الله تعالی بنده او رسول دی.

د هغه څخه وروسته د الله تعالی د ذات او ددې عظیم بنده په درمیان کې چې کمې د راز او نیاز خبرې سویدي، د هغه څخه د انسانانو عام غوږونه او ذهنونه ناولده او نا خبره دي. (۱)

لکه یو شاعر وایي:

اکنون کرادماغ که پرسد ز باغبان ★ بلبل چه گفت وگل چه شنید وصبا چه کرد

دومره دماغ او طاقت به د چا وي چې هغه به دا معلومه کړي چې الله څه ووېل؟ پیغمبر ﷺ څه واورېدل؟ او ملائکو څه وکړل؟

لکه: عارف جامي رحمة الله علیه فرمایي:

بدید آنچه از دیدن برون بود ★ مپرس ازما کیفیت که چون بود

نه چندی وگنجد آنجا نه چونی ★ فرو بند از کمی لب وز فزونی

شنید آنکه کلامی نه بآواز ★ معانی در معانی راز باراز

هلته د الله تعالی دیدار بلا کیفیته وو، چې په هغه کې انسان د کمی او زیاتی څه ویلای نسي، هلته د الله تعالی کلام بلاآوازه وو؛ هغه صرف د معانیو او د رازو خبرې وې.

---

(۱) تنبیه الغافلین باحادیث سید المرسلین، باب فضل امة محمد ﷺ، صفحه نمبر ۵۰۸

## د جنت منظره:

پېغمبرﷺ ته الله تعالی د اوو (۷) آسمانو د سیر څخه وروسته او د انبیاء کرامو د ملاقات څخه وروسته او د خپل دیدار او ملاقات څخه وروسته، د جنتو حال ور ښکاره کوي.

د پېغمبرﷺ تېرېدل د جنت پر یو وادي او شله باندي وسوه، چي په هغه کي نهایت نرمه او د مشکو څخه زیاته خوشبوداره او یخه هواء راځي، او په هغه هواء کي یو بهترین آواز اورېدل کیږي، هغه آواز دا وایي: چي زما په دې "عشرت کده" کي وربښم، ملغري، سپین او سره زر، شهد او شیدې او د شرابو جامونه او کټوري، ډېر زیات دي.

الله تعالی ورته وایي هر هغه مؤمن نارینه او زنانه به تاته در داخلیږي چي پر ما او زما پر رسولانو ایمان لري، او زما سره شریک نه نیسي، چي تر ما لوړ او یا زما سره برابر څوک نه مني، او نېک اعمال کوي.

ته واوره! چي د کم چا په زړه کي زما بېره وي او د هغه زړه زما د بیري په وجه د ګناه څخه محفوظ وي، چي کم شی زما څخه غواړي، زه هغه نه محرومه کوم او چي کم څوک و ماته قرض را کوي او هغه نېک عمل کوي او زما په لاره کي پیسې خرڅوي، زه هغه ته بدله ور کوم.

چي کم څوک پر ما توکل او بروسه لري، زه د هغه په رزق د هغه ضرورت ور پوره کوم، زه برشتوني معبود یم، زما څخه علاوه بل څوک لائق د عبادت نسته، زما وعده رشتیا ده، غلطیږي نه، چي د مؤمن نجات یقیني دی او الله تعالی برکت ور کونکی ذات دی او د ټولو څخه بهترین خالق دی.

د جنت هغه شله چي کله د الله تعالی دا کلام اوري نو وایي: ای زما پروردګاره! زه ستا پدې کلام او وینا مطمئنه او خوشحاله سوم.

په روایاتو کې راځي چې پيغمبر ﷺ په دې سفر کې د جنت او جهنم منظره وکړه، يو څه کسان يې داسې وليدل چې د هغو کښت پوخ وي، هغه يې کاټوي، د کاټېدو سره سره هغه کښت دوباره يو دم زرغون را پورته کيږي.

پيغمبر ﷺ دِ جبرائيل ﷺ څخه پوښتنه کوي، چې ای جبرائيله! دا څه معامله ده؟ هغه په جواب کې ورته وايي، چې دا د هغه نيکو خلکو مثال دی، چې هغو تر شا نيک اعمال او باقيات او صالحات پرې ايښي وي، نو هغه د خپلو اعمالو بدله پيدا کوي، په ژوند کې د هغه برکتونه دوی ته بار بار ملاويږي. (۱)

## د حضرت بلال ﷺ د قدمو آواز:

په داغه حال کې پيغمبر ﷺ اوري چې د يو چا د قدمو آواز په جنت کې اوربدل کيږي، پيغمبر ﷺ دېر حيران سو، د "جبرائيله" څخه پوښتنه کوي، چې دا د چا د قدمو آواز دی؟ چې په جنت کې اوربدل کيږي.

حضرت جبرائيل ﷺ ورته وايي: ای د الله رب العزت محبوبه! دا ستا د غلام "بلال" د مځکي پر مخ د تگ کولو آواز دی، چې الله تعالی يې په جنت کې په ملائکو باندي اوري.

پيغمبر ﷺ ورته وايي، چې د قدمو آواز يې ولي الله تعالی په جنت کې په ملائکو اوري؟

حضرت جبرائيل ﷺ ورته وايي: چې ای د الله نبي! ستا هغه غلام د الله تعالی په دربار کې دومره لوړ مقام لري او الله تعالی ته دومره محبوب دی او د الله تعالی په دربار کې داسې مقبول بنده دی، چې د ده قدمونه خو پر فرش باندي لگيږي، لېکن د الله تعالی و عرش ته د هغه آواز را رسيږي، نو تاسو وگورئ! الله رب العزت د ده و غلامانو ته هم دومره لوړه درجه ور کړې وه.

---

(۱) سيرت المصطفی: جلد نمبر۱، صفحه نمبر۲۹۳

**د جهنم منظره:**

دا غه رنګه الله تعالی پیغمبرﷺ ته د دوزخ حال هم ور ښکاره کوي، چي پیغمبرﷺ یو شلې ته راسي، هلته یو ډېر بدنما او بېکاره آواز اوري او ډېره بدبویي محسوسه وي.

نو دی د "جبرائیل" څخه پوښتنه کوي، چی ای جبرائیله! دا څنګه آواز او څنګه بد بویي ده؟

هغه په جواب کي ورته وایي: چي دا د جهنم آواز دی؟ هغه دا وایي ای زما پروردګاره! ماته هغه غذا او خورک را کړه، چي د کمي غزا تا زما سره وعده کړېده، زما ځنځیران او زما زولنې، زما اور او زما شغلې او زما د عذاب هیبتناکه اسباب ډېر زیات دی، زما ژور والی او په دې ژوروالي کي د اور ګرمي، یعني زما نس او زما لوږه ډېره زیاته ده.

د جهنم پر دې نعره باندي الله تعالی په جواب کي ورته وایي، چي هر کافر، مشرک، بد طبیعت، بد معاش، او خبیث، نارینه او زنانه به ستا خورک وي.

جهنم چي کله دا اوري نو دا وایي چي بس زه خوشحاله یم.

بیا الله تعالی پیغمبرﷺ ته د جهنم یو څه منظره ور ښکاره کوي، نبي اکرمﷺ که ګوري یو څه داسي کسان دي په جهنم کي، چي د هغوی شونډان پرې کیږي، او یو فرشتې غچي را اخیستې ده، او د هغو خلګو شونډان د اوښانو غوندي لاندي ځړېږي او فرشتې یې په هغه غچي پرې کوي.

پیغمبرﷺ د جبرائیل علیه السلام څخه پوښتنه کوي چي دا څه معامله ده، هغه په جواب کي ورته وایي چي ای د الله نبي! دا هغه خلک دي، چي په دنیا کي به یې فتنې خورولې، او داسي خبري به یې کولې، چي د هغو په وجه په خلګو کي فتنې پیداسي، او د انسانانو په مابین کي به یې بد ګمانی جوړولې، نو دا د هغو خلګو سزا ده.

**د دروغو شاهدي ادا کول:**

بیا نبي اکرمﷺ په جهنم کي ویني چي بعض انسانان چي د هغو زامي، خوله او غابښونه د انسانانو په شان دي، مګر د هغو مخونه د خنزیرانو په شکل دي.

پیغمبرﷺ په ډېر حیرت کي پوښتنه کوي، چي ای جبرائیل آمینه دا څوک دي؟

نو هغه په جواب کي ورته وایي: چي دا هغه خلک دي، چي د دروغو شاهدۍ به یې ادا کولې، او پر هغه به یې معاوضه اخیستله.

چنانچه نن سبا په دنیا کي خلک وینې! چي یو څوک د چا د دوستۍ پخاطر یا د قومیت پخاطر او یا د معمولي چند پیسو پخاطر د دروغو شاهدۍ پېشوي، نو الله تعالی به په قیامت کي د دوی رنګونه د خنزیرانو په شکلو بدلوي، بیا به دوی ته دا افسوس وي، چي کاشکي موږ د دروغو شاهدۍ نه وای ادا کړي.

**د زناني د خاوند سره د بد سلوک سزا:**

نبي اکرمﷺ په جهنم کي بعض زناني ویني چي د هغو رنګونه د سپیانو په شکل او ډېر دردناکه او ژړا کونکي آوازونه کوي، او وریښتان یې پر بدن سره خواره واره وي، او په ډېر بد حال کي ژندګي تېروي.

پیغمبرﷺ د جبرائیله څخه پوښتنه کوي چي دا څنګه مخلوق دی؟

هغه په جواب کي ورته وایي چي ای د الله محبوبه! دا هغه زناني دي، چي په دنیا کي یې د خاوندانو سره ژبان درازي کوله، پر معمولي خبره به یې خاوند ته تریخ جواب ور کوی.

د خاوند د اطاعت کولو پر ځای او د حسن سلوک پر ځای به یې د خاوند سره بد سلوک او نافرماني کوله، نن د الله تعالی د طرفه دا سزا ور کول کیږي، چي د سپیانو په شکل کي آوازونه را باسي.

## د تکبر انجام:

پیغمبرﷺ بیا وینې چې یو څه خلک په جهنم کې داسې دی، چې قد او قامت یې ډېر کوچنی دی، الله تعالی یې پر یو لوړ غره باندې کښېنوي، او تر غره لاندې یې را ګېلوي، چې کله د غره پای ته را ورسېږي نو د دوی قد او قامت پوره سي، نو بیا غر الله تعالی پر دوی را نسکوره وي.

د پیغمبرﷺ پر پوښتنه باندې جبرائیلعلیه السلام جواب ور کوي، چې ای د الله نبي! دا ستا د امت متکبرین دي، دا هغه خلک دي، چې په دنیا کې یې ځان ډېر لوی بالی او کبرونه به یې کول او دا به یې ویل: (ہم چون ما دیگری نیست) موږ به دا کوو او هم به دا کوو.

الله تعالی د قیامت په میدان کې دوی د داسې ذلت او رسوایۍ سره مخامخ کوي.

## د غیبت کونکو انجام:

یو څه خلک داسې هم پیغمبرﷺ ولیدل چې هغوی خپلې غوښې کاټولې او بیا یې خوړلې.

پیغمبرﷺ پوښتنه کوي چې جبرائیل آمینه دا څوک دي؟ هغه ورته وایي، ای د الله محبوبﷺ! دا ستا د امت غیبت کونکي انسانان دي، چې په دنیا کې به یې د خپلو ورونو غوښې خوړلې نن الله تعالی دوی په خپلو غوښو باندې مړوي.

## د جهنم خازن مالک فرشته لیدل:

پیغمبرﷺ د معراج په سفر کې او د جهنم د منظرې په دوران کې دجهنم "خازن مالک" فرشته ولیدله، چې هغه انتهائي د سخت طبعیت مالکه وه، د هغې پر مخ باندې د غصې او غضب اثار وه.

پیغمبرﷺ سلام ورته وایي نو هغه د سلام جواب ور کوي، او مرحبا ورته وایي، لېکن پر مخ یې د خندا اثار نه معلومېږي.

پېغمبر ﷺ د جبرائیله څخه پوښتنه کوي، چې دا څنگه خبره ده، په دې سفر کي چې زه د کم چا سره ملاقات کوم، نو هغه په خندا زما استقبال کوي، لېکن د دې فرشتې پر مخ د خندا اثار نه معلومېږي.

جبرائیل علیه السلام ورته وايي: ای د الله رسوله! دا د جهنم "خازن مالک" فرشته ده، دې تر ننه پوري خندلي نه دي، که په دې کي د خندا استعداد وای او دې خندا کولای نو نن به يې صرف ستا لپاره خندلي وای.

**د لمانځه تحفه:**

د الله تعالی په دې مقام قرب کي پېغمبر ﷺ په قسم قسم الطافو او عنایاتو سره ونازول سو، او په رنګارنګ بشاراتو او زيرو سره خوشحاله سو، او خاص خاص احکام او هدایات ورکول سوه، د ټولو څخه اهم حکم دا وو چې پر ده او د ده پر امت باندي د پنځوسو (۵۰) لمنځو د فرضیت حکم وو.

پېغمبر ﷺ دا ټوله احکام او هدایات را واخیستل او په ډېره خوشحالي او سرور سره واپس را روان دی، پر واپسي باندي پر اووم آسمان د حضرت ابراهیم علیه السلام سره ملاقات وسو، حضرت ابراهیم علیه السلام د دې احکامو او هدایاتو، او د لمانځه د فریضې متعلق هیڅ نه ورته وویل.

چې کله تر ابراهیم علیه السلام را تېر سو، حضرت موسی علیه السلام ته راغلی نو هغه پوښتنه ځني کوي، چې الله تعالی څه حکم په لاس در کړی؟

پېغمبر ﷺ ورته وايي، چې په ورځ او شپه کي د پنځوس (۵۰) لمنځو فرضیت.

حضرت موسی علیه السلام ورته وايي: چې ما بني اسرائیل تجربه کړل، ستا امت ډېر ضعیف او کمزوری دی، دا فریضه سرته نسي رسولای، ورسه د الله تعالی په دربار کي د خپل امته سره د تخفیف درخواست وکړه!

پېغمبر ﷺ واپس ولاړی او د الله تعالی په دربار کي يې د تخفیف درخواست وکړی، الله تعالی پنځه (۵) لمنځونه ور کم کړل، چې کله حضرت موسی علیه السلام ته را ورسېدی،

نو هغه بیا دا خبره ورته وکړه، او د تخفیف پر درخواست کولو یې دوباره مجبوره کړی.

چي کله د چند بار تخفیف کولو څخه وروسته صرف پنځه (۵) لمنځونه پاته سوه، بیا هم حضرت موسی علیه السلام مشوره ورکړه، چي ورسه اوس هم د تخفیف درخواست وکړه، چي تر پنځو (۵) لمنځو هم درته کم سي.

پیغمبر ﷺ ورته وایي: چي د بار بار درخواست کولو پخاطر زه اوس د الله تعالی په دربار کي شرمېږم نور د تخفیف درخواست نسم کولای.

چي کله د حضرت موسی علیه السلام څخه را رخصت سو، نو د غیبو څخه یو آواز راځي، ای محمده! یو خو دا چي هره ورځ پنځه (۵) لمنځونه او د هر لمانځه ثواب د لسو (۱۰) سره برابر دئ، نو دا رنګه د دې لمنځو ثواب د پنځوسو (۵۰) لمنځو سره برابر دی.

او بل دا چي ستا په امت کي چي کم سړی د نېک کار اراده وکړي، او بیا یې نه وکړي، نو زه صرف پر اراده کولو یوه نېکي ورکوم، کچیري هغه نیک عمل هم وکړی، نو یوه نېکي په لس (۱۰) ورلیکم.

او کم سړی چي د بدۍ اراده وکړي او بیا یې نه وکړي، نو د هغه په نتیجه کي د هغه لپاره یوه نیکي لیکم، کچیري هغه بدي وکړي، نو د هغې سزا یو په یو لیکم.

پیغمبر ﷺ فرمایي: چي ما د جنت پر دروازه باندي لیکلي ولیدل د صدقې عوض په لس (۱۰) چنده دي او د قرض عوض په اتلس (۱۸) چنده دی.

ما د "جبرائیله" څخه پوښتنه وکړه چي دا څنګه خبره ده؟ چي قرض ورکول د صدقې څخه افضل دي، ده را ته وویل: چي کم سائل ته صدقه ورکول سي، نو هغه خو یې غواړي، نو په دې وخت کي د ده سره خامخا څه ناڅه وي، لېکن قرض غوښتونکی په داسي حال کي قرض غواړي، چي د هغه سره هیڅ هم نه وي.

په دې شکل پیغمبر ﷺ د آسمانو څخه واپس راغلی "بیت المقدس" ته را ورسېدی، او هلته "براق" ترلی ولاړ وو، پر هغه سپور سو د صبح صادق څخه مخکي یې مکې مکرمې ته، ځان را ورسوی.

## د کائناتو نظام موقوفه کول:

چې کله پیغمبرﷺ واپس تشریف را وړی دَی مبارک فرمایي: چې زه کله خپل کورته راغلم، چې په کمو اوبو ما اودس کړی وو، هغه دغسي بهېدلې.

او د کمي بستری ځخه چې زه ولاړ سوی وم، هغه داغسي ګرمه وه.

در حقیقت چې څومره وخت پیغمبرﷺ په معراج کي لګولی وو، پروردګار عالم، د کائناتو ټوله نظام پر هغه ځای درولی وو، چې کله پیغمبرﷺ روان سو، دی د ټولو کائناتو جان وو، نو چې کله دی ولاړی، الله تعالی د کائناتو پوره نظام پر هغه ځای ودروی، چې کله یې د الله تعالی د ذاته سره ملاقات وکړی، واپس راغلی نو الله تعالی د هغه وخته ځخه د کائناتو نظام بیرته روان کړی.

## د جدید دور د حالاتو سره تطابق:

یو وخت داسي وو، چې دنیا ټوله د تخت سلیماني په الوتلو نه پوهېده، نن هوایي جهاز د تخت سلیماني الوتل، د خلکو په دماغ کي را وستل.

یو وخت بیا داسي وو، چې د "ابابیلو" مرغانو کاڼي ویشتل او انسانان او فیلان په تباه کول د انسان د حیرت سبب وو، چې د ابابیلو په کاڼو کي دومره قوت د کمي خواه راغلی، لېکن د توپک ګولۍ دا خبره ښکاره کړه، چې د توپک د یوې ګولۍ ځخه هم دومره لوی فیل مري.

نو الله تعالی د ابابیلو کاڼي د ګولۍ په شکل پر هغوی باندي وچلول، یو وخت د معراج دا سفر او د سفر عجائبات د انسان په دماغ کي راتلل یو څه دشواره وه، د نن سبا په حالاتو کي د دې خبرو فهمول نسبة اسانه دي.

نن په "لیفټ" او "برقي" ځینه کي سفر کولو د "رفرف" او پر آسماني ځینه د آسمان وطرفته د سفر کولو فهم اسانه کړی.

"بُراق" چې د برقه ځخه دی او د "برق" رفتار په یوه دقیقه کي یو لک شپږ اتیا زره (۱۸۶۰۰۰) میله دئ. الله تعالی په خپل براق باندي دغسي چابک سفر په پیغمبرﷺ باندي په لږ وخت کي وکړی.

دا تولي خبري د الله تعالی د ذات کمالات او قوت او قدرت وو، که د چا په دماغ کي راځي او کنه.

## د الله تعالی سره ملاقات:

د معراج په باره کي په دې خبره کي اختلاف دی، چي ایا پیغمبرﷺ الله تعالی لیدلی دئ او که نه! په دې باره کي دواړه رنګه حدیثونه موجود دي، په دې معامله کي بهتره دا ده چي موږ خاموشي اختیار کړو، ځکه دا زموږ د عقیدې مسئله نده، نه زموږ څخه د قیامت په میدان کي د دې پوښتنه کیږي.

## قریشو ته واقعه بیانول:

د سهاره څخه وروسته پیغمبرﷺ دا واقعه د قریشو مخته بیان کړه، هغوی چي واوریدل، ټوله خیران سول، چا د تعجب په شکل لاس پر سر تېروی، او چا لاسونه ټکول، او د تعجب په شکل یې دا ویل، چي په یوه شپه کي "بیت المقدس" ته تلل او واپس راتلل، دا خو د تعجب خبره ده.

چي کم چا "بیت المقدس" لیدلی وو، هغوی به بطور امتحان د "بیت المقدس" علامې، پوښتل شروع کړه، الله تعالی "بیت المقدس" د ده و مخته حاضر کړی، کفارو چي سوالات شروع کړل، ده به "بیت المقدس" ته کتل او د هغوی جواب به یې ورکوی.

## د لاري واقعه بیانول:

چي کله یوه پوښتنه بې جوابه پاته نه سوه، آخر دوی سره وویل، چي د لارې یوه واقعه راته بیان کړه!

پیغمبرﷺ ورته وایي چي په لاره کي فلانکي ځای باندي یو تجارتي قافله چي د شام څخه مکې ته را روانه وه، د هغې یو اوښ ورک وو، چي بیا بیرته وروسته پیدا سو، انشاء الله درې (۳) ورځي وروسته هغه قافله مکې ته را رسیږي، یو خاک رنګه اوښ به د ټولي قافلې څخه مخته را روان وي، چي پر هغه به دوې (۲) بوری غله پرته وي.

چنانچه دریمه ورځ په هغه شان سره هغه قافله مکې ته را ورسېدل او د اوښ د ورکېدو واقعه یې هم بیان کړه د مکې مکرمې یو مشرک "ولید" چې دا واورېدل او هم یې ولیدل نو یې ویل خلکو! دا جادو دی، نو خلکو به ویل چې د "ولید" خبره رشتیا ده.([1])

## حبس شمس:

د بیهقي په یو روایت کې راځي چې ده دا نښانې د قریشو مخته پېش کړه، چې فلانکی د تجارت قافله چې د شام څخه را روانه ده، د چار شنبې ماښام ته به مکې ته را رسیږي.

چې کله د چار شنبې ورځ سوه، لمر لوېدو ته قریب سو، هغه قافله نه را ورسېدله، پیغمبر ﷺ پرېشانه سو، آخر یې دعاء شروع کړه.

چې یا الله! لمر یو څه زمانه ودروه، د ده د عاء په برکت الله تعالی لمر ودروی، تر دې حده چې هغه قافله د ده د خبر مطابق داغه ورځ ماښام مکې مکرمې ته را ورسېدله.

په دې شکل الله تعالی د ده صداقت ښکاره کړی، او قریشو د ده صداقت په سترګو ولیدی او په غوږو یې واورېدی، مګر پر هغه خپل تکذیب او عناد باندې کلک ولاړ وه، او د پیغمبر ﷺ مقابلې ته تیار وه.

## د ابو بکر صدیق ﷺ تصدیق:

ابو جهل چې کله د پیغمبر ﷺ څخه د معراج واقعه واورېدله، یو ځل خو یې پر هغه ځای باندې د هغه تکذیب وکړی، او د هغه ځایه څخه را ولاړ سو، د کور طرفته ولاړی، نو په لاره کې حضرت ابو بکر ﷺ په مخه ورغلی ورته وایې.

---

(۱) زرقاني جلد: ٦ صفحه: ١٢٦

ای ابوبکره! ته خو د پر لوی عقلمند یې او سمجدار او هوښیار یې، ماته د یوې خبرې جواب راکړه.

که یو څوک دا ووایي:

.............چي زه د مکې څخه ولاړم "مسجد اقصیٰ" ته او واپس راغلم، ایا دا ممکنه ده؟

حضرت ابو بکر ﷜ ورته وایي:

.........چي ممکنه خو نه ده.

نو "ابوجهل" ورته وایي:

..........چي ستا دوست محمد ﷺ دا وینا کوي، چي ما د شپې سفر وکړی، "بیت المقدس" ته ولاړم او واپس راغلم.

"ابو بکر" په جوش کي دا وویل:

.......... کچیري زما محبوب ﷺ دا ویلي وي، نو زه ګواهي ور کوم، چي هغه رشتوني دئ، یقینًا هغه به دا سفر کړی وي.

الله تعالی ته د "ابو بکر" ګواهي دومره محبوبه سوه، چي د "ابوبکر" د نامه سره د "صدیق" لقب ولګېدی، تر قیامته پوري چي څوک د "ابو بکر" نوم اخلي نو صدیق به ور سره یادوي.

د الله تعالی محبوب یوه دعوه کړې وه، ابو بکر بغیر د دیده د هغې ګواهي پېش کړه.

نو په دې شکل د پیغمبر ﷺ د "معراج" سفر اختتام ته ورسېدی.

الله تعالی دي د پیغمبر ﷺ په برکت زموږ د ټولو په زندګي کي د دین و طرفته میلان پیدا کړي.

او الله تعالی دي د پیغمبر ﷺ پر ټولو خبرو باندي د تصدیق کولو توفیق راکړي، او الله تعالی دي دا څو خبري پخپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

آمین یا رب العالمین

وَصَلّی اللهُ تَعَالی عَلی خَیْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِیْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآیہ)

# د هجرت اول بیان

(بیان)

مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبہ سلطانیہ الہاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كـليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاريـــــخ | جمادي الاِولى ۱۴۴۲ بمطابق ۲۴ جنوري ۲۰۲۱ |
| تـعـــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللَّهُ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ﴾.(1)

وقال رسول الله ﷺ ﴿لَوْلَا الْهِجْرَةُ لَكُنْتُ امْرَأً مِنَ الْأَنْصَارِ﴾.(2)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمِ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمِ، وَ نَحْنُ عَلَى ذَلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُلِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

## د پیغمبر د سیرت یو اهمه حصه:

محترمو مشرانو! د پیغمبر ﷺ د سیرت مبارک په تسلسل کي نن بیا د سیرت پر یو اهمه حصه باندي یو څو خبري کوو، الله تعالی دي یې پخپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

د پیغمبر ﷺ دیارلس (۱۳) کاله په مکه مکرمه کي تېر سوه، او لس کاله زندګي د پیغمبر ﷺ په مدینه منوره کي راغله، او مدینه منوره د پیغمبر ﷺ هجرتګاه جوړه سوه.

---

(1) الانفال آیت نمبر: ۳۰

(2) بخاري شریف حدیث: ۴۳۳۰

او داغه رنګه د پیغمبر ﷺ مدفن او جسد مبارک بیا تر قیامته پوري په مدینه منوره کي خوندي سو.

**د مدینې منورې قبائل "اَوس" او "خزرج":**

کم او پیش زر (۱۰۰۰) کاله مخکي د "یمن" څخه دوه ورونه را فرار سوه، د "حجاز" مځکي ته راغلل او دلته اباد سوه، په هغو کي د یوه نوم "اَوس" وو، او د بل نوم "خزرج" وو.

د هغوی د پلار نوم "حارثه" او د مور نوم "قیله" وه، ځکه د "اوس" او "خزرج" و اولاد ته "بنو قیله" وایي.

"اوس" او "خزرج" دوې (۲) قبیلې وي چي د هغه ډېر بناخونه په مختلفو نومو سره مشهوره وه، بنو نجار، بنو ساعده، بنو عمرو بن عوف وغیره، نو ځکه دا قبیلې په مختلفو خاندانو کي سره تقسیم سوي وې.

د "یثرب" ابادي تقریبا شپږ زره (۶۰۰۰) وه، او دغومره ابادي د "عوالي" او "اِسافلو" دا ټول مشرکین او بت پرست وه. د هغو یو بت وو، چي د هغه نوم "المناة الطاغیه" وو.[1]

او د دوی سره یهود هم اوسېدل، یهود چونکه اهل کتاب او اهل علم وه، او په مدینه کي د اقلیت په شکل اوسېدل، نو ځکه چي کله به د یهودو د "اوس" او "خزرج" سره یو جګړه راغله، نو یهودو به ویل چي اوس به ډېر ژر نبی آخر الزمان دې دنیا ته راځي، موږ به د هغه اتباع کوو، او د هغه سره به ملګري کیږو، تاسو به د قوم "عاد"، او د قوم "اِرَم" غوندي د هلاکت او ماتي سره مخامخ کوو.

**په مدینه منوره کي د اسلام ابتداء:**

چي کله موسم د حج راغلی نو د "خزرج" قبیلې یو څه خلک مکې ته راغلل، دا غالبًا د پیغمبر ﷺ د نبوت یوولسم (۱۱) کال وو، پیغمبر ﷺ دوی ته راغلی د اسلام دعوت

---

(۱) خطبات کریم: جلد نمبر ۱، صفحه نمبر ۲۷۰

یې ور کړی او د قرآن پاک تلاوت یې ورته وکړی، هغو خلګو چې کله پیغمبرﷺ ولیدی، دستي یې وپیژندی، نو پخپل مابین کي یو بل ته سره وویل، زموږ دي په رب د کعبې قسم وي چې دا هغه نبي دی، چې یهودو به یې موږ ته ذکر کوی، ګورئ! هسي نه، چې په دې فضیلت او سعادت کي یهود زموږ څخه مخته سي.

په دې مجلس کي د ولاړي څخه مخکي هغوی اسلام راوړی او پیغمبرﷺ ته یې وویل، ای د الله رسوله! موږ خو پر تا ایمان را وړو د یهودو اکثره زموږ سره جنګونه وي.

کچیري ته موږ ته اجازت راکوې، نو موږ به واپس ولاړ سو، و یهودو ته به هم د اسلام دعوت ور کړو، کچیري هغه دا دعوت قبول کړي، نو موږ او هغه به ټوله سره په اتفاق سو، او تر تا به بیا ډېر عزتمند زموږ په وړاندي څوک نه وي، دا ایمان راوړنکي انسانان د قبیله "خزرج" شپږ (٦) کسان وه.

۱. اسعد بن زرارة رضي الله عنه.
۲. عوف بن الحارث رضي الله عنه.
۳. رافع بن مالک بن عجلان رضي الله عنه.
۴. قطبة بن عامر رضي الله عنه.
۵. عقبه بن عامر رضي الله عنه.
٦. جابر بن عبدالله بن رباب رضي الله عنه.

دا شپږ (٦) حضرات چې کله مدینې ته راغله، چې کم مجلس ته به ورغلل، نو د پیغمبرﷺ ذکر به یې کوی، آخر خبره دې ته ورسېده، چې په ټوله مدینه کي یو کور او یو مجلس د پیغمبرﷺ د ذکره څخه خالي پاته نسو. (۱)

## د انصارو اول بیعت:

چې کله دوهم کال راغلی چې د نبوت دولسم (۱۲) کال وو، نو دولس (۱۲) کسان د پیغمبرﷺ ملاقات ته مکې مکرمې ته راغلل.

پنځه (۵) کسان په هغه مخکنی شپږو (٦) کي وه، او اووه (۷) کسان د دوی څخه ماسوا نور وه، چې د هغو نومونه د سیرت په کتابو کي لیکلي دي.

(۱) سیرت ابن هشام جلد ۱ صفحه ۱۵۰

دا دوولس (۱۲) کسان چي کله خدمت ته حاضر سوه، د شپې په وخت کي د "مِنٰی" په دره (شله) کي د "عقبه" سره نژدې د پېغمبرﷺ پر لاس يې بيعت وکړی، چي موږ به د الله تعالی سره هيڅوک نه شريک کوو، او نه به غلا او زنا کوو، نه به اولادونه قتل کوو، او نه به پر چا باندي بهتان او تهمت وايو.

او دا د انصارو اولنی بيعت وو، چي هغه ته "بيعت عقبه اولٰی" وايي، چي کله دې خلکو بيعت وکړی، مدينې منورې ته را روانېدل، نو پېغمبرﷺ عبدالله ابن مکتومؓ او مُصعَب ابن عميرؓ د قرآن کريم د تعليم او د اسلام د احکامو زده کولو لپاره، د دوی سره واستول، او په مدينه منوره کي يې د اسعد ابن زرارهؓ په مکان کي استوګنه او قيام کاوی.

مُصعَب ابن عميرؓ به خلکو ته د اسلام دعوت ورکوی، او د مدينې مسلمانانو ته به يې لمونځ ورکوی، دی د مدينې د مسلمانو امام وو. (۱)

## د اُسَيد بن حضيرؓ اسلام قبول:

مُصعَب بن عميرؓ يوه ورځ خلکو ته د اسلام دعوت کوی، او ډېر خلک ور باندي را ټول دي، "اُسَيد ابن حضير" چي کله خبر سو (دا د خپلي قبيلې سردار وو) نو توره يې را واخيسته او راغلی، مُصعَب ابن عميرؓ ته وايي، ته دلته څه لپاره راغلی يې، چي زموږ قوم او قبيلې زموږ زنانې او بچيان ګمراه کوې، ته به خامخا د دې ځايه څخه ځې.

مُصعَب بن عميرؓ ورته وايي: ايا دا ممکنه ده، چي ته لږ وخت زما دې خبرو ته غوږ ونيسې! کچيري ستا خوښې سوې، نو قبولي يې کړه، او که دې چيري خوښې نسوې، نو بيا کناره کشي ځني وکړه!

"اُسَيد بن حضير" ورته وايي، ښه ده تا د انصاف خبره وکړه، او په مجلس کي کښېنستی.

(۱) خطبات کريم: جلد نمبر۱، صفحه نمبر ۲۷۳

مُصعَب بن عمیر ﷺ د اسلام محاسن بیان کړل، او د قرآن کریم تلاوت یې وکړی، "اُسَید" چې کله واورېدی، نو وایي:

.........مَا أَحْسَنَ هَذَا الْكَلَامَ وَأَجْمَلَهُ!﴾.

څومره ښایسته او بهترین کلام دی، او بیا پوښتنه کوي، چې په دې دین کې د داخلېدلو څه طریقه ده.

"مُصعَب" ورته وایي: اول خپل جسم او کپړې صفا کړه، او غسل وکړه، او بیا د شهادت کلمه ووایه او لمونځ ادا کړه.

"اُسَید" سمدستي ولاړ سو، کپړې یې پاکي کړې، غسل یې وکړی او د شهادت کلمه یې وویله، دوه (۲) رکعته لمونځ یې وکړی، او بیا یې وویل چې یو بل سړی دی، یعني "سعد ابن معاذ" که چیري هغه مسلمان سو، نو بیا خو به د "اَوس" په ټوله قوم کي بغیر د اسلامه څوک پاته نسي، زه اوس ورځم هغه تاسو ته را استوم.

"سعد ابن معاذ" چي کله "اُسَید" راتلونکی ولیدی، ورته وایي: چې دا اُوس هغه "اُسَید" ندی، چي کم "اُسَید" د دې ځایه څخه ولاړ سوی وو.

چي کله نژدې راغلی نو سعد د "اُسَید" څخه پوښتنه کوي، ﴿مَا فَعَلْتَ﴾ څه دي کړي دي؟

"اُسَید" د هغه خبره په غور نه واورېده، "سعد ابن معاذ" ته غصه ورغله او توره یې را واخیسته "اسعد ابن زراره" ته راغلی، ورته وایي چي که چیري ستا سره زما قرابت نه وای، او ته زما د خاله زوی نه وای، نو په دې توره به مي اوس ستا سر د بدنه جلا کړی وای.

د دې قوم د ګمراه کولو لپاره تا دا خلګ دلته را وستلي دي او پخپل کور کي یې ساتې.

"مُصعَب" ورته وايي: اى سعده! دا كښېناستى، چي لږ وخت كښېنې، كچيري ز
خبره ستا خوښه سوه، خو قبوله يې كړه، او كه دي نسوه خوښه نو بيا چي څه كوې
وكړه.

"سعد" ورته وايي: دا دي د انصاف خبره وكړه نو كښېنستى، "مُصعَب" وده
اسلام پېش كړى او د قرآن تلاوت يې وكړى، "سعد" چي څنگه د قرآن تلاو
واورېدى، نو رنگ يې بدل سو، او دستي يې پوښتنه وكړه، چي په دې دين كي
داخلېدو طريقه څه ده؟

"مُصعَب" ورته وايي، چي پاكي كپړې واغوندﻩ، او غسل وكړه، او كلمه د شهاد
ووايه، او دوه (٢) ركعته لمونځ ادا كړه.

"سعد" هم سمدستي ولاړ سو، غسل يې وكړى، او د شهادت كلمه يې وويله، او دو
(٢) ركعته لمونځ يې ادا كړى، نو "سعد" خپل قوم ته ورغلى، د قوم خلگو چ
"سعد" راتلونكى وليدى، نو د ليري څخه يې وپېژندى، چي د "سعد" رنگ بدل دى

"سعد" چي كله مجلس ته را ورسېدى، نو خپل قوم ته مخاطب سو، ورته وايي: تاسو
ما څنگه بولئ؟ ټولو په يو آواز ورته وويل: چي ته زموږ سردار يې، د مشورې او د
فكر په لحاظ تر موږ ټولو بهتر او افضل يې!.

"سعد" ورته وايي په خداى قسم زه به ستاسو د ټولو سره تر هغه وخته پوري خبره نه
وكړم، چي تاسو ټوله پر الله تعالى او د الله تعالى پر رسول ﷺ باندي ايمان را نه
وړى، ما ښام لا نه وو تېر سوى، چي د قبيله "بني عبدالاشهل" نارينه او زنانه ټول د
"سعد" په خبره په اسلام كي داخل سوه.

د "بني عبدالاشهل" قبيلې صرف يو سړى "عَمرو بن الثابت" چي د هغه لقب
"أصَيرم" وو، د اسلام راوړلو څخه پاته سوى وو، چي د "أحد" د جنگ په ورځ په
اسلام كي داخل سو، او په داغه ورځ معركه كي شريك سو او شهيد سو.

پیغمبرﷺ به د ده د جنتي کېډو زیرى پېشوي، او ابو هریرةؓ ته به یې بطور "مُعَمّٰی" دا ویل چې هغه به څوک وي، چې یو لمونځ یې هم نه وي کړی، او جنت ته رسېدلی وي؟

چې کله به هغو جواب ور نکړی، نو پیغمبرﷺ به پخپله ویل: د "بني عبدالاشهل" قبیلې "اُصَیرم".(۱)

## د انصارو دوهم بیعت:

چې کله دوهم (۲) کال راغلی چې د نبوت دیارلسم (۱۳) کال وو، نو مصعب بن عمیرؓ یوه ډله د مسلمانانو د خپل ځانه سره، را روانه کړله، او د حج ادا کولو لپاره یې مکې مکرمې ته را وستل.

د مسلمانانو څخه علاوه د "اوس" او "خزرج" یو څو نور مشرکین هم ور سره وه، چې تر اوسه پوري په اسلام مشرف سوي لا نه وه، چې هغه هم د حج لپاره را روان سوي وه، او زیاتِ تعداد هم د داغه خلکو وو، مشهور قول دا دی: چې د څلورو سوو (۴۰۰) څخه زیات وه.

په دوی کي د مسلمانانو تعداد پنځه اویا (۷۵) وو چې په هغه کي دو اویا (۷۲) نارینه او درې (۳) زناني وې، چې هغوی د پیغمبرﷺ پر لاس باندي د "مِنٰی" په دره کي بیعت وکړی، لکه: څنګه چې یې اول ځل کړی وو، او دې بیعت ته نوم د "بیت عقبه ثانیه" ور کول سویدی.

علامه ابن جوزي رحمة الله علیه پخپل کتاب کي د هغو ټولو نمونه را نقل کړیدي.

## پیغمبرﷺ ته پناه ور کول:

په "مسند احمد" کي د یو انصاري صحابي حضرت جابرؓ څخه روایت دی، چې لس (۱۰) کاله پیغمبرﷺ په کورو او بازارو کي خلکو ته د اسلام دعوت ور کوی، او دا به یې ویل:

---

(۱) زرقاني جلد: ۱ صفحه: ۳۱٦

.........مَنْ يُؤْوِينِي؟ مَنْ يَنصُرُنِي حَتَّى أُبَلِّغَ رِسَالَةَ رَبِّي، وَلَهُ الْجَنَّةُ﴾.(۱)

څوک به وي چي ماته ځای را کړي؟ او زما مدد وکړي، چي زه د خدای پیغام انسانانو ته ورسوم، او الله تعالی به هغه ته جنت ور کړي.

مګر هیڅوک پناه ور کونکی او مدد کونکی نه وو، تر دې حده چي الله تعالی موږ د "یثرب" څخه ده ته را واستولو، موږ د ده تصدیق وکړی، او ده ته مو ځای ور کړی، چي کم سړی به د ده خدمت ته را جاضرې دی، هغه به مسلمان کېدی او واپس به تلی.

چي کله د مدینې کور کور ته اسلام ورسېدی، نو موږ مشوره وکړه، چي آخر به تر څو پوري موږ پیغمبر ﷺ په داسي حال کي پرېږدو چي دی به د مکې په غرو کي پرېشان او خوف زده ګرځي، نو موږ اویا (۷۰) کسان د حج په موسم کي مکې ته راغلو، او خفیه طور مو پیغمبر ﷺ ته حال ور واستوی، چي موږ ستا سره ملاقات کول غواړو.

پیغمبر ﷺ د "ایام التشریق" په ورځو کي د "مِنٰی" په مبارکه دره (شله) کي د شپې د ملاقات وعده وکړه.

پیغمبر ﷺ چي کله ملاقات ته راغلی، نو د ده سره خپل اکا حضرت عباس رضي الله عنه ورسره وو، حضرت عباس رضي الله عنه که څه هم تر دې وخته په اسلام نه وو مشرف سوی، لېکن د پیغمبر ﷺ نصرت او حمایت یې په کلکه سره کاوی.

چي کله کښېنستله، نو حضرت عباس رضي الله عنه دې انصارو ته وایي، چي محمد ﷺ په خپل قوم کي انتهائي عزت او وقعت والا دی (یعني خلک که څه هم د ده د دین مخالف دي، لېکن ډېر په عزت و ده ته ګوري موږ د ده حمایت کونکی یو).

دی تاسو ته در تلل غواړي، کچیري تاسو د ده پوره پوره حمایت او حفاظت کولای سی، او تر مرګه پوري د ده پر حمایت او حفاظت باندي استقامت کولای سی، خو ډېره ښه ده، که نه وي، نو د اوس څخه لا جواب ور کړی.

(۱) مسند احمد حدیث: ۱۴۴۵۶

انصارو په جواب کي ورته وویل: چي تا څه وویل موږ واورېدل، او بیا د پېغمبرﷺ طرفته متوجه سوه، او ورته وایي: ای د الله رسوله! چي ته زموږ څخه څه غواړې، موږ هغه ته حاضر یو، چي ته او ستا خدای زموږ څخه څه غواړي، موږ پر هغه ستا سره عهد او وعده کوو.

پېغمبرﷺ ورته وایي: چي زه تاسو د الله تعالی و طرفته را بولم، او پر تاسو اسلام پېشوم، او د قرآن تلاوت درته کوم، او د الله لپاره ستاسو څخه دا سوال کوم، چي د الله تعالی عبادت او بندګي کوئ، د هغه سره شرک مه کوئ، او د خپلو ملګرو لپاره دا غوارم، چي هغوی ته ځای ور کړئ، لکه: څنګه چي د خپلو بچیانو او زنانو حفاظت کوئ، نو دغه رنګه به زما د ملګرو هم حفاظت وکوئ.

که د خوشحالۍ حالت وي، که د تکلیف حالت وي، که مسکنت وي او که مالداري وي، په هر حال کي به زما اطاعت کوئ، او زما خبره ته به غوږ نیسئ!.

انصارو په جواب کي ورته وویل: که موږ داسي وکړه، نو موږ ته به د الله تعالی د طرفه څخه څه بدله را کول کیږي؟

پېغمبرﷺ ورته وویل جنت (یعني د آخرت لا زوال نعمتونه).

انصار ورته وایي: دا ټولي خبري زموږ قبولي دي، ته خپل لاس را وړاندي کړه چي موږ ستا پر لاس باندي بیعت وکړو.

په دې دوران کي "ابو الهیثم بن تیهان انصاري" ورته وایي ای د الله رسوله! زه هم یوه خبره کوم، هغه دا چي زموږ او د یهودو تعلقات دي، چي کله موږ ستا سره تعلق جوړ کړو، نو زموږ تعلق به د هغو سره ختمیږي، داسي نه چي الله تعالی تا ته فتح او نصرت در کړي، او ته بیرته واپس مکې مکرمې ته راسې، او موږ هلته یوازې او پرېشانه پرېږدې.

پېغمبرﷺ په خندا کي ورته وویل: هیڅکله نه ستاسو جان زما جان دی، تاسو زما یاست او زه ستاسو یم، چي د کم چا سره ستاسو جنګ دی د هغو سره زما هم جنګ دی،

چې د کم چا سره ستاسو صلح ده زما هم د هغو سره صلح ده. پر دې باندې ټولو نهایت په رضا او رغبت سره د بیعت لپاره لاسونه را پیش کړل.(۱)

## مدینې منورې ته هجرت:

لکه څنګه چې د نبوت ابتداء په رؤیا صالحه (رشتني خوبو) سره سوې وه، داغه رنګه د هجرت ابتداء هم په رؤیا صالحه سره وسوه.

ابتداءً پیغمبر ﷺ ته په خوب کې د هجرت ځای ور ښول سوی وو، د ځای نوم خو نه وو ښکاره سوی، البته دونه ښکاره سوې وه، چې ته به یو نخلستان (یعني د خورماوو مځکې ته) هجرت کوې.

په دې وجه د پیغمبر ﷺ دا خیال وو، چې شاید هغه ځای به "یمامه" یا "هَجر" وي. دی په داغه تامل او تردد کې وو، چې الله تعالی د وحی په ذریعه د مدینې منورې تعین وکړی، نو پیغمبر ﷺ د الله تعالی په حکم سره، صحابه کرامو ته د مدینې منورې طرفته د هجرت کولو اجازه ورکړه.(۲)

نو مسلمانانو په خفیه طریقه سره د مدینې منورې طرفته خپل هجرت شروع کړی او هره ورځ به څه مسلمانان د خپلو کورنیو سره او بعضې به د خپلو کورنیو بغیر د مدینې منورې طرفته د هجرت په شکل روانېدل.

تر دې حده پورې چې د مسلمانانو یو کافي تعداد مدینې منورې ته د مهاجرینو په شکل ورسېدل.

## په "دار الندوة" کې د پیغمبر ﷺ د قتل مشوره:

قریشو چې کله دا ولیدل چې صحابه کرام رضی الله عنهم "یکے بعد دیگرے" د مدینې طرفته هجرت کونکې دي او پیغمبر ﷺ هم نن سبا د هجرت کولو په اراده کې دی، نو د مشورې لپاره د قریشو مشران په "دار الندوه" کې سره را جمع سول.

(۱) فتح الباري جلد: ۷ صفحه: ۱۷۳
(۲) زرقاني جلد: ۱ صفحه: ۳۱۸

ابلیس لعین هم د یو سپین ږیري بوډا په شکل په دروازه کي ودرېدی، قریشي سردارانو پوښتنه ځني وکړه، چي ته څوک یې؟ ده ورته وویل چي زه د "نجد" یو شیخ یم، ستاسو خبره اورم که ممکنه وه، پخپله مشوره به ستاسو سره امداد وکړم.

نو خلګو د را ننوتلو اجازت ور کړی، او مشوره شروع سوه، یو قریشي سردار دا ویل چي پیغمبر ﷺ په یو قیدخانه کي قید کړی، "شیخ نجدي" ورته ویل دا مشوره صحیح نه ده، ځکه کچیري د ده ملګري دا واوري پر تاسو به حمله کوي، ذی به ستاسو څخه خلاصوي.

یو بل قریشي دا مشوره پېش کړه، چي جلا وطنه یې کړی، "شیخ نجدي" ورته وویل: چي دا مشوره بالکل غلطه ده، ایا تاسو د ده د کلام شیریني او لذت ندی اورېدلی؟ هر ځای ته چي ورسي، نو د هغه ځای خلګ به پر ده ایمان راوړي او بیا به ټوله پر تاسو حمله کوي.

"ابو جهل" ورته ویل: چي زما مشوره نه د قید او نه د جلا وطنۍ ده بلکه د هري قبیلې څخه دي یو نوجوان منتخب سي، او بیا دي په یوه واړ پر "محمد" حمله وکړي، او ذی دي قتل کړي، په دې شکل به د ده دیت پر ټولو قبائلو سره تقسیم سي او "بني عبد مناف" د ټولو قبائلو سره د جنګ کولو توان او طاقت نلري، نو پر دیت به معامله ختمه سي.

"شیخ نجدي" چي دا واورېدل، نو ویې ویل په رب د کعبې دي مي قسم وي، چي دا بهترینه مشوره ده، او ټولو دا مشوره خوښه کړه، او د دې حملې لپاره یې د شپې وخت منتخب کړی.

چي کله مشوره ختمه سوه، نو جبرائیل علیه السلام دستي د الله تعالی د درباره څخه وحی را ورسولې:

.........وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللَّهُ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ﴾.(۱)

ای پیغمبره! در پیاد کړه هغه وخت چي کافران ستا په باره کي مختلف تدبيرونه د قيد يا د قتل کولو کوي، او يا ستا د وطن څخه د ایستلو فیصلې کوي، الله تعالی هم د دوی لپاره یو تدبیر کوي، او الله تعالی بهترین تدبیر کونکی دی.

جبرائيل عليه السلام په دې ټوله واقعه پيغمبر ﷺ خبر کړئ، او د الله تعالی د طرفه څخه یې د مدينې و طرفته د هجرت کولو د اجازت پیغام را ورسوی.

او د دې سره یې د دې دعاء تلقین هم ورته وکړی، چي کله ته د هجرت په اراده روانیږې نو دا دعاء وایه!:

.........وَقُلْ رَبِّ أَدْخِلْنِي مُدْخَلَ صِدْقٍ وَأَخْرِجْنِي مُخْرَجَ صِدْقٍ وَاجْعَلْ لِي مِنْ لَدُنْكَ سُلْطَانًا نَصِيرًا﴾.(۲)

یا الله! ما په رشتیا طریقه سره ورسوې، او په حقه طريقه سره مي د دې کفارو د مابينه را وباسې، او د خپل طرفه څخه زما مدد او نصرت وکړې. (۳)

## د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه سعادت:

حضرت علي رضی الله عنه روايت کوي، چي نبي اکرم ﷺ د "جبرائيل" څخه پوښتنه کوي، چي زما سره به هجرت څوک کوي، جبرائيل عليه السلام ورته وايي: ابو بکر صدیق رضی الله عنه.(۴)

په بخاري شريف کي د "حضرت عائشې" مبارکې روایت دی: چي پيغمبر ﷺ د غرمې په وخت کي د ابوبکر رضی الله عنه کورته راغلی او ورته وایي: چي ماته د هجرت

(۱) الانفال آیت نمبر، ۳۰
(۲) الاسراء آیت نمبر، ۸۰
(۳) طبقات ابن سعد، جلد نمبر ۱، صفحه نمبر ۱۵۲، عیون الأثر، جلد نمبر ۱، صفحه نمبر ۱۷۷
(۴) زرقاني، جلد نمبر ۱، صفحه نمبر ۲۲۶

اجازت وسو، ابوبکرﷺ ورته وايي: زما مور او پلار دي پر تا قربان وي، ايا دي عاجز بنده ته به هم ستا د ملګرتيا شرف خاصل سي او کنه؟ پیغمبرﷺ ورته وايي هو.

د ابن اسحاق روايت دی: چي حضرت ابوبکرﷺ چي دا واورېدل نو يې وژړل، "حضرت عائشه" مبارکه فرمايي: چي د دې څخه مخکي زما دا ګمان نه وو، چي د ډېري خوشحالی څخه به هم څوک ژاړي، ابوبکرﷺ د مخکي څخه لا د هجرت کولو لپاره دوه اوښان تيار ساتلي وه، چي څلور (۴) مياشتي يې مسلسل هغوی ته د "ککر" د درختو پاڼي ور کولې.

پیغمبرﷺ ته وايي: چي زما مور او پلار دي پر تا قربان وي، چي په دې کي کم يو ستا خوښ وي، هغه زما د طرفه څخه هديه دی.

پیغمبرﷺ ورته وايي: چي بغير د قيمته يې هيڅ کله نه اخلم. (۱)

## د مکې څخه راوتل:

چي کله شپه راغله او تياره وغوړېدله نو قريشو د خپلي مشورې مطابق د پیغمبرﷺ پر کور باندي محاصره را وسته چي کله دی بيده سي، نو ذوی به پر ده باندي حمله کوي.

پیغمبرﷺ حضرت عليﷺ ته حکم وکړی: چي زما په دې زرغونه "څادر" کي زما پر بستره پرېوځه او بېرېږه مه، تاته هيڅوک ضرر نسي رسولای.

قريش که څه هم د پیغمبرﷺ دښمنان وه، لېکن په معاملاتو کي يې دی دېر صادق او امين بالی، او خپل امانتونه يې د ده سره ايښول، پیغمبرﷺ ټول امانتونه حضرت عليﷺ ته وسپارل، چي سهار به دا امانتونه تر خپلو مالکانو پوري ورسوې.

د محاصرې په دوران کي "ابو جهل" لعين د پیغمبرﷺ د کوره څخه دباندي ولاړ دی، او په لوړ آواز او په خندا سره خپلو ملګرو ته وايي: چي د محمدﷺ خو ګمان دا دی: کچيري تاسو د ده اتباع وکړئ! نو په دنيا کي به د عربو او عجمو بادشاهان سئ،

---

(۱) سيرة المصطفی: جلد نمبر۱. صفحه نمبر۲۹۵

او په آخرت کې به د جنت مالکان سی، کچیري پر ده ایمان نه راوړی: بیا به د ده پیروکارانو په لاس باندي قتل سی، او جهنم ته به ولاړ سی، نن به موږ گورو چې دی زموږ په لاس قتل کېږي، او که موږ د ده په لاس قتل کېږو.

نبي اکرمﷺ د کوره څخه یو مټ خاوره را واخیسته او دباندي پر را ووتی او ورته وایي: چي هو اوس زه دا وایم چي ته به هم په هغه خلکو کي یې چي زما د ملګرو په لاس به قتل کېږي او د مرګه وروسته به په جهنم کي سوځل کېږې، او د دې خاورو پر یو مټ باندي یې د "سورة یس" تلاوت شروع کړی، چي کله یې تر دې آیاته پوري را ورسوی:

......... ﴿فَأَغْشَيْنَاهُمْ فَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ﴾.(۱)

نو هغه خاوره یې د دوی پر طرف ور وپاشله، الله تعالی د دوی پر سترګو پردې را وستې او پیغمبرﷺ د دوی ومخته تېر سو، چي هیچا ونه لیدی، څني ولاړی.(۲)

## د ابو بکر صدیقؓ انتظار:

نو پیغمبرﷺ د ابو بکرؓ کور ته راغلی چي کله دروازې ته ودرېدی، نو د ټکولو څخه مخکي بیا حضرت ابوبکرؓ دروازه خلاصه کړه، پیغمبرﷺ ورته وایي ای ابو بکره! ته نه یې بیده سوی؟

نو "ابو بکر" په جواب کي ورته وایي: چي زما مور او پلار دي تر تا قربان وي د کم وخته څخه چي زما سره ستا د هجرت فکر پیدا سویدی، نو د هغه وخته څخه زه ټوله شپه و دروازې ته په انتظار ناست یم، چي هسي نه چي پیغمبرﷺ راسي او زه ویده یم، او پیغمبرﷺ زما د خوب په وجه د انتظار کولو په تکلیف کي واقع سي.

نو ابو بکرؓ یې د ځانه سره روان کړی، د "غار ثور" طرفته ولاړه، په دې دوران کي یو سړی د پیغمبرﷺ د کوره سره تېرېږي د قریشو څخه پوښتنه کوي چي د چا انتظار کوی؟

(۱) یس آیت نمبر: ۹
(۲) عیون الاثر: جلد نمبر ۱، صفحه نمبر ۱۷۹

هغه ورته وايي چي موږ د محمد ﷺ انتظار کوو چي هغه را ووزي موږ يې قتل کوو، هغه سړي ورته وويل: الله تعالی دي تاسو ناکامه کړي، محمد خو ستاسو پر سرو باندي خاوري دروپاشلې در څخه ولاړی.

چي کله سهار سو، نو حضرت علي ﷺ د ده د بستري څخه را پورته سو، نو دوی سره ويل چي په خدای قسم هغه سړي خو موږ ته رښتيا ويلي دي، نو په ډېره پښېماني سره د حضرت علي ﷺ څخه پوښتنه کوي، چي محمد ﷺ څه سو؟ نو هغه ورته وايي: زما سره د "محمد" معلومات نسته. (۱)

پيغمبر ﷺ چي کله د مکې د ښاره څخه وځي نو پر يو غونډۍ باندي ترشاه د مکې و ښار ته د ډېر حسرت او ارمان نظر را اړوي، او وايي:

........وَاللّٰهِ إِنَّكِ لَخَيْرُ أَرْضِ اللّٰهِ، وَأَحَبُّ أَرْضِ اللّٰهِ إِلَى اللّٰهِ، وَلَوْلَا أَنِّي أُخْرِجْتُ مِنْكِ مَا خَرَجْتُ﴾ (۲)

په خدای قسم ته د ټولو څخه بهترينه مځکه يې او د ټولو څخه زياته الله تعالی ته محبوبه يې، که زه وتلو ته مجبوره سوی نه وای، هيڅکله به ستا څخه نه وای وتلی.

## "غار ثور" ته راتلل:

چي کله د کوره څخه را ووتل نو په شپه کي دواړه حضرات د "غار ثور" طرفته راغله، د سفر په دوران کي د حضرت ابوبکر ﷺ عجيب د بېتابۍ حالت دی، کله د مخه ځي او کله وروسته ځي، کله يو طرفته او کله بل طرفته.

پيغمبر ﷺ پوښتنه ځني کوي، چي ای ابوبکره! دا څه کوې؟ کله مخته کله وروسته کله يو طرفته او کله بل طرفته.

حضرت ابوبکر ﷺ په جواب کي ورته وايي: ای د الله رسوله! کله مي دا خيال وي، چي د شاه د خواه دښمن را نسي نو زه تر شاه ځم، او کله مي دا خيال وي، چي مخته

(۱) البدايه والنهايه، جلد نمبر ۳، صفحه نمبر ۱۷۶
(۲) سنن ترمذي حديث، ۳۹۲۵

ځوک په کمین کې راته ناست نه وي، نو ځکه زه مخته ځم، او د حفاظت پخاطر کله یو طرف او بل طرفته کېږم.

پیغمبرﷺ ورته وایي ای ابوبکره! د دې څخه ستا مقصد دا دی: چې ته قتل سې، او زه محفوظ سم، "ابو بکر" ورته وایي: هو، د الله په ذات دې زما قسم وي، چې زما د ټولو څخه لویه تمناه دا ده چې ستا په بدله کې زه قتل سم او ته په حفاظت سره ژوند وکړې.(۱)

چې کله "غاري ثور" ته را ورسېده، نو حضرت ابوبکرؓ ورته وایي: ته لږ انتظار وکړه، زه به دننه ورسم، او غار به صفا کړم، که چیري په دې غاره کې موذي حشرات وي، هسې نه چې تا ته نقصان ورسوي.

حضرت ابو بکرؓ غار ته ورننوتی په خپلو لاسو یې غار کتل شروع کړه، چې په کم ځای کې به یو کوچنی غار وو، نو د خپل ځادر او لنګوټې څخه به یې کپړه څیرله، او هغه غار به یې په بندوله، په دې شکل هغه ټوله غارونه او سوریان بند کړه، مګر یو سوری پاته سو، چې په هغه کې مار وو، حضرت ابو بکرؓ پیغمبرﷺ غار ته را دننه کړی او خپله په داسي شکل کښېنستی، چې خپله پښه یې د مار په غاره کې ور کړه، او پیغمبرﷺ یې پر خپل ځنګانه باندي بیده کړی.

مار چې کله د خپلي غاري خوله بنده ولیده، نو راغلئ د غاري خولې ته، او حضرت ابوبکرؓ یې پر پښه باندي په نېښ وچیچی چې هر څومره تکلیف وو، حضرت ابو بکرؓ خپل جسم ته حرکت ورنکړی، او نه یې آواز د خولې څخه را ویستی.

لېکن د تکلیف د شدت پخاطر د حضرت ابوبکرؓ د سترګو څخه اوښکي راغلې، چې ابوبکرؓ هیڅ قِسم هم هغه نسوای قابو کولای، هغه اوښکي د پیغمبرﷺ پر "مخ مبارک" را توی سوې.

د پیغمبرﷺ سترګي را روښي سوې، ورته وایي: ای ابوبکره! څه پېښه ده؟

(۱) فتح الباري، جلد نمبر ۱، صفحه نمبر ۱۸۵

"ابوبکر" په جواب کي ورته وايي: زما مور او پلار دي ترتا قربان وي، زه مار ووهلم، پيغمبر ﷺ د خپلي خولې مبارکي لعاب (لاړي) د مار د چيچلو پر ځای ولګولې، چي فورا د مار د چيچلو اثر او تکليف د ابوبکر ﷺ د بدنه څخه ليري سو.

چي کله سهار سو، نو پيغمبر ﷺ د ابوبکر ﷺ پر بدن باندي څادر نهويني او نه د هغه پر سر پګړۍ ويني.

پيغمبر ﷺ پوښتنه کوي، چي هغه څادر او پګړۍ دي څه سوه؟

حضرت "ابوبکر" ورته وايي چي څادر او بګړۍ مي ټکره ټکره کړل، او د غار ټوله سوري مي په بند کړل.

پيغمبر ﷺ د دعاء لپاره لاس پورته کړی د الله تعالی په دربار کي دا خواست کوي، چي ای الله! ابوبکر ﷺ په جنت کي زما ملګری جوړ کړې، الله تعالی د وحی په ذريعه خبر ور کوي، چي ستا د غه دعاء زما په دربار کي قبوله سوه. (۱)

## د قريشو غار ته راتلل:

قريش د پيغمبر ﷺ په تلاش کي هغه غار ته راغلل، په هغو کي بعضي په ډېر تلوار سره د غار خولې ته د کتلو لپاره نژدې سول، لېکن د غار پر خوله باندي د "عنکبوت" جالي او د دې سره د دوو ځنګلي کوترو ځالی په نظر ورغلې، نو يو بل ته وايي: چي په دې غار کي څوک نسته.

په يو روايت کي داسي هم راغلي دي، چي په دې کفارو کي "اميه ابن خلف" هم وو، هغه دا وويل چي تاسو په غاره کي دننه وګورئ!

يو بل قريشي ورته وايي: چي په غاره کي دننه د کتلو څه ضرورت دی؟ ځکه د غاري پر خوله باندي د "عنکبوت" جالي لګېدلي دي، که دوی په دې غار ننوتلي وای، نو دا به اوس څنګه پاته وای، نه به دلته بيا د دې کوترو ځالي او هګۍ وای.

(۱) خطبات فقير، جلد نمبر ۶، صفحه نمبر ۶۰، ۶۳، ۶۴

حضرت ابو بکر صدیق ﷺ چي کله هغه خلک د غار پر خوله باندي ولیدل نو یې وژړا او په ډېر کمزوري او سوکه آواز پیغمبر ﷺ ته وایي: د الله په ذات قسم د خپل ځان پ خاطر نه ژاړم، په دې وجه ژاړم چي هسي نه دا خلک تا ته تکلیف ورسوي.

نبي اکرم ﷺ په جواب کي ورته وایي:

..........لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا﴾.(١)

غم مکوه الله تعالی زموږ ملګری دی، په دې وخت کي الله تعالی د حضرت "ابوبکر" په زړه کي سکون ور واچوی.(٢)

## په دلائل بیهقي کي د حضرت ابوبکر ﷺ فضیلت:

په دلائل بیهقي کي یو روایت دی: چي کله به د حضرت عمر ﷺ و مخته د ابوبکر ﷺ ذکر راغلی نو هغه به ویل چي د ابوبکر ﷺ د یوې شپې او د یوې ورځي عبادت، د "عمر" د ټولي زندګۍ د عبادت څخه بهتر دی.

د شپې په باره کي خو به هغه دغه د غار شپه او قصه بیانوله، او د ورځي په باره کي به هغه ویل، چي کله نبي اکرم ﷺ وفات سو، او د عربو ډېر قبائل مرتد سوه، په دې وخت کي زه د ده خدمت ته راغلم، او ډېر خیرخواهانه عرض مي وکړئ، چي ای د الله د رسول خلیفه! ته لږ د نرمۍ او تالیف قلب څخه کار واخله.

ابوبکر ﷺ په غصه کي راته ویل:

..........جَبَّارٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ خَوَّارٌ فِي الْإِسْلَامِ﴾.(٣)

ای عمره! په جاهلیت کي خو ډېر بهادر وې، او په اسلام کي ولي داسي بزدله سوې.

د حضرت ابوبکر ﷺ د جهاد پخاطر هغه خلک چي د اسلامه څخه تښتېدلي وه، بیرته د اسلام و طرفته واپس راغلل.

---

(١) سورة التوبه، آیت نمبر ۴۰

(٢) روض الانف، جلد نمبر ۲، صفحه نمبر ۴

(٣) دلائل النبوة للبیهقي باب خروج النبي ﷺ صفحه، ۴۷۷

د ابوبکرؓ د دغي ورځي پر عبادت د "عمر" د ټولي ژوندگۍ عبادت قربان دی.

## د ابوبکر ټوله کورنۍ د رسول اللهﷺ په خدمت کي:

تر درو (۳) ورځو پوري دوی په دې غار کي پټ وه، "حضرت عبدالله ابن ابي بکر" به ټوله ورځ په مکه کي اوسېدی، او د مشرکينو خبري به يې معلومولې، او د شپې به راتلی، پيغمبرﷺ او حضرت ابوبکرؓ ته به يې حالات ويل، او سهار به بيا په وخت کي د غاري څخه وتی.

"عامر ابن فُهيره" (د ابوبکر صديقؓ آزاد کرده غلام) د مابنامه څخه وروسته چي کله به تياره سوه، نو پسونه (رمه) به يې د غره طرفته را وستل او بقدر حاجت به يې دوی دواړو ته د پسو شيدې ورکولې.

او د حضرت ابوبکرؓ مشري لور "اسماء بنت ابي بکر" به د دوی لپاره ناشته تيارولهاو را وړله به يې.

درې (۳) شپې په دې غار کي تيري سوې، درې (۳) ورځي بعد "عبدالله ابن اريقط" (چي د رهبرۍ لپاره په مزدوري مقرر سوی وو) د خپلي وعدې مطابق د سهار په وخت کي هغه دوې (۲) اوښاني را وستلې، متعارفه او مشهوره لار يې پرېښول، پر غير معروفه لار باندي يې د ساحل د طرفه څخه دوی روان کړه.

پر يوه اوښه باندي نبي اکرمﷺ سپور دی، او پر دوهمه اوښه باندي ابوبکرؓ او خپل ازاد کرده غلام د خدمت لپاره ور سره سپور کړی، او "عبدالله ابن اريقط" پر خپله اوښه باندي سپور د لاري ښولو لپاره مخته روان دی.[1]

## د الله تعالی په لار کي خپل ټول مال خرڅول:

صديق اکبرؓ چي کله اسلام راوړی نو په هغه وخت کي د ده سره څلوېښت زره (۴۰۰۰۰) دراهم وه، د خدای په لار کي او د غلامانو په رانيولو او د الله تعالی د رضا لپاره په ازادولو کي يې ټولي پيسې خرڅي کړې.

[1] مدارج النبوة، جلد نمبر ۲، صفحه نمبر ۸۵

چي صرف پنځه زره (۵۰۰۰) دراهم ور سره پاته وه، هغه يې هم د هجرت په وخت کې د
ځانه سره واخيسته.

چي کله مدينې منورې ته راغله، د مسجد نبوي لپاره يې ځمکه او نور اسباب پ
رانيول، نو هغه پيسې ټولي ختمي سوې.

حضرت "عائشه صديقه" وايي: چي کله ابوبکر ﷺ وفات سو، نو يو دينار او يو
درهم هم د ده په ترکه کي پاته نسوه.(۱)

"عبدالله ابن اريقط" د پيغمبر ﷺ او ابوبکر ﷺ سره ملګرى وو، د اسفل مکه څخ
يې دوى را روان کړل، د "ساحل" طرفته راغلل، او د "اسفل عسفان" سره تېرېدل، نو
منزل پر منزل د مدينې و لاري ته برابر سول، چي بيا منزل پر منزل مدينې منورې ته را
ورسېدل.

چونکه وخت مختصر دى! نو د پيغمبر ﷺ د هجرت دوهمه حصه به په را روانه جمعه
کي ستاسو و مخته پيشو، الله تعالى دي دا زموږ وينا او محنت پخپل دربار کي قبول
او مقبول وګرځوي.

الله تعالى دي موږ او تاسو ټوله د پيغمبر ﷺ د برکاتو څخه محروم او بې نصيبه نه
ګرځوي.

الله تعالى دي دا څو خبري پخپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

آمين يا رب العالمين

وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ

(۱) الاصابه، جلد نمبر ۲، صفحه نمبر ۳۴۲

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الایه)

# د هجرت دوهم بیان

(بیان)


مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن


ترتیب وتخریج:


مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن



مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقریر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتي حافظ كليم الله صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشاعت | اول |
| تاريخ | جمادي الاولى ۱۴۴۲ بمطابق ۲۴ جنوري ۲۰۲۱ |
| تعداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَاَشْهَدُ اَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالَى: ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللّٰهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللّٰهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللّٰهَ كَثِيرًا﴾.(١)

وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: ﴿إِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّمًا﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيمُ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمُ، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

## د پیغمبر ﷺ مبارکه ژوندون:

محترمو مشرانو! د "ربیع الاول" په مبارکه میاشته کي د "سید الاوّلین والآخرین" محمد مصطفٰی احمد مجتبٰی ﷺ د مبارکي ژوندون پر مختلفو اړخو باندي خبره کیږي.

کله د ولادت باسعادت تذکره وي، او کله د رسول الله ﷺ عشق د انسانانو ومخته ایښول کیږي، کله د اطاعت رسول مفهوم بیانیږي، او کله د اخلاقو نبیو تذکره وي، کله خو د ده د مبارکو تعلیماتو په باره کي تفصیلات بیانیږي.

ګویا دا یو دریاب دی چي د هغه څخه یو غړپ اوبه هر څوک را اخلي، مګر هیڅ تعریف کونکی د ده د تعریف حق نسي ادا کولای، بس دومره ویل کیږي؛

---

(١) الاحزاب آیت نمبر: ٢١

(٢) ابن ماجه حدیث: ٢٢٩

يَا صَاحِبَ الجَمَالِ وَ يَا سَيِّدَ الْبَشَر

مِنْ وَجْهِکَ الْمُنِيرِ لَقَدْ نُوِّرَ الْقَمَرُ

لَا يُمْكِنُ الثَّنَاءُ كَمَا كَانَ حَقُّهُ

بعد از خدا بزرگ توئی قصه مختصر

چونکه د پیغمبر ﷺ د ذات تعریفونه الله تعالی پخپله هم کړي دي، چي د هغه د عظمتو ګواهي قرآن مجید پیش کړېده:

.........وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ﴾.(۱)

نو موږ غوندي طالبعلمان به د پیغمبر ﷺ د ذات مبارک څه تعریف وکړو!

## د تیري جمعي اعاده:

په تېره جمعه کي پر دې باندي خبره تفصيلاً تېره سوه، چي د "بیعت عقبه" څخه تقریباً درې (۳) میاشتي وروسته د "ربیع الاول" په میاشته کي پیغمبر ﷺ د "دو شنبې" په ورځ د "مکې مکرمې" څخه راووتی، او غالبًا د دو شنبې په ورځ مدینې منورې ته را ورسېدی، لېکن محمد بن موسیٰ خوارزمي رحمة الله علیه لیکلي دي، چي پیغمبر ﷺ د "پنجشنبې" په ورځ د مکې مکرمې څخه را وتلی دی.

حافظ قطب الدین عسقلاني رحمة الله علیه لیکلي دي چي صحیح خبره دا ده چي دی د "پنجشنبې" په ورځ د مکې مکرمې څخه راوتلی دی، او درې (۳) ورځي یې په "غار ثور" کي تیري کړي، او د دو شنبې په ورځ د غار ثور څخه را وتلی دی، "مدینې منورې" ته روان سویدی.(۲)

(۱) سورة الم نشرح، ایت نمبر ۴

(۲) زرقاني جلد ۱ صفحه: ۳۲۵

## د ام مَعبد رضي الله عنها قصه:

چي کله په غار ثور کي د درو (۳) شپو تېرولو څخه وروسته پیغمبر ﷺ د غار ثور څخه را ووتی د مدینې منورې پر لار را روان سو، په لاره کي د "أم مَعبد" خېمه ولاړه وه، "أم مَعبد" یو ډېره نهایت شریفه او مهمان نوازه زنانه وه، د خېمي و مخته ناسته وه، د پیغمبر ﷺ قافلې د "أم مَعبد" څخه د غوښو او خورماوو را نیولو په غرض معلومات وکړی، مگر هیڅ هم نه وه.

د پیغمبر ﷺ نظر چي کله پر خېمه باندي و موښتی، نو د خېمې په یو گُنج کي یې بزه ولاړه ولیده، پوښتنه ځني کوي چي دا څنگه بزه ده؟

"أم مَعبد" ورته وایي چي دا بزه د ډنگروالي په وجه سره د پسو په رمه کي ځنگله ته نسي تلای.

پیغمبر ﷺ ورته وایي: ایا په دې بزه کي شیدې سته، "أم مَعبد" ورته وایي: په دې بزه کي به شیدې د کمي خواه راسي.

دَی ورته وایي: ماته د دې بزې څخه د شیدو لوشلو اجازت را کړه.

"أم مَعبد" ورته وایي: زما مور او پلار دي تر تا قربان وي، کچیري په دې بزه کي شیدې وي ته یې ځني ولوښه.

پیغمبر ﷺ "بسم الله" وویله او د دې پر تیو یې لاس مبارک کېښېښوی، او تي یې د شیدو څخه ډک سوه، پیغمبر ﷺ هغه شیدې ځني ولوښلې، یو ډېر لوی لوښی چي د هغه څخه لس (۱۰) کسان مړېدلای سوای، د شیدو څخه ډک سو.

اول خو ده "أم مَعبد" ته شیدې ور کړې، چي "أم مَعبد" شیدې په ماړه نس وچیښلې، د هغه څخه وروسته یې خپلو ملگرو ته ور کړې، په آخر کي ده پخپله وچیښلې.

دوهم ځل یې بیا شیدې ځني ولوښلې، چي هغه لوی لوښی ځنې ډک سو، ده هغه لوښی "أم مَعبد" ته ور کړی او "أم مَعبد" د ده سره بیعت وکړی او دَی ځني روان سو.

چي کله ماښام سو، د "اُم مَعبد" خاوند "ابو معبد" پسونه د ځنګله څخه واپس را وستل، که ګوري یو ډېر لوی لوښی د شیدو څخه ډک پروت دی، په ډېر تعجب سره یې پوښتنه وکړه. چي ای اُم مَعبد! دا شیدې د کمي خواه سوې؟ په دې بزه کي خو د شیدو نوم او نښان نه وو.

"اُم مَعبد" ورته وایي: چي نن زموږ پر دې لار باندي یو مبارک انسان تېرېدی، په خدای قسم دا د هغه برکت دی، او ټوله واقعه یې ورته بیان کړه.

"ابو مَعبد" ورته وایي: چي ته لږ د هغه حال راته بیان کړه، "اُم مَعبد" د ده حلیه مبارکه او د ده د خداداد عظمت او جلال او د ده د هیبت او وقار نقشه ورته پېش کړه.

"ابو مَعبد" ورته وایي: چي په خدای قسم دا هغه قریشي نبي دی، زه به ضرور د ده خدمت ته حاضرېږم، وروسته روان سو. (1)

## د "سراقه بن مالک" قصه:

قریشو په مکه مکرمه کي دا اعلان وکړی چي کم سړی محمد ﷺ یا ابوبکر صدیق رضي الله عنه قتل کړي، یا یې ګرفتار را ولي، د هر یوه په عوض کي به په انعام کي سل (۱۰۰) سل (۱۰۰) اوښان ور کول کیږي.

"سراقه بن مالک بن جعشم" روایت کوي چي پخپل مجلس کي ناست وم، چي یو سړی راغلی دا بیان یې وکړی، چي یو چند کسان د ساحل سمندر پر لار ما روان ولیدل، زما ګمان دی چي هغه "محمد" او د ده ملګري وه.

"سراقه" وایي چي ما په دې زړه کي دا معلومه کړه، چي بېشک دا هغه دی، لېکن د هغه سړي د ګمان اړولو لپاره مي دا وویل چي دا "محمد" او د هغه ملګري نه دي، بلکه نور خلک دي، هسي نه چي دا سړی یا بل څوک هغه وا نه وري، او د قریشو هغه انعام لاس ته و نه رسوي.

---

(1) سیرة المصطفی، جلد نمبر ۱، صفحه نمبر ۳۸۸

لږ وخت بعد د مجلس ځخه ولاړ سوم، خپلي مينځي ته مي وويل چي زما آس به پر فلانکۍ غونډۍ ودروي، ما خپله نېزه را واخيسته د کوره ځخه د شاه پر لار را ووتم او پر آس باندي سپور سوم، په ډېره منډه راغلم، چي کُله دوی ته را نژدې سوم، نو ابوبکر رضی الله عنه راته وکتل په ډېره وېره کي يې دا عرض وکړی: چي ای د الله رسوله! اوس خو موږ نيول کيږو، دا سړی زموږ د نيولو لپاره راغلی دی.

پېغمبر ﷺ ورته وايي هيڅکله نه ﴿لَا تَحْزَنْ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا﴾ ته غم مه کوه، الله تعالی زموږ ملګری دی.

پېغمبر ﷺ "سراقه" ته ښراء وکړه، هغه وخت د "سراقه" آس تر ځنګنو پوري په ډبرينه مځکه ننوتی، "سراقه" ورته وايي چي زما دا يقين دی چي ستاسو د ښراء په وجه داسي وسوه، تاسو دواړه ماته دعاء وکړی زه په خدای قسم ستاسو سره وعده کوم، چي کم سړی ستاسو په تلاش کي راځي، هغه به زه واپس کوم.

پېغمبر ﷺ دعاء وکړه هغه آس د مځکي ځخه را پورته سو، "سراقه" وايي: د پېغمبر ﷺ په باره کي زما دا يقين سو، چي الله تعالی به ده ته ضرور غلبه ور کوي، او قريشو چي د ده د قتل يا د ګرفتارۍ لپاره د سلو (۱۰۰) اوښانو اعلان کړی دی، ما د هغه خبر ده ته ور کړی.

چي د لاري ځخه توښه را سره وه، هغه مي ده ته پېش کړه، البته دا يې راته وويل چي زموږ حال به وچاته نه ښکاره کوې. (۱)

## د "بريده اسلمي" قصه:

چي کله دوی لږ مخته ولاړه د "سراقه" غونډي "بريده اسلمي" هم د خپلو اويا (۷۰) ملګرو سره د پېغمبر ﷺ په تلاش کي را وتلی وو، چي د قريشو د سلو (۱۰۰) اوښانو انعام حاصل کړي، چي کله نژدې راغلی، پېغمبر ﷺ پوښتنه ځني کوي:

..........مَنْ اَنْتَ﴾. ته څوک يې.

---

(۱) سيرة المصطفى: جلد نمبر ۱، صفحه نمبر ۳۹۴

...........قُلْتُ: بُرَيْدَةُ﴾. ما وویل "بریده" یم.

...........فَالْتَفَتَ ﷺ إِلَى أَبِيْ بَكْرٍ وَقَالَ: بَرَدَ أَمْرُنَا وَصَلَحَ﴾. پیغمبر ﷺ ابوبکر رضي الله عنه ته وکتل بطور تفاول وایي: ای ابوبکره! زموږ خبره خونکه او صحیح سوه.

...........ثُمَّ قَالَ مِمَّنْ أَنْتَ﴾. د کمي قبیلې څخه یې.

...........قُلْتُ مِنْ أَسْلَمَ﴾. ما ورته وویل د "اسلم" قبیلې څخه یم.

...........قَالَ سَلِمْنَا﴾. ده "ابوبکر" ته وویل: موږ په سلامتیا کي یو.

...........ثُمَّ قَالَ مِمَّنْ﴾. بیا یې راته وویل چي د "اسلم" قبیلې د کم بناخه څخه یاست.

...........قُلْتُ مِنْ بَنِيْ سَهْمٍ﴾. "بریده" وایي: چي ما ورته وویل د "بنو سهم" د بناخ څخه یم.

...........قَالَ خَرَجَ سَهْمُكَ﴾. ده راته وویل ستا حصه او مقام ډېر پورته راغلی.

...........فَقَالَ بُرَيْدَةَ لِلنَّبِيِّ ﷺ مَنْ أَنْتَ﴾. "بریده" نبي ﷺ ته وایي ته څوک یې؟

...........قَالَ أَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ رَسُوْلُ اللهِ﴾. دی مبارک ورته وایي چي زه "محمد" د "عبدالله" زوی او د "الله رسول" یم.

...........فَقَالَ بُرَيْدَةُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ، فَأَسْلَمَ بُرَيْدَةُ وَأَسْلَمَ مَنْ كَانَ مَعَهُ جَمِيْعًا﴾.

"بریده" د شهادت کلمه وویله مسلمان سو، هغه اویا (۷۰) کسان چي د "بریده" ملګري وه، هغه هم ټوله مسلمانان سوه.

"بریده" ورته وایي ای د الله رسوله! چي کله ته مدینې ته داخلېږې نو ستا لپاره یو بیرغ پکار دی، پیغمبر ﷺ خپله لنګوټه پر نېزه وتړله او "بریده" ته یې ورکړه، چي کم

وخت مدينې ته داخلېدی، نو د بريده هغه بيرغ په لاس کي وو او د ده څخه مخکې روان وو.(١)

## مدينې منورې ته رارسېدل:

د پيغمبرﷺ د مکې څخه د روانېدو خبر د ېر وختي لا مدينې منورې ته رسېدلی وو، د مدينې هر فرد و بشر د ديدار په شوق به سهار وختي مقام "حره" ته راغلل ولاړ به وو، د پيغمبرﷺ انتظار به يې کوی، او غرمه به واپس کور ته تلل، او د دوی به روزانه دا معمول وو.

يوه ورځ د انتظاره وروسته چي دوی واپس کورو ته تلل، يو يهودي پر غونډی ختلی پيغمبرﷺ يې وليدی او بې اختياره يې نعرې کړې:

........﴿يَا بَنِيْ قَيْلَةَ هَذَا جَدُّكُمْ﴾.

ای "بني قيله" (قيله د انصارو انا وه يعني د اوس او خزرج د مور نوم) دا دی ستاسو مبارک بخت او ستاسو د خوش نصيبی قافله را ورسېدله.(٢)

چي کله دا آواز او خبر د انصارو غوږو ته را ورسېده نو انصار په ډېر عشق او بې تابي کي د پيغمبرﷺ د استقبال دپاره منډې وهي او د نعره تکبير په ږوږ سره د "بني عمرو بن عوف" ټوله ابادي سره ښوري.

د مدينې منورې څخه پر درې (٣) ميله فاصله باندي يوه ابادي وه، چي هغې ته "قباء" ويل کېدل، دلته د انصارو يو څه کورنۍ ابادي وې، د ټولو څخه زيات د "عمرو بن عوف" خاندان ډېر ممتاز وو، د هغو سردار "کلثوم بن هدمؓ" وو.

چي کله پيغمبرﷺ "قباء" ته را ورسېدئ، نو ده د کلثوم بن هدمؓ پر مکان باندي قيام وکړی، او ابوبکر صديقؓ د خبيب بن اسافؓ په مکان کي استوګن سو،

---

(١) زرقاني جلد ١ صفحه ٣٤٩

(٢) زرقاني جلد ١ صفحه ٣٥٠

انصار د هر طرفه څخه ډله ډله د عقیدت په جوش د خپل عاشقانه سلام پېشولو لپاره حاضرېدل.

## د حضرت علي ﷺ قباء ته را رسېدل:

حضرت علي ﷺ د حضور اکرم ﷺ د روانېدو څخه وروسته درې (۳) ورځې په مکه کې پاته وو، پېغمبر ﷺ د راتلو په وخت کې ده ته د خلکو یو څه امانتونه سپارلي وو، ده هغه امانتونه سره ورسول، او "قباء" ته یې ځان را ورسوی، او د کلثوم بن هدم ﷺ په مکان کې د پېغمبر ﷺ سره اوسېدی.

## په "قباء" کې د مسجد بنیاد:

"قباء" چې د مدینې منورې څخه پر درې (۳) میله فاصله باندې د یو ځاه نوم وو په هغه وجه ټوله ابادی ته "قباء" ویل کېدل، د هغه ځای اوبه ډیرې خوږې وې، حضرت معایه ﷺ پخپل خلافت کې د هغه ځایه څخه ولې جوړې کړې، او دا اوبه یې د مدینې منورې په ټوله ښار کې د ولو په ذریعه سره تقسیم کړې.

پېغمبر ﷺ دوولس (۱۲) ورځې په قباء کې د کلثوم بن هدم ﷺ په مکان کې اوسېدی، او دا د "عمرو بن عوف" قبیله وه، بیا ده هلته د یو مسجد بنیاد کښېښوی.

## په قبیله "بني سلمه" کې د پېغمبر ﷺ اوله جمعه:

بیا پېغمبر ﷺ د هغه ځایه څخه د مدینې پر طرف را روان سو، نو دالته د مدینې په مضافاتو کې د "بني سلمه" قبیله وه، هغو ورته وویل ای د الله رسوله! چې تا زموږ د اکا د زامنو په قبیله کې دوولس (۱۲) ورځې تیرې کړې، زموږ سره به هم څه زمانه تېروې.

نو پېغمبر ﷺ هلته هم یو څه زمانه پاته سو د جمعې ورځ وه د الله نبي ﷺ د جمعې لمونځ ورکړی، هسې هم د دې څخه مخکې "اسعد بن زراره" به د جمعې په ورځ خلک را ټولول او نصیحت به یې ورته کوی، هلته اوس یو مسجد دی چې هغه په مسجد جمعه باندې مشهور دئ، مخکې ډېر کوچنی وو، اوس یې ډېره توسیع سوېده، د الله نبي ﷺ هلته د جمعې لمونځ ادا کړی، دا د ده اوله جمعه وه.

## په مدينه منوره کې د پيغمبر استقبال:

په مدينه منوره کي داسي د شوق حالت دی، چي د جمعې په ورځ سهار د مديني خلګو خپل ځانونه په تورو باندي مسلح او آراسته کړل، او د سردار دو جهان د را وستلو لپاره "قباء" ته ورسېدل.

د جمعې د لمانځه څخه چي کله پيغمبرﷺ فارغه سو، نو پر اوښه باندي سپور سو، او ابوبکرؓ يې د ځانه سره تر شاه سپور کړی او د مديني پر طرف را روان سو.

د انصارو يو ډېره لويه ډله تقريبا پنځه سوه (۵۰۰) مسلح انصار د دوو (۲) صفو په شکل د ده راسته او چپه طرفته را روان دي.

## د هري قبيلې د ميزبانۍ درخواست:

د هر سړي دا تمناه او آرزو وه چي کاشکي دی زما په کور کي استوګن سي، نو د هر طرفه دا عاشقانه او محبانه، استدعاء او نيازوو، چي ای د الله رسوله! ستا حضور ته ددې غريب خانه او کور حاضر دی.

پيغمبرﷺ به هر سړي ته دعاء کوله، او دا به يې ورته ويل، چي زما اوښه د الله د طرفه "مامورہ" ده، چي په کم ځای کي دې ته حکم د ناستي وسي، نو هلته به زما قيام وي، د اوښي لګام (جلو) بالکل پيغمبرﷺ د اوښي پر اختيار پرې ايښی وو، او پخپل لاس مبارک يې و جلو ته پر يو طرف هم حرکت نه ورکوی.

## د اهل مديني جوش او جذبه:

په مدينه منوره کي د جوش او جذبې دا حالت دی چي د مديني بچياني د جمال نبويﷺ د ليدلو لپاره پر چتو باندي ختلي او دا اشعار وايي:

طَلَعَ الْبَدْرُ عَلَيْنَا ★ مِنْ ثَنِيَّاتِ الْوَدَاعِ

د څوارلسم سپوږمۍ د ثنيات الوداع څخه پر موږ باندي را وختله.

وَجَبَ الشُّكْرُ عَلَيْنَا ★ مَا دَعَا لِلّٰهِ دَاعٍ

پر موږ د الله تعالی شکر واجب دی، چې تر څو پورې د الله یو را بلونکی باقي وي.

أَيُّهَا الْمَبْعُوْثُ فِيْنَا ★ جِئْتَ بِالْأَمْرِ الْمُطَاعِ

ای هغه مبارک ذاته! چې موږ ته پيغمبرﷺ راغلی يې د الله د طرفه دې داسې امور راوړي چې د هغه اطاعت پر موږ واجب دی. (۱)

## د مدينې منورې ښار ته داخلېدل:

په مدينه منوره کې د داخلېدو په وخت کې چونکه غونډيو ته ختل او را ښوه کېدل وه، چې کله به دده مخ مبارک ښکاره سو، نو لاندې په مدينه کې به ټولې بچيانې او ښځې دباندې را وتلې، چې کله به يې د ده پر مخ مبارک نظر ولګېدی، نو ټولو زنانو او بچيانو به دا اشعار ويل:

## د بني نجار د بچيانو اشعار:

نَحْنُ جَوَارٍ مِنْ بَنِي النَّجَّارْ ★ يَا حَبَّذَا مُحَمَّدٌ مِنْ جَارْ

موږ بچيان د بنو نجار يو، محمدﷺ زموږ بهترين همسايه دی.

د ډيرې خوشحالۍ څخه به د هر مشر او کشر پر ژبه دا الفاظ جاري وه:

.........جَاءَ نَبِيُّ اللهِ، جَاءَ رَسُوْلُ اللهِ﴾.

د الله تعالی نبي راغلی، د الله تعالی رسول راغلی.

## زياته خوشحالي:

په بخارۍ شريف کې د حضرت براء بن عازب رضی الله عنه څخه روايت دئ چې ما د مدينې منورې خلک هيڅکله په يو شي دومره خوشحاله نه وه ليدلي لکه: د پيغمبرﷺ په راتګ چې څومره خوشحاله وه. (۲)

---

(۱) شرف المصطفی: باب ذکر مقدم النبيﷺ: صفحه نمبر ۳۷۲

(۲) بخاري شريف جلد: ۱ صفحه: ۵۵۸

په "سنن ابو داؤد" کي د انس بن مالک ﷺ څخه روایت دی؛ چي کله پیغمبر ﷺ مدیني منورې ته تشریف راوړی، نو حبشو د ده د تشریف راوړلو په خوشحالي کي د نېزه بازۍ فن ورته پېش کړی.

حضرت انس ﷺ فرمایي چي پیغمبر ﷺ مدیني منورې ته را ورسېدی، نو د ده د نور پخاطر د مدیني ذره ذره روښانه وه، چي په کمه ورځ ده وفات وکړی، نو هر شی تاریک معلومېدی، چي دَی کله په قبر کي کېښېښول سو، موږ لاسونه لا د قبر د خاورو څخه نه وه څنډلي، چي پخپلو زړو کي مو تغیر تیاره محسوسه کړه.(۱)

## اوښه د الله تعالی د طرفه څخه ماموره ده:

د پیغمبر ﷺ اوښه مبارکه په کراره کراره را روانه ده، او د مدیني منورې خلک راسته او چپه طرف، مخ او شاته ور سره راځغلي چي د هغو زړونه د ازله څخه الله تعالی د خپل رسول د عشق او محبت لپاره منتخب کړي وه.

صحابه کرام ﷺ بلا شبه حقیقتًا داسي خلک ور سره را روان دي، چي د هغو ټولو سترګي د ده د لاري فرش دي، هر سړی پخپل عشق او محبت کي د اوښي مهار نیسي د خپل کور طرفته یې را ګرځوي، پیغمبر ﷺ ورته وایي!

..........دَعُوْهَا فَاِنَّهَا مَاْمُوْرَةٌ﴾. پرې یې ږدئ دا د الله تعالی د طرفه ماموره ده.

بالآخر هغه اوښه په بني نجار قبیله کي (چي د پیغمبر ﷺ د ماماوالي قرابت ور سره وو) خود بخود پر هغه ځای کېښېنستله چي پر کم ځای اوس د مسجد نبوي دروازه ده.

مګر پیغمبر ﷺ د هغه اوښي څخه شوه نسو، یو څه وخت وروسته هغه اوښه بیا ولاړه سوه، د حضرت ابو ایوب انصاري ﷺ پر دروازه باندي کېښېنستله، او یو څه ګړی وروسته هغه اوښه را ولاړه سوه، بیرته اول ځای ته راغله، کېښېنستله، او خپله غاړه یې پر ځمکه کېښېښوله.

(۱) جامع الترمذي جلد، ۲ صفحه، ۲۰۳

په دې وخت کې پیغمبر ﷺ د اوښې څخه را کښته سو، او حضرت ابو ایوب انصاري رضي الله عنه د ده سامان پورته کړی او خپل کور ته یې ننیاستی. (۱)

## د "تُبَّعْ" بادشاه مدینه ته راتګ:

د تاریخ په کتابو کې لیکلي دي: د پیغمبر ﷺ د راتګ څخه اووه سوه (۷۰۰) کا مخکې د "یمن" یو بادشاه "تُبَّعْ" مدینې منورې ته راغلی چې د ورځې به د مدینې خلکو د ده سره جنګ کوی او ماښام به یې د مېلمه په حیث د ده مېلمستیا کوله.

نو ده ته حیاء ودربدله چې د دې خلکو سره زما جنګ دی، هغه زما دعوت کوي، نو خپل زوی د ځان نائب وټاکی، په خپله مکې مکرمې ته ولاړی.

بیا وروسته د مدینې منورې خلکو په جنګ کې د ده زوی قتل کړی، "تُبَّعْ" ته ډېر غصه ورغله او ویل به یې چې زه به دا کلې د مدینې منورې نیست او نابود ګرځوم.

دوباره مدینې ته د جنګ په اراده راغلئ نو څلور سوه (۴۰۰) د "توراة" علماء د ملګري وه، هغوی چې کله مدینه ولیدله نو یې ورته وویل: دا خو هغه ځای دی چې زموږ په کتابو کې لیکلي دي چې دا به د "نبی آخر الزمان" مسکن وي.

نو هغه بادشاه د څلورو سوو (۴۰۰) علماؤ خبره ومنله، او علماؤ ته یې په دې ښار کې د استوګنې اجازت ورکړی او د هر یوه د پاره یې علیٰحده علیٰحده مکان تیار کړی، د ټولو نکاحې یې دلې وکړې، او هر یوه ته یې دلې ډېر لوی مال ورکړی.

او یو مکان یې خاص د پیغمبر ﷺ د پاره تیار کړی، چې کله "نبي آخر الزمان" هجرت وکړي او دلته راسي، نو په دې مکان کې به قیام کوي، او د ده پر نامه یې یو خط ولیکی، چې په هغه کې د خپل اسلام او د "رسول الله" د دید شوق ښکاره کړی، د خط مضمون دا وو:

شَهِدْتُ عَلَى أَحْمَدَ أَنَّهُ ★ نَبِيٌّ مِنَ اللهِ بَارِي النَّسَمْ

(۱) دلائل النبوة للبیهقي محققا، باب من استقبل رسول الله ﷺ، صفحه نمبر ۵۰۱.

زه ګواهي ورکوم چې محمد ﷺ د الله رسول دی.

فَلَوْ مُدَّ عُمْرِي اِلَى عُمْرِهِ ★ لَكُنْتُ وَزِيرًا لَهُ وَابْنُ عَمْ

که چیرې زما عمر د ده تر عمره ورسیږي، زه به ضرور د ده معاون او مدد ګاریم.

وَجَاهَدْتُ بِالسَّيْفِ أَعْدَاءَهُ ★ وَفَرَّجْتُ عَنْ صَدْرِهِ كُلَّ هَمْ

او د ده د دښمنانو سره به جهاد کوم، او د ده د زړه څخه به هر غم لیرې کوم.

او "تُبَّعْ" پر دې خط باندې یو مهر هم ولګوی، او یو عالم ته یې وسپاری او ورته ویې ویل: کچیرې "نبي آخر الزمان" ستا په زمانه کې راغلی نو دا زما عارضه ورته پیش کړه، ورنه خپل اولاد ته دا خط وسپاره او داغه رنګه وصیت ورته وکړه، چې کم وصیت زه اوس تا ته کوم.

حضرت ابو ایوب انصاري رضي الله عنه د هغه عالم د اولاده څخه وو، او مکان هم هغه مکان وو، چې "تُبَّعْ" بادشاه د "یمن" صرف د دې غرض لپاره جوړ کړی وو، چې کله "نبي آخر الزمان" هجرت وکړي او راسي، نو پدې مکان کې به استوګنه کوي، او دا باقي انصار هم د هغه علماؤ د اولاد څخه وه، چنانچه د الله تعالی په حکم سره اوښه د هغه مکان په دروازه کې کښېنستله چې "تُبَّعْ" بادشاه د مخکې څخه لا د ده په نیت باندې جوړ کړی وو.

شیخ زین الدین مراغي رحمة الله علیه لیکلي دي: کچیرې سړی دا ووایي چې رسول الله ﷺ په مدینه منوره کې د حضرت ابو ایوب انصاري رضي الله عنه پر مکان نه بلکه خپل مکان ته راغلی دی، نو بېځایه به نوي، ځکه دا مکان خو په اصل کې د پیغمبر ﷺ لپاره تیار سوی وو.

حضرت ابو ایوب انصاري رضي الله عنه صرف د پیغمبر ﷺ د راتګه پوري د انتظار شپې په دې مکان کې تېرېولې.

روايات داسي هم ليکي چي د پيغمبرﷺ د راتګه څخه وروسته حضرت ابو ايوب انصاريؓ هغه عريضه چي په هغه کي هغه اشعار ليکلي وه، د "تُبّعْ" بادشاه د طرفه د پيغمبرﷺ په خدمت کي پيش کړل.([1])

## د مسجد نبويﷺ بنياد:

په دې زمانه کي پيغمبرﷺ د "مسجد نبوي" بنياد کښېښوی، دا مځکه د "سهل" او "سهيل" دوو (۲) يتيمانو وه، هغو به دلته خورماوي وچولې، پيغمبرﷺ چي کله پر دې مځکه د "مسجد نبوي" د جوړېدلو اراده وکړه، نو هغوی ورته وويل: چي موږ دا مځکه د "مسجد نبوي" لپاره بلا عوضه درکوو، لېکن پيغمبرﷺ بلا عوضه قبوله نکړه.

د دې "مسجد نبوي" اولنی قيمت حضرت ابوبکرؓ ادا کړي، د هغه څخه وروسته چي پر دې مځکه د خورماوو کمي درختي وې، هغه يې پرې کړې، او د مشرکانو قبرونه يې هوار کړل، يو څه کچه خښتي جوړي سوې، او پيغمبرﷺ پخپله هم په دې کي کار کوی، انصار او مهاجرين ور سره وه، او پيغمبرﷺ چي به کله خښتي را اخيستي وې نو به يې دا اشعار ويل:

هَذَا الْحِمَالُ لَا حِمَالَ خَيْبَرْ ★ هَذَا أَبَرُّ رَبَّنَا وَأَطْهَرْ

دا د خيبر د خورماوو بوج ندی، ای زما پروردګاره! دا ډېر بهترين او عمده بوج دئ.

او کله به يې دا ويل:

اَللّٰهُمَّ لَا خَيْرَ إِلَّا خَيْرُ الْآخِرَةْ ★ فَارْحَمِ الْأَنصَارَ وَالْمُهَاجِرَةْ

ای الله! په حقيقت کي خو اجر د آخرت اجر دی، پر انصارو او مهاجرو باندي چي د آخرت غوښتونکي دي رحم وکړه.

او صحابه کرامو ؓ به دا ويل:

---

([1]) الروض الأنف جلد ۱ صفحه ۲۴

لَئِنْ قَعَدْنَا وَالنَّبِيُّ يَعْمَلُ ★ لَذَاكَ مِنَّا الْعَمَلُ الْمُضَلَّلُ

کچیرې موږ کښېنو او نبي کار کوي، نو زموږ دا ناسته به ګمراه عمل وي.

حضرت علي رضي الله عنه به دا شعر ویلی؛

لَا يَسْتَوِي مَنْ يَعْمُرُ الْمَسَاجِدَا ★ يَدْأَبُ فِيهِ قَائِمًا وَقَاعِدًا

چي کم سړی د مسجد نبوي په تعمیر کي په ولاړه او ناسته سرګردان وي.

وَمَنْ يُرٰى عَنِ التُّرَابِ حَائِدًا

او هغه سړی چي د کپړو څخه خاوري پاکوي، او ځان د غبار او ګرد څخه بچاووي برابر نه دي.

یو انصاري صحابي عثمان ابن مظعون رضي الله عنه فطري طور "نظيف الطبع" وو او په مزاج کي یې صفایي وه چي کله به یې خښتي را وړلې، نو د خپلو کپړو څخه به یې لیري نیولې وې، او کپړې به یې د ګرد، غبار او خاورو څخه ساتلې.

حضرت علي رضي الله عنه به یطور مذاق عثمان رضي الله عنه ته دا اشعار ویل؛

.........وَمَنْ يُرٰى عَنِ التُّرَابِ حَائِدًا﴾ چي کم سړی د خاورو څخه ځان ګوري. (۱)

## د ازواج مطهراتو د حجرو تفصیل:

په "مدینه منوره" کي چونکه قبله د جنوب په طرف کي راځي نو پیغمبر ﷺ په مشرقي حصه کي دوې (۲) حجرې جوړي کړې، چي یوه د حضرت سودې رضي الله عنها وه، او دوهمه د حضرت عائشې رضي الله عنها وه، چي په هغه کي اوس د پیغمبر ﷺ قبر موجود دی.

د پښو و طرفته چي کم ځای خالي دی، نو هلته هم بعضي خلک د سلام لپاره دریږي دا د حضرت سودې رضي الله عنها حجره وه، او د دې تر شاه د حضرت ام سلمې رضي الله عنها کور وو.

(۱) الروض الانف، باب حدیث هجرته النبي ﷺ، صفحه نمبر ۱۶۱

د "باب النساء" سره د نورو ازواجو مطهراتو حجرې وې، د سنه اتیا (۸۰) هجري وروسته د "ولید بن عبدالملک" په زمانه کي د مسجد نبوي د توسیع ضرورت پیدا سو، نو دا حجرې مبارکې ونړول سوې، او په مسجد گډي سوې.

حضرت سعید ابن مسیب رحمة الله علیه فرمایي: چي په دې ورځ اهل مدینې والا دومره وژړل چي د دې ځخه مخکي هیڅکله دوی دومره ژړلي نه وه، دوی به ویل چي کاشکي دا حجرې ولاړي پاته وای، تر قیامته پوري چي څومره حاجیان د حج کولو وروسته د پیغمبر ﷺ روضې ته راځي نو هغوی به دا مکانات لیدلي وای، چي د کائناتو امام او د هغه د کورنۍ مکانات څنگه وه؟ د هغې پخاطر به په هغه زیارت کونکو انسانانو کي د زُهد زندگي پیدا سوې وای.

او چي پر کم ځای حاجیان مبارکان د سلام ویلو لپاره دریږي دا د حضرت حفصې رضي الله عنها کور وو، چي اول پر پیغمبر ﷺ سلام وایي، او بیا څو قدمه مخته پر ابوبکر رضي الله عنه او د هغه ځخه څو قدمه مخته پر عمر رضي الله عنه باندي سلام وایي.

## د ټولو ځخه بهترین ځای:

د ابن قیم رحمة الله علیه او ابن عقیل رحمة الله علیه ځخه پوښتنه وسوه، چي دا ځای چي په هغه کي د پیغمبر ﷺ قبر موجود دئ افضله دی او که بیت الله؟ حج خو په "بیت الله" کي ادا کیږي، لیکن افضلیت د کم مکان زیات دی؟

هغه په جواب کي ورته وایي: که ستاسو مراد د دې ځخه دیوالونه وي، نو بیا خو د بیت الله دیوالونه افضله دي، او کچیري ستاسو مراد خاوره وي، بیا خو د پیغمبر ﷺ د روضې خاوره ده، چي په هغه کي پیغمبر ﷺ مدفون دی.

ځکه کمه خاوره چي د انسان تدفین پکښي راځي، هغه خاوره په هغه نطفه باندي گډه وي چي د کمي نطفې ځخه د انسان پیدائش کیږي، بیا خو دا ځای د "بیت الله" د اوو آسمانو، د اوو ځمکو او د الله تعالی د عرشه ځخه هم افضل دی.

## د يو اعرابي د مغفرت واقعه:

"حافظ ابن کثير" په خپل تفسير کي ليکلي دي: چي "محمد بن حرب هلالي" وايي چي زه مديني منورې ته راغلم، او د قبر و زيارت ته کښېناستم، نو يو "اعرابي" راغلی، دا عرض کوي، چي ای د الله رسوله! الله تعالى خو فرمايي:

.........وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ جَاءُوكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللَّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُوا اللَّهَ تَوَّابًا رَحِيمًا﴾.(¹)

کچيري دا خلک پر خپلو ځانو باندي ظلم وکړي او تاته راسي د الله تعالى څخه د خپلو گناهونو بخښنه وغواړي، او رسول الله هم د دوی لپاره معافي وغواړي نو الله تعالى به د دوی توبه قبوله کړي.

ای الله! زه ستا د رسول دربار ته حاضر سوی يم، او ستا څخه د خپلو گناهونو مغفرت غواړم، او ستا د رسول شفاعت و تاته پېشوم، نو هغه "اعرابي" په ژړا کي يو څه اشعار وايي چي ترا وسه پوري د "روضې" پر جالی باندي ليکلي دي:

يَا خَيْرَ مَنْ دُفِنَتْ بِالْقَاعِ أَعْظَمُهُ ★ فَطَابَ مِنْ طِيبِهِنَّ الْقَاعُ وَالْأَكَمُ

ای بهترين ذاته! تر هغه ټولو انسانانو چي د هغو هډوکي په مځکه کي ښخ سوي دي، او د هغوی په وجه په مځکه کي خوشبويي سره غوړېدلې ده.

نَفْسِيَ الْفِدَاءُ لِقَبْرٍ أَنْتَ سَاكِنُهُ ★ فِيهِ الْعِفَافُ وَفِيهِ الْجُودُ وَالْكَرَمُ

زما نفس دي تر هغه قبر قربان وي چي په کم قبر کي ته مقيم يې چي په هغه کي عفت، جود او کرم دی، د هغه څخه وروسته يې د استغفار طلب وکړي او ولاړی.

هلالي رحمة الله عليه فرمايي: چي پر ما باندي د خوب غلبه راغلې وه، د پيغمبر ﷺ زيارت مي په خوب کي وکړی، پيغمبر ﷺ راته ويل: چي ورسه هغه "اعرابي" ته ووايه چي ستا لپاره ما د الله په دربار کي شفاعت وکړی، او الله تعالى قبول کړی. (¹)

---

(¹) النساء آيت نمبر، ۶۴

## د مدينې منورې د حفاظت عجيبه واقعه:

سلطان نور الدين زنګي رحمة الله عليه يو عابد او او خداترسه انسان وو، د يو عظيم سلط
د بادشاه کېدلو باوجود دا فقير انسان چې ټوله شپه به يې د عبادت په شکل تېرېدل
او ورځ به يې د جهاد په ميدان کې د يو شهسوار په شکل روانه وه، چې ده د خپل
توري په زور د اسلام د تاريخ يو روښانه باب ليکلی دی.

د سلطان نور الدين زنګي رحمة الله عليه به د شپې اکثره حصه په عبادت کې تېرېدله، د
معمول دا وو، چې د ماخستن د لمانځه څخه وروسته به يې نوافل کول، او بيا به يې
پېغمبر ﷺ په ډېر کثرت سره درود وايي، او لږ زمانه به يې آرام کوی، او د آرام کو
څخه وروسته به بيا د تهجد د لمانځه لپاره را پورته کېدی، او بيا به يې شپه ټوله
عبادت کې سهار کوله.

## په خوب کې د پېغمبر ﷺ زيارت:

په پنځه سوه او اوه پنځوس (۵۵۷) هجري او يوولس سوه دوه شپېته (۱۱٦۲) عسو
کې يوه شپه چې کله د خپلو وظائفو څخه فارغه سو، نو پر بستره پرېوتی، درې (
ځله پېغمبر ﷺ په خوب کې ورته راغلی.

په بعضې رواياتو کې راځي چې "سلطان" متواتر درې (۳) شپې پېغمبر ﷺ په خو
کې وليدی، هر ځل د يو دوو انسانانو طرفته اشاره کوي، ورته وايي: چې ای ن
الدين! دغه انسانان ماته تکليف راکوي، د دوی د شره څخه ما محفوظه کړه.

"نور الدين" چې کله دا خوب وليدی، ډېر سخت په اضطراب او پرېشاني کې دی، ب
بار استغفار وايي: او په ژړا کې دا وايي: ای زما اغا ای زما مولی! زما جان او م
دې ټول پر تا قربان وي، الله تعالی دې "نور الدين" ته نور ژوند نه ور کوي، چ
پېغمبر ﷺ به دی په مدينه کې يادوي، او دی به په "دمشق" کې په آرامه ناست وي.

(۱) امتاع الاسماع: ذکر ماجاء في زيارة قبر رسول الله ﷺ، صفحه نمبر ٦۱۵

## د سلطان نور الدین بې آرامي:

"سلطان نور الدین" د خوب په لیدلو سره بېچین او بې آرامه سو، د ده دا یقین سو، چي په مدینه منوره کي ضروري یو ناولده واقعه ده، چي د هغې څخه د سرور کونین روح اقدس ته تکلیف رسیږي، د خوب څخه را بیدار سو، شل (۲۰) معتبره کسان یې د خپل ځانه سره روان کړل او ډېره لویه خزانه یې پر آسانو باندي را واخیسته او مدینې منورې ته را روان سوه.

سلطان چي کله یو دم د مدینې د تللو قصد وکړی، نو د "دمشق" خلک د ده د دې قصد په وجه ډېر په حیرانتیا کي دي، خو چا ته معلومه نه ده چي اصل خبره څه ده؟

## د اهل مدینې دعوت:

د "دمشق" څخه مدینې منورې ته را رسېدل عام طور په شل (۲۰) یا پنځویشت (۲۵) ورځي کي کیږي، لېکن "سلطان" دا فاصله په انتهائي تېز رفتاري سره پرې کړه، او شپاړسمه ورځ مدینې منورې ته را ورسېدی، چي کله راغلی نو د مدینې خلک د ده پر دې یو دم راتګ باندي ډېر حیران دي.

"سلطان" چي کله راغلی د مدینې منورې ټولي لاري یې بندي کړې، بیا یې اعلان وکړی، چي نن به ټول د مدینې خلک زموږ سره ډوډۍ خوري او زموږ به مېلمانه وي.

د مدینې ټولو خلکو په نهایت خوشحالي سره، د "سلطان" دعوت قبول کړی، په دې شکل د مدینې ټول خلک، د "سلطان" تر نظر ووتل.

لېکن په هغو کي هغه خلک نه وه، چي د هغو شکلونه "سلطان" په خوب کي لیدلي وه، "سلطان" د مدینې منورې د مشرانو څخه پوښتنه وکړه، چي ایا داسي څوک خو پاته نه دی، چي په دې دعوت کي شریک نه وي؟

هغو په جواب کي ورته وویل چي څوک خو پاته نه دي البته دوه (۲) کسان نهایت عبادت ګوزاره او مغربي زائرین چي د ډېر مودې څخه دلته مقیم دي، هغه نه دي راغلي، هغه دواړه بزرګان په عبادت کي مشغوله دي، یو څه وخت چي د عبادت څخه

فارغه سي، نو په "جنة البقيع" قبرستان کي خلکو ته اوبه ورکوي، د دې ځخه علاوه
د چا سره ملاقات نکوي.

## د سلطان وينه جوشېدل:

"سلطان" حکم وکړی چي هغه دوه کسان ضرور راولئ چي کله يې هغه دوه (۲) کسان
د "سلطان" حضور ته را وستل نو په يو نظر يې دستي وپېژندل، چي دا خو هغه دوه
(۲) کسان دي، چي ماته په خوب کي پيغمبر ﷺ را ښوولي وه، نو د "سلطان" وينه
ډېره وجوشېدله، لېکن د حال تحقيق کول ضروري وه.

د دوی لباس ډېر زاهدانه او شکل و صورت يې د مؤمنانو وو، "سلطان" د دوی ځخه
پوښتنه وکړه، چي تاسو دواړه چيري اوسېږی، دوی ورته وويل چي د روضه
اقدس ﷺ سره نژدې، يو مکان مو په کرايه اخيستی دی، په هغه کي اوسيږو، او هر
وخت په عبادت کي مشغوله يو.

## خوفناکه انکشاف:

"سلطان" هغه دواړه کسان د خپلو عسکرو په نګراني کي کښېنول، او پخپله د مدينه
منورې د مشرانو سره هغه مکان ته ورغلی، چي کوچنی مکان وو، او په هغه کي
نهايت مختصر سامان چي د دې کسانو زهد او پرهېزګاري ځني ښکاره کېدله.

د ښار ټوله خلک د هغه د ډېر عبادت صفتونه کوي، او په ظاهره داسي يو شی قابل
اعتراض نه معلومېږي، لېکن د "سلطان" زړه مطمئن ندی، آخر يې د دې مکان فرش
را ټول کړی او تر هغه لاندي يې تلاش شروع کړه.

اچانک "سلطان" تر يو چټائي لاندي يو ښوريدونکې مځکه محسوسه کړه، چي کله
يې چټائي پورته کړه، نو يو "نَغَم" کښته په مځکه کي تللی دی، چي کله "سلطان" د
شوه سو، نو هغه "نَغَم" د رسول الله ﷺ د روضې و طرفته تللی دی.

د "سلطان" ټوله معامله آنا فآنا په دماغ کي راغله او بې اختياره د ده د خولې ځخه د
آواز وختی، چي:

.........صَدَقَ اللهُ وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْمُ﴾.

## د مدینې والاوو حیرت:

د مدینې خلګو چې د هغه انسان شکله لېوانو دا حرکت ولیدی نو ډېر حیران سوه، "سلطان" د قهر او جلال په شکل هغه دوه (۲) کسان په ځنځیرانو کې تړلي، خپل مخته را طلب کړه، چې کله دوی د "سلطان" مخته پېش سوه، نو هغه په ډېر غضبناکه لهجه کې ورته وایي: رشتیا رشتیا راته ووایاست تاسو څوک یاست؟ او د دې ناپاکه حرکته څخه ستاسو مقصود څه وو؟

هغه دواړو ملعونانو په ډېر بې شرمي سره خپل حال ښکاره کړی ورته وایي ای بادشاه! موږ نصرانیان یو، او د خپل قوم د طرفه څخه ستاسو د پیغمبرﷺ د جسد پر غلا کولو باندي مامور وو، زموږ په نزد تر دې لوی د ثواب کار نه وو.

لېکن افسوس چې عین په هغه وخت کې چې زموږ کار ډېر لږ پاته وو، تا موږ ګرفتاره کړو، په یو روایت کې لا دا هم سته چې دا نغم د حضرت عمرؓ تر بدنه پوري رسېدلی وو، تر دې حده چې د هغه یوه "پښه" لڅه سوې وه.

## د دې ملعونانو انجام:

د "سلطان" د صبر پیمانه ډکه سوه، هغه په توره سره د دې دواړو سرونه پخپل لاس سره په هواء کړل، او د هغو بدنونه یې په اور کې وسوځل او پر "سلطان" باندي ډېره د ژړا غلبه راغله، او هغه د مدینې په کوڅو کې د ژړا په شکل ګرځي، او وایي چې: "زهی عزشرف" چې عجیب مبارک نصیب دی چې د دې خدمت لپاره پیغمبرﷺ د دې غلام انتخاب وکړی، چې کله لږ قرار سو، نو "سلطان" حکم وکړی، چې د روضه نبويﷺ شاوخوا به یو ژور خندق کِندل کیږي، او هغه به د ویلي سوو "سرفو" څخه ډکیږي.

**د روضه رسول ﷺ د حفاظت انتظام:**

د "سلطان" د حکم پخاطر د پیغمبر ﷺ د قبر څخه څلور (۴) طرفه مځکه دومره ډېره وکندل سوه، چي په هغه کي اوبه را ووتې، د هغه څخه وروسته يې بيا د اوسپني ډکه کړه، چي د زماني د هر قسم فتنو څخه محفوظه وي.

دا د اوسپني دېوال د حضور اقدس ﷺ پر قبر باندي شا وخوا تر ننه پوري موجود دی، او انشاءالله تر ابده پوري به قائم وي.

نن هم د مديني خلک د سلطان نور الدين زنګي رحمة الله عليه نوم په ډېر محبت او احترام سره اخلي، چي د هغه شمار په هغه نفوس قدسيو کي دوی کوي، چي پر هغه باندي سيد البشر ﷺ په خپله اعتماد ښکاره کړيدی، او د ده د محب رسول کېدلو تصديق کوي.(١)

الله تعالی دي همېشه د پیغمبر ﷺ د هجرت ګاه مديني منورې حفاظت وکړي، او الله تعالی دي، د پيغمبر ﷺ مدينه د دنيا د هر قسم فساداتو او فتنو څخه محفوظه وساتي.

او الله تعالی دي دا څو خبري پخپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

آمين يا رب العالمين

وَصَلَّى اللهُ تَعَالى عَلى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

(١) بحواله "نور الدين محمود زنګي" مصنف طالب هاشمي صفحه: ١٨٦-١٩٠

بسم اللہ الرحمن الرحیم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآیۃ)

# د پیغمبر ﷺ حسن او جمال

(بیان)


مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن



مکتبہ سلطانیہ الہاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتــي حــافــظ كــليم الله صاحب |
| مــقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعــت | اول |
| تــاريـــــخ | جمادي الاولى ۱۴۴۲ بمطابق ۲۴ جنوري ۲۰۲۱ |
| تــعــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إنّ الحَمْدَ لِلّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنّ مُحَمّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّهِ مِنَ الشّيْطَانِ الرّجِيمِ

بِسْمِ اللّهِ الرّحْمَنِ الرّحِيمِ

وَقَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿وَقَالُوا حَسْبُنَا اللّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ﴿إِنّمَا بُعِثْتُ رَحْمَةً﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللّهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلى ذٰلِكَ مِنَ الشّاهِدِيْنَ وَالشّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## معجزه د وقت د تقاضا سره برابره:

الله تعالى انسان ته په دنيا كي مختصره زندگي وركړېده، او په دې مختصره زندگي كي الله تعالى انسان د شريعت په احكامو مكلف كرځولى دى، او د شريعت د تعليم وركولو لپاره يې انبياء كرام دې دنيا ته را استولي دي.

او بيا الله تعالى د هر نبي د مدد او نصرت لپاره و هغه نبي ته د خپلي معاشرې مطابق معجزې وركړېدي.

د حضرت موسىٰ عليه السلام په زمانه كي د جادوګرۍ "فن" په ډېر عروج كي وو، چنانچه الله تعالى وده ته دا معجزه ور كړه، چي د ده عصا (لكړه) اژدها (يعني لوى مار) جوړېدله.

---

(١) آل عمران آيت نمبر، ١٧٣

(٢) شرف المصطفى حديث، ١٦٣١

نو چي کله د جادوګرانو د ده سره مقابله راغله، نو الله تعالی حضرت موسی عليه السلام د دې معجزې په ذريعه کاميابۍ ته ورسوی.

حضرت عيسی عليه السلام چي کمي معاشرې ته راغلی نو په هغه معاشره کي د حکمت او طبابت فن ډېر په عروج کي وو، چنانچه الله تعالی د طبابت په شکل کي ده ته معجزې ور کړې، لکه قرآن کريم د هغه تذکره پدې شکل کوي:

............﴿وَأُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ وَأُحْيِ الْمَوْتَىٰ بِإِذْنِ اللَّهِ﴾.(١)

چي ده به مورزاده ړوند او برص (فيس) مرض والا ته د الله په حکم او اراده سره صحت ور کوي او مړو ته به يې د الله تعالی په حکم سره ژوند ور کوی؛ ځکه چي دی به کله مړي ته ودرېدی نو دا به يې ويل:

............﴿قُمْ بِإِذْنِ اللَّهِ﴾. د لږ وخت د پاره به هغه مړي ژوند پيدا کوی.

داغه رنګه پيغمبر ﷺ ته هم الله تعالی پخپل عصر کي ډيري زياتي معجزې ور کړي وې، خو د پيغمبر ﷺ د معجزاتو عدد غالبًا تر اووه زره (۷۰۰۰) هم زيات وو.

## روحاني معجزه:

د پيغمبر ﷺ معجزې دوه (۲) قسمه وې، بعضي روحاني، او بعضي جسماني.

او اکثريت معجزې د پيغمبر ﷺ جسماني وې، روحاني معجزې د پيغمبر ﷺ دوه (۲) شيان وه، د ټولو څخه مخکنی روحاني معجزه هغه د پيغمبر ﷺ نوراني مبارکه او ښائسته مخ او جبين وو.

چي کم چا ته به الله تعالی ژوندی روح ور کړی وو، هغه چي به هر څومره سخت دل کافر وو، چي کله به د پيغمبر ﷺ حضور ته راغلی، او صرف به يې د پيغمبر ﷺ جبين مبارک وليدئ، نو دستي به بلا اختياره د هغه پر خوله باندي د پيغمبر ﷺ په باره کي د صداقت کلمات جاري سوه.

---

(١) آل عمران آيت نمبر: ۴۹

حضرت عبدالله ابن سلام رضي الله عنه د یهودو د قوم لوی عالم وو، الله تعالی ده ته ډېر فراست او پوهنه ورکړې وه، خپل قوم ته د پیغمبر ﷺ د معلومات کولو او د هغه د ازمائښت او امتحان اخیستلو لپاره، مدینې منورې ته را واستوی.

دی چي کله مدینې منورې ته راغلی او د پیغمبر ﷺ خدمت ته حاضر سو، چي کله یې اول نظر د پیغمبر ﷺ پر مخ مبارک ولګېدی، نو دستي یې بلا اختیاره د خولې څخه دا جمله ووتله:

............﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ هَذَا الْوَجْهَ لَيْسَ بِوَجْهِ كَذَّابٍ﴾.(۱)

ای خلګو! دا مخ او دا ښائسته جبین هیڅکله د دروغجن نسي کېدلای.

دا ضرور د الله رسول ﷺ دئ، نو حضرت عبدالله ابن سلام رضي الله عنه صرف د پیغمبر ﷺ په شکل لیدلو باندي اسلام قبول کړی.

څکه پیغمبر ﷺ ته الله تعالی داسي جمال او ښائست ورکړی وو، چي هغه جمال او ښائست بیا د بل چا په قسمت او نصیب کي نه وو راغلی.

## د ښائست حقیقت:

د حسن او ښائست په باره کي "ابو علي ابن سینا" لیکلي دي: چي حسن او ښائست دې ته نه وایي چي د انسان رنګ سپین، سور، یا زېړ او غنم رنګه وي، بلکه حسن د ظاهري اعضاو د تناسب نوم دی، چي د انسان د بدن ټول اندامونه پخپل مابین کي په تناسب کي وي، نو هغه په معاشره کي ښائسته او حسین بلل کېږي.

په شمائلو کي چي د پیغمبر ﷺ کم شکل او حلیه مبارکه ذکر سوېده، د دې څخه دا معلومېږي چي د آدم علیه السلام څخه ونیسي بیا تر اوسه پوري چي څومره انسانان دې دنیا ته راغلي دي، چي په هغو کي پیغمبر ﷺ څومره زیات متناسب الاعضاء دی، نه د ده څخه مخکي او نه د ده څخه وروسته تر قیامته پوري داسي متناسب الاعضاء بل شخص راغلی دی، او نه راتلای سي.

(۱) ابن ماجه حدیث، ۱۳۳۴

نو په ټوله انسانیت کې زیات خوبصورت او ښائسته پیغمبرﷺ دی.

لکه حضرت حسان ابن ثابتؓ د پیغمبرﷺ د حسن نقشه په دې شکل باندې بیانوي:

وَأَحْسَنُ مِنْكَ لَمْ تَرَ قَطُّ عَيْنِيْ ★ وَأَجْمَلُ مِنْكَ لَمْ تَلِدِ النِّسَاءُ

ستا څخه زیات ښائسته زما سترګو هیڅکله نه دی لیدلی، او ستا څخه زیات ښائست هیڅ کلی مور دنیا ته ندی را وړی.

خُلِقْتَ مُبَرَّءًا مِنْ كُلِّ عَيْبٍ ★ كَأَنَّكَ قَدْ خُلِقْتَ كَمَا تَشَاءُ.(۱)

ای پیغمبره! ته داسې د عیبونو څخه پاک پیدا سوی یې، لکه: ستا د مرضی مطابق چې الله تعالی تا ته وجود در کړیدی.

علامه قرطبي رحمة الله علیه لیکلي دي:

.........لَمْ يُظْهِرْ لَنَا تَمَامَ حُسْنِهِﷺ﴾. د نبي اکرمﷺ پوره پوره جمال او حسن الله تعالی په دنیا کې موږ ته نه دی ښکاره کړی.

.........لِأَنَّهُ لَوْ ظَهَرَ لَنَا تَمَامَ حُسْنِهِﷺ لَمَا طَاقَتْ أَعْيُنَنَا رُؤْيَتَهُﷺ﴾.(۲)

ورنه بیا به زموږ سترګو د ده د لیدلو طاقت او تاب نه وای را وړئ.

لکه حضرت عبدالله ابن عباسؓ یو ځل حضرت جبرائیل علیه السلام پخپل اصلي شکل کې ولیدی، بیا د ده سترګو د هغه تاب نه سو را وړلای نو یو څه زمانه په سترګو نابینا سو.

نو څکه که چیرې د پیغمبرﷺ پوره حسن او ښائست ښکاره سوی وای، نو د صحابه کرامو رضي الله عنهم و ده ته کتل او د ده څخه استفاده کول به مشکل ګرځېدلي وای.

(۱) بهجة المحافل وبغية الاماثل: باب الثاني في خلقة و خلقة، صفحه نمبر ۱۸۶

(۲) شرف المصطفی، فصل ذکر الآیة في وجهه الشریف وعقله، صفحه، ۱۰۴

او حضرت مفتي الهی بخش کاندهلوي رحمة الله عليه په "شيم الحبيب" کي ليکلي دي: چي د دې دومره حسن او جمال سره سره پر پیغمبر ﷺ باندي په هغه اندازه د انسانانو نه عاشق کېدل، لکه: پر حضرت یوسف عليه السلام چي عاشقان سوي وه، وجه صرف دا وو چي د الله تعالی غیرت دا وو، چي د پیغمبر ﷺ جمال يې "كَمَا حَقُّهُ" پر بل چا باندي نه ښکاره کوی، لکه څومره چي د ده و ذات عالي ته ښکاره وو. (۱)

ورنه حضرت عائشه مبارکه د پیغمبر ﷺ په شان کي وايي:

لَنَا شَمْسٌ وَلِلْآفَاقِ شَمْسٌ ★ وَشَمْسِيْ خَيْرٌ مِنْ شَمْسِ السَّمَاءِ

يو زما لمر دئ يو د کائناتو لمر دی، او زما لمر د کائناتو د لمر څخه بهتر دی.

فَشَمْسُ النَّاسِ تَطْلُعُ بَعْدَ فَجْرٍ ★وَشَمْسِيْ تَطْلُعُ بَعْدَ الْعِشَاءِ

د کائناتو لمر د سهاره څخه بعد راخيږي، لېکن زما لمر تاسو د ماخستن څخه وروسته وګورئ! ځکه حضرت عائشه مبارکه فرمايي:

چي يو ځل په کور کي د تاريکۍ په وخت کي زما ستن ورکه وه:

..........فَدَخَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَبَيَّنَتِ الْإِبْرَةُ لِشُعَاعِ نُوْرِ وَجْهِهِ فَضَحِكْتُ﴾.

پیغمبر ﷺ کورته راغلی نو ما هغه ستن د ده د مخ په شعاوو او شغلو کي پيدا کړله، ما وخندل.

..........فَقَالَ يَا حُمَيْرَاءُ بِمَ ضَحِكْتِ قُلْتُ كَانَ كَيْتُ وَكَيْتُ﴾.

ده راته وويل چي ای حميرا! ولي دي وخندل؟ ماد خپلي ستني د پيدا کېدو قصه ورته وکړه، ده په ډېر لوړ آواز باندي دري (۳) ځله وويل:

..........ياعائشة الْوَيْلُ ثُمَّ الْوَيْلُ ثَلَاثًا لِمَنْ حُرِمَ النَّظَرَ إِلَى هٰذَا الْوَجْهِ﴾.

---

(۱) عشق رسول ﷺ، صفحه نمبر ۴۸

چي افسوس دی د هغه چا لپاره چي و دې مخته د نظر کولو څخه محروم او بې نصيبه سي.(۱)

او حضرت عائشه رضي الله عنها د پیغمبر ﷺ په شان مبارک کي وايي:

لَوَاحِيُّ زُلَيْخَا لَوْ رَأَيْنَ جَبِيْنَهُ ★ لَآثَرْنَ بِقَطْعِ الْقُلُوْبِ عَلَى الْيَدِ

د زلیخا ملامت کونکو همزولو که چيري د "یوسف علیه السلام" پر ځای د پیغمبر ﷺ مبارک جبین ليدلی وای، نو د لاسو پر ځای به يې خپل زړونه پرې کړي وای.

او داغه رنګه حضرت "عائشه" مبارکه فرمايي: چي د پيغمبر ﷺ سترګي دومره حياء داره وې، چي ما د عربو د نوعمره واده سوو زنانو په سترګو کي هم هغه حياء نه وه ليدلې. (۲)

په يو روايت کي راځي پيغمبر ﷺ وايي:

.........أَنَا أَمْلَحُ وَ أَخِيْ يُوْسَفُ أَبْيَضُ﴾.

چي زما ورور يوسف صبيح وو (يعني سپين)، او زه مليح يم (يعني جاذب نظر او دلکش). د سپوږمۍ په مقابله کي لمر ډېر سپين او ځلېدونکی دی، لېکن چي کم ملاحت په سپوږمۍ کي سته هغه په لمر کي نسته. (۳)

ملاحت معنی پُرکشش، خوبصورتي او نمکيني ملاحت هغه رنګ ته وايي چي د انسانانو طبيعتونه ډېر زيات و هغه ته رغبت او شوق کوي، او د انسانانو لپاره ډېر جاذب او پُرکشش وي.

مفسرين د دې آيات په تفسير کي:

.........وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّي﴾.

---

(۱) دلائل النبوة حديث، ۱۱۷

(۲) خطبات فقير؛ جلد نمبر ۵، صفحه نمبر ۱۶۴

(۳) عشق رسول ﷺ، صفحه نمبر ۴۸

لاندي ليکلي دي: چي الله تعالی د حضرت موسی علیه السلام په سترګو کي ملاحت پيدا کړی وو، چي کم چا به ليدی هغه به پر عاشق کېدی.

لېکن د غور خبره دا ده چي د حضرت موسی علیه السلام د سترګو ملاحت د فرعون غوندي دښمن زړه نرم کړی، نو پېغمبر صلی الله علیه وسلم خو مکمل مليح وو، نو د هغه شخصيت به په کم قسم جاذب وو.

## د سپوږمۍ څخه زيات ښائست:

حضرت جابر ابن سمره رضی الله عنه هغه جليل القدر صحابي دی، چي تر دوه زره (۲۰۰۰) واره يې زيات د پيغمبر صلی الله علیه وسلم په امامت کي لمونځ کړيدی، او تر سلو (۱۰۰) مجلسو زيات د پيغمبر صلی الله علیه وسلم په مجالسو کي شريک سويدی.

دی وايي چي زه د شپې په وخت کي مسجد نبوي ته راغلم پيغمبر صلی الله علیه وسلم مخته دی:

............وَعَلَيْهِ حُلَّةٌ حَمْرَاءُ﴾.

او پر ده باندي سور څادر هوار دی، او د ده پر مخ باندي د څوارلسم سپوږمۍ ځليږي، نو حضرت جابر ابن سمره رضی الله عنه يو ځل د پيغمبر صلی الله علیه وسلم مخ مبارک ته ګوري، او بيا سپوږمۍ ته ګوري، بالآخريې په زړه کي دا فيصله وکړه، او ويې ويل:

............فَلَهُوَ أَحْسَنُ عِنْدِي مِنَ الْقَمَرِ﴾.

زما سردار محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د آسمان د سپوږمۍ څخه هم ډېر ښائسته وو.

وروسته بيا يو سړی د حضرت جابر ابن سمره رضی الله عنه څخه پوښتنه کوي، چي ايا د پيغمبر صلی الله علیه وسلم مخ مبارک د توري غوندي مستطيل وو، دی فورًا په جواب کي ورته وايي:

............لَا، بَلْ مِثْلَ الشَّمْسِ وَالْقَمَرِ، مُسْتَدِيرًا﴾.(۱)

نه، بلکه په مثل د لمر او سپوږمۍ مدّور او ځلېدونکی وو.

---

(۱) الانوار في شمائل النبي المختار حديث، ۱۶۱

صحابه کرام مبارکانو به فرمایل؛ چي موږ کله د پیغمبر ﷺ مخ مبارک ته کورو د دی مبارکه چهره داسي را معلومیږي؛

...........كَأَنَّ وَجْهَهُ وَرَقَةُ مُصْحَفٍ﴾.(۱)

چي د ده مخ مبارک به د قرآن کریم د یو ورقي او صحیفې په مثل موږ ته معلومېدی.

## د امیر شریعت سید عطاءالله شاه بخاري رحمة الله علیه وینا:

امیر شریعت سید عطاء الله شاه بخاري رحمة الله علیه چي به کله پخپل مخصوص انداز سره د "غار ثور" او د هجرت د سفر تذکره کوله، نو ویل به یې.

چي ای ابوبکره! ماته ستا غېږ د یو خلاصي کجاوې په مثل را معلومیږي او د پیغمبر ﷺ مخ په هغه کجاوه کي د پراته قرآن کریم په شکل معلومیږي. ای ابوبکره! ته چي کله ده ته کورې، نو ماته ته د یو قاري په نظر راځې، چي هغه د قرآن کریم په تلاوت کي مشغوله وي. (۲)

د ربیع بنت مسعود صحابیه رضي الله عنها څخه خپل لمسی پوښتنه کوي، چي ته ماته د پیغمبر ﷺ حلیه مبارکه بیان کړه!

دا په جواب کي ورته وایي:

...........يَا بُنَيَّ لَوْ رَأَيْتَهُ لَرَأَيْتَ الشَّمْسَ الطَّالِعَةَ﴾.(۳)

ای بچیه! که تا هغه لیدلی وای نو د یو ځلېدونکي لمر غوندي به درته معلومېدلای.

حضرت علي رضي الله عنه یو ځل د پیغمبر ﷺ متعلق داسي ویل:

...........مَنْ رَآهُ بَدِيهَةً هَابَهُ وَمَنْ خَالَطَهُ مَعْرِفَةً أَحَبَّهُ يَقُولُ نَاعِتُهُ لَمْ أَرَ قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ مِثْلَهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ﴾.(۱)

---

(۱) بخاري شریف حدیث، ۳۶۸۰

(۲) عشق رسول ﷺ، صفحه نمبر ۵۰

(۳) دلائل النبوة حدیث، ۵۵۱

کچیري یو چا اچانک لیدلی وای نو هغه به په خوف او هیبت کي راتلای، او چي کم چا د شناخت او معرفت په شکل ملګری ور سره کړی وای، نو هغه به ضرور محبت ور سره کولای، آخر د ده په تعریف کي وایي: چي د ده غوندي نه مخکي او نه وروسته لیدل سویدی.

حضرت انس ﷺ وایي:

...........كَانَ رَسُولُ اللهِ، صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَزْهَرَ اللَّوْنِ، كَأَنَّ عَرَقَهُ اللُّؤْلُؤُ﴾.(۲)

د پیغمبر ﷺ رنګ سپین وو، او د خولې څاڅکی یې پر مخ مبارک د ملغلري په شکل معلومېدی.

حضرت انس ﷺ بل ځای فرمایي:

...........مَا مَسِسْتُ حَرِيرًا وَلاَ دِيبَاجًا أَلْيَنَ مِنْ كَفِّ النَّبِيِّ ﷺ وَلاَ شَمِمْتُ رِيحًا قَطُّ أَوْ عَرْفًا قَطُّ أَطْيَبَ مِنْ رِيحِ النَّبِيِّ ﷺ﴾.(۳)

پیغمبر ﷺ ته الله تعالی داسي نرم او خوشبویه جسم ور کړی وو، چي هیڅکله مي د پیغمبر ﷺ د لاسو څخه زیاتِ نرم وربښم نه وه مسح کړي، او نه مي هیڅکله د پیغمبر ﷺ د جسم د خولې مبارکي څخه زیاته خوشبویي محسوسه کړې وه.

"ام سلیم ﷺ" یو صحابیه زنانه ده، چي د دې نوم "رمیصا" وه چي د پیغمبر ﷺ رضاعي خاله وه، هغې به همېشه یو قاروره (یعني شیشه) بچیانو ته ور کوله چي هغو به په هغه کي د پیغمبر ﷺ خوله را جمع کوله، یا به پیغمبر ﷺ یو ځای بیده وو، د خوب په حالت کي به هم دوی په شیشه کي د پیغمبر ﷺ خوله را جمع کوله.

یو ځل پیغمبر ﷺ پوښتنه ځني کوي چي ای ام سلیم! ته دا څه په کوې؟ نو هغه په جواب کي ورته وایي:

---

(۱) الانوار في شمائل النبی المختار حدیث: ۶۶۰
(۲) دلائل النبوة باب طیب رائحة رسول الله ﷺ صفحه: ۲۵۵
(۳) بخاري شریف حدیث: ۳۵۶۱

............﴿عَرْفُکَ اَدْوَفُ بِهِ طِيبِ﴾. چې دا موږ په نوره خوشبويي ګڼوو، د دې پ
وجه د هغه خوشبويي زياتيږي، بيا چې کله په مدينه کې د يو زنانې د واده شپه وي، نو
په دا خوشبويي سره موږ هغه خوشبويه کوو.(١)

حضرت عائشه مبارکه فرمايي:

............﴿كَأَنَّ كَفَّهُ كَفُّ عَطَّارٍ طِيبًا مَسَّهَا بِطِيبٍ﴾. د پيغمبر ﷺ لاس به د هغه عط
غوندې وو، چې هغوی لاسونه په عطرو باندې لړلي وي.

............﴿يُصَافِحُهُ الْمُصَافِحُ فَيَظَلُّ يَوْمَهُ يَجِدُ رِيحَهَا﴾. چې کله به ده د يو چا سر
مصافحه وکړه، نو هغه به ټوله ورځ د ده د لاس خوشبويي پخپلو لاسو کې
محسوسوله.

............﴿وَيَضَعُهَا عَلَى رَأْسِ الصَّبِيِّ فَيُعْرَفُ مِنْ بَيْنِ الصِّبْيَانِ﴾. او چې کله به ده د ي
بچي پر سر باندې لاس د شفقت ور تېر کړی، نو د هغه خوشبويي په وجه به هغه بچی پ
ټولو بچيانو کې ممتاز وو.(٢)

"امام دارمي رحمة الله عليه" او "امام بخاري رحمة الله عليه" په خپل "تاريخ" کې ليکلي دي: چې
پر کمه لار به دی تېرېدئ، نو تېرېدونکو خلکو به دی د خوشبويۍ په خاطر پېژندی
چې په دې لاره کې پيغمبر ﷺ تېر سوی دی.

د پيغمبر ﷺ په جسم مبارک کې به دومره خوشبويي وه چې صحابه کرام به کله د ده پ
تلاش کې وتل نو هغوی به لاره بويوله، د لارې د بويه څخه به دا اندازه ور معلومېدل
چې په دې لاره کې پيغمبر ﷺ تېر سوی دی.

په "طبراني" کې يو روايت دئ چې حضرت ابو هريره رضي الله عنه يې را نقل کوي: يو "غريب
صحابي" د پيغمبر ﷺ خدمت ته راغلی: او د خپلې لور د واده دپاره يې وغوښته نو نبي

---

(١) بخاري شريف حديث: ٦٢٨١

(٢) دلائل النبوة للبيهقي مخرجا: باب حديث هند بن ابي هالة في صفة رسول الله ﷺ، صفحه نمبر ٢٩٨

اکرمﷺ دعاء ورته وکړه، او بیا یې د پیغمبرﷺ څخه د عطرو او خوشبويي متعلق غوښتنه وکړه.

پیغمبرﷺ ورته وویل چې ته چیښه را وړه چې کله هغه "صحابي" چیښه ورته پېش کړه، نو پیغمبرﷺ په هغه کې د خپل بدن خوله ور کړه، ځکه حضرت انسؓ فرمايي:

.........كَانَ رَسُوْلُ اللهِﷺ كَثِيْرُ الْعَرَقِ﴾. د پیغمبرﷺ به خوله ډېره زياته وه.

او بیا یې هغه "غریب صحابي" ته وویل چې خپلې لور ته دا ووایه چې دا د خوشبويي پر ځای استعمال کړه.

چې کله هغه زنانې هغه خوله د خوشبويي پر ځای استعمال کړه، نو د هغې د خوشبويي دا حال وو، چې په ټوله محله کې خوشبويي سره ولاړه سوه، او په ټوله ښار کې خبره دومره مشهوره سوه، چې هغه کور په "دَارُ الْمُطَيِّبِيْنِ" (د عطر والا وو کور) باندي مشهور سو.(۱)

## د حلیمې سعدیې په کور کې د پیغمبرﷺ حسن او جمال:

د حضرت "حلیمې سعدیې" یو لور چې "شیما" یې نوم وو یوه عجیبه خبره ښکاره کړه، حلیمه سعدیه ورته وايي "شیما" لوري ډېر ناوخته سو، پسونه د څرېدو لپاره صحراء ته بوزه، "شیما" په جواب کې ورته وايي موري پسونه زیات دي زه یواځې یم، زه چې کله په دوی پسې ځغلم، نو ډېره ستړې سم، نو ټول پسونه زه یواځې نسم سمبالولای، زما سره یو بل څوک هم واستوه نو زه به بیا پسونه بوزم.

"حلیمه سعدیه" ورته وايي لوري زه ستا سره څوک واستوم، په کور کې بل څوک نسته، ستا پلار بوډا دی او زه هم بوډۍ زنانه یم، نو ستا سره بل څوک نسي تلای، نو پسونه به یواځې کورې.

(۱) فتح الباري باب صفة النبیﷺ صفحه، ۵۷۳

"شیما" ورته وايي موري زما دا ماشوم ورور "محمد" زما سره واستوه، "حلیمه" ورته وايي لوري ته به پسونه سمبالوې او که به دا ماشوم ورور آرامه وې، هغه خو به تو له ورځ ستا په غېږ پوري موښتی وي.

"شیما" ورته وايي موري کچیري ته ما یوائحې واستوې نو زه پسونه نسم سمبالولای او که دا قریشي ورور را سره واستوې، نو پسونه به هم ګورم او دا ورور به هم سمبالوم.

"حلیمې" چي کله دا خبره واورېدله پوښتنه ځني کوي چي بچیه د خبري حقیقت را ښکاره کړه اصل خبره څه ده؟

"شیما" په جواب کي ورته وايي موري یو دوه (۲) ځله ما دا ورور د ځانه سره بېولی دی:

اول خو دا وي چي تو له ورځ زما پر سر باندي وریځي سایه جوړه کړې وي او ماته لمر تکلیف نه را کوي.

او دوهم ما دا لیدلي دي چي کم مسافر پر لار تیرېږي په هغوی کي یو څه راهبان وي، هغه چي کله دې بچي ته ګوري نو د بچي سره ډېر محبت کوي او زما څخه پوښتنه کوي چي دا څوک دی او د دې بچي په وجه زما سره احسان کوي.

او دریم چي کله زه دا ورور د ځانه سره بوزم نو زه وینم چي زما پسونه ژر ژر وابنه وخوري بیا چي په کم ځای کي زه ناسته یم، دا پسونه پر موږ باندي شاه و خوا را وګرځي، زه هم دې خپل قریشي ورور ته ګورم، زما سترګي نه په مړېږي او زما پسونه هم دې قریشي ورور ته ګوري او د هغوی سترګي هم د ده په دید نه ډک کیږي.(۱)

## د پیغمبر ﷺ ښائست د یوسف علیه السلام په مقابله کي:

علامه زرکشي رحمة الله علیه او علامه یحی منیري رحمة الله علیه د ډیري لوړي درجې محدثین دي، هغه دا لیکي چي د حضرت یوسف علیه السلام په باره کي چي دا لیکلي دي:

(۱) السیرة الحلبیه، باب ذکر رضاعه ﷺ و ما اتصل صفحه: ۱۳۰

.........أُعْطِيَ شَطْرَ الْحُسْنِ﴾ چې ده ته نیمه حصه د حسن ورکول سوېده، او بله نیمه حصه په ټوله مخلوق کې سره تقسیم سوېده. (۱)

د دې مطلب دا دی: چې کم حسن الله تعالی پیغمبر ﷺ ته ور کړی د هغه حسن نیمې حصه بیا الله تعالی حضرت یوسف علیه السلام ته ور کړېده، او بله نیمه حصه په ټوله عالم کې سره تقسیم کړېده.

## د یو شامي د اسلام راوړلو عجیب او غریب داستان:

په شام کې یو سړي د "انجیل" تلاوت کوی، د تلاوت په دوران کې یې د "انجیل" په عبارت کې یو ځای د پیغمبر ﷺ دوه (۲) صفته ولیدل د غوصې او د حسد په وجه یې هغه صفحه او ورقه څیري کړه.

دوهمه ورځ چې یې تلاوت شروع کړی نو پر بله صفحه باندي د پیغمبر ﷺ څلور (۴) صفات لیکلي دي، هغه ورقه یې بیا څیري کړه.

دریمه ورځ چې یې تلاوت شروع کړی، نو هلته د پیغمبر ﷺ اته (۸) صفات لیکلي دي، نو وبېرېدی او وایي کچیري زه داغسي د "انجیل" ورقي څیرم نو ټول کتاب به ختم سي.

آخر یې په دې زړه کې دا فیصله وکړه، چې دا یقینًا یو عظیم نبي دی او د ډیرو لوړو صفاتو مالک دی، کچیري زه د ده نور صفات هم څیري کړم، هسي نه چې د الله تعالی د طرفه غضب او لعنت را باندي راسي.

آخر یو لوی "راهب" ته راغلی د هغه څخه پوښتنه کوي، چې دا "محمد" څوک دی؟ چې زموږ "انجیل" د هغه په صفاتو باندي ډک دی.

هغه په جواب کې ورته وایي: چې دا آخرنی نبي دی، دنیا ته راغلی دی، نو دی بیا پوښتنه کوي، چې دی به چیري وي؟ نو هغه په جواب کې ورته وایي: چې دا به د هجرت په شکل "یثرب" ته راځي.

---

(۱) الانوار في شمائل النبي المختار، صفحه نمبر ۴۷

(د مدينې منورې اولنی نوم "يثرب" وو بيا پيغمبرﷺ د دې نوم "مدينه منوره" "دار الهجرة والسنة" کښېښوئ).

او دنيا به هجرت کوي، او "يثرب" ته به راځي او د دې نبي څخه به پاکه زندګي ازده کوي.

نو هغه "شامي" د پيغمبرﷺ د ملاقات په نيت د شام څخه د "مدينې منورې" په سفر باندي را روان سو.

## د حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه سره ملاقات:

هغه "شامي" چي کله مدينې ته را ورسېدی، نو د مدينې په اطرافو کي د حضرت سلماني فارسي رضي الله عنه سره يې ملاقات وسو.

حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه د ايران يو شهزاده وو، د ده پلار "آتش پرسته" او د اور عبادت کونکی وو، حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه د حق دين په تلاش کي د کوره څخه را ووتی، لسو (۱۰) غټو راهبانو ته ورغلی، دين به يې څني ازده کوی، آخر يو چا د غلام په شکل د يهودو پر يو قافله خرڅ کړئ، هغو مدينې ته را وستی.

چي کله د پيغمبرﷺ هجرت وسو، نو پر پيغمبرﷺ يې ايمان راوړی او د صحابيت شرف الله تعالی ور کړی، دوه نيم سوه (۲۵۰) کاله د ده عمر بعضو کتابو ليکلی دی.

حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه د عبدالرحمن ابن عوف رضي الله عنه د لوره سره نکاح وکړه، او ډيري لوړي مرتبې ته ورسېدی، پيغمبرﷺ به د ده د قوم ډېره مدح کوله او دا به يې ويل:

...........لَوْ كَانَ الدِّيْنُ عِنْدَ الثُّرَيَّا، لَذَهَبَ بِهِ رَجُلٌ مِنْ فَارِسَ أَوْ قَالَ مِنْ أَبْنَاءِ فَارِسَ حَتّٰى يَتَنَاوَلَهُ﴾.

کچیري دین "ثریا" او "پېروني" ته ورسیږي، لا به یې هم د فارس یو نوجوان د هغه ځایه څخه را اخلي. (۱)

حضرت علامه سیوطي رحمة الله علیه او ابن حجر الهیثمي رحمة الله علیه فرمایلي دي: چې په دې کې اشاره حضرت امام ابو حنیفه رحمة الله علیه ته ده، ځکه چې د هغه هم تعلق د قوم فارس سره دی. (۲)

## د پیغمبر ﷺ سره ملاقات نه کېدل:

بهر حال هغه شامي سړی راغلئ د حضرت سلماني فارسي رضي الله عنه څخه د نبي آخر الزمان متعلق پوښتنه کوي.

د حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه سترګې مبارکې د اوښکو ډکې دي، او د سخت غم په حالت کې په لاس باندې مسجد نبوي ته اشاره کوي، "شامي" ته وایي چې ته ورسه مسجد نبوي ته، هغه "شامي" مسجد نبوي ته راغلی، د صحابه وو ډېره لویه ډله ده، ټول غمګین او پرېشانه ناست دي.

په مسجد نبوي کې ودرېدی، په لوړ آواز پوښتنه: ﴿مَنْ مِنكُمْ مُحَمَّدٌ﴾ په تاسو کې "محمد" څوک دی؟ صحابه کرام رضي الله عنهم چې کله د محمد ﷺ نوم اوري نو ټول په ژړا کې اخته سوه، هغه "شامي" حیران دی، ورته وایي ای خلکو! زه د "محمد" نوم پوښتم او تاسو ژاړی! معلومات را کړی څه پېښه ده؟

آخر حضرت علي رضي الله عنه ولاړ سو ورته وایي: چې نن دریمه ده چې محمد ﷺ د دنیا څخه رخصت سویدی.

## د پیغمبر ﷺ حلیه مبارکه بیانول:

آخر هغه "شامي" پوښتنه کوي او وایي: ﴿هَلْ مِنكُمْ وَصَّافٌ﴾ ایا په تاسو کې داسې څوک سته؟ چې ماته د هغه نبي یو څه حلیه او شکل مبارک بیان کړي؟

---

(۱) بخاري شریف، حدیث: ۴۸۹۷

(۲) تبیض الصحیفة في مناقب ابي حنیفة، صفحه: ۵۹، الخیرات الحسان في مناقب النعمان صفحه: ۲۷

حضرت علي ﷺ د پیغمبر ﷺ صفات ورته شروع کړه: کچیري تا ده ته کتلای ﴿فخما مفخما﴾ نو دی د ډېر لوی جلال او د عظمت مالک وو. کچیري تا د ده قد مبارک ته کتلای ﴿لَیْسَ اَطْوَلَ وَ لَا اَقْصَرَ﴾ نه ډېر غټ وو، او نه ډېر کوچنی وو، لېکن دا د ده معجزه مبارکه وه، چي په هر ځای کي به د خلګو سره ودرېدئ، نو دی به تر ټولو انسانانو په نظر لوی معلومېدی.

..........﴿یَتَلَألأُ وَجْهُهُ تَلَألُؤَ الْقَمَرِ لَیْلَةَ الْبَدْرِ﴾. د ده مخ مبارک داسي ځلېدئ، لکه د څوارلسم سپوږمۍ.

..........﴿رَجِلُ الشَّعْرِ﴾. د ده وربښتان ډېر نرم او را خواره واره وه.

..........﴿لَیْسَ بِالسَّبْطِ وَلَا بِالْجَعْدِ الْقَطَطِ﴾. د ده وېښتان نه بالکل ځراند وه، او نه پېچلي، بلکه نرم نرم لږ غوندي پېچلي وه؛ نو ځکه د ده وېښتان مبارک ډېر ښائسته وه.

..........﴿إِنِ انْفَرَقَتْ عَقِیصَتُهُ فَرَقَ وَإِلَّا فَلَا﴾. که به چیري د ده په مبارکو وېښتانو کي پخپله باندي په آساني سره لار ووتله، ده به پکښي جوړوله، او که نه وو په تکلیف به وېښتانو کي د لاري ایستلو اهتمام ده نکوی، وربښتان به یې هسي پرېښول.

ځکه پیغمبر ﷺ په عامو حالاتو کي د سر ږمونځولو ډېر اهتمام نکوی، لکه: په یو روایت کي راځي:

..........﴿كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ یَتَرَجَّلُ إِلَّا غِبًّا﴾.

پیغمبر ﷺ به کله کله سر ږمونځوی، او کله کله به یې پرېښوی، په آخري زندګي پیغمبر ﷺ د ږمونځي اهتمام کوی، او کله به یې پرېښوله هم، یعني کله کول او کله نه کول، د دې څخه امت ته دا تعلیم وو چي داسي عادت نه جوړ ل چي هر وخت به انسان په زیب او زینت کي لګیاوي لکه: زناني.

په اوله ابتداء کي د پیغمبر ﷺ د وربښتانو متعلق "سَدَل" لفظ راغلی دی، او وروسته بیا "فَرَق" لفظ راغلی دی، یعني په ابتداء کي به د اهل کتابو غوندي د ده وربښتان پر مخ را ایله وه، وروسته بیا پیغمبر ﷺ په وربښتانو کي لار ایستله نو دا

دواړه جائز دي، البته لاړ ایستل افضله دي، ځکه دا د پیغمبرﷺ وروستنی عمل دی، لکه: په روایت کې راځي:

............﴿فَسَدَلَ رَسُولُ اللهِﷺ، نَاصِيَتَهُ ثُمَّ فَرَقَ بَعْدُ﴾. د پیغمبرﷺ ورېښتان انتهائي ښائسته او لږ پېچلي وه، یو صحابيؓ د پیغمبرﷺ د وربښتانو صفت بیانوي:

............﴿كَأَنَّهُ حُبُكُ الرِّمَالِ﴾. لکه: هغه د رېګ غونډۍ چي پر هغه باندي هواء وچلیږي د هغې یو خوبصورته سطح جوړه سي، یو ځای کي لږ پورته یو ځای لږ کښته، نو د دې څخه د هغه حسن ډېر زیات معلومیږي.

یا لکه پر ولاړو اوبو چي هواء نرمه چلیږي نو په هغه اوبو کي هم کښته او پورته سطح جوړیږي، چي هغه ډېر ښائسته معلومیږي نو ځکه صحابيؓ د هغوی تعبیر په ﴿حُبُكُ الرِّمَالِ﴾ سره کوي، چي د هغې څخه لږ کښته او پورته کېدل معلومیږي.

حضرت عليؓ هغه شامي ته وایي چي د ده تندی مبارک ډېر خلاص وو:

............﴿يُدِرُّهُ الْغَضَبُ﴾. چي په درمیان کي یې یو رګ وو، چي د غصې پر موقعه به هغه رګ ښکاره کېدی.

د ده پزه مبارکه په ډېر اعتدال سره اوږده وه ﴿يَعْلُوهُ النُّورُ﴾ چي پر هغه باندي به یو نور ځلېدی.

............﴿مُفْلَجُ الْأَسْنَانِ﴾. د ده غاښونه مبارک د ملغلرو غونډي ځلېدل او په غاښو کي یې باریکه خلا وه، چي کله به یې خبري کوې، داسي معلومېدله، لکه یو نور چي ځني راوځي.

............﴿كَثُّ اللِّحْيَةِ﴾. د ده ږیره مبارکه ګڼه وه.

............﴿دَقِيقُ الْمَسْرُبَةِ﴾. د ده د حلق څخه لاندي تر نامه پوري د وربښتانو یو باریکه لیکه وه، او د ده سینه او نس مبارک سره برابر وو.

..............﴿ضَخْمُ الرَّأسِ وَضَخْمُ الْكَرَادِيْسِ﴾.چي د ده سر مبارک ډېر په اعتدال سر
لوی وو او د ده د بدن بندونه ډېر مضبوط وه.

..............﴿شَثْنُ الْكَفَّيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ﴾. د ده د لاسو ورغوي او د پښو تلي مبارکي د غوښ
ډکي وې.

..............﴿طَوِيْلُ الْأَطْرَافِ﴾. د ده ګوتي مبارکي اوږدې وې.

حضرت علي رضي الله عنه چي دا نقشه ټوله بیانوي نو د هغه په آخر کي وايي:

..............﴿لَمْ أَرَ قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ مِثْلَهُ، صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ﴾. چي ما د ده څخه مخکي یا
ده څخه وروسته د ده ﷺ غوندي حسین او ښائسته نه دی لیدلی.

## د هغه شامي وفات:

هغه "شامي" سر کښته کړی او وايي: کچیري د هغه نبي یو نښانه ماته را ښکار
کړی، نو د حضرت "عائشې" مبارکې د حجرې څخه هغه "شامي" ته د پیغمبر ﷺ
قمیص مبارک راوړل سو، هغه چي کله بوی کړی، وايي: یقیني د نبوت خوشبو د
یقیني د نبوت خوشبو ده دا یې وړل او پر هغه ځای باندي غوځار سو او وفا
سو.(1)

نو د پیغمبر ﷺ مبارک جبین او مبارکي سترګي دا د ده لویه معجزه وه، چي کم چا
به الله تعالی ژوندی زړه ور کړی وو، نو هغه چي به کله د پیغمبر ﷺ سترګي ا
ښائسته جبین ولیدی، نو د هغه په صرف لیدو سره به د هغه پر خوله باندي د صداق
او د شهادت کلمه جاري کېدله.

الله تعالی دي موږ او تاسو ټوله د پیغمبر ﷺ د برکاتو څخه محروم او بې نصیبه
کړځوي. (آمین یا رب العالمین)

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ أَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ.

---

(1) خطبات کریم، جلد نمبر۱، صفحه نمبر۲۳۳

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللّٰهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآیہ)

# معجز کتاب قرآن کریم

(بیان)

مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبہ سلطانیہ الہاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقــــریر | الحاج مولوي اطيع اللہ صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافظ كـليم اللہ صاحب |
| مقــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاريــــخ | جمادي الاولى ۱۴۴۲ بمطابق ۲۴ جنوري ۲۰۲۱ |
| تـعـــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وَقَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿إِنَّ هَذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا﴾.(1)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ﴿اَلْقُرْآنُ حُجَّةٌ لَكَ أَوْ عَلَيْكَ﴾.(2)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيمِ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمِ، وَ نَحْنُ عَلى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُلِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

## قرآني معجزه:

محترمو حاضرينو! په تيرو جمعو کي مو دا خبره کړېوه، چي الله تعالی انبیاء کرامو علیهم السلام ته د تصديق لپاره د خپل عصر او زماني مطابق معجزات ورکړي دي.

لکه: حضرت موسیٰ علیه السلام ته د خپل عصر د جادوګرو په مقابله کي عصا (لکړه) د اژدها (مار) په شکل جوړېدل.

او حضرت عيسى علیه السلام ته د خپلي زماني او معاشرې د رواج په طبق د طبابت معجزه ورکول، او په هغه سره د حضرت عيسى علیه السلام د نبوت تصديق کول.

---

(1) الاسراء آيت نمبر: ۹

(2) تزكية النفوس باب فضل العلم و العلماء صفحه: ١٦

پېغمبر ﷺ چې په کمه زمانه کې کمې معاشرې ته تشریف را وړی، هغه معاشره د عربو وه او د عربو په معاشره کې د ژبان داني فن پر عروج باندې وو، د شعر او ادب زمانه وه.

په کال کې به یو ځل په "مکه مکرمه" کې د "عکاظ" مېله لګېدله، او خلګو به په هغه کې په زرو اشعار پېشول، یو یو سړي ته به په سونو او زرونو اشعار یاد وه، هغوی ته پر دې خپله ژبه داسې زیات عبور حاصل وو، چې هغوی به خپل ځان ته په "عربو" ویل، او باقي دنیا ته به یې په "عجم" یعني (ګونګیانو) باندې ویل؛ ځکه د دوی دا ګمان وو، چې د "عربو" غوندې فصاحت او بلاغت یو ځای هم په هیڅ چا کې نشته، نو دوی ته به پر دې خبره باندې ډېر زیات فخر وو.

## د پېغمبر ﷺ روحاني معجزه قرآن کریم دی:

نو په تېره جمعه کې دا خبره وسوه چې الله تعالی د "روحاني" معجزې په شکل پېغمبر ﷺ ته دوه (۲) شیان ور کړل، یو د پېغمبر ﷺ مبارکې سترګې او ښائسته جبین چې کم چا ته به الله تعالی ژوندی روح او زنده دِل ور کړی وو، هغه چې به د پېغمبر ﷺ مخ مبارک ولیدی، نو بې اختیاره به د هغه د خولې څخه د ﴿هَذَا الْوَجْهُ لَيْسَ بِوَجْهِ كَذَّابٍ﴾ چې دا مخ د دروغجن مخ نه دی دا وینا را وتله.

او دوهم د "عربو" د فصاحت او بلاغت په مقابله کې د "قرآن کریم" غوندې روحاني معجزه پېغمبر ﷺ ته ور کول سوې وه، چې هر څو مره سخت کافر به د پېغمبر ﷺ مختنه راغلی، او د پېغمبر ﷺ د شکل لیدلو سره به یې یو ځای د ده د خولې مبارکې څخه د قرآن کریم یو څو مبارک آیاتونه هم واورېدل، نو دستې به یې د پېغمبر ﷺ اطاعت کوی، یا به د شرمندګۍ په شکل د مجلس څخه ولاړېدی.

## د ولید بن مغیره واقعه:

"ولید بن مغیره" خپل قوم د پېغمبر ﷺ مجلس ته را واستوی، چې ته ورسه! دا کتاب واوره او پدې کې باریک نظر وکړه، او پر دې باندې څه نکته چیني او عیب پیدا کړه او بیا یې موږ ته را وړه!.

دَی چي کله د پیغمبرﷺ مجلس ته راغلئ، د پیغمبرﷺ د خولې څخه یې د قرآن کریم یو څو مبارک آیاتونه واورېدل نو دا خپل سر یې کوږ ونیوی، او په ډېره شرمندګي د پیغمبرﷺ د مجلس څخه خپل قوم ته ولاړی.

او خپل قوم ته یې وویل: ای خلګو! زه د شعر ګویي سره ډېر اشنا او واقف یم، چي کم کلام ما واورېدی، هیڅ کله مي داسي کلام نه وو اورېدلی، دا هیڅکله شعر نه دی او نه د یو بشر کلام دی، په دې کي نهایت نور دی، او په دې کي روحاني شیریني ده، او پدې کي ډېر لوی لذت دی، او دا هغه کلام دی، چي ضرور به غالب ګرځي او دا مغلوبه کېدونکی کلام نه دی. (۱)

نو هر څومره سخت عنادي او مخالف چي به کله د پیغمبرﷺ د خولې مبارکي څخه کلام الهي واورېدی، نو هغه به یقینًا منقاد او تابع داره جوړېدی.

## د نجاشي په دربار کي:

د هجرت څخه څه زمانه مخکي حضرت جعفر طیارﷺ او نورو مسلمانانو د مکې مکرمې څخه د حبشې و طرفته هجرت وکړی، د مکې کافرانو هم خپل څه کسان حبشې ته واستول، چي په یو چل او طریقه باندي هغه مسلمانان د حبشې څخه هم وباسي، د مکې مشرکان چي کله حبشې ته راغلل او د حبشې د بادشاه په مخکي یې د مسلمانانو د حبشې څخه د ایستلو درخواست پیش کړی.

نو د حبشې بادشاه مسلمانان او د مکې مشرکان دواړه دلې خپل حضور ته را طلب کړه، چي کله دا مسلمانان او مشرکان د حبشې د بادشاه و مخته پېش سول.

بادشاه د مسلمانانو څخه پوښتنه کوي، چي کم کلام ستاسو پر نبيﷺ نازل سوېدی، هغه ماته وواياست! حضرت جعفرﷺ د "سورة مریم" ابتدائي چند آیاتونه ور ته تلاوت کړل.

بادشاه چي کله واورېدل پر هغه باندي داسي اثر راغلی چي هغه و بې هوښۍ ته نژدې سو چي کله په هوښ کي راغلئ نو وایي:

(۱) مواعظ ابراهیمي صفحه: ۱۲۱

والله دا کلام او هغه کلام چي پر حضرت موسی علیه السلام باندي را نازل سوی وو دا دیو ذات کلامونه دي، بیا یې پر حضور اکرم ﷺ باندي غائبانه ایمان راوړی، او مسلمان سو، او د ده په غلامانو کي شامل سو.

د ام المؤمنین "بي بي حبیبې رضی الله عنها" عقد د نکاح یې د حضور اکرم ﷺ سره په حبشه کي وکړئ، او پنځه زره (۵۰۰۰) روپۍ مهر یې د خپل ځانه څخه ادا کړی، بیا یې د هغه مسلمانانو سره د پیغمبر ﷺ په خدمت کي مدینې منورې ته را واستوله او دا عرض یې وکړئ، چي پیغمبر ﷺ ته ووایاست! چي زما لپاره به د مغفرت دعاء کوی.

پیغمبر ﷺ چي کله دا واورېدل نو:

............﴿فَتَوَضَّأَ ثُمَّ دَعَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِلنَّجَاشِيِّ فَقَالَ الْمُسْلِمُونَ: آمِينَ﴾.

اودس یې وکړی، او درې (۳) ځله یې وفرمایل: ای الله! ته نجاشي ته مغفرت وکړې، نو پیغمبر ﷺ دعاء کوله، او صحابه کرامو رضی الله عنهم پر هغوی باندي آمین، آمین کوی.([1])

کوی.([1])

نو چونکه هغه ته الله تعالی زنده دل او ژوندی روح ور کړیوو، نو صرف د قرآن په اورېدو سره پر هغه باندي داسي اثر راغلی، چي ایمان راوړلو ته تیار سو.

## د حضرت جبیر بن مطعم واقعه:

حضرت جبیر بن مطعم رضی الله عنه صحابي دی، فرمایي: چي د پیغمبر ﷺ خدمت ته د بدر په ورځ د قریشو د قیدیانو خلاصولو لپاره د مکې مکرمې څخه د بدر و میدان ته راغلم، اتفاقًا پدې وخت کي پیغمبر ﷺ د ماښام لمونځ کوی، او په لمانځه کي ﴿فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ﴾ ما اورېدل چي د "قرآن کریم" دا آیت تلاوت کوي؛

.........﴿إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ مَا لَهُ مِنْ دَافِعٍ﴾.([2])

بیشک ستاسو د رب عذاب راتلونکی دی، بیا دا عذاب هیڅوک نسي دفع کولای.

---

([1]) السیرة النبویة لابن کثیر، باب هجرة من هاجر من اصحاب رسول ﷺ صفحه، ۱۶

([2]) الطور آیت نمبر، ۸

"جبير بن مطعم" وايي: چي ددې آيت په اورېدو سره قريبه وه چي زما زړه سره چاودلی وای، الله تعالی پدې قرآن كريم كي په داسي شكل تاثير ايښی وو.(۱)

## د يو عرب زميندار واقعه:

په "مواعظ ابراهيمي" كي "حضرت مولانا محمد ابراهيم صاحب دهلوي" ليكلي دي چي يو "عرب" صحرائي پر لار را روان وو، چي د "قرآن كريم" دا آيت يې د يو چا څخه واورېدئ:

............فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ﴾.(۲)

هغه اعرابي په خوف او لرزه كي راغلی او فورًا پر سجده پرېوتی، چا پوښتنه ځني وكړه چي تا ولي سجده وكړه، نو دَی په جواب كي ورته وايي: چي زه د ذې كلام د فصاحت او د رُعب په وجه باندي سجدې كولو ته مجبوره سوم.

داغه رنګه دَی د يو بل اعرابي قصه كوي، چي هغه د يو چا څخه د "قرآن كريم" دا آيت واورېدی:

............فَلَمَّا اسْتَيْأَسُوا مِنْهُ خَلَصُوا نَجِيًّا﴾.(۳)

نو هغه ډېر د وهم په حالت كي وايي: چي په رب د كعبې قسم مخلوق پر داسي كلام كولو باندي قادر ندی، دا ضرور د الله تعالی كلام دی.

داغه رنګه يو شخص د "قرآن كريم" مخالف د "قرآن كريم" په مقابله كي يو څو آياته تياروي او په لاره كي روان دئ، د مسجد څخه د بچيانو د "قرآن كريم" د وينا آواز را پورته كيږي هغه بچيان دا آيت تلاوت كوي:

............وَقِيلَ يَا أَرْضُ ابْلَعِي مَاءَكِ وَيَا سَمَاءُ أَقْلِعِي﴾.(۴)

(۱) دلائل النبوة حديث، ۱۸۸

(۲) الحجر آيت نمبر، ۹۴

(۳) اليوسف آيت نمبر، ۸۰

(۴) الهود آيت نمبر، ۴۴

چي کله دا آیت اوري نو ډېر په حیرت کي ولاړ دی، چي د ځانه سره یې څه لیکلي دي، هغه یې ټول ځیري کړل.

او وایي: دا کلام چي ما واورېدئ، دا د بشر کلام ندی، ضرور د هغه چا کلام دی، چي هغه پر ځمکه او آسمان حکومت کوي، ځکي ته دا حکم ور کولای سي، چي خپلي اوبه در جذب کړه، او آسمان ته هم حکم کولای سي، چي باران را ورېدل پرېږده.

نو دا حکم د "احکم الحاکمین" د ذات دئ، او دا کلام هم د هغه قادر ذات دئ، دا د مخلوق کلام نه دئ، نو د خالق د کلام په مقابله کي د مخلوق کلام بالکل کلام نه دئ، نو ځکه یې هغه خپل لیکلي کلام ځیري او ختم کړی. (۱)

## د قرآن کریم چېلنج او مقابله:

چي کله په "عربو" کي د ژبان داني زمانه وه، نو الله تعالی د "قرآن کریم" غوندي معجزې سره د هغوی ژبي ور بندي کړې، لکه: الله تعالی چي په "قرآن کریم" کي خپله فرمایي:

............﴿قُلْ لَئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَى أَنْ يَأْتُوا بِمِثْلِ هَذَا الْقُرْآنِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا﴾. (۲)

ای د انسانانو او جناتو ډلي، کچیري تاسو ټوله د قرآن کریم مقابله کولو ته سره را جمع سئ! او د قرآن کریم په مقابله کي بل کلام پېش کړی، نو تاسو هیڅکله د قرآن کریم مثل نسی پېشولای، که څه هم په تاسو کي بعضي د بعضو مددګار سی.

هغه خلک چي د نبي اکرم ﷺ سره یې دښمني او بغض انتهاء ته رسېدلی وو، او هغو د پېغمبر ﷺ د مرګ اراده کړېوه، کچیري دغه "چېلنج" قبلول او مقابله کول دوی ته آسانه وای نو دوی به ضرور کړې وای، مګر دا د دوئ د توان او طاقت خبره نه وه، حتی چي الله تعالی دا هم ورته فرمایي:

---

(۱) مواعظ ابراهیمي افضل المواعظ: صفحه نمبر ۱۲۲

(۲) الاسراء آیت نمبر، ۸۸

..........﴿فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِنْ مِثْلِهِ﴾.(۱)

یعني کچیري د دې قرآن غوندي پوره قرآن نسی جوړولای! نو د دې په مثل یو سورة خو پېش کړی، لېکن بیا هم هغوی د دې "چېلنج" او مقابلې قبلولو ته تیار نه وه.

د هغوی عقلونه حیران وه چي دا څنګه کلام دی؟ د هغوی شاعران د دې کلام پېشولو څخه عاجزه وه، هغوی به دا ویل چي واقعة هم د دې کلام غوندي کلام څوک نسي پېشولای.

## د شعراؤ د تصدیق واقعه:

د "عربو" په معاشره کي چونکه د شعر او د "زبان داني" زیات رواج وو، نو کله به په دوی کي "میلې" لګېدلې او هر قوم او قبیلې به خپل "محفل" او "مجلس" جوړه وئ، او په هغه مجلسو کي به دوی د خپل قوم انسانان را جمع کول او بیا به د دوی شاعرانو د خپلو پلرونو او نیکه ګانو په "مدح" او "صفت" کي اشعار او قصیدې پېشولې، او دا محفلونه به عام طور د مِنٰی په دره او شېله کي جوړېدل.

بیا به دوی د خپلو مجلسو په ماینځکي "بیت الله" ته راتلل د هغه زیارت او طواف به یې کوی، او چي کمچا به نوی شعر یا قصیده جوړه کړېوه، نو هغه به یې پر "کاغذ" یا د "چمړې" پر یو ټکره باندې ولیکله او بیا به یې د "بیت الله" پر دروازه باندې را ځړوله، چي کله به د مختلفو قبیلو شاعران راتلل نو هغوی به بیا پر هغه شعر او قصیده باندې جرح او تعدیل کوی.

یو ځل پېغمبر ﷺ د قرآن کریم دا کوچنی "سورة" چي:

..........﴿إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ، فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ، إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ﴾.(۲)

د "چمړې" پر یو ټکره باندې ولیکی او د "بیت الله" په دروازه یې را وځړوی.

---

(۱) البقرة آیت نمبر: ۲۳

(۲) الکوثر آیت نمبر: ۱-۲-۳

چي کله د مختلفو قبيلو شاعران د بيت الله په دروازه ننوځي چي کله يې نظر پر د
"سورة" باندي ولګيږي نو هغه د حيرت په شکل ورته ګوري او ورته ولاړ دي، د هې
چا سره دا توان او طاقت نسته چي د جرح په شکل د قرآن کريم د دې آيت پر فصاحت ا
بلاغت باندي جرح وکړي.

چي کله د شاعرانو لويه مجمع د دې آيت په ليدلو باندي را جمع سوه، لېکن د جرح
صورت پر دې آيت باندي چا نسو کولای، نو آخر چي په دوی کي هغه لوی شاعر و
هغه را وړاندي سو، او د دې آيت څخه وروسته يې دا وليکل چي:

............﴿مَا هٰذَا قَوْلُ الْبَشَرِ﴾.

دا د انسان قول ندی، نو مخکي چونکه هغه "سورة" پروت وو، چي:

..........﴿إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ، فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ، إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ﴾.

وو نو دا جمله ور سره جوړه کړه، چي ﴿مَا هٰذَا قَوْلُ الْبَشَرِ﴾ د هغه څخه وروسته هغ
شاعرانو ډله د بيت الله په طواف او په زيارت باندي مشغوله سوه، او سره منتش
سوه.

## د قرآن کريم اعجاز او مقابله:

"اميه بن الصلت" يو ډېر لوی شاعر تېر سويدی، پيغمبرﷺ به د ده اشعار ا
خوښول او په شوق به يې اورېدل او دا به يې ويل:

..........﴿آمَنَ لِسَانُهُ وَكَفَرَ قَلْبُهُ﴾.

د ده ژبه مؤمنه ده او زړه يې کافر دی، يو ځل يې په يو مجلس کي د سلو (۱۰۰) څ
زيات شعرونه وويل او پيغمبرﷺ به اورېدل او د نورو اشعارو ويلو تمنی به يې ځ
کوله.

داغه رنګه يو ځل په مکه مکرمه کي پيغمبرﷺ ته وايي: چي تا خو د خپل نبو
اعلان کړيدی، راسه زما سره مقابله وکړه، زه هم کلام درته وايم، ته هم خپل کلام
پيش کړه!

نو په "حرم شریف" کي سره مخامخ سول یو طرفته د پیغمبرﷺ سره صرف حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ او حضرت بلال ﷺ ورسره دي، او بل طرفته د "اُمیه" سره د "مکې مکرمې" ټوله قریش ملګري دي.

نو اول ځل "امیه بن الصلت" په نظم، نثر او شعر کي هغه کمال ښکاره کړی، چي ټوله حاضرین انسانان ورته حیران سوه، چي کله ده خپل کمال ښکاره کړی، نو پیغمبرﷺ ورته وایي: چي زما دا هم واوره نو پیغمبرﷺ پدې دوران کي د "سورة یٰس" تلاوت شروع کړی:

......بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، يٰس، وَالْقُرْآنِ الْحَكِيْمِ، إِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ، عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ﴾.

چي کله "سورة یٰس" شروع سو، چونکه ټوله ډله د عربو راجمعه ده او عربي د هغوی مورنۍ ژبه وه نو هغه ټول د قرآن کریم په فصاحت او بلاغت کي محو او بېخوده دي، او د پیغمبرﷺ په فصاحت او بلاغت کي او په شیریني او په لذت د کلام کي د غالبه کېدلو اقرار کوي.(۱)

## د قرآن کریم مقدمیت:

قرآن کریم ته الله تعالی دا شرافت هم ور کړیوو، چي په روحاني لحاظ باندي "قرآن کریم" په ټولو آسماني کتابو کي مقدم کتاب وو، په روایاتو کي راځي د حضرت آدمؑ د پیدائش څخه پنځوس زره (۵۰۰۰۰) کاله مخکي الله تعالی په خپله د دې قرآن کریم تلاوت وکړئ.

او د حضرت آدمؑ د پیدائش څخه دوه زره (۲۰۰۰) کاله مخکي الله تعالی پر لوح محفوظ باندي ولیکئ او بیا په درویشتم(۲۳)، پنځه ویشتم(۲۵)، اوه ویشتم(۲۷)، نه ویشتم(۲۹)، رمضان المبارک باندي الله تعالی د دنیا آسمان ته را ورسوی، او بیا په درویشت (۲۳) کاله "نبوي زندګي" کي لږ لږ پر پیغمبرﷺ باندي را نازل سو.(۲)

(۱) جمع الوسائل في شرح الشمائل، باب ما جاء في صفة کلام رسولﷺ صفحه: ۴۴
(۲) الله کو اپنا بنالو سلو: ۹۵

## د قرآن کریم جامعیت:

او داغه رنګه په ټولو آسماني کتابو کي جامع کتاب هم "قرآن کریم" وو، ځکه د ټولو کتابو فضیلت او برکت الله تعالی په قرآن کریم کي را جمع کړیدی، لکه: پیغمبرﷺ په یو حدیث مبارک کي فرمایي:

.........﴿لَقَدْ أُعْطِيْتُ الْمَثَانِيَ مَكَانَ التَّوْرَاةِ﴾.

ماته الله تعالی د تورات په بدله کي "سورة فاتحه" را کړیده، تورات د هر مبارک کتاب وو چي الله تعالی په خپله لیکلی وو، لکه: یو حدیث مبارک کي راځي:

.........﴿أَنَّ اللهَ كَتَبَ التَّوْرَاةَ بِيَدِهِ﴾.(١)

الله تعالی تورات په خپل لاس لیکلی دی، نو دا د "تورات" لوی فضیلت دی، د دغ تورات پر ځای الله تعالی پیغمبرﷺ ته "سورة فاتحه" ور کړیوه.

.........﴿وَالْمَائِدَةَ مَكَانَ الْإِنْجِيلِ﴾.

او "سورة مائده" یې د انجیل غوندي کتاب په بدله کي الله تعالی ماته راکړیده.

.........﴿وَالْحَوَامِيمَ مَكَانَ الزَّبُورِ﴾.

او د "زبور" په بدله کي ماته "حوامیم" را کول سویدي، دا اووه (۷) سورتونه دي چي د "حٰم" څخه شروع کیږي نو دا د "زبور" په بدله کي الله تعالی ماته راکړیدي.

.........﴿وَفُضِّلْتُ بِالْمُفَصَّلِ﴾.

باقي چي کم "سُوَر مفصله" دي الله تعالی د هغه په ذریعه باندي ماته عزت او فضیلت را په نصیب کړیدی. (٢)

---

(١) قصص الانبیاء، باب ذکر هلاک فرعون و جنوده صفحه: ١١٦

(٢) مسند ابي داود: حدیث نمبر ١١٠٥

## قرآن عین جنت دی:

د بعضو احادیثو په مضمون کي دا راغلي دي، چي د "قرآن کریم" څومره آیاتونه دي، په جنت کي هغومره درجې دي، یو "قرآن کریم" ویونکي ته به د قیامت په میدان کي وویل سي:

............اقْرَأْ وَارْتَقِ وَرَتِّلْ كَمَا كُنْتَ تُرَتِّلُ فِي الدُّنْيَا، فَإِنَّ مَنْزِلَتَكَ عِنْدَ آخِرِ آيَةٍ تَقْرَأُ بِهَا﴾.(١)

د "قرآن کریم" تلاوت په ترتیل سره کوه او د جنت په درجو کي پورته کېږه، چي کمچا ته د "قرآن کریم" څومره آیاتونه یاد وي، په هغه اندازه به د جنت په درجو کي پورته ځي.

که چیري هغه انسان د "قرآن کریم" ټوله آیاتونه تلاوت کړي، نو بیا به دی خپل ځان د جنت آخرنۍ درجې ته چي هغه "جنة الفردوس" دی رسوي، چي هغه د الله تعالی د عرش سره متصل جنت دی، او په هغه کي انسان د الله تعالی په "همسایه توب" کي ژوند تېروي.

ځکه په روایاتو کي راځي چي د "جنة الفردوس" د خونو چت د الله تعالی عرش وي، چي کمځوک د "جنة الفردوس" استوګن وي، نو هغه چي د خپلي خوني چت ته وګوري نو د هغه نظر به د الله تعالی پر "عرش" باندي لګیږي.

په بعضو نورو روایاتو کي لا دا هم راغلي دي، چي د "قرآن کریم" آیاتونه دا بعینه د جنت درجې دي، مثلا د قرآن کریم شپږ زره، شپږ سوه، شپږ شپېته (٦٦٦٦) آیاته دي پر قول د بعضو علماؤ، بعینه داغه آیاتونه چي دلته موږ ته د آیاتو او د الفاظو په شکل کي را معلومیږي په جنت کي داغه آیاتونه د باغو او د بهار د نعمتو او د باغچو په شکل کي جوړیږي، هسي خو "شی" یو شی وي، دلته یې جلا شکل او په جنت کي دې ته جلا شکل ور کول کیږي.

---

(١) سنن ترمذي حدیث، ۲۹۱۴

الله تعالی په دې خپل کلام کې داسې ضناعت او کاریګري کړېده، چې تر څو پورې پر ده باندې د دنیا هواء لګیږي بیا خو د علم او عرفان یوه خزانه ده، او د تعلیم او تعلم یوه طریقه ده، او د ویلو او تلاوت لپاره الفاظ او معاني دي.

او چې کله پر دې باندې د آخرت هواء ولګیږي بیا به داغه حروف او الفاظ په ګل و ګلزار او په حورو او غلمانو او په باغچو او نعمتو باندې بدلیږي.

نو په دنیا کې دا الفاظ د خپل تلاوت کونکو لپاره د سکون او د راحت سرمایه ده او د علم او عرفان سیر او سفر په انسان کوي، لیکن په آخرت کې به داغه الفاظ د ده لپاره د جنت باغ او بهار او د حورو او غلمانو په صورت کې ښکاره کیږي، او د ده لپاره به د شادمانی او مسرت سبب جوړیږي.

د دې آیاتونه به د نهرو په شکل، حروف او جملې به یې د حورو او غلمانو په شکل او الفاظ او نقاط به یې د جنت د نعمتو او میوو په شکل وي.

زه دا ویلای سم چې کم قومونه پر خپلو کتابو او رسالو باندې ایمان راوړي، د قیامت څخه وروسته د جنت د داخلېدو انتظار لري نو هغه جنت مسلمان په خپل زړه کې رانغښتی دئ او په دنیا کې هغه جنت د ده په زړه کې پروت دئ.

نو د قیامت د انتظار کولو پر ځای په کار دا دئ چې هغه قومونه په دنیا کې پر قرآن ایمان راوړي او جنت ځان ته حاصل کړي.

چې کم بچي په دنیا کې "قرآن کریم" پوره حفظ کړئ، ګویا هغه پوره جنت په خپل زړه کې محفوظه کړی، چې کله عالم آخرت راسي دغه د حروفو او الفاظو شکل د "قرآن کریم" د جنت په نعمتو بدلیږي او سره غوړیږي، نو دی به هلته دا وویني چې دا خو هغه "قرآن کریم" دی، چې اوس الله تعالی ماته په جنت بدل کړئ.

نو په دنیا کې د "قرآن کریم" حافظ جنت په خپله سینه کې محفوظ ساتلی وي، لیکن چونکه د هغه اصلي شکل لا ندی ښکاره سوی، نو ځکه ده ته دا معلومات نه کیږي چې څومره عظیم نعمت زما په سینه کې خوندي دئ.

بهر حال "قرآن کريم" د الله تعالی سره د تعلق ډېره لويه ذريعه او د اجر او ثواب حاصلولو باعث دئ، د هغه د يو يو لفظ په بدله کي د انسان په عمل نامه کي نيکياني ليکل کيږي، او دا غه قرآن د جنت محلونه او قصرونه او نعمتونه هم دي.

## تورات او ميدان محشر:

چنانچه په حديث شريف کي راځي: چي کله په "ميدان محشر" کي اقوام د عالم سره را جمع سي، او الله تعالی به په خپله د بندګانو سره حساب او کتاب کوي، نو د اتلس زره (۱۸۰۰۰) اقوامو په موجودګي کي الله تعالی اوله پوښتنه د "لوح محفوظ" څخه کوي او ورته وايي هغه څه چي ما په تا کي د "تورات" په شکل خوندي کړی وو هغه "تورات" څه سو؟

"لوح محفوظ" به په جواب کي ورته وايي: چي هغه خو حضرت جبرائيل عليه السلام زما څخه يوړئ، د حضرت جبرائيل عليه السلام څخه پوښتنه کيږي چي د لوح محفوظه څخه چي کم "تورات" تا پورته کړی وو، هغه دي څه کړئ؟

حضرت جبرائيل عليه السلام په جواب کي ورته وايي: چي "تورات" خو ما د حضرت موسی عليه السلام پر زړه مبارک نازل کړی.

نو وروسته به الله تعالی حضرت موسی عليه السلام را طلب کړي، د هغه څخه به دا پوښتنه کوي، چي "تورات" د حضرت جبرائيل عليه السلام څخه تا تسليم کړی وو؟

نو حضرت موسی عليه السلام به په جواب کي ورته وايي: چي "تورات" ما د حضرت جبرائيل عليه السلام څخه اورېدلی وو، او د هغه په معانيو مي سر خلاص کړی وو.

نو الله تعالی به ورته ووايي چي تا "تورات" څه کړئ؟ حضرت موسی عليه السلام به په جواب کي عرض کوي، چي "تورات" خو ما خپل امت ته ورسوئ، نو الله تعالی به ورته وايي: چي په دنيا کي خو ستا امت د "تورات" د حقيقته څخه ناخبره وو، ته دې منبر ته اوس را پورته سه او د "تورات" تلاوت وکړه، چي ستا پر امت بني اسرائيلو باندي د "تورات" حقيقت واضح او ښکاره سي.

نو حضرت موسی علیه السلام به د قیامت په میدان کي د الله تعالی په حضور کي منبر ته را پورته سي، او دَی به هلته د "تورات" تلاوت شروع کړي، نو په دنیا کي خو تورات د الفاظو او معانیو یوه مجموعه وه، چي د هغه الفاظ به انسانانو تلاوت کول او د هغه په معانیو به یې سر خلاصوئ.

لېکن د قیامت په میدان کي به د حضرت موسی علیه السلام د تلاوت په وخت کي د "تورات" په الفاظو او معانیو کي هغه پوشیده حقائق په "مجسم" شکل مخته راسي، چي د هغه څخه به دا معلومېږي چي "تورات" یو "عظیم الشان" باغ دی، چي هغوی به د کائناتو یوه ډېره لویه حصه په خپل احاطه کي نیولې ښکاره کېږي.

هلته به د انسانانو پر زړو باندي یو عجیب او غریب کیفیات ښکاره کېدونکي وي، او حیرت انګېز انکشافات به کېدونکي وي، د حضرت موسی علیه السلام امت به دا وایي چي دا "تورات" خو موږ تر اوسه نه لیدلی او نه اورېدلی وو، موږ خو هلته صرف په الفاظو او معانیو او د دې په افهام او تفهیم کي اخته او مصروف وو.

او دا حقیقت چي "تورات" څه دی؟ نن پر موږ باندي واضح سو، د دې څخه مخکي هیڅ کله پر موږ باندي داسي واضح نه وو ګرځېدلی.(۱)

## قرآن کریم او میدان محشر:

دوهم ځل الله تعالی د "لوح محفوظ" څخه پوښتنه کوي، چي "قرآن کریم" څه سو؟

نو هغه به ورته وایي: چي "قرآن کریم" هم حضرت جبرائیل علیه السلام زما څخه پورته کړی، نو د ټولو اقوامو د عالم په مخکي به "جبرائیل امین" را طلب کېږي، او الله تعالی به دا پوښتنه ځني کوي، چي ای جبرائیل امینه! کم قرآن چي تا د "لوح محفوظ" څخه پورته کړی، هغه څه سو؟

نو "جبرائیل امین" به په جواب کي ورته وایي: چي هغه "قرآن کریم" ما حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ته ورسوئ، د هغه څخه وروسته به پیغمبر صلی الله علیه وسلم را طلب سي او د

---

(۱) خطبات حکیم الاسلام جلد: ۲ صفحه: ۳۸

هغه څخه به پوښتنه کیږي چې کم "قرآن کریم" چې تاته "جبرائیل امین" رسولی وو، هغه "قرآن کریم" څه سو؟

نو پیغمبرﷺ به په جواب کې ورته وایي: چې ما هغه "قرآن کریم" خپل امت ته د تلاوت او تعلیم په ذریعه سره رسولی وو.

د الله تعالی لطرفه به دا وینا کیږي چې اوس دلته د قیامت په میدان کې د "قرآن کریم" تلاوت وکړه چې د ټولو اقوامو د عالم په مخکې د "قرآن کریم" د الفاظو او معانیو حقیقت په خپل اصلي شکل کې ښکاره سي، او ټوله انسانان دا ووینې چې "قرآن کریم" په کم شکل پر ټوله عالم باندې "احاطه" کړې وه.

په حدیث شریف کې راغلي چې بیا به د پیغمبرﷺ لپاره منبر کښېښول سي، او الله تعالی به ورته ووایي:

..........﴿يَا حَبِيبِيْ يَا مُحَمَّدُ تَعَالَ وَارْقَ الْمِنْبَرَ﴾.

ای حبیبه! ای محمده! دې منبر ته راپورته سه او د قرآن کریم د اوله سره څخه تر آخره پوري تلاوت وکړه.

پیغمبرﷺ به د ټولو اقوامو د عالم په مخکې د الله تعالی د فرمان سره سم منبر ته راپورته سي او د قرآن کریم تلاوت به د "الٓمٓ" څخه شروع کړي او تر "والناس" پوري یعني تر آخره پوري به یې پوره کړي.

نو هلته به بیا "قرآن کریم" په یو "مجسم" شکل باندې د خلګو په وړاندې راځي او داسې به معلومیږي چې "قرآن کریم" دومره "عظیم الشان" باغ دی، چې هغه ټوله عالم او کائنات په قبضه کې اخیستي دي، د هغه سورتونه به د جنتو په شکل، د هغه آیاتونه د باغیچو په شکل او د هغه جملې او حروف د رنګا رنګ نعمتو او د حورو او غلمانو په شکل د اقوامو د عالم په مخکې راځي.

د حضرت آدمعليه السلام څخه ونیسې بیا تر پیغمبرﷺ پوري چې کمو قومونو ته "قرآن کریم" ندی رسېدلی هغه به د ډېر حسرت، او نا امیدی په شکل د ځانه سره دا تمنّی کوي، چې کاش دا کتاب په دنیا کې زموږ په نصیب راغلی وای.

او صحابه کرام ﷺ چي کله د "قرآن کریم" دا حقیقت ښکاره ویني نو هغه به هم ډېر حیران وي، او دا به وايي چي د "قرآن کریم" دغه "رُخ" خو موږ هیڅکله نه وو لیدلی، د پیغمبر ﷺ د دې روحاني تلاوت څخه خو همېشه د صحابه کرامو ﷺ زړونه منور وه، لېکن د قیامت په میدان کي به دوی د "قرآن کریم" هغه "مجسم" شکل ویني چي په دنیا کي د هغې څخه دوی ناخبره وه.

نو د الله تعالی په موجودګي کي او د ټولو انبیاؤ او ملائکو او امتو په حضور کي چي کله د قرآن کریم دا "مجسم" شکل مخته راسي، نو بیا ټوله اقوامو د عالم به د حیرانګۍ عجیب حالت وي، ټوله خلک به "ګونګیان" سي، چي کمچاته دا نعمت نه وي ملاؤ سوی، نو هغوی ته به هم افسوس وي، او چي کم چاته دا نعمت ملاؤ سوی وي هغه به هم افسوس کوي چي موږ د دې دومره لوی نعمته څخه څنګه بې خبره وو؟ او موږ دغه نعمت څومره بې غوره او بې فکره پرې ایښی وو، او د څومره لوی خسارې او بد نصیبۍ سره مخامخ وو.(۱)

## قرآن کریم د انسانیت دستور:

دا یو حقیقت دئ چي "قرآن کریم" الله تعالی په دنیا کي د ټوله انسانیت د زندګۍ تېرولو لپاره "دستور" او "قانون" ګرځولی دی، په کم "عَصر" کي چي د مسلمان قوم زندګي پر "قرآن کریم" باندي برابره وه، نو په هغه "عَصر" کي په معاشره کي د مسلمان قوم وقار او عزت وو.

او د مسلمان قوم ډېره د کفارو په زړو کي ناسته وه، په میلونو لیري کافران به د مسلمان د نامه اورېدو څخه ډېرېدل، تر دې حده چي شیطانان به هم د مسلمانانو څخه ډېرېدل.

د حضرت عمر فاروق ﷺ په باره کي راځي چي پر کمه لار به دَی تېرېدی نو پر هغه لار باندي به شیطان ته د تېرېدو همت نه وو، د مسلمانانو حاکمانو به صرف د یو خط په

---

(۱) خطبات حکیم الاسلام جلد، ۲ صفحه، ۳۹

ذريعه سره دريابونه روانول، د مسلمانانو د عدل پخاطر به يو "لېوه" پر "پسه" باندي حمله نسوه كولاى.

نبكن چي كله د مسلمان زندگي د "قرآن كريم" د "دستوره" څخه بدله سوه، بيا خو مسلمان قوم د ټولي معاشرې "مغلوب" او "مرعوب" قوم بلل كيږي، بيا به په هر ځاى كي ذلت او رسوائي د مسلمان قوم په نصيب وي.

بيا چي د مځكي پر مخ باندي څومره قومونه دي، په هغو ټولو كي به زياته وينه د مسلمان قوم بهيږي او بيا به په ټوله دنيا كي د مسلمان قوم د يتيم او كونډي ژړا او چيغي سره خوريږي.

ځكه د پيغمبرﷺ فرمان دى چي كله د مسلمان قوم زندگي د قرآنه څخه بدله سي، بيا خو به مسلمان قوم د "وري كولي" په مثل وي لكه د حديث شريف الفاظ دي:

.........﴿يُوشِكُ الْأُمَمُ أَنْ تَدَاعَى عَلَيْكُمْ كَمَا تَدَاعَى الْأَكَلَةُ إِلَى قَصْعَتِهَا﴾.

چي نور قومونه به يو بل پر تاسو داسي سره را بولي لكه وري كولي ته چي څوك را بلل كيږي.

.........﴿فَقَالَ قَائِلٌ: وَمِنْ قِلَّةٍ نَحْنُ يَوْمَئِذٍ﴾. صحابه كرامؓ ډېر حيران دي او وايي چي اى د الله رسوله! موږ به ډېر كم يو كه به څه وجه وي؟

پيغمبرﷺ په جواب كي ورته وايي:

.........﴿قَالَ: بَلْ أَنْتُمْ يَوْمَئِذٍ كَثِيرٌ، وَلَكِنَّكُمْ غُثَاءٌ كَغُثَاءِ السَّيْلِ﴾. بلكه تاسو به ډېر زيات ياست الله تعالى به تاسو داسي بې اختياره كړي، لكه: د اوبو "ځگ" چي اوبه يې هر طرفته وړي هغه طرفته ځي د خپل ځان اختيار نلري.

.........﴿وَلَيَنْزِعَنَّ اللَّهُ مِنْ صُدُورِ عَدُوِّكُمُ الْمَهَابَةَ مِنْكُمْ﴾. الله تعالى به ستاسو بېره ستاسو د ښمنانو د زړو څخه وباسي، او هغه به پر تاسو باندي ډېر دلاوره وي. (۱)

(۱) مسند ابي داود، حديث نمبر ۱۰۸۵

او د "قرآن کریم" څخه د مخ ګرزولو په خاطر به پر تاسو باندي فتنې ډيري زياتي راځي چي په هغه کي به بيا مسلمان قوم د سختي پرېشانۍ سره مخامخ وي.

يو صحابي ﷺ د پيغمبر ﷺ څخه پوښتنه کوي:

............مَا الْمَخْرَجُ مِنْهَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟﴾. چي ای د الله رسوله! د دې حالاتو څخه به د مسلمان قوم د پاره د وتلو لار څه وي؟

پيغمبر ﷺ په جواب کي ورته وايي: ﴿كِتَابُ اللّٰهِ﴾ د الله په کتاب پوري منګولي لګول خپله شخصي زندګي او د خپل کور اجتماعي زندګي او د بچيانو تعليم پر قرآن باندي برابرول يعني قرآن ته مخ را ګرځول، دا به پدې وخت کي د مسلمان قوم لپاره د نجات ذريعه وي.

............فِيهِ نَبَأُ مَا قَبْلَكُمْ وَخَبَرُ مَا بَعْدَكُمْ، وَحُكْمُ مَا بَيْنَكُمْ﴾.

پدې "قرآن کريم" کي تاسو ته د مخکني قومونو حالات بيانېږي چي تاسو "عِبرت" ځني واخلئ! او د را روانو حالاتو نتائج او ثمرات در ښکاره کيږي، او پدې کي ستاسو درمياني فيصلې پرتې دي.

............مَنْ تَرَكَهُ مِنْ جَبَّارٍ قَصَمَهُ اللّٰهُ﴾. چي کم قوم "قرآن کريم" د چا د "جبر" او "ستم" په وجه پرېږدي، الله تعالی به يې رېزه رېزه کړي.

............وَمَنِ ابْتَغَى الْهُدَى فِي غَيْرِهِ أَضَلَّهُ اللّٰهُ﴾. چي کم قوم بغير د "قرآن کريمه" هدايت غواړي الله تعالی به يې ګمراه کړي.

............وَهُوَ حَبْلُ اللّٰهِ الْمَتِينُ، وَهُوَ الذِّكْرُ الْحَكِيمُ، وَهُوَ الصِّرَاطُ الْمُسْتَقِيمُ﴾.

دا د الله تعالی سره د تعلق مضبوطه رسۍ ده او د الله تعالی د حکمتونو ډک ذکر دی، او د الله تعالی و طرفته سيده لار ده.

............مَنْ قَالَ بِهِ صَدَقَ﴾.

چي څوک په "قرآن کريم" وينا کوي، هغه ډېره رشتونې وينا وي.

.........وَمَنْ عَمِلَ بِهِ أُجِرَ﴾.

چې کم څوک په "قرآن کریم" باندي عمل کوي الله تعالی به ډېر لوی اجر او ثواب ورته ور کړي.

.........وَمَنْ حَكَمَ بِهِ عَدَلَ﴾.

چې کمڅوک په "قرآن کریم" باندي فیصلې کوي نو د هغه به ډيري د عدل او انصاف څخه ډکي فیصلې وي.

.........وَمَنْ دَعَا إِلَيْهِ هَدَى إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ﴾.

او چې کمڅوک خلک "قرآن کریم" ته را بولي نو دا په حقیقت کي انسانان د "صراط مستقیم" یعني برابري لاري و طرفته را بولي.(۱)

الله تعالی دي زموږ او ستاسو د معاشرې د انسانانو زندگي پر "قرآن کریم" برابره کړي.

او الله تعالی دي زموږ د معاشرې مضبوطه تعلق د "قرآن کریم" سره پیدا کړي. الله تعالی دي تر مرګه پوري پر قرآن کریم باندي استقامت دوام او همېشه توب را په نصیب کړي.

او الله تعالی دي مو د زکندن تر آخرني سلګۍ پوري د پیغمبر ﷺ د اُمتیت او د هغه د شفقته څخه محروم او بې نصیبه نه کړځوي.

(۱) سنن ترمذي حدیث: ۲۹۰٦

الله تعالى دي دا ځو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

آمين يا رب العالمين

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ أَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآیه)

# د معجزاتو اول بیان

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ٹاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ٹاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹه

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مــقـــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشــــاعــت | اول |
| تــاريـــــخ | جمادي الاولى ۱۴۴۲ بمطابق ۲۴ جنوري ۲۰۲۱ |
| تــعـــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وَقَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ، وَإِنْ يَرَوْا آيَةً يُعْرِضُوا وَيَقُولُوا سِحْرٌ مُسْتَمِرٌّ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ﴿الدِّينُ النَّصِيحَةُ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيمِ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمِ، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

## د معجزې تعریف:

محترمو مشرانو! د پیغمبر ﷺ پوره زندګي یو قسم "اعجاز" او "معجزه" وه، د ده ولاړېدل، کښېنستل، خوړک کول او به چیښل، تګ کول، حلیه مبارکه، قد وقامت، سفر و حضر، قیام وکلام، دا ټوله یو نوع معجزه او اعجاز وو، چې د هغه څخه د عالم انسانان او د کائناتو ټوله مخلوق عاجزه وه.

د هغه څخه پدې وخت کي موږ خبره نه کوو، بلکه د پیغمبر ﷺ هغه واضح معجزات ستاسو و مخته ایښوول غواړو چي "عام فهمه" او د "عوام الناس" لپاره باعث د تسلی او اطمینان وي، او د ایمان او یقین زیاتېدلو ذریعه او سبب وي.

(١) القمر آیت نمبر، ١-٢

(٢) سنن ابو داؤد حدیث، ۴۹۴۴

هسې خو معجزه د اعجاز څخه را اخيستل سوېده، او په اصطلاح کې د معجزې تعریف دا دی:

..........﴿اَلْمُعْجِزَةُ اَمْرٌ خَارِقٌ لِلْعَادَةِ يَعْجُزُ الْبَشَرُ اَنْ يَّأْتِىَ بِمِثْلِهٖ﴾.

يعني معجزه د هغه امر خارق نوم دی، چي هغه د عادت خلاف وي او انسان د هغه مثل پېشولو څخه عاجزه وي.

د الله تعالی په ورکړه سره انبياء کرام دغه معجزات د خپل نبوت د تصديق لپاره د "عوام الناس" و مخته پېشوي.

الله تعالی د "أمَمِ" سابقه وو په مثل "امت محمديه" ته هيڅ فرمائشي معجزه نه ده ښکاره کړې؛ ځکه د فرمائشي معجزې ښکاره کولو څخه وروسته کچيري بيا هم د قوم د طرفه انکار راسي نو الله تعالی پر ټوله قوم باندي عذاب را استوي او هغه قوم د تباهی سره مخامخ کوي.

لکه قوم ثمود، قوم عاد او د فرعون قوم او نورو قومو ته چي کله د دوی د فرمائش مطابق معجزې ور ښکاره سوې، بيا هم دوی د هغه څخه انکار وکړی، نو بيا الله تعالی ټوله هلاک کړه.

او پيغمبر ﷺ چونکه د ټوله عالم لپاره يو نوع رحمت دی، او د ده امت اجتماعي طور د عذاب څخه د ده په وجه محفوظه دی، نو ځکه ده فرمائشي معجزه نه ده ښکاره کړې.

لېکن د فرمائشي معجزو څخه علاوه د پيغمبر ﷺ معزات په ډېر کثرت سره راغلي دي، لکه: د سيرت په کتابو کي د هغوی عدد او شمار غالبًا د اوو زرو (۷۰۰۰) څخه هم زيات دئی. (۱)

زه صرف پدې مختصر وخت کي ستاسو مخته يوه يا دوې معجزې ايږدم، الله تعالی دې د پيغمبر ﷺ پر نبوت باندي موږ او تاسو ته کامل ايمان او يقين را نصيب کړي.

---

(۱) خطبات کريم: جلد نمبر ۱، صفحه نمبر ۲۲۱

**د معجزې غوښتنه !!**

د مدینې منورې د هجرت کولو څخه تقریبًا پنځه (۵) کاله مخکې یو ځل د مکې مشرکان پیغمبر ﷺ ته را جمع سوه، چې په هغوی کې:

- ولید بن مغیره.
- ابو جهل.
- عاص بن وائل.
- عاص بن هشام.
- اسود بن یغوث.
- نظر بن حارث.

او نور مشران هم وه.

د پیغمبر ﷺ څخه یې دا درخواست وکړی، کچیرې ته رشتیا نبي یې نو د خپل نبوت یو خاص نښاني موږ ته را ښکاره کړه!

**معجزه شق القمر:**

د شپې وخت وو چونکه د څوارلسم سپوږمۍ را ختلې وه، پیغمبر ﷺ ورته وایي که زه تاسو ته اوس یو معجزه در ښکاره کړم، نو تاسو به ایمان راوړئ! دوی ټولو ورته وویل چې موږ ایمان راوړو.

پیغمبر ﷺ دوی ټوله جبل "ابو قبیس" ته پورته وخېژول او د غره پر سر یې دوه (۲) رکعته لمونځ وکړئ، او دعاء یې وکړه، د دعاء څخه وروسته یې پخپله ګوته مبارکه سره د سپوږمۍ طرفته اشاره وکړه، په دې وخت کې سپوږمۍ سره دوې ټکرې سوه، یوه ټکره پر جبل "ابو قبیس" باندې وه، او دوهمه ټکره پر جبل "قیقعان" باندې ودرېده.

تر دېره پورې هغه خلګو په حیرت سره ورته کتل د حیرت دا حال وو، چې خپلې سترګې یې په کپړو سره صفا کولې او بیا به یې د سپوږمۍ طرفته کتل، سپوږمۍ صافه دوې ټکرې معلومېدله.

او پيغمبر ﷺ پدې وخت کي دا ويل:

......... ﴿اِشْهَدُوْا، اِشْهَدُوْا﴾. ای خلکو! تاسو گواه اوسئ، ای خلکو! تاسو گواه اوسئ.

د ماښکر او د ماښام په وخت کي چي څومره زمانه ده هغومره مقدار سپوږمۍ سره دوې ټکرې وه، د هغه څخه وروسته بيرته هغه دوې ټکرې سره يو ځای سوې، د مکې مکرمې مشرکينو ويل چي محمد ﷺ خو زموږ پر سترگو جادو کړيدی، تاسو د دباندي څخه راتلونکو مسافرو انتظار وکړئ، او د هغوی څخه به دا معلومات وکړو، ځکه دا ممکنه نه ده چي محمد ﷺ دي پر ټولو خلکو جادو کړی وي.

کچيري هغه خلک هم و موږ ته دغسي بيان وکړي، نو رښتيا ده او که هغو وويل چي موږ نه ده ليدلې نو بيا يقيني جادو دی.

چي کله مسافر را ورسېدل د هر طرف څخه راغلو مسافرو خپله مشاهده بيان کړه، چي موږ سپوږمۍ سره دوې ټکرې ولېدل، مگر د دې شهادتو باوجود هغه معاندين د اسلام راوړلو ته تيار نه سوه، او دا به يې ويل چي دا ډېر زور جادو دئ، او ډېر ژر به د دې اثر ختميږي. (¹)

الله تعالی د دوی حالت په دغه آيت مبارک کي بيانوي:

............ ﴿اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانشَقَّ الْقَمَرُ، وَإِن يَرَوْا آيَةً يُعْرِضُوا وَيَقُولُوا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ﴾. (²)

قيامت نژدې راغلی، او سپوږمۍ سره دوې ټکرې سوه، دې قريشو چي هر څنگه معجزې د پيغمبر ﷺ د صداقت وليدلې نو به يې د اسلامه څخه اعراض او روگرداني کوله، او دا به يې ويل چي دا دائمي جادو دی، چي د ډېره وخته را روان دی.

---

(¹) مواعظ ابراهيمي صفحه: ۱۲۲

(²) القمر آيت نمبر: ۱-۲

## معجزه رد شمس:

د پیغمبرﷺ په مشهوره معجزاتو کي معجزه "رد شمس" هم ده یعني لمر لوېدل او د لوېدلو څخه وروسته واپس پر شاه را پورته کېدل.

د اسماء بنت عُمیسؓ څخه روایت دی، چي پیغمبرﷺ د خیبر سره نژدې د "صهباء" پر مقام باندي د مازیګر په وخت کي وو او سر مبارک یې د حضرت عليؓ په غېږ کي ایښی وو، نو پدې وخت کي حضرت عليؓ لمونځ نه وو کړی، چي په دغه حالت کي پر پیغمبرﷺ باندي د "وحی" د نازلېدلو کیفیت شروع سو، او دا کیفیت تر لمر لوېدو پوري روان وو، چي کله د "وحی" د نازلېدو کیفیت ختم سو، نو پیغمبرﷺ د حضرت عليؓ څخه پوښتنه کوي:

............أصَلَّيْتَ يَا عَلِيُّ؟﴾. ای علي! تا لمونځ کړیدی؟

هغه په جواب کي ورته وایي: ﴿قَالَ: لَا﴾ چي لمونځ مي ندی کړی، نو پیغمبرﷺ په دې وخت کي لاس په دعاء پورته کړی، او دعاء یې شروع کړه:

............فَقَالَ: اللّٰهُمَّ إِنَّهُ كَانَ فِي طَاعَتِكَ وَطَاعَةِ رَسُولِكَ فَارْدُدْ عَلَيْهِ الشَّمْسَ﴾.

یا الله! علي ستا او ستا د رسول په اطاعت کي وو، نو پر ده باندي لمر واپس وګرځوه چي دی د مازیګر لمونځ پر خپل وخت باندي اداء کړي.

حضرت اسماء بنت عمیسؓ وایي:

............فَرَأَيْتُهَا غَرَبَتْ ثُمَّ رَأَيْتُهَا طَلَعَتْ بَعْدَ مَا غَرَبَتْ، وَ وَقَفَتْ عَلَى الْجِبَالِ﴾.

چي لمر مي ولیدی، یو ځل ولوېدی، د لوېدو څخه وروسته واپس را پورته سو په آسمان کي ودرېدی، چي د هغه شغلې او رڼاوي پر مځکو او غرو باندي موښتې.(۱)

نو دا هم یو معجزه وه چي د پیغمبرﷺ پر لاس باندي ښکاره سوه، او د پیغمبرﷺ د نبوت د تصدیق لپاره مستند دلیل وو.

---

(۱) نسیم الریاض شرح شفا قاضي عیاض جلد: ۳ صفحه: ۱۰

داغه رنګه "امام طحاوي" د "خندق" د ورځي متعلق د لمر د را ګرځېدلو حدیث مبارک را نقل کړیدی، چي کله د "خندق" په ورځ د پیغمبرﷺ څخه لمنځونه قضاء سوه، نو الله تعالی د "خرق العادة" په شکل بیرته لمر ورته را وګرځوی، چي پیغمبرﷺ لمونځونه پر خپل وخت باندي ادا کړل.(۱)

## معجزه حبس شمس:

په بعضو "ضعیفو" روایاتو کي لا دا هم راغلي دي: چي د پیغمبرﷺ لپاره یو څه زمانه په آسمان کي الله تعالی د لمر حرکت درولی دی.

............لَمَّا أُسْرِيَ بِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وآله وَسَلَّمَ وَأَخْبَرَ قَوْمَهُ بِالرِّفْقَةِ وَالْعَلَامَةِ فِي الْعِيرِ﴾.

پیغمبرﷺ چي کله د معراج څخه واپس راغلی، او په "مکه مکرمه" کي یې د قریشو و مخته دَ معراج کیفیت او حالات بیان کړه.

نو قریشو د "بیت المقدس" د علاماتو پوښتني څني شروع کړې، او دارنګه یې د یوې قافلې پوښتنه څني کوله، چي د تجارت په غرض د شام طرفته تللې وه:

............قَالُوا فَمَتَى يَجِيءُ﴾.چي هغه قافله به کله راځي.

............قَالَ يَوْمَ الْأَرْبِعَاءِ قَبْلَ غُرُوْبِ الشَّمْسِ﴾. پیغمبرﷺ ورته ویل چي هغه قافله به د "چهار شنبې" په ورځ د لمر د لوېدو څخه مخکي انشاء الله را رسیږي:

............فَلَمَّا كَانَ ذَلِكَ الْيَوْمَ أَشْرَفَتْ قُرَيْشٌ يَنْظُرُوْنَ وَقَدْ وَلَّى النَّهَارُ وَلَمْ يَجِيءْ﴾. چي کله مابنام سو، نو قریشو نعرې کړې، چي لمر لوېدو ته قریب سو، او قافله را نه غله.

............فَدَعَا النَّبِيُّﷺ فَزِيدَ لَهُ فِي النَّهَارِ سَاعَةً﴾. پیغمبرﷺ دعاء شروع کړه، الله تعالی د ده د عاء په برکت ورځ ورته زیاته کړه.

(۱) الخصائص الکبری، باب في حکمة قتال الملائکة مع النبيﷺ صفحه، ۲۸۴

..........﴿وَحُبِسَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ﴾. الله تعالی په آسمان کي لمر ورته ودروی، تر دې حده ولاړ وو، چي قافله مکې ته را ننوتله د هغه څخه وروسته بیا لمر ولوېدی، الله تعالی په دې شکل د پیغمبرﷺ د نبوت تصدیق ښکاره کړی.

..........﴿فَلَمْ تُرَدِ الشَّمْسُ عَلَى أَحَدٍ إِلَّا عَلَى رَسُولِ ﷺ يَوْمَئِذٍ﴾.

دا معجزه په پیغمبرﷺ پوري خاصه وه د پیغمبرﷺ څخه ماسوا بل چاته الله تعالی د لمر د درېدلو معجزه په نصیب نه وه ور کړې.(1)

## د خوړک متعلق معجزات:

په مکه مکرمه کي چي کله پیغمبرﷺ ته حکم وسو چي ته خپلو قریبي رشته دارانو ته د اسلام دعوت ور کړه، نو پیغمبرﷺ د میلمستیا اهتمام وکړی، او د قریشو د سردارانو څخه یې څلوېښت (۴۰) کسان را جمع کړل، او خوړکه صرف دومره وه، چي د هغې څخه یو سړی مړېدای سو.

دغه د یوه سړي خوړکه څلوېښتو (۴۰) انسانانو و خوړله او ټول په ماړه سوه، قریشو چي کله د پیغمبرﷺ دا معجزه ولیدله نو دوی به ویل: چي در ځئ! د محمدﷺ د کوره څخه محمدﷺ چي کمه خوړکه په موړو خوړله پر هغه باندي یې جادو کړی وو.

## د غزوه خندق پر موقعه معجزه:

چي کله د "خندق" غزوه راغله او پیغمبرﷺ پخپله "بنفس نفیس" د "خندق" په کندلو کي مصروف دی، پر صحابه کرامو رضی الله عنهم باندي سخت د خوف حالت دئ، او لوږه هم ده، او یخ هم دی، نه د کپړې بندوبست سته، نه د نفقې بندوبست سته او د یېري حالت دی، نه د اسلحې بندوبست سته.

لېکن صحابه کرام رضی الله عنهم د الله تعالی او د الله تعالی د رسولﷺ سره د دین د حفاظت پخاطر په "خندق" کي مصروف دي.

(1) دلائل النبوة، باب الدلیل علی ان النبیﷺ صفحه، ۴۰۴

حضرت جابر ﷺ چي کله وکتل د پيغمبر ﷺ رنګ مبارک د لوږي څخه ډېر متغير دی، نو په منډه خپل کورته راغلی، خپلي زناني ته وايي: چي په کور څه سته؟

هغه ورته وايي؛ چي دا يو د "بزې بچی" دئ، او لږ اندازه "أربشي" دي، نو دی ورته وايي: چي ته د "بزې بچی" حلال کړه، او په کټو کي يې واچوه او دا "أربشي" میده کړه دوړی څني پخه کړه، زه ځم د الله رسول ﷺ د مېلمستيا لپاره خپل کورته رابولم.

چي کله زنانه په هغه خپل کار کي لګيا سوه، حضرت جابر ﷺ خندق ته راغلی، پيغمبر ﷺ ته وايي: زما په کور کي نفقه ده خو:

..........ثَلَاثَةَ عَشَرَ وَأَنْتَ رَابِعُ عَشَرَ﴾. ديارلس (۱۳) کسان به راځئ ته به څوارلسم يې يا ورته وايي:

..........أَرْبَعَةَ عَشَرَ وَأَنْتَ خَامِسُ عَشَرَ﴾. چي څوارلس (۱۴) کسان به نور وي او ته به پنځلسم يې.

..........فَصَاحَ النَّبِيُّ ﷺ فَقَالَ: يَا أَهْلَ الْخَنْدَقِ، إِنَّ جَابِرًا قَدْ صَنَعَ سُورًا، فَحَيَّ هَلَّا﴾.

پيغمبر ﷺ د خندق څخه را وختی، او خپلي کپړې يې د خاورو څخه وڅنډلې او پدې وخت کي په خندق کي پنځلس سوه (۱۵۰۰) کسان کار کوي، نو يې نعره کړه چي ای خلکو! ژر راځئ "جابر" ستاسو لپاره مېلمستيا تياره کړېده.

حضرت جابر ﷺ چي دا واورېدل نو د ډېره خوفه څخه د هغه پر بدن باندي وربښتان جک ودرېدل چي يا الله! ما خو د پنځلسو (۱۵) کسانو نفقه برابره کړېده، او اوس زما کورته راځي پنځلس سوه (۱۵۰۰) کسان، ايا زه به د کمي رسوايۍ سره مخامخ کېږم! نو په منډه باندي د مېلمنو څخه مخکي کورته روان سو.

پيغمبر ﷺ ته دا معلومه وه چي دی ولي منډي وهي؟ نو د شاه د خوا څخه آواز ور پسې کوي؛

..........لَا تُنْزِلَنَّ بُرْمَتَكُمْ، وَلَا تَخْبِزَنَّ عَجِينَكُمْ حَتَّى أَجِيءَ﴾.

ته خپله کټو د اُور څخه مه کښته کوه، او مه خپل اوړه پخوه تر څو چي زه درځم.

نو پیغمبرﷺ ورته وایي:

..........لاَ تُنْزِلُنَّ بُرْمَتَكُمْ﴾.

"بُرمه" په عربو کې کوچنی کټوي ته وایي: چې په هغه کې صرف د یو څو کسانو لپاره د خورک پخلی کیږي، او "قِدَر" لوی "کټوي" ته وایي: چې په هغه کې د ډیرو کسانو بندوبست برابریږي، چونکه پیغمبرﷺ ته دا معلومه وه، چې ده یو کوچنی کټو باندې کړېده، نو پدې وجه باندې پیغمبرﷺ دا آواز ورپسې کوي.

..........فَجِئْتُ وَجَاءَ رَسُولُﷺ يَقْدُمُ النَّاسَ حَتَّى جِئْتُ امْرَأَتِي، فَقَالَ: بِكِ وَبِكِ﴾.

حضرت جابرؓ وایي چې زه کورته راغلم رسول اللهﷺ را پسې را ورسېدی، نو زما د کور زناني ته وایي چې هغه "اوره" دي څه په وکړل:

..........فَقَالَتْ: قَدْ فَعَلْتُ الَّذِي قُلْتَ﴾.

نو هغه ورته وایي چې تا څنګه ویلې وه هغسې ستا په انتظار کې پراته دي.

..........فَأَخْرَجَتْ لَهُ عَجِينًا فَبَصَقَ فِيهِ وَبَارَكَ، ثُمَّ عَمَدَ إِلَى بُرْمَتِنَا فَبَصَقَ وَبَارَكَ﴾.

نو بیا یې هغه وره پیغمبرﷺ ته راوړل، پیغمبرﷺ د خپلې لاړې مبارکې یو زره د هغه ورو سره ملګرې کړه او بیا یې هغه "کټو" هم پخپلو لاړو مبارکو مشرفه کړه، نو الله تعالی په هغه کې برکت واچوی.

پیغمبرﷺ حضرت جابرؓ ته وایي: "دسترخوان" هوار کړه! او مېلمانه ور باندې کښېنوه، دَی مبارک پخپله "کټوي" ته ناست دی، په خپل لاس مبارک د "کټوي" څخه سالن او د "دسترخوانه" څخه ډوډی تقسیموي.

صحابه کرامؓ پر خپل نمبر باندې راځي او ډوډی خوري بیا ولاړیږي، پدې ورځ باندې د حضرت جابرؓ په کور کې د هغه کوچنی کټوي څخه پنځلس سوه (۱۵۰۰) کسان ماړه سوه، لیکن په کټو کې سالن هم پاته دی، هغه یو سېر یا دوه سېره "اربشي" چې د ډوډی په شکل یخ سوي وې، هغه هم په دسترخوان کې پاته دي.

چي کله صحابه کرام ﷡ ټول ختم سول، نو پېغمبر ﷺ ورته وايي: ای جابره! چي پر دسترخوان باندي څومره هډوکي دي دا را ټول کړه، چي کله هډوکي را جمع سوه، نو پېغمبر ﷺ په دعاء لاسونه پورته کړل، نو پر هغه ځای باندي هغه د بزې بچی بیرته الله تعالی را ژوندی کړی، او پېغمبر ﷺ حضرت جابر ﷛ ته په لاس ور کړی، ورته وايي: چي واخله دا دي خپل پسه دي موږ ته خپل الله د خپله درباره څخه خور که را کړه.(۱)

## د حیوانانو متعلق معجزات:

په "مدینه منوره" کي پېغمبر ﷺ په يو مجلس کي ناست دی، يو اوښ په منډه او په فرياد سره راغلی، ﴿وَأَلْقَى بِجِرَانِهِ فَجَرْجَرَ﴾ خپله غاړه يې د پېغمبر ﷺ پر پښو مبارکو باندي کښېښول او د سترګو څخه يې دومره اوښکي ولاړې ﴿حَتَّى اِبْتَلَّ الْاَرْضُ﴾ چي هغه اوښ په اوښکو باندي مځکه لنده سوه.

پېغمبر ﷺ صحابه کرامو ﷡ ته وايي: چي دا اوښ د خپل مالک په فرياد سره ما ته راغلی او دا فرياد پېښوي چي زما سره ظلم کيږي؟

پدې دوران کي يو انصاري صحابي د هغه اوښ تر شاه په اوښ پسي په منډه راغلی او وايي يا رسول الله! ای د الله رسوله! دا خو زما څخه ورک وو، او زه د ده په تلاش کي راوتلی يم، چي دا دی: پيدا مي کړی.

پېغمبر ﷺ ورته وايي: چي دا خو ستا شکايت کوي، انصاري وايي ای د الله رسوله زما څه شکايت کوي؟

پېغمبر ﷺ ورته وايي دا اوښ وايي: ای د الله رسوله! چي کله زه ځوان وم، نو ما به ده کار کاوی، او پر خپله ملا باندي به مي ده ته بتي او اوبه راوړلې، ده به پر ما باندي خپل هر څه خدمتونه تر سره کول، زه به د ده خدمت پوره کولو ته تيار وم. اوس چي کله زه بوډا سوم نو دی زما د ذبح کولو اراده لري ای د الله رسوله! دا زما سره ظلم دی، ما د ذبح څخه خلاص کړه!.

---

(۱) الخصائص الکبری، باب فائده في حکمة قتال الملائکه مع نبي ﷺ صفحه، ۳۷۷

پیغمبرﷺ چي کله د "انصاري" څخه پوښتنه کوي، نو هغه هم په دې اقرار کوي، چي ما د اوښ د ذبح اراده کړې وه.

پیغمبرﷺ هغه "انصاري صحابي" ته وايي چي دا اوښ ماته راکړه نو هغه "انصاري" ورته وايي چي تر تا قربان دی، پیغمبرﷺ هغه اوښ ته وايي چي زما د طرفه څخه ازاد یې چي پر کمه ځې پر هغه طرف ولاړ سه.

په روایاتو کي راځي:

............فَرَغَى رَغْوَةً﴾. نو اوښ خوله د آسمان طرفته پورته کړه او یو نعره یې وکړه، پیغمبرﷺ د هغې نعرې په جواب کي وايي:

............آمِيْن﴾. الله! قبوله ئې کړې.

............ثُمَّ رَغَتْ ثَانِيَةً﴾.

بیا یې دوهم ځل سر د آسمان طرفته پورته کړی، او آواز یې وکړی، پیغمبرﷺ بیا وايي:

............آمِيْن﴾. الله! قبوله ئې کړې.

............رَغَى رَغْوَةً ثَالِثَةً﴾؟ بیا یې دریم ځل نعره وکړه، پیغمبرﷺ پر هغه باندي ﴿آمِيْن﴾ وايي.

چي کله یې څلورم ځل نعره وکړه نو پیغمبرﷺ د هغه پر نعره باندي وژړل، صحابه کرام رضي الله عنهم پوښتنه کوي، چي ای د الله رسوله! چي د اوښ په نعره او ستا په ﴿آمِيْن﴾ او په ژړا مو سر نه خلاصیږي، په دې باندي مو پوه کړه!.

پیغمبرﷺ ورته وايي: دا اوښ ماته څلور دعاګاني وکړې، ما د هغه پر دعاګانو آمین کوی:

۱. اول ځل یې دا دعاء وکړه: چي الله تعالی دي ستا بېره لیري کړي، لکه: تا چي زما بېره لیري کړه، نو ما وویل:............آمِيْن﴾.

۲. دوهم ځل هغه اوښ ماته دا دعاء وکړه؛ چې الله تعالى دې ستا امت په دښمن سره د هلاکولو څخه محفوظه کړي چې دښمن يې بالکل هلاک کړي، نو ما يا وويل؛ ..........آمين﴾.

۳. دريم ځل هغه اوښ ماته دعاء کوي؛ چې الله تعالى دې ستا امت په قحط سالي او لوږه باندې نه هلاکوي، ما ورته وويل: .........آمين﴾.

۴. څلورم ځل هغه دا دعاء شروع کړه: چې الله تعالى دې ستا امت هميشه په اتحاد او اتفاق سره ولري، پر هغه باندې ما وژړل ځکه د دې څخه مخکې لا زما رب ماته دا خبر راکړی وو، چې ستا په امت کې به اختلاف راځي.(۱)

## د اوښانو د نبي اکرم ﷺ اطاعت کول:

پيغمبر ﷺ په مسجد نبوي کې ناست دی، يو "انصاري صحابي" په منډه راغلی، دا عرض کوي، چې ای د الله رسوله! زما اوښان زما نافرمانه سويدي.

اوښ چې کله د مالک نافرمانه سي، نو هغه انسان ته ډېر په غوصه وي، او که يې وس ورسيږي نو انسان هلاکوي، چې کله هغه "صحابي" د اوښانو د نافرمانه کېدو خبره پيغمبر ﷺ ته وکړه، نو پيغمبر ﷺ ورته وايي: چې ته درځه اوښان چيري دي؟

هغه ورته وايي چې زما په باغچه کې دي، پيغمبر ﷺ چې کله د هغه "انصاري صحابي" د باغ دروازې ته راغلی نو هغه اوښ د دروازې د ننه طرفته په حالت د غصې کې ولاړ دی، او د خولې څخه د خبنم او غصې په وجه ځکه را باسي دروازه بنده ده.

پيغمبر ﷺ ورته وايي:

..........افتح لي الباب﴾. دروازه خلاصه کړه، هغه "انصاري صحابي" ورته وايي يا رسول الله!

(۱) معجزات النبي ﷺ باب طريق اخرى عنه صفحه، ۱۴۵

.........إِلَي اَخَافُ عَلَيْکَ﴾. زه پر تا باندي ډېر ډېر هسي نه چي تاته يو تکليف ورسوي.

پيغمبر ﷺ ورته وايي:

.........لَيْسَ عَلَيَّ مِنْهُ بَأسٌ﴾. ماته هيڅ تکليف نسي رسولای زما څخه بې غمه اوسه.

چي کله يې دروازه ور خلاصه کړه، د اوښ چي کله نظر پر پيغمبر ﷺ باندي ولګېدی نو په منډه راغلی او خپله غاړه يې پر مځکه ورته کښېښوله او د پيغمبر ﷺ په پښو کي ور ولوېدی.

پيغمبر ﷺ هغه "انصاري صحابي" ته وايي ته رسۍ راوړه، چي کله رسۍ راوړل سوه، نو پيغمبر ﷺ په رسۍ باندي وتړی، د هغه څخه وروسته هغه انصاري صحابي ته وايي:

.........إِذًا لَا يُعْصِيکَ اَبَدًا﴾. چي کله زما په لاس وتړل سو، بيا به په ټوله ژندګي کي ستا نافرمانه نسي.

هغه دوهم اوښ د باغ په بل سر کي ولاړ دی، او د خپلي غصې آواز کوي، او خوله يې د ځګو ډکه ده، چي کله يې پيغمبر ﷺ وليدی، نو هغه هم په منډه راغلی:

.........فَاَلْقٰي بِجِرَانِهِ فَجَرْجَرَ﴾. هغه هم خپله غاړه او سر د پيغمبر ﷺ پر پښو مبارکو کښېښوی، او اوښکي يې د پيغمبر ﷺ پر پښو توييولې، پيغمبر ﷺ هغه هم په رسۍ باندي وتړی، ورته وايي چي دا به هم ستا هيڅکله نافرمانه نه سي.[1]

نو دا په حيوانانو کي د پيغمبر ﷺ د نبوت معجزات وه، چي هغوی ته هم دا ور معلومېدله چي دا د الله تعالی يو برګزيده پيغمبر او رسول ﷺ دی.

[1] دلائل النبوة، باب ذکر البعير الذي سجد للنبي ﷺ صفحه ۲۸

## د مره حیوان په شکل معجزه:

یو ځل پیغمبرﷺ په مدینه منوره کي ناست دی، د صحابه کرامو یوې ډلي یو "اعرابي" زمین دار چي د ښکار ځخه را روان دی، تر لاس نیولی، د پیغمبرﷺ په خدمت کي یې حاضر کړی.

هغه "اعرابي" د صحابه کرامو ﷺ ځخه پوښتنه کوي چي دا څوک دی؟ صحابه کرام ورته وايي چي دا د الله رسولﷺ دی، "اعرابي" چي کله دا واورېدل، وايي: رما دې د "لات" او "عزی" په بتانو قسم وي، چي ما د ده ځخه زيات درواغجن نه دی لیدلی، کچیري د عربو خلکو زه جلد بازه او تلواري نه بللی، ما به اوس په دې خپله توره دی قتل کړی وای.

چي کله د "اعرابي" هغه بېهوده او عبث کلام صحابه کرامو واورېدی، نو حضرت عمرﷺ توره وکښه، چي ای د الله رسوله! ماته د ده د قتل کولو اجازت راکړه.

پیغمبرﷺ ورته وايي: ای عمره! حلم او برداشت اختیار کړه، ايا ته په دې نه یې خبر؟ چي په حلیم سړي کي د نبوت قابلیت وي، چي کله یې دا وویل: نو حضرت عمرﷺ یې خاموش کړی.

بیا هغه "اعرابي" ته پیغمبرﷺ دعوت ور کوي، چي ای وروره! مسلمانېدل دېره ښه خبره ده، ﴿لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰہُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰہِ﴾ ویل دا لوی عبادت دی.

هغه "اعرابي" چي دا واورېدل، نو هغه د خپل لستوڼي ځخه یو ښکار سوی او مړ حیوان را ویستی، د پیغمبرﷺ و مخته یې وغورځوی، ورته وايي: چي زما دې په "لات" او "عزی" قسم وي، کچیري دا پر تا ایمان راوړي نو زه به هم پر تا ایمان راوړم.

پیغمبرﷺ د هغه حیوان طرفته متوجه سو ورته وايي: "يَا ضَبُّ" (دا د عربو په علاقو کي یو حیوان وو چي دوی یې ځان ته خورک جائز بالی همېشه به دوی ښکار کوی) چي کله هغه ته د پیغمبرﷺ کلام وسو نو هغه حیوان د پیغمبرﷺ طرفته متوجه سو او په صفا عربي ژبه باندي پیغمبرﷺ ته جواب ور کوي،

........﴿لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ يَا رَسُولَ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾. اى د الله رسوله! زه په خدمت کي ولاړیم څه فرمايي.

........﴿فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " وَمَنْ تَعْبُدُ يَا ضَبُّ؟﴾.

پیغمبرﷺ ورته وايي ته د چا عبادت کوې، هغه په جواب کي ورته وايي:

........﴿قَالَ: اللّهَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ عَرْشُهُ وَفِي الْأَرْضِ سُلْطَانُهُ وَفِي الْبَحْرِ سَبِيلُهُ وَفِي الْجَنَّةِ رَحْمَتُهُ وَفِي النَّارِ عَذَابُهُ﴾.

زه د هغه چا عبادت کوم چي په آسمان کي عرش او په مځکه کي حکومت لري، او په دریابو کي لاري لري او جنت او جهنم يې د ثواب او د عقاب ځایونه دي.

........﴿قَالَ: فَمَنْ أَنَا يَا ضَبُّ﴾.

بيا پیغمبرﷺ ورته فرمايي چي زه څوک يم؟ هغه حيوان په جواب کي ورته وايي:

........﴿قَالَ: أَنْتَ رَسُولُ رَبِّ الْعَالَمِينَ وَخَاتَمُ الْمُرْسَلِينَ، قَدْ أَفْلَحَ مَنْ صَدَّقَكَ، وَقَدْ خَابَ مَنْ كَذَّبَكَ﴾.

ته د الله رسول يې او د ټولو انبياؤو آخرنی نبي يې چي کم څوک ستا تصديق کوي هغه به همېشه کامیابه وي او چي کم څوک ستا تکذيب کوي هغه به همېشه ناکامه وي.

چي کله د هغه بې زبانه حيوان د خولي څخه د پیغمبرﷺ د نبوت اقرار واورېدل سو، نو ټوله مجمع حيرانه ده هغه "اعرابي" ولاړ دی، چي کله حيوان خپل کلام پوره کړی، نو هغه "اعرابي" په ډېر شوق سره د توحيد کلمه وويله، او دا يې وويل:

........﴿أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّهُ وَأَنَّكَ رَسُولُ اللّهِ حَقًّا وَقَدْ آمَنْتُ بِشَعْرِي وَبَشَرِي، وَدَاخِلِي وَخَارِجِي، وَسِرِّي وَعَلَانِيَتِي وَاللّهِ لَقَدْ أَتَيْتُكَ وَمَا عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ أَحَدٌ هُوَ أَبْغَضُ إِلَيَّ مِنْكَ وَوَاللّهِ لَأَنْتَ السَّاعَةَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ نَفْسِي وَمِنْ وَلَدِي﴾.

ای د الله رسوله! ما پر تا ایمان راوړی، زما ظاهر زما باطن، زما غوښه زما پوست زما وریښته، وریښته، ستا د صداقت اقرار کوي، ای د الله رسوله! د دې څخه مخکې ستا ذات زما په نزد د ټولو څخه مبغوض وو لیکن الله تعالی اوس پر ما باندې داسې حالت راوستئ چې ستا د ذات څخه محبوب ما ته په ټوله جهان کې څوک نسته.

پیغمبر ﷺ ورته وایې چې ای ورورہ! الله تعالی د یو چا کلمه نه قبلوي چې دی د لمانځه پابنده نه وي، لمونځ کوه او لمونځ بغیر د قرآنه قبلیږي نه.

"اعرابي" عرض کوي چې ما ته د لمانځه او د قرآن کریم تعلیم راکړه، پیغمبر ﷺ و ده ته دوه (۲) سورتونه "سورة الفاتحه" او "سورة الاخلاص" ورياد کړل.

"اعرابي" چونکه د عربو د علاقې وو هغه چې کله قرآن کریم واوریدی، په ډېر حیرت سره د پیغمبر ﷺ په حضور کې دا خبره پېشوي، چې ما خو داسې فصیح او بلیغ په حیرت کې اچونکی کلام تر ننه پوري نه وو اوریدلی.

پیغمبر ﷺ ورته وایي چې دا د بنده کلام ندی، دا د "رب العالمین" کلام دئ چې کم سړی "سورة الاخلاص" یو ځل ووایي نو الله تعالی د دریمې حصې د قرآن کریم ثواب ور کوي، او چې کم سړی دوه ځله دا سورة ووایي، الله تعالی د قرآن کریم د دوو حصو ثواب ور کوي، او چې کم سړی درې ځله سوزة الاخلاص ووایي الله تعالی هغه ته د ټوله قرآن کریم د ختم ثواب ور کوي.

چې کله یې دا واوریدل نو هغه "اعرابي" ډېر خوشحاله سو، ویل یې چې الله تعالی د بنده لږ عمل قبلوي، ثواب او بدله ډېره زیاته ورکوي.(۱)

## د تعجب واقعه:

یو ځل په "مکه مکرمه" کې د حرم د حدودو څخه دباندې "ابو سفیان" او "صفوان ابن امیه" ولاړ دي، یو "لېوه" پر "هوسۍ" باندې حمله وکړه، "هوسۍ" ځنې منډې کړې، د حرم په حدودو کې داخله سوه، لېوه د حرم په حدودو کې د ننه پر اوسۍ باندې د حملې څخه اجتناب وکړی، او هغه هوسۍ یې پرېښول او واپس روان سو.

(۱) دلائل النبوة، الباب ذکر الظبی و الضب صفحه، ۳۷۶

"ابو سفيان" "صفوان" ته وويل گوره د تعجب ځاى دى، لېوه هم د حرم د ادب او حرمت خيال ساتي، لېوه چي کله دا خبره واورېده نو لېوه جواب ور کړى، چي اى خلګو! دا د تعجب خبره نه ده بلکه د دې څخه زيات د تعجب قابله دا ده چي "محمد بن عبدالله" د الله تعالى رسول ﷺ د مکې څخه ولاړى او مدينې ته ورسېدى، هغه تاسو د جنت طرفته را بولي او تاسو هغه د جهنم و طرفته مجبوره کوى.

"ابو سفيان" "صفوان ابن اميه" ته وايي چي د دې واقعې ذکر په مکه کي مه کوه، ور نه زما دي په رب د کعبې قسم وي، چي په ټوله مکه کي به بغير د اسلام راوړلو څخه څوک در پاته نسي.

نو تاسو گورئ! لېوه دلته و کفارو د مکې ته سخته طعنه ور کړه يعني چي زه حيوان يم د حرم لحاظ ساتم، تاسو انسانان ياست د الله تعالى رسول ﷺ ستاسو د دوږخ څخه د بچاوولو او جنت ته د داخلېدو کوشش کوى.

لېکن تاسو په حرم محترم کي هغه ته څومره تکاليف ور کړه، نو تاسو انسانان ياست خو لېکن د حيوانه څخه زيات بې عقله او بېوقوفه ياست.(۱)

## د کانړو شاهدي ادا کول:

يوه ورځ په مکه مکرمه کي "ابو جهل" لعين يو څه کاڼي په لاس کي نيولي د پيغمبر ﷺ خدمت ته حاضر سو، او ورته وايي چي اى محمده! (ﷺ) کچيري ته رشتيا نبي يې نو دا راته ووايه چي زما په لاس کي څه دي؟

چي کله ته د آسمان خبري کوې، او مځکي والاوو ته د آسمان قِسم قِسم حالات بيانوې، نو دا ضروري ده چي زما د لاس پټ شى به هم تاته در معلومېږي.

پيغمبر ﷺ ورته وايي: چي اى ابوجهله! که ته دا غواړې چي زه دا درته ووايم چي ستا په لاس کي څه دي؟ هم صحيح ده او که دا غواړې چي ستا د لاس شى زما په باره کي څه درته ووايي چي زه څوک يم؟ کمه يوه دي خوښه ده؟

(۱) مواعظ ابراهيمي صفحه: ۱۳۶

"ابو جهل" ورته وايي: چي دا خو ډېره ښه خبره چي زما د لاس شی دا راته ووايي: چي ته څوک یې؟

پیغمبرﷺ د "ابوجهل" د لاس ډبرو ته اشاره کوي، هغوی فورًا د "ابوجهل" په لاس کي د ﴿لَا اِلَهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللهِ﴾ کلمه وايي.(¹)

## مړه زنانه ژوندی کېدل:

په "مواهب اللدنیه" کي لیکلي دي چي پیغمبرﷺ:

............دَعَا رَجُلًا إِلَى الْإِسْلَامِ﴾. یو سړی ته د اسلام دعوت ور کړی، هغه سړی په جواب کي ورته وايي:

............لَا أُؤْمِنُ بِكَ حَتَّى تُحْيِيَ لِيْ اِبْنَتِيْ﴾. تر هغه وخته پوري ایمان راوړلو ته تیار نه یم چي تر څو پوري زما مړه لور راته را ژوندۍ نه کړې، نو هغه سړی د اسلام راوړلو لپاره دا شرط لګوي، پیغمبرﷺ ورته وايي:

............ أَرِنِيْ قَبْرَهَا﴾. ماته یې قبر را ښکاره کړه، او ما یې قبر ته وروله.

چي کله پیغمبرﷺ قبر ته ور وستل سو، نو د قبر سر ته ولاړ دی، هغه زناني ته په دې الفاظو باندي آواز کوي:

............يَا فُلَانَةُ﴾. ای فلانکۍ! او د هغې نوم اخلي نو هغه زنانه د قبر څخه دا جواب ور کوي:

............لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ﴾. ای د الله رسوله! په خدمت کي حاضره یم، څه راته وایې؟ پیغمبر ورته وايي:

............أَتُحِبِّيْنَ أَنْ تَرْجِعِيْ إِلَى الدُّنْيَا﴾. ایا ته دا غواړې چي واپس دنیا ته راسې! او په دنیا کي د مور او پلار سره ژوند وکړې، نو هغه زنانه په جواب کي ورته وايي:

---

(¹) مواعظ ابراهیمي صفحه: ۱۴۳

.........لَا وَاللّٰهِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنِّيْ وَجَدْتُ اللّٰهَ خَيْرًا لِيْ مِنْ اَبَوَيَّ﴾.

ما خپل رب تر مور او پلار ډېر مهربانه پیدا کړی.

.........وَرَاَيْتُ الْاٰخِرَةَ خَيْرًا لِيْ مِنَ الدُّنْيَا﴾.

ما خپل آخرت د ځان لپاره تر دنیا ډېر خیر پیدا کړی، نو ته ما په دې خپل قبر کې پرېږده.

پیغمبر ﷺ بیا د هغې د مرګ خواست او دعاء وکړه، د پیغمبر ﷺ د دعاء په برکت هغه زنانه په خپل قبر کې پټه سوه.

یهودي چې کله دا واقعه ولیده ډېر حیران سو، او د ﴿لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ﴾ د کلمې اقرار یې وکړی، او د هغه مړې زنانې مور او پلار دواړه مسلمانان سوه، او زندګي یې د اسلام پر احکامو روانه کړه.(۱)

د پیغمبر ﷺ د اعجاز او روحاني فیض په برکت سره الله تعالی مړه انسانان ژوندي کول او بیا مړی د خپل مور او پلار د اسلام را وړلو سبب ګرځېدل دا ټول د الله تعالی په مشیت او اراده سره وه.

*حسن یوسف دم عیسی ید بیضا داری ★ آنچه خوبان همه دارند تو تنها داری*

نو د پیغمبر ﷺ جامع نبوت وو چې کمو انبیاء کرامو ته الله تعالی په کم شکل معجزات ور کړي وه، هغه ټول معجزات الله تعالی د پیغمبر ﷺ په ذات مبارک کې را جمع کړي وه.

(۱) المواهب اللدنية، باب حديث القصعة صفحه: ۲۹٦

الله تعالی دي مو د پیغمبرﷺ د فیض او برکت څخه محروم او بې نصیبه نه کړځوي.
الله تعالی دي دا څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

آمين يا رب العالمين

وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآية)

# د معجزاتو دوهم بیان

(بیان)

مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامہ ٹاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقریر | الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجی عبدالودود |
| اشاعت | اول |
| تاریخ | جمادی الاولی ۱۴۴۲ بمطابق ۲۴ جنوری ۲۰۲۱ |
| تعداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحیم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

وَقَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِنْ رِجَالِكُمْ وَلَكِنْ رَسُولَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ﴿إِنَّمَا بُعِثْتُ قَاسِمًا أَقْسِمُ بَيْنَكُمْ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمُ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمُ، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

## معجزه د الله تعالى فعل دى:

محترمو مشرانو! الله تعالى جل شانه د حضرات انبياء كرام علیهم السلام پر لاس باندي معجزه ښكاره كوي، دا په حقيقت كي د الله تعالى د قدرت اظهار دى، چي الله تعالى د خپل نبي صداقت پدې سره ښكاره كوي.

او معاشرې ته دا پيغام وركوي، چي دا زما رسول دى، او د دې تر شاه زما طاقت او نصرت دى، نو چي څومره معجزات دي دا ټوله د الله تعالى د قدرت ښكاره كولو دلائل او علامات دي.

پيغمبر ﷺ چي كم معجزات ښكاره كړيدي، د هغه شمار د اوو زرو (۷۰۰۰) څخه زيات دى، د ټولو څخه لويه معجزه قرآن كريم دى، دا د الله تعالى معجز كلام تر قيامته پورې د انسانانو لپاره د هدايت پيغام دى.

(۱) الاحزاب آيت نمبر ۴۰

(۲) مسلم شريف حديث ۷

چي د هر قسم تحریفاتو څخه محفوظ دی، او په هغه کي تیري سوي واقعات د عالم د
پیدائش څخه تر دې اوسه پوري پر صفا حقائقو باندي مشتمله ذکر سویدي، او د
راتلونکو واقعاتو وطرفته صحیح نښاندهي کونکی دی، چي د هغه د ادراکه څخه جن
و انس عاجزه دي.

او د هغه د فصاحت او بلاغت څخه د ټوله عالم د اطرافو فصحاء عاجزه دي، او تر
قیامته پوري به عاجزه وي.

د عربو کفارو په میدان معرکه کي هر قسم مقابلې وکړې، خپل سرونه يې پرې کړه،
خپلي زناني يې کونډي کړې، او خپل بچیان يې یتیمان کړه، او خپل ځانونه يې ټکره
ټکره کړه.

لیکن هغه پخپلو ژبو سره د څو کلماتو په ادا کولو د کلام الله مقابله نسوه کولای،
دوی د قرآن کریم غوندي بل کتاب یا د هغه د لسو (۱۰) سورتو یا د هغه د یو کوچني
سورة د جوړولو څخه علی الاعلان عاجزه راغله.

د دې څخه علاوه د پیغمبرﷺ نور معجزات بعضي معجزات د هواء متعلق، بعضي د
خورک متعلق او بعضي په غرو کي، بعضي په دریابو کي، بعضي په ځنګلو کې او
بعضي په جناتو کې ښکاره سوي دي.

در حقیقت دا د الله تعالی یو قدرت وو، چي پدې سره الله تعالی د خپل نبيﷺ مدد
کوی، او د دې معجزې ښکاره کول د الله تعالی په حضور کي څه مشکل کار نه وو.

## د معجزې معنی،

د معجزې معنی دا ده چي د هغې د پېښولو څخه عام انسانان عاجزه وي، او عام
انسانان يې نسي پېښولای، الله تعالی خپل کامل قدرت د خپل نبي پر لاس ښکاره
کوي، یعني د انبیاء کرامو څخه چي کم امور "خارق العادة" ښکاره کیږي هغو ته
معجزه وايي.

## د پیغمبرﷺ د گوتو څخه اوبه جاري کېدل،

په صحیحینو کي د حضرت جابرؓ څخه روایت دی، چي د "حدیبیې" پر مقام باندي صحابه کرامؓ ډېر زیات تږي سوه، د پیغمبرﷺ سره یوه لوټه اوبه ور سره دي، چي په هغه سره ذَی مبارک اودس کوي.

صحابه کراموؓ ورته وویل چي ای د الله رسوله! زموږ په لښکر کي د اوداسه او د چیښلو لپاره اوبه بالکل نسته، بس هغه اوبه دي، چي ستا په دې لوټه کي ستا د اوداسه کولو وروسته باقي پاته سویدَي.

پیغمبرﷺ خپل لاس مبارک په دې لوټه کي ونیوی، نو د پیغمبرﷺ د گوتو مبارکو څخه د یو چیني غوندي اوبه را جوشېدلې، ټولو صحابه کراموؓ په هغه اودس وکړی، او ښه یې وچیښلې.

د حضرت جابرؓ څخه یو چا پوښتنه وکړه، چي په لښکر کي په دې ورځ تاسو څومره انسانان واست! ده په جواب کي ورته وویل چي موږ څو پنځلس سوه (۱۵۰۰) انسانان وو، که چیري یو لک (۱۰۰۰۰۰) انسانان وای لا هم دا اوبه د هغو ټولو لپاره کافي کېدلې.

دا رنگه معجزه د حضرت موسیٰؑ د لاس څخه هم ښکاره سوه، چي هغه خپله "عصا" (لکړه) پر ډبره ووهله، چي د هغې څخه د اوبو چینې را ووتلې، لېکن د پیغمبرﷺ دا معجزه د حضرت موسیٰؑ د معجزې څخه افضله او قوي ده، ځکه عام طور عادتًا د ډبرو څخه اوبه را وځي، لکه، الله تعالیٰ په قرآن کي فرمایي،

......﴿وَإِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ الْأَنْهَارُ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ الْمَاءُ﴾.(۱)

بېشکه! بعضي ډبرې داسي وي، چي د هغو څخه د اوبو چینې را وځي او بعضي ډبرې سره وچاودل سي، د هغو څخه اوبه بهیږي.

(۱) البقرة آیت نمبر، ۷۴

لېکن د غوښي او پوست څخه اوبه راوتل په عادت کي هيڅکله نه وي، نو په دې وجه د پيغمبر ﷺ دا معجزه ډېر عجيبه وه، او دا د پيغمبر ﷺ د دې معجزې امتيازي شان وو. (۱)

په بخاري شريف کي د حضرت براء ابن عازب رضي الله عنه څخه روايت دی: چي موږ څوارلس سوه (۱۴۰۰) کسان په "حديبيه" کي د پيغمبر ﷺ سره ملګري وو، په "حديبيه" کي يو څاه وو، چي موږ به د هغه څخه اوبه را کښلې، آخر يو څاڅکی اوبه هم په هغه څاه کي پاته نسوې.

پيغمبر ﷺ ته حال ورسېدی، نو دَی راغلئ او د هغه څاه پر غاړه کښېنستی، په يو لوښي کي يې اوبه را طلب کړې، اودس يې وکړی، بيا يې په خوله ورغړولې او اودس يې وکړی او د خپلي خولې مبارکي اوبه يې په څاه کي واچولې، او ويل يې: تاسو لږ وخت دا څاه پرېږدئ!.

چنانچه لږ زمانه بعد هغه څاه دومره د اوبو را ډک سو، چي زموږ لښکر او د لښکر سوارليو په ډک نس سره وڅښلې او شل (۲۰) ورځي زموږ پر دغه ځای قيام وو، او موږ به پرله پسې د داغه څاه اوبه استعمالولې.(۲)

## د سفر تبوک عجيب او غريب معجزات:

د سيرت په کتابو کي ليکلي دي چي پيغمبر ﷺ د "تبوک" په سفر روان دی، ډېر اوږد سفر دی، نو يو ځل يې فرمايل: چي نن په شپه کي به يوه هواء راځي او يو سړی به هم د شپې په وخت کي د خيمې څخه د باندي نه وځي چي پر کم ځای باندي موږ کوچ وکړی، هلته به پخپلو خېمو کي شپه د ننه تېره وي.

دوهم دا چي سبا به موږ يو چينې ته رسېږو چي هلته به د چينې څخه يو يو څاڅکی اوبه را وزي، زما د راتلو څخه مخکي به هيڅوک هغه اوبو ته لاس نه وروړي.

---

(۱) خطبات کريم، جلد نمبر۱، صفحه نمبر۲۲۲

(۲) خطبات کريم جلد: ۱ صفحه: ۲۲۱

او بل دا چې هلته د يوې زناني باغ وو پر هغه باغ باندې مېوه وه، نو پيغمبر ﷺ وويل چې تاسو اندازه ولګوئ! چې دا مېوه به څومره وي، هر يوه خپله اندازه ولګوله په آخر کې پيغمبر ﷺ وويل: دا مېوه لس (۱۰) "وسقه" ده (يو وسق شپېته (۶۰) کاسې او يوه کاسه درې نيم کېلو وه) او هغه زناني ته يې وويل چې کله ته دا مېوه د درختو څخه را پرې کړې، نو هغه وتله او اندازه يې د ځانه سره معلومه کښېږده چې موږ واپس راسو نو يې موږ ته بيان کړه.

يا چې کله پيغمبر ﷺ د تبوک څخه واپس راتلی، نو هغه مېوه د درختو څخه شکول سوې وه، پيغمبر ﷺ د هغه زناني څخه پوښتنه وکړه، چې څومره مېوه وسوه نو هغه زناني ورته وويل پوره لس (۱۰) "وسقه" يعني چې څومره د الله تعالى نبي ﷺ ويلي وه.

او د کمې چينې څخه چې اوبه يو يو څاڅکی راوتلې، پيغمبر ﷺ صحابه وو ته وفرمايل: چې تاسو يو څه اوبه ځنې را جمع کړئ، او په لوټه کې يې واچوئ، چې کم از کم يو (۱) ځل يا دوه (۲) ځله په خوله رغوړل کيږي!.

چې کله صحابه وو ﷺ اوبه را جمع کړې، نو پيغمبر ﷺ "اسماء الحسنٰى" پر وويل او د الله تعالى څخه يې دعاء وغوښتل او خپل لعاب (لاړې) مبارک يې هم يو څه پکښې واچولې او صحابه وو ﷺ ته يې ور کړې، چې دا اوبه په هغه ځای کې توی کړئ، چې د کم ځايه څخه اوبه يو يو څاڅکی را وزي.

د اوبو په تويلو سره په داسې زور سره اوبه د هغه ځايه څخه را ووتلې چې توله صحابه کرام ﷺ ورته حيران دي، اوس دېرش يا پنځه دېرش زره لښکر دی، او د دې څخه زيات هم بعضې د سيرت کتابو ذکر کړيدي، د دوی اوښانو او آسانو اوبه وڅښلې او عام طور په ګرمۍ کې اوبه ډيرې چيښل کيږي او خپلې مشکيزې او لوښي يې په ډک کړل او بيا ور باندې ولمبېدل، لېکن اوبه هغسې په زور را رواني وي.

## د درختي کلمه ویل او د پیغمبر ﷺ تصدیق کول:

پیغمبر ﷺ ولاړ دی، چې یو اعرابي راغلی، هغه ته پیغمبر ﷺ ډېر نصیحتونه وکړل او ورته وایي: ای سړیه! نیک اعمال کوه او د ټولو نیکو اعمالو څخه لوی عمل تاته دروښیم؟ هغه ورته وویل: ضرور یې را وښیه!

نو پیغمبر ﷺ اول خپل نبوت ورته پیشوي او وروسته د دعوت په شکل ورته وایي: ﴿لَا اِلَهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ﴾ کلمه ووایه دا د ټولو نیکواعمالو څخه لوی نیک عمل دی.

هغه "اعرابي" ورته وایي: چې ای سړیه! ستا پر دې خپل نبوت او ستا د رب پر وحدانیت څه شاهد او دلیل در سره سته؟ چې هغه ستا پر نبوت او ستا د رب پر وحدانیت شاهدي ادا کړي.

نو لیري یوه درخته ولاړه وه پیغمبر ﷺ هغه درختي ته اشاره وکړه، نو هغه درخته یو طرف او بل طرفته کږېږي خپلي ريښې پرې کوي، او بیا په مځکه کي را روانه سوه مځکه سره څیري او د پیغمبر ﷺ مخ مبارک ته حاضره سوه.

پیغمبر ﷺ ورته وایي: چې د الله تعالی د وحدانیت او زما د رسالت شاهدي پیش کړه، هغه درخته او د هغې ټوله ښاخونه کلمه شروع کوي، چې کله هغه اعرابي دا ولیدل نو دا وایي:

چې اوس زه سیده کورته ځم او د کورو انسانانو ته د کلمې ويلو دعوت ورکوم، او بیا د خپلو بچیانو سره تاته راځم، که هغه را سره را نسي، نو زما باقي ژوند به ستا سره تېرېږي. (۱)

دا رنګه یو بل "اعرابي" ولاړ دی، پیغمبر ﷺ د کلمې دعوت ور کوي، نو هغه دلیل غواړي مخته د خورما پر درخته د خورما وږی دی، هغه وږی د درختي څخه را

(۱) خطبات کریم جلد ۱، صفحه: ۲۲۷

وشکېدی، او د پیغمبر حضور ته راغلی، او د پیغمبرﷺ د نبوت شهادت یې پېش کړی، او بیرته په هوا کې ولاړی، پر خپل ځای باندې و موښتی.

خو دا د الله تعالی کامل قدرت دی، دا قدرت الله تعالی د هر چا پر لاس نه ښکاره کوي صرف د انبیاء کرامو د مدد او نصرت لپاره یې ښکاره کوي.([1])

## د کوچنی بزې په تیو کې شیدې راتلل:

حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه د "عقبه بن ابي معیط" کافر پسونه کوري او د هغه شپانه دی، حضرت ابو بکر رضی الله عنه او پیغمبرﷺ په لاره کې تېرېږي، نو د شپانه (حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه) څخه پوښتنه کوي چې ستا په پسو کې شیدې سته؟ زموږ ورته ضرورت دی.

هغه په جواب کې ورته وایي: چې شیدې خو پکښې سته لېکن ﴿اَنَا مُؤْتَمِنٌ﴾ زه خو امین، محافظ او شپانه یم، او دا پسونه زما په ملکیت کې نه دي، او نه زه د دې اختیار لرم.

پیغمبرﷺ ورته وایي: چې په دې پسو کې داسې پسه سته چې هغه تر اوسه پورې بچي نه وي پیدا کړي، او نه د شیدو لائق وي؟

نو دوی ته نژدې د بزې بچی (سېرله) ولاړه ده، پیغمبرﷺ هغه را ونیوله او یو څه کلمات طیبات یې ور باندې وویل، نو د هغې غولانځه غټېده غټېده او د شیدو څخه ډکه سوه، د الله نبيﷺ هغه شیدې وچیښلې حضرت ابو بکر رضی الله عنه هم وچیښلې بیا یې هغه غولانځې ته وویل: چې ټوله سه او خپل ځای ته ځان ورسوه، هغه غولانځه چې مخکې څنګه وه وروسته بیا هم هغسې سوه.

حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه چې کله دا ولیدل نو ډېر حیران سو، او پیغمبرﷺ ته وایي: چې دا کلمات ماته هم را وښیه، چې اوس تا پر دې بزې باندې وویل:

---

([1]) خطبات کریم جلد: ۱ صفحه: ۲۲۶

پیغمبرﷺ د ده د غوښتنې په بدله کې دا دعاء ورته کوې اې الله! ده ته د پرلوی علم او فضل ورپه نصیب کړه!.

د پیغمبرﷺ د هغه دعاء برکت وو، چې حضرت عبدالله ابن مسعودؓ د قرآن کریم اولس (۱۷) سورتونه پخپله د پیغمبرﷺ د خولې مبارکې څخه زده کړل چې کله به پیغمبرﷺ ویل ده به هم ورسره ویل نو ځکه په روایاتو کې راځي:

پیغمبرﷺ به عامو صحابه کرامو ته دا وصیت کوی: که تاسو قرآن وایاست! نو د حضرت عبدالله ابن مسعودؓ پر طرز او طریقه یې وایاست.

نو حضرت عبدالله ابن مسعودؓ وایي: چې زه بطور "تحدیث بالنعمة" دا وایم چې د قرآن کریم کم آیت په کم ځای کې را نازل سویدی، او څه معنی یې ده، د الله تعالی شکر دئ، زه هغه پېژنم او کچیري ماته دا معلومه سي، چې د فلانکي سړي سره د یو آیت په باره کي تر ما ډېر معلومات سته، نو زه به ضرور هغه ته ورځم او د هغه څخه به معلومات اخلم او پدې کي زه څه عار او شرم نه محسوسوم.(۱)

## د شترمرغ په هګیو کې د پیغمبرﷺ معجزه:

یو صحابي حضرت عبدالله حارثيؓ وایي: چې ما دا واورېدل، چې د الله تعالی نبيﷺ د یو غزا څخه واپس را روان دی، او پر دې لاره تېرېږي، نو زما سره د "شُتَرمرغ" یو څو هګۍ پرتې وې، هغه مې په اوبو کې وایشولې، او پخې مې کړې، او په یو لوښي کي مې ورورې، لس (۱۰) هګۍ وې یا شل (۲۰) وې، یا هر څومره چې وې.

د الله نبيﷺ ته مې وویل: چې دا مې ستا لپاره را وړي دي، نو پیغمبرﷺ صحابه کرامو ؓ ته وایي: چې یوه یوه هګۍ در واخلئ! زه اوس حیران یم، چې هګۍ خو ډیري کمي دي، چې هر سړی یوه یوه اخلي، نو د پیغمبرﷺ لپاره به څه پاته نسي.

په لښکر کي اته سوه (۸۰۰) صحابه کرامؓ وه، هر یوه یوه هګۍ یعني اته سوه (۸۰۰) هګۍ واخیستې د الله نبيﷺ هم واخیسته.

(۱) خطبات کریم جلد: ۱ صفحه: ۲۲۷

ما چې څومره هګۍ ورته را وړي وې په آخر کې هغه ټولې زما په لوښي کې و ماته را پاته سوې، هغه مې بیرته خپل کور بچیانو لره راوړې، نو دا ټول معجزات د الله تعالی د کامل قدرت اظهار او ښکاره والی وو.(۱)

## د شیدو متعلق معجزه:

حضرت ابو هریره ﷺ ته یو ځل د لوږې ډېر سخت تکلیف وو، دی مبارک وایي: چې د پیغمبر ﷺ حجرې مبارکې ته راغلم اتفاقًا پدې وخت کې د پیغمبر ﷺ خدمت ته یو پیاله "شیدې" د یو کوره څخه په هدیه کې راغلې وې.

حضرت ابو هریره ﷺ وایي چې ما کله دا "شیدې" ولیدلې نو په زړه کې مې دا راوګرځېده چې دا "شیدې" به پیغمبر ﷺ ضرور ماته راکوي، نو زه ډېر خوشحاله سوم.

لیکن پیغمبر ﷺ حضرت ابو هریره ﷺ ته وایي: چې مسجد ته ورسه "اصحاب صفه" یعني مسکینان صحابه کرام ﷺ ټوله را وبوله.

حضرت ابو هریره ﷺ وایي چې ما پدې خپل زړه کې وویل: چې ای زما کم نصیبی یوه پیاله د شیدو ده او پر هغه باندي دومره انسانان راځي، نو اوس خو به ماته هیڅ هم را پاته نسي.

لیکن د پیغمبر ﷺ حکم پر ځای کول د خپل ځان د حفاظت څخه مقدم او ضروري وه نو زه راغلم ټول اصحاب صفه صحابه کرام ﷺ مې د مسجد نبوي څخه را وبلل.

په بعضي روایاتو کې راغلي دي: چې په دې وخت کې د هغوی تعداد څلور سوه (۴۰۰) وو، نو هغه شیدې یو سېر یا سوا سېر ته نژدې وې، پر هغه باندي څلور سوه (۴۰۰) صحابه کرام را جمع سوه.

پیغمبر ﷺ حضرت ابو هریره ﷺ وایي: ته دا پیاله یو یو صحابي ته ورکوه، چې کله هغه په موړ سي بیا یې دوهم ته ورکوه او پدې شکل دا پیاله په ټولو وګرځوه.

(۱) خطبات کریم جلد: ۱ صفحه: ۲۲۹

حضرت ابو هریره ﷛ وایي: چي ما پدې خپل زړه کي دا ویل: چي دا شیدې خو ډېري لږ دي، نو یو انسان به ټولي وچیښي لېکن د پیغمبر ﷺ په مخکي څه ویل د هغه زما سره توان او طاقت نه وو.

نو د پیغمبر ﷺ د حکم مطابق هغه د شیدو پیاله مي اول یوه صحابي ته ور کړه، چي کله هغه موړ سو، نو دوهم ته مي ور کړه چي کله هغه هم موړ سو، نو دریم ته مي ور کړه، آخر څلور سوه (۴۰۰) صحابه کرام ﷡ ټول ماړه سوه، مگر په هغه پیاله کي هغو مره شیدې موجودې وې.

حضرت ابو هریره ﷛ وایي: خدای خبر چي د غیبو څخه "شیدې" راتلې یا د جنت د نهرو څخه راتلې، چي په دې مقدار "شیدې" و خوړل سوې، مگر پیاله هغسي ډکه وه.

چي کله ټول انسانان سره ولاړل نو پیغمبر ﷺ حضرت ابو هریره ﷛ ته ور کړه، او درې ځله یې دا تاکید ورته وکړئ، چي ښه یې وچیښه! او خپل ځان پوره ور باندي موړ کړه.

چي کله د حضرت ابو هریره ﷛ نس مبارک ډک سو، نو پیغمبر ﷺ پخپل لاس کي هغه پیاله ځني واخیسته، او په "بِسْمِ اللهِ" سره یې وچیښله، چي کله پیغمبر ﷺ موړ سو، نو د هغه څخه وروسته د هغه پیالې شیدې ختمي سوې.[1]

## د استوانه حنانه معجزه:

پیغمبر ﷺ چي کله د هجرت په شکل مدیني منورې ته راغلی، نو پیغمبر ﷺ هلته جمعه قائمه کړه، او د جمعې لمونځ ئې شروع کړی.

په روایاتو کي راځي: چي کله به پیغمبر ﷺ د جمعې په ورځ خطبه ویله:

............يَقُومُ إِلَى أَصْلِ شَجَرَةٍ أَوْ قَالَ إِلَى جِذْعٍ﴾. نو ده به په مسجد کي ولاړ د خورما وچي تنې ته خپله شاه مبارکه لګولې وه.

---

(۱) خطبات کریم جلد: ۱ صفحه: ۲۲۹

......ثُمَّ اتَّخَذَ مِنْبَرًا﴾. آخر يوې انصاري زنانې پيغمبرﷺ ته وويل کچيري ته اجازت را کوې نو زما د نجارۍ کار زده دی، نو زه به ستا لپاره يو منبر جوړ کړم، بيا به ته په مسجد کي پر هغه باندي خلکو ته خطبه پېشوې! تاته به هم آساني وي او ټول صحابه کرام به هم په آسانه طريقه ستا ديدار کولای سي.

چي کله پيغمبرﷺ اجازت ور کړی، نو هغه زنانه ولاړه او دوې (۲) درې (۳) ورځي وروسته د درو (۳) ځينو والا منبر جوړ کړی را وړی، او د پيغمبرﷺ په خدمت کي يې پيش کړی، پيغمبرﷺ هغه منبر قبول کړی، او پر هغه يې د خطبې ويلو اراده وکړه، چي کله اوله جمعه پيغمبرﷺ د حجرې مبارکې څخه مسجد ته د خطبې ويلو لپاره راغلی، نو هغه د خورما زړه درخته يې پرېښوله او پر منبر کښېنستی.

............قَالَ فَحَنَّ الْجِذْعُ قَالَ جَابِرٌ حَتَّى سَمِعَهُ أَهْلُ الْمَسْجِدِ﴾.

چي کله پيغمبرﷺ خطبه شروع کوله، نو د هغه وچي درختي څخه د ژړا آوازونه را پورته کېدل او چيغې يې وهلې چي په ټوله مسجد کي دغه آوازونه اورېدل کېدل، لکه: د لسو (۱۰) مياشتو بچی د اوښي چي د خپلي موره څخه جلا سي، نو د هغه مور د هغه په جدائي کي ژړا کوي.

............حَتَّى أَتَاهُ رَسُولُ اللّٰهِﷺ فَمَسَحَهُ فَسَكَنَ﴾.

پيغمبرﷺ چي کله د هغه درختي ژړا واورېدله نو د منبره څخه را شوه سو، او راغلی، هغه درخته يې په غېږ پوري ونيوله او هغې ته يې تسلي ور کړه او هغه يې چپ کړه، او صحابه کرامو ته يې وويل:

............وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِيْ! لَوْ لَمْ اَلْتَزِمْهُ لَحَنَّ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ﴾.[1]

زما دي د الله په ذات قسم وي! کچيري ما دا درخته پخپل زړه پوري نيولې نه وای نو د دې ژړا به د قيامت تر ورځي پوري جاري وای.

مولانا رومرحمة الله عليه په مثنوي شريف کي د دې معجزې متعلق دا اشعار ليکلي دي:

---

[1] ابن ماجه: حديث نمبر ۱۴۱۷

استنی حنانه در ہجر رسول ★ ناله میزد ہمچو ارباب عقول

وچي درختي د پيغمبر ﷺ په فراق کي د ذوی العقولو يعني انسانانو غوندي ژړا کوله.

در تحیر مانده اصحاب رسول ★ کز ندامینالد ستون با عرض طول

گفت پیغمبر چه خواہی ای ستون ★ گفت جانم از فراقت گشت خون

صحابه کرامو ﷺ چي کله د هغې ژړا اوريدله نو په ډېر په حيرت کي سو، پيغمبر ﷺ ورته وايي: چي اى درختي! ولي ژاړې؟

از فراق تو مرا چون سوخت جان ★ چون ننالم بینوائے جان جان

مسندت من بودم از من تاختی ★ بر سر منبر تو مسند ساختی

نو هغه درخته په جواب کي ورته وايي: چي ستا د فراق په وجه باندي زه ژړا کوم اول به دي ماته تکيه کوله، اوس زما څخه د منبر طرفته ولاړې.

پس رسولش گفت کائے نیکو درخت ★ ای شده با سر تو ہمراز بخت

گر ہمی خواہی ترا نخلے کنند ★ شرقی و غربی تو میوه چنند

یا در آن عالم حقت سروے کند ★ یا تر و تازه بمانی تا ابد

پيغمبر ﷺ هغه درختي ته تسلي ورکوي، کچيري ستا زړه دا غواړي چي په دنيا کي سرسبزه درخته سې او تا د نيا دي مېوه خوري يا دي زړه غواړي چي د جنت يو درخته سې چي اولياء خورک در څخه کوي، لېکن د دنيا سرسبزه کېدل دا پاني دي او د آخرت سرسبزه کېدل باقي دي، ته خپله خوښه پېش کړه چي څه غواړې؟

گفت آن خواہم که دائم شد بقایش ★ بشنواے غافل کم از چوبے مباش

نو هغه درخته ورته وايي چي هغه غوارم چي په هغه کي بقاء وي يعني د آخرت سر سبزي او زندګي غوارم، چي د الله دوستان همېشه زما مېوه خوري.

په آخر کي مولانا روم رحمة الله عليه انسان ته دا وايي: چي ای غافله انسانه! يو وچ لرګي د ځان لپاره تر دنيا آخرت خوښ کړی، او تر دي فاني يې باقي زندګي خوښه کړه، ته عاقل انسان يې لېکن دومره په غفلت کي روان يې، چي ټوله زندګي دي پر يو فاني او ژر ختمېدونکې زندګي باندي بربادېږي.

پيغمبر ﷺ هغه درخته د هغه ځايه ځخه وکښه بيا يې د منبر شريف ومخته "دَفن" او ښخه کړه.(¹)

## دورېښتانو متعلق معجزه:

چي کله د صحابه کرامو ﷺ لښکر د شام په فتحه کولو پسي روان دی، او هلته د روميانو د لښکره سره مقابلې دي، نو يوه ورځ بطور تفريح حضرت خالد ابن وليد ﷺ د لسو (۱۰) صحابه کرامو ﷺ سره يو طرفته وتلی دی، چي يو دم د شپېتو زرو(۶۰۰۰۰) عسايانو په محاصره کي راغلی.

چي کله د روميانو لښکر ور باندي را ټول سو، نو دوی يې پخپله ګېره کي داسي راخيستل، صحابه کرام ﷺ د خپل ځان حال بيانوي:

......... كَشَعَرَةٍ بَيْضَاءَ فِي جِلْدِ ثَوْرٍ أَسْوَدَ﴾.

موږ داسي وو لکه: د تور غوايي په بدن کي سپين وېښته.

صحابه کرام ﷺ وايي: چي و موږ ته د آسانو د پښو د ګردو ځخه علاوه نور هيڅ په نظر نه راتلل او د تورو چلولو بغير نور په هيڅ نه پوهېدو، تر دي حده پوري چي زموږ لاسونه شل سوه او بدنونه مي ستړي او وس او طاقت مي تمامېدو ته نژدې سو.

بعضي صحابه کرامو ﷺ د جنګ په دوران کي حضرت خالد بن وليد ﷺ ته وويل: چي ای خالد! نن به موږ رخصت سره واخلو او يو و بل ته به معافي سره وکړو، ځکه نن

(¹)مواعظ ابراهيمي افضل المواعظ: صفحه نمبر ۱۳۴

شاید زموږ د ژوندګۍ آخره ورځ ده، او زموږ مرګ یقیني دی؛ ځکه موږ لس (۱۰) یو او دښمن د شپېته زره (٦۰۰۰۰) څخه هم زیات دی، او موږ د دوی په درمیان کې را ګېر یو د وتلو لار مو نسته.

حضرت خالد بن ولید ﷺ چې کله دا واورېدل نو ورته وایي: چې ای خلګو! پر الله تعالی بروسه وکړئ، او مه وار خطا کېږئ، زما سره د پېغمبر ﷺ تبرک را سره دی، او چې کله او کم وخت زما سره هغه تبرک وي، زه په جنګ کې ضرور غالبه کېږم.

صحابه کرام ﷺ پوښتنه ځني کوي، چې ای خالده! هغه تبرک څه دئ، حضرت خالد ﷺ ورته وایي: چې زما د سر په خولۍ کې د پېغمبر ﷺ د سر مبارک یو څو وړېښتان دي. ما ډېر ځله تجربه کړېده، چې کله هغه خولۍ زما سره وي، نو هیڅکله زه مغلوبه سوی نه یم.

حضرت خالد بن ولید ﷺ چې کله خپل سر ته لاس وروړی، نو که ګوري هغه خولۍ په قضاء الهي سره د حضرت خالد بن ولید ﷺ څخه په خېمه کې پاته سوېده، او دی بغیر د هغه خولۍ څخه د سیر او تفریح په نیت را وتلی دی.

چې کله د حضرت خالد بن ولید ﷺ پر سر باندي هغه خولۍ په لاس نه ورغله نو د ده په ملګرو کې یو قسم خاموشي او وار خطائي راغله، دی مبارک ملګرو ته وایي: چې ای ملګرو! نن شاید زموږ قضاء د مرګ را رسېدلې ده، ځکه د فتح او نصرت لویه ذریعه د پېغمبر ﷺ هغه وړېښتان چې زما په خولۍ کې وه، هغه زما سره موجود نسته افسوس چې هغه زما څخه په خېمه کې هېر سویدي.

لېکن اوس پر شاه باندي د تللو موقعه نه ده، مناسب دا دی: چې تر څو پوري په بدن کي توان او طاقت وي، د دښمنه سره مخامخ وجنګېږئ! او په دلاوري سره خپل شهادت ته ځان ورسوئ، دا معرکه تیک د غرمې په وخت کې وه.

په دې وخت کې حضرت ابو عبیده ﷺ د لښکر امیر دی، او حضرت خالد بن ولید ﷺ د لښکر جنګي قمندان دی، حضرت ابو عبیده ﷺ پخپل لښکر کې آرام کوي، یو دم د غیبو څخه آواز راغلی: چې ای ابو عبیده! ته آرام کوې او حضرت خالد بن ولید ﷺ د

کفارو په مابین کي محاصره دی، بیداره سه! ډېر ژر د هغه مدد ته ځان ورسوه، چي کله بې دا واورېدل حضرت ابو عبیده ﷺ را وغورځېدی، او په لښکر کي یې نعره کړه، او لښکر ته یې د کوچ کولو حکم وکړی، او ورته وایي: ای خلکو! ژر در ځئ! حضرت خالد بن ولید ﷺ د خپلو لسو (۱۰) ملګرو سره د شپېتو زرو (۶۰۰۰۰) رومیانو په محاصره کي دی او د شهادت مقام ته سره د خپلو ملګرو ډېر نژدې سوی دی.

لښکر چي کله دا آواز واورېدی، نو ټول لښکر کمربسته سو او د حضرت خالد بن ولید ﷺ پر طرف روان سو. حضرت ابو عبیده ﷺ چي کله وکتل نو یو څو سواره "نقاب پوش" د لښکره څخه مخکي مخکي په ډېره منډه روان دي.

حضرت ابو عبیده ﷺ خپلو ملګرو ته وایي چي دا "نقاب پوش" سواره را وګرځوئ! او پوښتنه ځني وکړئ! چي څوک یاست او چیري ځئ! چي کله مجاهدینو هغه سواره را وګرځول، حضرت ابو عبیدة ﷺ ته یې راوستل، نو په هغو کي یو سپور حضرت ابو عبیده ﷺ ته نژدې راغلی، دی پوښتنه ځني کوي چي تاسو څوک یاست؟

نو هغه په جواب کي ورته وایي: ای د مسلمانانو امیره! زه د حضرت خالد بن ولید ﷺ د کور زنانه یم او دا زما ملګري او سهیلیاني دي، چي کله مونږ ستا آواز واورېدی، چي حضرت خالد بن ولید ﷺ محاصره دی، نو مونږ د هغه مدد ته ځان رسوو، حضرت ابو عبیده ﷺ چي کله دا واورېدل ورته وایي: چي د لښکر تر شاه راځئ، او یوائي مه ځئ. د حضرت خالد بن ولید ﷺ بي بي ورته وایي: چي زما یو ضروري کار دئ، نو ځکه زه د مخه ځم. دی پوښتنه ځني کوي چي هغه څه کار دئ؟

د حضرت خالد بن ولید ﷺ بي بي ورته وایي ای امیره! چي کله تا دا آواز وکړی، چي حضرت خالد بن ولید ﷺ د شپېتو زرو (۶۰۰۰۰) کفارو په محاصره کي دی، ما د ځانه سره دا ویل چي حضرت خالد بن ولید ﷺ که د شپېتو لکو (۶۰۰۰۰۰) کفارو په محاصره کي راسي، نو لا به هم فتحه د ده په نصیب وي، ځکه د ده په خولۍ کي د پیغمبر ﷺ د تندي څو مبارک وربښتان دي، چي د هغه په برکت به فتحه ضرور د ده په نصیب کیږي.

لښکن چي کله ما پخپله خېمه کي وکتل، نو ما دا ولیدله چي د حضرت خالد بن ولید ﷺ هغه مبارکه د سر خولۍ په خېمه کي ځني پاته سوې وه، نو دا مي یقین سو، چي خالد به نن ژوندی خپل کور ته را نسي، په دې فکر باندي زه پر آس سپره سوم، او هغه د "خالد" خولۍ مي را واخیسته او ده ته مي درسولو عزم او قصد کړی دی، چي شاید کچیري د ده په نصیب کي نور ژوند وو، نو زه به دا تبرک تر حضرت خالد بن ولید ﷺ پوري رسوم.

د دې لږ خبرو ځخه وروسته هغه د حضرت خالد بن ولید ﷺ زنانه د کفارو د لښکر طرفته په منډه ورغله چي کله لښکر ته ور ننوځي نو د ګرد او غبار بغیر نور ځه نه ور معلومیږي صرف په دې غبار او دوړو کي د تورو د چلېدو ږغ او برېښناوي دي. نو د حضرت خالد بن ولید ﷺ د کور زنانه د جنګ مابین ته ور شوه سوه، چي کله لښکر ته دننه ورغله نو د حضرت خالد بن ولید ﷺ د الله اکبر آواز یې واورېدی، او په ډېر تلواریې ځان ورورسوی، او هغه مبارکه خولۍ یې د حضرت خالد بن ولید ﷺ پر سر باندي کښېښوله.

چي کله هغه خولۍ د حضرت خالد بین ولید ﷺ پر سر باندي کښېښول سوه، نو د هغې ځخه یو برېښنا پورته سوه چي په ټوله مځکه او آسمان کي سره وغورېدله او د هغه برېښنا ځخه د کفارو پر سترګو تاریکي راغله هغه د میدانه ځخه په ماتې وتښتېدل، نو په یو ګړي کي د مسلمانانو لښکر هم د حضرت ابو عبیده ﷺ په مشري کي هلته را ورسېدی، نو بیا یې ډېر کفار قتل کړل او کفار په تېښته د میدان جنګ ځخه ولاړل او فتح د مسلمانانو د لښکر په نصیب سوه.(۱) نو چي د کم مبارک نبي په وریښتانو کي دومره برکت ایښول سویدی، نو نه معلوم چي د هغه په ذات کي به کم قسم برکتونه الله تعالیٰ ایښي وي، الله تعالیٰ دي موږ د ده د برکتو ځخه محروم او بې نصیبه نه کړځوي. (آمین یا رب العالمین)

وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

(۱) مواعظ ابراهیمي صفحه، ۱۴۱

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللّٰهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآیہ)

# اخلاق حسنہ

(بیان)

مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبہ سلطانیہ الہاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقـــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كـليم الله صاحب |
| مقـــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاريـــخ | جمادي الاولى ۱۴۴۲ بمطابق ۲۴ جنوري ۲۰۲۱ |
| تـعـــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

وَقَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ﴾.[1]

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ﴿إِنَّمَا بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الْأَخْلَاقِ﴾.[2]

فَاقَ النَّبِيِّينَ فِيْ خَلْقٍ وَ خُلُقٍ★وَلَمْ يُدَانُوهُ فِي عِلْمٍ وَلَا كَرَمٍ

لَمْ يَخْلُقِ الرَّحْمٰنُ مِثْلَ مُحَمَّدٍ★اَبَدًا وَ عِلْمِيْ اَنَّهُ لَا يَخْلُقُ

نَفْسِيَ الْفِدَاءُ لِمَنْ أَخْلَاقُهُ شَهِدَتْ★بِاَنَّهُ خَيْرُ مَوْلُوْدٍ إِلَى الْبَشَرِ

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## د اخلاق عظیمه وو ګواهي:

محترمو سامعینو! الله تعالی د "سورة القلم" په دې مختصر آیت کې د پیغمبر ﷺ و اخلاق عظیمه وو ته اشاره کړېده، چې ای پیغمبره! ته د اخلاق عظیمه وو مالک یې.

---

(۱) القلم آیت نمبر: ۴

(۲) خاتم النبیین ﷺ حدیث، ۱۳۴

په دې جمله کې د الله تعالى د ډيرو تاکيداتو سره لفظ د "على" ذکر کړيدی، چې په هغه کې و دې طرفته ښکاره اشاره ده: چې اخلاق ستا تابع دي، او وتاته پر ټولو اخلاقو باندي مکمله احاطه حاصله ده.

ستا څخه مخکې چې په انبياء کرامو کې کم صفات حميده راغلي وه، هغه ټول په يوائې ستا په ذات کې موجود دي، د هر نبي په يو خاص صفت سره الله تعالى ته آراسته او مشرف کړی يې.

## د اخلاقو مراتب:

عام طور اخلاق حسنه ديري مراتبي لري:

۱. د اخلاقو حسنه وو يوه مرتبه داسي ده: چي هغه يهوديانو ته ور کول سوېده، چې هغه ته "اخلاق حميده" وايي: چې تاسو به د خلکو سره د برابرۍ معامله کوئ:

..........أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ﴾.(۱) د نفس په بدله کې نفس او د سترگې په بدله کې سترگه، د دې مطلب دا دی: چې څومره تکليف تاته ورسول سو د خپلي بدلې اخيستو لپاره ته هم هغه چاته هغومره تکليف رسولای سې، البته د هغه څخه زيات تکليف نسې رسولای.

۲. د اخلاقو حسنه وو يوه مرتبه عسويانو ته هم ورکول سوېده، د دوی اخلاق د يهودو د اخلاقو څخه يو څه لوړه مرتبه لري، چې هغه ته "اخلاق کريمانه" وايي.

هغه اخلاق دا دي: چې کچيري تاته يو چا تکليف ورسوی، ته به د هغه سره د معافى معامله کوې، نو څکه د نصاراوو واعظينو چي به نصاراوو ته وعظ

---

(۱) المائده آيت نمبر: ۴۵

کوی، نو دا به یې ورته ویل: کچیرې یو چا ته د مخ پر یوه حصه په څاپېړه ووهلې ته به د مخ دوهم رخسار د هغه و حضور ته پېشوې، دا دوی د اخلاقو ډېره لویه مرتبه بلله.

۳. د اخلاقو حسنه وو یوه مرتبه "امت مسلمه" ته هم په نصیب ورغلې ده، چې هغه ته "اخلاق عظیمه" وايي: لکه الله تعالی په قرآن کریم کې د دې امت د نبي اخلاق ذکر کوي، چې ای زما محبوبه!

............وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ﴾.(۱) ته پر ډېرو لویو اخلاقو باندې یې.

او لوی اخلاق دا دي:

............فَاعْفُ عَنْهُمْ﴾. ته دوی ته معافي کوه.

............وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ﴾ او د الله تعالی په دربار کې د دوی لپاره مغفرت غواړه.

............وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ﴾.(۲) او پخپلو مشورو کې یې شامله وه.

یعني چې کله د یو مسلمان وروره څخه غلطي وشوه صرف دا نه چې د هغه غلطي معافول بلکه د هغه لپاره د الله تعالی په دربار کې استغفار او بخښنه غوښتل او چې د ده کم پخوانی تعلقات وه، هغه تعلقات هغسې جاري ساتل، او هغه پخپلو مشورو کې شاملول، دا د دې امت "اخلاق عظیمه" بلل سویدي.

## د اخلاق عظیمه وو معنی:

د دې آیت متعلق صحابه کرامو ﷺ یو ځل د حضرت "عائشې" مبارکې څخه پوښتنه وکړه، چې الله تعالی خو پیغمبر ﷺ ته "اخلاق عظیمه" ور کړي وه، او په خپل

(۱) القلم آیت نمبر: ۴
(۲) آل عمران آیت نمبر: ۱۵۹

آسماني کتاب کي يې د هغه ذکر هم کړی دی، ايا د پيغمبرﷺ "اخلاق عظيمه" څه وه؟

حضرت "عائشه" مبارکه ورته وايي:

......... كَانَ خُلُقُهُ الْقُرآنَ﴾.(۱)

يعني قرآن کريم د ابتداء څخه بيا تر انتهاء پوري ټوله د ده "اخلاق عظيمه" وه، چي قرآن کريم به کم شی خوښ کړی وو، پيغمبرﷺ به "طبعًا" هغه شی خوښوی.

او چي قرآن کريم به کم شی ناخوښه بللی وو، بيا به پيغمبرﷺ "طبعًا" هغه شی ناخوښه بالی.

لکه: يو شاعر د ده د اخلاقو په شان کي دا قصيده را نقل کوي:

نَفسِيَ الْفِدَاءُ لِمَنْ أَخْلَاقُهُ شَهِدَتْ★بِأنَّهُ خَيْرُ مَوْلُوْدٍ اِلَى الْبَشَرِ

زما نفس دي پر هغه چا قربان وي، چي د ده اخلاق د افضليت ګواهي ورکوي، چي دی بهتره د زيږيدل سوو انسانانو دی.

لَمْ يَخْلُقِ الرَّحْمـٰنُ مِثْلَ مُحَمَّدٍ★اَبَدًا وَ عِلْمِيْ اَنَّهُ لَا يَخْلُقُ

الله تعالی د محمد رنګه نه څوک پيدا کړی دی، زما علم دا دی: چي نه به بل پيدا کړي.

فَاقَ النَّبِيِّيْنَ فِيْ خَـلْقٍ وَ خُلُقٍ★وَلَمْ يُدَانُوهُ فِي عِلْمٍ وَلَا كَرَمٍ

تر نبيانو په خلقت او اخلاقو کي بالا دی، او نه به انبياء د ده علم او کرم ته ورسيږي.

---

(۱) شرف المصطفی، باب ما اعطی النبيﷺ صفحه، ۲۵۰

شیخ عبدالحق محدث دهلوي رحمة الله علیه په "مدارج النبوة" کي د پیغمبر ﷺ اخلاق عظیمه په دې حدیث کي بیان کړي دي؛

.........أنَّ النَّبِيَّ ﷺ لَمَّا نزَلَتْ عَلَيْهِ هَذِهِ الْآيَةُ، سَأَلَ جِبْرِيلَ علیه السلام عَنْ تَأْوِيلِهَا﴾.

چي پیغمبر ﷺ د اخلاق عظیمه وو په باره کي په خپله د حضرت جبرائیل علیه السلام څخه پوښتنه کړېده.

.........فَقَالَ لَهُ: حَتَّى أَسْأَلَ الْعَالِمَ﴾.

حضرت جبرائیل علیه السلام ورته وایي: چي زه به د دې معلومات د زیات علم لرونکي ذات څخه وغوارم، و دربار الهي ته د تللو څخه وروسته چي واپس راغلی، نو:

.........فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ﴾ ورته وایي: ای محمده!

.........إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكَ أَنْ تَصِلَ مَنْ قَطَعَكَ، وَتُعْطِيَ مَنْ حَرَمَكَ، وَتَعْفُوَ عَمَّنْ ظَلَمَكَ﴾.

اخلاق عظیمه دا دي: چي الله تعالی ته په دې امر کړی یې، چي ته به د قریبانو سره وصله رحمي کوې، او چي کم څوک ستا څخه مخ اړوي هغه ته به ته مخ وراړوې، او چي کم چا ستا سره ظلم وکړی، د هغه په بدل کي به ته معافي ورته کوې.

## د پیغمبر ﷺ اخلاق حسنه:

حضرت "عائشه" مبارکه فرمایي: چي پیغمبر ﷺ هیڅکله هم یو غلام یا مینځه نده وهلې، او نه یې د خپل ذات پخاطر د چا څخه انتقام اخیستی دی، هو د جهاد په میدان کي یې انسانان وهلي دي.

بلکه د پیغمبر ﷺ د زنانو متعلق او د ماتحت انسانانو متعلق دا وینا وه:

............يَغْلِبْنَ كَرِيمًا﴾. زناني عام طور پر نېک او لائق او شريفه خاوند باندي غالبه راځي.

............وَيَغْلِبُهُنَّ لَئِيمٌ﴾. او نا لائق او سخت مزاجه او بد اخلاقه خاوند پر زنانو باندي غالب وي، چي هغه زناني د ده د بيري په خاطر هيڅ ويلاى نسي، حالانکه څه ويل او کله د خاوند څخه ناراضه کېدل دا د دې زناني حق وي.

پېغمبر ﷺ حضرت "عائشې" مبارکې ته وايي:

............إِنِّي لَأَعْلَمُ إِذَا كُنْتِ عَنِّي رَاضِيَةً، وَإِذَا كُنْتِ عَلَيَّ غَضْبَى﴾.

اى عائشې! زه په دې پوهېږم چي په کم وخت کي ته زما څخه راضي يې او په دې هم پوهېږم چي په کم وخت کي ته زما څخه ناراضه يې. حضرت "عائشه" ورته وايي:

............مِنْ أَيْنَ تَعْرِفُ ذَلِكَ؟﴾ دا څنګه در معلومېږي؟

پېغمبر جواب ور کوي:

............أَمَّا إِذَا كُنْتِ عَنِّي رَاضِيَةً، فَإِنَّكِ تَقُولِينَ: لاَ وَرَبِّ مُحَمَّدٍ، وَإِذَا كُنْتِ عَلَيَّ غَضْبَى، قُلْتِ: لاَ وَرَبِّ إِبْرَاهِيمَ﴾.

چيکله ته زما څخه راضي يې نو په خبرو کي د "وَرَبِّ مُحَمَّدٍ" الفاظ استعمالوې، او چيکله نا راضه يې بيا زما نوم په خوله نه يادوې، او زما د نامه پر ځاى باندي "وَرَبِّ إِبْرَاهِيمَ" يادوې.

............وَاللّٰهِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ، مَا أَهْجُرُ إِلَّا اسْمَكَ﴾.

حضرت "عائشه" مبارکه خاندي او ورته وايي: چي ای د الله رسوله! زما دي د الله تعالی په ذات قسم وي چي په هغه وخت کي هم صرف ستا نوم زما د خولې څخه ليري سي، نور ته مکمل زما په زړه کي يې.(۱)

نو د شريف او لئيم په مابين کي فرق پيغمبر ﷺ د زناني سره په ګوزاره کولو کي بيان کړی دی، د هغه څخه وروسته پيغمبر ﷺ وايي:

..........فَأُحِبُّ اَنْ اَكُوْنَ كَرِيْمًا مَغْلُوْبًا﴾.

زه د ځان په حق کي دا خوښوم: چي زه کريم او شريف يم، که څه هم په کور کي د زناني څخه مغلوب يم؛ ځکه چي هغه په هر شکل زما څخه غوښتنه کولای سي، او زما سره خبره کولای سي.

............وَلَا أُحِبُّ اَنْ اَكُوْنَ لَئِيْمًا غَالِبًا﴾.

او زه دا نه خوښوم چي زه بد اخلاقه او پر زنانو باندي غالب په کور کي ژندګي تېره کړم.(۲)

## د حضرت عمر ؓ واقعه:

يو ځل د ټولو مسلمانانو ميندي د پيغمبر ﷺ د کور زناني مبارکي د پيغمبر ﷺ سره د "نان" او "نفقې" په باره کي په لوړ آواز وينا کوي، په دې دوران کي حضرت عمر ؓ د پيغمبر ﷺ کور ته راغلی، نو هغه زنانو چي کله د حضرت عمر ؓ آواز واورېدی ټولي خاموشه سوې.

حضرت عمر ؓ ورته وايي: چي ای زموږ د ټولو مؤمنانو ميندو! د الله تعالی د نبي ﷺ سره په دومره لوړ او تېز آواز سره خبري کوی، او د "عمر" څخه وېرېد است؟

(۱) بخاري شريف حديث: ۵۲۲۸

(۲) روح المعاني جلد: ۵ صفحه: ۱۴

زموږ د ټولو مسلمانانو میندي په جواب کي ورته وایي: ای عمره! ته خو سخت دل یې او زموږ نبي ﷺ هغه "رحمة للعالمین" دی، ستا په مزاج کي شدت او سختي ده او زموږ د نبي په مزاج کي شدت او سختي نسته، نو موږ کله کله پر هغه باندي ناز کوو او هغه زموږ ناز پورته کوي.(۱)

## د پیغمبر ﷺ د اخلاق عظیمه وو مختلف واقعات:

د پیغمبر ﷺ د اخلاق عظیمه وو متعلق حضرت عائشه مبارکه دا هم را نقل کوي: چي پیغمبر ﷺ به په کور کي خپلي کپړې او چوټي پخپله ګنډلې او په کور کي به یې داسي کار کوی، لکه: عام انسانان چي یې کوي، دا مبارکه وایي: چي پیغمبر ﷺ به ګوزاره کي د عامو انسانانو غوندي یو انسان وو.

هغه به د خپلو کالو څخه خیري خپله پاکولې او بزې به یې لوښلې او د کور کار او ژوند به یې کوی، چي کله به د لمانځه وخت سو، نو بیا به لمانځه ته تلې.

د پیغمبر ﷺ په کپړو کي خیري نه وې، صرف امت ته د ښو اخلاقو د تعلیم ورکولو په خاطر به پیغمبر ﷺ داسي کول.

حضرت انس رضی الله عنه وایي:

..........خَدَمْتُ النَّبِيَّ ﷺ عَشْرَ سِنِينَ﴾. ما د پیغمبر ﷺ لس (۱۰) کاله مسلسل خدمت وکړی.

............فَمَا قَالَ لِي: أُفٍّ، وَلاَ: لِمَ صَنَعْتَ؟ وَلاَ: أَلَّا صَنَعْتَ﴾.

---

(۱) بخاري شریف جلد ۱ صفحه: ۵۲۰

په دې لس(۱۰) کاله کې پیغمبرﷺ ما ته د "اف" لفظ لا هم هیڅ کله استعمال نکړی، او نه یې دا راته وویل: چې دا کار دې ولې کړی دی، یا دې دا کار ولې ندی کړی.(۱)

حضرت انسؓ د پیغمبرﷺ دا عادات مبارکه هم را نقل کړي دي: چې پیغمبرﷺ به کله دیو چا سره مصافحه کوله نو ده به خپل لاس تر هغه وخت پوري نه ځنی را کشوی، چې تر څو پوري به هغه سړي خپل لاس کش کړی نه وای.

او داغه رنګه ده به خپل مخ د هغه سړي څخه تر هغه وخته پوري نه پیچی، چې تر څو پوري به هغه سړي مخ نه وای پیچلی، او دی هیڅ کله هم په یو مجلس کې په داسي حال کې نه ولیدل سو، چې ده دې پښې غځولي وي.

او حضرت انسؓ دا هم وایي: چې پیغمبرﷺ به د بیمار او ناجوړه عیادت ته ورتلئ او د مړي په جنازه پسي به تلی، او د غلام دعوت به یې قبلوی، او پر خره به سپرېدی، او ما د خیبر پر موقعه باندي پیغمبرﷺ ولیدی، چې دی پر یو خره باندي سپور وو چې د هغه "رسۍ" د خورماوو د پاڼو څخه جوړه سوې وه.

## د یو بچي د پوښتني واقعه:

حضرت انسؓ وایي: چې په "مدینه منوره" کې د یو یهودي بچی به همېشه د پیغمبرﷺ خدمت ته راتلی، یو ځل هغه بیمار سو یو څو ورځي خدمت ته رانغلی، نو پیغمبرﷺ د هغه کور ته د پوښتني لپاره راغلی، او و سر ته ورته کښېنستی د پوښتني څخه وروسته ورته وایي: ای بچیه! اسلام قبول کړه! اسلام ډېر ښه دین دی.

..........فَنَظَرَ إِلَى أَبِيهِ وَهُوَ عِنْدَهُ﴾.

(۱) بخاري شریف حدیث، ٦۰۳۸

هغه بچی خپل پلار ته گوري چي په هغه ځای کي ناست وو چي پلار ماته څه مشوره را کوي.

...............فَقَالَ لَهُ: أَطِعْ أَبَا الْقَاسِمِ ﷺ فَأَسْلَمَ﴾.

پلار ورته وايي ای بچيه! د ابا القاسم ﷺ خبره ومنه چي دی څنگه درته وايي هغسي وکړه، چي کله هغه بچي د پلار د خواه اطمينان پيدا کړی، نو په هغه کړي يې اسلام قبول کړی، او د اسلام کلمه يې وويله.

پيغمبر ﷺ چي کله د هغه يهودي د کوره څخه راوځي نو ډېر زيات خوشحاله دی، او دا وايي:

...............اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَنْقَذَهُ مِنَ النَّارِ﴾. د الله تعالی ډېر حمدونه او شکرونه دي چي زما د يو عيادت او پوښتني په خاطر دا بچی الله تعالی د جهنم د اوره څخه په آمان کړی.

نو دا د پيغمبر ﷺ اخلاق عظيمه وه چي هغه د يهودي د بچي د پوښتني دپاره د هغه کور ته په ورتللو کي هيڅ "عار" نه محسوسه وی.

## د پيغمبر ﷺ د قريبانو سره سلوک:

تاسو د پيغمبر ﷺ زندگي ته وگورئ! د هغې څخه تاسو ته په خپله د پيغمبر ﷺ "اخلاق عظيمه" ښکاره در معلوميږي، په مکه مکرمه کي چي کله پيغمبر ﷺ زندگي تېروله د يو څو رشته دارانو څخه علاوه باقي ټوله رشته داران د ده دښمنان دي، او د ده د وينو تږي دي، او ده ته يې په تکليف رسولو کي خپل ټول طاقت او توان تمام کړئ، تر دې حده پوري چي د ده اکا او د اکا زامن چي تر ټولو د ده نزدې قريبان وه هغوی هم ده ته په تکليف رسولو کي پوره کوشش وکړی.

لیکن پیغمبرﷺ د خپل جانبه څخه د قرابت په حق ادا کولو کې هیڅ کوتاهي نه کوله، چنانچه د فتح د مکې پر موقعه باندې چې کله د بدله اخیستلو موقعه راغله نو ده د بدلې اخیستلو پر ځای ټولو ته معافي وکړه، او په مکه مکرمه کې دا اعلان وسو:

.........مَنْ دَخَلَ دَارَ أَبِي سُفْيَانَ فَهُوَ آمِنٌ﴾.

چې کم سړی د ابو سفیان کورته ور داخل سو، هغه زموږ څخه په امن دی، او موږ د هیڅ چا څخه بدله نه اخلو.

...........وَمَنْ أَلْقَى السِّلَاحَ فَهُوَ آمِنٌ﴾.

او چې کم سړی سلاح تسلیم کړي، هغه زموږ څخه په امن دی، موږ هیڅ چاته نن د ده د بدو بدله نه ورکوو:

...........وَمَنْ أَغْلَقَ بَابَهُ فَهُوَ آمِنٌ﴾.

او چې کم سړی په خپل کور کې کښیني او دروازه په ځان پسې بنده کړي، هغه هم زموږ څخه په امن دی.(۱)

## د پیغمبرﷺ عفو او درګزر:

پیغمبرﷺ هیڅ کله هم د چا څخه شخصي انتقام او بدله نه ده اخیستې، حتی چې کله د مکې مکرمې د فتح موقعه وه او پیغمبرﷺ د یو فاتح په شکل د خپل اته زره (۸۰۰۰) جرار لښکر چې ټول صحابه کرام ﷺ وه، مکې ته داخلېږي.

نو په دې وخت کې پیغمبرﷺ د خپل سوارلۍ جلو نیولی دی او دا وایي:

(۱) مسلم شریف حدیث: ۸٦

............﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ صَدَقَ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الأَحْزَابَ وَحْدَهُ﴾. الله تعالى ته دي ټول تعريفونه وي چي هغه خپله وعده زموږ سره صادقه کړه او د خپل بنده نصرت او کومک يې وکړی، او د دښمنانو ټولو لښکرو ته يې يو اځي ماته ورکړه.(۱)

په دې وخت کي د پيغمبرﷺ په دماغ کي فخر او تکبر نسته بلکه دا خپل سر مبارک يې د عاجزۍ څخه داسي کښته نيولی دی، چي د ده تندی د سوارلۍ د غاړي د وړېښتانو سره موښلي، او دی د خپل رب تعريفونه بيانوي.

چي کله مکې مکرمې ته ننوځي نو يو صحابي حضرت سعد بن عبادةؓ وايي:

............﴿اليَوْمَ يَوْمُ المَلْحَمَةِ، اليَوْمَ تُسْتَحَلُّ الكَعْبَةُ﴾. نن د جنګ ورځ ده او نن به موږ ته په کعبه کي قتل او قتال کول حلال وي.(۲)

ځکه الله تعالى نبي اکرمﷺ ته د فتح په ورځ په مکه مکرمه کي قتال حلال کړی او بيا يې تر قيامته پوري حرام کړی.

چي کله حضرت سعد بن عبادةؓ دا خبره وکړه نو "ابو سفيان" چي په دې وخت کي ايمان لا نه وو را وړی، دستي اعتراض وکړئ، چي ای محمده! ستا عسکر او فوجي څه وايي؟

پر دې اعتراض کولو باندي پيغمبرﷺ د حضرت سعد بن عبادةؓ څخه جنډه واخيسته او د هغه و زوی ته يې ور کړه، او ورته و يې ويل چي داسي اعلان وکړه:

.........﴿اَلْيَوْمَ يَوْمُ الْمَرْحَمَةِ﴾. چي نن ورځ د رحم ورځ ده.

(۱) بخاري شريف حديث: ۱۷۹۷
(۲) بخاري شريف حديث: ۴۲۸۰

چنانچه چي کله پیغمبرﷺ حرم ته داخل سو، نو صحابه کرامؓ سیده "بیت الله" شریفي ته ورغلل او هلته په طواف او لمنځو مشغوله سوه.

## د مکې مکرمې د زنانو ښځو بېره:

چنانچه د سیرت په کتابو کي لیکلي دي چي د مکې مکرمې د هري نوجواني زناني دا یقین وو چي نن به زما عزت بربادیږي، ځکه هغه په دې پوهېدلې چي موږ مسلمانانو ته ځومره تکلیفونه ور کړي دي، او نن چي کله دوی د فاتحینو په شکل باندي مکې مکرمې ته را داخل سوه، نو د هر یوه یوه ځخه به خپله بدله اخلي.

لېکن چي کله د ماخیستن وخت تېر سو، او د شپې کافي حصه تېره سوه، د دوی د کور تر دروازو پوري هیڅ څوک نه راغلل نو هغه زناني حیراني دي چي دا خلګ څه سوه؟ دوی د خپلو نارینه وو ځخه پوښتنه وکړه، چي تاسي خو یې وګورئ، چي هغه مسلمانان څه سوه او په څه اخته دي؟

کېدای سي هغه به په خپل مابین کي یو مشوره سره کوي، یا به د یو وخت په انتظار وي، چي کله نارینه وو همت وکړئ، د مسلمانانو د معلوماتو کولو دپاره د کورو ځخه را ووتل د حرم دروازې ته راغلل که ګوري چي ټوله مسلمانان په عبادت مصروفه دي، څوک د الله تعالی د "خانه کعبې" طواف کوي، او څوک پر "مقام ابراهیم" په سجده کي پراته دي، او چا د "بیت الله شریفي" پوښ نیولی دئ، او په هغه پوري موښتي دي، په دعاؤ او په ژړا وو مشغوله دي.

د مکې خلګو چي کله دا منظر ولیدی، نو ډېر حیران سوه، چي کله دا خلګ د فاتحینو په شکل مکې ته را داخل سوه، او د انتقام اخیستلو پر ځای د الله تعالی په عبادت مشغوله دي، نو د الله تعالی رسولﷺ د دوی ځخه انتقام نه واخیستئ حالانکه دوی ټول د ده جاني دښمنان وه، او دوی پیغمبرﷺ ته دومره تکلیف رسولی وو، چي په خپله نبي اکرمﷺ به فرمایل:

چي د دين په خاطر ماته دومره تکليفونه را کول سوي دي، چي زما څخه مخکي هيڅ يو نبي ته هم دومره تکليفونه نه دي ور کول سوي.

چي کله تر سهاره پوري صحابه کرامو ﷺ د بيت الله په حرم کي عبادت او طواف وکړئ، را روانه ورځ پيغمبر ﷺ د عامي معافی اعلان وکړئ، چي کم سړی راسي او کلمه ووايي هغه زموږ د طرفه معاف دی، او د چند کورو او ځايو نومونه ور ته اخلي چي کم څوک دې کورو او ځايو ته داخل سوه، هغه هم معاف دي.

**انتقام نه اخيستل:**

يو ډېره عجيبه خبره دا ده چي کله يو څوک پر يو ځای باندي يا پر يو ښار باندي قبضه را ولي نو عام طور هغه دوه (۲) کاره کوي، اول کار دا کوي، چي خپل مخالفين "زفي" يعني د مخالفينو څخه بدله اخلي.

او دوهم کار دا کوي چي د خپلو متعلقينو سره حسن سلوک او احسان کوي، او هغه ښه نازوي.

نن موږ په دنيا کي وينو چي کم چا ته قوت او طاقت په لاس ورسي نو اوله تمنٰی يې دا وي چي خپل مخالفين و "زَفي" او دوهمه تمنٰی يې دا وي چي څومره يې وس وي، هغومره خپل متعلقين ونازوي.

لېکن پيغمبر ﷺ دا دواړي تمناوي پوره نه کړې، چي کله مکې مکرمې ته د فاتح په شکل راغلئ نو ده انتقام او بدله اخيستلای سوه، لېکن نه يې واخيسته او نه يې مخالفين و "زَفل" او نه يې خپلو ته د ناز ور کولو په "پاليسي" باندي عمل وکړئ.

**د عثمان ابن طلحه واقعه:**

په "حديث شريف" کي راځي چي کله پيغمبر ﷺ مديني منورې ته هجرت کوی، نو د مکې مکرمې د کليانو او چاپيانو متصرف "عثمان ابن طلحه" ته يې وويل چي ته د

"بیت الله" دروازه یو ځل را خلاصه کړه، زما زړه دا غواړي چي زه یو لږ وخت "بیت الله" ته دننه ورسم د الله تعالی عبادت وکړم، مګر هغه په ډېر سپک نظر ورته وکتل او د "بیت الله" د دروازې د خلاصولو څخه یې انکار وکړئ.

د هغه د انکاره څخه وروسته پېغمبر ﷺ په ډېر افسوس او حسرت ورته وویل ایا ته واقعي ماته د "بیت الله" دروازه نه را خلاصوې؟

هغه به څنګه ورځ وي، چي ستا پر ځای زه ولاړ یم او ته دا زما پر ځای ولاړ یې، او د "بیت الله" چابیاني زما په لاس کي وي، او ته و ماته ګورې!.

نو "عثمان ابن طلحه" پېغمبر ﷺ ته سختي خبري وکړې، چي ستا لاس ته به د "بیت الله" چابي څنګه درځي چي کله پېغمبر ﷺ د فتح مکې په دوران کي مکې مکرمې ته را داخل سو، نو د "بنو شیبه" قبیلې هغه د "بیت الله" د کلیانو متصرف "عثمان ابن طلحه" یې را طلب کړئ، چي کله هغه راغلی، نو پېغمبر ﷺ ورته وویل دا کلیاني ماته راکړه!

هغه کلیاني وده ته ور کړې، پېغمبر ﷺ هغه خبره په یاد ور وستله، ویل هغه وخت دریاد کړه، چي ما تاته ویلي وه، چي پر کم ځای ته ولاړ یې هلته به زه ولاړ یم، او زما پر ځای به ته ولاړ یې، او زه به ستا څخه د کلیانو مطالبه کوم ته به هغه کلیاني ماته را حواله کوې، ایا الله تعالی هغه وعده پوره کړه او که نه؟

"عثمان ابن طلحه" ورته ویل چي هو د الله تعالی وعده پوره سوه، د هغه څخه وروسته پېغمبر ﷺ په کلي باندي د "بیت الله" شریفي قُلف خلاص کړئ، اُو بیت الله ته دننه ورغلئ، او په "بیت الله" کي یې د الله تعالی عبادت وکړئ، چي کله د بیت الله څخه دباندي را ووتئ، او دروازه یې قُلف کړه.

په دې وخت کې د قریشو د مختلفو قبائلو خلک پیغمبرﷺ ته نږدې راغله، په دې تمنٔی باندې چې د بیت الله چابي به ومونږ ته په لاس را کړي.

د ټولو نظر د الله تعالی د محبوبﷺ په لاس کې پر کلیو باندې وو، مګر چې کله پیغمبرﷺ د "بیت الله" دروازه قُلف کړه چې د کم کافره څخه یې چابي اخیستې وه، هغه چابي یې هغه کافر ته ور حواله کړه، او دا یې ورته وویل چې دا چابي به ستا سره وي، او ستا په خاندان کې به تر قیامته پورې محفوظه وي.

چې کله پیغمبرﷺ پر هغه باندې دا احسان وکړئ، نو د هغه په سترګو کې اوښکې راغلې او وایي: ای د الله محبوبﷺ! ماته کلمه ووایه ستا د ښو اخلاقو په خاطر ستا پر لاس باندې کلمه ویلو ته زه تیار یم.(١)

## د ټولو څخه زیات بد ترین سړی:

حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما روایت کوي، چې پیغمبرﷺ به مونږ ته ویل ایا تاسو ته تر ټولو بد ترین سړی در وښیم!

صحابه کرام رضی الله عنهم عرض کوي، چې ای د الله نبي! ضرور یې را وښیه. پیغمبرﷺ ورته وایي د ټولو څخه بدترین هغه انسانان دي چې خورک یوائې کوي، او خپل غلام ته تکلیف ور کوي، او د خلکو سره د بخشش او معافی معامله نه کوي.

پیغمبرﷺ دوهم ځل ورته وایي: ایا تر دې لا هم بد ترین انسان در وښیم!

صحابه کرام رضی الله عنهم بیا عرض کوي، چې ای د الله نبي! را وښیه. پیغمبرﷺ ورته وایي چې تر دې بیا بد ترین انسان هغه دئ، چې د خلکو سره بغض کوي، او خلک د ده سره بغض کوي.

(١) خطبات نقیر جلد: ١٠ صفحه، ٢٣٢-٢٣٣-٢٣٤

دریم ځل بیا ورته وایي چي تر دې هم بد ترین انسان در وښیم.

صحابه کرام رضي الله عنهم ورته وایي چي ای د الله رسوله! ضرور یې را وښیه. دی ورته وایي هغه انسان چي د هغه څخه د ښکیو امید نه وي، او د هغه څخه د انسانانو سر په امن نه وي.

د یو څه خاموشۍ څخه وروسته آخر ځل بیا پیغمبر ﷺ ورته وایي: ایا تر دې هم بد ترین انسان در وښیم؟

صحابه کرام رضي الله عنهم ورته وایي چي ضرور یې را وښیه! پیغمبر ﷺ ورته وایي چي کله د یو چا خطا نه معافوي او د چا عذر نه قبلوي، دا د ټولو انسانانو څخه بد ترین انسان دئ.

نو که سړی په دې حدیث باندي غور وکړي، نو انسان ته به دا ور معلومه سي، چي په څومره درجه کي انسان د معافۍ او د اخلاقِ حسنه وو څخه لیري وي، په هغومره درجه کي هغه د الله تعالی مبغوض ترین انسان بلل کیږي.(۱)

## د اخلاق حسنه وو فضیلت:

د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دئ:

..............﴿أَنَا زَعِيمٌ بِبَيْتٍ فِي أَعْلَى الْجَنَّةِ، وَبِبَيْتٍ فِي وَسَطِ الْجَنَّةِ، وَبَيْتٍ فِي رَبَضِ الْجَنَّةِ مَنْ كَانَ اَخْلَاقُهُ الْحَسَنَ﴾.

چي کم چا ته الله تعالی په دنیا کي اخلاق حسنه ور کړي وي، زه د هغوی د پاره د جنت په مابین کي او د جنت په باغچو د کور پیدا کولو ضمانت کوم.(۲)

(۱) خطبات فقیر جلد ۱۰ صفحه ۲۳۶

(۲) سنن ابي داؤد حدیث نمبر ۸۴۰۰

عجيبه خبره ده: د پيغمبر ﷺ په قول د الله تعالى د طرفه پر اخلاق حسنه وو د جنت ضمانت دئ، پر نورو اعمالو باندي صرف د جنت وعده ده، ضمانت نسته.

تاسو و گورئ شهادت د اسلام د ټولو څخه لوی اعزاز او عزت دئ او د شهيد په باره کي پيغمبر ﷺ وايي:

............يُغفَرُ لِلشَّهِيدِ كُلُّ ذَنبٍ إِلَّا الدَّيْنَ﴾ شهيد ته الله تعالى د ټولو گناهونو مغفرت کوي، سوا د بل د قرض څخه.(١)

په بعضو روایاتو کي لا دا هم راځي:

............وَأَمَّا الشُّهَدَاءُ فَاللَّهُ هُوَ الَّذِي يَقْبِضُ أَرْوَاحَهُمْ بِقُدْرَتِهِ كَيْفَ يَشَاءُ وَلَا يُسَلِّطُ عَلَى أَرْوَاحِهِمْ مَلَكَ الْمَوْتِ﴾.

چي شهيد هغه مبارک انسان دئ، چي کله په ميدان کارزار کي د ده د روح ختلو وخت راسي، نو د ده د روح قبض کولو دپاره الله تعالى په خپله ميدان جنگ ته راځي، او عزرائيل عليه السلام ته د ده د روح قبض کولو موقعه نه ور کوي او د ده د اعزاز په خاطر الله تعالى په خپله د ده روح قبض کوي.(٢)

او علم د شهادت څخه هم لوی اعزاز دی.

څکه پيغمبر وايي:

............وَمِدَادُ مَا تَجْرِي بِهِ أَقْلَامُهُمْ أَزْكَى وَأَفْضَلُ مِنْ دَمِ الشُّهَدَاءِ﴾.

---

(١) مسلم شريف حديث، ١١٩

(٢) تفسير قرطبي جلد، ۴ صفحه: ٢٧٦

چې د عالم قلم په کم رنګ او سیاهي باندي چلیږي د الله تعالی په دربار کي د هغه وزن د شهداء د ویني څخه هم زیات دی.(۱)

د عالم دپاره د جنت وعده سته نه ضمانت.

د شهید دپاره بیا د جنت وعده سته نه ضمانت.

د دین د هر خدمت کوونکي دپاره د جنت وعده سته نه ضمانت.

لیکن د یو چا دپاره چي هغه زندګي په اخلاق حسنه وو سره تیروي، د هغه دپاره پیغمبر ﷺ د جنت په اعلی درجه کي د کور پیدا کولو ضمانت کوي، نو د دې څخه هم زموږ په دین کي د اخلاق حسنه وو دېر لوی فضیلت معلومیږي.

## اخلاق حسنه عین دین دی:

یو صحابي د پیغمبر ﷺ مخته راځي ورته وایي: ای د الله رسوله! دین څه دئ؟ پیغمبر ﷺ په جواب کي ورته وایي: ښه اخلاق.

هغه صحابي دوهم ځل د راسته طرف څخه راځي بیا پوښتنه کوي، چي ای د الله رسوله! دین څه دئ؟ پیغمبر ﷺ جواب ور کوي، ښه اخلاق.

هغه صحابي بیا د چپه طرفه راځي او دا پوښتنه کوي، چي ای د الله رسوله! دین څه دئ؟ پیغمبر ورته وایي، ښه اخلاق.

څلورم ځل هغه صحابي تر شاه ور سره راګرځي او د شاه دطرفه د پیغمبر ﷺ څخه پوښتنه کوي چي دین څه دئ؟ پیغمبر ﷺ دا خپله سینه او مخ پوره ور ګرځوي، ورته وایي دین اخلاق دئ، دین اخلاق دئ، ته به کله په خبره ځان پوه کوي.

یو بل صحابي پوښتنه څني کوي، یا رسول الله!

........مَاالْإِسْلَامُ﴾ اسلام څه دئ؟

(۱) جامع بیان العلم و فضله، باب تفضیل العلماء علی الشهداء صفحه: ۱۵۱

پيغمبر ﷺ ورته وايي:

............اِطْعَامُ الطَّعَامِ وَ طِيْبُ الْكَلَامِ﴾.

مسلمانانو ته نفقه ور كول او د هغوى سره په خوږه ژبه وينا كول.

هغه صحابي بيا پوښتنه كوي:

............مَاالْإِيْمَانُ﴾.

ايمان څه دئ؟ پيغمبر ﷺ په جواب كي ورته وايي:

............اَلصَّبْرُ وَالسَّمَاحَةُ﴾.

صبر او معافي كول، او سخاوت كول.

هغه صحابي د پيغمبر ﷺ څخه بيا پوښتنه كوي:

............اَيُّ الْإِسْلَامِ اَفْضَلُ﴾.

كم اسلام ډير افضله دئ؟

پيغمبر ﷺ په جواب كي ورته وايي:

............مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ﴾.

چي د كم چا د لاس او د ژبي څخه د مسلمانانو عزت، جان او مال خوندي وي، نو دا د تولو څخه بهترين اسلام او دا سړى تر ټولو بهترين مسلمان دى.

هغه صحابي پوښتنه كوي:

............اَيُّ الْإِيْمَانِ اَفْضَلُ﴾.

كم ايمان ډير افضله دى؟

پیغمبر ﷺ په جواب کي ورته وايي:

...........حُسْنُ الْاَخْلَاقِ﴾.

بهترين اخلاق تر ټولو ښه ايمان دی.

يو بل صحابي د الله تعالی د رسول ﷺ څخه پوښتنه کوي:

...........اُرِيْدُ اَنْ يُكَمَّلَ اِيْمَانِيْ﴾.

زما زړه دا غواړي چي زما ايمان مکمل سي.

پیغمبر ﷺ په جواب کي ورته وايي:

...........حَسِّنْ خُلُقَكَ، يَكْمِلْ اِيْمَانُكَ﴾.

ته خپل اخلاق ښائسته کړه الله تعالي به ايمان در په نصيب کړي.

دا يو حقيقت دی: چي سل (۱۰۰) رکعته نفل کول دا آسانه عمل دئ، لېکن چي کم سړی د سلام جواب نه در کوي، هغه ته سلام ويل گران عمل دئ، ذ دي تجربه پر خپل طبيعت باندي سړی ازمائلای سي.

د گرميو په اوږدو ورځو کي روژه نيول آسانه ده، لېکن چي کم څوک مخ در څخه واړوي په خوش اخلاقي او په خندا هغه ته ور تلل گران عمل دی.

هر کال حج کول آسانه دي، چي د کم چا څخه د انسان طبعيت بېل سو، د هغه سره د محبت په شکل ملاقات کول، دېر مشکل عمل دئ، دا و انسان ته پر خپل طبيعت د تجربه کولو څخه وروسته ور معلوميږي.

الله تعالی دي د پیغمبر ﷺ پر اخلاقو باندي د عمل کولو توفیق را په نصیب کړي، او الله تعالی دي د پیغمبر ﷺ د اخلاق حسنه وو نمونې زموږ په زندګي را پیدا کړي، او الله تعالی دي دا څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

(آمین یا رب العالمین)

وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآیہ)

# حکمت او ذهانت

(بیان)

مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبہ سلطانیہ الہاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشــــاعــت | اول |
| تـاريـــــخ | جمادي الاولى ۱۴۴۲ بمطابق ۲۴ جنوري ۲۰۲۱ |
| تــعـــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالَى: ﴿ن وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ، مَا أَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُونٍ، وَإِنَّ لَكَ لَأَجْرًا غَيْرَ مَمْنُونٍ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: ﴿إِنَّ اللّٰهَ بَعَثَنِي رَحْمَةً مُهْدَاةً، بُعِثْتُ بِرَفْعِ قَوْمٍ وَخَفْضِ آخَرِينَ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمُ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمُ، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

## د پیغمبر ﷺ د صفاتو تذکره:

محترمو حاضرینو! په قرآن کریم کې ځای پر ځای د پیغمبر ﷺ د صفات جمالیه وو او د کمالات عالیه وو تذکره موجوده ده، لېکن په "سورة القلم" کې الله تعالی په یو بهترین انداز سره د رسول الله ﷺ مدح او د صفاتو او کمالاتو اثبات او د نقائصو عیوبو نفي کړېده.

ګویا الله تعالی دا اعلان کړی دی، چې محمد ﷺ "اکمل البشر" او "جامع الصفات" نبي دی، د "سورة القلم" د دې آیتو نزول هغه وخت وسو چې کله د پیغمبر ﷺ د نبوت ابتدائي زمانه وه.

(١) القلم آیت نمبر: ١-٢-٣
(٢) تفسیر ابن کثیر جلد: ٢ صفحه: ٢٠

پر ده باندي په نارینه وو کې د ټولو څخه مخکې حضرت ابو بکر صدیقﷺ او په زنانو کې د ټولو څخه مخکې حضرت "خدیجة الکبریٰ" او په غلامانو کې "زید بن حارثه" او په بچیانو کې د ټولو څخه مخکې حضرت علي ﷺ ایمان را وړی وو.

## د کفارو بهتان:

پیغمبرﷺ به په کور کې دننه دې حضراتو ته د توحید او ایمان درس ورکوی، قریشو د ده متعلق دا آوازه جوړه کړه، چې دا سړی لېونی سویدی، او په خپل کور کې انسانانو ته لېونتوب ورزده کوي، او د انسانانو څخه لېونیان جوړوي.

کفارو د مکې به پیغمبرﷺ ته پدې وجه باندې هم لېونی ویل، چې یو سړی یوائې د ټولې دنیا د مقابلې لپاره درېدلی دی، او د ټوله انسانیت رُخ او توجه پر بل طرف را اړول غواړي.

د "سورة القلم" په آخري آیتو کې الله تعالی د کفارو د دې بهتان تذکره په دې شکل باندې کړېده:

..........وَيَقُولُونَ إِنَّهُ لَمَجْنُونٌ﴾.(١)

یعني کفارو چې به کله د ده خبرې واورېدې او د ده څخه به یې د "قرآن کریم" الفاظ واورېدل، نو دوی به دا ویل چې دا لېونی دی.

## د الله تعالی د طرفه جواب:

الله تعالی دوی ته دا جواب په دې شکل ورکړی دی چې:

..........ن﴾. یعني د ټولو څخه مخکې تاسو د داسې کلام پېشولو څخه عاجزه یاست؛ څکه چې د کنو مفرداتو "ا، ب، ت" وغیره څخه دا کلام جوړ سویدی، کچیرې دا د الله تعالی د طرفه نه وي، او محمدﷺ د خپله څانه جوړ کړی وي، نو بیا تاسو هم دا رنګه کلام پېش کړی، څکه لکه: څنګه چې محمدﷺ عربي دی، تاسو هم عرب یاست!

---

(١) القلم آیت نمبر: ۵۱

او چي کم مفرد حروف د ده سره سته ستاسو سره هم سته، کچیري دا د بنده کلام بولی نو تاسو هم د دې مثل پیش کړی.

..........﴿وَالْقَلَمِ﴾. یعني قلم گواه دی، او چي څه د قلم په ذریعه فرشتې لیکي هغه اعلی مضامین هم گواه دي، چي د الله تعالی په فضل او کرم سره ته مجنون او لېونی نه یې، بلکه کم څوک چي تا ته مجنون وایي، هغه پخپله لېوني دي، لکه: پر یو سپین کاغذ چي کله یو عقلمند سړی څه ولیکي نو د ماشومانو او لېونیانو په خیال کي دا وي، چي دې سړي دا سپین کاغذ څنگه خراب کړی؟

لېکن کچیري حقیقت ته وکتل سي، نو هغه سړي پر هغه کاغذ باندي اعلی مضامین لیکلي وي، نو د ده دې لیکلو ته لېونتوب ویل په خپله لېونتوب دی، نو پر پیغمبرﷺ باندي د لېونتوب خیالونه او گمانونه کول دا په خپله لېونتوب دی.

## د شبیر احمد عثماني رحمة الله علیه تفسیر:

د دې آیاتو متعلق شیخ الاسلام حضرت مولانا شبیر احمد عثماني رحمة الله علیه داسي لیکي:

د مکې مشرکانو چي به حضورﷺ ته "العیاذ بالله" لېونی ویل چا به ویل چي پر ده باندي د شیطان اثر دی، چي یو دم د ټولو قومونو څخه جلا سو، او داسي خبري کوي چي هیڅوک یې نه مني.

الله تعالی د دې باطل خیال تردید وکړی، او ده ته یې تسلي ورکړه، یعني پر ده باندي د الله تعالی داسي فضل او کرم دی، چي د هغې مشاهده هره سترگه کولای سي، مثلا د اعلی درجې فصاحت او حکمت او د دانائي خبري کول، او د مخالفینو او موافقینو په زړو کي دومره قوي تاثیر درلودل او د ډېر لوړ او پاک اخلاق درلودل، دې ته لېونتوب ویل پخپله د خپل لېونتوب دلیل دی.

په دنیا کي ډېر لېونیان تېر سویدي، او څومره لوی مصلحین تېر سویدي، چي هغوی ته به په ابتداء کي خپلو قومونو په لېونیانو ویل مگر قلم چي کمه د تاریخي معلوماتو ذخیره د ورقو په ضمن کي جمع کړېده، هغه په ډېر لوړ آواز دا شاهدي ورکوي، چي د

واقعي لېونيانو او د هغه چا چي صرف خلکو په لېونيانو ورته ويلي دي؛ په حالاتو کي د مځکي او د آسمان فرق دی.

**د پیغمبر ﷺ د خیر ذکر:**

محترمو حاضرينو! پدې وخت کي په دنيا کي يو سړی هم داسي نسته چي هغه دې د ابوجهل پيروکار او عاشق وي.

کافران خو ډېر زيات دي، لېکن پدې حواله به يو سړی هم درته ملاؤ نسي، چي هغه دي د "فرعون" د "هامان" د "شداد" "نمرود" يا "ابوجهل" د تابعدارۍ دعوه کوي.

مګر د دې برعکس د دنيا يو يو کونج ضرور تر يو حده پوري د رسول الله ﷺ د خير د ذکره څخه روښانه کيږي، نو ايا داسي عظيم انسان لېونی کېدای سي، ايا د مجنون يا د لېوني په مجالسو عامه وو او خاصه وو کي خلک داسي تعريفونه کوي؟

يا که دې ته وکتل سي، چي د عربو او د مکې د هغه "سخت دِله" کفارو چي د سختی په لحاظ تر ډبرو هم سخت وه، د هغو توجه يو دم داسي بدلول چي د هغو پر خدا ترسي د آسمان فرشتې هم اوس غبطه او حسد کوي، ايا دومره عظيم انقلاب قائمول د لېوني کار کېدلای سي؟

چي کم سړي د اولي ورځي څخه د قوم و مخته کمه "مُدعٰی" ايښېده، د زندګۍ تر آخره پوري يوه ذره برابر د هغې څخه نه وشاته کېدل ايا دا د لېونيانو کار کېدای سي؛ نو داسي چاته مجنون ويل دا تر يو حده پوري د خپل جنون شاهدي پېشول دي.

**په لړوسائلو انقلاب:**

پدې دنيا کي تر اوسه پوري مختلف انقلابات راغلي دي، د هغه انقلاباتو په ضمن کي يو انقلاب پيغمبر ﷺ هم پر انسانانو را وستلی دی، د دې "محمدي" انقلاب يو څو خصوصيات په ذهن کي کښېښول هغه داسي پخې خبري دي، چي د هغو خبرو د کافرانو سره هيڅ جواب نسته او د هغه انقلاب په مثل په دنيا کي هيڅوک بل داسي انقلاب پېشولای نسي، چي هغه انقلاب د پيغمبر ﷺ د کمال عقل او د الله تعالی د مدد واضح دليل جوړيږي.

د تولو څخه مخکي د هغه انقلاب خصوصیت دا وو چي پیغمبرﷺ په دنیا کي دومره لوی انقلاب په ډېرو کمو وسائلو پر ټوله دنیا باندي را وستی، چي په ټوله دنیا کي په دومره کمو وسائلو باندي دومره لوی انقلاب تر اوسه پوري چا نه وو را وستلی، دا څه معمولي خبره نده، بلکه د ده د ذهانت او د خدایي مدد دلیل وو.

## په ډېر لږ وخت کي انقلاب:

د انقلاب پیدا کولو لپاره د وخت ضرورت وي، د "محمدي انقلاب" دوهم خصوصیت دا وو، چي فقط په لس (۱۰) کاله زمانه کي هغه انقلاب راغلئ، چي کله پیغمبرﷺ مدینې منورې ته تشریف یوړی، په هغه وخت کي په ښکاره سره د دعوت شروع وسوه.

فقط په لس کاله زمانه کي قرآن کریم هم مکمل نازل سو او بیا د اسلام پیغام هم د دنیا کونج کونج ته ورسېدی، په دې لږ زمانه کي د الله تعالی محبوب په دنیا کي د علم او د اخلاقو انقلاب قائم کړئ، په دومره کم وخت کي دومره لوی انقلاب راوستل او په لس (۱۰) کاله زمانه کي د دې قومونو رخ او توجه بدلول، څه آسانه او د لېونیانو کار نه وو.

## غیر خوني انقلاب:

د "محمدي انقلاب" دریم خصوصیت دا وو چي د دې انقلاب په دوران کي د تولو څخه کم جاني نقصان وسو، د تاریخ په کتابو کي لیکلي دي، چي د پیغمبرﷺ په مبارکه زندګي کي، چي څومره جنګونه وسوه په هغه کي د مسلمانانو د شهیدانو او د کفارو د مقتولینو تعداد یو زر او دو شپیته (۱۰٦۲) کسان وه، په دې اعتبار سره د ده انقلاب ته غیر خوني انقلاب ویل کیږي.

نن تاسو زموږ په وطنو کي وګورئ! چي دا اسلامي ملکونه دي، او په دې کي امن هم دئ، مګر دلته هم که تاسو وګورئ، په مختلفو ښارو کي په جګړو کي په یوه او دوې میاشتي کي په سونو انسانان قتل کیږي.

لېکن زموږ محبوبﷺ په ټوله دنيا کې په لسو (۱۰) کالو کې چې کم انقلاب راوستی، په هغو کې صرف د يو زر دو شپېته (۱۰٦۲) انسانانو د زندګۍ خاتمه وسوه.

**د دنيا خوني انقلابونه:**

تاسو دا خبره په غور سره واورئ! کله چې په بغداد کې "هلاکوخان" انقلاب را وستی، په يوه ورځ کې په بغداد کې دننه د دوو لکو (۲۰۰۰۰۰) مسلمانانو وينه وبهېدله، دا خو صرف د يوې ورځې خبره وه، او نه معلوم! چې په پوره انقلاب کې د څومره مسلمانانو د زندګۍ خاتمه وسوه.

د فرانس په انقلاب کې پنځه ويشت لکه (۲۵۰۰۰۰۰) انسانان تباه سوه، په "رشيا" کې د "کميونزم" انقلاب راغلی، او د هغه انقلاب په دوران کې څلوېښت لکه (۴۰۰۰۰۰۰) انسانان قتل سوه، دا خو څه کوې، چې په کم وخت کې د "پاکستان" بنياد اېښول کېدی، په هغه وخت کې هم د يو کروړ انسانانو زندګي د خاتمې سره مخامخ سوه. (۱)

مګر زموږ محبوبﷺ په دومره کم جاني نقصان باندي ټوله دنيا ته د هدايت لار ور ښکاره کړه، چې د هغې مثال په ټوله دنيا کې نه پيدا کيږي، دا د هغه د ذهانت او د کمال فطانت او د الهي نصرت او مدد واضح او ښکاره دليل دی.

**د پيغمبرﷺ د دانائي او حکمت والعات:**

"أم جميل" يو زنانه ده چې همېشه د پيغمبرﷺ د تګ او راتګ په لاره کې ازغي او خاشاک اچوي، او د خپل کور د کړکۍ څخه به يې پر ده باندي انبار را توييوی، چې پيغمبرﷺ به په تلو راتلو کې د هغې زنانې په وجه ډېر په تکليف وو.

يو ځل هغه بيماره سوه، او په کور کې د خدمت کولو لپاره د هغې د لور څخه بغير بل څوک نه وو، په ټوله کور کې يو نارينه هم نه وو، او نه د دې د پوښتني کولو څوک وو، نو هغه مور او لور به په کور کې د تکليف زندګي تېروله.

(۱) خطبات فقير، جلد نمبر ۴، صفحه نمبر ۶۲

او د دوی شاه و خوا همسایه ګانو هم د دوی د کمزورو اخلاقو په وجه پر دوی باندي پوښتني کولو ته تیار نه وه، او داغه رنګه د بې کسۍ په حالت کي به ورځي او شپې ور باندي تېرېدلې.

یو ځل هغه لور او مور سره ناستي دي خبري کوي، مګر مور د ډیري کمزوری ځخه جواب نسي ور کولای په دې دوران کي دروازه و ټکېدله، مور ورته وایي لوري ورسه دروازه ور خلاصه کړه، ویې ګوره، چي زموږ بې کسه او غریبانو دروازه څوک ټکوي؟

لور چي کله دروازې ته راغله او دروازه یې خلاصه کړه، نو کمکوري دروازې ته نبي اکرمﷺ د حضرت ابوبکرؓ او د حضرت عمرؓ سره ملګری ولاړ دی، هغې چي کله دوی ولیدل ډېره حیرانه سوه، په منډه مور ته راغله ورته وایي چي د کم چا په لاره کي تا اغزي او خاشاک اچول او هغه ته دي تکلیفونه رسول، هغه راغلی دی شاید زموږ کور ته د خپلو دوستانو سره نن د بدلې اخیستو دپاره راغلي وي، نو زموږ خیر نسته، نن به هغه موږ په دې خپل کور کي قتل کړي، او زموږ په حال به څوک خبر نسي.

نو هغه بوډۍ زنانه ډېره پرېشانه سوه، ورته وایي بچیه اوس موږ څه کولای سو؟ ته ور سه پوښتنه ځني وکړه چي دوی موږ ته څه وایي؟

نو موږ به د دوی ځخه د رحم او مهربانۍ غوښتنه وکړو، بهر حال ورسه دننه یې را وله نو موږ به معافي ځني وغواړو.

چي پیغمبرﷺ کور ته دننه راغلئ، نو "اُم جَمیل" زنانه د پرېشانۍ په حال پر بستره ناسته ده، او کښته ګوري، او پوښتنه کوي چي ای محمده! نن ته زموږ دې کور ته ځنګه راغلې؟

پیغمبرﷺ په جواب کي ورته وایي، چي څو ورځي وسوې زما په لاره کي چا ازغي نه دي اچولي او زما پر سر باندي چا انبار نه دی را توی کړی، نو ما د خلکو ځخه پوښتنه وکړه، چي د دې څه وجه ده؟ نو خلکو راته وویل چي هغه زنانه چي یا به یې پر تا انبارونه را تویول او یا به یې ستا په لار کي اغزي اچول هغه اوس ناجوړه ده، نو زه ستا

د عیادت او پوښتنې پخاطر ستا کور ته نن راغلی یم، چې ستا سره غم رازي وکړم، او د ناجوړی پوښتنه در باندي وکړم.

د پیغمبرﷺ د دې حکمت په خاطر د هغې زنانې په زړه کې د پیغمبرﷺ محبت پیدا سو، هغه زنانه چې ټول عمر یې و پیغمبرﷺ ته په تکلیف رسولو کې مصرف کړی وو، عین پر هغه وخت باندي مسلمانه سوه او د پیغمبرﷺ پر لاس یې کلمه وویله.(۱)

وویله.(۱)

## د درو سوو (۳۰۰) انسانانو د اسلام قبلول:

په حدیث شریف کې راځي چې یو "اعرابي" مسجد نبوي ته راغلی او کښېنستی، لږ وخت وروسته د هغه د رفع حاجت ضرورت پیدا سو، هغه د مسجد یو کونج ته راغلی، نو د مسجد په یو کونج کې پر بَولو کښېنستی.

صحابه کرامو ﷺ چې ولیدی، نو هغه یې په سختې سره منع کړی، چې ته دا څه کوې؟ پیغمبرﷺ صحابه وو ته وویل چې تاسو دَی په دې حالت کې پرېږدی، چې کله د بولو څخه فارغه سو، پیغمبرﷺ ته راغلی، پیغمبر ورته وایي ګوره دا مسجدونه د الله تعالی کورونه دي، او الله تعالی د ډیرو عظمتو والا ذات دئ، او د عظمتو والا ذات کور هم باید پاکیزه وي.

پیغمبرﷺ په دومره محبت او حکمت سره هغه ته خبره وکړه، چې هغه د پر متاثره سو، نو لږ وخت وروسته هغه وایي: چې زه واپس ځم پیغمبرﷺ ده ته د اغوستلو لپاره یو لباس هم په هدیه کې ورکړی، چې هغه کله پر پښو روان سو، نو د الله محبوبﷺ د سپورتیا لپاره و هغه ته خپله اُوښه د هدیې په شکل ور کړه، هغه اعرابي لباس واغوستی او پر اوښه سپور د خپل کلي طرفته روان سو.

چې کله خپلې قبیلې ته ورسېدی، نو د کلي څخه د باندي یې یو نعره وکړه، او خپل ټول قریبان یې را طلب کړه، هغه چې کله را جمع سوه، نو د ده څخه پوښتنه کوي، چې څه پېښه ده؟

---

(۱) خطبات فقیر، جلد نمبر۴، صفحه نمبر ۵۶

دَی ورته وایي چي ما یو داسي مُعَلِم او مُشفِق انسان لیدلی دی، چي د ډېر مشفق او د حکمت او د اخلاقو ډک ذات دی، ما دومره لوی جرم وکړی، چي د الله تعالی په کور کي مي گندکي سره وغوړوله (خوره کړه)، هغه نه ماته څه غوصه کړېده، نه یې زه وهلی یم، هغه زما سره د سختۍ نه بلکه د محبت او د شفقت معامله وکړه.

بیا چي زه کله راتلم ماته یې داسي هدیې او تحفې راکړې، نو هغه ټول قربان ورته وایي: چي مور ہم ورځو دا بهترین مُشفِق او مُعَلِم ذات وینو.

چنانچه د ده د قبیلې درې سوه (۳۰۰) کسان د ده سره د پیغمبرﷺ حضور ته راغلل او د پیغمبرﷺ د حکمته ډک تعلیمات یې واورېدل او په هغه ورځ هغه ټوله قوم او قبیله مشرف په اِسلام سوه. (۱)

## د پیغمبرﷺ عقل او ذهانت:

په "عوارف المعارف" کي لیکلي دي: چي د عقل ټولي سل (۱۰۰) حصې الله تعالی پیدا کړېدي، چي په هغه کي نه نیوي (۹۹) حصې په حضور اکرمﷺ پوري خاص دي، او صرف یوه حصه د دنیا په ټولو عقلاؤ، علماؤ، دانشورانو، مدبرینو، کي تقسیم سوېده. (۲)

## د پیغمبرﷺ د ذهانت یو څو واقعات:

(۱) یو ځل پیغمبرﷺ ته یو سړی راغلی، او ورته وایي چي زه اسلام قبلوم لېکن په ما کي څلور (۴) خراب خصلتونه دي، زه پدې خرابو خصلتو کي صرف یو پرېښولای سم، باقي نسم پرېښولای.

پیغمبرﷺ پوښتنه کوي: هغه خراب خصلتونه څه دي؟ هغه سړی ورته وایي:

۱. چي اول خو شراب چیښم.

۲. او دوهم د زنا عادي یم.

(۱) خطبات فقیر، جلد نمبر ۴، صفحه نمبر ۵۷

(۲) علمي تقریرونه، جلد نمبر ۱، صفحه نمبر ۱۳۹

۳. او دریم غل یم غلا وي کوم.
۴. او څلورم دروا غ هم وایم.

په دې څلورو (۴) کې زه یو عادت پرېښولای سم نور نسم پرېښولای، کچیرې زما دا شرط اسلام قبلوي، نو زه مسلمان کېږم، کنې نو پر خپل کفر باندې ژوند تېروم.

پیغمبرﷺ ورته وایي: چې بس دا یو خوی پرېږده چې "درواغ نه ویل" چنانچه هغه سړي اسلام قبول کړی، او د درواغ نه ویلو وعده یې وکړه، د شپې چې کله ده ته د شرابو شوق ور ولاړ سو، نو د ځانه سره یې فکر وکړی، که سبا د پیغمبرﷺ په مجلس کې زما څخه پوښتنه وسي، چې تا شراب چیښلي دي او کنه؟

که زه اقرار کوم، نو د پر به رسوا سم تول خلګ به پر ما باندې لعنتونه وایي، او که هلته اقرار نه وکړم، نو بیا خو د درواغو سره مخامخ کېږم، نو هغه سړی د شرابو تر چیښلو تېر سو او شراب یې نه وچیښل.

چې کله د زنا جوش پر ده باندې غالب سو، لیکن بیا یې په دماغ کې دا ورغلل که سبا زما څخه د پیغمبرﷺ په مجلس کې پوښتنه وسي، نو څه جواب به ور کوم، که اقرار کوم، نو شرم دی، او د دښمنۍ خطره هم ده، او که انکار کوم نو درواغ ویل لازمېږي، نو هغه سړي زنا هم پرېښول.

او داغه رنګه چې کله د غلا او ډاکې فکر یې په دماغ کې راغلی، دستې یې دا سوچ وکړی، کچیرې اقرار کوم، نو د شرم او د جګړې او خطرې سره مخامخ کېږم او که انکار کوم، په درواغو کې مبتلاء کېږم، حالانکه ما د پیغمبرﷺ سره د درواغ نه ویلو وعده کړېده، نو هغه سړی په دې شکل د ټولو بد خصلتو څخه محفوظ سو.

سهار چې کله د پیغمبرﷺ مجلس ته راغلی نو په تبسم او خندا دی، پیغمبرﷺ ته وایي چې ای د الله رسوله! تا ماته داسې نسخه را وښوله، چې ټولې ګناوې را څخه پاته سوې. (۱)

(۱) علمي تقریرونه، جلدنمبر۱، صفحه نمبر۱۳۹

(۲) قریشو چې کله د "بیت الله" عمارت مکمل کړی، نو بیا پر دې باندې جګړه راغله چې حجر اسود به څوک پر خپل ځای باندې ایږدي، د هرې قبیلې سردار په ضد وو، چې زه به یې ایږدم، خبره تر دې حده ورسېده، چې د توررو را اخیستو او جنګو کولو ته تیار سوه.

آخر یو چا د دوی په مابین کې مصالحة او صلح په دې شکل وکړه، چې سبا چې کم سړی سهار وختې د ټولو څخه مخکې "بیت الله" ته راغلی، هغه به فیصله کوي.

چنانچه سهار وختې پیغمبرﷺ "بیت الله" ته راغلی، او په دې وخت کې ده ته نبوت نه وو ور کول سوی، مګر خلګو چې دی ولیدی، نو په خوشحالي سره یې د ده پر فیصله کولو اتفاق وکړی.

پیغمبرﷺ په دا شکل فیصله وکړه چې یو پټو او څادر یې را وغوښتی، او "حجر اسود" یې په هغه کې کښېښوله او بیا یې ټولو سردارانو ته دا وویل: چې د پټو او څادر یو یو کونج ونیسئ، "حجر اسود" را واخلئ، او ما د ځان وکیل مقرر کړئ، ټولو دی وکیل مقرر کړی، ده په خپل لاس سره حجر اسود په هغه ځای کې کښېښوله او دا یې وویل چې زما ایښول ستاسو د ټولو ایښول دي.

لهذا اوس هر سردار دا ویلای سي، چې دا شرافت ما حاصل کړی دی، نو په دې شکل د یوې ویني تویونکي جګړې څخه د پیغمبرﷺ په برکت سره هغه قوم او قبیله خلاصه سوه، نو دا ذهانت او عقل د لېونیانو نه وي، بلکه دا د کمال ذهانت او د کمال عقلمندی علامه بلل کیږي. (۱)

(۳) د پیغمبر په زمانه کې په مدینه منوره کې یو همسایه د بل همسایه څخه ډېر تنګ دئ، هغه راغلئ پیغمبرﷺ ته یې شکایت پېش کړئ، چې دا همسایه ما ډېر تنګوي.

پیغمبرﷺ ورته وایي: ورسه د خپل کور ټوله سامان د باندې په لاره کې کښېږده چې کله څوک تېرېږي او پوښتنه کوي، نو ته ورته وایه چې زما همسایه ما ډېر تنګوي، نو ځکه ما کور ورپرې ایښی دئ.

---

(۱) علمي تقریرونه، جلد نمبر ۱، صفحه نمبر ۱۴۰

چي کله څو کسانو پوښتنه وکړه، نو هغو ټولو باره پر هغه سړي باندي لعن طعن شروع کړی، چي د ده همسایه څومره بد سړی دئ، چي د هغه دلاسه همسایه په دې حال کي دی.

په دې دوران کي هغه بل همسایه خبر سو، په منډه راغلی منتونه او زاری یې شروع کړه، چي آئنده به هیڅکله داسي نه کوم، د خدای پخاطر خپل کورته ولاړ سه، زه دي په ټوله دنیا کي بد نامه کړم.

چنانچه هغه سړي خپل سامان بیرته واپس کورته یوړی او په کور کي یې په آرامه زندګي شروع کړه.

(۴) د اُحد د جنګ نقشه پیغمبرﷺ پخپله تیاره کړه، او د جنګ دارومدار یې پر "جَبل رُماة" کښېښوی، نن د دنیا تمام عقلاء او جنګي ماهرین پر دې متفق دي، چي د جنګ مرکزي نقطه داغه "جَبل رُماة" دی.

پیغمبرﷺ هلته پنځوس (۵۰) غشي ویشتونکي صحابه کرام مقرر کړه، او دا هدایت یې ورته جاري کړی، د جنګ حالت چي هر څنګه وي، تاسو به د خپله ځایه څخه نه ښوری، لېکن وروسته چي کله هغه صحابه کرام د هغه ځایه څخه ولاړل نو یو دم د جنګ هغه نقشه بدله سوه، او د فتح څخه وروسته ماتې او شکست راغلی.

(۵) د پیغمبرﷺ په زمانه کي یو سړي بل سړی ناحقه قتل کړی وو، پیغمبرﷺ او د قاتل وارثانو ډېر کوشش وکړی، چي د مقتول وارثان دیت قبول کړي، یا معافي وکړي.

لېکن د مقتول وارثان یوې خبري منلو ته هم تیار نه وه، پیغمبرﷺ هغه قاتل د دوی په حواله کړی، او بیا یې ورته وویل که چیري دا وارثان دا قاتل مړ کړي، نو دا د مقتول وارثان به هم قاتلان جوړ سي، د هغه مقتول وارثانو ته چي کله دا خبره ورسېده نو هغو دستي قاتل معاف کړی.

د ظاهري الفاظو څخه پیغمبرﷺ فائده پورته کړه، چي د هغې په وجه د یو انسان نفس بچاو سو.

د مقتول وارثانو ته که څه هم د قاتل قتل کول جائز وه، لیکن قتل خو بهرحال وو او دوی هم بیا قاتلان بلل کیږي په معنی لغوي سره.

(٦) یو سړي د پیغمبر ﷺ څخه د سوارلۍ غوښتنه وکړه، چي ماته یو اوښه را کړه چي زه پر هغه باندي سوارلي وکړم.

پیغمبر ﷺ ورته وایي: زه به تا د اوښي پر بچي باندي سپور کړم، هغه په جواب کي ورته وایي چي د اوښي بچی زه څه کوم، یعني زما خو لوی اوښ په کار دی، زه د اوښ کوچنی بچی نه کوم.

پیغمبر ﷺ ورته وایي: چي هر څومره لوی اوښ وي هغه خو آخر د اوښي بچی دی.

(۷) په روایاتو کي راځي:

.........أتت عجوز إلى النبي ﷺ فقالت: يا رسول الله، ادع الله أن يدخلني الجنة﴾. چي یوه بوډۍ او سپین سرې زنانه پیغمبر ﷺ ته راغله، ورته وایي ای د الله رسوله! ماته دعاء وکړه چي الله تعالی ما جنت ته بوځي.

.........فقال: يا أم فلان، إن الجنة لا تدخلها عجوز﴾. پیغمبر ورته وایي: ای د فلانکي موري جنت ته سپین سري نه ځي.

.........قال: فولت تبكي﴾. هغه بوډۍ د پیغمبر ﷺ څخه په ژړا روانه سوه.

.........فقال: أخبروها أنها لا تدخلها وهي عجوز﴾. پیغمبر ﷺ سړی پسي ور واستوی چي هغه بوډۍ ته سرور خلاص کړئ، چي الله تعالی یې د سپین سرۍ سره سره جنت ته نه داخلوي؛ الله تعالی فرمايي:

.........إنا أنشأناهن إنشاء فجعلناهن أبكارا عربا أترابا﴾. چي موږ به دوی نوي پیدا کوو بیا به دوی باکرې او ځواني کرځه وو او بیا به یې جنت ته داخله وو.[1]

---

[1] الشمائل المحمدیه حدیث: ۲۴۱

(۸) په صلح حديبيه کي کفارو پر مسلمانانو سخت شرط کښېښنوی، کچيري يو مسلمان د مدينې څخه مکې ته راځي نو کفار به هغه ته پناه او ځای ورکوي.

او کچيري يو کافر د مکې څخه مدينې ته راتلئ نو مسلمانان هغه ته پناه نسي ور کولای بلکه واپس به يې استوي.

پر دې شرط باندي عام مسلمانان باالخصوص حضرت عمر فاروقﷺ ډېر پرېشانه وو، او ټول په دې پوهېدل چي دا يو کمزورې فيصله ده، وروسته پېغمبرﷺ ورته وويل چي تاسو ګورئ! چي کم سړی زموږ د مجلسه څخه مکې ته ځي نو هغه نو ګډوډ سړی دی، په کار دا دی چي موږ يې د خپل مابينه څخه وباسو، چي کله دَی په خپله ځي نو د پرېشانۍ څه خبره ده؟

او د کفارو څخه چي موږ ته يو سړی راځي کېدای سي هغه جاسوس وي، نو زموږ لپاره مناسب دا دی: چي واپس يې کړو، چي کله قريش په خپله د هغه غوښتنه کوي، نو د پرېشانۍ څه خبره ده؟ نو بيا وروسته د صحابه کرامو ﷺ په دماغ کي د خبري حکمت راغلی.

بهر حال داسي "اعقل البشر" او باحکمته انسان ته لېونی ويل دا په خپله لېونتوب دی، د دې درس څخه موږ ته دا تعليم په لاس راغلئ چي مسلمان امت عقلمند دی؛ ځکه د دوی رسولﷺ د ټوله انسانيت څخه زيات عقلمند وو.

په يو روايت کي راځي: چي د قيامت د علامو څخه يوه غلامه دا ده چي د خلکو څخه به عقل واخيستل سي، دا ښکاره خبره ده، چي کم خلک پر دين عمل کوي، نو هغه د هغه خلکو څخه زيات عقلمند بلل کېږي، چي د دينه څخه ليري دي.

نو زموږ دپاره مناسب دا ده چي په خپل دين پوري لاسونه مضبوط کړو او د ځانه څخه عقلمند انسانان جوړ کړو. الله تعالی دي دا ټو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

(آمين يا رب العالمين)

وَصَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآیه)

# د محبت بیان

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامہ ٹاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دارالعلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتــي حـافـظ كليم الله صـاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاريـــخ | جمادي الاولى ۱۴۴۲ بمطابق ۲۴ جنوري ۲۰۲۱ |
| تـعـــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

وَقَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ﴿لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ، حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمُ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمُ، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

## د الله او د الله د رسول ﷺ سره محبت:

محترمو مشرانو! الله تعالی انسان ته په دنیا کي مختصره عارضي او فاني زندګي ور کړېده، خو د دنیا په زندګي کي انسان د الله تعالی په عبادت او د پیغمبر ﷺ په اطاعت مکلف ګرځېدلی دی.

چي کله یو سړی د الله تعالی عبادت کوي، د هغه لپاره د عبادت کولو څخه مخکي دا ضروري ده، چي د ده په دل او دماغ پوري به د الله تعالی مینه او محبت پیوست وي.

کچیري د یو چا په دل او دماغ کي د الله تعالی محبت نه وي، نو د هغه عبادت بې روحه، بې مغزه، بې ثمري او بې نتیجې بلل کیږي.

---

(۱) الاحزاب آیت نمبر، ٦

(۲) بخاري شریف حدیث، ۱۵

همدا رنګه د پیغمبر ﷺ د اطاعت لپاره دا ضروري ده چې د اطاعت کولو څخه مخکې به د انسان په دل او دماغ پورې د پیغمبر ﷺ محبت پیوست وي.

کچیرې د انسان په دل او په دماغ کې د پیغمبر ﷺ محبت نه وي، نو د هغه دا اطاعت بې روحه، بې مغزه، بې ثمرې او بې نتیجې بلل کیږي، بلکه په حقیقت کې هغه انسان د کامل ایمان مالک او خاوند نه بلل کیږي.

لکه و دې حقیقت ته قرآن کریم په دې الفاظو اشاره کړېده؛

............﴿النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ﴾.(۱)

چې د دې نبي سره به ستاسو محبت تر خپلو ځانو هم ډېر وي، او د دې نبي د کور زنانو ته به د خپلو میندو په نظر ګورئ.

او د حضرت ابی بن کعب ﷺ په قرائت کې د دې څخه وروسته دا هم راغلي دي:

............﴿وَهُوَ أَبٌ لَهُمْ﴾. دا نبي ستاسو لپاره د روحاني پلار په منزله دی.

نو د قرآن کریم څخه دا خبره ښکاره سوه، چې د نبي اکرم ﷺ سره به د انسان محبت تر خپل نفس او ځان زیات وي.

او د پیغمبر ﷺ د حدیث مبارک څخه هم دا ښکاره کیږي چې د کمال ایمان لپاره د پیغمبر ﷺ محبت ضروري دی:

............﴿لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ، حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ﴾.(۲)

چې یو سړی په تاسو کې کامل مؤمن تر هغه وخته پورې نسي جوړېدای، چې تر څو پورې زه و ده ته تر خپل مور او پلار او تر خپل اولاد او د دنیا تر ټولو انسانانو محبوب نسم.

---

(۱) الاحزاب آیت نمبر؛ ٦

(۲) بخاري شریف حدیث؛ ۱۵

## د حضرت عمر ﷜ ایمان کامل کېدل،

حضرت عمر ﷜ چي کله دا حديث مبارک واورېدی نو وايي؛ چي ای د الله رسوله! زما دي د الله تعالی په ذات قسم وي، چي تر مور او پلار د ېر راته محبوب يې، او داغه رنګه تر خپل اولاد هم د ېر راته محبوب يې، او د دنيا تر ټولو انسانانو هم د ېر راته محبوب يې، لېکن په دې مي سر نه خلاصيږي، چي تر خپل ځان څنګه د ېر راته محبوب سې.

پيغمبر ﷺ ورته وايي: ای عمره! که تر خپل ځان د ېر درته محبوب سم، نو تر هغه وخته دي ايمان کامل نسي جوړېدای.

د هغه څخه وروسته پيغمبر ﷺ د حضرت عمر ﷜ پر زړه باندي توجه کوي، د لږ توجه کولو څخه وروسته د حضرت عمر ﷜ د خولې څخه دا چيغه خيږي:

............وَاللّٰهِ، لَاَنْتَ اَحَبُّ اِلَيَّ مِنْ نَفْسِيْ﴾.

په خدای قسم ای د الله تعالی رسوله! اوس تر خپل ځان هم د ېر راته محبوب سوې.

پيغمبر ﷺ په جواب کي ورته وايي: ﴿اَلآنَ يَا عُمَرُ﴾ ای عمره اوس دي ايمان کامل او مکمل سو. (۱)

د قرآن کريم او د احاديثو د تصريحاتو څخه دا خبره واضحه ګرځي، چي پر هر مسلمان باندي لازمه او واجبه ده، چي د ده په زړه کي به د پيغمبر ﷺ محبت تر خپل ځان تر خپلو کشرانو او مشرانو بلکه تر ټولو انسانانو زيات وي.

عام طور محبت يا د مشرانو سره کيږي، او يا د کشرانو سره کيږي يا د مساوي او برابرو انسانانو سره کيږي، په دې حديث کي دا درې (۳) سره درجې را جمع سويدي؛ ځکه په ﴿وَالِدِهِ﴾ کي اشاره مشرانو ته ده. او په ﴿وَوَلَدِهِ﴾ کي اشاره کشرانو ته ده. او د ﴿وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ﴾ څخه مراد برابر او مساوي انسانان کېدای سي.

---

(۱) علمي تقريرونه، جلد نمبر۱، صفحه نمبر ۱۶۴

علامه ابن بطال رحمة الله علیه محبت پر درې (۳) نوعې تقسیم کړېدی:

۱. محبت اجلال و تعظیم لکه: د انسان چې د مور او پلار او د مشرانو سره محبت وي.
۲. محبت شفقت لکه: د اولاد محبت.
۳. محبت لذت لکه: د خاوند او د زناني په مابین کي محبت.

نو په دې حدیث کي دې درو (۳) محبتو ته اشاره ده چې د پیغمبر ﷺ سره به محبت تر دې ټولو محبتو زیات وي.

## سوال:

اوس د انسان په دماغ کي دا سوال را ګرځي چې کله د انسان محبت د مور او پلار یاد اولاد یا د کور د زناني سره په داسي شکل وي، چې هغه یو ګړی هم د انسان د دماغه نه لیري کیږي.

او د دې په مقابل کي پیغمبر ﷺ دومره زیات د انسان په یاد کي نه راځي، نو د دې خو دا معنی چې د انسان محبت د مور او پلار او د اولاد سره تر پیغمبر ﷺ زیات دی، او خدا نه خواسته یو انسان هم د کامل ایمان مالک ندی؟

## جواب:

د محبت دوه (۲) قسمه دي:

۱. اول قسم محبت طبعي دی: چې د انسان په طبیعت او په مزاج کي داسي ګرځېدلی وي، چې انسان په هغه کي صاحب اختیار نه وي، بلکه غیر اختیاري محبت وي، لکه: د مور او پلار یا د اولاد یا د زناني، چې د هغو محبت د انسان په اختیار کي نه وي.

دا محبت چونکه د بنده په اختیار کي نه دی، نو ځکه الله تعالی په دې محبت انسان نه مکلف کوي، ځکه الله تعالی په هغه شي باندي انسان مکلف کوي

چي هغه د انسان په اختیار کي وي، نو په حدیث شریف کي د انسانانو څخه د دې قسم محبت مطالبه نه کېږي.

۲. دوهم قسم محبت عقلي و شرعي د دې مطلب دا دی: چي یو عمل د انسان سره نا مناسب دی، او د انسان نفس د هغه د کولو تقاضا کوي، لېکن شریعت انسان ته وایي: چي د مستقبل لپاره دا کارستا سره مناسب ندی، نو انسان د نفس تقاضا پرېږدي، او د شریعت او د عقل صحیح په تقاضا باندي د هغه نا مناسب کاره څخه اجتناب او پرهېز وکړي.

زه د دې تاسو ته یو مثال بیانوم: چي د پېغمبر ﷺ په یو حدیث مبارک کي راغلی دی:

.........صِلْ مَنْ قَطَعَكَ﴾. چي کم چا وصله رحمي در سره پرېکړه ته د هغه سره وصله رحمي کوه.

چي کله قریبان د انسانه سره وصله رحمي ختمه کړي، نو په دې وخت کي د انسان و مخته د نفس تقاضا راسي چي دی دي پر څه نه بولي نو ته یې هم پر څه مه بوله، یعني ته هم وصله رحمي ور سره ختمه کړه، نو د نفس محبت د انسان څخه د دې وصله رحمی د ختمولو تقاضا کوي.

لېکن د دې په مقابل کي د پېغمبر ﷺ د محبت تقاضا دا راسي:

.........لاَ يَدْخُلُ الجَنَّةَ قَاطِعٌ﴾. چي کم څوک وصله رحمي ختموي، هغه جنت ته الله تعالی نه داخلوي. (۱)

نو په دې وخت کي انسان په امتحان کي راسي، چي د چا تقاضا پر ځای کړي، ایا د نفس تقاضا پر ځای کړي، او که د پېغمبر ﷺ تقاضا، چي د هر چا تقاضا یې پر ځای کړه نو د هغه سره یې محبت دی.

---

(۱) بخاري شریف حدیث، ۵۹۸۴

خدا نه خواسته که په دې وخت کې انسان د پیغمبر ﷺ د محبت پر ځای د خپل نفس په محبت کې راسي نو بیا خو د انسان ایمان کامل نه بلل کیږي.

او داغه رنګه پیغمبر ﷺ وایي؛

..........وَاعْفُ عَمَّنْ ظَلَمَكَ﴾. چې کم چا ظلم در سره وکړی، ته معافي ورته کوه، نو د نفس د محبت تقاضا د ظلم په بدله کې انتقام اخیستل دي، لېکن د پیغمبر ﷺ د محبت تقاضا د ظلم به بدله کې معافي کول دي، نو په دې وخت کې بیا انسان په امتحان کې وي، چې د هر چا تقاضا پر ځای کوي، د هغه سره محبت کونکی بلل کیږي.

پیغمبر ﷺ وایي؛

........ ....وَأَحْسِنْ إِلَى مَنْ أَسَاءَ إِلَيْكَ﴾. چې کم چا بد در سره وکړل، نو ته احسان ور سره کوه. (۱)

نو د بدو په مقابل کې بد کول دا د انسان د نفس د محبت تقاضا هم وي د انسان، د قریبانو د محبت تقاضا هم وي، د انسان د پېغور او رواج د محبت تقاضا هم وي.

لېکن د پیغمبر ﷺ د محبت تقاضا د دې ټولو په مقابله کې دا ده چې د چا پر بدو د هغه سره احسان کول.

نو اوس چې سړی د هر چا د محبت تقاضا پر ځای کوي، نو د هغه سره محبت کونکی بلل کېږي، کچیرې ته په معاشره کې د نفس یا د قریبانو او یا د پېغور او رواج تقاضا پر ځای کوې، او بیا په خوله دا وایې، چې زه د پیغمبر ﷺ سره محبت لرم، هسې نه چې په دې دعوه کې درواغجن نه یې، او هسې نه چې د کامل ایمان څخه برخه مند هم نه یې.

(۱) شعب الایمان حدیث؛ ۷۵۸۵

یا مثلا پر انسان باندي جهاد فرض عین وګرځېدئ د کور د زناني یا د مور او پلار یا د بچیانو د محبت تقاضا دا وي چي انسان په کور کي کښېني او د جهاد میدان ته سر ور ښکاره نکري.

لېکن د ایمان او د پیغمبرﷺ د محبت تقاضا خو دا ده چي د مور او پلار او د بچیانو او د زناني خبره پرېږده او د پیغمبرﷺ پر حکم باندي ولاړ سه، په جهادي عمل کي شرکت وکره.

نو په دې وخت کي هم انسان په امتحان کي راځي، چي دَ ی د چا و خبره ته غوږ ایږدي او د چا په تقاضا عمل کوي، او د چا سره د محبت اظهار کوي، که د هر چا سره د محبت اظهار وکري، نو د هغه ثمره او نتیجه په لاس ور ځي، د پیغمبرﷺ د محبت نتیجه او ثمره کمال ایمان دی.

او د پیغمبرﷺ په مقابله کي د خپلي زناني او بچیانو سره د محبت اظهار کول، دا د نقصان ایمان علامه بلل کیږي.

## د محبت دري (۳) اسباب:

محبت د درو (۳) اسبابو په وجه کیږي:

۱. جمال.

۲. کمال.

۳. نوال او سخا.

چي دا دري (۳) سره په پیغمبرﷺ کي په کامله درجه موجود دي، بیا د دنیا په یو مخلوق کي هم په داغه درجه وجود نلري.

۱. جمال: د جمال متعلق د شمائلو څخه دا معلومیږي چي د پیغمبرﷺ جمال په ټوله انسانیت کي زیات وو.

حضرت جابر ابن سمره ﷺ هغه جلیل القدر صحابي دی، چي تر دوه زره (۲۰۰۰) واره يې زيات د پيغمبر ﷺ په امامت کي لمونځ کړيدی، او تر سلو (۱۰۰) مجلسو زيات د پيغمبر ﷺ په مجالسو کي شريک سويدی.

دی وايي چي زه د شپې په وخت کي مسجد نبوي ته راغلم مخته پيغمبر ﷺ دی:

............وَعَلَيْهِ حُلَّةٌ حَمْرَاءُ﴾.

او پر ده باندي سور څادر هوار دی، او د ده پر سر باندي د څوارلسم سپوږمۍ ځليږي، نو حضرت جابر ابن سمره يو ځل د پيغمبر ﷺ مخ مبارک ته ګوري، او بيا سپوږمۍ ته ګوري، بالآخريې په زړه کي دا فيصله وکړه، او وې ويل:

............فَلَهُوَ أَحْسَنُ عِنْدِي مِنَ الْقَمَرِ﴾. زما سردار محمد رسول اللهﷺ د آسمان د سپوږمۍ څخه هم ډېر زيات ښائسته دی.

وروسته بيا يو سړی د حضرت جابر ابن سمره ﷺ څخه پوښتنه کوي، چي ايا د پيغمبر ﷺ مخ مبارک د توري غوندي وو، دی فورًا په جواب کي ورته وايي:

............لَا، بَلْ مِثْلَ الشَّمْسِ وَالْقَمَرِ، مُسْتَدِيرًا﴾. نه، بلکه په مثل د لمر او سپوږمۍ ځلېدونکی وو.([1])

د حسن او ښائست په باره کي "ابو علي ابن سينا" ليکلي دي: چي حسن او ښائست دې ته نه وايي چي د انسان رنګ سپين، سور، يا ژړ او غنم رنګه وي، بلکه حسن د ظاهري اعضاؤ د تناسب نوم دی، چي د انسان د بدن ټول اندامونه پخپل مابين کي په تناسب کي وي.

په شمائلو کي چي د پيغمبر ﷺ کمه حليه مبارکه ذکر سوېده، د دې څخه دا معلوميږي چي د آدم ﷺ څخه ونيسي بيا تر اوسه پوري چي څومره انسانان دې دنيا ته راغلي دي، چي په هغو کي پيغمبر ﷺ څومره زيات متناسب الاعضاء دی، نه د ده

---

([1]) الانوار في شمائل النبي المختار حديث، ۱٦۱

څخه مخکې او نه د ده څخه وروسته تر قیامته پورې داسې متناسب الاعضاء انسان
بل دې دنیا ته راتلای سي.
لکه حضرت حسان ابن ثابت د پیغمبر ﷺ د حُسن نقشه په دې شکل باندې بیانوي:

وَأَحْسَنُ مِنْكَ لَمْ تَرَ قَطُّ عَيْنِيْ ★ وَأَجْمَلُ مِنْكَ لَمْ تَلِدِ النِّسَاءُ

ستا څخه زیات ښائسته زما سترګو هیڅکله نه دی لیدلی، او ستا څخه زیات ښائسته هیڅ کلی مور دنیا ته نه دی زیږولی.

خُلِقْتَ مُبَرَّءًا مِنْ كُلِّ عَيْبٍ ★ كَأَنَّكَ قَدْ خُلِقْتَ كَمَا تَشَاءُ

ای پیغمبره! ته داسې د عیبونو څخه پاک پیدا سوی یې، لکه: پخپله مرضۍ چې پیدا سوی یې.
لهذا په انسانانو کې د ټولو څخه زیات خوبصورت او ښائسته پیغمبر ﷺ دئ، چې څوک د ښائست او حسن په وجه د چا سره محبت کوي، نو د ټولو څخه زیات د محبت لائق ذات د پیغمبر ﷺ بلل کیږي.

ای چهره زیبائے تو رشک بتان آذری ★ ہر چند وصفت می کنم در حسن زان بالاتری

آفاقہا گردیده ام مہر و یان ورزیده ام ★ بسیار خوبان دیده ام لیکن تو چیزے دیگری

چې ستا پر ښائسته مخ د "آذر" تراشل سوي بُتان حسد او غبطه کوي، چې څومره ستا د حسن اوصاف بیانوم، ته د هغه څخه زیات یې.
په ټوله دنیا کې وګرځېدم د لمر غوندې ځلېدونکې مُخان مې ولیدل، لېکن ته د هغو ټولو څخه علاوه یې.

۲. کمال: د محبت دوهم سبب کمال دی، د پیغمبر ﷺ کمالات خو هیڅوک شمارلای نه سي، دَی سید الاولین والآخرین دی؛ او سید الانبیاء والمرسلین دی، امام المتقین او خاتم النبیین دی، چې په انبیاء کرامو کې څومره کمالات موجود دي، هغه یو اځې الله تعالی په ده کې را جمع کړیدي.

مَضَتِ الدُّهُوْرُ وَمَا أَتَيْنَ بِمِثْلِهِ ... وَلَقَدْ أَتَى فَعَجَزْنَ عَنْ نُظَرَائِهِ

زمانې تېرې سوې، د "محمد عربي" غوندي انسان يې پېش نکړی، زمانې خو راغلې لېکن د "محمد عربي" د مثل پېشولو څخه عاجزه سوې.

د پېغمبر ﷺ د کمال بنه اندازه د دې څخه هم معلومېږي چي کله د معراج په شپه باندي په "بيت المقدس" کي انبياء کرام ټول سره را جمع سوه، او په صفو کي د لمانځه لپاره په ترتيب ودرېدل.

نو د څوارلس (۱۴) طبقه ملائکو انتظار و دې ته دی، چي د دې مبارک قوم امامت به څوک کوي؛ ځکه چي کم څوک د دې قوم امام سي هغه به د دې قوم سردار هم بلل کيږي، د چا نظر پر حضرت آدم علیه السلام دی چي د ټوله انسانيت پلار دی، د چا نظر پر حضرت ابراهيم علیه السلام دی چي د الله تعالی خليل او دوست دی، او څوک د حضرت موسیٰ علیه السلام انتظار کوي، چي د الله تعالی کليم دی.

لېکن حضرت جبرائيل علیه السلام راځي او په صف کي هغه قريشي، هاشمي، مکي، مدني ﷺ تر لاس نيسي چي ای محمده! د دې قوم د امامت ور کولو لائق ته يې او د دې قوم سرداري به همېشه ستا سره وي، نو پېغمبر ﷺ د انبياؤ و قوم ته امامت ور کوي، او د دې قوم سردار جوړېږي، دا د پېغمبر ﷺ لوی کمال بلل کيږي.

د دې کمالاتو وروسته د پېغمبر ﷺ ختم نبوت دا لوی کمال دی، چي ټولو کائناتو ته شامل دی، چي دَی د انسانيت دپاره داسي مرجع د هدايت دی، چي د ده څخه وروسته د هدايت او رهنمائي د هيڅ مرکز ضرورت نسته، بلکه که سړی دا ووايي چي د الله تعالی د ذات څخه وروسته که کمال په يو چا کي کېدای سي، هغه ټول په پېغمبر ﷺ کي را جمع سوي دي، لکه، يو شاعر وايي؛

لَا يُمْكِنُ الثَّنَاءُ كَمَا كَانَ حَقُّهُ

بعد از خدا بزرگ توئے قصہ مختصر

۳. نوال او سخا: د محبت دريم سبب نوال او سخا ده کچيري په روحاني لحاظ ورته وکتل سي، نو په اربونو او کربونو انسانانو ته ده د هدايت عظيم دولت ور کړيدی، د دې څخه لويه سخا به نو نوره څه وي؟

د دې څخه علاوه په ماديا تو کي د پيغمبر ﷺ د سخاوت نظير او مثال نه پيدا کيږي حضرت عائشې مبارکې د پيغمبر ﷺ د سخا تشبيه د يو تېز رفتاره سيلۍ سره ور کړېده.

په يو روايت کي راځي چي پيغمبر ﷺ ته يو سړی راغلی، د يو اوبښ غوښتنه يې څني وکړه، پيغمبر ﷺ ورته وايي: چي ورسه په هغه دره کي چي څومره اوښان او پسونه دي، هغه ټول در سره بوزه.

په يو بل روايت کي راځي چي د پيغمبر ﷺ سخاوت په دې شان وو چي هغه پخپله ټوله زندګي کي د "لَا" کلمه يعني چي نسته، چاته نه ده استعمال کړې.

مَا قَالَ "لَا" قَطُّ إِلَّا فِي تَشَهُّدِهِ... لَوْلَا التَّشَهُّدُ لَكَانَ لَائُهُ نَعَمْ

هيڅکله ده "لا" بغير د "تشهد" او د "التحيات" څخه نه دی استعمال کړی کچيري "تشهد" او "التحيات" نه وای نو هلته به هم د ده "لا" نعم وای.

خلاصه د کلام دا چي د "جمال" او "کمال" او "نوال" په وجه که څوک د چا سره محبت ساتي نو په ټوله انسانيت کي زيات استحقاق د محبت د پيغمبر ﷺ جوړيږي.

## د پيغمبر ﷺ سره د صحابه کرامو رضي الله عنهم محبت:

موږ چي کم د محبت تقسيم وکړی، دا تقسيم علماء کرامو کړی دی، او بيا يې دا ليکلي دي چي الله تعالی زموږ څخه د کم محبت تقاضا او طلب د پيغمبر ﷺ په حق کي کوي، هغه محبت عقلي او شرعي دی، نه محبت طبعي.

تاسو د صحابه کرامو رضي الله عنهم محبت د پيغمبر ﷺ سره وګورئ! چي په کمه اندازه او کم قسم وو، او په حقيقت کي هغه خلک د پيغمبر ﷺ امتيان او د پيغمبر ﷺ د شفاعت اميد واران بلل کېدل.

او ما و تا که په دې خپلو کړنوانو کي وګورو چي زما او ستا محبت د پيغمبرﷺ سره په کمه اندازه او په کم شکل دی.

## د پيغمبرﷺ د وفات په وخت کي د صحابه وو حال:

د تاريخ او سيرت په کتابو کي ليکلي دي: چي کله د پيغمبرﷺ وفات وسو، نو صحابه کرامو رضي الله عنهم هغه صدمه بالکل نسوه برداشت کولای.

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه خو وقتي طور د پيغمبرﷺ د وفات څخه انکار وکړی، او توره يې کښلې وه، د مدينې په کوڅو کي ګرځېدی، او دا به يې ويل ای خلګو! که چا دا وويل چي پيغمبرﷺ وفات سوی دی، په خدای قسم د هغه سر به په توره په هواء کړم.

حضرت عثمان رضي الله عنه د ډېر غم په وجه د چا د سلام د جواب ور کولو قابل نه وو، چي کم چا به سلام ورته وو ايه ده به هغه ته د جواب ور کولو طاقت نه درلودی، او د عامو صحابه کرامو رضي الله عنهم ومخته روښانه دنيا په تاريکي باندي بدله سوه.

يو صحابي دی، عبدالله ابن زيد رضي الله عنه پخپل باغ کي کار کوي، د هغه بچی په منډه راغلی ورته وايي پلاره محمد رسول اللهﷺ وفات سو.

ده هغه بېلچه وغورځوله او سر يې د آسمان طرفته پورته کړی، او آسمان ته يې وکتل بيا يې مځکه ته وکتل آخر يې د خولې څخه دا وينا را ويسته يا الله! دا سترګي خو هلته سترګي وې، چي کله به دوی د پيغمبرﷺ مبارک جبين ليدی، که به چيري د دې څخه وروسته زما سترګي د پيغمبرﷺ مبارک جبين نه ويني نو يا الله! زما د دې سترګو ضرورت نور نسته زما څخه دا سترګي واخله.

چونکه هغه غوښتنه او وينا يې دومره په اخلاص باندي وه چي پر هغه ځای په سترګو روند سو، بيا يې تر مرګه پوري په سترګو څه نه وليدل، دا د پيغمبرﷺ سره د صحابه کرامو رضي الله عنهم عشق او محبت وو.

## د حضرت بلال حبشي واقعه:

د پیغمبر ﷺ د وفات څخه وروسته حضرت بلال حبشي رضی الله عنه د مدینې په کوڅو کي د لېونیانو غوندي منډې وهي او خلکو ته دا نعرې وهي، چي ای خلکو! زما محبوب محمد رسول الله ﷺ زما څخه پرده کړېده، که د چا سره وي، ما ته یې را ښکاره کړی، لېکن چي کله د پیغمبر ﷺ د دیده څخه مایوسه او نا امیده سو، نو د ځانه سره یې دا فیصله وکړه، چي اوس د مدینې په کوڅو کي د "رسول الله" د لیدلو بغیر ما ته ګوزاره کول ګران دي، نو د "مدینې منورې" څخه یې هجرت وکړئ، شام ته ولاړی، باقي ژوند یې ټول په شام کي تېر کړئ.

یو ځل په شام کي پیغمبر ﷺ په خوب کي وینې نو هغه ورته وایي: چي ای بلاله! دېر بې وفا سوې زه دې بالکل هېر کړم، او یو ځل زما ملاقات ته هم را نغلې.

حضرت بلال حبشي رضی الله عنه چي کله د خوب څخه را بیداره سو، نو په دېر تلوار د پیغمبر ﷺ د ملاقات په نیت د "شام" څخه د "مدینې منورې" پر طرف را روان سو.

د شام څخه تر "مدینې منورې" پوري پنځلس سوه (۱۵۰۰) میله مځکه ده، او ټول رېګونه دي، دا دومره مځکه یې په منډه او په ژړا باندي تر مدینې منورې پوري پرې کړه، او ځان یې "مدینې منورې" ته را ورسوی.

چي کله مدینې ته را ورسېدی نو د مدینې په مسجد کي د لېونیانو غوندي وګرځېدی، چي پر کمو ځایو باندي یې پیغمبر ﷺ لیدلی وو، پر هغه ټولو ځایو یې د پیغمبر ﷺ تلاش وکړی، لېکن هیڅ ځای پیغمبر ﷺ په نظر نه ورغلی، چي کله د پیغمبر ﷺ د دید څخه مایوس او نا امید سو، نو راغلی، د پیغمبر ﷺ روضې مبارکي ته ودرېدئ، ورته وایي، چي ای د الله رسوله! د دېره لیري څخه دي زه د ملاقات په نیت را وبللم او په ډېرو منډو او ستړیاوو مي ځان را ورسوی، لېکن په مدینه کي بیرته ستا د ملاقات څخه محروم او بې نصیبه سوم.

په دېره ژړا کي د پیغمبر ﷺ روضې ته ولاړ دی، بې هوښي ور باندي راغله چي کله څه زمانه بعد په هوښ کي راغلی، نو د مدینې منورې ټول صحابه کرام ﷺ ور باندي را ټول سوه، يو ځل يې د پیغمبر ﷺ د وخت د آذان کولو غوښتنه ځني وکړه.

حضرت بلال ﷺ انکار وکړی، چي په ما کي دومره توان او طاقت نسته چي زه ستاسو په مخ کي د پیغمبر ﷺ د وخت آذان وکړم.

آخر حسن او حسين ﷺ راغلل او پر ده باندي يې ډېر اصرار وکړی، چي ای بلاله! يو ځل پر مؤذن خانه باندي زموږ د نیکه د وخت آذان راته وکړه.

چي کله حضرت حسن او حسين ﷺ حضرت بلال ﷺ پر آذان کولو باندي مجبوره کړئ، نو حضرت بلال ﷺ مؤذن خانې ته وختی چي کله د ده د الله اکبر آواز په مدینه کي سره خور سو، نو په مدینه کي د يو زلزلې شکل او کیفیت جوړ سو.

صحابه کرامو ﷺ ته د پیغمبر ﷺ زمانه په ياد ورغله او ټول په منډه د خپلو کورو څخه را ووتل:

............حَتّٰى خَرَجَتِ الْخُدُوْرُ مِنْ بُيُوْتِهِنَّ﴾.

چي د پیغمبر ﷺ په محبت کي هغه پرده نشيني زناني هم د خپلو کورو څخه را ووتلې او مسجد نبوي ته راځغلې.

حضرت بلال حبشي ﷺ چي کله پخپل آذان کي ﴿اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدَ رَّسُوْلُ اللهِ﴾ ته ورسېدی، ﴿لَمْ يَقْدِرْ عَلَيْهِ حَتّٰى سَقَطَ مَغْشِيًّا﴾ نو پر خپل ځان يې قابو پاته نه سو بې هوښه پر مځکه را غځار سو، او آذان دغسي نیمګړی پاته سو.

چي کله په هوښ کي راغلی نو صحابه کرام ﷺ پوښتنه ځني کوي، چي ای بلاله! ولي بېهوښه سوې؟

نو ده په جواب کي ورته وايي: چي مخکي به ما په آذان کي د "محمد" نوم واخیستی نو ما به نظر وګرځوی، نو ما ته به محمد رسول الله په نظر راغلی.

نیکن نن په آذان کې د "محمد" د نامه اخیستلو وروسته چې ما هر څومره نظر وګرځوئ، ماته "محمد" په نظر را نغلی، نو دغه حالات زما د . داشته څخه وتلي وه، نو ځکه د دې حالاتو نه برداشت کولو په وجه پر ما باندي بېهوښي راغله.([1])

## د پیغمبر ﷺ د محبت امتحان:

چې کله پر صحابه کرامو ﷺ باندې "غزوه بدر" راغله، نو پیغمبر ﷺ په مسجد نبوي کې اعلان کوي، چې د مکې والا وو قافله د "ابو سفیان" په مشري کې د "شام" څخه مکې ته راځي، او د بدر پر لار تېرېږي، تاسو درځئ! چې قافله را وګرځوو، کېدای سي الله تعالی موږ ته ډېر غنیمتونه د هغه قافلې څخه په لاس را کړي.

حالانکه الله تعالی "عالم الغیب و الشهادة" دی، دا نه ورته وایي: چې ای پیغمبره! د تیاری سره د بدر میدان ته ورسه هلته لویه معرکه راځي "ابو جهل" او د زرو (۱۰۰۰) کسانو مسلحو مقابله راځي، الله تعالی صرف د صحابه وو د پیغمبر ﷺ د محبت او پر دین باندې د استقامت امتحان اخلي.

صحابه کرام ﷺ درې سوه دیارلس (۳۱۳) کسان تیار سوه، په ټوله لښکر کې دوه آسان دي، او شپېته (۶۰) یا اویا (۷۰) اوښان دي، اووه (۷) یا اته (۸) توري ور سره دي د چا سره په لاس کې لرګي او چا د ډبرو کاڼي او چا د خپل وس او استعداد مطابق یو څه سامان را اخیستی دی، د روژې په میاشته کې او د ګرمۍ په اوږدو ورځو کې د بدر پر طرف را روان سوه.

چې کله د بدر میدان ته راغله، نو که ګوري د مکې څخه د دوی مخته ابو جهل د زرو (۱۰۰۰) مسلحو کسانو سره را رسېدلی دی، او د دوی د مقابلې لپاره د دوی و مخته سره د خپله لښکره ولاړ دی.

پیغمبر ﷺ چې کله د صحابه کرامو ﷺ سره د دوی مقابلې ته راغلی نو که ګوري هغه زر (۱۰۰۰) کسان دي، او د دوی عدد درې سوه دیارلس (۳۱۳) کسان دي.

---

([1]) گل سے زندگی بنتی ہے صفحہ: ۱۶۸

د هغو سره اووه سوه (۷۰۰) توري ور سره دي، او د دوی سره اته (۸) دانې توري دي.
او د جنګ بهترینه آله چې هغه آسان دي، د هغو سره درې سوه (۳۰۰) دانې ور سره دي، او د دوی سره صرف دوه (۲) دانې ور سره دي.

پیغمبر ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته وایي: ای صحابه وو! زموږ خو دا رایه نه وه، چې دومره لویه معرکه به راځي او د دومره لوی لښکره سره به مقابله راځي، نو اوس ستاسو څه رایه ده، چې موږ باید څه وکړو؟

صحابه کرام ﷺ ټوله حیران دي نه د جنګ کولو همت لري او نه د پیغمبر ﷺ د امر څخه د ځان کښلو همت نو که یو طرفته ګوري نو په نظر کې یې خپله زنانه او بچې وي، او که بل طرفته ګوري نو په نظر کې یې د الله تعالی نبي وي، نو یو طرفته کور دی، بل طرفته د الله تعالی امر دی، صحابه کرام ﷺ د یر په امتحان کې دي.

ځکه قرآن کریم د دوی د دې حالت نقشه داسې بیانوي:

..........كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ إِلَى الْمَوْتِ وَهُمْ يَنظُرُونَ﴾.(۱)

لکه: یو څوک چې خپل مقتل او مرګ ته ور کښو، او هغه دا خپل مرګ او مقتل په سترګو ویني.

پیغمبر ﷺ د صحابه کرامو ﷺ څخه مشوره اخلي ورته وایي ای صحابه وو! څه رایه مو ده؟

څوک غږ نکوي، دوهم ځل بیا پیغمبر ﷺ وایي: ای صحابه وو! څه رایه مو ده؟ په مهاجرو کې مقداد بن اسود ﷺ ولاړ سو، ورته وایي ای د الله رسوله! ستا پر موږ باندې د بنو اسرائیلو غوندې ګومان دی، چې کله به د موسی علیه السلام سره روان وه، چې د سختۍ ځای به راغلئ، نو دوی به دا ویل:

..........فَاذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ﴾.(۲)

---

(۱) الانفال آیت نمبر: ٦
(۲) المائده آیت نمبر: ۲۴

ای موسی! ته او ستا رب ورسئ مقابله وکړئ، موږ به دلته درته کښېنو.
بلکه موږ خو دا درته وایو:
.........﴿فَاذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا مَعَكُمَا مُقَاتِلُوْنَ﴾.
ته او ستا رب درځئ! موږ به دي پر یو اړخ او پر بل اړخ مخ او شاته ځو په خدای قسم چې پر کم ځای باندې ستا د خولو څاڅکي راڅي پر هغه ځای به زموږ د وینو ولې وبهیږي.
چونکه په دې وخت کې د انصارو رایه او مشوره لا نه وه معلومه نو پیغمبر ﷺ بیا ورته وایي ای صحابه کرامو ﷺ څه رایه مو ده؟
نو په انصارو کې سعد بن معاذ ﷺ ولاړ سو، ورته ولیې ای د الله رسوله! ته زموږ څخه پوښتنه کوې، چې زموږ څه رایه ده؟ زموږ خبره واوره:
.........آمَنَّا بِکَ وَ صَدَّقْنَاکَ﴾. اې د الله رسوله! موږ پر تا ایمان را وړیدی، او موږ په آسماني خبرو کې ستا تصدیق کړیدی.
.........فَصِلْ حِبَالَ مَنْ شِئْتَ، وَاقْطَعْ حِبَالَ مَنْ شِئْتَ، وَعَادِ مَنْ شِئْتَ، وَسَالِمْ مَنْ شِئْتَ، وَخُذْ مِنْ أَمْوَالِنَا مَا شِئْتَ﴾.
چې د کم چا سره دوستي کوې ستا اختیار دی، او چې د کم چا سره د دوستۍ رسۍ شکوې هم ستا اختیار دی، زموږ د مالونو او د زموږ د دوستۍ او دښمنۍ ټولو اختیار ستا په لاس کې دی.
.........وَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَوْ اِسْتَعْرَضْتَ بِنَا هٰذَا الْبَحْرَ فَخُضْتَهُ لَخُضْنَاهُ مَعَكَ مَا تَخَلَّفَ مِنَّا رَجُلٌ وَاحِدٌ﴾.
زموږ دې د الله په ذات قسم وي، که ته موږ ته ووایې چې تاسو دریابو ته غوټه سی موږ به ټوله دریابو ته ور غوټه سو، زموږ څخه یو به هم ستا مخالفت ونکړي، ستا سره مو مرګ او شهادت قبول دی، او پر شاه باندې تښتېدل را ته منظور او قبول نه دي.

چي کله د انصارو او د مهاجرو د دواړو د طرفه تسلي راغله نو پیغمبر ﷺ ورته وایي: چي ای صحابه وو! الله تعالی ستاسو امتحان اخیستی، چي تاسو تر کمه حده پوري د الله تعالی پر دین باندي استقامت او د الله تعالی د رسوله سره محبت لری، نور به اوس ستاسو مدد الله تعالی په آسماني مخلوقاتو باندي کوي.(١)

## د زنانو د الله تعالی د رسول ﷺ سره محبت:

چي کله په غزوه اُحد کي هغه وحشتناک خبر مدینې منورې ته ورسېدی، چي پیغمبر ﷺ په احد کي شهید سو.

نو د مدینې منورې ټوله انسانان د اُحد پر طرف په منډه را روان دي، یو زنانه چي د هغې نوم "کلثوم بنت رافع" وو، د اُحد میدان ته په منډه را روانه ده په لاره کي یو څوک ورته وایي: چي ته څه منډي وهې؟ ستا خاوند شهید سو.

دا ورته وایي: چي د خاوند غم نه یم په مخه را اخیستې رسول الله په کم حالت کي وو؟ چي کله یو څه پر مخ ولاړه، نو یو بل څوک په لاره کي بیا ورته وایي: چي ای زناني! ته منډي وهې ستا پلار شهید سو.

دا ورته وایي: چي د پلار غم مي سپک دی، رسول الله په کم حالت کي وو؟ چي بیا مخته یو څه ولاړه، دریم سړی په لاره کي د ورور د شهادت خبر ور کوي، او دا د رسول الله متعلق پر پوښتنو کولو باندي اِصرار کوي.

چي کله د احد میدان ته را ورسېده او پیغمبر ﷺ یې صحیح سالم ولیدی، نو ورته وایي:

.........كُلُّ مُصِيبَةٍ بَعْدَكَ يَا رَسُولَ اللهِ جَلَلٌ﴾.

ستا د صحیح سالم لیدلو وروسته هر مصیبت ماته برداشتول آسانه دي، که د خاوند مصیبت او که د پلار او د ورور مصیبت دی، هغه ټول برداشت کولای سم، لېکن خدا

(١) السيرة الحلبيه، باب غزوة البدر الكبرى صفحه: ٢٠٧

نه خواسته که چیري اوس ته زموږ په مینځ کي نه واى نو دا مصیبت به زموږ د برداشت څخه وتلى واى.

نو دا د صحابه کرامو‌رضی الله عنهم د پیغمبرﷺ سره طبعي محبت وو، چي په هغه سره د انسان ایمان کامل او مکمل ګرځي.

## په موجوده دور کي د ایمان کمال:

اوس سوال دا دى: چي اوس خو پیغمبرﷺ نسته او نه "غزوه بدر" او نه "غزوه اُحد" سته چي د هغه سره په محبت کولو باندي زموږ ایمان کامل سي، نو اوس زموږ لپاره د ایمان کمال په څه کي دى؟

نو د هغه سوال جواب دا دى: چي په موجوده دور کي کم څوک قرآني حاملین وي، د علماؤ او طلباؤ په شکل، د دې مثال زموږ لپاره د انبیاؤ او د صحابه کرامو‌رضی الله عنهم غوندي دى.

که په هغه دور کي د نبي په محبت د انسان ایمان کامل کېدى، نو اوس هم د علماؤ په محبت د انسان ایمان کمال ته رسیږي او خدا نه خواسته که چیري د انسان د علماؤ سره بغض او عناد راسي نو بیا انسان د ایمان د نقصان سره مخامخ کیږي.

په اوس دور کي چي کمي مدرسې دي او کم جهادي پروګرامونه دي، دا زموږ لپاره د "غزوه بدر" او "غزوه اُحد" په مثال دي، که په غزوه بدر او غزوه احد کي انسانانو ته کم اجر او مزدوري ور کول کېدله زموږ د الله تعالى د درباره څخه دا امید دئ، چي د دې مدارسو په خدمت او د دې جهادي پروګرامو په معاونت به الله تعالى موږ ته هم هغه اجر او مزدوري را کوي او په دې سره به زموږ ایمان کامل او مکمل ګرځي.

الله تعالى دي مو د پیغمبرﷺ محبت په زړه کي را ولي او الله تعالى دي مو د ده د وارثانو محبت و زړه ته واچوي او په دنیا او آخرت کي دي مو الله تعالى د کامل ایمان مالکان وګرځوي.

او الله تعالی دي دا څو خبري پخپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

(آمین یا رب العالمین)

وَصَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی خَیْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِیْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللّٰهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الایۃ)

# دوه لوی نعمتونه

(بیان)

مولوی اطیع اللّٰہ صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ٹاؤن) چمن

ترتیب وتخریج!

مفتی حافظ کلیم اللّٰہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ٹاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹه

| | |
|---|---|
| تقریر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتي حافظ کليم الله صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشاعت | اول |
| تاریخ | جمادي الاولی ۱۴۴۲ بمطابق ۲۴ جنوري ۲۰۲۱ |
| تعداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالَى: ﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: ﴿إِنَّمَا بُعِثْتُ رَحْمَةً مُّهْدَاةً﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**د نبي اکرم ﷺ شفقت:**

پیغمبر ﷺ د ټولي دنیا د انسانانو لپاره د یو عظیم رحمت په شکل دنیا ته مبعوث کړېدلی دی، دَی مبارک پر خپل امت باندي ډېر زیات مشفق او مهربان وو، په قرآن مجید کي د ده د شفقت ذکر په دې الفاظو راغلی دی:

..........عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ﴾.(۳)

چي کله به پر مسلمانانو باندي یو مشکل راغلی، نو هغه به پر پیغمبر ﷺ ډېر بوج او دروند وو، او دَی به همېشه د دې خبري ډېر طلبګار وو، چي مؤمنانو ته الله تعالی زیات رحمتونه ور کړي او د پیغمبر ﷺ به ګوزاره د مؤمنانو سره ډېر د رحم او شفقت وه.

(۱) الانبیاء آیت نمبر، ۱۰۷
(۲) المعجم الاسط حدیث نمبر، ۲۹۸۱
(۳) التوبه آیت نمبر، ۱۲۸

دوهم طرفته د امت په زړو کي د ده د محبت دا مقام وو:

.........﴿النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ﴾.(۱)

چي نبي ﷺ مؤمنانو ته تر خپل ځان هم ډېر زيات قريب وو، يعني د دوى د نبي ﷺ سره تر خپل ځان هم زيات محبت وو.

## دوه (۲) بې مثاله نعمتونه:

د الله تعالى دوه (۲) نعمته بې مثاله دي، يعني چي په دنيا کي د هغو نعمتو بدل انسان نسي پيدا کولاى.

## اول لوى نعمت:

اول نعمت د "اسلام" دى، يو بنده چي هر څومره ګناهګاره وي، کچيري اسلام قبول کړي، نو اسلام د ده د مخکنيو ټولو ګناهونو د معافى ذريعه جوړيږي.

## د عمرو بن عاص ﷺ آخري وينا:

حضرت عمرو بن عاص ﷺ دا د مصر او فلسطين فاتح وو، چي کله دى په ابتداء کي د اسلام راوړلو دپاره د مکې مکرمې څخه مدينې منورې ته راغلى، نو د ده سره ملګري حضرت عثمان بن ابي طلحه ﷺ او حضرت خالد ابن وليد ﷺ وو.

چي کله دا درې (۳) مبارکان مسجد نبوي ته را ښکاره سوه، او د پيغمبر ﷺ سترګي پر برابري سوې، نو د پيغمبر ﷺ مخ مبارک د خوشحالۍ څخه سوروالى ښکاره کړى، او پيغمبر ﷺ به ويل چي نن خو مکې خپل زړه زموږ پر طرف را غورځولى دى.

د حضرت عمرو بن عاص ﷺ په باره کي راځي چي کله د ده آخيرنى وخت يعني د دنيا څخه د رخصتېدو وخت راغلى، نو مخ يې د دېوال و طرفته وګرځوى،

.........﴿فَبَكَى طَوِيلًا﴾. نو ډېره زياته ژړا يې وکړه، او داسي ژړا يې وکړه چي هغه بالکل ختمېدله نه د ده بچى "عبدالله" د ده څخه لوى صحابي دئ، چي هغه د ده څخه

(۱) الاحزاب آيت نمبر: ٦

په مقام کي هم په صحابيت کي هم په علم کي هم په هر شي کي چونکه مخته وو، نو هغه ورته وايي: ته ولي ژړا کوې؟

.........﴿أَمَا بَشَّرَكَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِكَذَا، أَمَا بَشَّرَكَ بِكَذَا﴾. ايا تاته! رسول الله ﷺ ځو ځله د جنت زيرى نه دى درکړى، نو بيا ته ولي ژاړې؟

نو ده مبارک خپلي اوښکي وچي کړې، او مخ يې د ديوال څخه را واړوى، او خپل زوى ته متوجه سو ورته وايي: اى بچيه!

.........﴿قَدْ كُنْتُ عَلَى أَطْبَاقِ ثَلَاثٍ﴾. زما په زندګي کي پر ما باندي درې (۳) دورونه راغله، يو دور هغه وو چي زه کافر وم.

.........﴿مَا مِنَ النَّاسِ مِنْ أَحَدٍ أَبْغَضُ إِلَيَّ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ﴾. په ټوله انسانيت کي تر رسول الله ﷺ ډير مبغوض انسان و ماته نه وو.

.........﴿وَلَا أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَسْتَمْكِنَ مِنْهُ فَأَقْتُلَهُ﴾. او زما د زندګۍ لويه تمناه دا وه چي کاشکي ما پر پيغمبر ﷺ قابو پيدا کړى واى او دى زما په توره قتل سوى واى، کچيري په دې وخت کي زه مړ واى نو زه يقينا جهنمي وم.

بيا پر ما باندي دوهم دور راغلى، چي زما زړه ته د اسلام حقانيت شوه سو، او زه مسلمان سوم او مديني لره د الله تعالى د نبي ﷺ دربار ته راغلم نو:

.........﴿فَقُلْتُ ابْسُطْ يَمِيْنَكَ أُبَايِعْكَ، فَبَسَطَهَا﴾. ورته وويل چي اى د الله رسوله! د بيعت او د اسلام راوړلو په خاطر خپل لاس را وړاندي کړه.

چي کله پيغمبر ﷺ لاس راوړاندي کړى،

.........﴿فَقَبَضْتُ يَدِيْ﴾. نو ما خپل لاسونه بيرته ځني راَ پر شاه کړه، نو ده مبارک راته وويل،

.........﴿مَا لَكَ يَا عَمْرُو﴾. څه پيښه سوه اى عَمره! ولي دي لاس بيرته پر شاه کړى؟

نو ما ورته وويل چي،

.........أُرِيْدُ اَنْ أَشْتَرِطَ﴾. زه يو شرط لګوم پيغمبرﷺ راته وايي، چي ای عَمره! څه شرط لګوې؟

نو ما ورته وويل شرط مي دا دی:

.........أَنْ يُغفَرَ لِيْ مَا سَلَفَ﴾. چي زما تير ګناهونه دي ټول را معاف سي.

نو په دې وخت کي پيغمبرﷺ راته وويل:

.........أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ الْإِسْلَامَ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ﴾. ای عمره! ته په دې نه يې خبر چي کم چاته الله تعالی د اسلام د کلمې ويلو توفيق ورکړي، او د هغه په زړه کي د اسلام حقانيت راسي، نو د اسلام د کلمې په خاطر الله تعالی د هغه انسان ټول ګناهونه ور معافوي.

ماته چي به خپلي تيري ګناوي او د پيغمبرﷺ سره دښمنياني او تېر حالتونه په ياد راغلل:

.........مَا مُلِئَتْ عَيْنِيْ مِنْهُ حَيَاءً﴾. د شرم او حياء په وجه ما په ټوله زندګي کي پيغمبرﷺ ته پوره نسوه کتلای که نن د پيغمبرﷺ حليه او رنګ زما څخه څوک وپوښتي نو زه يې چاته نسم بيانولای.

که په دې وخت کي ماته مرګ راغلی وای نو زه به يقينا جنتي وای، نو ګورئ! اسلام هغه عظيم نعمت دی، که انسان هر څومره نافرمانه او پر شرک او کفر باندي زندګي تېره کړي، لېکن چي يو ځل الله تعالی د اسلام د کلمې ويلو توفيق ورته وکړی، نو د تيري زندګی ټول ګناهونه به يې معاف سي، نو ځکه دا وايو چي اسلام يو ډېر عظيم نعمت دئ، د هغه بدل په نورو نعمتو کي موږ او تاسو ته نسي را پيدا کېدای.(۱)

(۱) حياة الصحابة، باب نكاحه ﷺ بحفصة بنت عمر، صفحه، ٦٨

## د اسلام د نعمت تذکره:

او د اسلام د نعمت تذکره الله تعالی په قرآن کریم کي په دې الفاظو باندي کړېده، او اسلام ته يې د نعمت په الفاظو ویلي دي:

............﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي﴾.(١)

نن ورځ ما پر تاسو باندي دین مکمل کړی، او ما پر تاسو باندي خپل نعمت کامل کړی، نو په دې آیت کي الله تعالی دین موږ او تاسو ته د نعمت په الفاظو بیان کړېدی.

## دوهم لوی نعمت:

دوهم لوی نعمت ذات با برکات د پیغمبرﷺ دی، تاسو پخپله د دې څخه اندازه ولګوئ! چي الله تعالی موږ او تاسو ته د پر زیات نعمتونه را کړېدي، او تر دې حده یې راته فرمایلي دي:

............﴿وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَتَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا﴾.(٢)

کچیري تاسي د الله تعالی نعمتونه شماری، نو یې نسئ شمارلای.

د دې دومره نعمتو را کولو باوجود الله تعالی د یو نعمت احسان پر موږ او تاسو ندی دی، اینبی، سترګي یې را کړي دي، مګر احسان یې ندی را باندي اینبی دا رنګه ژبه، زړه، دماغ دا ټول نعمتونه یې را کړېدي، او ځکه سپوږمی او ستوري دا ټول د الله تعالی نعمتونه دي، مګر د دې یو نعمت په وجه هم پر موږ او تاسو الله تعالی احسان نه دئ اچولی البته یو نعمت داسي دی، چي نعمت ور کونکي ته هم خوند ور کوي، او نعمت را کونکي د هغه انعام په باره کي داسي فرمایلي دي:

............﴿لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا﴾.(٣)

---

(١) المائده آیت نمبر: ٣

(٢) ابراهیم آیت نمبر: ٣۴

(٣) آل عمران آیت نمبر: ١۶۴

په تحقیق سره الله تعالی پر ایمان والاوو باندي احسان کړی دی، چي په دوی کي یې خپل رسول ﷺ مبعوث ګرځولی دی.

نو د پیغمبر ﷺ بعثت د دې امت لپاره داسي انعام دی، چي د هغه نعم البدل په دې دنیا کي بل نعمت نسي کېدلای، نو ځکه الله تعالی د دې نعمت پر موږ او تاسو باندي احسان ایښی دی.

## د پیغمبر ﷺ مقام او مرتبه:

پیغمبر ﷺ ته الله تعالی داسي مقام او مرتبه ور کړې ده چي غالبًا هغه مقام او مرتبه به په یو لک څلرویشت زره (۱۲۴۰۰۰) زیات او کم پیغمبرانو کي بل چاته نه ده په نصیب ورغلې.

چي په ټوله قرآن کریم کي الله تعالی خطاب پیغمبر ﷺ ته په نامه ندی کړی، و نورو انبیاؤ ټولو ته خطاب په نومو باندي سویدی:

............﴿يَا مُوسٰى، يَا عِيسٰى، يَا دَاوُدُ، يَا زَكَرِيَّا، يَا يَحْيٰى، يَا آدَمُ، يَا اِبْرَاهِيْمُ، يَا نُوحُ﴾.

لېکن یو ځل هم په ټوله قرآن کریم کي پیغمبر ﷺ ته په "یا محمد" باندي خطاب نه دي سوی، نو دا د الله تعالی د طرفه احترام او اکرام د پیغمبر ﷺ دی.

بلکه پیغمبر ﷺ ته خطاب په القابو او اوصافو کیږي، لکه:

............﴿يَا اَيُّهَا النَّبِيُّ، يَا اَيُّهَا الرَّسُوْلُ، يَا اَيُّهَا الْمُزَمِّلُ، يَا اَيُّهَا الْمُدَثِّرُ﴾.

## په محبت کي عتاب:

پیغمبر ﷺ منافقینو ته د "تبوک" په سفر کي د تللو اجازه ور کړې، لېکن د الله تعالی خوښه نه وه، نو الله تعالی پوښتنه ځني کوي، چي ولي دي اجازه ور کړه؟

لېکن تاسو د ده د الله تعالی په دربار کي مقام ته ګورئ! چي په دې کي لږ عتاب هم دئ، چي ولي دي اجازت ور کړی؟

لېکن په دومره ښائسته طریقه الله تعالی خطاب ورته کوي، چي اول ځل یې د معافۍ اعلان کوي، لکه: الله تعالی په قرآن کریم کي دا فرمایي:

............عَفَا اللّٰهُ عَنكَ لِمَ أَذِنتَ لَهُمْ﴾.(۱)

الله تعالی معافي درته وکړه دا راته ووایه چې اجازه دې ولې ورکړه؟

نو پریو خبره چې الله تعالی ده ته عتاب ور کوي، لېکن په ډېر محبت سره ده ته د عتاب ور کولو څخه مخکې د ده د معافی اعلان هم کوي.

## پر انبیاؤ د پیغمبرﷺ لوړوالی او بهتري:

۱. حضرت ابراهیمعلیه السلام د الله تعالی په دربار کې دعاء کوي:

............وَلَا تُخْزِنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ﴾.(۲) یا الله! ما د قیامت په میدان کې مه رسوا کوه، لېکن د پیغمبرﷺ په حق کې بغیر د غوښتنې الله تعالی اکرامًا وایي:

............يَوْمَ لَا يُخْزِي اللّٰهُ النَّبِيَّ﴾.(۳) چې په دې ورځ به الله هیڅکله خپل نه رسوا کوي.

۲. حضرت موسیعلیه السلام الله کوه طور ته را وبالی، نو په ډېره منډه راغلی، الله تعالی ورته وایي: چې ولې دومره چابک راغلې، دی ورته وایي:

........ ...تُ إِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضَىٰ﴾.(۴) یا الله! په منډه ځکه راغلم چې ته را څخه راضي سې. لېکن د پیغمبرﷺ په هکله الله تعالی داسې فرمایي:

............وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰ﴾.(۵) ډېر ژر به زه تاته دومره څه در کوم چې ته را څخه راضي سې، پیغمبر به ویل زه به تر هغه وخته پوري نه راضي کېږم چې تر څو پورې زما تول امت معاف سوی نه وي.

(۱) التوبه آیت نمبر: ۴۳
(۲) الشعراء آیت نمبر: ۸۷
(۳) التحریم آیت نمبر: ۸
(۴) طه آیت نمبر: ۸۴
(۵) الضحی آیت نمبر: ۵

۳. حضرت موسی علیه السلام د الله په دربار کې خواست کوي؛

............﴿رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي﴾.(۱) يا الله! زما سينه را خلاصه کړې، چې ستا د توحيد پيغام په ښه شکل خپل قوم ته پيش کړم.

او پيغمبر ﷺ ته الله تعالی د غوښتنې بغير دا پيغام ور کوي:

............﴿أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ﴾.(۲) ايا ما ستا سينه د توحيد د پيغام رسولو لپاره نه ده خلاصه کړې؟

۴. حضرت ابراهيم علیه السلام دا دعا غواړي:

............﴿وَاجْعَلْ لِي لِسَانَ صِدْقٍ فِي الْآخِرِينَ﴾.(۳) يا الله! په راتلونکو انسانانو کې زما نوم لوړ کړې چې هغه په ښه شکل زما ذکر کوي، لکه: الله تعالی داغسې وکړه څکه موږ او تاسو په "التحيات" کې وايو:

............﴿كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ﴾ نو دا د ابراهيم علیه السلام ښه صفت دئ، چې الله تعالی ور کړی دی.

لېکن پيغمبر ﷺ ته بغير د غوښتنې الله تعالی فرمايي:

............﴿وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ﴾.(۴) ای محبوبه! ما ستا ذکر بلند کړی دئ، الله تعالی د پيغمبر ﷺ ذکر څنګه بلند کړی دی؟ لکه: په حديث قدسي کې راځي:

............﴿فَلَا أُذْكَرُ إِلَّا ذُكِرْتَ مَعِي﴾ چې په کم ځای کې زما نوم وي، هلته به ستا نوم زما سره ملګری وي.(۵)

(۱) طه آيت نمبر: ۲۵
(۲) الشرح آيت نمبر: ۱
(۳) الشعراء آيت نمبر: ۸۴
(۴) الشرح آيت نمبر: ۴
(۵) مسند الشافعي، حديث: ۱۵۱

## د پیغمبر ﷺ ذکر د الله تعالی سره کېدل:

چي کله د معراج شپه راغله نو د الله تعالی سره ملاقات کوي: الله تعالی ورته وايي:

........سَلْ﴾. ای محمده! چي غوښتنه کوې هغه وغواړه! پيغمبر ﷺ غوښتنه د خپل رب ځخه کوي او وايي:

........إِنَّكَ اتَّخَذْتَ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا﴾. يا الله! ابراهيم علیه السلام دي خليل جوړ کړی دی.

........وَكَلَّمْتَ مُوسَى تَكْلِيمًا﴾. حضرت موسى علیه السلام دي کليم جوړ کړی دی.

........وَأَلَنْتَ لِدَاوُدَ الْحَدِيدَ﴾. او حضرت داؤد علیه السلام ته دي "اوسپنه" نرمه کړې ده.

....وَسَخَّرْتَ لِسُلَيْمَانَ الرِّيَاحَ﴾. او حضرت سليمان علیه السلام ته دي بادونه مسخر کړي دي.

....وَأَحْيَيْتَ لِعِيسَى الْمَوْتَى﴾. د حضرت عيسى علیه السلام دپاره دي مړي را ژوندي کړي دي.

........فَمَاذَا جَعَلْتَ لِيْ﴾. زما لپاره څه دي؟

الله تعالی ورته وايي:

........أَوَ لَيْسَ قَدْ أَعْطَيْتُكَ أَفْضَلَ مِنْ ذَٰلِكَ كُلِّهِ﴾. ما تاته ای محبوبه! د دې ټولو څخه زيات اعلی شی در کړی دی، هغه دا:

............فَلَا أُذْكَرُ إِلَّا ذُكِرْتَ مَعِي﴾. چي تر قيامته پوري به ستا نوم زما د نامه سره ذکر کيږي.

............وَجَعَلْتُكَ فَاتِحًا وَخَاتِمًا﴾. ما ته اول او آخر جوړ کړی يې.

..........وَأَعْطَيْتُكَ الْكَوْثَرَ﴾. ما تاته کوثر در کړی دی.

ما تاته قرآن در کړی دی، او ما تاته د سوره بقره آخرني آياتونه در کړي دي، او ستا د امت د انسانانو سينې مي د قرآن کريم د آسماني کتاب دپاره صندوقچې جوړي کړي

دي، چي هغه به د آسماني کتاب حافظان وي او دا نیک بختی د بل هیڅ نبي او امت په نصیب کي نده راغلي.(¹)

## د پیغمبر ﷺ صفت پخپله ژبه مبارکه:

بیا پیغمبر ﷺ پخپله ژبه مبارکه بطور "تحدیث بالنعمة" د خپل ځان مدح او صفت په دي الفاظو بیانوي:

.........﴿أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ وَلَا فَخَرَ﴾. زه د ټوله آدم د اولاد سردار یم، په دې فخر نه کوم، صرف بطور "تحدیث بالنعمة" دا وایم.

...........﴿وَأَنَا أَوَّلُ النَّاسِ خُرُوجًا إِذَا بُعِثُوا﴾. چي کله انسانان د قبرو څخه را پورته کیږي نو اول بعث د قبره څخه به زما وي.

...........﴿وَأَنَا قَائِدُهُمْ إِذَا وَفَدُوا﴾. چي کله انبیاء د وفد په شکل د الله تعالی دربار ته ورځي د هغو ټولو قیادت به زما سره وي.

..........﴿وَأَنَا خَطِيبُهُمْ إِذَا أَنْصَتُوا﴾. چي کله ټوله چپه خوله سي د الله تعالی په دربار کي نو په دې وخت کي به بیان کول او خطبه پیشول زما کار وي.

..........﴿وَأَنَا شَفِيعُهُمْ إِذَا حُبِسُوا﴾. چي کله دوی د قیامت په میدان کي محبوس وګرځي نو شفاعت به یې هم زما په لاس وي.

...........﴿وَأَنَا مُبَشِّرُهُمْ إِذَا يَئِسُوا﴾. چي کله پر دوی د مایوسی حالت سي، نو بشارت او زیری به یې هم زما په لاس وي.

...........﴿لِوَاءُ الْحَمْدِ يَوْمَئِذٍ بِيَدِي اِنَّ آدَمَ وَ جَمِيعَ الْأَنْبِيَاءِ مِنْ وُلْدِ آدَمَ تَحْتَ لِوَاءِي﴾. د حمد جنډه (بیرغ) به زما په لاس وي، آدم او د آدم په اولاد کي چي څومره انبیاء دي هغه به ټول زما تر بیرغ لاندي جنت ته ځي.

...........﴿وَمَفَاتِيحُ الْجِنَانِ بِيَدِي﴾. د جنت کیلیاني به زما سره وي.

---

(¹) الخصائص الکبری، باب زیادة ایضاح لهذا الباب صفحه، ۳۲۷

.......﴿يَطُوفُ عَلَيَّ أَلْفُ خَادِمٍ كَأَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ مَكْنُونٌ﴾. زما چار چاپېره به اویا زره (۷۰۰۰۰) د ملغلرو په شان خادمان ګرځي.(۱)

نو کمه مدح چي پیغمبر ﷺ د خپل ځان بیانوي شاید په دې ټولو مخلوقاتو کي به د بل ذات د پره کمه په نصیب وي.

## د پیغمبر ﷺ په برکت سره د دې امت اعزاز:

د پیغمبر ﷺ په برکت سره الله تعالی دې امت ته دومره اعزاز ور کړی دی، چي هغه اعزاز د بل امت په نصیب او قسمت کي ندی راغلی او الله تعالی په اجر او ثواب کي د دې امته سره داسي آساني کړې ده، چي هغه اجر او ثواب او هغه آساني بل امت ته نه ده ور کول سوې.

چي کله حضرت جبرائیل علیه السلام دا آیت را وړی:

.........﴿مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا﴾.(۲)

چي کم سړی یوه نېکي وکړي، موږ د هغې ثواب په لس (۱۰) چنده باندي ور کوو.

نو پیغمبر ﷺ حضرت جبرائیل علیه السلام ته وايي: چي دا خبره خو د ټولو امتو د انسانانو لپاره ده، او الله تعالی زما امت ته هم دا وايي: چي د یوې نېکۍ په بدل کي لس (۱۰) چنده ثواب ور کوم.

نو پیغمبر ﷺ دستي د الله تعالی په دربار کي ژړا او دعاء شروع کړه او وايي:

.........﴿يَا رَبِّيْ زِدْ أُمَّتِيْ﴾.

یاالله! زما امت ته اجر او ثواب یو څه ور زیات کړه.

نو د پیغمبر ﷺ پر دعاء او پر ژړا باندي حضرت جبرائیل علیه السلام بل آیت او بله فیصله راوړي:

(۱) دلائل النبوة، باب ما جاء في تحدث رسول ﷺ صفحه، ۴۸۴

(۲) الانعام آیت نمبر، ۱۶۰

..........مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ أَضْعَافًا كَثِيرَةً﴾.(۱)

چي كم سړی الله تعالى ته قرض ور كړي يعني يو نېک عمل وكړي، نو الله تعالى د هغه بدله په ډېرو دو چنديو ور كوي، اوس خبره د لسه (۱۰) څخه ولاړه او په ډېر لوی اجر باندي بدله سوه.

لېكن د پېغمبر ﷺ تسلي نكېږي بيا هم په ژړا او په دعاء كي د الله تعالى و دربار ته دا خواست كوي: ﴿يَا رَبِّيْ زِدْ أُمَّتِيْ﴾ يا الله! زما امت ته اجر او ثواب ور زيات كړه، او زما د امت سره د آساني معامله وكړه.

حضرت جبرائيل ﷺ دريم آيت راوړي:

..........مَثَلُ الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنبُلَةٍ مِائَةُ حَبَّةٍ وَاللَّهُ يُضَاعِفُ لِمَن يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ﴾.(۲)

ای زما نبي! ستا امت چي كله يو نېک عمل وكړي، نو د هغه مثال داسي دی، لكه: يو غنم چي په مځكه كي وكرل سي نو هغه اوه (۷) وږي وكړي، او پر هر وږي كي سل داني وي، يعني ستا د امت د نيكو اعمالو بدله زه په اووه سوه (۷۰۰) دركوم.

لېكن د هغه سره سره پېغمبر ﷺ بيا دعاء او ژړا شروع كوي او خپله تمناء را ګرځوي چي: ﴿يَا رَبِّيْ زِدْ أُمَّتِيْ﴾ يا الله! زما د امت سره آساني وكړه.

نو حضرت جبرائيل ﷺ بل آيت راوړي: چي دا ضرب وتقسيم پرېږده بلكه:

..........إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ﴾.(۳)

چي ستا په امت كي كم څوک "صبر على الطاعة" او "صبر عن المعصية" وكړي يعني نېک اعمال وكړي نو د هغو سره د اجر په شكل زما معامله بلا حسابه ده، او زه به دوی ته بلا حسابه اجر او ثواب ور كوم.(۱)

(۱) البقرة آيت نمبر: ۲۴۵
(۲) البقرة آيت نمبر: ۲۶۱
(۳) زمر آيت نمبر: ۱۰

## د محمد رسول الله او د امت محمديه فضيلت:

الله تعالی پیغمبر ﷺ ته دېر لوړ حيثيت ور کړی دئ، زه به په خپلو الفاظو د هغه حيثيت تاسو ته څه بيان کړم؟ په دې باره کي تاسو د ټوله انسانيت پلار د حضرت آدم علیه السلام وينا او وصيت واورئ:

حضرت آدم علیه السلام خپل بچي حضرت شيث علیه السلام ته د پيغمبر ﷺ په هکله وصيت کوي، ځکه د پيغمبر ﷺ سلسله د نسب تر حضرت آدم علیه السلام پوري د حضرت شيث علیه السلام په ذريعه رسېدلې ده.

نو حضرت آدم علیه السلام خپل بچي حضرت شيث علیه السلام ته وايي: ای شيثه! زما د طرفه ستا "پُشت" ته يو امانت نقل سوی دی، د هغه امانت به دېر زيات خيال ساتې چي هغه ستا تر پلار هم دېر زيات عظيم او قيمتي دی.

حضرت شيث علیه السلام ورته وايي: چي ای پلاره! ايا زوی هم تر پلار عظيم او قيمتي کېدای سي؟

حضرت آدم علیه السلام ورته وايي: بچيه! هغه زوی خو پرېږده چي هغه زوی او بچي ته الله تعالی کم امت ور کوي، په بعضو خبرو کي د هغه امته سره الله تعالی ستا تر پلار آدم دېره آساني کوي، حضرت شيث علیه السلام ورته وايي: هغه څنګه؟ نو حضرت آدم علیه السلام جواب ور کوي:

١. اول دا چي زما ښځه يوه خطا وسوه الله تعالی د هغې خطا پخاطر زما ښځه زما د کور زنانه جدا کړه، او دوی به په زرو خطاګاني کوي او د هغو خطاګانو په وجه به د دوی ښځه د کور زناني نه جدا کېږي.
٢. دوهم دا چي ما يوه خطا وکړه او د هغې خطا په وجه زه د جنته ښځه را و ايستل سوم، هغه به پخپل ژوند کي په زرو خطاګاني کوي، لېکن بيا به هم د توبې په لار دوی ټوله جنت ته داخلېږي.

(١) شاهکار تقرير صفحه: ۳۳۵

۳. دریم دا چي زما څخه خطا وسوه الله تعالی د هغې په سبب زما د بدنه څخه لباس لیري کړی، او زه بې پردې سوم، دوی به د خطا او گناه کولو لپاره د خپل بدنه څخه لباس لیري کوي، لېکن الله تعالی به د دوی د حفاظت لپاره د دوی پر بدن باندي بیرته لباس اچوي.

۴. او څلورم دا چي ما یوه خطا وکړه او زما هغه خطا تر قیامته پوري الله تعالی په ټوله آسماني کتابو کي مشهوره کړه، لکه: زموږ په کتاب کي هم دا راغلي دي: ﴿وَعَصَىٰ آدَمُ رَبَّهُ فَغَوَىٰ﴾.(۱) حضرت آدم علیه السلام نافرماني وکړه نو الله تعالی د جنته څخه را وایستئ، لېکن د هغه امت انسانان به په زرو گناهونه کوي، او د دوی پر گناهونو به الله تعالی پرده اچوي، او الله تعالی به یې د هیڅچا په مخ کي نه رسوا کوي.(۲)

## د پیغمبر ﷺ پر امت دوه (۲) احسانه:

تاسو نه ګورئ! دې امت ته الله تعالی زندګي او د ژوند دورانیه د ټولو امتو په آخر کي ور کړه، د دې پخاطر الله تعالی پر دې امت باندي دوه کرمه او احسانه وکړه:

یو کرم او احسان یې دا وکړی: چي الله تعالی تر قیامته پوري زموږ انتظار دېر کم کړی، ځکه د مخکنی امتو انسانان د زرو کلونو په مقدار په قبرونو کي پراته دي او د قیامت انتظار کوي، لېکن دا امت الله تعالی په آخر کي را وستی، چي تر قیامته انتظار دېر ور باندي تېر نسي.

دوهم کرم او احسان الله تعالی دا وکړی: چي هر راتلونکي قوم ته د مخکني قوم حالات الله تعالی بیان کړه، او د ټولو قومو حالات یې زموږ په مخ کي کښېښول، د قوم فرعون، د قارون د هامان د قوم هود او د قوم لوط د ټولو حالات یې موږ ته ښکاره کړه، لېکن زموږ پر حالاتو باندي الله تعالی پرده واچوله.

(۱) طه آیت نمبر، ۱۲۱

(۲) الله کراپنا بنا لو صفحه، ۳۳۷

ځکه داسي امت نسته چي زموږ څخه وروسته دي راسي او الله تعالی دي زموږ حالات د هغوی ومخته رسوا او ښکاره کړي.

لکه څنګه چي دا امت الله تعالی په دنیا کي په پرده کي وساتی داغه رنګه د قیامت په میدان کي هم الله تعالی د پیغمبرﷺ د شرمندګی څخه د حفاظت پخاطر د دې امت حساب په پرده کي اخلي.

ځکه الله تعالی ورته وايي: ای پیغمبره! چي کله زه ستا د امت حساب او کتاب اخلم، د هغوی د ګناه لیدلو په خاطر به ته شرمنده یې او کنه؟

پیغمبرﷺ ورته وايي: چي زه به ضرور شرمنده کېږم نو الله تعالی ورته وايي: چي بیا به زه ستا د امت حساب او کتاب په پرده کي اخلم چي د قیامت په میدان کي د ټولو اقوامو د عالم په مخ کي د خپل امت د بدو اعمالو د لیدلو پخاطر ته شرمنده نسې.

## د دې امت خصوصیات:

د دې امت مقام د ټولو امتو څخه جلا دی، د جنت سرداري، د حسن حسینؓ په شکل کي د دې امت په نصیب ده.

او په جنت کي د ټولو زنانو سرداري د حضرت فاطمة الزهراءؓ په شکل د دې امت ده، په دې امت کي حضرت زینب بن جحشؓ د ټولو مؤمنانو مور د هغې نکاح الله تعالی پخپله په آسمانو کي تړلې ده.

یو امت هم داسي ندی تېر سوی چې دوه (۲) رکعته نفل وکړي او ده ته الله تعالی د حج ثواب ور کوي، د دې امت په باره کي راځي چي کله یو سړی د سهار لمونځ وکړي تر لمر راختلو پوري پر هغه ځای ناست وي بیا ولاړ سي، دوه رکعته نفل وکړي نو الله تعالی د یو حج او عمرې ثواب ور کوي.

او یو امت داسي نه دی تېر سوی چې د پلار او مور مخته په کتلو باندې د حج ثواب ور کول سي، لېکن دا د دې امت خصوصیت دی، چي کله د دې امت یو بچی د مور او پلار ومخته د محبت په نظر ګوري الله تعالی د ده په عملنامه کي د یو قبول سوي حج ثواب لیکي.

## د امت محمدیه سره احسانات:

ددې امت سره د الله تعالی احسانات تاسي نه ګورئ! چي د هغه تذکره په دې حدیث قدسي کي موجود ده، الله تعالی فرمایي:

.........﴿إِذَا بَلَغَ عَبْدِي أَرْبَعِينَ سَنَةً عَافَيْتُهُ مِنَ الْبَلَايَا الثَّلَاثِ: مِنَ الْجُنُونِ وَالْبَرَصِ وَالْجذَامِ﴾.

چي کله زما بنده څلوېښت (۴۰) کاله ته ورسیږي نو زه هغه د درو (۳) مرضو څخه محفوظه ساتم، چي جنون، برص او جذام دی.

..............﴿وَإِذَا بلَغَ خَمْسِينَ سَنَةً حاسَبْتُهُ حِسَاباً يَسِيراً﴾. چي کله زما بنده پنځوس (۵۰) کاله ته ورسېدی، او زما د نبي کلمه وايي، نو زه د هغه سره حساب آسانه کوم.

...........﴿وَإِذَا بَلَغَ سِتِّينَ سَنَةً حَبَّبْت إِلَيْهِ الإِنَابَةَ﴾. چي کله زما بنده شپېتو (۶۰) کالو ته ورسېدی، زه د ده سره زما پر طرف د راتګ په وجه محبت شروع کړم.

............﴿وَإِذَا بَلَغَ سَبْعِينَ سَنَةً أَحَبَّتْهُ الْمَلائِكَةُ﴾. او چي کله یې عمر اویا (۷۰) کاله سي نو زه په ملائکو کي هم دا فرمان جاري کړم چي اوس به زما د بنده سره محبت کوی.

.....﴿وَإِذَا بَلَغَ ثَمَانِينَ سَنَةً كُتِبَتْ حَسَنَاتُهُ وَأُلْقِيَتْ سَيِّئَاتُهُ﴾. او چي کله اتیا کاله ته ورسېدی بیا خو یې نیکیاني لیکل کیږي، او ګناهونه یې رژېږي ځکه الله تعالی وایي:

.........﴿أَنَاءُ ثَمَانِينَ إِسْتَحْيِي أَنْ أُعَذِّبَهُمْ بِالنَّارِ﴾. اتیا کلنو انسانانو ته په اور کي د سزا ور کولو څخه ما ته حیاء راځي.

...........﴿وَإِذَا بَلَغَ تِسْعِينَ سَنَة قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ: أَسِيرُ اللهِ فِي أَرْضِهِ فَغُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُشَفَّعُ فِي أَهْلِهِ﴾. چي کله نوي(۹۰) کاله ته ورسېدی بیا خو د الله تعالی قیدي سو، الله تعالی یې مخکني او وروستني ګناهونه ټول ور معافوي، او د ده شفاعت د خپلي کورنی په باره کي قبلوي، دا د دې امت خصوصیات دي.[1]

[1] فیض القدیر حدیث، ۸۴۷۴

**د یو محدث واقعه:**

"یحیٰی بن اکثم" د یر لوی محدث تیر سوی دی د ده په طبیعت کي به مذاق ډیر وو چي کله وفات سو نو په خوب کي یو شاګرد پوښتنه ځني کوي، چي الله تعالی څه در سره وکړه؟

دی په جواب کي ورته وایي: چي کله زه الله تعالی خپل حضور ته ودرولم نو دا یې راته وویل:

.........﴿يَا شَيْخُ اَسْوَء فَهُهُنَا قَضٰى﴾. ای بدکاره بوډا! زما و ستا فیصله به اوس دلته کیږي.

دی وایي چي ما په جواب کي ورته وویل: یا الله! چي ستا په باره کي په دنیا کي ما څه اوریدلي دي، هغه خو دلته ماته په نظر نه راځي، (نو په هغه ځای کي یې د علم پخاطر د الله تعالی سره مناظره شروع کړه).

یا الله! ستا په باره کي خو ما هغه نه دي اوریدلي چي ته اوس څه وایې، الله تعالی پوښتنه ځني کوي چي تا زما په باره کي څه اوریدلي دي؟

نو دی ورته وایي:

.........حَدَّثَنِيْ عَبْدُالرَّزَاق عَنْ مُعَمَّرٍ عَنْ الزُهْرِيْ عَنْ عُرْوَةُ ابْنِ الزُبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ اَنَّ جِبْرَائِيْلَ قَالَ قَالَ اللهُ تَعَالٰى اِنَّ اللهَ اِسْتَحْيٰى اَنْ اُعَذِّبَهُ عَذَابًا شَيْبَةً فِي الْاِسْلَامِ وَ اِنِّيْ شَيْبَةٌ فِي الْاِسْلَامِ﴾.

یا الله! ستا په باره کي خو ما دا اوریدلي دي، زه ستا په حضور کي په پوره سند او دلیل سره خبره کوم، چي ماته "عبدالرزاق" ویلي دي هغه ته "معمر" هغه ته "زهري" هغه ته "عروه" چي د "زبیر" بچی دی هغه ته خپلي خاله حضرت "عائشي" مبارکي او حضرت عائشي رضي الله عنها ته ستا محبوب ﷺ او هغه ته جبرائیل علیه السلام او جبرائیل وایي چي ماته یا الله وویل.

چي کله يو مسلمان بوډا سي او په بوډا والي کي مړ سي، نو هغه ته د عذاب ورکولو څخه ما ته حيا راځي. يا الله! ته ما وبښې چي ما زندګي ټوله په اسلام کي تېره کړېده، او د بوډا والي په مرګ تا ته راغلی يم.

نو الله تعالی په جواب کي راته وويل:

﴿صَدَقَ عَبْدُالرَّزَّاقُ وَ صَدَقَ مُعَمَّرٌ وَ صَدَقَ الزُّهْرِيُّ وَ صَدَقَ عُرْوَةُ وَ صَدَقَتْ ............ عَائِشَةُ وَصَدَقَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَصَدَقَ جِبْرَائِيْلُ قَالَ وَاَنَا اَصْدَقُ الْقَائِلِيْنَ﴾.

"عبدالرزاق" رشتونی دی، "معمر" هم رشتونی دی، او "زهري" هم رشتونی دی، "عروه" هم رشتونی، عائشه رضي الله عنها هم رشتونې.

زما محبوب ﷺ هم رشتونی، جبرائيل عليه السلام هم رشتونی او زه د ټولو رشتنو رشتونی يم، ای يحيٰی! څه په جنت کي مزې کوه دا زما ستا سره خصوصي رعايت دی.(۱)

نو د دې امت د بوډا ګانو سره د الله تعالی خصوصي رعايت شامل وي. نو ما مخکي درته وويل چي د الله تعالی دوه (۲) داسي نعمتونه دي چي د هغه نعم البدل موږ او تاسو ته په دې دنيا کي د نورو نعمتو په شکل نه را پيدا کيږي: اول نعمت د اسلام چي د هغه په ذريعه الله تعالی زموږ سره څومره احسانات کړيدي.

او دوهم نعمت ذات بابرکات د پيغمبر ﷺ دی چي هغه پخپله هم د فضائلو يو مجمع ده او د هغې په ذريعه الله تعالی د ده امت ته څومره فضيلتونه ورنصيب کړي ذي، او د ده د امت سره يې د ده په ذريعه څومره آساني کړيدي.

الله تعالی دي مو په دنيا او آخرت کي د ده د امتي کېدو څخه محروم او بې نصيبه نه ګرځوي، او الله تعالی دي دا څو خبري په خپل دربار کي قبولي مقبولي وګرځوي.

(آمين يا رب العالمين)

وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

---

(۱) ګناهګار ښځي، صفحه: ۳۳۹

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآیه)

# د رحمت تقسیم

(بیان)


مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ٹاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ٹاؤن) چمن



مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کاسی روڈ کوئٹه

| | |
|---|---|
| تقریر | الحاج مولوي اطیع الله صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتي حافظ کلیم الله صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشاعت | اول |
| تاریخ | جمادي الاولی ۱۴۴۲ بمطابق ۲۴ جنوري ۲۰۲۱ |
| تعداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وَقَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «أَنَا مُحَمَّدٌ، وَأَنَا أَحْمَدُ، وَأَنَا نَبِيُّ الرَّحْمَةِ، وَنَبِيُّ التَّوْبَةِ، وَأَنَا الْمُقَفَّى، وَأَنَا الْحَاشِرُ، وَنَبِيُّ الْمَلَاحِمِ».(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمِ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمِ، وَ نَحْنُ عَلَى ذَٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُلِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

## هر کار د امت لپاره رحمت:

محترمو مشرانو! په تېره جمعه کي مي درته وويل: چي نبي اکرم ﷺ د ټولي دنیا د انسانانو لپاره بالعموم رحمت دی، او د خپل ګناهګار امت لپاره یې بالخصوص د رحمت په شکل تشریف را وړی، چنانچه د پیغمبر ﷺ هر کار د دې امت لپاره الله تعالی رحمت جوړ کړیدی.

## د پیغمبر ﷺ په هېره کي د دې امت لپاره رحمت:

په روایاتو کي راځي یو ځل پیغمبر ﷺ د ماپښین یا د مازیګر په لمانځه کي د څلورو (۴) رکعتو نیت وتړی، لېکن سلام یې پر دوه (۲) رکعته وګرځوی، په صحابه

(۱) الفتح آیت نمبر: ۲۹
(۲) الشمائل المحمدیه حدیث: ۳٦۸

کرامو ﷺ کي دومره ادب وو، هغو دا نه ورته وويل: چي ای د الله رسوله! تا خو د څلورو (۴) رکعتو پر ځای دوه (۲) رکعته وکړه.

نو ټوله صحابه کرام ﷺ خاموشه دي، آخر د پیغمبر ﷺ یو صحابي چي هغه به د پیغمبر ﷺ سره بلاتکلفه زندګي کوله، د هغه نوم "عرباض بن ساریه" وو، او لقب یې "ذوالیدین" وو، نو هغه ورته وایي:

............أقصرت الصلاة، أم نسيت يا رسول الله؟﴾.

ای د الله رسوله! دا لمونځ اوس د خدای ﷻ د جانبه څخه کم سو چي تا د څلورو (۴) رکعتو پر ځای دوه (۲) رکعته وکړئ، او که در څخه هېر سو؟

پیغمبر ﷺ ورته وایي:

............كل ذلك لم يكن﴾.

نه د خدای د جانبه څخه کم سويدی، او نه زما څخه هېر سويدی.

"ذوالیدین" صحابي ورته وایي:

............بعض ذلك قد كان﴾ یو څه خو خامخا سته. پیغمبر ﷺ پر صحابه کرامو ﷺ باندي مخ را وګرځوی، ورته وایي:

............أصدق ذو اليدين﴾. ایا ذوالیدین رشتیا وایي.

صحابه کرام ﷺ ورته وایي: هو د الله رسوله تا پر دوه (۲) رکعته باندي سلام وګرځوی، او څلور (۴) رکعته دي پوره نکړه.

چي کله پیغمبر ﷺ دا واورېدل نو وایي:

............لا نسيت بل نسيت﴾.

ما هېر کړی ندی، بلکه الله تعالی را څخه هېر کړی، او پدې وجه یې را څخه هېر کړی، چې زما د هیري په وجه د دې امت لپاره د "سجده سهو" مسئله ښکاره سي.(۱)

چې کله د پیغمبر ﷺ هېره هم د دې امت لپاره رحمت وو، نو په بیداري کې یو عمل کول هغه به د دې امت لپاره څومره لوی رحمت وو.

## د پیغمبر ﷺ خوب د دې امت لپاره رحمت دی:

یو ځل پیغمبر ﷺ د صحابه کرامو رضي الله عنهم سره د جهاد څخه واپس را روان دی، نو په لاره کې شپه راغله د شپې په وخت کې پیغمبر ﷺ حضرت بلال حبشي رضي الله عنه ته فرمایي: چې ته به پیره وکړې، او د سهار د لمانځه لپاره به موږ ټول را کښېښنوې.

حضرت بلال حبشي رضي الله عنه پیره کوي، پیغمبر ﷺ او صحابه کرام رضي الله عنهم ټوله آرام کوي، حضرت بلال حبشي رضي الله عنه د پیرې کولو په دوران کې یو دبري ته څنګ وواهئ الله تعالی پر ده باندې خوب مسلط کړی، چې کله لمر را وخاتی، تر هغه وخته پیغمبر ﷺ او صحابه کرام رضي الله عنهم ټوله بیده دي.

چې کله د لمر شعلې د پیغمبر ﷺ پر مخ مبارک وموښتې نو پیغمبر ﷺ د خوبه څخه را بیداره سو، او ورته وایې: ای بلاله! ته هم بیده سوې او موږ دې هم نه را کښېښنولو!.

حضرت بلال حبشي رضي الله عنه په جواب کې ورته وایې: ای د الله رسوله! چې کم ذات پر تا باندې خوب مسلط کړی، هغه ذات پر ما هم خوب مسلط کړی.

پیغمبر ﷺ صحابه کرامو رضي الله عنهم ته وایې: چې الله تعالی ځکه پر موږ باندې خوب مسلط کړی، چې زموږ دا لمونځ قضاء سي او ستاسو و مخته د لمانځه د قضاء را کرځولو طریقه واضحه سي.

نو دا یقیني خبره ده چې د پیغمبر ﷺ خوب هم د دې امت لپاره الله تعالی رحمت جوړی کړی وو.(۲)

---

(۱) بخاري شریف حدیث، ۷۱۴
(۲) خطبات فقیر جلد، ۷ صفحه، ۶۴

**د پیغمبر ﷺ ښراء د دې امت لپاره رحمت ده:**

په حدیث شریف کي راځي چي نبي اکرم ﷺ به دا دعاء غوښتله ای الله! که زه و چاته ښراء وکړم، یا چا ته یو بده کلمه استعمال کړم، ته زما ښراء او دا زما بده کلمه د دې سړي په حق کي رحمت وګرځوه او هغه سړي ته خپل قرب او نژدېکت ور نصیب کړه!.

چي د پیغمبر ﷺ د ژبي څخه ښراء وتل بالفرض هغه هم د دې امت لپاره رحمت دی، نو د هغه محبوب د ژبي څخه چي کله د خپل امت لپاره دعاء وځي نو بیا به څومره لوی رحمت وي.

**د پیغمبر ﷺ د رحمت تقسیم:**

د پیغمبر ﷺ په رحمت کي هر چا خپله حصه پیدا کړه، په معاشره کي چي څومره انسانان وه یو هم د پیغمبر ﷺ د رحمت څخه بې نصیبه او بې برخي پاته نسوه.

**د مور حصه:**

د پیغمبر ﷺ په رحمت کي مور هم خپله حصه پیدا کړه د پیغمبر ﷺ د راتګ څخه مخکي په معاشره کي د مور د مقام او مرتبې معلومات و چاته نه وو، پیغمبر ﷺ چي راغلی، د دې خبري وضاحت یې وکړی:

﴿اَلْجَنَّةُ تَحْتَ أَقْدَامِ الْأُمَّهَاتِ﴾. جنت د مور تر پښو لاندي دی.(١)

او داغه رنګه پیغمبر ﷺ به ویل چي کم زوی یا لور د مور پر مخ باندي په محبت او عقیدت سره یو نظر واچوي، الله تعالی د هر نظر په بدله کي وده ته د حج یا د عمرې برابر اجر او ثواب ور کوي.

**د لور حصه:**

د پیغمبر ﷺ په رحمت کي لور هم خپله حصه پیدا کړه، چنانچه د ... یو هغه خلک چي هغوی به خپلي لوڼي ژوندی په خاورو کي ښخولې او چي کله به یې د لور د پیدائش

(١) مسند الشهاب القضاعي حديث، ١١٩

واورېدل نو د هغوی پر مخانو او چهرو به تورو والی ښکاره سو، هغو ته پیغمبرﷺ دا تربیت ور کړی:

.............مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ حَتَّى تَبْلُغَا، جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنَا وَهُوَ وَضَمَّ أَصَابِعَهُ﴾.(۱)

چې کمچا ته الله تعالی دوې (۲) لوڼې ور کړې، او پلار د دوی ښه تربیت وکړې، او په ښه طریقه یې د کوره څخه رخصت کړې، هغه به په جنت کې زما سره په دا شان یو ځای وي، لکه: د لاس ګوتې چې یوه د هغه بلې سره یو ځای ده.

نو ځکه فقهاؤ دا لیکلې دي: چې د کمچا په کور کې زوی او لور دواړه اوسیږي او هغه یو شی کورته راوړي نو د پلار لپاره مناسب دا ده: چې اول هغه شی و خپلې لور ته ور کړي، او وروسته یې و زوی ته ور کړي.

نو د پیغمبرﷺ په رحمت کې لور هم دا مقام پیدا کړی، چې پر خلګو دا واضحه سوه، چې لور په کور کې پیدا کېدل دا زحمت نه دی، بلکه د الله تعالی رحمت دی.

**د زناني حصه:**

د پیغمبرﷺ په رحمت کې زنانې هم خپله حصه پیدا کړه د جاهلیت دا دستور وو، چې زنانې به یې په یو مصیبت کې اچولې او د هغوی به هیڅ پرسان حال نه وو، نه به هغوی ته په میراث کې حق ور کول کېدئ، خاوند به نه خپلې زنانې ته طلاق ور کوی، او نه به یې په ښه طریقه باندې ګذاره ور سره کوله.

بلکه دغسې معلقه به یې ساتله، او د هغې و هیڅ حق منلو ته به تیار نه وو، چې کله پیغمبرﷺ دنیا ته تشریف راوړی، نو په خپلو تعلیماتو کې یې د زنانو حقوق ښکاره کړه.

پیغمبرﷺ به ویل:

.........خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِأَهْلِهِ وَأَنَا خَيْرُكُمْ لِأَهْلِي﴾.(۲)

---

(۱) مسلم شریف حدیث، ۱۴۹

(۲) ترمذي شریف حدیث، ۳۸۹۵

په تاسو کې خیر هغه څوک دی، چې د خپل کور د زنانې سره ښه ژوند کوي، او زه هم د خپل کور د زنانې سره ښه ژوند کوم.

پر یو بله موقعه باندې پیغمبرﷺ دا هم ویلې دي:

.........الدُّنْيَا مَتَاعٌ، وَخَيْرُ مَتَاعِ الدُّنْيَا الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ﴾. دنیا یو متاع ده او بهترینه متاع نېکه زنانه ده. (١)

داغه رنګه به پیغمبرﷺ ویل ماته په تاسو کې درې (٣) شیان ډېر محبوب دي: په هغو کې به یوه پیغمبرﷺ نېکه زنانه یادوله، ګویا پیغمبرﷺ د خپلو تعلیماتو په ذریعه په معاشره کې د زنانې حصه ښکاره کړه.

**د خاوند حصه:**

د پیغمبرﷺ په رحمت کې خاوند هم خپله حصه پیدا کړه ځکه په معاشره کې د خاوند د مقام معلومات د چا سره نه وو.

پیغمبرﷺ وفرمایل کچیرې د الله رب العزت څخه ماسوا یو بل چا ته د سجدې کولو اجازت وای نو ما به زنانې ته دا حکم کړیوای، چې خپل خاوند ته سجده وکړه، خاوند هم دا مقام د الله رب العزت د محبوب په رحمت کې لاس ته راوړی.

**د کوچنیانو او لویانو حصه:**

د پیغمبرﷺ د ذات بابرکات په صدقه کې کوچنیانو او لویانو ټولو خپله حصه پیدا کړه، چنانچه پیغمبرﷺ دې امت ته دا تعلیم پیش کړئ:

.........مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيرَنَا، وَيَعْرِفْ حَقَّ كَبِيرِنَا فَلَيْسَ مِنَّا﴾.

چې کمڅوک زموږ پر کشرانو رحم نکوي، او د مشرانو احترام نکوي، هغه زموږ په امت کې نه شمارل کیږي.(٢)

---

(١) مسلم شریف حدیث، ٦۴

(٢) ابو داؤد شریف حدیث، ۴٩۴٣

## د علماء کرامو حصه:

د پیغمبر په رحمت کي علماؤ هم خپله حصه پیدا کړه ځکه پیغمبرﷺ به ویل:

............﴿الْعُلَمَاءُ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ﴾. علماء د انبیاؤ وارثان دي.(۱)

او په بعضو روایاتو کي لا دا هم راغلي دي:

............﴿عُلَمَاءُ أُمَّتِيْ كَأَنْبِيَاءِ بَنِيْ إِسْرَائِيْلِ﴾. چي د قیامت په ورځ به زما د امت علماء د بني اسرائیلو د انبیاؤ په شان را پورته کیږي.(۲)

پیغمبرﷺ به دا ویل: چي کم سړي د یو تقوی داره عالم په امامت کي لمونځ وکړی، گویا هغه زما په امامت کي لمونځ وکړی. (۳)

نو د دې څخه هم د عالم پوره مرتبه ښکاره سوه، لکه: یو بل ځای پیغمبرﷺ دا هم وایي:

............﴿فَقِيهٌ وَاحِدٌ أَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنْ أَلْفِ عَابِدٍ﴾. د یو فقیه عالم وزن پر شیطان باندي تر زرو (۱۰۰۰) عابدانو هم درونددی.(۴)

یعني زر (۱۰۰۰) عابدان په آسانه طریقه سره په دوکه کي راوستلای سي، لېکن د یو عالم دوکه کول هغه ته ډېر مشکل او گران کار وي.

## د طالب العلم حصه:

د پیغمبرﷺ په تعلیماتو کي د هغه چا حصه هم ښکاره سوه چي کمځوک په طلب د علم کي روان وي.

پیغمبرﷺ به ویل:

---

(۱) ابو داؤد شریف حدیث: ۳۶۴۱

(۲) روح المعاني تحت تفسیر سورة الفتح آیت نمبر: ۱۹ الی ۲۹

(۳) خطبات فقیر: جلد نمبر ۷، صفحه نمبر ۶۸

(۴) ابن ماجه حدیث: ۲۲۲

﴿.........مَنْ كَانَ فِيْ طَلَبِ الْعِلْمِ كَانَتِ الْجَنَّةُ فِي طَلَبِهِ﴾. چي کمځوک د علم په طلب کي وي جنت د هغه په طلب کي کوشش کوي.(۱)

او په يو بل روايت کي لا داسي هم راځي، پيغمبر ﷺ وايي:

﴿.........مَا مِنْ خَارِجٍ خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ فِي طَلَبِ الْعِلْمِ، إِلَّا وَضَعَتْ لَهُ الْمَلَائِكَةُ أَجْنِحَتَهَا رِضًا بِمَا يَصْنَعُ﴾.

چي کم سړی د علم حاصلولو لپاره د خپل کوره څخه وځي نو د الله تعالی فرښتې د هغه تر پښو لاندي وزر غوړوي.(۲)

نو پدې شکل د پيغمبر ﷺ په تعليماتو کي د طالب العلم خپله مرتبه او عزت هم په معاشره کي ښکاره سو.

**د مجاهد حصه:**

پيغمبر ﷺ د مجاهد په باره کي فرمايي: چي کله د جهاد په لار کي د ده د وينو اوله قطره پر مځکه نوي لوېدلې، د هغه څخه مخکي الله تعالی د ده د ټولو ګناهو د مغفرت فيصله کوي.(۳)

د پيغمبر ﷺ حديث مبارک دی: چي کله پر انسانانو باندي د زکندن وخت راسي نو د عامو انسانانو د روح قبض کولو لپاره ملک الموت راځي.

لېکن چي کله د مجاهد د شهادت په وخت کي د روح قبض کېدو موقعه راسي، نو الله تعالی خپله ضابطه بدلوي، او ملک الموت ته وايي: ای ملک الموته! زما دا بنده زما پر نام باندي خپل ځان قربان کړی، اوس د ده د روح اخيستلو وخت دی زه خپله ضابطه د ده په حق کي قربانوم، د عامو انسانانو روحان زه په تا قبض کوم، لېکن اوس ته وشاته سه زه د ده روح پخپله قبض کوم.

(۱) کنز العمال حديث، ۲۸۸۴۲

(۲) ابن ماجه حديث: ۲۲۶

(۳) خطبات فقير جلد : ۷ صفحه: ۶۹

چنانچه په حدیث شریف کې راځي چې الله تعالی په میدان معرکه کې د شهید روح په خپل قدرت بلا کیف سره قبض کوي.

د الله تعالی اصول خو دا دي چې ولي وي، که ابدال وي، که قطب، چې د هر څومره لوی درجې انسان وي، کچیرې هغه وفات سي، نو د الله تعالی دربار ته حاضریږي، نو هغه ته غسل ورکول کیږي، او په سپین کفن کې د الله تعالی دربار ته رخصت کیږي.

لیکن د مجاهد شهید معامله داسي نده، د هغه لپاره الله تعالی خپله ضابطه بدلوي او فرمايي: تاسو غسل مه ور کوی، ځکه دا اوس د خپل بدن په وینو لمبېدلی دی، د وبو د غسل ورکولو ضرورت یې نسته.(۱)

او ده ته د کفن اغوستلو ضرورت نسته، ځکه د ده پر کپړو باندي چې کمي ویني لګېدلي دي، دا وماته د ګلانو غوندي محبوبي دي، او زما خوښه دا وي چې د قیامت په میدان کې په خپلو وینو لړلو کپړو کې زما و مخته ودریږي.

## د تاجر حصه:

د پیغمبر ﷺ په رحمت کې تاجر هم خپله حصه پیدا کړه، چنانچه د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دی:

.........التَّاجِرُ الصَّدُوقُ الأَمِينُ مَعَ النَّبِيِّنَ، وَالصِّدِّيقِينَ، وَالشُّهَدَاءِ﴾.

رشتونی تاجر به د قیامت په ورځ الله رب العزت د انبیاؤ په صفو کې را پورته کوي، او د انبیاؤ سره به ولاړ وي.(۲)

## د مزدور حصه:

د پیغمبر ﷺ په تعلیماتو کې مزدور هم خپله حصه پیدا کړه چنانچه په روایاتو کې راځي، د پیغمبر ﷺ حضور ته یو "صحابي" راغلی، چې کله یې مصافحه د

---

(۱) تفسیر قرطبي جلد، ۴ صفحه، ۲۷۶

(۲) ترمذي شریف حدیث، ۱۲۰۹

پیغمبر ﷺ سره وکړه، نو پیغمبر ﷺ که ګوري د هغه لاسونه او ورغوي ډېر سخت دي، پیغمبر ﷺ د هغه څخه پوښتنه کوي، چې دا ولې؟

هغه په جواب کې ورته وایي: چې ای د الله رسوله! زه همېشه ډبرې ماتوم چې د هغه په وجه زما لاسونه ډېر سخت سوي دي، پیغمبر ﷺ د هغه لاس په خپل لاس کې ونیوی، او وایي:

..........﴿اَلْكَاسِبُ حَبِيْبُ اللهِ﴾.(۱)

چې کمځوک د لاس په مزدورۍ سره خپل رزق برابروي هغه د الله تعالی دوست وي، نو د مزدورۍ کونکو والا حصه هم په خپلو تعلیماتو کې پیغمبر ﷺ ښکاره کړه.

## د همسایه حصه:

همسایه ته هم د پیغمبر ﷺ په رحمت کې خپله حصه ورسېدله پیغمبر ﷺ به ویل: چې د همسایه د حقوقو په باره کې جبرائیل آمین ماته دومره په کثرت کې راغلی چې ماته دا محسوسه سوه، چې د یو سړي د مرګه وروسته به شاید د هغه همسایه هم د ده په میراث کې حصه پیدا کړي، نو د دې څخه دا معلومېږي چې د همسایه پر همسایه باندې ډېر حقوق دي.(۲)

## د یتیم حصه:

د پیغمبر ﷺ د راتګه څخه مخکې په معاشره کې عام یتیم ته هیڅوک حق ور کولو ته تیار نه وو، مګر پیغمبر ﷺ چې کله تشریف راوړی، په خپلو تعلیماتو کې یې د یتیم حق متعین کړئ، پیغمبر ﷺ به ویل:

..........﴿أَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ فِي الْجَنَّةِ هَكَذَا﴾.

(۱) خطبات فقیر جلد: ۷ صفحه: ۷۰
(۲) خطبات فقیر جلد: ۷ صفحه: ۷۱

چې کم سړی د يتيم کفالت کوي، زه و هغه به په جنت کې داسې سره يو ځای يو، لکه: د لاس دوې (۲) ګوتې چې سره يو ځای دي.(۱)

## د سائل او د محروم حصه:

د نبي رحمة للعالمين په تعليماتو کې سائل او محروم ته هم خپله حصه ورسېده چنانچه د قرآن کريم آيت مبارک دی:

.........وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَعْلُومٌ، لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ﴾.(۲)

يعني د مالدارانو خلګو په مالو کې د مسکينانو او سائلينو حق سته.

## د حضرت عثمان رضي الله عنه او د سائل واقعه:

په مدينهٔ منوره کې حضرت عثمان رضي الله عنه د پيغمبر ﷺ حضور ته د خورما يو بهترين وږی راوړی، او پيغمبر ﷺ ته يې په تحفه کې پېش کړی.

په دې دوران کې يو سائل راغلی، د پيغمبر ﷺ څخه يې د هغه وږي طلب وکړی، نو پيغمبر ﷺ هغه وږی په صدقه کې سائل ته ورکړی.

حضرت عثمان رضي الله عنه په لار کې ورته ودرېدی، هغه وږی يې په يو درهم د هغه سائله څخه رانيوئ، او دوباره يې بيا د پيغمبر ﷺ حضور ته په تحفه کې پېش کړی.

دوهم ځل بيا هغه سائل د پيغمبر ﷺ څخه د هغه وږي طلب وکړی، پيغمبر ﷺ هغه ته صدقه کړی، حضرت عثمان رضي الله عنه په لار کې ورته ودرېدی، دوهم ځل يې بيا په يو درهم څني رانيوی، او د پيغمبر ﷺ حضور ته يې په تحفه کې پېش کړی.

دريم ځل بيا هغه سائل راغلی، د پيغمبر ﷺ څخه د وږي طلب کوي، نو پيغمبر ﷺ د ملاطفت او خوش طبعۍ په شکل نه د غوصې او غضب په شکل ورته وايي:

.........أَأَنتَ سَائِلٌ أَمْ تَاجِرٌ﴾. ايا ته اوس سوال کوې او که تجارت کوې!

---

(۱) بخاري شريف حديث، ۶۰۰۵

(۲) المعارج آيت نمبر، ۲۴

بس د پېغمبرﷺ د غو مره خبره وه چي الله تعالى د عرشه څخه جبرائيل علیه السلام را استوي او ورته وايي، چي پېغمبرﷺ ته ووايه:

............﴿وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ﴾.(١)

د پېغمبرﷺ پدې واقعه ښکاره کولو سره هم په معاشره کي د سائل اهميت او مقام ښکاره سو.(٢)

## د کسب کارانو حصه:

پېغمبرﷺ د هنرمندانو او کسب کارانو په باره کي ويلي دي: چي هنرمند او کسب کاره مؤمن تر بې هنره او بې کسبه الله تعالى ته ډېر محبوب دئ، نو ګويا چي کسب کارانو او هنرمندانو هم د پېغمبرﷺ په تعليماتو کي خپله حصه پيدا کړه.

## د منځو او غلامانو حصه:

د سيد الاولين والآخرينﷺ په رحمت کي مينځو او غلامانو ته هم خپله حصه ورسېدله.

پېغمبرﷺ چي کله د دنيا څخه رخصت اخلي نو په آخر وخت کي خپل امت ته دا وصيت کوي:

............﴿الصَّلَاةَ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ فَمَا زَالَ يَقُولُهَا حَتَّى مَا يَفِيضُ بِهَا لِسَانُهُ﴾.

تاسو د لمانځه خيال ساتئ او د خپل ما تحت غلامانو او مينځو خيال ساتئ او د هغوى د حقوقو رعايت کوئ، او تر هغه وخته پېغمبرﷺ دا جمله مکرره کوله چي تر څو پوري يې ژبې کار کوئ.(٣)

---

(١) الضحى آيت نمبر: ١٠

(٢) روح البيان تحت تفسير: ﴿وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ﴾ صفحه: ۴۵۹

(٣) ابن ماجه حديث: ١٦٢٥

**د حيواناتو حصه:**

انسان خو انسان دی، د پیغمبرﷺ په رحمت کې حیوانانو هم خپله حصه پیدا کړه.

چنانچه پیغمبرﷺ به فرمایل لکه: په زمانه د جاهلیت کې چې به یې حیوانانو ته تکلیف ور کوی، تاسو حیوانانو ته هغسې تکلیف مه ور کوئ.

او پیغمبرﷺ به فرمایل:

......... إِيَّاكُمْ أَنْ تَتَّخِذُوا ظُهُورَ دَوَابِّكُمْ مَنَابِرَ﴾.(۱)

تاسو د دې څخه ځان ګورئ! چې پر حیوان باندې ناست د چا سره مجلس کوئ، او د حیوان د ملا څخه دې منبر او کرسۍ جوړه کړې وي، ځکه په دې شکل حیوان ته ډېر تکلیف ور کول کیږي.

د جاهلیت په زمانه کې چې به کله باران نه کېدی، نو د یو حیوان پر لکۍ باندې به یې بوټي وتړل او هغه ته به یې اور ور اچوی، چې کله به اور د حیوان لکۍ ته ورسېدی، نو هغه به غور ځېدی، او د اور د سوځولو څخه به بې تابه وو، نو هلته ناستو خلګو به پر ده باندې خنداوې او مذاقونه کول، او د دوی دا عقیده وه، چې د حیوان د دې بې تابه کېدو څخه پر مځکه باران را اوري.

پیغمبرﷺ د داسې غلطو حرکاتو څخه دوی منع کول، بلکه دا به یې ویل که یو څوک د سوارلۍ حیوان لري، د هغه د دانې او د اوبو خیال دې ساتې، او دا هم د پیغمبرﷺ په تعلیماتو کې وه، چې تاسو به حیوان ته بلا وجه تکلیف نه ور کوئ.

**د جناتو حصه:**

جناتو ته هم د نبي اکرمﷺ په عالمي رحمت کې خپله حصه ورسېده چنانچه نبي اکرمﷺ به فرمایل: چې یو سړی د قضاء حاجت لپاره کښېني نو د هغه څخه مخکې دې "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ" وایي د "بِسْمِ اللهِ" د ویلو څخه د ده پر جسم باندې د هر

(۱) ابن ماجه حدیث: ۲۵٦۷

طرفه يو پرده راځي کچيري هلته جنات موجود وي، نو د هغو و مخته به هم دی نه ې پرده کيږي.

بيا چي کله د قضاء حاجت څخه فارغه سي، نو په هډوکي او په خوشايي سره دي استنجاء نه وهي ځکه هډوکي دا د جناتو خورکه وي، او د حيوانانو خوشايي دا د جناتو د حيوانانو خورکه وي.

د جناتو د حقوقو د رعايت تعليمات هم پيغمبرﷺ ور کړيدي، چي تاسو به داسي عمل نه کوئ: چي د هغه څخه و جناتو ته تکليف وي.

## د درختو حصه:

درختو ته هم د پيغمبرﷺ په عام رحمت کي حصه ورسېده پيغمبرﷺ به فرمايل چي يو انسان دي بلا مقصده د درختي پاڼي نه پرېکوي، ځکه چي کمه سرسبزه پاڼه پر درخته لګېدلې وي، هغه د الله تعالیٰ ذکر کوي.

او داغه رنګه به پيغمبرﷺ دا هم فرمايل: چي تاسو به تر مېوه داره درخته لاندي بولي او قضاء حاجت نکوی، صحابه وو به ويل ای د الله رسوله! پدې کي څه حکمت دی؟

پيغمبرﷺ به ورته ويل چي تاسو ګورئ، چي کله لمر را پورته سي، نو د هغه د را پورته کېدو سره د درختي سايه هم کميږي او هم زياتيږي.

صحابه کرامو ﷺ ورته وويل چي هو د الله تعالی نبيﷺ داغسي کيږي، نو پيغمبرﷺ ورته وايي: چي کله د درختي سايه زياتيږي او کميږي پدې وخت کي درخته د الله تعالی په دربار کي د الله تعالی و حضور ته سجده کوي، تاسو د هغه په عبادت کي خلل مه واقع کوئ.

## د مرو حصه:

د پيغمبرﷺ په رحمت کي چي انسانانو، جناتو، نباتاتو او جماداتو ته حصه ورسېده، نو مړو ته هم خپله حصه په لاس ورغله، پيغمبرﷺ به دا تعليم ور کوی:

........﴿اذْكُرُوا مَحَاسِنَ مَوْتَاكُمْ، وَكُفُّوا عَنْ مَسَاوِئِهِمْ﴾.

تاسو د خپلو مړو نېکۍ بیانوئ! کچیري په هغوی کي یو غلطي یا یو خامي وي، نو د هغې د تذکرې کولو څخه خپل ځانونه را ګرځوئ.(١)

## د حضرت جبرائیل علیه السلام حصه:

د محبوب خدا ﷺ په رحمت کي فرشتو هم خپله حصه پیدا کړه، د پېغمبر ﷺ په خدمت کي یو ځل حضرت جبرائیل علیه السلام حاضر سو، پېغمبر ﷺ پوښتني ځني کوي، چي ای جبرائیله! ایا زما د دې رحمته څخه تاته یو څه حصه ورسېده؟

حضرت جبرائیل علیه السلام عرض کوي، چي ای د الله محبوب ﷺ! هو ماته ورسېده، پېغمبر ﷺ ورته وایي: هغه څنګه؟

جبرائیل علیه السلام جواب ور کوي، هغه دا رنګه چي ستا د تشریف راوړلو څخه مخکي ما په خپلو سترګو سره د شیطان هغه بد انجام لیدلی وو، زما سره د خپل ځان په باره کي ډېر فکر وو، چي نه معلوم زما سره به څه معامله وسي؟

لېکن چي کله تا دنیا ته تشریف راوړی، نو الله رب العزت په قرآن کریم کي زما ذکر پدې الفاظو وکړی:

........﴿إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ، ذِي قُوَّةٍ عِنْدَ ذِي الْعَرْشِ مَكِينٍ، مُطَاعٍ ثَمَّ أَمِينٍ﴾.(٢)

چي کله الله تعالی زما تذکره وکړه نو ماته دا معلومه سوه، چي زما انجام ښه دی، نو ځکه ستا پدې عام رحمت کي ماته هم خپله حصه ورسېده.

نو دې څخه اندازه لګول کېږي چي نبي اکرم ﷺ د یو رحمت په شکل د دوارو جهانو دپاره راغلی دی، او د ده پدې رحمت للعالمین کي هر چا خپله حصه پیدا کړې ده.

الله تعالی دې موږ او تاسو د رحمت للعالمین د رحمت څخه محروم او بې نصیبه نکړځوي.

---

(١) ترمذي شریف حدیث: ١٠١٩

(٢) التکویر آیت نمبر: ١٩-٢٠-٢١

او الله تعالی دي په دنیا او آخرت کي د ده په زړونو او لکونو رحمتونه زموږ په نصیب کړي. او الله تعالی دي دا څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي ور ګرځوي.

(آمین یا رب العالمین)

وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

لَقَدْ کَانَ لَکُمْ فِیْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الایه)

# د امت په هکله د پیغمبر ﷺ ژړا

(بیان)


مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دارالعلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن



مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـا فـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــــاعـت | اول |
| تــاريـــــخ | جمادي الاولى ۱۴۴۲ بمطابق ۲۴ جنوري ۲۰۲۱ |
| تــعــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

وَقَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ﴿إِنَّمَا بُعِثْتُمْ مُيَسِّرِينَ، وَلَمْ تُبْعَثُوا مُعَسِّرِينَ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمُ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمُ، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

## دامت محمدیه سره آساني:

محترمو مشرانو ! په تېره جمعه کي مي درته ویلي وه، چي الله تعالی د پیغمبر ﷺ ذات بابرکات د عامو انسانانو لپاره بالعموم رحمت او د دې امت د ګناهګارانو دپاره بالخصوص رحمت ګرځولی وو.

د پیغمبر ﷺ په مبارکو او مقبولو دعاګانو کي دې ګناه ګار امت ته هم پوره حصه رسېدلې ده.

په کتابو کي لیکلي دي چي د پیغمبر ﷺ د دعاګانو په برکت الله تعالی د دې امت څخه ډیري سختی لیري کړیدي، تر دې حده پوري چي د حضرت آدم علیه السلام څخه یوه هېره وسوه، پر هغه هېره الله تعالی د ده سره دا معامله وکړه، چي د جنته څخه یې

(۱) البقرة آیت نمبر، ۱۴۳

(۲) بخاري شریف حدیث، ۲۲۰

مځکي ته را واستوی، او د جنت لباس یې ځني لیري کړی، او په قرآن مجید کي یې د ده د هیري تذکره وکړه.

لېکن د دې امت سره د الله تعالی عجیبه معامله ده، کچیري د امت محمدیهﷺ یو انسان د هیري پر ځای قصدًا یو ګناه وکړي، نو الله تعالی د دې قصدي ګناه کولو په وجه دَی د خپل درباره څخه نه باسي، بلکه د ده توبه قبلوي.

کچیري د دې امت یو بنده د خپل بدن څخه د ګناه کولو لپاره کپړې لیري کړي، نو الله تعالی پخپل رحمت سره ده ته دوباره کپړې ور اغوندي، او کچیري یو څوک د کوره څخه د ګناه کولو په نیت باندي را ووځي نو الله تعالی یې په خیرت او سلامتیا سره واپس خپل کور ته رسوي.

## د دې امت حالت د نورو امتو په پرتله:

د دې امت سره د نورو امتو په پرتله الله تعالی د ډېري آسانۍ معامله کړېده، چي د هغې یو څو مثاله زه ستاسو ومخ ته ایږدم:

(۱) په بني اسرائیلو کي که به چا د شپې په پټه ګناه وکړه، نو سهار به د هغه پر دروازه دا لیکلي وه، چي فلانکي سړي په شپه کي دا ګناه کړېده.

نو د ټوله قوم په مخکي به بیا دَی رسوا وو، لېکن الله تعالی رب العزت د دې ګناهګار امته سره د پرده پوشۍ معامله کړېده، څومره ډېر خلک به وي، چي په پټه باندي ګناهونه کوي، لېکن الله تعالی دومره کریم ذات دی، چي بیا هم د خلګو پر ژبو د هغو تعریفونه جاري دي.

په کبیره ګناهو باندي اخته انسانان او د خپل رب حکمونه و شاته کونکي انسانان چي د سزا مستحق دي، پر هغو هم د الله تعالی د طرفه دا رحمت دی، چي الله تعالی دوی په دنیا کي د رسوا کولو په ځای د خپل رحم په پرده کي پټ کړیدي.

په روایاتو کي راځي چي:

..........مَا مِنْ یَوْمٍ إِلَّا وَالْبَحْرُ یَسْتَأْذِنُ رَبَّهُ أَنْ یُغْرِقَ بَنِيْ آدَمَ﴾.

دریاب چي کله د هغو نافرماني ته ګوري نو هره ورځ د الله تعالی څخه اجازت د غرق کولو غواړي.

الله تعالی په جواب کي ورته وایي:

........﴿اِنْ كَانَ عَبْدُكُمْ فَشَانُكُمْ بِهٖ﴾.

کچیري ستاسو بنده وي، خو ستاسو په حواله دی.

........﴿وَاِنْ كَانَ عَبْدِيْ فَمِنِّيْ وَ اِلَيَّ عَبْدِيْ﴾.

کچیري زما بنده دی، نو تاسو د مابین څخه لیري سئ! ما او خپل بنده سره پرېږدئ، زه د دې خپل بنده د توبې په انتظاریم.

........﴿اِنْ اَتَانِيْ نَهَارًا قَبِلْتُهٗ﴾.

کچیري د ورځي ماته د توبې کښلو په شکل راسي زما قبول دی.

........﴿وَاِنْ اَتَانِيْ لَيْلًا قَبِلْتُهٗ﴾.

او کچیري د شپې راسي نو زما قبول دی.

ځکه د الله تعالی اراده دا ده: چي دا ممکنه ده چي یو وخت به توبه وکاږي، نو دا زما او د بنده د مابین معامله ده چي کم وخت یې توبه وکښله، نو ماته قبوله او منظوره ده.

(۲) په حدیث شریف کي راځي چي کله بني اسرائیلو د "سُخندرکي" عبادت وکړئ، نو د دوی د توبې د قبولیت لپاره الله تعالی دا شرط ولګوی: چي تاسو به د باندي یو میدان ته را وځئ، زه به د وریځې په ذریعه پر تاسو باندي تیاره جوړوم.

په تاسو کي چي کمو کسانو د "سُخندرکي" عبادت ندی کړی، هغوی به په لاسو کي چړې را اخلي او هغه کسان به په قتل کوي، چي کم چا د سُخندرکي عبادت کړیدی، لکه: الله تعالی په قرآن کریم کي دا تذکره کوي؛

إِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ أَنفُسَكُم بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ فَتُوبُوا إِلَىٰ بَارِئِكُمْ فَاقْتُلُوا أَنفُسَكُمْ .......... ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ عِندَ بَارِئِكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ﴾.(۱)

تاسو د ځانه سره د "سُخندركي" په عبادت كولو باندي ظلم كړيدی، د الله تعالی و طرفته د توبې كښلو په شكل خپل ځانونه قتل كړئ، دا ستاسو لپاره خير دی، الله تعالى به ستاسو توبه قبوله كړي.

لېكن د امت محمديهﷺ څخه الله تعالى دېري سختۍ ليري كړيدي، كچيري د سلو(۱۰۰) كالو يو كافر او مشرک او بت فرسته هر څوک چي وي، كچيري يو ګړی د الله تعالى و حضور ته كښېني او په اخلاص سره توبه و كاږي الله تعالى د هغه توبه قبلوي.

(۳) د مخكنيو امتو په باره كي په كتابو كي دا خبري راځي چي كله به د هغوی پر كپړو باندي ناپاكي راغله، د نطفې يا د بولو په شكل، نو هغوی به د كپړې هغه حصه كاټوله ځكه چي د هغه د صفا والي بله هيڅ لاره نه وه.

لېكن د دې امت سره الله تعالى دا آساني كړېده، كه هر قسم ناپاكي د انسان پر جسم يا پر كپړه باندي ولګيږي د هغه د پاكولو لپاره صرف درې (۳) لپي اوبه كافي دي، كچيري كپړه ناپاكه سي، نو د درې (۳) ځله پرېولو څخه وروسته د ده لپاره دوباره قابله د استعمال وي.

(۴) بني اسرائيلو ته دا حكم وو، چي په كم اندام تاسو ګناه وكړی، د هغه ګناه د توبې قبلېدل پدې شكل دي، چي تاسو به هغه اندام پرې كوئ، د هغه څخه وروسته به ستاسو توبه قبليږي.

لېكن د دې امت څخه الله رب العزت په خپل رحم او كرم سره دا سختۍ ليري كړې، او د آسانۍ معامله يې وكړه.

---

(۱) البقرة آيت نمبر: ۵۴

(۵) په بني اسرائيلو کي چي به کم چا زکوة ادا کوی، نو پر هغو باندي زکوة د مال څلرمه (۴) حصه وه، او پر دې امت باندي الله تعالی څلوېښتمه (۴۰) حصه وګرځوله.

بيا د هغو د زکوة ادا کولو طريقه دا وه چي هغو به د زکوة مال د غره پر يو څوکه باندي کېښنوی، بيا به د آسمانه څخه اور راتلئ هغه به يې سوځی که به چيري وسوځل سو، نو هغه زکوة قبول وو.

لېکن کچيري به په هغه کي حرام مال وو، نو بيا به اور هغه نه سوځی، نو ټوله قوم ته به دا معلومه سوه، چي دا مال حرام دی، بالآخر به په هغه پسي تفتيش شروع وو، نو پدې شکل به هغه د مال مالک د ډيري رسوايی سره مخامخ وو.

الله تعالی د دې امت څخه دا سختني ليري کړه، څومره ښائسته خبره ده، کچيري يو ورور مالداره وي، او هغه زکوة ايستل غواړي، نو هغه ورور ته دي يې ور کړي چي هغه غريب وي، او نژدې قريبانو او همسايه ګانو ته يې هم ور کولای سي.

د اور سوځلو پر ځای هغه د زکوة مال الله تعال د دې امت د غريب او مسکين لپاره قابل د استعمال کړی.

که بالفرض په دې مال کي لږ ګډوډي وي، نو معامله الله تعالی آخرت ته پرېښوله، او په دنيا کي يې د رسوايی څخه محفوظه کړی.

(٦) د الله رب العزت په خپل رحم او کرم سره او د پيغمبر ﷺ په صدقه کي الله تعالی دې امت ته يو څو نور خاص نعمتونه ور کړيدي.

د نبي اکرم ﷺ حديث مبارک دی: چي الله تعالی زما د امت لپاره ټوله مځ د مځکي د لمانځه ځای جوړ کړيدی، حالانکه د مخکنيو امتو عبادت بغير د عبادت خانو څخه نه صحيح کېدی.

او الله تعالی زما د امت شکلونه د مسخ کېدو څخه زما په دُعاء سره محفوظ کړيدي، حالانکه مخکني امتو چي به کله ګناه وکړه، نو الله تعالی به د هغو شکلونه مسخ کول ځکه د الله تعالی دا فيصله وه:

.........﴿فَقُلْنَا لَهُمْ كُونُوا قِرَدَةً خَاسِئِينَ﴾(١) چي تاسو په بزوګیانو بدل سئ!

داغه رنګه پیغمبرﷺ دا دعاء هم غوښتې ده: چي ای الله! زما پر امت داسي ظالم مه مسلط کوه، چي زما پوره امت د ظلم نښانه جوړه کړي، الله تعالی دا دعاء هم قبوله کړېوه.

بیا پیغمبرﷺ یو څه نوري دعاګاني غوښتي دي، دَی مبارک فرمایي: چي زما هغه دعاګاني هم الله تعالی قبولي کړیدي، مثلًا:

١. چي کم انسان د "طاعون" په حالت کي مړ سي، نو د قیامت په میدان کي به الله تعالی هغه د شهیدانو په قطار کي راپورته کوي.

٢. چي کم سړی د نس په بیماري کي مړ سي، هغه به هم د قیامت په میدان کي په شهیدانو کي شمارل کیږي.

٣. چي کم سړی په اور کي وسوځل سي، هغه به هم الله تعالی په شهیدانو کي شاملوي.

۴. چي کم څوک د مکان او کور د را نړېدلو یا د ټکراو حادثې په وجه باندي یو دم وفات سي، د هغه شمار به هم په قیامت کي په شهیدانو کي کیږي.

۵. حتی کچیري یو زنانه د بچي د ولادت په وخت کي مړه سي، نو الله تعالی به هغه زنانه د قیامت په میدان کي په شهیدانو کي حساب کوي.(٢)

## د امت په غم کي د پیغمبرﷺ ژړا:

په احادیث مبارکه وو کي راغلي دي، چي نبي اکرمﷺ چي به کله د تهجد په لمانځه کي د قرآن کریم تلاوت کوی، او په هغه آیتو کي به د مخکني قومونو تذکره راغله، یعني داسي آیتونه به یې تلاوت کول: چي په هغه کي به الله تعالی دا فرمایلي وه، چي ما د مخکني قومو سره څه وکړه؟

(١) البقرة آیت نمبر: ٦۵

(٢) ماخوذ از خطبات فقیر جلد: ٧ صفحه: ٧٨-٧٩-٨٠

......وَعَادًا وَثَمُودَ وَأَصْحَابَ الرَّسِّ وَقُرُونًا بَيْنَ ذَٰلِكَ كَثِيرًا، وَكُلًّا ضَرَبْنَا لَهُ الْأَمْثَالَ وَكُلًّا تَبَّرْنَا تَتْبِيرًا﴾.(١)

کله به د دا قومونو د حالاتو تذکره او د هغوی د هلاکت واقعات بیانېدل نو چي پیغمبر ﷺ ته به فورًا خپل ګناهګاره امت په فکر کي ورغلی، نو د دې آیتو د ویلو سره به یې ژړا کوله.

## د پیغمبر ﷺ ور ښتان سپین کېدل:

د پیغمبر ﷺ د ږیري څو مبارک وېښتان سپین سوه، نو یو چا پوښتنه څني وکړه چي ای د الله محبوب ﷺ! ستا وېښتان مبارک دېر ژر سپین سوه، ده په جواب کي ورته وویل چي زه "سورة هود" او داغه رنګه نورو سورتو سپینږیری کړم.

## پر امت باندي د دعاګانو احاطه:

چي کله به د مخکنی امتو تذکره راغله، نو دَی به د خپل امت په باره کي دېر فکرمند وو، او دُعاء به یې کوله چي یا الله! زما د امت سره به د رحمت معامله کوې، د دې دعا غوښتلو په دروان کي به د ده ږیره مبارکه په اوښکو لنده سوه، او پر سینه مبارکه به یې اوښکي رابهیدلې، او کله کله به یې پښې مبارکي د ډیري ولاړي څخه وپړسېدلې.

په بعضې روایاتو کي راځي چي د ډوډۍ خوړلو په دروان کي چي به کله د خپل امت فکر ورته راغلی، نو خورک به یې پرېښوی، او د امت لپاره په دعاء کولو کي به مشغوله سو.

د دې څخه دا معلومېږي چي د نبي اکرم ﷺ دعاګانو پر دې امت باندي چارچاپېره احاطه کړې وه، چي په هغه سره الله تعالی د دې امت حفاظت کړیدی، او د دې امت د انسانانو سره یې د آسانۍ معامله کړې ده.(٢)

---

(١) الفرقان آیت نمبر: ۳۸-۳۹

(٢) خطبات فقیر جلد: ۷ صفحه: ۸۲

## د پیغمبر ﷺ خصوصي امتیاز:

چي سړی هر څومره مطالعه وکړي، د نورو انبیاؤ متعلق دا خبري په کتابو کي نسته چي هغو دي د امت په غم کي ژړا کړې وي، د امت په غم کي ژړا کول دا صرف د پیغمبر ﷺ امتیازي شان وو، چي پیغمبر ﷺ به د خپل امت په غم کي د ﴿يَا رَبِّ أُمَّتِيْ يَارَبِّ أُمَّتِيْ﴾ فریاد او ژړا کوله.

د نورو انبیاء کرامو د خپلو امتو سره معامله پداسي شان وه، که به یې چیري هغو دعوت نکړی قبول نو دوی دستي ښراء کوله.

حضرت نوح علیه السلام تر دې حده وویل:

......... رَبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا﴾.(۱)

یا الله! پر دې مځکه د کافرانو یو کلی مه پرېږدې، مګر د پیغمبر ﷺ معامله د نورو انبیاؤ څخه جلا وه، ذَی به د شپې را پورته کېدی، او د خپل امت د ګناهګارانو په حق کي به یې الله تعالی ته دعاء او ژړا کوله.

## هر نبي ته د یوې دعاء اختیار:

نبي اکرم ﷺ فرمایي: چي الله تعالی هر نبي ته د یو دعاء اختیار ور کړیدی، چي هره دعاء غواړي الله تعالی به یې قبلوي صحابه کرام رضي الله عنهم پوښتنه څني کوي، چي ای د الله نبي! ایا هر نبي دا دعاء غوښتې ده؟

ذَی په جواب کي ورته وایي، هو صحابه کرام رضي الله عنهم بیا پوښتنه څني کوي، چي ای د الله نبي ﷺ! تا هم دا دعاء غوښتې ده؟

پیغمبر ﷺ په جواب کي ورته وایي ما نه ده غوښتې بلکه هغه دعاء ما د خپل امت لپاره ذخیره کړې ده، زه به د قیامت په ورځ هغه دعاء غواړم او زما د امت د ګناهګارانو لپاره به د بخشش سبب جوړیږي.

(۱) النوح آیت نمبر: ۲٦.

## د محشر په ورځ د امت محمدیه نښان:

د پیغمبرﷺ حدیث مبارک دی: چي د قیامت په ورځ به زما د امت انسانان د قبرو څخه را پورته کیږي زه به د دوی لپاره شفاعت کوم، چي هغه ته "شفاعت کبرٰی" وایي الله تعالی به د هغه شفاعت په وجه دوی معاف کوي.

حضرت عائشه مبارکه پوښتنه څني کوي ورته وایي: ای د الله نبيﷺ! هلته خو دومره ډېر انسانان سره را جمع وي، ته به خپل امتیان څنګه پیژني؟

پیغمبرﷺ ورته وایي: چي زما د امتیانو د اوداسه اندامونه به الله تعالی د قیامت په ورځ نوراني کوي، چي د هغه په وجه به په ټولو انسانانو کي ماته ممتاز را معلومیږي، په دې شکل به زه د خپل امت د افرادو شناخت کوم.

## بلاحسابه جنت ته داخلیدل:

په روایت کي راځي چي پیغمبرﷺ وایي: چي الله تعالی به د قیامت په ورځ زما د امت اویا زره (۷۰۰۰۰) انسانان بې حسابه او کتابه جنت ته داخلوي، او د دا رنګه جنتي سره به اویا زره (۷۰۰۰۰) انسانان د ده په شفاعت جنت ته ځي.

د مثال په شکل د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه د مقام غوندي انسان اویا زره (۷۰۰۰۰) بلا حسابه جنت ته ځي بیا به داسي و هر فقیه او عالم ته د ده تابعداري کونکي اویا زره (۷۰۰۰۰) انسانانو د خپل ځانه سره د جنت د بېولو اجازه وي.

کچیري اویا زره (۷۰۰۰۰) ته په اویازره (۷۰۰۰۰) کي ضرب ورکړې، نو د دې امت څلور اربه نیوي کروړه (۴۹۰۰۰۰۰۰۰۰) انسانان بې حساب او کتاب جنت ته ځي، دا د الله رب العزت د طرفه څخه چي کله دا وعده وسوه، نو پیغمبرﷺ به بیا دعاګاني غوښتې چي یا الله! صرف دومره انسانان بېحساب او بېکتاب جنت ته ځي د دې څخه علاوه خو زما د امت ډېر انسانان دي، الله تعالی وعده ور سره وکړه، چي ای زما نبيﷺ! ستا د شپې دعاګاني او ستا ژړاوي ما قبولي کړې، او زه دا وعده کوم، چي

د قیامت په ورځ به ستا د امت درې (۳) لپې انسانان زه د جهنمه څخه را باسم او په خپل رحمت سره به يې په جنت کي داخلوم.([1])

د آدم په میراث کي د نبي ﷺ پسري حصه:

د پېغمبر ﷺ حدیث مبارک دئ، چي د قیامت په ورځ به د جنتي انسانانو یو سل او شل (۱۲۰) صفونه وي، الله تعالی به په هغه کي اتیا (۸۰) صفونه صرف زما د امت جوړوي، او څلوېښت (۴۰) صفونه به د باقي انبیاؤ امتونه وي.

تاسو ګورئ! چي کله د پلار میراث تقسیم سي، نو دوې حصې و زوی ته یوه حصه و لور ته ور کول کیږي.

داغه رنګه چي کله د حضرت آدم علیه السلام میراث تقسیم سو، نو ټولو انبیاؤ ته د امت په شکل حصه "دُختري" ور کول سوه، او پېغمبر ﷺ ته حصه "پسري" ورسېده.

## د محشر په ورځ امت محمدیه ته د سجدې حکم:

د پېغمبر ﷺ حدیث مبارک دی: چي الله تعالی به د قیامت په ورځ زما امت ته د سجده کولو حکم ور کوي، زما په امت کي چي کم سړی سجده وکړي، الله تعالی به د هغي سجدې په وجه ده ته جنت ور کوي.([2])

## د امت په غم کي انتهاء:

په یو روایت کي راځي چي یو ځل حضرت جبرائیل علیه السلام د پېغمبر ﷺ خدمت ته راغلی، پېغمبر ﷺ دا محسوسه کړه، چي حضرت جبرائیل علیه السلام غمزده معلومېږي، پېغمبر ﷺ پوښتنه ځني وکړه چي ای جبرائیله! نن ولي غمجن را معلومېږې؟

حضرت جبرائیل علیه السلام په جواب کي ورته وایي: ای د کل جهان محبوبه! ما د الله په حکم سره نن د "جهنم" منظره وکړه، او د هغه څخه وروسته اوس تاته راغلم، نو د "جهنم" د لیدلو څخه پر ما د غم اثرات دي.

---

([1]) خطبات فقیر جلد: ۷ صفحه: ۸۳

([2]) خطبات فقیر جلد: ۷ صفحه: ۸۵

نبي اکرمﷺ پوښتنه ځني کوي: ای جبرائیله! دا راته ووایه چي د "جهنم" څنګه حالات دي؟

حضرت جبرائیل علیه السلام په جواب کي ورته وايي: ای د الله نبيﷺ! په "جهنم" کي یو پر بل سربېره اووه (۷) منزلونه دي، یعني د "جهنم" اووه (۷) حصې دي، د ټولو څخه لوړه حصه د هغې نوم "جهنم" دی.

تر هغه لاندي "حطمه" دی.

تر هغه لاندي "لظی" دی.

تر هغه لاندي "سعیر" دی.

او بیا "سقر" دی.

او بیا "جحیم" دی.

او بیا "هاویه" ده.

په "هاویه" کي چي تر ټولو لاندي دی، په هغه کي د هر امت منافقین لوېږي، لکه: الله تعالی په قرآنکریم کي فرمايي:

.........﴿إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ﴾.(۱)

منافقین به د جهنم په لاندي منزل کي وي.

د هغه څخه پورته په "جحیم" کي مشرکان وي، او په "سقر" کي صابیین وي، او په "سعیر" کي مجوسیان وي، او په "لظی" کي یهود وي، او په "حطمه" کي عیسایان وي.

چي کله تر دې ځایه پوري حضرت جبرائیل علیه السلام بیان وکړی، نو خاموشه سو، ځکه حضرت جبرائیل علیه السلام ته دا ور معلومه وه، چي پیغمبرﷺ د خپلو امتیانو په "جهنم" کي اورېدل نه برادشت کوي.

---

(۱) النساء آیت نمبر: ۱۴۵

آخر پیغمبر ﷺ پوښتنه ځني کوي، چي جبرائیله! ولي خاموشه سوې؟ د ټولو لوړو ځخه لوړه درجه او منزل چي "جهنم" دئ، په هغه کي به څوک وي؟

حضرت جبرائیل علیه السلام عرض کوي، چي ای د الله رسوله! د ټولو ځخه په لوړ منزل کي چي جهنم دی، ستا د امت ګناه ګاران او سیږي.

چي کله پیغمبر ﷺ دا واورېدل: چي زما د امت ګناهګاران هم و "جهنم" ته ورا چوي، نو پیغمبر ﷺ ډېر غمجن سو، او د الله تعالی په دربار کي یې دعاګاني شروع کړې، په کتابو کي لیکلي دي، چي دري (۳) ورځي پر پیغمبر ﷺ باندي داسي تیري سوې.

چي د الله محبوب ﷺ مسجد ته د لمانځه کولو لپاره تشریف راوړي، چي کله لمونځ وکړي، نو فورًا حجرې ته ننوځي او حجره په ځان پسي بندوي، او په حجره کي د خپل رب و حضور ته په ژړا او فریاد کي مشغوله وي، او د پیغمبر ﷺ د ژړا آواز په ټوله مسجد نبوي ﷺ کي اورېدل کېږي.

صحابه کرام رضي الله عنهم ډېر حیران دي، چي ایا پر نبي ﷺ باندي کم کیفیت دی، چي د چا سره خبري نه کوي، او د لمانځه کولو ځخه وروسته په حجره کي د تنهائی په شکل ژړا او فریاد کوي، چي په دري (۳) ورځي کي نه هغه د چا سره کلام کړېدی، او نه ده ته دوی ورغلي ده، او نه او به ورغلي دي، او نه یې د چا پر مخ دروازه خلاصه کړېده، نو په ټوله مسجد نبوي کي پر صحابه وو باندي یو د غم فضاء خوره ده، او په دې باندي یې سر نه خلاصیږي چي پر پیغمبر ﷺ باندي څه کیفیت دی.

چي کله دریمه ورځ سوه نو د پیغمبر ﷺ عاشق صادق حضرت ابو بکر رضي الله عنه نور نسوه برداشت کولای، نو د پیغمبر ﷺ د حجرې دروازې ته راغلی او په لوړ آواز باندي وایي:

......... اَلسَّلَامُ عَلَیْکَ لَبَّیْکَ یَا رَسُوْلَ اللهِ﴾.

ای د الله رسوله! ابوبکر ستا په خدمت کي حاضر دی.

چي کله یو څه وخت دروازې ته ولاړ دئ، او د حجرې د ننه ځخه هیڅ جواب ورنه کول سو، نو حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه واپس مایوسه را روان سو، راغلی په ژړا کي د

حضرت عمر ﷺ کور ته ورغلی، ورته وایي: ای عمره! پر پیغمبرﷺ باندي نن دریمه ورځ ده، چي د ډېر لوی غم کیفیت دی، نه د چا سره کلام کوي، او نه د چا د خبري جواب ور کوي، زه حجرې ته ورغلم ماته د سلام جواب نسو ملاو، نو ته حجرې ته ورسه او سلام ووایه، کېدای سي چي تاته به جواب ملاو سي.

چنانچه حضرت عمر ﷺ د حجرې مبارکې دروازې ته راغلی او ده هم په لوړ آواز سره درې (۳) ځله سلام ووایه: مګر د پیغمبرﷺ د طرفه څخه هیڅ جواب را نغلی، چنانچه د دې معنی دا وه چي په دې وخت کي د حجرې د دروازې خلاصولو اجازت نسته، لهذا هغه هم واپس ولاړی.

پر واپسي باندي د دوی ملاقات د حضرت سلمان فارسي ﷺ سره وسو، حضرت عمر ﷺ و حضرت سلمان فارسي ﷺ ته وویل: چي ستا په باره کي خو به پیغمبرﷺ ویل:

......... يَا سَلْمَانُ أَنْتَ مِنَّا أَهْلِ الْبَيْتِ﴾.(۱)

ای سلمانه! ته زموږ د اهل بیتو څخه یې، نو ځکه ته ورسه د پیغمبرﷺ دروازې ته سلام ووایه کېدای سي، چي تا الله تعالی د حجرې د دروازې خلاصولو سبب جوړ کړي، او د پیغمبرﷺ هغه کیفیت موږ ته ښکاره سي.

چنانچه حضرت سلمان فارسي ﷺ راغلی او د حجرې و مخته یې سلام ووایي: لېکن هغه ته هم د حجرې د دننه څخه د سلام جواب ملاو نسو.

د هغه څخه وروسته دې درو (۳) سره وو مبارکانو حضرت علي ﷺ ته وویل: چي ته د پیغمبرﷺ حجرې ته سلام ووایه ممکنه ده چي تاته دروازه در خلاصه سي.

حضرت علي ﷺ ته چي کله دا وویل سوه، نو ده د ځانه سره سوچ وکړئ، چي په دې باره کي به زه ضرور یو حل تلاش کوم، چنانچه په خپله د پیغمبرﷺ دروازې ته د ورتللو پر ځای خپل کور ته ولاړی او خپله زوجه محترمه حضرت فاطمة الزهراء ﷺ

---

(۱) کنزالعمال حدیث: ۲۵۵۵۵

ته یې وویل: چي پر پیغمبرﷺ باندي د درو (۳) ورځو څخه د غم کیفیت دی، او په حجره کي په تنهائي کي اوسیږي نه د چا سره کلام کوي، او نه چاته د دننه ورتللو اجازت ور کوي.

چي کله لمانځه ته راووځي نو پر مخ مبارک یې د غم اثار وي، او سترګي مبارکي یې د اوښکو ډکي وي، او په ټوله مسجد نبوي کي د غم فضاء خوره ده، لهذا ته ورسه! او دروازه وټکوه کېدای سي چي و تاته دروازه در خلاصه سي.

چنانچه حضرت فاطمة الزهراءؓ راغله او د پیغمبرﷺ دروازې ته یې د سلام ږغ وکړ، بالآخر محبوبﷺ د دې پر ږغ کولو باندي دروازه ور خلاصه کړه، او خپله لور یې دننه را وبلله.

حضرت فاطمة الزهراء پوښتنه ځني کوي چي ای د الله محبوبﷺ! پر تا کم کیفیت دئ، چي درې (۳) ورځي کیږي ته مجلس ته نه را وځي او په حجره کي دي تنهائي اختیار کړېده، او پر مخ مبارک دي د غم اثار دي، په دې وخت کي پیغمبرﷺ حضرت فاطمة الزهراءؓ ته پوره تفصیل بیانوي:

چي ای بچیه! ماته حضرت "جبرائیل امین" راغلی، چي زما د امت څه ګناه ګاران به په جهنم کي سوځل کیږي، "فاطمې" ماته د خپل امت د دې ګناهګارانو د ہر غم دی، زه د خپل مالکه څخه فریاد کوم، چي هغه دوی د جهنمه څخه آزاد کړي.

په دې دوران کي پیغمبرﷺ اوږده سجده کوي، حتی چي په سجده کي هم ژاړي بالآخر الله تعالی د عرشه څخه حضرت جبرائیلؑ را استوي او هغه د الله تعالی د طرفه دا وعده راوړي چي ای محبوبه!

.........﴿وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰ﴾.(۱)

الله تعالی به تاته دومره څه در کوي، چي تا به راضي کوي.

---

(۱) الضحی آیت نمبر، ۵

چنانچه پیغمبرﷺ فرمایي: چي الله تعالی خو زما سره وعده وکړه، چي د قیامت په میدان کي به تا راضي کوم، او زه تر هغه وخته نه راضي کېږم چي تر څو پوري زما آخرنی امتي جنت ته تللی نه وي، د دې څخه وروسته پیغمبرﷺ د باندي ژړا ووتی.(¹)

## امت تر اولاد ډېر ځان ته قریب کول:

حالانکه پیغمبرﷺ د اولاد د ازمائش او امتحان خبر اوري لېکن د هغو لپاره دا دعاء نکوي، چي یا الله! دا ازمائش او امتحان ختم کړې.

په روایاتو کي راځي چي پیغمبرﷺ په حجره مبارکه کي ناست دی، حضرت حسینؓ یې په غېږ پوري نیولی دی، او په ډېر زار او قطار سره ژړا کوي، حضرت ام سلمهؓ حجرې ته راغله چي کله یې د پیغمبرﷺ ژړا ولیدله نو پوښتنه ځني کوي، چي ای د الله رسوله! څه پېښه ده چي ته ژړا کوې؟

پیغمبرﷺ ورته وایي: ای ام سلمې! ماته اوس "جبرائیل" راغلی او ماته یې وویل چي زما دا بچی به زما امت قتل کوي، او ماته یې هغه خاوره را ښکاره کړه، چي په هغه کي به زما د دې بچي وینه تویېږي.

نو د "حسین" لپاره دعاء نکوي، چي یا الله! دا قرباني ځني لیري کړې، یا الله! دی بچاو کړې، او د ده نسل بچاو کړې.

د پیغمبرﷺ د خاندان شپاړس (۱۶) کسانو بدنونه داسي ټکره ټکره سوه، چي کله د کربلاء په میدان کي زناني د "ابن زیاد" لښکر د منځو په شکل د ځانه سره بیایي، نو صرف د حضرت "حسین" سر پرې سوی نه وو بلکه د دو اویا (۷۲) انسانانو سرونه پرې سوي، او په رېګو کي پراته دي.

چي په هغو کي شپاړس (۱۶) د حضرت فاطمة الزهراء د اولاده څخه وه، او پنځه د حضرت عليؓ نور زامن وه:

عثمان وو.

(¹) ماخوذ از خطبات فقیر جلد ، ۷ صفحه ، ۸۵

عبدالله وو.
محمد وو.
جعفر وو.
عباس وو، چې هغه ته دوی علمبردار وایي.

دا پنځه (۵) حضرات د حضرت حسین ﷺ وروڼه د نورو میندو څخه وه، نو دا یویشت (۲۱) د حضرت علي ﷺ اولاد وو، او د الله تعالی د نبي د خاندانه څخه وه، نو د دې دوه اویا (۷۲) کسانو سرونه پرې شوي وه، هغه ماشوم بچی "عبدالله" چې په آخر کې شهید شو، د هغه سر هم پرې شوی وو.

چې کله د زنانو قافله د "ابن زیاد" لښکر روانه کړه، او "زینب" بنت فاطمة الزهراء ﷺ چې کله نظر د دې خپل کور پر شهیدانو ولګېدی، چې هغه ټوله سرونه پرې شوي په رېګو کې پراته دي، نو د هغې د خولې څخه یو چیغه پورته شوه:

..............﴿یَا مُحَمَّدَاهُ، یَا مُحَمَّدَاهُ، صَلّٰی عَلَیْكَ الإلٰه وَ مَلَائِكَةُ السَّمَاءِ﴾.

ای محمده! پر تا دې د الله تعالی او د ملائکو درود وي.

..............﴿هٰذَا حُسَيْنٌ بِالْعَرَاءِ﴾. دا حسین دی، په صحراء کې پروت.
..............﴿مُزَمَّلٌ بِالدِّمَاءِ﴾. پخپلو وینو لړلی دی.
........﴿مُقَطَّعُ الْأَعْضَاءِ﴾. او د بدن ټول اندامونه یې ټوک ټوک او سر یې پرې شوی دی.
..........﴿یَا مُحَمَّدَاهُ، وَبَنَاتُكَ سَبَایَا﴾.
ای محمده! ستا لوڼي نن د مینځانو په شکل رواني دي.
..........﴿وَذُرِّيَّتُكَ مُقَتَّلَةٌ﴾ او ستا بچي په قتل ګاه کې پراته دي.
..........﴿تَسْفِي عَلَيْهَا الصَّبَا﴾. چې پر هغه باندې د کربلاء د دښتو رېګونه بادیږي.

دا هغه نوحه وه، چې کله د کربلاء په میدان کې د حضرت "زینب بنت فاطمې" د خولې څخه انسانانو اورېدل نو د کربلاء په ټوله میدان کې د دې پر دې نوحه باندې د ژړا بوږ وو.

......﴿فَأَبْكَتْ وَاللَّهِ كُلَّ عَدُوٍّ وَصَدِيقٍ﴾.

چي ټومره دوستان وه، او که دښمنان وه هغه ټوله د کربلاء په میدان کي د حضرت "زینب" پر نوحه بندي په ژړا اخته وه.(۱)

نو د بچیانو پر دې حالاتو اوربدلو باندي پیغمبر ﷺ ژړا نکوله، لېکن د خپل امت د ګناهکارانو په حقله درې (۳) ورځي مسلسل پیغمبر ﷺ په ژړا کي تېروي.

## د ابن عباس رضي الله عنهما عجیبه خوب لیدل:

حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما په خوب کي ویني چي پیغمبر ﷺ تشریف راوړېدی، رنګ یې تک ژړ دی، او پر مخ مبارک یې ګرځونه پراته دي، او په لاس کي یې د وینو بوتل دی.

حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما پوښتنه ځني کوي، چي ای د الله رسوله! خیر خو دئ، څه پېښه ده؟

پیغمبر ﷺ په داسي حال کي ورته وایي: چي سترګي مبارکي یې د اوښکو ډکي دي، چي زه د "حسین" قتل ګاه ته حاضر سوی وم، او دا بوتل دی، په هغه کي د "حسین" او د هغه د اولاد وینه ده، او د قیامت په ورځ به دا وینه زه پخپله د "مُدعِي" په شکل د الله تعالی په دربار کي پېشوم.(۲)

نو د پیغمبر ﷺ د خپل امت سره ډېر زیات محبت او شفقت وو، چي د هغه د شفقت او محبت پخاطر الله تعالی د ده د امت سره ډېري آساني کړي دي، چي مخکني قومونه د هغه آسانیو څخه محروم او بې نصیبه وه.

(۱) البدایة والنهایة هجر، باب صفة مقتله رضي الله عنه ماخوذ از کلام صفحه: ۵۶۰

(۲) شاہکار تقاریر صفحہ: ۱۰۳

الله تعالی دي دا څو خبري پخپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي، او الله تعالی دي همېشه زندګي د پیغمبرﷺ د امت په سایه کي را نصیب کړي.

(آمین یا رب العالمین)

وَصَلَّی اللّٰهُ تَعَالی عَلی خَیْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِیْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآیه)

# د شفاعت بیان

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کاسی روڈ کوئٹه

| | |
|---|---|
| تقریر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتي حافظ كليم الله صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشاعت | اول |
| تاريخ | جمادي الاولى ۱۴۴۲ بمطابق ۲۴ جنوري ۲۰۲۱ |
| تعداد | (۱۱۰۰) |

اِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ، مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَاَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ.

اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى: ﴿مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَا اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: ﴿وَاُعْطِيْتُ الشَّفَاعَةَ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْمِ وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْمِ، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## د محشر په ورځ د آدم علیه السلام د اولاد پرېشاني:

محترمو مشرانو! مورږ او تاسو مسلمانان یو او د مسلمانانو دا عقیده ده چې یو ورځ به د قیامت په میدان کې د الله تعالی و حضور ته د حساب او کتاب لپاره پېښېږي.

هغه به څنګه ورځ وي؟ او په هغه ورځ کې به انسانان د کمو حالاتو سره مخامخ کېږي، د قیامت د ورځې د حالاتو متعلق حضرت سلمان فارسي رضی الله عنه یو روایت را نقل کوي، چې د قیامت په ورځ به لمر د دنیا څخه لس (۱۰) چنده زیات ګرم وي، او هر سړي ته به داسې محسوسېږي چې لمر د مخکې څخه صرف یو څو ګزه پورته دی.

د ګرمۍ په وجه به انسانان پخپلو خولو کې غرق وي، او اووه (۷) قسمه انسانانو ته به د الله تعالی د عرش سایه نصیب وي، چې هغه د پیغمبر ﷺ په ډېرو احادیثو کې ذکر سوي دي.

(۱) الاحزاب آیت نمبر: ۴۰
(۲) بخاري شریف حدیث: ۳۳۵

د نبي اکرم ﷺ حدیث مبارک دی: چې مخلوق به د ګرمۍ او تندي په وجه باندي ډېر پرېشانه وي، او د دوی به هیڅ پرسان حال نه وي، یعني هیڅوک یو پوښتنه کونکی به نه وي، او په دې حالت کي به پر دوی ډېره زمانه تېره سي.

**حضرت آدم علیه السلام ته درخواست:**

بالآخر به ټول خلګ د پرېشانۍ او سختۍ په حالت کي د حضرت آدم علیه السلام حضور ته راسي، او ورته و به وایي:

............يَا أَبَانَا قُدْمُ مَعَنَا﴾.

ای زموږ پلاره! زموږ سره ورسه، او د الله تعالی په دربار کي دا عرض پېش کړه، چې ای الله! دا سختي برداشت کول زموږ د وس او طاقت څخه وتلې ده، ته زموږ سره حساب او کتاب شروع کړه، چې په کم ځای کي زموږ نصیب وي، هلته موږ ورسیږو، نور د قیامت د میدان انتظار او ګرمي او سختي نسو برداشت کولای.

حضرت آدم علیه السلام به په دې وخت کي انکار وکړي، چې زه د الله تعالی په دربار کي نسم پېشېدلای، او دلیل به دا وایي چې ما د هیري په وجه یوه د غنم دانه خوړلې وه، او د هغې پر خورک باندي ما درې سوه (۳۰۰) کاله په ژړا باندي معافي غوښتې ده، که څه هم الله تعالی زما توبه قبوله کړېده، خو لېکن ماته د الله تعالی وحضور ته د پېشېدلو څخه حیاء راځي.

په حدیث شریف کي راځي: چې د ټوله انسانیت چې څومره اوښکي توی سوي دي، دا صرف لسمه حصه ده، نهه (۹) حصې اوښکي حضرت آدم علیه السلام په درې سوه (۳۰۰) کاله کي توی کړېدي.

د هغه د ژړا او معافۍ څخه وروسته الله تعالی د ده توبه قبوله کړېده، حضرت آدم علیه السلام "بیت الله" جوړه کړېده، او دېرش (۳۰) ځله یې پر "بیت الله" باندي پېدل حج کړی دئ، مګر بیا به هم دا وایي: چې زه د الله تعالی دربار ته د ورتګ څخه شرمېږم.

تاسو په دې کې فکر وکړئ، چې د حضرت آدم علیه السلام توبه هم قبوله سوه، لېکن بیا هم بنده پر خپلو کړو باندې پښېمانه وي، چې کله د قیامت په میدان کې زموږ د "جد امجد" دا حال دی.

نو موږ انسانان چې کله د خپلو ګناهو سره روان یو، او بغیر د توبې مړه کیږو او بغیر د توبې آخرت ته ورځو.

نو زموږ لپاره به د قیامت په ورځ د الله رب العزت په حضور کې درېدل څومره مشکل او د شرمه څخه ډک وي؟

ځکه په قرآن کریم کې الله تعالی پیغمبر ﷺ ته فرمایي:

.........﴿وَلَوْ تَرَىٰ إِذِ الْمُجْرِمُونَ نَاكِسُو رُءُوسِهِمْ عِندَ رَبِّهِمْ﴾.(۱)

کچیرې ته هغه منظر وویني چې په کمه ورځ مجرمان په کاږه سر د شرمندګۍ په حالت کې د الله تعالی و دربار ته ولاړ وي، نو د "لو" جواب محذوف دی:

.........لَرَأَيْتَ أَمْرًا فَظِيعًا﴾. نو دا به ته ډېر د رسوایۍ حالت وبولې.

نو چې کله د قیامت په ورځ انسان د دومره رسوایۍ سره مخامخ کیږي، نو بهتره خو دا ده چې په دنیا کې د خپلو بدو اعمالو څخه توبه وکاږي.(۲)

## د حضرت نوح علیه السلام ته درخواست:

د هغه څخه وروسته به حضرت آدم علیه السلام ټوله انسانیت ته دا وایي: چې تاسو حضرت نوح علیه السلام ته ورسئ، هغه به ستاسو درخواست د الله تعالی په دربار کې پېش کړي.

نو ټوله مخلوق به د حضرت نوح علیه السلام په تلاش کې سي، چې کله حضرت نوح علیه السلام د قیامت په میدان کې پیدا کړي، نو هغه ته به دا عرض پېش کړي، ای آدم ثاني! ته زموږ لپاره د الله تعالی په حضور کې شفاعت وکړه، او موږ د الله تعالی و دربار ته پېش کړه، چې زموږ سره حساب او کتاب شروع سي.

(۱) السجدة آیت نمبر، ۱۲

(۲) خطبات فقیر جلد: ۷ صفحه: ۸۹

حضرت نوح علیه السلام به دوی ته وايي، چې زه د الله تعالی دربار ته نه سم پیش کېدلای، ما د خپل زوی "کنعان" په باره کې الله تعالی ته دا درخواست وکړي، چې یا الله! دا خو زما اهل دی او تا زما سره وعده کړې ده، چې تا او ستا اهل به د طوفان څخه محفوظ ساتم، زما بچی د طوفانه څخه را وساته.

او الله تعالی د هغه په جواب کې راته ویلي وه:

............﴿إِنِّي أَعِظُكَ أَنْ تَكُونَ مِنَ الْجَاهِلِينَ﴾.(۱)

اې نوحه! دا بد عمله ستا اهل نه دی، زما څخه داسي غوښتني مه کوه، هسي نه چې د نبوت د مرتبې څخه لیري سې.

ماته د الله د دې فرمان څخه ډېره وېره ده، چې ما دا دعاء څنګه وغوښته، او ما د الله تعالی په دربار کې فورًا معافي هم غوښتې ده، نو څکه زه د الله تعالی حضور ته نه سم پیش کېدلای.

د حضرت نوح علیه السلام اصلي نوم "عبدالغفار" دی، مګر د دې دعاء غوښتلو وروسته هغه دومره وژړل چې هغه په نوح باندي مشهوره سو، څکه د نوح مطلب نوحه او ژړا کونکی.(۲)

د دې دومره ژړا سره سره د قیامت په میدان کې الله رب العزت ته د پیشېدلو څخه ېېرېږي، نو په کار دا دی: چې انسان فکر وکړي، چې موږ په خپلو ګناهو باندي ژړا هم نه کوو.

بلکه خپله ګناه په خوشحالي خوشحالي نورو ته بیانوو، چې ما فلانکی ګناه کړې ده، نه معلوم چې د قیامت په میدان کې به موږ د الله تعالی و حضور ته څنګه پیش سو؟

(۱) هود آیت نمبر، ۴۶
(۲) خطبات فقیر جلد، ۷ صفحه، ۹۰

## حضرت ابراهيم عليه السلام ته درخواست:

حضرت نوح عليه السلام به ټوله انسانيت ته ووايي: چي تاسو حضرت ابراهيم عليه السلام ته ورسئ او ټوله انسانيت به ابراهيم عليه السلام طلب كړي، او هغه ته به دا ووايي:

چي اى د الله خليله! موږ د الله تعالى و دربار ته پيش كړه، د قيامت سختي او انتظار نور نه سو برداشت كولاى.

حضرت ابراهيم عليه السلام به ورته وايي: چي زه نن د الله تعالى و دربار ته د پيشېدلو څخه شرمېږم، ځكه زما په زندګي كي درې (۳) داسي خبري زما څخه سويدي، چي د مصلحت پر بنياد خو وې، لېكن خلاف واقعه هم دي، نن زه پر دې درو (۳) خبرو باندي ماته حيا راځي.

۱. په هغو كي اوله خبره دا وه چي يو ځل د ده قوم دى د ځانه سره د اختر په ورځ مېلې ته بېوى، ده ورته وويل چي زه ناجوړه يم، واقعةً هم د كافرانو او مشركانو سره په ټک كي روحاني بيماري وي، نو ځكه ده دا عذر پيش كړى وو، الله تعالى په قرآن كي بيان كړي دي: چي ابراهيم عليه السلام ورته وويل:

......... إِنِّي سَقِيمٌ﴾ چي زه بيمار يم، ما خو د بيمارى عذر كړى دى، لېكن د واقعي خلاف دى، نو ځكه زه د الله تعالى و دربار ته د پيشېدلو څخه شرمېږم.

۲. چي يو ځل ده د خپل كور زنانه حضرت ساره رضي الله عنها د مصر څخه شام ته را وستله د سرحد حكمران ډېر ظالم انسان وو، هغوى خپلو عسكرو ته دا ويلي وه، چي هر ځاى چي ښائسته زنانه وويني نو ماته به يې راولئ، نو هغه به د هغي زناني بې حرمتي كوله.

الله تعالى بي بي ساره رضي الله عنها ته ډېر زيات حسن او جمال ور كړى وو، عسكرو چي كله دا وليدله نو يې ونيوله، د دوى قانون دا وو، كه به د زناني سره خپل خاوند ور سره وو، هغه به يې قتل كوى، كچيري ورور يا پلار به ور سره وو، نو هغه به يې نه قتل كوى، خو البته د هغي زناني سره به يې زنا كاري كوله.

حضرت ابراهیم علیه‌السلام چي کله د مصر سرحد ته را ورسېدی، نو د سرحد عسکرو پوښتنه ځني وکړه، چي ته څوک یې او دا زنانه دي څه ده؟
ده د خپل حفاظت په خاطر دا ورته وویل چي دا زما خور ده، الله تعالی هم فرمايي:
........إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ﴾. بې شکه ایمان والا سره ورونه دي، او د ایمان په نسبت مؤمن نارینه او مؤمنه زنانه سره ورور او خور بلل کیږي.
حضرت ابراهیم علیه‌السلام هم په دغه نسبت "حضرت ساره" د خپل ځان خور وبلله، ځکه هغه د ده پر دین وه، او ده ته دا خبره په شریعت کي جائز هم وه، ځکه د خپل ځان د حفاظت په خاطر حرام شی و انسان ته حلالیږي.
مګر د دې باوجود حضرت ابراهیم علیه‌السلام د الله تعالی و دربار ته د ورتللو څخه شرم محسوسوي.
۳. یو ځل حضرت ابراهیم علیه‌السلام بتان مات کړه، چي کله کافران راغله او د ده څخه یې پوښتنه وکړه، چي زموږ بُتان چا مات کړي دي، ده په جواب کي ورته وویل: تاسو د لوی بت څخه پوښتنه وکړي.
ځکه حضرت ابراهیم علیه‌السلام چي بتان مات کړه، او تبر یې د لوی بت پر اوږه کښېښوی، نو اوس ورته وايي: چي تاسو د لوی بت څخه پوښتنه وکړئ.
اوس ظاهرًا دا څه بده خبره نه ده، د کافرانو د سر خلاصولو دپاره هغه داسي وکړه، ځکه چي دوی پوښتنه ځني وکړي، نو لوی بت خو جواب نه ور کوي، لېکن دا خبره د حقیقته څخه مخالفه وه، نو ځکه پر دې خبره ده ته دومره افسوس ودرېدی، چي د الله د خلیل کېدو باوجود د الله تعالی و مخته د ور تګ څخه شرمندګي محسوسوي.

باید موږ او تاسو پر دې خبره سوچ او فکر وکړو، چي د ورځي او شپې د دروغو قسمونه اخلو، او د دروغو شاهدی پېښوو، او د خلګو و مخته پر خپلو غلطیو پردې اچوو، او خپل ځان د دنیا د شرمندګی څخه د بچاو لپاره د دروغو خبري پرله جوړه

رو، د قيامت په ميدان کي د الله تعالى رب العزت و حضور ته د ور تللو څخه به موږ ځومره شرمنده يو.(۱)

**حضرت موسى عليه السلام ته درخواست:**

حضرت ابراهيم عليه السلام به ورته ووايي: چي تاسو ټوله "موسى كليم الله" ته ورسئ، هغه به ستاسو شفاعت وكړي، ټوله انسانيت به حضرت موسى عليه السلام ته راسي، او دا به ورته وايي: اى كليم الله! ته زموږ شفاعت وكړه.

حضرت "موسى كليم الله" به جواب ور كړي، چي زه ستاسو د شفاعت كولو څخه نن قاصريم.

ځكه يو ځل داسي وسوه چي زما په مخالفينو كي يو سړي زما د اتباع كونكى انسان سره جګړه كوله، او ما د نصيحت په خاطر يو "سُوک" وواهى، چي.د هغه سر ور خلاص كړم، لېكن زما د هغه "سُوک" وهلو څخه هغه مړ سو.

ما د الله تعالى د درباره څخه معافي غوښتي ده، كه څه هم الله تعالى زما د معافى اعلان كړى دى، مګر بيا هم زما د "سُوک" څخه مړ دى، په دې وجه ماته د دې خبري څخه د الله و مخته د ورتګه څخه نن شرم محسوسيږي چي الله تعالى به وايي اى موسى! ما ته د انسانانو د وژلو لپاره دنيا ته مبعوث كړځولى وې.(۲)

**حضرت عيسى عليه السلام ته درخواست:**

حضرت موسى عليه السلام به ټوله انسانيت ته ووايي: چي تاسو حضرت عيسى عليه السلام ته ورسئ، نو ټوله انسانيت به حضرت عيسى عليه السلام ته راسي، او دا به ورته وايي: چي زموږ شفاعت وكړه چي الله تعالى زموږ سره حساب او كتاب شروع كړي!

(۱) خطبات فقير جلد: ۷ صفحه: ۹۱
(۲) خطبات فقير جلد: ۷ صفحه: ۹۲

هغه به ورته وايي چي د الله رب العزت وحضور د پېښېدلو څخه زه وېرېږم، ځکه زما امت زه او زما مور د خداى ﷻ سره شريكان جوړ كړي وو، هسي نه چي الله تعالى دا پوښتنه را څخه ونه كړي؛

......﴿أَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَٰهَيْنِ مِن دُونِ اللَّهِ﴾.(۱)

ايا تا و دې قوم ته ويلي وه، چي ما او زما مور د خدايه سره په خدايي كي شريک ونيسئ؟ د الله تعالى د دې پوښتني په خاطر د ورتللو څخه عاجزيم.(۲)

## شافع محشر محمد ﷺ ته درخواست:

حضرت عيسى عليه السلام به ټوله انسانيت ته ووايي: چي تاسو د الله تعالى محبوب محمد مصطفى ﷺ ته ورسئ! نو ټوله انسانيت به د پيغمبر ﷺ حضور ته راسي.

حافظ مُنذري رحمه الله په "ترغيب و ترهيب" كي دا خبره ليكلې ده، چي په دې وخت كي به د ټولو انبياء كرامو لپاره منبرونه ايښول سوي وي، او ټول انبياء كرام به پر منبرو باندي ناست وي.

نبي اكرم ﷺ ته به هم منبر پېش كړي، مگر د الله تعالى محبوب ﷺ به پر منبر نه كښېني؛ په دې وخت كي به د ده په زړه كي دا خيال وي، چي هسي نه زه پر دې منبر كښېنم، او منبر په هواء، جنت ته ولاړ سي، او زما د امت گناهگاران د قيامت په ميدان كي را څخه پاته سي.

الله به پوښتنه څني وكړي، چي اى زما محبوب ﷺ! ته ولي پر منبر نه كښېني؟ دى به جواب وركړي چي يا الله! زما د امت د گناه گارانو تر اوسه فيصله نده سوې، زه پر دې منبر باندي څنگه كښېنم؟

انسانان چي كله د پيغمبر ﷺ څخه د سوال او جواب شروع كولو شفاعت وغواړي نو پيغمبر ﷺ به د الله تعالى طرفته متوجه سي، په دې وخت كي به د الله تعالى پر ده

(۱) المائده آيت نمبر، ۱۱٦
(۲) خطبات فقير جلد، ۷ صفحه، ۹۳

باندي يو خاصه "تجلى" راسي، پيغمبرﷺ ويلي دي: چي په دې "تجلي" کي به الله تعالى ماته "مقام محمود" راکړي، او زه به هلته يو سجده کوم، او په هغه سجده کي به د الله تعالى داسي تعريفونه کوم، چي نه مخکي چا کړيوي، نه يې وروسته څوک کولای سي، او زما دا سجده به د ژړا په حالت کي وي.

الله رب العزت به زما دا سجده قبلوي، او زما څخه به پوښتنه کوي، ای زما محبوبه! ته څه غواړې؟

زه به دا عرض پېشوم، يا الله! ته د خپلو بندګانو حساب واخله ستا د بندګانو دپاره نور د قيامت په ميدان کي انتظار کول ډېر سخت دي.

الله تعالى به راته وايي: ته خپل امت د ټولو څخه مخکي د حساب او کتاب دپاره د قيامت په ميدان کي را پيش کړه.(۱)

## د حضرت صديق اکبرؓ حساب او کتاب:

په رواياتو کي راځي چي کله د حساب او کتاب اخيستلو اجازت وسي، نو په دې وخت کي به پيغمبرﷺ د ټوله انسانيت او د ټوله امت څخه مخکي د سيدنا صديق اکبرؓ لاس ونيسي، د الله تعالى و دربار ته به يې پېشول وغواړي، او ورته وبه وايي: چي د الله تعالى و دربار ته پيش سه چي حساب او کتاب شروع سي!

حضرت صديق اکبرؓ چي کله دا واوري نو د هغه د سترګو څخه به اوښکي رواني سي، او وايي به ای د الله نبيﷺ! زه د خپل عمر په آخري حصه کي مسلمان سوی يم، زما د عمر زياته حصه د اسلام څخه مخکي تېره سوېده، نو زه وايم چي ما مه شرمنده کوه، زما مخکي دي بل څوک اول حساب پېشولو ته وړاندي سي.

مګر د الله محبوبﷺ به ورته وايي: چي ای ابو بکره! نن به د ټوله انسانيت څخه مخکي ته حساب او کتاب پېشوي.

---

(۱)خطبات فقير جلد ۷ صفحه ۹۴

چنانچه چي کله حضرت صدیق اکبر ﷜ د حساب او کتاب پېشولو دپاره د الله تعالی و حضور ته ور وړاندي سي، نو هغه به هم هغه څه وکړي، چي پېغمبر ﷺ وکړل، نو هغه به هم د الله تعالی و دربار ته په سجده کي پرېوځي، او ژړا به کوي.

په کتابو کي لیکلي دي: چي صدیق اکبر ﷜ به دومره وژاړي چي الله تعالی به ورته وایي: ای زما د محبوب ﷺ "صاحب الغار" ملګرې ولي ژاړې؟ سر د سجدې څخه را پورته کړه.

د صدیق اکبر ﷜ حساب به د ده د سجدې په دروان کي تېر سي، الله تعالی رب العزت به د ده سجده قبوله کړي، او پر ده به یو خاص تجلی وکړي.

په حدیث شریف کي راځي:

......... إِنَّ اللهَ يَتَجَلّٰى لِلنَّاسِ عَامَّةً وَلِأَبِيْ بَكْرٍ خَاصَّةً﴾.(1)

د قیامت په ورځ به الله تعالی پر خپلو بندګانو باندي عامه تجلی کوي، لېکن پر ابو بکر ﷜ به خاصه تجلی کوي.

نو الله تعالی به د ده د اعمالو د حساب اخیستلو په وجه دومره خوشحاله سي، چي پر ده به یو خاصه تجلی وکړي(2).

## د حضرت عمر ﷜ حساب او کتاب:

پر ذوهم نمبر به په ټوله امت کي د حساب او کتاب لپاره حضرت عمر ﷜ پېش کړل سي، په حدیث شریف راځي: چي کله حضرت عمر ﷜ د حساب او کتاب پېشولو لپاره د الله تعالی و عرش ته ور وړاندي سي.

نو الله تعالی به د خپل عرش څخه ږغ ور باندي وکړي چي:

...........اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَا عُمَرُ﴾.

(1) روح البیان، تحت تفسیر سورة المزمل آیت نمبر: ۹
(2) خطبات فقیر جلد: ۷ صفحه: ۹۵

ای عمره پر تا دي سلام وي، په يو بل حديث مبارک راځي:

﴿ ..........أَوَّلُ مَنْ يُصَافِحُهُ الْحَقُّ عُمَرُ، وَأَوَّلُ مَنْ يُسَلِّمُ عَلَيْهِ، وَأَوَّلُ مَنْ يَأْخُذُ بِيَدِهِ فَيُدْخِلُهُ الْجَنَّةَ ﴾.(۱)

اوله مصافحه به بلا كيف الله تعالى د عمر رضي الله عنه سره كوي، اول سلام به پر عمر رضي الله عنه وايي، اول به عمر رضي الله عنه تر لاس نيسي، تر څو چي جنت ته يې داخلوي.

هغه داسي صفا زندگي تېره كړې ده، چي د هغه په اعمالو ليدلو سره الله تعالى خوشحاله كيږي.(۲)

## د حضرت عثمان غني رضي الله عنه حساب او كتاب:

د دې څخه وروسته به د الله تعالى محبوب ﷺ حضرت عثمان غني رضي الله عنه حساب او كتاب ته پېش كړي، په كتابو كي ليكلي دي: چي كله حضرت عثمان غني رضي الله عنه د الله تعالى و حضور ته پېش سي، نو الله تعالى به ډېر ژر د هغه حساب او كتاب واخلي.

## د عثمان رضي الله عنه سخاوت:

هغه په دې وجه چي يو ځل د اختر ورځ وه، نبي اكرم ﷺ د اختر د لمانځه لپاره تلی، نو حضرت عائشې مباركې ورته وفرمايل چي ای د الله رسوله! موږ ته يو څه راكړه، چي موږ يې پاخه كړو.

نن د مديني گنډي يتيمان په اميد سره ستا كور ته راځي موږ به هغوی ته ستا د كوره څخه يو څه ور كړو.

د الله محبوب ﷺ ورته وايي: چي په دې وخت كي زما سره هيڅ نسته، پيغمبر ﷺ د عيدگاه لمانځه ته ولاړی، چي كله د عيدگاه د لمانځه څخه فارغ سو، واپس كور ته راغلی، نو كه گوري په كور كي هر څه پاخه سويدي، او د مديني كنډي او يتيمان راځي، په خپلو لوښو كي د پيغمبر ﷺ د كوره څخه خوركه وړي.

(۱) ابن ماجه حديث، ۱۰۴
(۲) خطبات فقير جلد: ۷ صفحه، ۹۶

پیغمبرﷺ پوښتنه وکړه چي دا د کمي خواه شخه راغلل، حضرت عائشهؓ ورته فرمایي: چي کله ته لمانځه ته ولاړې، نو حضرت عثمان غنيؓ د سامان شخه باریو یو اوښ ټولو ازواجِ مطهراتو ته په هدیه کي را واستوی.

پیغمبرﷺ چي کله دا واورېدل نو زړه یې ډېر خوشحاله سو، او پدې وخت کي یې د خولې شخه دا دعاء وتله:

........﴿يَا رَحْمَانُ سَهِّلِ الْحِسَابَ عَلَى الْعُثْمَانِ﴾. یا الله! ته د عثمانه سره حساب آسانه کړې.

د نبي اکرمﷺ دا دعاء قبوله ده، نو د حضرت عثمان غنيؓ حساب او کتاب به ډېر ژر تېر سي.(۱)

## د حضرت عليؓ حساب او کتاب:

د دې شخه وروسته به حضرت علي مرتضیؓ د الله تعالی رب العزت و حضور ته پېش سي:

په حدیث شریف کي راځي:

............﴿اَسْرَعُ الْمُحَاسَبَةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حِسَابُ عَلِيٍّ﴾.

د قیامت په ورځ د ټولو شخه ژر او آسانه حساب به د حضرت عليؓ اخیستل کېږي.(۲)

## د پل صراط سفر:

چي کله د پیغمبرﷺ د شلورو (۴) خلفاؤ حساب او کتاب پېش سي، نو د الله تعالی جلال به په جمال باندي بدل سي، چنانچه الله تعالی به وفرمایي:

..........﴿وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ﴾.(۱)

---

(۱) خطبات فقیر جلد ۷ صفحه: ۹۶

(۲) خطبات فقیر جلد ۷ صفحه: ۹۷

اې مجرمانو! زما د نيکو بندګانو څخه نن جلا سئ، لهذا کافران او مشرکان به يو طرفته سي، او بل طرفته به نېک بندګان سي د دې څخه وروسته به الله تعالى فرمايي: چې د جهنم پر سر يو پل دى، چې پل صراط بلل کيږي، نېک بندګان به پر دې تېرېږي او جنت ته به ځان رسوي.

چنانچه چې کله مؤمنان بندګان پر پل صراط باندې تېرېږي نو يو څه ايمان والا به داسې هم وي، چې د برق د تېزى په شان به تېر سي، څوک د هواء د تېزى، څوک د آس د تېز رفتارئ په شکل، څوک به په منډه روان وي، چې د انسان د رفتار په شکل به تېرېږي، او څوک به پر لس باندې څکيږي خو چار او لا چار ته پر پل صراط تېرېدل ګوري.

چې کمڅوک پر پل صراط تېر سي، نو هغوى ته به الله تعالى جنت ور کوي، پر پل صراط باندې تېرېدل هر انسان ته ګوري ځکه د الله تعالى دا فيصله ده:

............وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا كَانَ عَلَى رَبِّكَ حَتْمًا مَقْضِيًّا، ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوْا وَنَذَرُ الظَّالِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا﴾.(۲)

پر پل صراط راتلل د الله تعالى پخه فيصله ده، متقيان خلک به تېرېږي او ګناهګاران به د پل صراط څخه په جهنم کې لوېږي.(۳)

## د پيغمبر ﷺ جنت ته داخلېدل:

چې کله د پل صراط څخه مخته تېر سي، نو د الله تعالى د محبوب ﷺ به ګمان دا وي، چې زما د امت ټول خلک را تېر سوه، او زما سره جنت ته راغله، او د جهنم څخه محفوظ سوه.

لهذا دى به ټول خلک جنت ته را ولي حتى چې په جنت کې به استوګنه شروع کړي، نو ډېره زمانه به تېره سي.(۱)

---

(۱) يس آيت نمبر، ۵۹

(۲) مريم آيت نمبر، ۷۱-۷۲

(۳) خطبات فقير جلد، ۷ صفحه، ۹۷

## مسلمانانو ته په جهنم کي د کفارو طعنه:

په روایاتو کي راځي چي کم خلک تر پل صراط نسني تېر به لای او و جهنم ته ولوېږي هغوی ته به عذاب ور کول کیږي، د دوږخ په ټولو طبقاتو کي لوړه طبقه جهنم دی، چي د ایمان والا ګناهګاره مؤمنان به په جهنم کي پراته وي.

چي کله ډېره زمانه تېره سي، نو الله تعالی به په خپل حکمت سره، ذ دوی او د کافرانو او مشرکانو په مابین کي د اور چیښه راولي کافران او مشرکان چي کله مسلمانانو ګناهګارانو ته ګوري چي هغه هم په اور کي سوځي نو دوی به مسلمانانو ته دا طعنه او پېغور ورکوي، چي موږ خو په دنیا کي د الله تعالی ځخه انکار کوئ، او هم مو د رسولانو ځخه انکار کوی په دې وجه موږ سوځو.

لېکن تاسو خو خدای هم منلی وو، او رسولﷺ مو هم منلی وو او د هغه باوجود زموږ غوندي په اور کي سوځئ، نو ستاسو خدای تاسو ته په کمه ښه درغلی.(۲)

## د جهنمي مسلمانانو سره د جبرائیل علیه السلام ملاقات:

په حدیث شریف کي راځي چي کله جهنمي کافران مسلمانانو ګناهګارانو ته طعنه او پېغور ورکوي، نو الله تعالی به حضرت جبرائیل علیه السلام را طلب کړي، او ورته وایي: به چي ای جبرائیله! نن زما منونکو انسانانو ته طعنه او پېغور ورکول کیږي چي د دوی سره هم هغه سلوک کیږي چي د نه منونکو سره ځه سلوک روان دی، ورسه یو ځه د جهنم حالات معلوم کړه بیا راسه.

چنانچه حضرت جبرائیل علیه السلام جهنم ته ورسي، د جهنم پر دروازه باندي د جهنم متصرفه ملائکه "مالک" ولاړه وي، هغه به دروازه ور خلاصه کړي، حضرت جبرائیل علیه السلام چي کله دننه ورسي، او چي کله ګناهګاره مسلمانان د ده ناولده شکل وویني نو د فرشتو ځخه پوښتنه کوي، چي دا ځوک دی؟

---

(۱) خطبات فقیر جلد: ۷ صفحه: ۹۸

(۲) خطبات فقیر جلد: ۷ صفحه: ۹۹

په دې وخت کې به جهنميانو ته دا وويل سي، چې دا هغه فرښته ده، چې ستاسو پېغمبرﷺ ته به يې وحې را وړلې.(١)

## د شفيع اعظم پر نامه د ګناه ګارانو پيغام:

چې کله د دوی و مخته د "نبي الرحمة" تذکره وسي، نو په دې وخت کې به جهنمي انسانانو ته نبي اکرمﷺ په ياد ورسي، او هغه به دا نعرې شروع کړي:

.........وَا مُحَمَّدَاهُ، وَا مُحَمَّدَاهُ﴾ په دې نعرو به دوی حضرت جبرائيل عليه السلام ودروي.

او بيا به دا پيغام په لاس ور کړي، چې ای جبرائيله! تا خو پېغمبرﷺ ته د الله تعالی پيغامونه راوړل نن هم زموږ ګناه ګارانو پيغام زموږ سردار ته ورسوه، چې ای زموږ مهربانه نبيﷺ! تا موږ په جهنم کې هېر کړو، موږ د جهنم په اور کې سوځل کيږو، او ته په جنت کې يې.

حضرت جبرائيلﷺ به د دوی سره وعده وکړي، چې زه ستاسو پيغام د الله محبوب نبي محمد مصطفیﷺ ته ضرور رسوم.(٢)

## شفاعت کبری:

چنانچه حضرت جبرائيل عليه السلام چې کله د جهنمه څخه دباندې را ووځي نو الله رب العزت ورته فرمايي: جبرائيله! تا چې زما د محبوبﷺ د ګناه ګاره امتيانو سره کمه وعده کړې وه، هغه وعده پوره کول ضروري دي.

بيا به حضرت جبرائيل عليه السلام جنت ته ورسي، په دې وخت کې به پېغمبرﷺ په "جنة الفردوس" کې وي، د انبياؤ په مجلس کې به پر منبر باندي تشريف لرونکي وي.

پېغمبرﷺ چې کله جبرائيل عليه السلام ويني نو ورته وبه وايې: چې جبرائيله! په دې وخت کې څنګه راغلې؟

(١) خطبات فقير جلد، ٧ صفحه، ٩٩

(٢) خطبات فقير جلد، ٧ صفحه، ١٠٠

نو جبرائيل علیه السلام ورته وايي: چې ما نن د جهنمه څخه ستا د امت د ګناهګارانو پيغام تاته را وړی دی، چې کله پيغمبر ﷺ دا واوري، چې زما د امت ګناهګاران تر اوسه هم په جهنم کې سته، نو پيغمبر ﷺ ډېر حيران سي، چې زما خو دا فکر نه وو.

چنانچه نبي اکرم ﷺ په دې وخت د الله رب العزت په حضور کې سجده کوي، او د الله رب العزت و مخته دا پېشوې، چې ای پروردګاره! زما د امت ګناهګارانو ته معافي وکړې، په دې وخت کې الله تعالی و ده ته د "شفاعت کبری" اجازت ور کوي.

او ورته وايي: چې ای زما محبوب ﷺ! د کم چا په باره کې چې ستا زړه شفاعت کول غواړي زه به ستا په شفاعت هغه د جهنم څخه را باسم.

د "شفاعت کبری" دا زېری چې کله پيغمبر ﷺ واوري نو د جهنم طرفته به روان سي، په دې وخت کې به جبرائيل علیه السلام يو اعلان کوي، چې ای جنتيانو! نبي اکرم ﷺ د جهنميانو د شفاعت لپاره جهنم ته ځي، تاسو هم ور سره ملګري سئ.

چنانچه د پيغمبر ﷺ سره به د جنت څخه ډېر جنتيان جهنم ته ورسي، پيغمبر ﷺ به شفاعت کوي، نور انبياء کرام به شفاعت کوي، او ټوله جنتيان به شفاعت کوي، چې کمځوک د چا سره واقفيت او شناخت ولري، هر هغه ځوک به هغه خپل واقف د جهنم څخه را باسي.

کچيري يو چا په دنيا کې يو مؤمن ته يوه پياله اوبه ور کړي وي، نو الله تعالی به د دې عمل په برکت سره، هغه د ده په شفاعت هم د جهنم څخه را باسي.(۱)

**عتقاء الرحمن:**

چې کله ټوله جنتيان شفاعت وکړي، نو الله تعالی به وايي: ای زما محبوب پيغمبره! ما ستا سره وعده کړې وه، چې ستا د امت درې (۳) د کې لپې انسانان به د جهنمه څخه را باسم، چنانچه الله رب العزت به په خپل قدرت سره، په دواړو لاسو سره بلا کيف د جهنم څخه درې (۳) د کې لپې انسانان را باسي.

(۱) خطبات فقير جلد: ۷ صفحه: ۱۰۰

...که یو زنانه چې درې (۳) لپې ډکې وره د بوجی څخه د پخولو لپاره را باسي، او په دې درو (۳) لپو کې به د امت بې شماره انسانان را ووځي، چې هغه به الله تعالی په خپل رحمت سره، د جهنمه څخه آزاد کړي.

...هغوی جسمونه به د جهنم د سوځلو په وجه د "کولې" او "سکرو" په شان تک تور ...سوي وي، د الله تعالی د طرفه به دا حکم وسي، چې دوی ته په "نهر حیات" کي غسل ورکړی.

چنانچه چې کله دوی ته په "نهر حیات" کې غسل ورکول سي، نو د دوی بدنونه به صحیح او سالم سي، لېکن د دوی پر تندیانو به د "عتقاء الرحمٰن" نوم د الله تعالی په امر سره ولیکل سي، چې د دې مطلب دا دی، چې رحمٰن په خپل رحمت دوی بخښلي دي، د هغه څخه وروسته به دوی جنت ته واستول سي، په دې وخت کي به نو د نبي اکرمﷺ د امت یو ګناهګاره هم په جهنم کې پاته نه سي، د ټولو به بخښنه د الله تعالی په دربار کي وسي.(۱)

## د عتقاء الرحمن فریاد:

په حدیث شریف را ځي چې کله دا "عتقاء الرحمن" په جنت کې ژوند تېروي، او هغه جنتیان چې د دوی څخه مخکې په جنت کې وه، نو هغه به پر دوی باندې مذاق او مسخرې کوي، او ورته وایي به چې تاسو ګوري!

پر موږ خو د الله تعالی رحمت وسو، او هغه زموږ عملونه قبول کړه، لېکن تاسو خو د الله تعالی په رعایتي بخشش جنت ته راغلي یاست نو ځکه ستاسو پر تندیانو د "عتقاء الرحمن" نوم لیکل سوی دی.

د دې جنتیانو سره به مخکني جنتیان په دې شکل باندې خوش مزاجي کوي، چې د کمو جنتیانو پر تندیانو باندې د "عتقاء الرحمن" لفظ لیکلی وي، هغوی ته به د دې خبرې ډېر احساس وي، لهذا یو ځل به هغه ټوله جنتیان د الله تعالی په دربار کې دا دعاء کوي،

(۱) خطبات فقیر جلد، ۷ صفحه، ۱۰۱

چي يا الله! تا خو موږ ته د جهنم څخه نجات راکړی، لیکن زموږ پر تندي دي يو مهر را لګولی دی، چي د هغه په وجه په ټولو جنتيانو کي موږ پيژندل کيږو، موږ د دې قابل نه وو، چي په خپلو اعمالو جنت ته راسو، بلکه ستا په رعايتي بخشش راغلي يو، يا الله! لکه څنګه چي دي د جهنم څخه نجات را کړی، داغه رنګه زموږ د تندي مهر په خپل فضل او کرم سره زموږ څخه ليري کړه.

الله تعالی به د دوی دا فرياد قبول کړي، او ورته فرمايي: چي ما په خپله ستاسو پر تندي دا مهر لګولی وو، چي ستاسو په زړه کي دا کيفيت پيدا سي، او تاسو يې زما څخه وغواړی، نو زه به يې ستاسو د تندي څخه ليري کوم، چنانچه د دوی پر فرياد به د الله رب العزت له طرفه د دوی د تنديانو څخه د "عتقاء الرحمن" "مهر" ليري سي.(۱)

## د شفاعت دعاء:

محترمو کاش موږ هم په رعايتي بخشش والاوو کي د قيامت په ميدان کي شمار سو، خپل عمل خو مي د دې قابل نه دی، چي په هغه سره جنت ته ولاړ سو، مګر د الله رب العزت د محبوب ﷺ شفاعت دي زموږ نصيب سي.

يا دي زموږ د نورو انبياؤ شفاعت يا د الله تعالی د نيکو بندګانو شفاعت نصيب سي، کاش چي په دنيا کي زموږ د الله د يو نيک بنده سره تعلق جوړ سي، چي هغه موږ پيژني او موږ هغه پيژنو.

چي د قيامت په ميدان کي موږ سوځل سوي ووينې، د الله تعالی په دربار کي صرف دومره ووايي: چي يا الله! دې سړي زما سره تعلق ساتی او زما عزت يې کوی، او زما رابطې والا وو، او په دې تعلق سره زموږ لپاره د جهنم څخه را ايستونکی جوړ سي.او په زړه کي مو دا تمنی ده، چي الله تعالی دي مو د هغه "نبي الرحمة" په صدقه کي موږ په شرمنده سوو انسانانو کي نه شاملوي. (آمين يا رب العالمين)

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

(۱) خطبات فقير جلد: ۷ صفحه: ۱۰۲

بسم الله الرحمن الرحیم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الایه)

# د جوامع الکلم اول بیان

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقــــــريــر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتــي حــافـظ كليم الله صاحب |
| مــقــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشــــاعــت | اول |
| تــاريـــــخ | جمادي الاولى ۱۴۴۲ بمطابق ۲۴ جنوري ۲۰۲۱ |
| تــعـــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿وَإِنْ كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ وَأَنْ تَصَدَّقُوا خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: «مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا، نَفَّسَ اللّٰهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَمَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ، يَسَّرَ اللّٰهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا، سَتَرَهُ اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، وَاللّٰهُ فِي عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِي عَوْنِ أَخِيهِ، وَمَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْمًا، سَهَّلَ اللّٰهُ لَهُ بِهِ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّةِ، وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللّٰهِ، يَتْلُونَ كِتَابَ اللّٰهِ، وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ، إِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمِ السَّكِينَةُ، وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ، وَذَكَرَهُمُ اللّٰهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ، وَمَنْ بَطَّأَ بِهِ عَمَلُهُ، لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ».(۲)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْمِ وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰه رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## د پیغمبر ﷺ جوامع الکلم:

محترمو مشرانو! ستاسو په مخ کي ما د پیغمبر ﷺ یو اورد حدیث مبارک پیش کړی، چي د هغه راوي حضرت ابو هریرة رضي الله عنه دی.

(۱) البقرة، آیت نمبر: ۲۸۰
(۲) مسلم شریف، حدیث: ۳۸

حضرت ابو هریرهﷺ په دې حدیث کي د پیغمبرﷺ یو څو جامع نصیحتونه را نقل کړيدي، چي د هغه هره جمله د خپلي معنی او مفهوم په لحاظ سره ډېره جامع ده.

لکه پیغمبرﷺ په یو بل حدیث شریف کي فرمايي:

.........لَقَدْ أُعْطِيتُ جَوَامِعَ الْكَلِمِ﴾.(1)

ماته الله تعالی یو څه جامع کلمات را کړيدي، یعني چي د هغه الفاظ کم وي، او په وینا کي مختصر وي، لېکن د خپلي معنا او مفهوم په اعتبار سره او د عمل په اعتبار سره ډېر جامع کلمات وي.

د پیغمبرﷺ دغسي جامع نصیحتو ته "جوامِع الکلم" وايي: په دې حدیث کي حضرت ابو هریرةﷺ د پیغمبرﷺ ډېر جامع کلمات را جمع کړي دي، چي د مختلفو موضوعاتو سره يې تعلق دی.

## د مسلمان د پرېشانۍ لیري کولو ثواب:

اوله جمله په دې حدیث کي دا ذکر سوېده:

............مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا، نَفَّسَ اللهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ﴾.

چي کم سړی د یو مؤمن څخه د دنیا په پرېشانیو کي یو پرېشاني لیري کړي.

مثلًا هغه مؤمن په یو پرېشاني کي مبتلاء وي، یا په یو مشکل باندي اخته وي، او یو مسلمان د ده دا پرېشاني او مشکل د خپل عمل یا مدد په ذریعه سره لیري کړي، د دې مسلمان دا عمل د دومره لوی اجر او ثواب والا عمل دی، چي الله تعالی به د دې په بدله کي د ده څخه د قیامت پرېشانۍ او سختۍ لیري کړي.

## وناداره ته دوخت ورکولو فضیلت:

دوهمه جمله پیغمبرﷺ دا فرمایلې ده:

(1) ترمذي شریف، حدیث: ۱۵۵۲

........وَمَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ، يَسَّرَ اللهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ﴾.

چي کم سړی د یو مسکین او مفلس انسان سره د آسانۍ معامله وکړي، نو الله تعالی به د ده لپاره په دنیا او آخرت کي آساني پیدا کړي.

مثلا یو سړی مقروض او پوروړی دی، او هغه د یو ضرورت پخاطر د یو چا څخه قرض اخیستی دی، او پر یو خاص وخت باندي یې د اداء کولو وعده کړېده، لېکن چي کله د قرض د اداء کولو وخت راغلی، نو هغه بېچاره د قرض اداء کولو قابل ندی، بلکه تنگدست دی، اوس دَی قرض اداء کول غواړي، لېکن د خپل مسکنت په وجه هغه قرض و خپل مالک ته نسي ور کولای.

اوس په دې صورت کي که څه هم هغه د قرض مالک ته دا حق سته چي هغه د ده څخه دا مطالبه وکړي چي زما قرض ماته را اداء کړه، لېکن هغه چي کله د دې سړي و مسکنت او تنگدستي ته وگوري، نو ده ته وخت ور کړي او ورته وایي چي سړیه هیڅ پروا نه لري که یې اوس نلرې چي کله دي لاس خلاص سو، نو بیا ماته خپل قرض را اداء کړه، داسي سړي ته به الله تعالی د دې عمل په بدله کي په دنیا او آخرت کي آسانی پیدا کوي.

په دا غه باره کي قرآن کریم هم دا فرمایلي دي:

........وَإِنْ كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَى مَيْسَرَةٍ وَأَنْ تَصَدَّقُوا خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ﴾.(۱)

یعني ستا پوروړی سړی کچیري تنگدست وي، نو بیا د یو مؤمن کار دا دی: چي و دې خپل پوروړي ته تر هغه وخته پوري وخت ور کړي، چي تر څو پوري د ده لاس خلاص سي، او د ده تنگدستي لیري سي، او په ده کي د پور اداء کولو وس او طاقت پیدا سي، لېکن کچیري یو سړی د تنگدست پوروړي سره د صدقې معامله وکړي، نو بیا خو د ده لپاره ډېر بهترین عمل دی.

---

(۱) البقرة، آیت نمبر: ۲۸۰

## نرمي کول الله تعالی ته ډېره خوښه ده:

الله تعالی ته نرمي کول ډېر خوښ دي، د الله تعالی د بندګانو سره د نرمۍ معامله کول دا د الله تعالی په نزد ډېر محبوب عمل دی، چي کم سړي د قرض په طریقه یو چاته یو شی ورکړی دی، اوس هغه ته قانوني دا حق هر وخت حاصل دی، چي هغه د خپل قرض طلب وکړي، او خپل قرض وصول کړي، تر دې حده پوري چي هغه خپل پوروړی د قرض نه ورکولو په صورت کي په قید کي هم اچولای سي.

لېکن اسلام د یو مسلمانه څخه دا مطالبه کوي، چي سړیه اصرف پیسو ته مه ګوره چي څومره پیسي ولاړې او څومره راغلې بلکه دې ته وګوره چي د الله تعالی د یو بنده سره د نرمۍ معامله کول الله تعالی ته دومره ډېر خوښ عمل دی، چي د هغه هیڅ حد او انتهاء نسته او د هغه په بدله کي به الله تعالی د دې نرمۍ کونکي انسانه سره د قیامت په ورځ د آسانۍ معامله کوي.

## د مسلمان حاجت پوره کول:

لکه: په یو بل حدیث شریف کي پیغمبر ﷺ دا فرمایي:

............مَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ فَإِنَّ اللَّهَ فِي حَاجَتِهِ﴾.(1)

چي کم سړی څومره وخت د خپل ورور د حاجت پوره کولو لپاره لګیا وي، الله تعالی تر هغه وخته پوري د ده حاجتونه ور پوره کوي، ځکه الله تعالی وایي: ته زما د بنده په ضرورت پوره کولو کي کوشش کوې، زه به ستا ضروریات د خپلو غیبي خزانو څخه پوره کوم، لکه یو شاعر وایي:

*کارساز ما بساز کار ما... فکر ما در کار ما آزار ما*

لکه: په دې حدیث شریف کي یو بله جمله دا سي هم راځي:

---

(1) ابو داؤد، حدیث، ۴۸۹۳

.............وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً فَرَّجَ اللَّهُ عَنْهُ بِهَا كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ﴾.(۱)

الْقِيَامَةِ﴾.(۱)
کچیري یو چا د یو مسلمان مصیبت او غم ور لیري کړی، نو الله تعالی به د قیامت په میدان کي د دې سړي مصیبت او پرېشاني لیري کوي.

## د الله ﷻ پر مخلوق رحم کول:

په حقیقت کي دا دواړه کارونه یعني د بل چا حاجت پوره کول او د بل چا مصیبت او پرېشاني لیري کول، هغه وخت کېدای سي، چي د انسان په زړه کي د الله تعالی د مخلوق سره محبت او رحم وي، کچیري داغه دوه (۲) کاره د ریاء کارۍ او د ځان ښکاره کولو په خاطر انسان وکړي، بیا د الله تعالی په دربار کي هیڅ قدر او قیمت نلري.

لېکن که انسان دا فکر وکړي، چي دا زما د الله یو بنده او مخلوق دئ، زه به د ده سره نیکي او احسان وکړم، نو پر هغه باندي به الله تعالی ماته ثواب را کړي، نو دا کار بیا د الله په دربار کي قیمتي جوړېږي.

د الله تعالی د محبت دا حق دی: چي انسان به د الله تعالی د بندګانو سره محبت کوي، کچیري د انسان د الله تعالی د بندګانو سره محبت نه وي، نو د دې به دا مطلب وي، چي د دې انسان د الله تعالی سره هم محبت نسته.

لکه په یو حدیث شریف کي پیغمبر ﷺ فرمایي:

............الرَّاحِمُونَ يَرْحَمُهُمُ الرَّحْمَنُ ارْحَمُوا أَهْلَ الْأَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ﴾.(۲)

السَّمَاءِ﴾.(۲)
چي کمځوک پر انسانانو باندي رحم کوي، نو الله تعالی پر هغه هم رحم کوي، ای مځکي والاوو! تاسو پر انسانانو رحم وکړی، آسمان والا به پر تاسو رحم وکړي.

(۱) بخاري شریف، حدیث، ۲۴۴۲
(۲) ابو داؤد، حدیث، ۴۹۴۱

لیکن کچیري د یو چا په زړه کي رحم کول نه وي، نو بیا به هغه د الله تعالی د رحم څنګه طمعه او امید ولري، ځکه پیغمبر ﷺ فرمایي:

.............مَنْ لَا يَرْحَمُ لَا يُرْحَمُ﴾.(۱)

چي کم سړی رحم نکوي، نو د الله تعالی د طرفه د رحم طمعه باید نه ولري.

بلکه زه خو دا وایم چي د کم چا په زړه کي د الله تعالی د مخلوقه سره رحم نه وي، تر هغه وخته پوري هغه په حقیقي معنی د مسلمان بللو مستحق نه دی، نو د الله تعالی د رحمت امیدوار به څنګه سي؟ نو د ایمان او اسلام تقاضا دا ده چي د الله تعالی د بندګانو او د الله تعالی د مخلوق سره محبت او رحم کول.

## د مجنون په زړه کي د لیلی د کوڅې محبت:

چي کله د یو انسان د یو چا سره محبت په زړه کي راسي، نو بیا د هغه محبوب د هر شي سره د هغه انسان محبت وي.

د مجنون په زړه کي د "لیلی" محبت وو، یوه ورځ د ملګرو سره را روان دئ، د لیلی د کور پر حدودو باندي راغلی (مجنون او لیلی په عربو کي وه او عرب چونکه خانه بدوش یعني کوچیان وه د یو ځایه څخه به بل ځای ته بارېدل) نو د "لیلی" کډه بار سوېده، صرف د هغه د کودلي آثار پاته دي، مجنون په هغه پوري وموښتی هغه دېوالونه او آثار د لیلی د کور مچوي، نو هغه خپل ملګري ورته وایي: چي مجنونه ته خو یقیني لېونی یې دا خاوري او زاړه دېوالونه د څه لپاره مچوې، ایا د دې سره ستا عشق او محبت دی؟

مجنون په جواب کي ورته وایي:

اَمُرُّ عَلَى الدِّيَارِ دِيَارِ لَيْلَى☆اُقَبِّلُ ذَا الْجِدَارِ وَذَا الْجِدَارِ

چي کله زه د لیلی پر کور باندي چي په هغه کي دا اوسېدله تېرېږم، نو کله یو دېوال مچوم، او کله بل دېوال مچوم.

---

(۱) ابو داؤد، حدیث: ۵۲۱۸

وَمَا حُبُّ الدِّيَارِ شَغَفْنَ قَلْبِيْ☆وَلٰكِنْ حُبُّ مَنْ سَكَنَ الدِّيَارِ

د دې دېوالو سره زما څه تعلق دی او زه ولې د دې سره محبت کوم؟ چونکه دا دېوالونه زما د محبوب د کوړ دېوالونه دي، پدې وجه زه د دې دېوالو په عشق کې اخته یم او دا دېوالونه مچوم.([1])

چې کله د مجنون د لیلی د کوړ د دېوالو سره عشق دی، نو بیا به دا څنګه وي؟ چې یو سړی د الله تعالی د محبت دعوه لري، لیکن د الله تعالی پیدا کړي مخلوق سره د ده محبت نه پیدا کیږي، د الله تعالی د پیدا کړي بندګانو سره د ده تعلق نه وي، او پر هغه د ده رحم نه وي، هسې نه چې دا سړی د الله تعالی سره د محبت پدې دعوه کې دروا غجن نه وي.

## ایا د الله محبت د لیلی د محبت څخه کم دی؟

په "مثنوي" شریف کې مولانا روم رحمۃ اللہ علیہ د مجنون یو بل حکایت را نقل کوي، چې مجنون یوه ورځ د خپلو ملګرو سره روان دی، نو په لاره کې یو سپی په مخه ورغلی، نو مجنون د هغه سپي پښې ورمچوي، ملګري ورته وایي: چې ای مجنونه! ته خو لېونی یې سپی وګوره او د هغه پښې مچول وګوره، نو مجنون په جواب کې ورته وایي: چې د دې سپي پښې ځکه مچوم زما د لیلی سره محبت دی، دا چونکه د لیلی د کوڅې سپی دی، نو ځکه مې د لیلی د کوڅې د سپي سره هم محبت دی، لکه مولانا روم رحمۃ اللہ علیہ دا قیصه پخپلو اشعارو کې را نقل کوي:

پای سگ مجنون بوسید خلق گفت این چه بود

گفت مجنون این سگ در کوچه لیلیٰ رفته بود

د هغه څخه وروسته مولانا روم رحمۃ اللہ علیہ بطور نصیحت وایي:

عشق مولیٰ کے کم از لیلیٰ بود

([1]) الازهر واثره في النهضة الادبية الحديثة، صفحه: ۱۹۶

گوئے گشتن بہرآن اولی بود

د مولی عشق به د لیلی تر عشق څنګه کم وي؟ چې کله د یو فاني شي سره د انسان محبت راسي نو د هغې د سپي سره هم د انسان دومره محبت راځي.

نو الله تعالی چې "مالک الملک" دی، او د ټولو عاشقانو معشوق دی، د هغه د محبت به ضرور دا تقاضا وي، چې د هغه د ټوله مخلوقه سره به د انسان محبت وي، که څه هم هغه مخلوق د حیوان په شکل وي، خو بیا هم د الله تعالی مخلوق دی.

نو ځکه په شریعت کې د حیوانانو حقوق هم بیان سوي دي، چې د هغه سره به هم تاسو د رحم معامله کوئ، او د هغه سره به هیڅکله زیادتي نکوئ.

## یو سپي ته د اوبو ور کولو واقعه:

په بخاري شریف کې یو واقعه لیکلې ده، چې یو زنانه ده هغه ټوله زندګي په زنا کاري کې تېروي یو ځل پر یو لار باندي تېرېږي، که ګوري یو سپی دی، د ډېري تندي څخه د څاه د غاړي لنده خاوره څټي.

نو هغه زناني د خپلي پښې څخه موزه وکښه او د خپل سر پوړنی یې ورته رسی کړی، او د څاه څخه یې اوبه را وایستې او هغه سپی یې اوبه کړی.

الله تعالی ته د دې دا عمل دومره خوښ سو، چې د دغه یو عمل پخاطر یې د هغه زناني مغفرت او بخښنه په نصیب کړه، چې تا زما د مخلوقه سره د رحم او محبت معامله وکړه، نو ته هم زما د رحم کولو زیات مستحقه او حقداره یې، نو ځکه انسان به د الله تعالی د مخلوق سره د رحم معامله کوي، که څه هم هغه حیوان وي.(١)

## پر مږ باندي د شفقت کولو عجیبه واقعه:

زموږ استاذ محترم په "اصلاحي خطبات" کې یو واقعه را نقل کړېده، چې یو بزرګ تېر سویدی، چې هغه د خپل وخت ډېر لوی عالم، فاضل، محدث، او مفسر وو، ټوله

(١) بخاري شریف، حدیث: ٣۴٦٧

زندګي یې په درس او تدریس او تصنیف او تالیف کي تېره سوه، او دنیا ته یې پخپل عصر کي د دریابو غوندي علوم پېش کړه.

چي کله وفات سو، نو یو شاګرد په خوب کي ولیدی، پوښتنه ځني کوي، چي حضرت الله تعالی څنګه معامله درسره وکړه؟ دَی په جواب کي ورته وايي: چي الله تعالی زما سره د کرم او د احسان معامله وکړه.

لېکن معامله ډېر عجیبه وه هغه داسي چي زما په ذهن کي هم دا وه، چي ما الحمدلله ټوله زندګي د دین په خدمت کي تېره کړېده، او ټول ژوند په درس او تدریس او وعظ او تقریر او تالیف او تصنیف کي را باندي تېر سو.

لېکن د حساب او کتاب په وخت کي چي کله زما دا خدمات مخته راغله، نو زما خو دا خیال وو، چي د دې خدماتو په وجه به نن الله تعالی پر ما باندي خپل فضل او کرم کوي، لېکن چي کله د الله تعالی حضور ته زما پېشي وسوه، نو الله تعالی راته وویل: چي زه خو تا بخښم لېکن دا درته معلومه ده، چي په کمه وجه دي بخښم؟

زما په ذهن کي دا راغله چي ما خو د دین خدمتونه کړیدي، شاید د هغه په وجه به الله تعالی ما بخښي، الله تعالی راته وايي: چي زه تا د یوه عمل پخاطر بخښم هغه دا چي یوه ورځ تا یو کتاب لیکی (په هغه زمانه کي د لرګي قلمونه وه، چي هغه قلم به په رنګ کي وهل کېدی، او بیا به خط په لیکل کېدی).

تا چي د خط د پاره خپل قلم ورنګ ته ور واچوی او بیا دي په هغه باندي خط شروع کړی، نو په دې وخت کي یو تږی مچ راغلی، پر هغه قلم باندي کښېنستی او د قلم رنګ یې څېښی، او خپل ځان یې په اوبه کوی.

تا چي کله هغه مچ ولیدی نو لږ وخت دي د هغه لپاره قلم ودروی، او دا دي فکر وو، چي دا مچ تږی دی، نو دَی دي یو ځل زما د قلم د رنګ څخه ځان اوبه کړي زه به بیا وروسته خط ولیکم.

نو تا چي په دې وخت کي دا قلم ودروی، دا خالصۀ زما محبت او زما د مخلوق سره د محبت په وجه وو، په دې وخت کي ستا په زړه کي نور هيڅ جذبه او فکر نه وو، نو د هغه عمل په بدله کي زه نن ستا مغفرت کوم.

## د مخلوق خدمت کول لوی تصوف دي:

بهر حال دا ډېره نازکه لار ده، چي تر څو پوري د انسان په زړه کي د الله تعالی د مخلوق سره محبت نه وي د الله تعالی د محبت دعوه په ريښتونې طريقه سره نسي کولای، ځکه مولانا روم رحمة الله علیه د تصوف او طريقت په باره کي فرمايي:

*ز تسبیح و سجاده و دلق نیست... طریقت بجز خدمت خلق نیست*

يعني خلګو خو تصوف او طريقت د دې نوم ايښی دی، چي د انسان په لاس کي تسبيح وي او مصله ورته هواره وي او د فقيرانو لباس يې اغوښتی وي، همېشه يې زندګي په وظيفو او مراقبو کي تېرېږي.

لېکن په حقيقت کي تصوف او طريقت دا دی: چي د انسان زندګي د الله تعالی د مخلوق په خدمت کي تېره سي، ځکه الله تعالی فرمايي: کچيري ته زما سره په حقه طريقه محبت کوې نو زما د مخلوق سره محبت کوه او د هغه خدمت کوه دا زما سره د محبت کولو ډېره لويه نښاني ده.

## د الله تعالی د خپل مخلوق سره محبت دی:

دا يو حقيقت دی: چي د الله تعالی د خپل مخلوقه سره ډېر محبت دی، تاسو د دې خبري تجربه وکړئ! چي کله يو سړی محنت وکړي پخپل لاس سره يو شئ جوړ کړي، که هر څومره کمزوری شئ وي، خو د هغه جوړونکي د دې شي سره ضرور محبت راځي، ځکه هغه پر دې شي باندي محنت وکړي او پر دې باندي خپل وخت ولګوي، او دا د ځان دولت بولي.

داغه رنګه الله تعالی دا خپل مخلوق په خپل قدرت سره جوړ کړی دی، او دا يې په خپل محبت سره پيدا کړی دی، نو ځکه د الله تعالی هم د خپل مخلوق سره محبت دی،

لهذا که چیري یو انسان د الله تعالی سره د محبت دعوه لري نو ضرور به په زړه کي د الله تعالی د مخلوقه سره محبت ساتي.

## د حضرت نوح علیه السلام عجیبه واقعه:

د حضرت نوح علیه السلام پر قوم باندي چي کله طوفان راغلی نو ټوله قوم په هغه طوفان کي هلاک سو، د هغه څخه وروسته الله تعالی د وحي په ذریعه حضرت نوح علیه السلام ته حکم کوي، چي ته د خاورو یو څه لوښي (منګي) جوړ کړه، حضرت نوح علیه السلام د الله تعالی د حکم د تعمیل پخاطر د خاورو لوښي (منګي) جوړول شروع کړه، او شپه او ورځ په دې کي اخته دی.

چي کله یو څو ورځي تیري سوې، او د لوښو (منګیو) یو لویه ذخیره برابره سوه اوس الله تعالی دوهم حکم دا ورته کوي، چي اوس بیا دا ټوله لوښي (منګي) یو یو را اخله او د مځکي یې وهه او پخپل لاس یې ماتوه.

حضرت نوح علیه السلام د الله تعالی په دربار کي عرض کوي، چي یا الله ما خو په ډېر محنت سره او ستا په حکم سره جوړ کړي دي او پر دې ما ډېر وخت مصرف کړیدی، اوس ته بیرته ما ته د دې لوښو د ماتولو حکم را کوې، نو د دې ماتول ما ته تکلیف را کوي:

الله تعالی ورته وایي: چي زما حکم دا دی: چي اوس به ټوله ماتوې، حضرت نوح علیه السلام ټوله مات کړه، لیکن په زړه کي یو څه پرېشانه وو، چي ما په دومره محنت سره جوړ کړه، لیکن الله تعالی په ما باندي بیرته مات کړه.

الله تعالی ورته فرمایي: ای نوحه! تا دا لوښي په خپله خوښه جوړ کړه، او که دي زما په حکم باندي جوړ کړه، حضرت نوح علیه السلام ورته وایي: یا الله جل جلاله! ستا د حکم پخاطر مي جوړ کړه.

نو الله تعالی ورته فرمایي: ای نوحه! دا دي په خپله رضا نه بلکه زما د حکم پخاطر جوړ کړه، بیا دي هم دومره زیات محبت ور سره پیدا سو، چي کله زه وتاته د دې د ماتولو حکم در کوم نو ستا یې وماتولو ته زړه نه ور غواړي، ځکه ته وایې: چي پر دې باندي زما محنت سویدی، او زما په لاس سره جوړ سویدي، چي په یو شکل د ماتېدو

شخه محفوظه سي، نو به د پره ښه وي، دا ځکه چي ستا د دې لوښو سره په زړه کي اوس محبت پیدا سویدی.

لیکن دې ته دي نه وکتل چي دا مخلوقات ټوله ما پخپل لاس او قدرت جوړ کړي وه، او دا زما عیال وو، او دا زما محبوب بندګان وه چي کله ته ځني ناراضه سوې، بس یو دم دي دا غوښتنه وکړه:

............رَبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا﴾.(۱)

ای الله! پر ځمکه باندي استوګن کافران ټوله هلاک کړې او په دوی کي یو هم باقي مه پرېږدې، نو ستا پر دې غوښتنه ما خپل مخلوق ټوله هلاک کړی.

پدې کي اشاره دې خبري ته وه چي د خاورو د لوښو سره چي کله تا جوړ کړه، دومره دي محبت پیدا سو چي د هغې وماتېدلو ته دي زړه نه غوښتی، نو زما به د دې خپل مخلوق سره چي ما پیدا کړی وو څنګه محبت نه وو؟

نو چي کله زما ور سره محبت دی، نو بیا ستا لپاره هم دا مناسبه ده: چي زما د مخلوق سره به محبت کوې، کچیري زما د محبت دعوه داره یې.(۲)

## د ډاکټر عبدالحی رحمة الله علیه یو خبره:

حضرت داکټر عبدالحی رحمة الله علیه د حکیم الامة حضرت مولانا اشرف علي رحمة الله علیه د لویو خلفاؤ څخه وو، هغه به فرمایل: چي موږ کله د الله تعالی عبادت کوو، او د الله تعالی د محبت دعاګاني غواړو چي ای الله! موږ ته خپل محبت را نصیب کړه.

پدې وخت کي ماته داسي محسوسیږي لکه الله تعالی چي ماته دا وایي: چي تاسو زما سره محبت کول غواړئ! حالانکه تاسو زه لیدلی نه یم چي بلا واسطة تاسو زما سره محبت وکړی، لیکن بیا هم که تاسو زما سره تعلق قائمول او محبت کول غواړی، ما په دنیا کي د خپل محبت مظهر دا خپل بندګان جوړ کړیدي، تاسو زما د بندګانو

---

(۱) النوح آیت نمبر: ۲۳

(۲) اصلاحي خطبات، جلد: ۸، صفحه، ۲۲۲

سره محبت کوئ، او زما پر بندګانو باندي رحم کوئ، او د هغوی سره نرمي اختیاروئ، د دې څخه به ستاسو په زړو کي زما محبت پیدا سي او زما سره د محبت د پیدا کولو طریقه بس داغه ده.

لهذا دا په دماغ کي مه را ولئ! چي موږ خو د الله تعالی سره محبت کوو، د دې بندګانو نو څه حیثیت دی، او دا مخلوق دی څه شی؟ نو دې مخلوق ته په سپک نظر مه ګورئ! حالانکه دې مخلوق ته په سپک نظر کتل دا د دې خبري علامه ده چي تاسو د الله تعالی د محبت کمه دعوه کوی، په هغه دعوه کي دروا غجن یاست! ځکه چي د چا د الله تعالی د ذاته سره محبت وي نو د الله تعالی د مخلوقه سره یې ضرور محبت راځي.

نو ځکه پیغمبر ﷺ فرمایي:

............مَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ فَإِنَّ اللَّهَ فِي حَاجَتِهِ﴾.

چي کم سړی د خپل مسلمان ورور د حاجت پوره کولو کوشش کوي نو الله تعالی به د ده حاجت ور پوره کوي، او چي کم سړی د مسلمان ورور پرېشاني لیري کوي الله تعالی به د قیامت په ورځ د ده پرېشاني لیرې کړي.

## د اولیاء کرامو حالت:

چي څومره اولیاء کرام رحمهم الله تېر سویدي، د هغو ټولو دا حال وو، که به چیري دوی د الله تعالی یو مخلوق په بد حال کي ولیدی یا به په فسق، فجور او ګناه کي اخته وو، نو اولیاء کرامو به د ده د دغه ګناه څخه نفرت کوی، ځکه د ګناه څخه نفرت کول واجب دي، لېکن په زړه کي به یې د هغه انسانه څخه نفرت نه کوی، او د هغوی حقارت او سپکوالی به یې په زړه کي نه را ګرځوی او نه به یې د حقارت او سپکوالي په نظر ورته کتل.

## د حضرت جنید بغدادي رحمة الله علیه واقعه:

حضرت جنید بغدادي رحمة الله علیه یو ورځ د دریاب "دجله" پر غاړه باندي چهل قدمي کوله ده ته نږدې په دریاب کي یو کېښتی تېرېدله په هغه کېښتی کي یو څه نوجوانان

ناست وه، او په خپل مابین کي یې غزلي او بدلي ویلې او مذاق او مسخرې یې سره کولې، او داسي خلک چي کله پر یو صوفي او ملا باندي تیریږي، نو بیا خو پر هغه باندي یو مذاق او مسخره جوړول دوی د خپلي تفریح یو حصه بولي.

چي کله پر حضرت جنید بغدادي رحمة الله علیه باندي راغله نو پر ده باندي یې هم یو څه مذاق او مسخرې وکړې او د ده یې ډېره بېعزتي وکړه او پر ده باندي مذاق کول یې د خپل سیر او تفریح یو حصه وګرځوله.

د حضرت جنید بغدادي رحمة الله علیه سره خپل یو شاګرد ور سره دی، هغه چي د خپل استاذ سپکاوی ولیدی نو زړه یې ډېر درد وکړئ حضرت جنید بغدادي رحمة الله علیه ته وایي: چي حضرت د دوی په حق کي ښراء وکړه دا دومره بې ادبه خلک دي، چي یو خو په خپله هم په فسق او فجور کي مبتلاء دي او دوهم طرفته د الله تعالی د نیکو بندګانو بېعزتي کوي.

حضرت جنید بغدادي رحمة الله علیه فورًا د دعاء لپاره لاس پورته کړی او دا دعاء یې شروع کړه چي یا الله! لکه څنګه چي دي دې نوجوانانو ته په دنیا کي خوشحاله ژوند ور نصیب کړې، دوی ته د داسي اعمالو توفیق ور کړه چي په آخرت کي هم د دوی خوشحالي په نصیب سي.

ګورئ! حضرت جنید بغدادي رحمة الله علیه د هغه نوجوانانو د ذات څخه نفرت نکوي، په دې وجه چي د ده دا عقیده ده چي دا زما د الله تعالی مخلوق دی نو زما دپاره مناسب دا ده چي د دوی په حق کي د الله تعالی په دربار کي دعاء وغواړم چي الله تعالی دوی ته خوشحاله ژوندی ور نصیب کړي.

## د پیغمبر ﷺ پر خپل امت باندي شفقت:

پیغمبر ﷺ چي الله تعالی د ټولي دنیا لپاره د لوی رحمت په شکل را استولی وو، کله چي د طائف په "دَرَه" کي د کفارو د طرفه پر ده باندي د کاڼو باران دی او په کاڼو ویشتل کیږي او د ده مبارک بدن ټوله زخمي او په وینو لړلی دی، لیکن په دې وخت

کي يا هم د ده پر ژبه مبارکه د کانو ویشتونکو انسانانو په حق کي دا الفاظ جاري دي:

......اَللّٰهُمَّ اهْدِ قَوْمِيْ فَاِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ﴾.(۱)

ای الله! زما قوم ته هدایت وکړه د دوی سره علم نسته دوی ما نه پیژني نو ځکه په ناداني کي زما سره دا معامله کوي.

ځکه چي د کفارو د دې عمله څخه خو يې نفرت او بغض دی، لیکن د دوی د ذات څخه يې نفرت ندی ځکه ذات يې د الله تعالی مخلوق دی، او د الله تعالی د مخلوق سره محبت کول مناسب دي.

## د ګناهګاره مثال:

چي کم سړی په معاشره کي په ګناه اخته وي د هغه مثال د یو بیمار دی او بیمار چي کله د علاج لپاره ډاکټر او طبیب ته ورسي نو د ډاکټر او طبیب دا شان نه وي چي د هغه بیماره څخه ناراضه سي، چي ته ولي ناجوړه يې، بلکه ډاکټر او طبیب پر هغه بیمار باندي رحم کوي، چي دا بیچاره په دې بیماري او ناجوړي کي مبتلاء دئ د هغه علاج کوي چي د دې بیمارۍ څخه محفوظ سي، او د هغه لپاره دعاء کوي چي يا الله! دا بیمار د بیمارۍ څخه خلاص کړه.

داغه رنګه د ګناهګاره، فاسق او فاجر سره هم باید دغسي معامله وسي چي د هغه د فسق او فجوره څخه بغض او نفرت انسان لره مناسب دی، د هغه د ذات څخه بغض او نفرت کول مناسب نه وي، بلکه د هغه د ذات سره په دې لحاظ باندي محبت کول مناسب وي، چي دا زما د الله مخلوق دی او د هغه لپاره دعاء کول مناسب دي چي الله تعالی يې پر راه راست باندي برابر کړي.

---

(۱)الرحیق المختوم صفحه: ۳۹۵

## د يو تاجر د مغفرت واقعه:

په حديث شريف کي دا واقعه ذکر ده چي يو ځل پيغمبرﷺ صحابه کرامو ته دا وفرمايل: چي يو سړی د الله تعالی دربار ته پيش سو.

د الله تعالی په دربار کي د پيښېدلو مطلب دا دی: چي د قيامت په ورځ چي کله حساب او کتاب کيږي نو دَی به پيش سي، لېکن د هغه يو نمونه کېدای سي چي مخکي الله تعالی يو وخت ښکاره کړې وي.

بهر حال چي هغه پيش سو نو الله تعالی فرشتو ته فرمايي: چي تاسو د ده په عملنامه کي وګورئ ده کم اعمال کړيدي، چي کله فرشتو وکتل نو دا ور معلومه سوه چي د ده عملنامه د نيکو اعمالو څخه بالکل خالي ده، نه لمونځ سته، نه روژه سته، نه يو بل عبادت سته بلکه دې سړي ټوله شپه او ورځ په تجارت کي تېره کړېده، او پخپل ژوند کي يې د دنيا د ګټلو څخه علاوه بل کار ندی کړی.

الله تعالی د ټولو بندګانو په باره کي په هر څه باندي خبر دی، لېکن د نورو انسانو ومخته د ښکاره کولو دپاره د فرشتو څخه بيا پوښتنه کوي چي تاسو يې په عملنامه کي ښه وګورئ! کېدای سي يو نېک عمل دي وي.

فرشتو چي کله د عمل نامې تلاش وکړی نو الله تعالی ته جواب ور کوي چي هو د ده په عملنامه کي يو نېک عمل سته هغه دا دی: چي دې سړي که څه هم خاص نېک عمل نکوی بلکه ژوند يې په تجارت کي تېروی د تجارت په وخت کي به يې خپلو غلامانو ته د تجارت سامان ور کړی او دا به يې هدايت ورته کوی: چي دا سامان خرڅ کړی او قيمت يې را وړی.

لېکن د هغه سره خپلو غلامانو ته به يې دا تاکيد کوی چي کله تاسو پر يو چا باندي سامان خرڅ کړئ نو ورته ګورئ! کچيري هغه سړی تنګدست او مسکين وو، نو د هغه سره د نرمۍ معامله کوی او که يو چا ته پور ور کړی د پوره په وصولولو کي د چا سره د سختۍ څخه کار مه اخلئ او کله کله د يو چا سره د معافۍ معامله کوئ، يعني د هر تنګدست انسان ته خپل پور ور معاف کوئ.

چنانچه تول ژوند کي د ده په تجارت کي دا معمول وو، چي کله به يې د يو تنګدست او مفلس سره معامله راغله يا به يې هغوی ته وخت ورکوی او په بعضو اوقاتو کي به يې خپل حق ورته معاف کوی.

الله تعالی فرشتو ته فرمايي: چي کله دې سړي زما د بندګانو سره د معافۍ معامله کوله نو زه خو د دې خبري ډېر مستحق يم چي د ده سره د معافۍ معامله وکړم، چنانچه فرشتو ته دا حکم کوي چي د دې سړي سره د معافۍ معامله وکړی او دَی جنت ته واستوئ، نو د بندګانو سره معافي کول الله تعالی ته ډېر خوښ عمل دی.(١)

## پر نرمي کولو باندي د الله د مغفرت واقعه،

داغه رنګه په يو بل حديث شريف کي هم پيغمبر ﷺ فرمايي: چي ستاسو څخه مخکي چي کم امتونه تېر سوييدي په هغو کي يو سړی داسي وو، چي کله به يې يو شی خرڅوی نو د خلګو سره به يې د آسانۍ معامله کوله داسي نه چي پر پيسه پيسه به د خلګو سره جنګېدی بلکه خپل ګراک او رانيکونکي ته به يې يو قيمت ور وښوی چي کله به هغه وده ته خپل مسکنت ور ښکاره کړی نو ده به د هغه سره په قيمت کي کمي کوله، او دا به يې سوچ او فکر وو، چي بس نن زما لپاره دا کمه ګټه هم کافي ده.

او داغه رنګه چي کله به يې د يو چا څخه خپل حق اخيستی، نو هم به يې د نرمۍ معامله کوله، او هغه ته به يې دا ويل چي کچيري او س پيسې در سره نه وي نو بيا وروسته يې ماته را ورسوه د پيسو په باره کي زه تا ته مهلت او وخت در کوم.

چي کله په آخرت کي د الله تعالی و حضور ته د پيشۍ وخت راغلی نو الله تعالی د ده په باره کي وفرمايل: چونکه ده زما د نورو بندګانو سره د نرمۍ معامله کوله نو ځکه زه هم د ده سره د نرمۍ معامله کوم، او بيا الله تعالی د هغه مغفرت وکړی، بهر حال ما مخکي درته وويل: چي الله تعالی ته د ده د بندګانو سره د نرمۍ معامله کول او د مفلس او مسکين سره د آسانۍ معامله کول دا ډېر خوښ او مقبول عمل دی.(٢)

---

(١) اصلاحي خطبات، جلد: ٨، صفحه: ٢٢٦

(٢) اصلاحي خطبات، جلد: ٨، صفحه: ٢٣٠

**دا د رحمت معامله ده څه قانون ندی:**

لېكن يوه خبره په ياد ساتل ضروري دي چي دا اوس څه ذكر سوه، دا د الله تعالى د رحمت معامله ده دا څه قانون نه دئ لهذا يو سړی دي هم دا فكر نه كوي چي ياره اوس خو ښه آسانه نسخه په لاس راغله مه لمونځ كوه، مه روژه نيسه، مه زكوة وركوه، مه نور فرائض ادا كوه، او مه د ګناهو څخه ځان ګوره.

بس صرف د انسانانو سره د معافۍ معامله كوه نو د قيامت په ميدان كي به الله تعالى هم زما سره د معافۍ معامله وكړي، د دې خبرو څخه دا مطلب اخيستل صحيح نه دي.

ځكه دا د الله تعالى د رحمت معامله ده او د الله تعالى رحمت د قاعدې او قانون پابنده ندی، ځكه الله تعالى چي كم څوك و غواړي په خپل رحمت سره يې بخښي، لېكن د عامو انسانانو سره الله تعالى خپله قانوني معامله كوي.

او د الله تعالى قانون دا دی: چي فرائض به انسان ضرور اداء كوي او د ګناهو څخه به ځان ساتي كچيري يو سړی فرائض نه ادا كوي او يا د ګناهو څخه ځان نه ګوري صرف د يو عمل پر بنياد باندي اعتماد وكړي او ناست وي، چي د دې يو عمل په ذريعه به الله تعالى زما بخښنه كوي دا د هغه سړي غلط فهمي بلل كيږي.

ځكه چي دا د الله تعالى قانون ندی چي سړي ته به د يو عمل پر بنياد باندي بخښنه كوي معلومه نه ده چي د هغه مخكني خلكو چي پر يو عمل يې الله تعالى بخښنه كوله، هغو هغه عمل په كمه جذبه سره كړی وي چي د هغې پر بنياد د الله تعالى رحمت په جوش كي راغلی وي، او الله تعالى هغه معاف كړی وي، دا زما او ستاسو لپاره د همېشه دستور العمل نه بلل كيږي.

**آساني كول د پيغمبر ﷺ سنت دی:**

د پيغمبر ﷺ د ټولي زندګۍ دا معمول وو، چي كله به يې د يو چا سره بيعه او شراء كوله چي كم شی به د ده پر ذمه واجب سو، نو ده به د هغه څخه زيات څه وركول په هغه زمانه كي د سرو زرو او سپينو زرو سكې رواج وو، او د هغه سكو به مختلف قسم

استعمالېدل وه، او د شمار پر ځای به د هغې وزن ته کتل کېدل چې څومره وزن دی او د وزن په ذریعه به د هغې قیمت اداء کېدی.

په یو روایت کې راځي چې پیغمبر ﷺ یو شی په بازار کې په "دراهمو" رانیوی چې کله به یې د هغه قیمت اداء کوئ نو وزن کونکي ته یې وویل:

.........زِنْ وَأَرْجِحْ﴾.(۱)

داسې تول وکړه چې زما پر ذمه څومره دراهم واجب دي د هغه څخه یو څه زیات زما ودې حقدار ته ورسیږي.

داغه رنګه په یو بل روایت کې هم راځي پیغمبر ﷺ به ویل:

........إِنَّ خِيَارَكُمْ أَحْسَنُكُمْ قَضَاءً﴾.(۲)

په تاسو کې د ټولو څخه بهترین هغه خلک دي چې کله د بل حق اداء کوي نو په ښه طریقه یې اداء کوي، یعني په حق اداء کولو کې د کمی پر ځای زیاتوب کوي.

مثلًا ستا پر ذمه باندې د سلو (۱۰۰) روپو قرض راغلئ تا و هغه سړي ته د سلو پر ځای یو سل او لس (۱۱۰) اداء کړې او د ور کولو په وخت کې هغه پرېشانه نکړې او د هغه د پور په باره کې تاخیر او ځنډ ونکړې دا ټولې خبرې په ښه اداء کولو او په حسن سلوک سره د خلکو حق ور کولو کې داخلې دي.

## د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه وصیت:

حضرت امام ابو حنیفه رحمة الله علیه چې په فقه کې زموږ مقتداء دی، او د هغه پر فقه باندې موږ او تاسو ټول عمل کوو، هغه د خپلو شاګردانو پر نامه یو وصیت نامه لیکلې ده، په هغه وصیت نامه کې یې دا لیکلې دي چې کله د یو چا سره ستاسو د بیع او شراء معامله وي، نو هغه ته تر خپل حق د کمي کولو پر ځای زیاتوب ور کوی دا د پیغمبر ﷺ سنت دی.

---

(۱) ابو داؤد، حدیث: ۳۳۳۶

(۲) بخاري شریف، حدیث: ۲۳۰۵

موږ خو صرف د پیغمبر ﷺ خاص سنتونه یاد کړیدي، او په هغه باندي عمل کوو، حالانکه دا ټول د پیغمبر ﷺ د سنتو یو حصه ده باید په دې باندي هم موږ او تاسو عمل وکړو.

الله تعالی دي موږ او تاسو ټولو ته د پیغمبر ﷺ پر سنتو باندي د عمل کولو توفیق را کړي، نو په دې حدیث کي پیغمبر ﷺ و دې سنت ته اشاره کړېده:

..........﴿مَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ، يَسَّرَ اللهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ﴾ چي کم سړی د یو تنګدست سره د آساني معامله وکړي نو الله تعالی به په دنیا او آخرت دواړو کي د ده سره د آساني معامله وکړي.

اصل آساني خو د آخرت آساني ده لېکن تجربه دا ده: چي دا سړی الله تعالی په دنیا کي هم د پرېشاني سره نه مخامخ کوي. نو د مؤمن څخه پرېشاني لیري کول او یا د یو تنګدست سره آساني کول دا د پیغمبر ﷺ د سنتو څخه دي او په اوس عصر کي دا سنت پر ځای کول د خلکو د رواج او عاداتو څخه لیري سویدي، او پیغمبر ﷺ فرمایي:

..........﴿الْمُتَمَسِّكُ بِسُنَّتِي عِنْدَ فَسَادِ أُمَّتِي لَهُ أَجْرُ مِائَةِ شَهِيدٍ﴾.(١) چي کله زما په امت امت کي فساد زیات سي او په معاشره کي زما په سنتو باندي عمل کول پاته سي، نو په دې وخت کي زما یو امتي زما په سنت باندي منګولي ولګوي او خپله زندګي ور باندي روانه کړي الله تعالی به ده ته د سلو (١٠٠) شهیدانو ثواب ورکوي.

دا د پیغمبر ﷺ دوې (٢) مبارکي جملې د "جوامع الکلم" څخه وې، چي ما ستاسو په مخکي پېش کړې که زندګي وه د هغو نورو جملو متعلق به په را روانه جمعه کي مختصر وضاحت کوو، الله تعالی دي دا زموږ او ستاسو مجلسونه پخپل دربار کي قبول او مقبول وګرځوي، او الله تعالی دي مو زندګي د پیغمبر ﷺ پر سنتو تېرول را نصیب کړي، او الله تعالی دي دا څو مختصري خبري پخپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي. (آمین یا رب العالمین)

---

(١) الابانة الکبری لابن بطة، حدیث: ٢١٢، ومشکوة المصابیح، حدیث: ١٧٦

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الایه)

# د جوامع الکلم دوهم بیان

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کاسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حافـظ كليم الله صاحب |
| مقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاريــــخ | جمادي الاولى ۱۴۴۲ بمطابق ۲۴ جنوري ۲۰۲۱ |
| تـعــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ ﴿وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا، سَتَرَهُ اللهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، وَمَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْمًا، سَهَّلَ اللهُ لَهُ بِهِ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّةِ، وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللهِ، يَتْلُونَ كِتَابَ اللهِ، وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ، إِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمِ السَّكِينَةُ، وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ، وَذَكَرَهُمُ اللهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ، وَمَنْ بَطَّأَ بِهِ عَمَلُهُ، لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلَّه رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو مشرانو! په تېره جمعه کې ما ستاسو ومخته د پیغمبر ﷺ یو طویل حدیث مبارک پیش کړی وو، چې هغه د پیغمبر ﷺ پر جوامع الکلم نصیحتو باندې مشتمل وو.

او په هغو نصیحتو کې مې د دوو (۲) جملو (نصیحتو) تفصیل ستاسو په مخ کې پیش کړی وو، یو دا چې کله یو مسلمان د بل مسلمانه څخه د دنیا تکلیف لیرې کړي الله تعالی به د دې په عوض کې د ده څخه د قیامت د ورځې تکلیفونه لیرې کړي.

(١) الزمر، آیت نمبر: ۹
(٢) مسلم شریف، حدیث: ۳۸

او دوهم دا چي يو مسلمان د بل تنګدست مسلمانه سره د آسانۍ معامله وکړي الله تعالی به د ده سره په دنيا او آخرت کي د آسانۍ معامله وکړي.

الله تعالی دي موږ او تاسو ته د پيغمبرﷺ پر ټولو نصيحتو باندي د عمل کولو توفيق را نصيب کړي.

## د مسلمان عيب پټول:

د ريمه جمله او نصيحت پيغمبرﷺ په هغه حديث کي دا فرمايلې وو:

......﴿وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا، سَتَرَهُ اللهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ﴾.

چي کم مسلمان د بل مسلمان پر عيب باندي پرده واچوي الله تعالی به د قيامت په ورځ د ده د عيبو پرده پوشي کوي.

مثلا د يو مسلمان عيب يا غلطي د انسان مخته راغله چي دې مسلمان فلانکی غلط او ناجائز کار کړيدی، اوس په هر ځای کي د دې مسلمان دا عيب ښکاره کول او د هر چا په مخکي دا خبره کول چي فلانکي خو داسي کار کړيدی، تر هغې دا ښه ده چي د دې مسلمان عيب انسان پټ کړي او د چا په مخ کي يې ښکاره نکړي، او نه دَی د نورو مسلمانانو په مخ کي رسوا کړي.

لېکن د عيب پوشي طريقه هغه وخت اختيار کول مناسب دي چي د دې مسلمان د دې عمله څخه يو بل مسلمان ته د تکليف رسېدلو انديښنه نه وي.

لېکن کچيري د انسان مخته د يو چا داسي عيب ښکاره سي چي د هغه څخه يو بل مسلمان ته د تکليف رسېدلو انديښنه وي مثلا د يو چا د قتل کولو سازش کيږي په دې وخت کي بيا د دې عيب پټول نا جائز دي، بلکه د خلکو په مخ کي د دې دا سازش او عيب ښکاره کول ضروري دي.

لېکن که د ده په دې عمل سره يو بل مسلمان ته تکليف نه رسيږي نو بيا خو د شريعت حکم دا دئ چي د دې مسلمان پر عيب باندي پرده واچوه او د ده لپاره دا دعاء کوه، چي يا الله! دا مسلمان په ګناه کي مبتلاء دی، ته پخپل رحمت سره دَی د دې ګناه څخه خلاص کړي.

بهر حال باید انسان نه د نورو انسانانو عیب تلاش کړي او نه د خلګو په مخ کي د هغه ښکاره کولو کوشش وکړي، نن سبا په دې باره کي د انسانانو څخه ډېره لویه کوتاهي کیږي د یو انسان په باره کي چي کله وېل انسان ته دا معلومات وسي، چي دَی فلانکی کار کوي نو په دې وخت کي د ده زړه صبر نه کوي چي تر څو پوري دا خبره د نورو انسانانو مخته ښکاره نکړي.

حالانکه بلاوجه د نورو انسانانو عیب تلاش کول او د انسانانو ومخته ښکاره کول ګناه کبیره ده.

کله کله خو داسي هم کوي چي هغه انسان پر دا ګناه کولو باندي پېغور ور کوي، ډېر ځله داسي هم وي چي هغه ګناه ګاره انسان د خپلي ګناه څخه توبه کښلې وي، د هغه باوجود د ده د پېغور او طعنو سره مخامخ کیږي.

## مسلمان ته پر ګناه باندي پېغور ور کول:

حالانکه پیغمبر ﷺ فرمایلي دي:

.........مَنْ عَيَّرَ أَخَاهُ بِذَنْبٍ لَمْ يَمُتْ حَتَّى يَعْمَلَهُ﴾.(1)

کچیري یو سړی خپل مسلمان ورور ته پر یو داسي ګناه باندي پېغور ور کړي چي هغه د هغه ګناه څخه توبه کښلې وي نو دې پېغور ور کونکي ته تر هغه وخته پوري مرګ نه راځي چي الله تعالی یې په دا غه ګناه باندي اخته نکړي.

کچیري د یو سړي څخه ګناه وسي او بیا هغه ه هغه ګناه څخه توبه وکاږي اوس ته بار بار پر هغه ګناه باندي ده ته پېغور ور کوې چي ته خو هغه سړی یې چي فلانکی عمل دي وکړی، الله تعالی ته دا خبره ډېر ناخوښه ده.

الله تعالی فرمایي: چي ما د ده پر ګناه پرده اچولې وه او ما د ده ګناه معاف کړې وه او د ده د عملنامې څخه مي خرابه کړې وه، اوس ته څوک یې چي دا ګناه د خلګو ومخته ښکاره کوې او ده ته پر دې ګناه طعنه او پېغور ور کوې؟

(1) ترمذي شریف، حدیث: ۲۵۰۵

نو د دې پېغور ور کولو په بدله کې به زه ضرور تا په دې ګناه باندې اخته کوم، نو ځکه د مسلمان عیب تلاش کول یا د یو مسلمان عیب ښکاره کول او د هغه تشهیر کول د مسلمان لپاره مناسب نه دي.

الله تعالی په دې دنیا کې ته د دې لپاره نه یې را استولی چې د خلکو د عیبو تلاش کوه بلکه الله تعالی ته د خپلې بندګۍ لپاره دنیا ته را استولی یې.

## د خپل ځان فکر کول:

نو انسان لره مناسب دي چې اول د خپل ځان فکر وکړي، او پخپل ګرېوان کې سر کښته کړي، و خپلو عیبو ته وګوري الله تعالی چې کم چا ته د خپلو عیبو فکر ور نصیب کړي هغه ته بیا د بل عیب نه ور معلومېږي.

د بل عیب هغه چا ته ور معلومېږي چې د خپلو عیبو څخه بې پرواه وي او د خپل ځان د اصلاح کولو څخه غافل وي نو د بل په عیبو پسې ګرځي او د هغه تلاش کوي او د هغه تشهیر کوي حالانکه دا د ده لپاره ډېر لوی جرم دی لکه پیغمبر ﷺ چې په دې حدیث کې بیان کړېدی.

لهذا د یو مسلمان سره دا مناسب نه ده چې هغه دا کار وکړي د مسلمان لپاره د ټولو ګناهو څخه پرهېز کول لازمي دي د دې بغیره دَی صحیح مسلمان نسي جوړېدای.

## د علم زده کولو فضیلت او بشارت:

څلورمه جمله په دې حدیث شریف کې د پیغمبر ﷺ څخه دا را نقل سوېده:

.........وَمَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْمًا، سَهَّلَ اللهُ لَهُ بِهِ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّةِ﴾.(١)

په دې جمله کې عام طور د علماؤ او د طلباؤ لپاره لویه خوشخبري او زېری دئ پیغمبر ﷺ فرمايي: چې کم سړی یو څه فاصله پرې کړي او پر لاره باندې را روان وي د لارې د راتللو او د ګڼې مسافت پرېکولو څخه د ده مقصد داوي چې د دین یو خبره زده

---

(١) مسلم شریف، حدیث: ٣٨

کړم، نو الله تعالی د دې سفر پخاطر د ده لپاره د جنت لار آسانه کوي، لکه عام طور د دین زده کونکي طالبان داسي کوي.

یا مثلاً یو معامله مخته راسي او تا ته د هغې په باره کي مسئله معلومه نه وي، او س ته د مسئلې معلوملو لپاره یو چا ته ورځې چي په دې باره کي زه څه وکړم؟

نو چي کم سړی د مسئلې معلوم والي لپاره سفر کوي او مسافت پرې کوي نو هغه ته هم دا فضیلت الله تعالی ور کوي.

## زموږ د اسلافو محنت:

موږ د علم حاصلولو لپاره هغه محنت کله کولای سو، چي زموږ اسلافو به کوی، نن موږ په ډېر آرام سره د حدیثو وکتاب ته ناست یو د هغه درس کوو د هغه څخه وعظ کوو او هغه وخپلو شاګردانو ته وایو.

زموږ اسلافو به لوږي ګاللې او سړې او وچي ډوډۍ به یې خوړلې، مشقتونه به یې برداشتول او قربانیاني به یې ور کولې چي هغوی دغه دین او د علومو ذخیرې زموږ لپاره تیاري پرېښولې او پخپله آخرت ته رخصت سوه.

کچیري هغو دا محنتونه نه وای کړي، نن به د پیغمبرﷺ دا احادیث په دې شکل زموږ سره محفوظ نه وای، هغو زموږ لپاره د پیغمبرﷺ یو یو نصیحت محفوظ پرېښوی د قیامت تر ورځې پوري و راتلونکو انسانانو ته یې آسانه لار برابره کړه، او په دې عمل سره یې خپل آخرتونه اباد کړه.

## د حدیث دپاره د یو طویل سفر واقعه:

په "بخاري شریف" کي یو روایت دی حضرت جابرؓ چي د پیغمبرﷺ ډېر قریب صحابي او د مدینې منورې د انصارو څخه وو، د پیغمبرﷺ د وفات څخه وروسته یو ورځ ناست دی، ده ته دا معلومه سوه، چي د تهجد د لمانځه د فضیلت په باره کي یو داسي حدیث سته، چي ما نه دی اورېدلی، بلکه یو بل صحابي پخپله د پیغمبرﷺ څخه بلا واسطه اورېدلی دی او هغه صحابي اوس په "شام" کي د "دمشق" په ښار کي مقیم دی.

د ده په زړه کي دا فکر راغلی: چي دا حدیث بالواسطه ولي اورم بلکه چي کم صحابي دا حدیث په خپله د پیغمبرﷺ څخه اورېدلی دی، د هغه څخه یې بالذات ولي نه اورم؟

نو د خلګو څخه یې پوښتنه وکړه چي هغه صحابي چیري دی؟ هغو ورته وویل: چي په "شام" کي د "دمشق" په ښار کي مقیم دی.

دَی پخپله په مدینه منوره کي وو او د مدینې منورې څخه د "دمشق" مسافت تقریبا پنځلس سوه (۱۵۰۰) کلو میټره چي هغه ټوله رېګنه صحراء ده نه پر هغه باندي اوبه سته نه یو درخته او غرسته، بلکه لق دق د رېګو ډک بیابان دی.

حضرت جابرؓ په دې وخت کي اوښ را طلب کړی، او پر هغه باندي سپور سو د شام پر طرف روان سو، او پنځلس سوه (۱۵۰۰) کلو میټره یې سفر وکړی، او "دِمشق" ته ورسېدی.

په "دِمشق" کي یې د هغه صحابي د کور معلومات وکړی، چي کله د هغه صحابي د کور دروازې ته راغلی، نو دروازه یې ورو ټکوله.

هغه صحابي دروازه ور خلاصه کړه او پوښتنه یې څني وکړه: چي څنګه راغلې؟ حضرت جابرؓ ورته وایي: چي ما اورېدلي دي، چي د تهجد پر فضیلت باندي تا یو حدیث بلا واسطه د پیغمبرﷺ څخه په خپله اورېدلی دی، زه ستا د ژبي څخه د هغه حدیث د اورېدلو دپاره د مدینې منورې څخه راغلی یم.

هغه صحابي پوښتنه څني وکړه چي ایا ته د مدینې منورې څخه صرف د داغه مقصد دپاره راغلی یې، د دې څخه علاوه بل هیڅ مقصد نلرې؟!

حضرت جابرؓ ورته وایي: چي هو صرف د داغه مقصد لپاره راغلی یم، بل مقصد نه لرم. هغه صحابي ورته وایي: چي د تهجد د فضیلت حدیث خو به وروسته درته پیش کړم، لیکن د هغه څخه مخکي یو بل حدیث واوره چي ما پخپله د رسول اللهﷺ څخه اورېدلی دی، چي کم سړی د دین د زده کړي پخاطر سفر وکړي او پر اوږده لاره ولاړ

سي، چې د هغه په ذریعه دَی د الله تعالی د دین علم حاصول غواړي، نو الله تعالی به د هغه په بدله کي ورته د جنت لار آسانه کړي.

اول یې دا حدیث ورته ووایي: او بیا یې د تهجد د فضیلت والا حدیث ورته پیش کړئ، د حدیث د اوریدلو څخه وروسته هغه صحابي حضرت جابر ﷛ ته وایي: چي لږ ګړی دننه راسه کښېنه او زما سره ډوډی وخوره، حضرت جابر ﷛ انکار کوي، چي زه ستا سره ډوډی نه خورم، ځکه زړه مي دا غواړي چي زما دا ټول سفر صرف د پیغمبر ﷺ د حدیث اوریدلو پخاطر وګرځي، او په دې سفر کي د بل مقصد د یوې ذرې برابر دخل رانسي، نو ځکه زه اوس بل کار نکوم او نه یې کول غواړم، ځکه ماته حدیث پیش سو، او زما مقصد پوره سو زه بیرته مدینې منورې ته واپس ځم، د خدای په امان "السلام علیکم".(۱)

تاسو نه ګورئ! د یوه حدیث په خاطر حضرت جابر ﷛ څومره اوږد سفر وکړئ، ما تاسو ته صرف دا یو مثال پیش کړی، ورنه د صحابه کرامو حالات او د تابعینو او تبع تابعینو حالات چي انسان وګوري نو انسان ته به دا ور معلومه سي، چي هغوی د دین د یوې خبرې زده کولو پخاطر او د پیغمبر ﷺ د حدیث را جمع کولو پخاطر څومره اوږده اوږده سفرونه کړیدي.

## د علم زده کونکو د پاره دېر لوی فضیلت:

حضرت حسن بصري رحمة الله علیه د پیغمبر ﷺ څخه یو مرسل روایت را نقل کوي:

............عَنِ الْحَسَنِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ جَاءَهُ الْمَوْتُ وَهُوَ يَطْلُبُ الْعِلْمَ لِيُحْيِيَ بِهِ الْإِسْلَامَ، فَبَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّبِيِّينَ دَرَجَةٌ وَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ﴾.(۲)

چي پیغمبر ﷺ به فرمایل چي کم سړي ته مرګ راسي او دَی د علم په طلب کي وي او علم هم د اسلام د احیاء لپاره زده کوي نو په جنت کي د ده او د انبیاؤ په مابین کي د یوې درجې فرق وي (چي هغه د نبوت مرتبه ده).

(۱) اصلاحي خطبات، جلد: ۸، صفحه: ۲۳۸
(۲) سنن الدارمي، حدیث: ۳۶۶

## د پیغمبر ﷺ وصیت:

نو څکه پیغمبر ﷺ به خپل شاګرد خاص حضرت ابو هریره ؓ ته همېشه دا وصیت کوی:

........﴿يَا اَبَا هُرَيْرَةَ تَعَلَّمِ الْقُرْآنَ وَعَلِّمْهُ النَّاسَ وَلَاتَزَالُ كَذٰلِكَ حَتّٰى يَاْتِيَكَ الْمَوْتُ فَاِنْ اَتَاكَ الْمَوْتُ وَاَنْتَ كَذٰلِكَ زَارَتِ الْمَلَائِكَةُ قَبْرَكَ كَمَا يُزَارُ الْبَيْتُ الْعَتِيْقُ﴾.(١)

ای ابو هریرة! قرآني علم ازده کړه او وبل ته یې ور ښیه او خپل ژوند د قرآني علومو په زده کړه او ښونه کي تېر کړه، کچیري تاته په داسي حال کي مرګ راغلی چي ته په قرآني علومو کي مشغوله وې، نو بیا به د آسمان ملائکي ستا د قبر د زیارت او د طواف دپاره په دومره کثرت سره راځي لکه: مسلمانان چي د دنیا د اطرافو څخه په کثرت سره د "بیت الله" د طواف او د زیارت لپاره راځي.

نو چي د کم چا زندګي د قرآني علومو په طلب کي تېره سي نو د هغو قبر بیا د خاورو یو کوټه نه بلل کیږي بلکه په حقیقت کي هغه د ملائکو د طواف او د زیارت کولو یو زیارت ګاه او طواف ګاه بلل کیږي.

## د شاه عبدالقادر محدث دهلوي واقعه:

تاسو زموږ د سلفو حالات وګورئ! چي هغوی خپلي زندګی د قرآني علومو په زده کړه او تدریس کي تېري کړې، او الله تعالی د هغوی په بدل کي د هغوی سره په قبرو کي په کم قسم د احسان معامله وکړه.

د "شاه عبدالقادر محدث دهلوي" په باره کي راځي: چي دېرش (٣٠) کاله یې پر یو ځای باندي د قرآن کریم ترجمه او تفسیر خلګو ته درس کړی، او خپل ژوند یې ټوله د قرآني علومو په تعلیم او تعلم کي تېر کړی، چي کله وفات سو نو د وفات څخه وروسته د ده په زمانه کي صاحب کشف بزرګ حضرت مولانا فضل الرحمن ګنج مراد اباديؒ ژوندی وو.

---

(١) مواعظ ابراهمي، احسن المواعظ صفحه: ٢٠٩

د مولانا فضل الرحمن گنج مراد آبادي رحمة الله عليه څخه خپل یو شاګرد پوښتنه کوي چي تاته به الله تعالی د شاه صاحب د قبر کشف کړی وي، ایا دا خو راته بیان کړه چي د "حضرت شاه صاحب" سره الله تعالی په قبر کي څه معامله وکړه؟

نو دی ورته وایي: چي په کم قبر کي د حضرت شاه صاحب جسد مبارک کېښېنول سو، الله تعالی د ده د اعزاز او اکرام پخاطر پر څلور طرفه څوارلس (۱۴) میله په څوارلس (۱۴) میله کي د هغې تولي مځکي څخه عذاب پورته کړی.(۱)

د دې مثال داسي دی، لکه زموږ او ستاسو په کورو کي چي کله یو مېلمه راسي نو د هغه د راحت لپاره خلک د پنکې او کولر بندوست وکړي نو د کولر او پنکې هوا خو خاص د هغه مېلمه لپاره برابره سوې وي، لېکن چي په هغه حجره کي څومره انسانان ور سره او سیږي نو هغو ټولو ته د هغه یخي هوا نفع او فائده رسیږي.

## د حضرت مولانا احمد علي لاهوري واقعه:

حضرت مولانا احمد علي لاهوري رحمة الله عليه دا پخپل عصر کي د هغه خلکو څخه وو، چي کم چاته الله تعالی د "ولایت کبری" مقام ور کړی وو، او د "مستجاب الدعواۃ" بزرګانو څخه وو، او د ده د قرآن کریم درس په خلکو کي ډېر مقبول او مشهور وو، ډېر زیات منل سوی غیر متنازع شخصیت وو.

ټوله زندګي یې د قرآني علومو په طلب او درس و تدریس کي تېره کړه چي کله وفات سو، نو ډېره زمانه د ده د قبر څخه خوشبویي ولاړېدله په زرو (۱۰۰۰) انسانانو به د ده د قبر خاوري خپلو کورو ته ځغلولې، نو بیا علماء دې خبري ته متوجه سوه بیا ټولو اجتماعي دعاء وغوښتله چي یا الله! چي کمه خوشبویي د ده د قبر څخه را پورته کیږي، ای الله! دا ختم کړې، هسي نه چي دا خلک د قبر ټولي خاوري سره یو نه سي، او د هغه په وجه فتنه جوړه نه سي.

(۱) دعوات حق، جلد: ۲ صفحه: ۲۷۸

الله تعالی د هغه علماؤ دعاء قبوله کړه د هغه شخه وروسته بیا د ده د قبر خوشبويي ختمه سوه، نو الله تعالی د مرګه شخه وروسته داسي عزت او راحت په نصیب ور کړی وو.

د ده مشهوره واقعه ده چي دَی د وفات شخه وروسته یو ډېر لوی عالم په خوب ولیدی، نو پوښتنه یې ځني وکړه چي الله تعالی څه درسره وکړه؟

حضرت مولانا احمد علي لاهوري رحمة الله علیه ډېر "کثیر البکاء" انسان وو، (یعني ډېر ژړا کونکی) وو، د الله تعالی د ېېري اثر به یې هر وخت پر زړه باندي موجود وو، نو دَی ورته وايي: چي کله مي د الله تعالی دربار ته پیشي وسوه، نو الله تعالی راته وویل: چي ای احمد علي! تا ولي ذومره زیاته ژړا کوله؟ چي کله الله تعالی پوښتنه را شخه وکړه زما په خیال کي دا راغله، چي الله تعالی زما سره حساب کوي، او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم حدیث مبارک دی:

..........مَنْ نُوقِشَ الحِسَابَ عُذِّبَ﴾.(۱)

چي د کم سړي سره حساب او کتاب شروع سو هغه بیا د الله تعالی د عذابه شخه نه سي بچاوېدلای، نو زه ډېر وېرېدم چي کله الله تعالی زما ېېره ولیدله، نو راته وايي: ای احمد علي! ته اوس هم ېېرېږې حالانکه نن ورځ خو ستا د ېیري نه بلکه د خوشحالۍ ورځ ده، ماته معاف کړې او چي په کم قبرستان کي ته دفن یې ستا د اعزاز او اکرام په خاطر د هغه قبرستان ټوله انسانان مي هم معاف کړه.(۲)

د ده د مرګه شخه وروسته یو وفات سوی سړی هم خپل ماما په خوب لیدلی وو، د هغه شخه یې پوښتنه کړې وه چي په قبر کي شه در سره وسوه؟ هغه په جواب کي ورته ویلي وه، چي د کم وخته شخه زموږ قبرستان ته احمد علي لاهوري رحمة الله علیه را ورسېدی، د ده د اعزاز پخاطر د دې قبرستان ټوله مردګانو ته الله تعالی مغفرت ور کړی.

---

(۱) بخاري شریف، حدیث: ٦٥٣٦

(۲) عمل سے زندگی بنتی ہے، صفحہ: ۲۲۹

نو مستحب طریقه هم دا ده چې کله سړی وفات سي باید په عام قبرستان کې دفن سي یا به دَی نېک وي، الله تعالی به د ده پخاطر د نورو مردګانو سره احسان او د آسانۍ معامله وکړي، یا به د یو بل نېک مرده پخاطر د ده سره د احسان او آسانۍ معامله وسي.

نو چې کم چا زندګي د قرآني علومو په طلب کې تېره کړه، نو د هغوی قبرونه د هغوی دپاره ډېر د آرام او د راحت کورونه بلل کیږي او هم د ملائکو لپاره طواف ګاه او زیارت ګاه بلل کیږي، چې په شپه او ورځ کې د هغوی د قبرونو د زیارت او طواف دپاره د کائناتو د اطرافو څخه ملائکې راځي.

## د الله په کور کې د راجمع کېدونکو دپاره بشارت:

د حدیث شریف په را روانه جمله او نصیحت کې پیغمبرﷺ یو بل بشارت او زیری بیان کړیدی:

............وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللهِ، يَتْلُونَ كِتَابَ اللهِ، وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ، إِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمِ السَّكِينَةُ، وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ﴾.(۱)

چې کله یو جماعت د الله تعالی د کورو څخه په یو کور یعني مسجد کې سره را جمع سي، د الله تعالی د کتاب تلاوت کوي یا د الله تعالی د کتاب درس او تدریس کوي یعني د الله تعالی د دین د خبرو اورېدلو او ویلو لپاره سره ناست وي.

نو چې کم وخت دا خلک د دې مقصد لپاره سره را جمع سوي وي، په دې وخت کې د الله تعالی د طرفه پر دوی باندې سکینه نازلیږي او د الله تعالی رحمت پر دوی غوړېدلی وي، او د څلورو (۴) طرفو څخه ملائکو د دوی مجلس په ګېره او احاطه کې اخیستی وي.

د ملائکو د احاطې مطلب دا دی: چې د الله تعالی رحمت د دوی طرفته متوجه وي، او هغه ملائکې د رحمت وي، چې هغه د دې بندګانو لپاره دعاء کوي او د دوی لپاره

---

(۱) مسلم شریف، حدیث، ۳۸

استغفار طلبوي چي یا الله! دا خلګ ستا د دین پخاطر سره جمع سویدي، ته پخپل رحمت سره د دوی مغفرت وکړه، پر دوی رحمتونه را نازل کړه او د دوی ګناهونه معاف کړه، او دوی ته د دین د خدمت کولو توفیق ور کړه.

## ته د الله تعالی ذکر کوه الله تعالی به ستا تذکره کوي:

د حدیث مبارک را روانه جمله پیغمبر ﷺ دا فرمایلې ده:

............وَذَكَرَهُمُ اللهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ﴾.(١)

یعني الله تعالی یې په هغه چا کي شماري چي عند الله وي لکه ملائکه، انبیاء، اولیاء، شهداء چي دا زما بندګانو خپل ټول کارونه پرې ایښي دي صرف زما پخاطر، زما د ذکر کولو لپاره او زما د ذکر اورېدلو دپاره او زما د دین د خبرو زده کولو لپاره سره را جمع سویدي، او خپلو ملائکو ته د دې محفل تذکره کوي.

ای دا لویه خبره نه ده: چي محبوب حقیقي د ملائکو په مجلسو کي زموږ د مجلس ذکر کوي؟

اصلاً خو دا کار زموږ وو، چي موږ د الله تعالی ذکر کولای ځکه الله تعالی موږ ته اول دا حکم کړیدی، چي:

............فَاذْكُرُونِي﴾. تاسو زما ذکر کوئ، لېکن د دې سره سره د دې ذکر صله او بدله هم الله تعالی راته بیان کړېده، چي:

.........اَذْكُرْكُمْ﴾ زه به ستاسو ذکر کوم، یعني تاسو ما یاد ساتئ، زه به تاسو یاد ساتم.(٢)

حالانکه زموږ ذکر کول څه حقیقت لري؟ ذکر که وکړو او نه وکړو، زموږ دا عقیده ده، چي زموږ د ذکر کولو څخه د الله تعالی په عظمت او جلال کي د یوې ذرې برابر اضافه

---

(١) مسلم شریف، حدیث: ٣٨

(٢) البقرة، آیت نمبر: ١٥٢

نه راځي. او که موږ د الله تعالی ذکر پرېږدو، بلکه که ټوله دنیا د الله تعالی ذکر پرېږدي نو هم د الله تعالی په عظمت او جلال کي يوه ذره کمي نه راځي.

لېکن چي کله الله تعالی د يو بنده ذکر د ملائکو په مجلسو کي کوي نو دا د هغه بنده ډېر لوی اعزاز دی او د بنده لپاره ډېره لويه نېک بختي ده.

## د حضرت ابی ابن کعب ﷛ واقعه:

حضرت ابی ابن کعب ﷛ مشهور صحابي دی، په هر صحابي کي الله تعالی جلا جلا خصوصيات ايښي دي، د حضرت ابی ابن کعب ﷛ خصوصيت دا وو، چي د قرآن کريم تلاوت به يې په ډېره ښائسته طريقه سره کوی.

په دې وجه پيغمبر ﷺ به د ده په باره کي فرمايل:

............﴿أَقْرَؤُهُمْ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ﴾.

په ټولو صحابه کرامو کي د ټولو ښه بهتر قرآن کريم ويونکی ابی ابن کعب ﷛ دی.

يوه ورځ حضرت ابی ابن کعب ﷛ د پيغمبر ﷺ په مجلس کي ناست وو، پيغمبر ﷺ ورته وايي: چي الله تعالی د حضرت "جبرائيل امين" په واسطه باندي ماته دا پيغام را واستوی:

............﴿إِنَّ اللهَ أَمَرَنِيْ أَنْ أَقْرَأَ أُبَي عَلَيْكَ الْقُرْآنَ﴾.

چي ته! ابی ابن کعب ته ووايه، چي هغه تا ته د قرآن کريم تلاوت وکړي.

چي کله حضرت ابی ابن کعب ﷛ دا خبره واورېدله نو فورًا يې دا پوښتنه وکړه:

............﴿اَللهُ سَمَّانِي لَكَ﴾.

ايا الله تعالی زما نوم درته ذکر کړی، چي "ابی ابن کعب" ته داسي ووايه؟

پيغمبر ﷺ ورته وايي: هو:

............﴿اَللهُ سَمَّاكَ لِيْ﴾. الله تعالی ستا نوم راته واخيستی.

..........فَجَعَلَ أُبَيٌّ يَبْكِي﴾. په دې وخت کې حضرت ابی بن کعب رضي الله عنه د بر وژړل او په ژړا کې یې سګلې وهلې او دا یې ویل، زه د دې قابل چیرې یم، چې الله تعالی زما ذکر وکړي او زما نوم واخلي. (1)

## د الله تعالی پر ذکر کولو عظیم بشارت:

بهر حال چې کله الله تعالی د یو بنده ذکر کوي دا دومره لوی دولت او نعمت دی چې د ټولې دنیا نعمتونه او دولتونه یو طرفته سي لا هم دا نعمت وراندې دروند دی.

نو په دې حدیث کې د دې عظیم نعمت په باره کې پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: چې کله د الله تعالی د دین د زده کړې پخاطر خلک یو ځای سره جمع سي، نو الله تعالی د خپلو ملائکو په مجمع کې د ده ذکر کوي.

په یو حدیث قدسي کې لا داسې هم راځي: (حدیث قدسي هغه ته وایي: چې په هغه کې پیغمبر ﷺ د الله تعالی کلام را نقل کوي) نو په دې حدیث قدسي کې پیغمبر ﷺ وایي: چې الله تعالی فرمایي:

..........مَنْ ذَكَرَنِي فِي نَفْسِهِ، ذَكَرْتُهُ فِي نَفْسِي، وَمَنْ ذَكَرَنِي فِي مَلَإٍ، ذَكَرْتُهُ فِي مَلَإٍ أَفْضَلَ﴾. (2)

چې کم سړی زما ذکر په تنهائي کې کوي زه د ده ذکر په تنهائي کې کوم او دَی یادوم او چې کم سړی زما ذکر په یو مجمع کې کوي زه د ده ذکر د دې څخه په بهتره مجمع کې کوم، یعني دَی زما ذکر د انسانانو په مجمع کې کوي، زه د ده ذکر د ملائکو په مجمع کې کوم.

د ذکر څومره لوی فضیلتونه بیان سویدی، په دې کې هغه ټوله خلک داخل دي چې د دین د درس او تدریس لپاره یا د دین د افهام او تفهیم لپاره یو ځای سره را جمع سي،

(1) بخاري شریف، حدیث، ۴۹۶۰

(2) الزهد والرقاق لابن مبارک، حدیث، ۹۲۷

الله تعالی دي پخپل فضل او کرم سره موږ ټولو ته د دې حدیث د مصداق جوړېدلو توفیق را کړي.

چي موږ کله د جمعې په ورځ یو څه وخت د وعظ کولو او اورېدلو لپاره سره کښېنو او د دین د خبرو تذکره کوو، دا زموږ معمولي عمل د الله په دربار کي د ډېر لوی فضیلت او د ثواب او د اجر والا عمل بلل کیږي په دې شرط چي په زړه کي اخلاص وي او مقصود د الله د دین طلب وي.

## لوړ خاندان د نجات دپاره کافي نه دی:

په آخر کي پیغمبر ﷺ دا جمله فرمایلي ده:

......... وَمَنْ بَطَّأَ بِهِ عَمَلُهُ، لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ. (۱) دا جمله هم د جوامع الکلم څخه ده او معنی یې دا ده: چي کم سړی د خپل عمل پخاطر تر شا پاته سو، محضې په لوړ نسب سره را مخته کېدای نسي.

د دې جملې مطلب دا دئ: چي د یو چا عمل خراب وي، نو هغه د دې خراب عمل په وجه جنت ته ځان نسي رسولای، بلکه شاته پاتېږي حالانکه نور خلک په خپلو نیکو اعمالو باندي ډېر ژر جنت ته ځان رسوي.

چي کله د انسان عمل خراب وي، او د خپل عمل اصلاح نسي کولای، نو دا سړی صرف د نسب په وجه چي دا د فلانکي خاندانه سره تعلق لري، یا د فلانکي بزرگ، یا فلانکي عالم زوی دی، صرف پر دې بنیاد باندي د خدای په حضور کي نژدېکت او قرب نسي پیدا کولای.

نو په دې جمله کي و دې خبره ته اشاره ده، چي صرف پر دې خبره باندي بروسه کول، او کښېنستل چي زه خو فلانکی صاحبزاده یم او د فلانکي خاندانه سره مي تعلق دی، او په نیکو اعمالو ځان مجبوره نه بلل دا صحیح خبره نه ده، بلکه ډېره ښه خبره دا ده: چي انسان د خپل نېک عمل په صحیح طریقه د کولو فکر وکړي.

(۱) مسلم شریف، حدیث: ۳۸

په لوړ نسب سره کچیرې یو انسان د الله تعالی قرب پیدا کولای سوای، نو د حضرت نوح علیه السلام زوی "کِنعان" به جهنم ته نه تلای، حالانکه حضرت نوح علیه السلام د ہر لوی جلیل القدر پیغمبر وو، او د خپل بچي د مغفرت لپاره یې دعاګانې هم کولې.

لیکن الله تعالی ورته ویل:

......﴿إِنَّهُ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ﴾. ای نوحه! دا ستا بچی بدعمله دی، ته د ده په حق کې دعاګانې مه کوه او نه ستا دعاګانې د ده په حق کې قبلیږي.

نو اصل شی عمل دی، البته کچیرې د نیک عمل سره سره د یو بزرګ سره د انسان تعلق هم وي، نو د هغه بزرګ د تعلق په وجه نیک اعمال الله تعالی انسان ته آسانه کوي.

لیکن د خپل طرفه څخه عمل او توجه او فکر کول دا شرط دي، اوس کچیرې د یو چا توجه او فکر او طلب نه وي، بلکه په غفلت کې اخته وي صرف په دې نازیږي، چې زه خو د لوړ خاندانه سره تعلق لرم په دې باندې دی مخته تلای نسي، الله تعالی دې موږ ټولو ته د عمل صحیح کولو توفیق را نصیب کړي.

**خلاصه:**

د دې حدیث د ټولو جملو مکمله خلاصه دا سوه: چې د الله تعالی د محبت تقاضا دا ده، او د الله تعالی د محبت لازمي شرط دا دي: چې د الله تعالی د مخلوق سره به محبت کوې، او د الله تعالی پر مخلوق به شفقت او رحم کوې، چې تر څو پورې دې دا شی پخپل زړه کې پیدا کړی نه وي، تر هغه وخته پورې د الله تعالی قرب پیدا کولای نسې!

او خپله زندګي به د علم په طلب کې او د مسلمانانو په خیرخواهي کې تیروې، او په نیکو اعمالو کې د شرکت به کوشش کوې صرف پر خپل خاندان او پر خپل نسب باندې د اعتماد کولو په شکل یې په غفلت کې ژوند پر ځان نه تیروې، او الله تعالی دې دا څو خبرې په خپل دربار کې قبولې او مقبولې وګرځوي. (آمین یا رب العالمین)

وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الایه)

# د وفات اول بیان

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئٹه

| | |
|---|---|
| تقریر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتي حافظ كليم الله صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشاعت | اول |
| تاریخ | جمادي الاولى ۱۴۴۲ بمطابق ۲۴ جنوري ۲۰۲۱ |
| تعداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُمْ مَيِّتُونَ، ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِنْدَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ ﴿حَيَاتِي خَيْرٌ لَكُمْ وَمَوْتِي خَيْرٌ لَكُمْ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمُ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمُ، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

## حجة الوداع ته تشريف وړل:

چي کله پر پيغمبر ﷺ باندي په مدينه منوره کي لسم (۱۰) کال د هجرت راغلی، نو پيغمبر ﷺ د څلويښتو زرو (۴۰۰۰۰) نفوس قدسيوو سره د حج په اراده مکې مکرمې ته راغلی.

د حج په ورځو کي به پيغمبر ﷺ اکثره دا جملې خپلو صحابه کرامو ته مکررې پيشولې، چي زما څخه د کمي مسئلې پوښتنه کوی، هغه اوس لا وکړئ! شايد د دې کال وروسته به ما په دنيا کي ژوندی پيدا نکړی!

د پيغمبر ﷺ د دې جملو د مکررو را گرځولو په وجه د دې حج نوم د پيغمبر ﷺ په سيرت کي په "حجة الوداع" سره مشهوره دی، چي د حج د فرضيت څخه وروسته د حضور اکرم ﷺ اولنی او آخرنی حج وو.

(۱) الزمر آيت نمبر: ۳۰
(۲) شفا بتعريف حقوق المصطفى، الفصل الاول فيما جاء من ذلک مجيء المدح صفحه: ۱۶

د ذوالحجې په نهمه (۹) ورځ د عرفات په میدان کي حضرت جبرائیل علیه السلام د الله تعالی د طرفه پیغمبر ﷺ او صحابه کرامو ته دا پیغام را ورسوی.

........ ﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا﴾.(۱)

ای مسلمانانو! نن ما ستاسو دین پوره کړئ، او هر قسم نعمتونه مي تاسو ته درکړه، او ستاسو لپاره اسلام خښوم په اعتبار د دین سره.

## دآیت اشاره:

د دې آیت د نازلېدلو څخه و دې ته خفي او پوشیده اشاره وه چي د پیغمبر ﷺ د وفات وقت رانږدې دی، ځکه چي د کم کار لپاره پیغمبر ﷺ د "عالم لاهوت" څخه دنیا ته تشریف راوړی وو، هغه پوره سو نو اوس خو د پیغمبر ﷺ د اصلي مقام طرفته رجوع کول او د خپل مرجع طرفته واپس تلل ضروري دي.

چي کله پیغمبر ﷺ د حج څخه فارغ سو، مدینې منورې ته واپس د خپلي قافلې سره راغلئ، نو په دې وخت کي "سورة الفتح" یعني "اِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ الخ" پرده باندي نازل سو.

چي د هغه مطلب دا وو چي کله د کافرانو دلي په اسلام کي داخلیږي او مکه مکرمه فتحه سوه او د همېشه لپاره "دارالاسلام" سوه، نو ای نبي! ستا پر ذمه چي کم کار وو هغه پوره سو، اوس ته د خپل رب د ملاقات لپاره تیار اوسه! د الله تعالی د ذات څخه ماسوا نوري ټولي خبري هیري او د دماغه څخه لیري کړه.

## د حضرت ابو بکر رضی الله عنه ذکاوت:

د "سورة الفتح" د نازلېدو څخه وروسته یوه ورځ پیغمبر ﷺ د صحابه کرامو ومخته خطبه مبارکه پیشوله، په هغه کي یې دا وویل: چي الله تعالی یو خپل محبوب بنده ته اختیار ورکړی، چي هغه که په دنیا کي اوسیږي او که یې زړه غواړي چي د خپل رب

(۱) المائده آیت نمبر: ۳

طرفته ولاړ سي، ای خلکو! دې بنده د الله تعالی حضور ته ورتلل د دنیا تر استوګنې د ځان لپاره خوښ کړل.

په هغه خطبه کې په سوونو انسانان حاضر وه لېکن د دې خبرې په مطلب باندې څوک پوه نه سو.

یو حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه وو چې هغه د دې خبرې په اورېدلو باندې ژړا شروع کړه، خلکو به د ځانه سره دا ویل: چې یاره د دې بوډا پر عقل باندې افسوس دی، ځکه پېغمبر صلی الله علیه وسلم د یو عام بنده حال بیان کړی، چې هغه ته خدای اختیار ور کړی، او هغه د خپل رب طرفته تلل خوښ کړل، په دې کې د ژړا څه خبره ده؟

لېکن د دې خطبې څخه یو څو ورځې وروسته چې کله د پېغمبر صلی الله علیه وسلم وفات وسو، نو د هغه څخه وروسته پر خلکو باندې د پېغمبر صلی الله علیه وسلم هغه خبره واضحه او ښکاره سوه، چې پر ابو بکر رضي الله عنه باندې پر هغه موقعه باندې فوراً او دستي ښکاره سوې وه، نو خلکو یا ابو بکر رضي الله عنه ته ویل: چې ای ابو بکره! ته ډېر زکي او فهمېده انسان یې ستا ژړا پر خپله موقعه باندې صحیح وه، خو موږ په دې نه پوهېدو چې هغه بنده بل څوک نه وو، بلکه زموږ د سترګو تور او زموږ د زړه سرور پېغمبر صلی الله علیه وسلم پخپله وو.

## د حضرت معاذ رضي الله عنه "یمن" ته رخصتول:

په دې میاشته کې د "اهل یمن" د طرفه د پېغمبر صلی الله علیه وسلم حضور ته یو غوښتنه راغله، چې ته زموږ لپاره یو امام او قاضي را واستوه، چې هغه موږ ته په جماعت لمنځونه را کوي او زموږ فیصلې د قرآني احکامو سره برابرې را خلاصوي.

پېغمبر صلی الله علیه وسلم چې کله په مسجد نبوي کې د سهار لمونځ په جماعت سره اداء کړی، نو د لمانځه څخه وروسته یې صحابه کرامو ته وویل: چې زه یو سړی د امام او قاضي په صفت "یمن" ته استوم په تاسو کې څوک تیار دی، صحابه وو رضي الله عنهم ورته وویل: چې موږ ټوله تیار یو.

پېغمبر صلی الله علیه وسلم حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه ته وویل: چې د دې کار لپاره ته ډېر مناسب یې، د "یمن" د سفر لپاره تیاري وکړه، حضرت معاذ رضي الله عنه په دې ورځ باندې په خپل

کور کې د سفر تیاري مکمله کړه، او د رخصت پخاطر د پیغمبر ﷺ خدمت مبارک ته راغلی.

پیغمبر ﷺ حضرت بلال رضی الله عنه ته وویل: چې ای بلاله! ورسه زما عمامه (لنګوټه) راوړه چې کله لنګوټه راوړل سوه نو پیغمبر ﷺ خپله عمامه د حضرت معاذ رضی الله عنه پر سر پخپل لاس سره ورو پیچله او پر سوارلي باندې یې سپور کړی.

په روایاتو کې راځي:

﴿............وَمُعَاذٌ رَاكِبٌ وَرَسُوْلُ اللهِ يَمْشِي تَحْتَ رَاحِلَتِهِ﴾.

حضرت معاذ رضی الله عنه پر سوارلي سپور دی، او پیغمبر ﷺ پخپله بنفس نفیس د حضرت معاذ رضی الله عنه د سوارلۍ جلو نیولی دی، او پر پښو ور سره روان دی.

حضرت معاذ رضی الله عنه ورته وایي: چې ای د الله رسوله! زما مور او پلار دې تر تا قربان وي، ته پر پښو روان یې او زه پر سواري سپور یم دا به زما لپاره څنګه بې آدبي نه وي؟

پیغمبر ﷺ په جواب کې ورته وایي: چې نه زه صرف دا یو څو قدمونه د الله تعالی د رضا پخاطر در سره اخلم.

دا د پیغمبر ﷺ اخلاق مبارک وه چې د دې لوړې درجې سره سره د یو ادنی خادم د سوارلۍ مهار او جلو یې نیولی دی، او پر پښو ور سره روان دی.

چې کله حضرت معاذ رضی الله عنه رخصتوي نو ورته وایي: ای معاذه! دا به شاید زما او ستا آخرنی ملاقات وي، چې کله ته واپس راسې:

﴿............لَعَلَّكَ أَنْ تَمُرَّ بِقَبْرِيْ وَمَسْجِدِيْ﴾.

نو زما په مسجد کې به ما نه وینې صرف زما د قبر به زیارت وکړې.

د افسوس ډک کلام چې کله حضرت معاذ رضی الله عنه د پیغمبر ﷺ د خولې څخه واورېدی:

﴿............فَبَكَى مُعَاذٌ لِفِرَاقِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ﴾.

نو يې دومره زيات وژړل چې دې ته نږدې وو چې د خپلې سوارلۍ څخه لاندې را ولوېږي.

پیغمبرﷺ ورته وايي:

﴿لَا تَبْكِ يَا مَعَاذُ﴾. اې معاذه ته ډېره ژړا مه کوه.

﴿إِنَّ أَوْلَى بِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمُتَّقُوْنَ أَيْنَ مَا كَانُوْا حَيْثُ مَا كَانُوْا﴾.

د قيامت په ورځ به ماته ډېر نږدې متقيان او پرهېزګاره انسانان وي چې د مځکي پر هر کنج او سيږي او په هر رنګ د دوی شکلونه وي.

پيغمبرﷺ د صبر وصيت ورته وکړی او په داغه حال کي يې حضرت معاذ رضي الله عنه رخصت کړی، او دا د پيغمبرﷺ آخرنی ديدار وو، چې حضرت معاذ رضي الله عنه ته ور نصيب سو.

چې کله حضرت معاذ رضي الله عنه د "يمن" د سفر څخه واپس راغلی، د پيغمبرﷺ د زيارت پر ځای يې د پيغمبرﷺ د مزار او قبر زيارت وکړی، او د پيغمبرﷺ ديدار يې په نصيب نسو.

﴿إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ﴾. (1)

## د ناجوړی ابتداء:

د سيرت په کتابو کي ليکلي دي: د ناجوړی څخه يو څو ورځي مخکي پيغمبرﷺ د "جنة البقيع" قبرستان او هديرې له و مړګانو ته د دعاء لپاره ورغلی، صحابه کرام ورسره دي، نو صحابه کرامو ته په هغه قبرستان او هديره کي فرمايي:

چې ماته الله تعالی د دنيا د سلطنتو خزانې عامي په لاس راکړې مګر ما هغه ټولي خزانې خپل امت ته ور پرېښولې او ما پخپله د الله تعالی ملاقات خوښ کړی، او آخرت ته مي پر دنيا باندي ترجيح ور کړه.

(1) السيرة النبوية لابن کثير باب بعث رسول اللهﷺ معاذ صفحه: ۱۹۳

د دې وينا کولو څخه يوه ورځ وروسته د پيغمبرﷺ په سر مبارک کي درد پيدا سو، او پر بدن مبارک يې د "تبي" آثار ښکاره سوه، کرار کرار هغه تبه دومره سخته سوه چي کم سړي به د پيغمبرﷺ پر جسد مبارک لاس ايښوی، نو هغه ته به داسي ور معلومېدله لکه ده چي لاس پر اور باندي ايښی دی، نو هر سړي به پيغمبرﷺ ته دا ويل:

چي ای د الله رسوله! ستا خو ډېر تېزه تبه ده، پيغمبرﷺ به په جواب کي ورته ويل: چي هو ازمايش او مصيبت د مرتبې په مقدار وي چي د چا مرتبه څومره لوړه وي، په هغه درجه کي به پر ده باندي تکليف او ناجوړي راځي.

يو صحابي ورته وايي: چي ای د الله رسوله! ستا په بدن کي د دوو (۲) انسانانو په مقدار برابره تبه ده، پيغمبرﷺ په جواب کي ورته وايي: چي ماته به الله تعالی ثواب هم دوچنده را کوي.

د پيغمبرﷺ په جسم کي "محرقه تبه" دومره شديده وه چي د هغې اثر ډېر ژر د پيغمبرﷺ تر دماغ مبارک پوري ورسېدی، او پيغمبرﷺ تر درو (۳) ورځو پوري د بېهوښۍ په کيفيت کي وو، چي لږ د هوښ په کيفيت کي راغلی، نو يو ځل يې دا ويل: چي زما پر سر باندي اووه (۷) "مشکزې" يخي اوبه را توی کړئ، شايد په دې سره به زما د دماغ ګرمي کمه سي، او زه به پوره په هوښ کي راسم، زه دې خپل امت ته وصيت کول غواړم.

د کور انسانانو پيغمبرﷺ په لوی لوښي او لګن کي کښېنوی، اووه (۷) "مشکيزې" يخي اوبه يې پر سر مبارک ور واچولې چي د هغې په وجه د پيغمبرﷺ په بدن کي لږ افاقه او هوښ راغلی.

پيغمبرﷺ مسجد نبوي ته تشريف راوړی صحابه کرام چي د پيغمبرﷺ حقيقي عاشقان وه د پيغمبرﷺ ديدار يې په نصيب سو.

هغه ټول د پیغمبرﷺ د دیدار په شوق باندې بې خوده غونډي وه او په منډه راغله پیغمبرﷺ ته يې سلام ووايه او پرده شاوخوا را وګرځېدل. پیغمبرﷺ جماعت ور کړی او د وصیت په طور يې صحابه کرامو ته دا وویل:

ای خلګو! ماته د الله د طرفه اختیار را کول سویدی، چې زه په دنیا کې ووسېږم او که د ځان لپاره آخرت خوښ کړم، ما د خپل ځان لپاره آخرت خوښ کړیدی، او د خپل ځان لپاره مې د خپل رب دیداز او ملاقات اختیار کړیدی، اوس زه ستاسو څخه جلا کېږم او زه به ستاسو د قافلې مقدمه یم او ستاسو څخه مخ کې به د خپل رب ملاقات او دیدار ته ورځم.

ای خلګو! زه ستاسو د ایمان ګواه او شاهد یم اوس به زما او ستاسو ملاقات د قیامت په ورځ پر حوض کوثر باندې کېږي.

او زما د وفات وخت را نږدې دی، زه په داسې حال کې د خپل رب طرفته تلل نه غواړم چې د چا یو حق زما پر ذمه پاته وي کچیرې ما په تاسو کې څوک وهلی وي، نو راسئ! د هغې په بدله کې نن ما ووهئ! زما بدن ستاسو د ټولو ومخته حاضر دی.

ای خلګو! کچیرې ما په تاسو کې یو چاته سخته کلمه اداء کړې وي هغه دې هغه کلمه وماته هم اداء کړي، که چیرې ما د یو چا مال او دولت اخیستی وي، هغه دې زما څخه نن خپله بدله واخلي، نن به زما ډېر دوست هغه سړی وي چې خپل حق زما څخه وغواړي ځکه زه د دنیا څخه رخصتېدونکی او ډېر ژر د خپل رب وحضور ته پیشېدونکی یم.

د زرو (۱۰۰۰) صحابه وو مجموعه وه مګر یو سړی هم د یوې "أوربشې" مقدار د یو شي دعوه داره پیدا نسو.

د پیغمبرﷺ پر ذمه باندې د هیڅچا هیڅ شی هم نه وو، مګر خپل امت ته د تعلیم ور کولو لپاره د خپل ذات متعلق يې د صحابه کرامو ومخته داسې وکړل چې د ده څخه وروسته د ده د امت انسانان هم داسې کوي.

د دې خطبې د پېشولو څخه وروسته پېغمبرﷺ کور ته ولاړی، د شپې بیا پر پېغمبرﷺ باندي سخته تبه راغله او بېهوښه سو، په دې بېهوښي کي پېغمبرﷺ کوشش دا کوئ چي د کور د زنانو حق تلفي رانسي، نو خپلو خادمانو ته یې دا حکم کړی وو.

چي د کمي زناني د حجرې نوبت وي زما چارپائي پورته کوی، او د هغې زناني حجرې ته یې رسوی، څو ورځي مسلسل د پېغمبرﷺ دا معمول روان وو، چي کله زوجات مطهراتو د پېغمبرﷺ دا تکلیف ولیدی، نو ټولو زنانو په اتفاق سره خپل حق او د خپلي شپې نوبت پېغمبرﷺ ته ور معاف کړی، د دې څخه وروسته پېغمبرﷺ د حضرت عائشې په حجره کي اقامت اختیار کړی. (۱)

## وصیت کول:

او بیا یې صحابه وو ته وویل: چي تاسو انصار او مهاجرین ټوله را جمع کړی، زه و دوی ته یو څه وصیت او د صبر تلقین کوم.

انصار او مهاجر صحابه کرام په مسجد نبوي کي را جمع سوه پېغمبرﷺ پر بستره باندي پروت دی، او دغسې د پروتي په حالت کي ورته ګویا سو:

...........مَرْحَبًا بِكُمْ حَيَّاكُمُ اللهُ، هَدَاكُمُ اللهُ، نَصَرَكُمُ اللهُ، نَفَعَكُمُ اللهُ﴾.

تاسو ښه راغلاست د ښه راغلي وروسته دا دعاء ورته کوي ای زما امته! الله تعالی مو زما څخه وروسته سالم ولره الله تعالی دي تاسو ته هدایت وکړي، او الله تعالی دي په هر مقام کي ستاسو نصرت او نفع په نصیب کړي.

...........وَمَنْ كَانَ غَائِبًا مِنْ أَصْحَابِي فَأَبْلِغُوهُ عَنِّي السَّلَامَ﴾.

کچیري یو مسافر زما د صحابه وو څخه زما په محبت کي مبتلاء "مدینې منورې" ته راسي، تاسو به هغوی ته زما سلام ووایاست، او هغوی ته به دا ووایاست، چي رسول اللهﷺ د دنیا څخه رخصت سو.

---

(۱) مواعظ ابراهیمي، صفحه: ۱۵۱

چې کله هغه زما په فراق او جدائي کې ډېر بې چینه او بې آرامه سي او زما د نه لیدلو بغیر ژوند ورته مشکل سي، نو هغه زما مزار او قبر ته راولئ، چې کله زما قبر وویني: نو یا به الله تعالی ژوند د صبر ور کړي، یا به د وفات په شکل زما سره یو ځای سي.

صحابه کرام پوښتنه ځیني کوي:

......... ﴿فَمَتَى أَجَلُكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ﴾. چې ستا مرګ او اجل به کله راځي؟

پیغمبر ﷺ ورته وایي:

......... ﴿قَدْ دَنَا الْأَجَلُ، وَالْمُنْقَلَبُ إِلَى اللّٰهِ﴾.

زما وفات او زما د الله سره ملاقات کول رانږدې دي.

صحابه کرامو چې کله دا واورېدل نو بې اختیاره یې ژړا شروع سوه او ورته وایي: ای د الله رسوله! دا بې کسه او بېچاره امت وچاته ورپرېږدې؟

پیغمبر ﷺ ورته وایي: تاسو الله تعالی ته سپارم زما څخه وروسته به الله تعالی ستاسو نګهبان او محافظ وي.

د هغه څخه وروسته پیغمبر ﷺ صحابه کرامو ته وایي: چې ماته په نهایت حفاظت کي غسل راکړئ، کچیري یو چا زه لڅ ولیدم نو هغه به ډېر ژر په سترګو ړوند سي او ماته په غسل راکولو کي به ملائکي ستاسو مدد کوي، بیا ماته په درو (۳) کپړو کي کفن راکړئ:

.............. ﴿إِذَا غَسَّلْتُمُونِي وَحَنَّطْتُمُونِي وَكَفَّنْتُمُونِي فَضَعُونِي عَلَى شَفِيرِ قَبْرِي ثُمَّ اخْرُجُوا عَنِّي سَاعَةً﴾.

چې کله زما د غسل او کفنه څخه فارغه سواست، بیا به په حجره کي زما جنازه د قبر پر غاړه کښېږدئ، او زما څخه به یو ګړی ووځئ، ما به یوا ځي پرېږدئ.

په دې وخت کي به زما رب وي او زما جنازه به وي او زما د حجرې پر څلورو (۴) طرفو به زما امت د ژړا په حالت کي ولاړ وي. په دې یوازیوالي کي به زه د خپل امت متعلق د خپل رب څخه چې څه غوارم هغه به وغوارم.

بیا صحابه وو ته وایي:

.........فإنَّ أوّلَ مَنْ يُصَلِّي عَلَيَّ خَلِيلَايَ وَجَلِيسَايَ جِبْرِيلُ وَمِيكَائِيلُ ثُمَّ إِسْرَافِيلُ، ثُمَّ مَلَكُ الْمَوْتِ مَعَ جُنُودٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ﴾.(١)

اول ځل به پر ما باندي د جنازې لمونځ زما خپل ملګري او هم نشينان جبرائيل او میکائیل، اسرافیل او عزرائیل عليهم السلام د ملائکو د یو لوی ډلي سره کوي.

چي کله ملائکي زما د جنازې د لمانځه څخه فارغه سي، بیا به زما د کورنۍ انسانان پر ما د جنازې لمونځ کوي او د هغه څخه وروسته به زما صحابه انصار او مهاجر زما د جنازې لمونځ ادا کوي، او بیا به زما د خاندان او کورنۍ انسانان ما و قبر ته ور شوه کوي.

.........وَاللهُ خَلِيفَتِيْ عَلَيْكُمْ﴾.

او انشاء الله زما رب به زما د رخصتېدو څخه وروسته تاسو پر هدایت باندي قائم او دائم وساتي.

پیغمبر ﷺ د خپل وفات ټوله حالات بطور وصیت صحابو وو ته بیان کړه، مګر د اکثره صحابه وو دا یقین نه وو چي پیغمبر ﷺ به موږ ته آخیرنۍ وصیت کوي، ځکه د صحابه وو دا خیال وو چي اوس به دی څنګه وفات سي؟ حالانکه تر اوسه پوري د فارس بادشاهت او ملک لا ندی فتح سوی او د روم او شام ملکونه د اسلام تر قبضه لاندي نه دي راغلي، اول خو به دا ټول فتح کیږي د هغه څخه وروسته به د پیغمبر ﷺ وفات او رخصتېدل د دنیا څخه کیږي.

د ناجوړی په دوران کي به یو ورځ د پیغمبر ﷺ تبه یو څه کمه سوه مګر مکمل صحت یاب سوی ندی، لږلږ د خبرو به کله قابل سو لېکن یو ګړی وروسته به بیرته د بیهوښی په حالت کي وو.(٢)

---

(١) السیرة النبویة لابن کثیر، جزء: ۴ صفحه: ۵۰۲

(٢) السیرة النبویة لابن کثیر، جزء: ۴ صفحه: ۵۰۲

## د عائشي او خديجي رضي الله عنها خوب ليدل:

د سيرت په کتابو کي ليکلي دي: چي يوه شپه حضرت عائشه مبارکه خوب ويني چي زه پخپل کور کي ناسته يم، يو دم سپوږمۍ زما په کور کي را شوه سوه او د حجري په مځکه کي پټه سوه.

دا خوب ابتداءً څلوېښت (۴۰) کاله مخکي حضرت خديجي رضي الله عنها هم ليدلې وو، چي يوه سپوږمۍ زما غيږي ته راغله بيا هغه ټوله دنيا روښانه کړه او د دې انتهاء حضرت "عائشي" مبارکې ليدلې وه چي سپوږمۍ د حجري په مځکه کي پټه سوه.

حضرت عائشي مبارکي دا خوب حضرت صديق اکبر رضي الله عنه ته بيان کړی، حضرت صديق اکبر رضي الله عنه يو سړه ساه راويسته او دا يې ويل: الله تعالی دي زموږ مدد وکړي هسي نه چي دا امت د خپلي مسافري سپوږمۍ د لوېدو څخه وروسته په تياره کي پاته نسي.

چي کله د پيغمبر ﷺ وفات وسو او د حضرت عائشي مبارکې په حجره کي پټ سو، حضرت صديق اکبر رضي الله عنه ورته وويل: ای عائشې ستا د خوب تعبير دغه وو، چي هغه سپوږمۍ نن ستا په حجره کي پټه سوه.

## د حضرت علي رضي الله عنه خوب ليدل:

د ناجوړۍ په ټوله دوران کي پيغمبر ﷺ د حضرت عائشې په حجره کي اوسېدی، يوه ورځ حضرت علي رضي الله عنه راغلی او ورته وايي: چي ای د الله رسوله! ما خوب ليدلی دی، چي ما زَغره اغوستې وه هغه زَغره يو دم زما د بدنه څخه وختله.

پيغمبر ﷺ ورته وايي: ای علي! ستا هغه زَغره زه وم زما زندګي ستا دپاره د امن باعث وه اوس به ډېر ژر زه ستا څخه جلا سم، او ای علي! ته به بې زغري پاته سې.

زما څخه وروسته به ته ډېر تکليفونه وينې چي کله خلک دنيا خوښوي ته به د هغو په مقابل کي دين خوښوې، او ډېر ژر به ته زما پر حوض کوثر زما سره يو ځای سې!.[1]

---

[1] مواعظ ابراهيمي صفحه، ۱۵۲

## د حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها خوب ليدل:

دوهمه ورځ حضرت فاطمة الزهراء راغله او ورته وايي: چي حضرت ما خوب ليدلی دئ، زما په لاس کي د قرآن کريم يو سپينه ورقه وي زه په هغه کي تلاوت کوم، يو دم هغه ورقه زما څخه په قرآن کريم کي ورکه سي، د ډېر کوښښه وروسته يې هم نسم پيدا کولاې.

پېغمبر ﷺ په جواب کي ورته وايي: ای فاطمې! هغه ورقه د قرآن مجيد زه يم ډېر ژر به ستا څخه غائب سم د زيات تلاش سره به ما هيڅکله بيا پيدا نکړئ!.(١)

## د حسن او حسين رضي الله عنهما خوب ليدل:

دريمه ورځ حضرت حسن او حسين رضي الله عنهما راغله پېغمبر ﷺ ته وايي: چي ای د الله رسوله! موږ يو خوب ليدلی دی، چي يو تخت په هوا کي روان وي او موږ دواړه تردې تخت لاندي په لڅ سر ژړا کونکي روان يو.

پېغمبر ﷺ چي کله دا خوب واورېدی نو د سترګو څخه يې اوښکي را ووتلې او ورته وايي: ای زما د سترګو توره! هغه تخت په هوا کي روان زما جنازه ده او تاسو به زما د جنازې سره په ژړا ژړا روان سئ!

چي کله د دې خوب تعبير پېغمبر ﷺ بيان کړی، نو د کور ټوله انسانان په ژړا سوه پېغمبر ﷺ ورته وايي: تاسو به د ټولو انسانانو څخه مخکي زما سره پر حوض کوثر باندي يو ځای کېږئ!.(٢)

په دې دوران کي د پېغمبر ﷺ په ناجوړي کي يو لږ زياتوالی راغلی، او پر ده باندي د بېهوښۍ غوندي کيفيت ښکاره سو، د بېهوښۍ په حالت کي د پېغمبر ﷺ پر ژبه دا کلمات جاري وه:

......... اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِأُمَّتِيْ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِأُمَّتِيْ﴾.

---

(١) مواعظ ابراهيمي، صفحه: ١٥٣
(٢) مواعظ ابراهيمي، صفحه: ١٥٣

یا الله زما امت ته مغفرت وکړه او زما څخه وروسته زما د امت حفاظت وکړه.

## د نورو انبیاؤ څخه امتیاز:

د پیغمبر ﷺ څخه مخکي ډېر زیات نبیان راغلي دي، او هغوی ته الله تعالی امتونه ور کړي وه، مګر د هغوی د وفات په حالت کي د خپل امت سره داسي غمخواري او شفقت ندی لیدل سوی چي کمه غمخوارۍ او شفقت د پیغمبر ﷺ د خپل امت سره ولیدل سو.

## د حضرت آدم علیه السلام وفات:

چي کله د حضرت آدم علیه السلام مرګ راغلئ او د وفات وخت یې را نږدې سو، حضرت آدم علیه السلام په دې وخت کي ډېر د غم ژړا کوله.

حضرت جرائیل علیه السلام پوښتنه څیني کوي، چي ای آدمه! ستا سره د چشي دومره زیات غم او افسوس دی چي ته پر هغه دومره ژړا کوې؟ ده په جواب کي ورته وویل: زما سره دا غم دئ، چي زه خو د جنت څخه را وایستل سوم، چي ایا بیا به جنت ته ورسم او کنه؟

په دې دوران کي الله تعالی د آسمان پر مخ جنت ورته ښکاره کړی او ده ته وایي: چي ای آدمه! آسمان ته وګوره دا جنت ستا دپاره تیار دی، حضرت آدم علیه السلام چي کله جنت ولیدی نو د جنت د لیدلو په خوشحالي کي یې روح پرواز وکړی، او وفات سو.

لیکن چي کم زموږ شفاعت کونکی "نبي" ناجوړه سو د ناجوړۍ په دوران کي حضرت جبرائیل علیه السلام ورته راغلی، پیغمبر ﷺ پوښتنه څني کوي چي ای جبرائیله! که دي چیري یو خوشخبري او د خوشحالۍ خبره راوړې وي، نو ماته یې پېش کړه.

حضرت جبرائیل علیه السلام ورته وویل: ای د الله رسوله! ستا د روح د استقبال او ښه راغلي په خاطر الله تعالی د جهنم اور سوړ او یخ کړی، او د جنت اته (۸) دروازې یې خلاصي کړې او د جنت حوري او ملائکي ستا د استقبال په خاطر د جنت پر دروازو ولاړي دي ستا انتظار کوي.

پیغمبر ﷺ چي دا واورېدل نو ډېر ستي یې وفرمایل:

..........مَا لِيْ وَلِلنَّارِ، وَ مَا لِيْ وَلِلْجَنَّةِ﴾

اى جبرائيله! نه زما د جهنم سره څه مطلب دى او نه مي د جنت سره څه تعلق دى، دا راته ووايه:

چي زما په امت کي چي څوک د قرآن کريم قاري وي د هغه لپاره څه رتبه ده؟

د حاجي دپاره کم مقام دى، د روژه نيونکي لپاره الله تعالى څه تيار کړي دي، او د لمونځ ګوزاره لپاره کم اجر دى؟

حضرت جبرائيل عليه السلام د دې ټولو جواب په مختصرو الفاظو داسي ورته پېشوي: چي جنت پر ټولو امتو باندي حرام دئ چي تر څو پوري ستا د امت انسانان ور ننوتلي نه وي، پېغمبر صلى الله عليه وسلم چي کله دا واورېدل نو خاموشه سو.

## د حضرت نوح عليه السلام وفات:

د حضرت نوح عليه السلام عمر د وفات په وخت کي ديارلس سوه (۱۳۰۰) کاله وو، چي کله "ملک الموت" ده ته راغلى، نو حضرت نوح عليه السلام چي کله د "ملک الموت" شکل او صورت وليدى، نو ډېر په وهم او بېره کي سو، او ورته وايي: اى ملک الموت! ته ډېر ژر زما د روح قبض کولو لپاره راغلې.

"ملک الموت" په جواب کي ورته وايي: اى نوحه! په ديارلس سوه (۱۳۰۰) کاله عمر باندي هم ستا زړه نسو سوړ او نه دي د ژوند ارمان پوره سو.

حضرت نوح عليه السلام ورته وايي: اى ملک الموته! زه خو خپل ځان داسي محسوس کوم لکه په يو مکان چي را ننوتم د هغه دوې (۲) دروازې وې، تر دوهمي دروازې بيرته وتلم ته راته ولاړ وې، ما په دې مکان کي هيڅ استوګنه ونکړه.

مګر زموږ نبي صلى الله عليه وسلم ته د مرګ پر وخت چي کله "ملک الموت" راغلى نو هغه د "ملک الموت" سره خبره نه کوله ورته ويې ويل: "جبرائيل امين" چيري دى؟

ای ملک الموته! چي تر څو پوري د حضرت جبرائیل علیه السلام د خولې څخه د خپل امت د مغفرت زېرى وانه ورم تر هغه وخته پوري د خپل روح د کښلو اجازت وتاته نسم در کولای.

نو هغه شاعر وايي:

ببین تفاوت راه از کجا تا بکجا

نو د پیغمبر ﷺ او د نورو انبیاؤ په مابین کي د خپل امت په هکله ډېر زيات تفاوت موجود وو.

**د حضرت موسی علیه السلام وفات:**

حضرت موسی علیه السلام ته چي کله د مرګ پيغام راغلی نو ډېر په وهم کي يې "ملک الموت" پر مخ په چپلاخه وواهی، چي کله پر خپل وفات او د روح پر ختلو باندي راضي سو، نو يې دا وويل: چي ما د "بيت المقدس" مځکي ته ورسوی، چي هلته ورسېدم نو زما روح قبض کړی.

الله تعالی دی "بيت المقدس" ته ورسوی او بیا حضرت عزرائیل علیه السلام د حضرت موسی علیه السلام روح د "بيت المقدس" پر مځکه باندي قبض کړی.(۱)

پیغمبر ﷺ ته "جبرائیل امین" دا وويل: که ته خوشحاله کېږې نو ستا د وفات وروسته به ستا بدن سيده جنت ته ورسوو، پیغمبر ﷺ په جواب کي ورته وويل: چي نه ما د خپل امت په درمیان کي پرېږدی، ما دلې په خاورو کي ښخ کړی، زه پخپل قبر کي د خپل امت لپاره استغفار کوم، او هم به بخښنه ور لره غوارم.

لکه په رواياتو کي راځي: چي په هره دوشنبه او پنج شنبه باندي د امت اعمال اجمالي طور په قبر کي پیغمبر ﷺ ته پېشيږي کچيري نېک اعمال زيات وي، نو دی د الله شکر ادا کوي او کچيري ګناهونه زيات وي، نو دی د الله تعالی په دربار کي د امت

(۱) مواعظ افضل المواعظ صفحه: ۱۵۴

لپاره استغفار او د بخښني دعاګاني غواړي، نو به څنګه د ده امت پر ده باندي ځان نه قربانوي.

## د حضرت جبرائیل علیه السلام راتګ:

د وفات څخه دري (۳) ورځي مخکي حضرت جرائیل علیه السلام راغلی، ورته وایي:

..........﴿یَامُحَمَّدُ، اِنَّ رَبَّكَ یُقْرِئُكَ السَّلَامَ وَهُوَ یَسْئَلُ كَیْفَ تَجِدُكَ﴾.

الله تعالی پر تا باندي سلام وایي: او دا وایي چي ستا مِزاج څنګه دی؟ او ته خپل ځان څنګه محسوسوې؟

پیغمبر صلی الله علیه وسلم په جواب کي ورته وایي:

..........﴿اِنِّيْ اَجِدُنِيْ مَغْمُوْمًا مَهْمُوْمًا﴾.

ای جبرائیل امینه! زه ډېر غمجن او په سوچو او فکرو کي ورک یم، د دې پوښتني څخه وروسته حضرت جبرائیل علیه السلام واپس ولاړی دوهمه ورځ پوښتني ته راغلی نو دغسي پوښتنه یې وکړه، پیغمبر صلی الله علیه وسلم دغسي جواب ور کړی.

دریمه ورځ چي کله راغلی، د پوښتني جواب پیغمبر صلی الله علیه وسلم په هغه الفاظو بیا ور کړی، نو حضرت جبرائیل علیه السلام پوښتنه څني کوي، چي ته په کم غم او فکر کي یې؟ الله تعالی خو ستا په هر غم خبر دی، لېکن بیا هم ته خپل غم پخپله ژبه ښکاره کړه.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وایي: چي زما سره د خپل ګناهګاره امت په دې وخت کي ډېر فکر او خیال دی چي زما د امت د ګناهګارانو مغفرت به الله تعالی په کم شکل وکړي؟

حضرت جبرائیل علیه السلام د الله تعالی پیغام راوړي ورته وایي:

..........﴿اِنَّ رَبَّکَ یُقْرِئُکَ السَّلَامَ، مَنْ تَابَ قَبْلَ مَوْتِهِ بِسَنَةٍ تَابَ اللّٰهُ عَلَیْهِ﴾.

ستا رب تاته سلام پېشوي، او دا فرمایي: کچیري ستا د امت یو مسلمان ګناهګاره د مرګ څخه یو کال د مخه توبه وکاږي زه به د ده توبه قبلوم او ده ته به بخښنه کوم.

..........﴿فَقَالَ: یَا رَبِّيْ اَلسَّنَةُ كَثِیْرَةٌ﴾.

پیغمبر ورته وایي: ای زما مولی د یو کال مده ډېره زیاته ده زما د امت سره آساني وکه.

............ثُمَّ جَاءَ وَقَالَ مَنْ تَابَ قَبْلَ مَوْتِهِ بِشَهْرٍ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِ﴾.

حضرت جبرائیل علیه السلام د سترګو په رپ کي د الله تعالی حضور ته پېش سو، چي کله واپس راغلی، نو ورته وایي: چي رب العالمین فرمایي: کچیري ستا د امت ګناهګار د مرګ څخه یوه میاشت مخکي توبه وکاږي نو زه به د هغه توبه قبلوم.

............فَقَالَ: يَا رَبِّيْ اَلشَّهْرُ كَثِيْرٌ﴾.

پیغمبر ﷺ بیا دا عرض کوي ای زما مولی میاشت خو ډېره زیاته ده زما د امت سره یو څه نوره آساني وکړه.

............ثُمَّ جَاءَ جِبْرِيْلُ وَقَالَ مَنْ تَابَ قَبْلَ مَوْتِهِ بِجُمُعَةٍ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِ﴾.

حضرت جبرائیل علیه السلام واپس ولاړی، یو څه وخت وروسته چي راغلی، نو دا فرمایي: الله تعالی تاته سلام کوي او ستا د امت په باره کي دا آساني کوي چي ته وایې یوه میاشته خو ډېره ده کچیري یوه جمعه مخکي توبه وکاږي نو هم به زه مغفرت ورته کوم.

............فَقَالَ: يَا رَبِّيْ اَلْجُمُعَةُ كَثِيْرَةٌ﴾.

پیغمبر ﷺ حضرت جبرائیل علیه السلام ته وایي: چي ته د الله تعالی په دربار کي دا عرض پیش کړه، چي جمعه هم ډېره ده، ای الله! ته زما د امت تر ګناهونو ورتېر سه.

............فَذَهَبَ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ مَنْ تَابَ قَبْلَ مَوْتِهِ بِيَوْمٍ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِ﴾.

حضرت جبرائیل علیه السلام چي کله د الله تعالی د ملاقات څخه واپس راغلی نو پیغمبر ﷺ ته دا فرمان پیشوي، چي ستا رب فرمایي: چي کم سړی د مرګ څخه یوه ورځ مخکي توبه وکاږي لا به یې هم زه بخښم.

............فَقَالَ: يَا رَبِّ اَلْيَوْمُ كَثِيْرٌ﴾.

پیغمبر ﷺ دا عرض کوي چي ای زما مولی ورځ هم ډېره زیاته ده.

.............ثُمَّ جَاءَ وَقَالَ مَنْ تَابَ قَبْلَ مَوْتِهِ بِسَاعَةٍ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِ﴾.

حضرت جبرائیل علیه السلام بیا د الله تعالی څخه دا فرمان ورته راوړي چي کم سړی د مرګه څخه یو ګړی مخکي توبه وکاږي هغه به هم د خپلو ګناهو څخه پاکیږي.

.............فَقَالَ السَّاعَةُ كَثِيْرَةٌ﴾.

پیغمبر ﷺ ورته وایي: چي ای جبرائیله! یو ساعت هم ډېر زیات دی.

.............ثُمَّ جَاءَ وَقَالَ اِنَّ رَبَّكَ يُقْرِئُكَ السَّلَامَ وَهُوَ يَقُوْلُ اِنْ كَانَ السَّاعَةُ كَثِيْرَةً فَلَوْ بَلَغَ رُوْحُهُ الْحُلْقُوْمَ وَلَمْ يُمْكِنْهُ الْاِعْتِذَارُ بِلِسَانِهِ وَنَدِمَ بِقَلْبِهِ غَفَرْتُ لَهُ وَلَا اُبَالِيْ﴾.(۱)

حضرت جبرائیل علیه السلام چي دا واورېدل نو آسمان ته پورته سو چي واپس راغلی ورته وایي: ای د الله رسوله! الله تعالی تاته سلام پېشوي او دا وایي: کچیري د مرګ په وخت کي ګناهګاره انسان روح وحلقوم او ستوني ته را ورسیږي او ژبه یې بنده سي صرف د خپلو ګناهونو څخه په زړه کي پښېمانه سي، لا هم زه بخښنه ورته کوم، او هیڅ هم د ده د ګناهونو پروا نه کوم.

پیغمبر ﷺ چي کله دا واورېدل نو په زړه کي ډېر خوشحاله سو او د امت غم یې پر زړه باندي سپک سو، سبحان الله، الله تعالی عجیبه مهربانه نبي زموږ د هدایت لپاره را استولی وو.

## د صحابه وو بې قراري:

په مرض وفات کي به اکثریت پر پیغمبر ﷺ باندي د غفلت او بېهوښی حالت وو، په داغه دوران کي به ده اکثره دا ویل:

.............مَا يَفْعَلُ النَّاسُ﴾. خلک څه کوي؟

نو د کور انسانانو به جواب ورکوی:

(۱) مسند الحارث، بغية الباحث عن زوائد المسند، حدیث نمبر ۲۰۵

..........﴿هُمْ يَنْتَظِرُوْنَكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ﴾. خلک د لمانځه لپاره ستا انتظار کوي، نو پيغمبرﷺ د کور انسانانو ته وويل: چي اووه (۷) مشکيزې يخي اوبه زما پر بدن را توی کړئ، شايد چي د "تبي" ګرمي کمه سي او زه به لمانځه ته ور ووځم.

چي کله اووه (۷) مشکيزې اوبه د ده پر بدن مبارک واچول سوې نو د هغو سره هم د پيغمبرﷺ تکليف کم نسو، درې (۳) ځله په داغه دوران کي پر پيغمبرﷺ د بېهوښۍ کيفيت راغلی.

څلورم ځل چي کله دا کيفت زيات سو، نو پيغمبرﷺ وفرمايل: چي تاسو خلکو ته ووايast، چي خپل لمونځ وکړی، نور زما انتظار مه کوئ، زه د لمانځه لپاره د حجرې څخه دباندي نسم راوتلای، او ابو بکرؓ ته ووايast چي لمونځ په جماعت صحابه کرامو ته ور کړه۔

نو حضرت بلال حبشيؓ اذان وکړی، او د اذان څخه وروسته د خپل عام عادت مطابق د پيغمبرﷺ د حجرې مبارکې پر دروازه باندي ودرېدی او دا عرض يې پېش کړی:

..........﴿اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ﴾. بلال حاضر دی.

..........﴿اَلصَّلٰوةُ اَلصَّلٰوةُ يَا رَسُوْلَ اللهِ﴾. لمانځه ته را ووځه.

..........﴿اَلنَّاسُ يَنْتَظِرُوْنَكَ﴾. خلک ستا انتظار کوي.

چي کله د حجرې مبارکي څخه جواب نه راغلی: نو حضرت بلال حبشيؓ لږ ګړی وروسته بيا د حجرې دروازې ته راغلی دا نداء کوي:

..........﴿اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ اَلصَّلٰوةُ اَلصَّلٰوةُ﴾. چي کله دوهم ځل بيا جواب د حجرې څخه نه راغلی؛ ځکه پر پيغمبرﷺ باندي د بې هوښۍ کيفيت دی، دريم ځل بيا حضرت بلال حبشيؓ د پيغمبرﷺ د حجرې په دروازه کي آواز وکړی، په دې ځل باندي د حضرت بلال حبشيؓ آواز پيغمبرﷺ واورېدی ورته وايي: ای بلاله! ورسه ابو بکر ته ووايه: چي خلکو ته لمونځ ور کړه:

.............﴿إِنِّيْ لَا اَسْتَطِيْعُ الْخُرُوْجَ﴾. زه د راوتلو طاقت نه لرم.

حضرت بلال حبشي رضي الله عنه دا واورېدل چي پيغمبر ﷺ د حجرې څخه نه راوځي او د لمانځه د ور کولو امر حضرت ابو بکر رضي الله عنه ته کوي، نو د ژړا په شکل په مسجد نبوي کي دا چيغه کوي، او وايي:

.............﴿وَاغَوْثَاهُ وَا اِنْقِطَاعَ رِجَاهُ وَا اِنْكِسَارَ ظَهْرَاهُ﴾. های زما فریاده اوس خو زما ټوله امیدونه ختم سوه، اوس خو د امیدو په ختمېدو باندي زما ملا ماته سوه، زما "نبي" به په کم شکل بیا جوړېږي او بیا به څنګه راوځي.

.............﴿لَيْتَنِيْ لَمْ تَلِدْنِيْ أُمِّيْ وَاِذَا وَلَدَتْنِيْ لَمْ أَشْهَدْ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ هٰذَا﴾. کاشکي زه خپلي مور دنیا ته راوړی نه وای او که یې راوړی وای بیا د "رسول الله" دا حالت ما په سترګو لیدلی نه وای. حضرت بلال حبشي رضي الله عنه د مسجد څخه ووتئ او په لارو کي د لېونیانو په شکل باندي منډي وهي او ژاړي.

او د هر سړي څخه دا پوښتنه کوي چي "رسول الله" خو په تکلیف دی ایا د ده پر ځای به اوس دوهم سړی لمونځ کوي؟ ایا اوس به "رسول الله" د حجرې څخه بیا د باندي نه راوځي؟ په ژړا کي بیرته مسجد ته راغلی، ابو بکر رضي الله عنه ته وايي: چي "رسول الله" فرمايي: چي زه لمانځه ته نه را وځم ته وخلکو ته لمونځ ورکړه.

په ډېر مشکل سره ابو بکر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ مصلي ته راغلئ، حضرت بلال حبشي رضي الله عنه اقامت وکړی چي کله حضرت بلال حبشي رضي الله عنه په اقامت کي د ﴿اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ﴾ وینا ته ورسېدی، ابو بکر رضي الله عنه او ټولو صحابه وو په محراب کي پیغمبر ﷺ نه ولیدی محراب د "رسول الله" څخه خالي وو، ابو بکر رضي الله عنه په چغو ژړا شروع کړه، صحابه کرامو خپل سرونه او مخان په خاورو پوري موږل او په مسجد نبوي کي د ژړا شور او ږوږ دی.

په دې ږوږ کي پیغمبر ﷺ په هوښ کي راغلی، د خپلي لور مبارکي څخه پوښتنه کوي، چي ای فاطمې! دا څنګه ژړا او ږوږ دی، دا څوک ژاړي؟ حضرت فاطمة

الزهراء‌ رضي الله عنها ورته وايي: چي انصار او مهاجرين ستا صحابه کرام ټول په مسجد کي په ژړا اخته دي.

پیغمبر ﷺ ورته وايي: چي ولي ژاړي؟ دا مبارکه جواب ور کوي: چي ته کله لمانځه ته نه ور ووتې هغوی چي ستا مصله او محراب خالي وليدل، نو د هغوی هوش او حواس کمزوري سوه، نو ستا په مفارقت کي ژړا کوي.

انصارو خپل کورونه پرې ايښي دي او ټوله شپه او ورځ ستا پر حجره باندي ستا د حال معلومولو لپاره راګرځي، چي شايد موږ به د "رسول الله" آواز واورو يا به يې په سترګو ووينو، ای د الله رسوله! کچيري نن انصار صحابه کرام تا په مسجد نبوي کي نه ويني: نو انصار به د دې غم نه برداشت کولو په خاطر باندي مړه سي.

پیغمبر ﷺ چي کله د حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها څخه دا کلام واورېدی ورته وايي: چي علي او عباس رضي الله عنهما دواړه را وبوله، چي کله هغه دوه (۲) مبارکان حجرې ته حاضر سوه، پیغمبر ﷺ په ډېر مشکل سره د هغوی پر اوږو باندي لاسونه کېښېښول او پښې پر ځمکه ورپسي ښکېږي مسجد ته را ووتی، د منبر پر لوړه زينه نه سو پورته کېدلای پر لاندي زينه باندي کښېنستی، او صحابه کرامو ته يې دا وينا وکړه، ای زما صحابه وو! تاسو ولي ژاړئ؟ هغوی په جواب کي ورته وايي: ای د الله رسوله! د څه زمانې څخه مو نه ستا آواز اورېدلی دی نه مو ستا جمال مبارک ليدلی دی، او موږ ستا خدمت ته حضرت بلال حبشي رضي الله عنه در واستوی، حضرت بلال حبشي رضي الله عنه چي واپس راغلی، نو ويل يې چي رسول الله ﷺ فرمايي: زه دباندي نه سم در وتلای ابو بکر رضي الله عنه دي لمونځ در کړي.

ای د الله رسوله! دلته چي موږ کله ستا مصله خالي وليدله نو زموږ زړونه سره چاودل موږ صبر نسو کولای. پیغمبر ﷺ ورته وايي: چي اوس خو زه ژوندی يم ستاسو ژړا اورېدل ما نه سوه برداشت کولای نو د بې قرارۍ په حالت کي د حجرې څخه را ووتلم، مګر اوس خو دا قريبه ده چي بيا به تاسو ما دلته نه کړئ پيدا.

ای زما امته! دا ښکاره خبره ده چي اوس زه د خپل الله جل جلاله دربار ته ځم او تاسو ټوله خپل الله تعالی ته سپارم، يو صحابي د عاشق صادق په شکل ږغ ور باندي کوي، چي

ای د الله رسوله! بیا به زموږ ستا سره کله ملاقات نصیب سي، پیغمبرﷺ ورته وایي: چي بیا ملاقات زموږ او ستاسو به پر حوض کوثر باندي کیږي.

ای زما صحابوو! زه ستاسو څخه رخصت اخلم کچیري یو څوک زما څخه وروسته زما پوښتني ته راغلی، هغه ته زما سلام ووایاست، زما څخه وروسته به حضرت معاذ رضي الله عنه د "یمن" څخه زما په فراق کي په ژړا باندي راځي هغوی ته زما سلام ووایاست. او زما د طرفه دا ورته ووایاست چي ای معاذه! ته به د قیامت په ورځ د ټولو علماؤ د سردار په شکل را پورته کیږې. دا د پیغمبرﷺ آخري خطبه وه د دې څخه وروسته بیرته حجرې مبارکې ته ننوتی، د دغه ورځي څخه وروسته بیا هیڅکله هغه افتاب نبوت د چا په نظر کي را نغلی، دوهمه ورځ حضرت عباس رضي الله عنه د حضرت علي رضي الله عنه څخه پوښتنه کوي، چي ای علي! د پیغمبرﷺ مزاج څنګه وو؟ حضرت علي رضي الله عنه ورته وایي:

..........اَصبَحَ بِحَمْدِ اللهِ بَارًا﴾. نن خو یو څه دپیغمبرﷺ مزاج ښه وو، حضرت عباس رضي الله عنه ورته وایي: ای علي! دوې (٢) ورځي بعد کچیري ته څراغ پسي واخلې چي هر څومره طلب یې وکړې، بیا به پیغمبرﷺ پیدا نکړې، د نن څخه دوې (٢) ورځي بعد به پیغمبرﷺ رخصتیږي، زه د "عبدالمطلب" د اولاد د مرګ نښاني ډېري ښه پېژنم د ده د مخه څخه ماته د ده د مرګ علامات را ښکاره سوه، زما دا یقین دی چي دی مبارک به د دې مرض څخه شفا پیدا نه کړي، نه به صحت یابه سي.(١)

لکه څنګه چي حضرت عباس رضي الله عنه ویلي وه خاص پر هغه وخت باندي د پیغمبرﷺ وفات مبارک راغلی وخت چونکه مختصر دی کچیري زندګي وه د پیغمبرﷺ د وفات بقیه حصه به انشاء الله په آئنده جمعه کي پېشوو، الله تعالی دي دا څو مختصري خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي ورګرځوي.(آمین یا رب العالمین)

وَصَلَّى اللهُ تَعَالى عَلى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْن.

(١) تاریخ الخمیس، باب اسراره ﷺ الی فاطمة صفحه، ١٦٣

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللّٰهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآيه)

# د وفات دوهم بيان

(بيان)

مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹه

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | اول |
| تـــاريـــــخ | جمادي الاولى ۱۴۴۲ بمطابق ۲۴ جنوري ۲۰۲۱ |
| تـعـــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ، وَيَبْقَى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ ﴿اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ وَارْحَمْنِيْ وَأَلْحِقْنِيْ بِالرَّفِيْقِ الْأَعْلٰى﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْمِ وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰه رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## د سکرات کیفیت:

محترمو حاضرینو! په تېره جمعه کي ما ستاسو په مخ کي د پیغمبر ﷺ د سیرت د بیاناتو په تسلسل کي د ده مبارک د وفات یو څه حصه پیش کړه.

نن بیا زه د پیغمبر ﷺ د وفات مبارک د باقي حصې د بیانولو تکمیل کوم، الله تعالی دي موږ او تاسو ټولو ته د پیغمبر ﷺ پر طریقه مبارکه باندي ژوند را په نصیب کړي، هم دي زموږ او ستاسو د زندګی اختتام او وفات د پیغمبر ﷺ پر طریقه باندي زموږ په قسمت او په نصیب کي را ولي.

## د حضرت عزرائیل علیه السلام راتلل:

حضرت "عائشه مبارکه" فرمایي: چي په کمه شپه پیغمبر ﷺ وفات کېږي په دا غه شپه پر ده مبارک باندي د بېهوښی کیفیت دی، چي کله لږ په هوښ کي راغلی، ماته

(۱) سورة الرحمٰن، آیت نمبر: ۲۶-۲۷

(۲) السيرة النبوية لابن كثير، باب ذكر امره ﷺ صفحه: ۴۷۷

وايي: چي ای عائشې! د زکوة د مال څخه اووه (٧) اشرفۍ زما سره امانت پرتې دي، هغه اشرفۍ ډېر ژر خپل مستحق ته ورسوه.

حضرت عائشه رضي الله عنها وايي: چي کله ما هغه اشرفۍ خپل مستحق ته ورسولې نو پر ده مبارک باندي بیا د بې هوښۍ کیفیت راغلی نو د حجرې په دروازه کي یو سړي دا نداء وکړه:

.............اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ اَهْلَ بَيْتِ النُّبُوَّةِ وَمَعْدَنِ الرِّسَالَةِ هَلْ اَدْخُلُ﴾.

د سلام ویلو څخه وروسته هغه حجرې ته د راننوتلو اجازه غواړي.

په حجره کي یو چا هغه ته دا جواب ور کړی، چي پر پیغمبر ﷺ باندي د بیهوښۍ کیفیت دئ، وتاته د ننه د راتللو اجازه نسته، هغه بیا نداء وکړه:

.............اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ هَلْ اَدْخُلُ﴾. او د داخلېدو اجازت غواړي.

په دې ځل د هغه آواز د پیغمبر ﷺ غوږ ته راورسېدی، نو د حضرت فاطمې رضي الله عنها څخه پوښتنه کوي، چي دا څوک دی، هغه په جواب کي ورته وايي: چي ناولده سړی دئ، حجرې ته د راننوتلو اجازت غواړي او موږ هغه ته اجازت نه ور کوو.

پیغمبر ﷺ ورته وايي: ای فاطمې! تاته دا معلومه ده چي دا څوک ولاړ دی، چي د را ننوتلو اجازه غواړي؟ دا هغه څوک دی چي د خلکو کورونه خرابوي او قبرونه آبادوي، او بچیان یتیمان کوي، او زناني کونډاني کوي، او یو دوست د بل دوست څخه جلا کوي، دا روح اخیستونکې فرشته "ملک الموت" دی، ډېر ژر ده ته د ننه راتللو اجازت ور کړه.

حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها چي کله دا واورېدل نو بې اختیاره په ژړا سوه، وايي:

.............وَا اَبَتَاهُ خَرِبَتِ الْمَدِيْنَةُ﴾.

های افسوس نن خو به مدینه ویرانه سي، یا الله! ستا رسول د مدینې څخه رخصتېږي "ملک الموت" د ده د روح اخیستلو لپاره راغلی دی.

نو په دې دوران کې "ملک الموت" حجرې ته راننوتی، او پر پیغمبرﷺ باندې د بېهوښۍ حالت دی، نو حضرت فاطمة الزهراءؓ ډېره ژړا وکړه د هغې د ډېرې ژړا څخه وروسته، پیغمبرﷺ د افاقې په حالت کې سو او ورته وايي: ای فاطمې! دومره ژړا مه کوه ستا د ژړا پخاطر د آسمان فرښتې او د عرش حاملان په ژړا دي.

پیغمبرﷺ پخپل لاس سره د حضرت فاطمة الزهراءؓ اوښکې ور وچوي، ورته وايي: چې ډېر ژر به د ټولو څخه مخکې ای فاطمې! ته زما سره ملاقات وکړې؟

بیا "ملک الموت" ته وايي: ای ملک الموته! حضرت جبرائیل چیرې دی؟ هغه ورته وايي: چې حضرت جبرائیلؑ پر اووم آسمان دی، او د آسمان ملائکې حضرت جبرائیلؑ ته تعزیت او تسلي ور کوي، چې ای جبرائیله! نن خو ستا رسالت ختم سو، او نن ستا د قرآن کریم رسولو مسئولیت پای ته ورسېدی، که جناب رسول اللهﷺ د دنیا څخه وفات سو، نو ای جبرائیله! ته هم بیا دنیا ته د وحې وړونکې په شکل نور نسې تللای.

په دې دوران کې حضرت جبرائیلؑ را حاضر سو، پیغمبرﷺ ته وايي: چې الله تعالی تا ته سلام را استوي او ستا د مزاج پوښتنه کوي، پیغمبرﷺ ورته وايي: ای جبرائیله! الله تعالی په هغه عالم کې زما لپاره څه تیار کړي دي؟

جبرائیلؑ جواب ور کوي، چې الله تعالی د دوږخ اور سوړ کړی دی، او جنت یې درته را آراسته کړی دی، او حورې او ملائکې پر آسمان باندې ستا د راتګ انتظار کوي، او د جنت "رضوان" فرښته هم د جنت په دروازه کې ستا په انتظار کې ولاړه ده.

پیغمبرﷺ ورته وايي: ای جبرائیله! دا راته ووایه: چې زما څخه وروسته به زما د امت سره څه کېږي؟

نو حضرت جبرائیلؑ ورته وايي: چې الله تعالی ستا د امت سره دا آسانې کوي د چا ساه چې تر ستوني پورې را ورسیږي هغه صرف په زړه کې د ګناه څخه توبه وکاږي، یا د توبې کښلو لپاره شونډان سره وښوروي، لا به هم الله تعالی د ده د زرو (۱۰۰۰) کالو ګناهونه ور معافوي.

او کم ځا چې توبه نه وکښه او بغیر د توبې مړ سو، هغه به ستا په شفاعت سره بخښل کیږي، ته چې د کم ځا شفاعت کوې، الله تعالی ته به ستا شفاعت منظور او مقبول وي، نو ته د امت په وجه باندي دېر مه غمجن کېږه!

## د اول آسمان متصرفه فرشته راتلل:

په دې دوران کې یوه بله فرشته د پیغمبر ﷺ خدمت ته را حاضره سوه، پیغمبر ﷺ د جبرائیل علیه السلام ځخه پوښتنه وکړه چې دا څوک ده، هغه په جواب کې ورته وویل: چې دا اسماعیل علیه السلام فرشته ده، او دا د اول آسمان دامورو متصرفه ده.

چې کم وخت دې ته د معراج په شپه لیدلی یې، نو دا ستا پر جمال باندې عاشقه ده، نن و دې ته دا معلومه سوه، چې ډَی د دنیا ځخه رخصتیږي نو دې د الله تعالی په دربآر کې دا عرض پیش کړی، چې یا الله! ماته یو ځل د ده په زندګي کې د ده زیارت را نصیب کړه، نو دا د رب العزت په اجازه سره ستا مبارک زیارت لره را حاضره سوې ده.

بیا حضرت جبرائیل علیه السلام پیغمبر ﷺ ته وایي: چې "ملک الموت" خو حاضر دی، پیغمبر ﷺ د "ملک الموت" ځخه پوښتنه کوي، چې ای ملک الموته! زما د زیارت کولو او که د روح قبض کولو لپاره راغلی یې، "ملک الموت" په جواب کې ورته وایي: ماته الله تعالی دا حکم را کړی دی، چې د رسول الله ځنګه مرضي او خوښه وي، هغسي ور سره وکړه، کچیري د روح په قبض کېدو راضي وو، روح یې قبض کړه، او که نه وو راضي صرف زیارت یې وکړه واپس راځه.

پیغمبر ﷺ حضرت جبرائیل علیه السلام ته وکتل، حضرت جبرائیل علیه السلام ورته وایي: ای د الله رسوله! الله تعالی ته ور بللی یې اوس په دنیا کې استوګنه مه خوښوه، ځکه د جنت حورې او غلمان ستا د زیارت کولو په شوق دي، او ملائکې ستا د دیدار منتظري دي.

پیغمبر ﷺ ته دا ور ښکاره سوه چې اوس الله تعالی ته منظوره دا ده چې "دار الفناء" پرېږدم او "دار البقاء" د ځان لپاره خوښ کړم، نو یې وفرمایل: زما زوجات مطهرات ماته را وبولی چې کله ټولې زوجات مطهرات را حاضري سوې، نو ډَی ورته وایي:

چي تاسو به صبر کوئ! او د تقوی سره به خپل ژوند تېروئ، او د خپلو کورو څخه به دباندې نه وځئ!.

حضرت ام سلمة رضي الله عنها ورته وايي: چي ای د الله رسوله! پر تا څنګه حالت دی؟ دَی په جواب کي ورته وايي: چي هغه وخت ډېر نږدې دی: چي تاسو به بيا نه زما آواز واورئ، او نه به ما پخپلو سترګو وويني!

د دې څخه وروسته پيغمبر ﷺ وفرمايل: چي ای فاطمې! د "حسن" او "حسين" د رابللو لپاره يو څوک ور واستوه، حضرت "فاطمې" يو سړی ور واستوی او دا يې ورته وويل: چي په ډېر تلوار سره "حَسَنَين" را وبولی، ځکه د سيد المرسلين ﷺ د وفات وخت ډېر را نږدې دی.

هغه سړی د "حسن" او "حسين" د رابللو لپاره ولاړی او دا يې ورته وويل: چي ډېر ژر راځئ، پيغمبر ﷺ تاسو طلب کړي ياست، حضرت حسن او حسين رضي الله عنهما ورته وويل: چي دومره تلوار ولي دہ، ايا زموږ د نيکه د وفات وخت را نږدې دی او که دَی وفات سوی دی؟ د ډيري پرېشانی په شکل په منډه د پيغمبر ﷺ حضور ته راغلل، پيغمبر ﷺ د خپل ځانه سره کښېنول او د دوی پر سرو يې لاس ور تېر کړی.

او دا يې ورته وويل: چي زما د امت ظالمان به پر تاسو باندي ظلم کوي، حضرت "فاطمه" ورته وايي: چي ای د الله رسوله! زما پر دې بچيانو به هم ظلم کېږي؟ که چيرې داسي وي، نو ستا څخه بعد به موږ وچاته د خپل مظلوميت تذکره کوو.

پيغمبر ﷺ ورته وايي: ستاسو دپاره ستاسو الله کافي دی، حضرت "حسن" او "حسين" چي د دہ د وفات خبري واورېدلې، نو په ژړا سوہ، د دوی په آواز سره د صحابه وو هغه مجمع چي د حجرې شريفي پر څلور طرفه را جمع وہ، ژړا شروع کړه، او دا نعره يې کوله،

............وَا مُحَمَّدَاهُ مَنْ يَكُونُوا لِأُمَّتِكَ بَعْدَكَ﴾.

چي ای محمده! ستا څخه وروسته به ستا د امت لپاره څوک وي، پيغمبر ﷺ چي دا واورېدل نو په ژړا سو.

ام سلمې ﷺ وويل: اى د الله رسوله! ته خو به په هر حال کي يو دېر مبارک ځای ته تشريف وړې، نو ته ولي ژړا کوې، ده په جواب کي ورته وويل:

.........لِفِرَاقِ أُمَّتِيْ﴾. زه د خپل امت د جدائی په غم کي ژاړم.

چي کله د صحابه کرامو د ژړا آوازونه پورته سوه، پيغمبر ﷺ حضرت علي ﷺ ته وويل: چي زما د حجرې پرده پورته کړه چي زه خپل آخرنی نظر امت ته وکړم، او خپل امت ووينم.

حضرت علي ﷺ پرده پورته کړه، او صحابه کرام د پيغمبر ﷺ د حجرې دروازې ته نږدې راغلل، نو هغه د لېونيانو غوندي ژړاوي کوي، پيغمبر ﷺ ورته وويل: اى په مصيبت زده انسانانو! صبر وکړئ، زه ځم ستاسو لپاره "حوض کوثر" او جنت آراسته کوم تاسو به د ټولو څخه مخکي جنت ته ورځئ، او ستاسو د مخه به يو امت هم جنت ته نه داخليږي.

اى زما امته! د اسلام پر دين باندي قائم اوسئ! او قرآن د ځان پېشوا او امام جوړ کړئ، او بيا وايي: اى الله! ما ستا پيغام خپل امت ته ورسوئ، په دې وينا وينا کي د پيغمبر ﷺ سترګي مبارکي پټې سوې، او پر تندي مبارک يې خوله راغله، او د بېهوښۍ حال ورته عارض سو.

حضرت علي ﷺ صحابه کرام په اشاره سره د حجرې د دروازې څخه رخصت کړه، چي کله صحابه کرام ليري سوه، حضرت "فاطمې" پوښتنه ځني وکړه، چي اى د الله رسوله! د حشر په ورځ به موږ تا چيري پيدا کوو، ده په جواب کي ورته وويل: د "لواءِ الحمد" لاندي.

هغه بيا ورته وايي: که هلته زموږ ستا سره ملاقات نه وَسو نو به بيا چيري تا پيدا کوو، نو دَی ورته وايي: پر "حوض کوثر" باندي، که هلته نه وم، نو د "ميزان عدالت" سره چي هلته د امت اعمال تلل کيږي، که هلته هم نه وم، نو پر "پل صراط" باندي چي زما امت تېريږي، زه به هلته د جهنم پر کناره ولاړ يم، د خپل امت د سلامت تېرېدلو لپاره به دعاء کوم.

چي کله پیغمبرﷺ د ټولو د وصیت څخه فارغه سو، نو ورته وایي: چي ای ملک الموته! ماته د خپل رب د ملاقات شوق دی، اوس چي ته د کم کار دپاره راغلی یې، هغه کار وکړه، یعني پیغمبرﷺ د خپل روح د قبض کولو اجازت "ملک الموت" ته ور کړی.

حضرت عزرائیل علیه السلام د ده د روح مبارک قبض کول شروع کړه، د مرګ او د زکندن د تکلیفه څخه د پیغمبرﷺ پر تندي مبارک باندي خوله راغله، او د ده د سکرات او د روح ختلو کیفیت شروع سو، نو په دې دوران کي دَی مبارکِ فرمایي:

............اَللّٰهُمَّ اِنَّ الْمَوْتَ سَكَرَاتٌ﴾. ای الله! د مرګ تکلیف ډېر سخت دی.

............اَللّٰهُمَّ اَعِنِّيْ لِيْ سَكَرَاتِ الْمَوْتِ﴾. ای الله! د مرګ په تکلیف کي زما سره آساني وکړه، د خاورو په یو پیاله کي پیغمبرﷺ ته اوبه پرتې دي، د مرګ د سختی په خاطر هر ګړی په هغه اوبو کي لاس وهي، او بیا هغه لوند لاس پر خپل تندي باندي تېروي او دا وایي:

............اَللّٰهُمَّ بِالرَّفِيْقِ الْاَعْلٰى﴾.ای الله! ما خپل طرفته در وبولې.

حضرت فاطمة الزهراء چي کله د پیغمبرﷺ تکلیفویني: نو هغه په ژړا کي دا وایي:

............وَاكَرْبَ اَبَاهُ﴾.

ای زما د پلار تکلیفه څکه هغې پیغمبرﷺ په ډېر تکلیف کي محسوسوئ، پیغمبرﷺ په جواب کي ورته وایي:

............لَيْسَ عَلٰى اَبِيْكِ كَرْبٌ بَعْدَ الْيَوْمِ﴾.

ای فاطمې! د ننه څخه روسته به بیا هیڅکله ستا پر پلار باندي تکلیف را نه سي، ای فاطمې! چي کله زه وفات سم ته د ﴿اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ﴾ وِرد ډېر کوه.

پیغمبرﷺ حضرت عزرائیل علیه السلام ته اشاره کوي، چي ته خپله زمه واري یعني د روح کښل جاري ساته، نو د پیغمبرﷺ د زکندن تکلیف زیات سو، حضرت جبرائیل علیه السلام

د پیغمبر ﷺ څخه مخ بل طرفته واړوی، پیغمبر ﷺ ورته وایي: ای جبرائیله! ایا په دې وخت کي زما مخ تاته ښه معلومیږي چي خپل نظر دي را څخه واړوی؟

حضرت جبرائیل علیه السلام وژړل په جواب کي ورته وایي: چي ای د الله رسوله! زما په زړه کي دومره وس او طاقت نسته چي ستا د نزع او د زکندن حالت لیدل برداشت کړم.

په دې دوران کي پیغمبر ﷺ وفرمایل:

.............اَلصَّلٰوةُ اَلصَّلٰوةُ﴾.

ای خلکو! تاسو د لمانځه حفاظت کوئ، د دې وینا کولو څخه وروسته بیا فرمایي:

.............یَا رَبِّ اُمَّتِیْ یَارَبِّ اُمَّتِیْ﴾.

د دې کلمې د ویلو په وخت کي د پیغمبر ﷺ روح مبارک د بدنه څخه تر سینې پوري راټول سو، مګر د امت د ګناهګارانو کلمه یې پر خوله باندي جاري وه.

حضرت جبرائیل علیه السلام ورته وایي: ای د الله رسوله! الله تعالی فرمایي: چي د امت دومره زیات محبت ستا په زړه کي چا اچولی دی؟ پیغمبر ﷺ په جواب کي ورته وایي: ای جبرائیله! الله تعالی اچولی دی.

حضرت جبرائیل علیه السلام ورته وایي: چي الله تعالی فرمایي: چي زه خو ستا پر امت باندي تر تا زر (۱۰۰۰) درجې زیات مهربانه یم، ای نبي! ته خپل امت ماته وسپاره او د زکندن حالت پر ځان باندي آسانه کړه.

پیغمبر ﷺ حضرت جبرائیل علیه السلام ته وایي: چي اوس زما زړه او سینه څنګه سوه، سید الکونین ﷺ د نزعي په حالت کي دی، او د دنیا د قلت پخاطر د ده په حجره مبارکه کي چي کم څراغ دی، د هغه د بلېدلو لپاره د تیلو څه بندوبست نسته.

حضرت "عائشه مبارکه" د همسایه کور ته څراغ وراستوي، هغوی ته دا وایي: چي د الله تعالی پخاطر په دې څراغ کي یو څو څاڅکي تېل را واچوی، د الله تعالی رسول ﷺ په تیاره کي وفات کیږي.

د نزعې په حالت کې پيغمبر ﷺ خپل لاس د آسمان طرفته بار بار پورته کوي، او دا کلمه يې پر ژبه باندې جارې ده:

................اَللّٰهُمَّ بِالرَّفِيْقِ الْاَعْلٰى﴾.

په دې دوران کې يو دم د پيغمبر ﷺ مزغی او غاړه مبارکه يو طرفته را مائله سوه او روح مبارک يې د آسمان طرفته پرواز وکړی، او په حجره مبارکه کې يو دم خوشبويي سره خوره سوه.

اهل بيت مبارکان په دې پوه سوه، چې پيغمبر ﷺ د الله تعالی طرفته رخصت سو، واپس به را نسي، حضرت علي رضي الله عنه فرمايي: چې ما د "ملک الموت" آواز واورېدی، چې ده روح مبارک يې قبض کړی، او د آسمان طرفته روان سو.

حضرت "فاطمې مبارکې" چې کله دا واورېدل چې د پيغمبر ﷺ روح مبارک پرواز وکړی، راغله، وسرته ورته کښېنسته مخ مبارک يې ور لڅ کړی، چې کله دا ورته گوري، نو گواکې پيغمبر ﷺ آرام کوي، او پر تندې مبارک يې خوله ده، نو دې دا نداء وکړه:

................يَا اَبَتَاهُ أَجَابَ رَبًّا دَعَاهُ﴾. ای د الله نبي! تا د خپل رب دعوت قبول کړی.

................يَا اَبَتَاهُ إِلَى جِبْرِيلَ نَنْعَاهُ﴾. ای د الله نبي! اوس که چيري جبرائيل عليه السلام ستا د تلاش کولو لپاره راسي، نو مور به ورته وايو: چې ای جبرائيله! ته څوک تلاش کوې، تا چې کم څوک ليدی، هغه د دنيا څخه رخصت سوی دی.

................يَا اَبَتَاهُ مِنْ جَنَّةِ الْفِرْدَوْسِ مَأْوَاهُ﴾. ای نبي! تا په جنة الفردوس کې خپل ځای ځان ته پيدا کړی.(1)

## د صحابه کرامو رضي الله عنهم غم:

چې کله د حجرې مبارکې څخه د ژړا آوازونه را ووتل، او صحابه کرامو واورېدل، ټولو د بېتابۍ په شکل د پيغمبر ﷺ د حجرې مبارکې د دروازې پر چارچوب سرونه

(1) الانوار في شمائل المختار، باب في مرضه ﷺ صفحه: ۷۵۲

کنبېښول، د پېغمبرﷺ د وفات د خبر برداشت کولو څخه د صحابه کرامو عقلونه عاجزه سوه.

حضرت عبدالله ابن انيس رضي الله عنه د پېغمبرﷺ د انتقال د اورېدو څخه پر هغه ځای باندي وفات سو.

حضرت عمر رضي الله عنه د لېونيانو په شکل د حجرې مبارکې دروازې ته راغلی او دا عرض يې پېش کړی: چي ما يو ځل د پېغمبرﷺ سره يو ځای کړی، او ماته يو ځل د پېغمبرﷺ مخ مبارک را ښکاره کړی.

اهل بيتو حضرت عمر رضي الله عنه حجرې ته راوبولی، حضرت عمر رضي الله عنه چي کله په حجره کي ګوري نو پېغمبرﷺ په يو چادر مبارک کي پروت دی، د حضرت عمر رضي الله عنه زړه يې نه مني، چي پېغمبرﷺ وفات سوی دی.

چي کله د حجرې څخه دباندي را ووتی، نو توره يې وکښله په کوڅو کي ګرځي او دا وايي: ای خلکو! پېغمبرﷺ وفات سوی نه دی، بلکه د الله تعالی حضور ته د قرآن کريم د راوړلو لپاره تللی دی، لکه حضرت موسی عليه السلام چي د تورات را وړلو لپاره د الله تعالی حضور ته تشريف وړی وو، داغه رنګه پېغمبرﷺ هم د الله تعالی دربار ته ورغلی دی.

حضرت ابوبکر رضي الله عنه چي کله د پېغمبرﷺ د وفات خبر واورېدی، نو حجرې ته راغلی او په حجره کي يې د سترګو مبارکو څخه اوښکي بهېږي او د سلګی وهلو څخه يې ساه بنده کېږي او په حجره کي پېغمبرﷺ پر ملحکه باندي آرام دی، او يو زوړ "يماني" پټو او چادر ورباندي هوار دی.

حضرت ابوبکر رضي الله عنه چي يې د مخ مبارک څخه پټو پورته کړی، نو د خولې څخه يې يو چيغه وخته وايي: ﴿وَانَبِيَّاهُ﴾ ای د الله نبي! ته چيري تللی يې؟ ﴿وَاصَفِيَّاهُ﴾ ای د ټوله انسانيت بزرګه! په تا څه سوي دي! بيا يې د خولې څخه يو چيغه وخته او وايي: ﴿وَاخَلِيْلَاهُ﴾ ای حبيبه! ته رخصت سوې مورږ دي پرېښولو.

..........قَدْ انْقَطَعَ لِمَوْتِکَ مَا لَمْ يَنْقَطِعْ لِمَوْتِ اَحَدٍ مِنَ الْاَنْبِيَاءِ قَبْلَکَ﴾.

نن د وحی سلسله قطع سوه، چي د يو لک او څلورويشت زره (۱۲۴۰۰۰) زيات او کم انبياؤ په وفات سره نه وه قطع سوې.

ای د الله رسوله! که چيري ستا مرګ زموږ په اختيار کي وای، نو موږ به ستا په بدله کي خپل ځانونه قربان کړي وای، خو ته به مو هيڅ کله مرګ ته نه وای ورکړی.

ای د الله رسوله! کچيري تا وله دنيا سره يو ځای سي، او ستا پر مرګ باندي ژړا وکړي، ستا د وفات څخه چي کم غم زموږ پر زړو دی، هغه به سپک نه سي.

ای د الله رسوله! د خپل رب په دربار کي موږ دا غسي يو ځي مه پرېږده، لکه څنګه چي دي په دنيا کي پرېښولو.

د دې څخه وروسته حضرت ابوبکر ﷛ د حجرې څخه راووتی د صحابه کرامو تر دې وخته پوري دا اميد او طمعه وه، چي شايد پيغمبر ﷺ به د بيماری په وجه د بې هوښی په کيفيت کي وي.

لېکن د حضرت ابوبکر ﷛ د راوتلو سره ټول پر را وګرځېدل، دا پوښتنه ځني کوي:

.........يَا صَاحِبَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ اَ قُبِضَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ؟﴾. ای د رسول الله مصاحب او ملګرې! ايا پيغمبر ﷺ وفات سو؟

.........قَالُوْا يَا صَاحِبَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ اَ يُغَسَّلُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ﴾. ای د رسول الله ﷺ صحابي! ايا رسول الله ﷺ ته به غسل ورکول کيږي؟

.........قَالُوْا يَا صَاحِبَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ اَيُصَلّٰى عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ﴾. ايا رسول الله ﷺ ته به د جنازې لمونځ ورکول کيږي؟ دَی خو د ټولو امام وو، ايا د ده د جنازې د لمانځه امام به څوک وي؟

.........قَالُوْا يَا صَاحِبَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَيُدْفَنُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ﴾. ای د رسول الله ﷺ ملګرې! ايا رسول الله ﷺ به په مځکه کي ښخيږي؟.[1]

[1] شمائل محمديه للترمذي، باب ما جاء في وفاة رسول الله ﷺ صفحه، ۲۲۵

حضرت ابوبکر ﷺ د دې ټولو پوښتنو جواب په ﴿نعم﴾ سره ور کوي، او ټولو صحابه کرامو ته د تسلی ور کولو پخاطر دا ویناکوي:

..........أيها الناس، إنه من كان يعبد محمدا فإن محمدا قد مات﴾. ای خلکو! کم چا چې د "محمد" عبادت کوی، نو "محمد" خو د دنیا څخه رخصت سو، ځکه د الله دا فیصله ده؛

..........كل من عليها فان، ويبقى وجه ربك ذو الجلال والإكرام﴾.(۱) چې هر څوک په دنيا کې د فناء سره مخامخ کيږي صرف د الله تعالی ذات به باقي وي.

..........ومن كان يعبد الله فإن الله حي لا يموت﴾. او کم چا چې د الله تعالی عبادت کوئ، الله تعالی ژوندی دی، موجود دی، تاسو صبر کوی، او د الله تعالی په عبادت او یاد کې خپله زندگي تېره کړی.(۲)

## پیغمبر ﷺ ته غسل ور کول:

چې کله پیغمبر ﷺ ته غسل ور کول کیږي نو د اهل بیتو څخه ماسوا نور ټوله انسانان د حجرې څخه وایستل سوه، د پیغمبر ﷺ د وصیت مطابق اهل بیتو ده ته غسل ور کړی.

د غسل په وخت کې د اهل بیتو په مابین کې اختلاف سو، چې ایا د پیغمبر ﷺ د بدنه څخه به لباس لیري کیږي او بیا به غسل ور کول کیږي او که به سره د لباسه غسل ور کول کیږي؟ خو بهر حال چې د پیغمبر ﷺ د غسل څخه دوی فارغ سوه، پیغمبر ﷺ ته یې کفن ور کړی، او د جنازې د لمانځه لپاره د حجرې څخه یې دباندي را وایستی.

## د جنازې لمونځ کول:

چې کله د ده د جنازې لمونځ اهل بیتو وکړی، نو انصار او مهاجر د لمانځه لپاره ولاړ سوه، نو ډېر حیران دي، د حضرت علي ﷺ څخه پوښتنه کوي: چې ای علي! موږ په

---

(۱) سورة الرحمن، آیت نمبر: ۲۶-۲۷

(۲) سيرة ابن هشام، جزء: ۲، صفحه: ۶۵۶

دې نه پوهيږو چې د پيغمبرﷺ د جنازې لمونځ څنګه وکړو؟ ته د خداى پخاطر موږ ته دا راوښيه چې موږ په دې لمانځه کي څه ووايو؟

حضرت عليؓ ورته وايي: چې تاسو دا ووايا ست! چې يا الله! خپل ټول رحمتونه پر خپل نبي نازل کړه، يا الله! ستا نبي ستا ټول احکام امت ته ورسول، يا الله! ستا نبي زموږ هر قسم خدمت وکړى، او موږ د دې نبي هيڅ خدمت نه دى کړى، انصارو د جنازې په لمانځه کي دا رنګه دعاء وکړه او لمونځ يې ختم کړى.

## قبر ته شوه کول:

په رواياتو کي راځي چې حضرت عليؓ او فضل بن عباسؓ او شقرانؓ (چې د پيغمبرﷺ غلام وو) د پيغمبرﷺ وقبر ته د شوه کولو لپاره وقبر ته ور شوه سوه. انصارو دا عرض پيش کړى چې اى اهل بيتو! ايا په دې آخري خدمت کي زموږ څه حصه نسته؟ نو حضرت عليؓ حضرت اوس انصاريؓ هم قبر ته را شوه کړى.

دې صحابه کرامو په خپلو لاسو کي د پيغمبرﷺ جسد مبارک د قبر په ډوري کي کښښوى، او په اوو (۷) کچه خښتو سره يې د پيغمبرﷺ د قبر ډوري وپوښله.

کم څادر چې پيغمبرﷺ پخپل ژوند کي پر خپل ځان باندي اچوى، د وفات څخه وروسته هغه پر پيغمبرﷺ هوار وو، شقرانؓ هغه څادر په قبر کي پر پيغمبرﷺ هوار کړى، او دا يې وويل: چې اوس به تر تا څوک بهتر په دې دنيا کي پيدا کيږي، چې ستا د کپړې د استعمالولو لائق وي.

بيا يې پخپلو لاسو سره قبر د خاورو ډک کړى، حضرت بلالؓ د اوبو مشکيزه په لاس کي ولاړ وو، چې د پيغمبرﷺ پر قبر مبارک يې د مشکيزې څخه اوبه پاشلې او د سترګو څخه يې اوښکي رواني وې، اوبه او د ده اوښکي دواړې يو ځاى پر قبر باندي توييدلې.(١)

(١) مواعظ ابراهيمي، افضل المواعظ صفحه: ١٦٦

## د الله تعالى قدرت:

د الله تعالى عجيب قدرت وو، چي د كم چا د دعاء په بركت يوه هفته مسلسل د آسمانه څخه اوبه را اوريدلې نن د هغه پر قبر باندي د يو كوچنۍ مشكيزې څخه اوبه پاشل كيږي او د قبر وچه خاوره په لنده كيږي.

چي كم څوک په خپلو قدمو سره پر اوو (۷) آسمانو وګرځېدی، نن د هغه د قبر دوری په اوه (۷) كچه خښتو سره پوښل كيږي.

## د حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها غم:

چي كله صحابه كرام د پيغمبر ﷺ د تدفين څخه فارغ سوه، را روان دي نو مخته حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها راغله، او د دې خلكو څخه پوښتنه كوي، چي ای خلكو! ايا تاسو سيد الاولين والآخرين ﷺ په خاورو كي كښېښنوی؟

............عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَتْ لِي فَاطِمَةُ: يَا أَنَسُ طَابَتْ أَنْفُسُكُمْ أَنْ تَحْثُوا عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التُّرَابَ﴾.

حضرت انس رضي الله عنه وايي: چي ماته حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها وويل: ايا تاسو په كمو زړو سره پر پيغمبر ﷺ خاوري واچولې؟ او په كم شكل مو هغه په خاورو كي پرېښنوی، او تاسو څني را روان ياست؟

چي كله خلكو د حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها دا كلمه واوريدله د خلكو حالت د ډيري ژړا څخه بدل سو.

حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها د پيغمبر ﷺ قبر ته راغله او په ژړا ژړا كي وايي:

............يَا أَبَتَاهُ إِلَى جِبْرِيلَ نَنْعَاهُ، يَا أَبَتَاهُ مِنْ رَبِّهِ مَا أَدْنَاهُ، يَا أَبَتَاهُ جِنَانُ الْفِرْدَوْسِ مَأْوَاهُ، يَا أَبَتَاهُ أَجَابَ رَبًّا دَعَاهُ﴾.(۱)

ای پلار جانه! د ننه څخه بعد كه جبرائيل عليه السلام راغلی، نو موږ به هغه ته دا وايو، چي ته د چا طلب كوې، او ته د چا په تلاش كي يې ای جبرائيله! ته د چا حضور ته راغلی

(۱) الانوار في شمائل النبي المختار حديث، ۱۲۰۳

يې؟ ته چې د کم چا حضور ته راتلې هغه د خپل رب دعوت قبول کړی، او د خپل رب پر دعوت باندې د جنة الفردوس طرفته رخصت سو.

او د پیغمبرﷺ د قبر خاورې يې بويولې او د ځانه سره يې دا شعر وايه:

مَاذَا عَلَى مَنْ شَمَّ تُرْبَةَ أَحْمَدَ ☆ أَلا يَشُمُّ مَدَى الزَّمَانِ غَوَالِيَا

صُبَّتْ عَلَيَّ مَصَائِبُ لَوْ أَنَّهَا ☆ صُبَّتْ عَلَى الأَيَّامِ صِرْنَ لَيَالِيَا

چې کم چا دا خاوره بوی کړه هغه ته به بیا د مشک او عنبر بويلو ضرورت پاته نه سي.

پر ما باندې د غم هغه غرونه را شوه سوه، کچیرې د غم دغه غرونه پر روښانه ورځ را شوه سي، نو هغه به په شپه باندې بدله سي، او بیا دا دعاء کوي: یا الله! زما روح د پیغمبرﷺ د مبارک روح سره یو ځای کړې.(١)

..............عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ: مَا رَأَيْتُ فَاطِمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا بَعْدَ أَبِيهَا ضَاحِكَةً، وَمَكَثَتْ بَعْدَهُ سِتَّةَ أَشْهُرٍ﴾.(٢)

د "محمد بن علي" څخه روایت دی، چې حضرت "فاطمة" په ټوله زندګي بیا د خندا په شکل نه ولیدل سوه، او د پیغمبرﷺ د وفات څخه شپږ (٦) میاشتې وروسته ژوندی پاته وه د هغه څخه وروسته بیا دا مبارکه هم وفات سوه، او روح مبارک يې په اعلی علیین کې د پیغمبرﷺ سره یو ځای سو.

(١) عيون الاثر، باب ذكر مصيبة الاولين والآخرين من المسلمين صفحه: ٤٠٩

(٢) شرف المصطفى حديث: ٨٣٩

## د حضرت عائشې ﷺ ندبه:

حضرت انس ﷺ وايي:

............مَرَرْتُ عَلَى بَابِ عَائِشَةَ وَكَانَتْ تَنْدُبُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ﴾:

چي كله موږ د پيغمبر ﷺ د تجهيز او تكفين څخه فارغه سو، نو د حضرت "عائشې" مباركې حجرې ته ودرېدو نو د حجرې څخه د حضرت "عائشې" مباركې د ژړا آواز را رسيږي او دا وايي:

............يَا مَنْ لَمْ يَشْبَعْ مِنْ خُبْزِ الشَّعِيْرِ﴾.

ای هغه څوكه! چي تر ټوله زندگي دي په ماړه نس د اوربشو ډوډۍ په نصيب نه سوه.

............يَا مَنِ اخْتَارَ الْحَصِيْرَ عَلَى السَّرِيْرِ﴾.

ای هغه څوكه! چي تر ټوله زندگي دي پر چټائي تېره كړه او د كټ مالک نه سوې.

............يَا مَنْ لَمْ يَنَمِ اللَّيْلَ كُلَّهُ مِنْ خَوْفِ السَّعِيْرِ﴾.

ای هغه څوكه! چي تر ټوله زندگي دي د امت د گناهكارانو په غم كي د شپې آرام ونه كړی.(١)

## دابو ذويب ﷺ خوب ليدل:

ابو ذويب ﷺ يو صحابي دی، دی فرمايي: چي زه د مدينې څخه اووه (٧) اته (٨) ميله ليري اوسېدلم، د پيغمبر ﷺ د بيمارۍ خبر موږ ته را رسېدی يوه شپه زه بيده وم، نو يو هاتف غيبي ږغ را باندي وكړی.

............قُبِضَ النَّبِيُّ مُحَمَّدٌ فَعُيُوْنُنَا لِلدَّمْعِ الدُّمُوْعَ عَلَيْهِ بِالسَّجَامِ﴾.

نبي محمد وفات سو، او زموږ سترگي پر هغه باندي داسي اوښكي بهيوي، لكه په يو واله كي چي اوبه را رواني وي.

---

(١) تاريخ الخميس في احوال انفس النفيس، باب ذكر ميراثه و تركته وحكمه، صفحه: ١٧٣

"ابو ذویب" وايي: چي ما کله دا وحشتناکه آواز واورېدی، نو ډېر د تشویش په حالت کي را وغورځېدم او په داغه شپه کي مي مدينې منورې ته ځان را ورسوی، په دې وخت کي د مدينې منورې د کورو څخه د ژړا داسي آوازونه او غوغا را پورته کېدل لکه څنګه چي د مکې مکرمې د حرم څخه د لبیک شور او غوغا پورته کيږي.(۱)

## د حضرت معاذ ﷺ "مدينې منورې" ته راتلل:

حضرت معاذ ﷺ وايي: چي زه کله "یمن" ته راغلم نو یو څو ورځي بعد د شپې بیده یم، نو په خوب کي یو "هاتف غیبي" راته وايي: چي ای معاذه! ته پر نرمه بستره باندي بیده یې او ستا "نبي" د زکندن په حالت کي دی، حضرت معاذ ﷺ چي د خوبه څخه را پورته سو، شاوخوا یې وکتل هیڅ آواز کونکی یې نه ولیدی، یو څو ورځي بعد بیا په خوب کي هغه رنګه آواز ورباندي وسو، چي ای معاذه! ته پر نرم کټ باندي بیده یې او خاتم النبیین ﷺ د قبر په تورو خاورو کي آرام کوي، حضرت معاذ ﷺ چي دا واورېدل: نو د ﴿وَامُحَمَّدَاهُ وَامُحَمَّدَاهُ﴾ چیغي کاږي او سر تور سر د خپلي حجرې څخه را ووتی.

د حضرت معاذ ﷺ د چیغو په اورېدو سره د محلې ټول خلک د کورو څخه را ووتل: د حضرت معاذ ﷺ څخه پوښتنه کوي، چي څه درپېښه سوه؟ مګر حضرت معاذ ﷺ د غم په وجه د خبرو کولو طاقت نه لري، په داغه شپه کي پر اوښه را سپور سو، د مدينې منورې پر طرف را روان سو.

منزل پر منزل را روان دئ، چي کله مدينې منورې ته نږدې را ورسېدی، او مدينې منورې ته درې (۳) میله مځکه پاته ده، نو په نیمه شپه کي د ځنګله څخه دا آواز راځي:

﴿.............وَامُحَمَّدَاهُ قَدْ فَارَقَ الدُّنْيَا فَمَنْ لِلْاَرَامِلِ وَالْيَتَامٰى وَالضُّعَفَاءِ مِنْ بَعْدِهٖ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ﴾.

(۱) مواعظ ابراهي، افضل المواعظ صفحه ۱۶۸

اې محمده! تا خو دنيا پرېښوله د کونډو او يتيمانو او ضعيفانو غم به ستا څخه وروسته څوک خوري.

حضرت معاذ ﷺ چې کله دا آواز واورېدی، نو پوښتنه ځني کوي چې په دې نيمه شپه کې او په تور ځنګله کې آواز کونکی څوک يې؟ نو ده ته جواب ور کول کيږي چې زه عمار بن ياسر صحابي يم.

حضرت معاذ ﷺ ورته وايي: په دې نيمه شپه کي پر کم طرف روان يې نو عمار ﷺ جواب ور کوي، چې د پيغمبر ﷺ د وفات خبر په "يمن" کي حضرت معاذ ﷺ ته رسوم.

چي کله حضرت معاذ ﷺ د پيغمبر ﷺ د وفات خبر واورېدی، نو ډېر يې وژړل او وايي: اې عماره! چي کله پيغمبر ﷺ د دنيا څخه تللی دی، نو دا راته ووايه: هغه د کونډي په مثل شريعت او يتيمان صحابه کرام يې وچاته ور پرېښول؟ او د صحابه کرامو د ده څخه وروسته څه حال دی؟

حضرت عمار ﷺ ورته وايي: چي د صحابه کرامو داسي حال دئ، لکه: يو څوک چي په يو ناولده ځنګله کي خپل پسونه پرېږدي او دی ځني ولاړ سي، او هغه پسونه حيران سره ګرځي، صحابه کرام هم په مدينه منوره کي د داسي حيراتيا په حالت کي ژوند تېروي.

چي کله حضرت معاذ ﷺ مدينې منورې ته را ورسېدئ، نو د مسجد نبوي ﷺ څخه د سهار آذان شروع سو، چي کله په آذان کي مؤذن ﴿اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدً رَّسُوْلُ اللهِ﴾ کلمه آداء کړه، نو حضرت معاذ ﷺ بېهوښه غوځار سو، چي کله په هوښ کي راغلئ، نو صحابه کرامو ورته وويل: چي اې معاذه! پيغمبر ﷺ پر تا باندي سلام وايي.

حضرت معاذ ﷺ چي کله د پيغمبر ﷺ سلام واورېدی، نو وايي:

﴿..............فِدَاکَ رُوْحِیْ وَعَلَیْکَ السَّلَامُ﴾.

د دې په ويلو سره بيا بېهوښه سو، دې ته قريب وو، چي د حضرت معاذ ﷺ روح د بدنه څخه پرواز وکړي، خو د ډيري زمانې بېهوښۍ وروسته په هوښ کي راغلئ، نو

راغلی د پیغمبرﷺ قبر ته ودرېدی چي په ژړا ژړا يې د پيغمبرﷺ قبر مبارک په اوښکو باندي لوند کړی.(۱)

## د حضرت بلالؓ حالت:

د پیغمبرﷺ د وفات څخه وروسته د حضرت بلالؓ دا حالت وو، چي د مدينې منورې په کوڅو کي د لېونيانو په شان گرځېدی، او دا يې ويل: چي ای خلکو! تاسو که يو ځای رسول اللهﷺ ليدلی وي، نو ماته يې را ښکاره کړی، زما محبوب په مدينه منوره کي زما څخه پرده کړې ده، که تاسو ته څه معلومات سته، نو هغه و ماته را شريک کړی؟

پر حضرت بلالؓ باندي په مدينه منوره کي رڼا ورځي د تاريکو شپو په شان تېرېدلې، نو په مدينه منوره کي ژوند تېرول ورته گران سوه، مدينه منوره يې پرېښوله د شام ښار "حلب" ته ولاړی، او هلته يې خپل ژوند تېرول شروع کړه.

## د حضرت بلالؓ خوب ليدل:

چي کله د مدينې منورې څخه "حلب" ښار ته ولاړی، نو يو کال بعد هلته خوب ويني چي پيغمبرﷺ په خوب کي ورته وايي: ای بلاله! ته ډېر بې وفا سوې! زما ملاقات دي پرېښوی، ستا زړه اوس زما ملاقات کولو ته نه غواړي.

د خوب د ليدلو سره دَی د ﴿لَبَّيْکَ سَيِّدِيْ﴾ نعره کوي، او وايي: چي ای زما سرداره ستا غلام حاضر دی، را پورته سو، او په داغه شپه کي پر اوښه باندي سپور سو او د مدينې منورې پر طرف را روان سو.

شپه او ورځ تگ کوي د ډيري ستړيا څخه وروسته مدينې منورې ته را ورسېدی، په خوب کي د پيغمبرﷺ بلال را بلل د هغې څخه بلال دا معنی اخيستې وه، چي پيغمبرﷺ را ژوندَی سوی دی، حضرت بلالؓ په داغه تصور کي د پيغمبرﷺ ملاقات ته ځان را ورسوی.

(۱) تاريخ الخميس في احوال انفس النفيس، باب ذکر ابي موسی الاشعري، صفحه: ۱۴۳

اول ځل په مسجد نبوي کي د پیغمبرﷺ د دیدار په شوق وګرځېدی، چي کله یې پیغمبرﷺ هلته نه کړی، پیدا نو په حجرو مبارکو کي یې تلاش وکړی، هلته هم په نظر نه ورغلی نو د یو مایوس انسان په مثل د پیغمبرﷺ قبر مبارک ته ودرېدی.

او په ژړا کي دا آواز کوي: ای د الله رسوله! د "حلب" څخه دي دا غلام د خپل ملاقات لپاره را وبولی، او زه په ډېره بې تابي کي د ملاقات لپاره حاضر سوم، تا بیا زما څخه پرده وکړه، ځای پر ځای بلال ستا په تلاش کي پر له ګرځي مګر هیڅ ځای ستا دیدار و ده ته نه میسر کېږي.

چي کله یې دا وویل: نو پر قبر مبارک باندي بېهوښه را غوځار سو، څه زمانه بعد چي کله په هوښ کي راغلئ، نو خلګو را پورته کړی او د حجرې څخه یې دباندي را وایستی.

په دې دوران کي د حضرت بلالؓ د راتللو خبر په ټوله مدینه منوره کي مشهور سو، د مدینې منورې په ټولو کورو کي شور سو، چي نن خو به حضرت بلالؓ د رسول اللهﷺ د وخت آذان کوي.

د مدینې منورې ټول خلک سره یو ځای سوه، په ګډه یې د حضرت بلالؓ څخه دا غوښتنه وکړه، چي د خدای په خاطر چي د رسول اللهﷺ په دور کي دي کم آذان کوی، هغه آذان یو ځل و موږ ته د مسجد نبوي پر مؤذن خانه باندي بیا وکړه.

حضرت بلالؓ په جواب کي ورته وایي: په خدای قسم ستاسو دا تمنی پوره کول زما په وس او طاقت کي نسته.

ځکه چي کله به د پیغمبرﷺ په ژوند مبارک کي ما آذان کوی، نو چي کم وخت به ما د خولې څخه د ﴿اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدً رَّسُوْلُ اللهِ﴾ کلمه را ایستله نو پیغمبرﷺ به مي خپل مخ ته په سترګو لیدی، اوس دا راته ووایاست! چي د دې کلمې د ویلو په وخت کي به زه چا ته ګورم؟ نو ما د دې خدمت څخه معاف کړی.

خلګو چي هر څومره اصرار وکړی، مګر حضرت بلالؓ انکار کوی، د بعضو صحابه کرامو رایه دا سوه، چي حضرت بلالؓ د هیڅ چا خبره نه مني تاسو ده ته

حضرت حسن او حسين رضي الله عنهما راولي، کچيري هغه د ده څخه د آذان کولو غوښتنه وکړي، نو دَی به ضرور د هغو غوښتنه پوره کوي، ځکه چي د حضرت بلال رضي الله عنه د پيغمبر ﷺ د اهل بيت سره ډېر زيات عشق دی، د هغوی غوښتنه هيڅکله نه ردوي.

چي کله صحابه کرامو دا خبره واورېدله، نو يو صحابي حضرت حسن او حسين رضي الله عنهما دواړه ورته راوستل، حضرت حسين رضي الله عنه د حضرت بلال رضي الله عنه لاس ونيوی، او ورته وايي: ای بلاله! نن به ته موږ ته هغه آذان کوې، چي زموږ د نيکه پيغمبر ﷺ په ژوند کي به دي کوی.

حضرت بلال رضي الله عنه حضرت حسين رضي الله عنه په غيږ کي پورته کړی، ورته وايي: ای زما د نبي د زړه ټکرې! ای زما د نبي د باغ ګلابه! ته چي کمه غوښتنه کوې، زه به يې ضرور پوره کوم، او ستا زړه نه خفه کوم، ځکه ستا خفه کول په دنيا کي د حضور اکرم ﷺ قبر مبارک خفه کول دي، ای حسينه! ته چي کم ځای ته ما بيايي نو هلته درسره ځم او هلته به ستا په وينا ستا د نيکه د وخت آذان کوم.

حضرت حسين رضي الله عنه د حضرت بلال رضي الله عنه لاس نيولی دی، د مسجد چت ته يې وخېژوی، او ورته وايي: چي پر دې ځای به زما د نيکه د وخت آذان کوې!

حضرت بلال رضي الله عنه چي کله آذان شروع کړی، د ده د "الله اکبر" په اورېدو سره په مدينه منوره کي عجيب شور او غوغا جوړه سوه، د خلکو دا عقيده سوه، چي پيغمبر ﷺ را ژوندَی سوی دی، د مدينې منورې په کوڅو کي خلک په منډه د خپلو کورو څخه د مسجد وطرفته را ځغلي.

په رواياتو کي راځي:

.........حَتّٰى خَرَجَتِ النِّسَاءُ مِنْ خُدُوْرِهِنَّ﴾.

حتي په پردو کي ناستي زناني هم د کورو څخه را ووتلې، او د خپلو بچيانو سره مسجد نبوي ته ځان را رسوي.

چي کم وخت حضرت بلال رضي الله عنه و ﴿اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدً رَّسُوْلُ اللهِ﴾ کلمې ته ورسېدئ، نو:

.........﴿فَلَمْ يَقدِرْ عَلَيْهِ حَتّٰى سَقَطَ مَغْشِيًّا عَلَيْهِ حُبًّا لِلنَّبِيِّ ﷺ وَشَوْقًا اِلَيْهِمْ﴾.

نو پر خپل ځان یې قابو نه ودرلودی د پیغمبر ﷺ په شوق او محبت کې لاندې را غوځار سو، چې حضرت بلال رضي الله عنه غوځار سو نو:

.........﴿وَاشْتَدَّ عِنْدَ ذٰلِکَ بُکَاءُ اَهْلِ الْمَدِیْنَةِ مِنَ الْمُهَاجِرِیْنَ وَالْاَنْصَارِ﴾.

د مهاجرو او انصارو د ژړا آوازونه په مدینه منوره کي پورته سوه.

ماشومان د خپلو میندو څخه پوښتنه کوي، چي ای موري! دا راته ووایه چي حضرت بلال رضي الله عنه د رسول الله ﷺ مؤذن خو راغلی اوس به رسول الله ﷺ کله مدینې منورې ته راځي؟

حضرت بلال رضي الله عنه چي کله په هوښ کي راغلی نو په مدینه منوره کي د رسول الله ﷺ د لیدلو بغیر ژوند ورته ګران وو، نو واپس بیرته شام ته ولاړی، هلته وفات سو، چي اوس یې هم قبر په شام کي موجود دی.(۱)

## په بیت المقدس کي د بلال رضي الله عنه آذان:

د پیغمبر ﷺ د وفات څخه وروسته حضرت بلال رضي الله عنه د حسن او حسین رضي الله عنهما په غوښتنه یو ځل په مدینه منوره کي آذان کړی دی، او یو ځل چي کله "بیت المقدس" فتحه سو، د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کي، نو د صحابه کرامو زړو ډېر جوش وکړی، حضرت عمر رضي الله عنه ته وایي: أَيُّ امیرَ المؤمنین! ته ومور ته یو ځل د حضرت بلال رضي الله عنه په خوله باندي د رسول الله ﷺ د وخت آذان وکړه، چي مور ته د رسول الله ﷺ یاد را تازه سي، او په "بیت المقدس" کي د رسول الله ﷺ د مؤذن آذان وسي.

حضرت عمر رضي الله عنه چي کله حضرت بلال رضي الله عنه ته وویل: هغه اول انکار وکړی، لېکن چونکه د امیر المؤمنین حکم وو، نو ځکه بیا د انکار ګنجائش نه وو، نو د هغه پر غوښتنه ده په "بیت المقدس" کي هم یو ځل آذان وکړی چي د هغه په اورېدو سره هم د صحابه کرامو حالت د پیغمبر ﷺ د یاد په وجه باندي ډېر غمجن سو.

---

(۱) عمل سے زندگی بنتی ہے، صفحہ: ۱۷۸

## په قبر کې د امت غمخواري:

چې کله ټول خلک د پیغمبرﷺ د تدفین څخه فارغه سوه، د ټولو تر شاه حضرت قثمؓ د حضرت عباسؓ بچی د قبر څخه را وختی د ټولو څخه وروسته ده د پیغمبرﷺ د مخ مبارک څخه کفن پورته کړی، او د پیغمبرﷺ آخري دیدار یې وکړئ، دَی فرمایي: چې ما د پیغمبرﷺ شونډان مبارکان په قبر کې په حرکت کې ولیدل چې کله مې غوږ ور نږدې کړی، نو دا مې څنې واورېدل چې د ده پر ژبه دا کلمه جاري وه:

.........یَا رَبِّیْ اُمَّتِیْ اُمَّتِیْ﴾.(۱)

سبحان الله د امت سره د پیغمبرﷺ کم عشق وو، چې قبر ته د تشریف وړلو وروسته هم د امت غم ور سره دی.

## د صحابه کرامو ویناګاني:

بي بي ام سلمهؓ فرمايي: چې د وفات په وخت کې ما د پیغمبرﷺ پر سینه لاس کېښوی، چې دا معلوم کړم چې د پیغمبرﷺ په سینه کې ساه راځي او کنه؟ تر کلونو پوري زما په لاسو کې هغه د پیغمبرﷺ د سینې خوشبویي محسوسېدله، او هر وخت به مې د لاسه څخه د مشقو او زعفرانو خوشبویي ولاړېدله.

د حضرت عليؓ ذهن او حافظه د پیغمبرﷺ د وفات څخه وروسته ډېره زیاته سوه، یو چا پوښتنه څني وکړه چې د دې څه وجه ده؟

ده په جواب کې ورته وویل: چې پیغمبرﷺ ته د غسل ورکولو څخه وروسته د ده په بانوګانو پوري یو څاڅکی د اوبو موښتی وو، هغه څاڅکی ما پخپله ژبه څني پورته کړی، او ومې چیښی د هغې ورځې څخه الله تعالی ماته حافظه را زیاته کړه.

(۱) مواعظ ابراهیمي افضل المواعظ، صفحه: ۱۷۱

صحابه کرام فرمايي: چي کم وخت موږ پيغمبر ﷺ دفن کړئ، او خاوري مو د ده پر قبر باندي اچولې په داغه دوران کي بيا موږ د خپلو زړونو حالت بدل او متغير محسوس کړئ.

دا ضروري خبره ده، چي کله لمر په دنيا کي ولويږي نو په دنيا کي تياره سي، پيغمبر ﷺ د زړونو لمر وو، د ده د پټېدو څخه وروسته په روحاني عالم کي زياته تياره ضرور بايد محسوسه سي.

د صحابه کرامو د پيغمبر ﷺ په غم کي دا حال وو، چي هيڅ غم د دوی په نزد د دې غمه څخه زيات نه وو، په دوی کي که د يو چا بچی مړ سو، نو يو چاچي به هغه ته تسلي ورکوله نو ضرور به يې دا ورته ويل: چي ايا ستا د بچي غم د رسول الله ﷺ د وفات د غم څخه هم درباندي زيات دی؟

هغه چي به کله د پيغمبر ﷺ د وفات لفظ واورېدئ، د هغه حقيقي بچي غم به څني هېر او ورته سپک سو.

الله تعالی دي د پيغمبر ﷺ قبر مبارک تر قيامته پوري د انواراتو ډک ولري او الله تعالی دي د ده د قبر په برکت سره تر قيامته پوري امت ته پر صراط مستقيم او پر سنت طريقه ژوند او زندګي ورپه نصيب کړي.

الله تعالی دي دا څو خبري پخپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

(آمين يارب العالمين)

وَصَلّى اللهُ تَعَالى عَلى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآیه)

# د درود شریف فضائل، اول بیان

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامہ ٹاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقـــــرير | الحاج مولوي اطيع اللہ صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كـليم اللہ صاحب |
| مـقــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـــت | اول |
| تــاريـــــخ | جمادي الاولى ۱۴۴۲ بمطابق ۲۴ جنوري ۲۰۲۱ |
| تــعـــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿إِنَّ اللّٰهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ ﴿بِحَسْبِ الْمُؤْمِنِ مِنَ الْبُخْلِ إِذَا ذُكِرْتُ عِنْدَهُ، فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ صَلَوَاتُ اللّٰهِ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسْلِيمًا﴾.(۲)

يَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا أَبَدًا ☆ عَلَى حَبِيبِكَ خَيْرِ الْخَلْقِ كُلِّهِمْ

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمُ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمُ، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

## د انسانیت لوی محسن:

محترمو مشرانو! ستاسو په مخ کي ما د قرآن کریم د یو آیت تلاوت پیش کړی، او داغه رنګه مي د پیغمبر ﷺ د یو حدیث مبارک روایت پیش کړی.

د قرآن کریم د دې آیت او د پیغمبر ﷺ د حدیث دواړو تعلق د یو اهم ترین عبادت سره دی، چي هغه عبادت پر پیغمبر ﷺ باندي "درود شریف" ویل دي، "درود شریف" پر پیغمبر ﷺ باندي ویل: زموږ او ستاسو لپاره زموږ په دین کي بهترین عبادت بلل سوی دی.

(۱) الاحزاب، آیت نمبر: ۵۶

(۲) الزهد والرقاق، لابن مبارک، حدیث: ۱۰۲۵

پیغمبر ﷺ وایي: چي د مؤمن د بخالت لپاره دا خبره کافي ده چي کله د ده ومخته زما ذکر وسي، او زما نوم یاد سي او دَی پر ما باندي "درود شریف" نه ووایي.

یعني دا د یو مسلمان د بخالت انتهاء ده، چي د ده ومخته د نبي کریم سرور دو عالم ﷺ نوم مبارک پېش سي، او دَی پر هغه باندي "درود شریف" نه ووایي.

چونکه په دې کائناتو کي د الله تعالی د ذات څخه وروسته د یو مؤمن لپاره د ټولو څخه لوی محسن ذات با برکات د پیغمبر ﷺ دئ، او د ده مبارک چي څومره احسانات پر دې امت باندي دي، بیا خاص په امت کي پر هغه طبقه چي الله تعالی د ایمان په دولت باندي اباد ګرځولي دي، دومره د بل هیڅ چا نسته.

پخپله د پیغمبر ﷺ دا حال وو، چي د خپل امت په فکر کي به شپه او ورځ فکرمند او غمزده وو، یو صحابي د پیغمبر ﷺ حالت داسي بیانوي:

...............كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَوَاصِلَ الْأَحْزَانِ دَائِمَ الْفِكْرَةِ لَيْسَتْ لَهُ رَاحَةٌ.(١)

یعني چي هر وخت به پیغمبر ﷺ ته انسان وکتل نو داسي به معلومېدی، چي دَی مبارک په یو فکر کي دی، او یو غم پر ده باندي پروت دی، یعني د غم په حالت کي به معلومېدئ.

علماؤ لیکلي دي، چي دا فکر او غم د دې خبري نه وو، چي ده ته په تجارت کي یو نقصان ورپېښ وو، یا د ده سره د مال او دولت د کمۍ څه غم وو، یا د دنیا د نورو مالو او اسبابو د ده سره قلت وو، نو په هغه وجه دي دَی فکر مند وای.

بلکه د ده دا فکر او غم د دې امت لپاره وو، چي زما امت به په کمه طریقه د جهنم د عذابه څخه محفوظ سي، او د الله تعالی رضا به څنګه د دوی په نصیب سي؟

(١) الشمائل المحمدية للترمذي، حديث، ٢٢٦

**د پیغمبر ﷺ عجیبه وینا:**

په یو حدیث شریف کې پیغمبر ﷺ فرمایي؛ چې زما او ستاسو مثال داسې دی، لکه: یو سړی چې اور بل کړي، اوس پتنګان په هغه اور کې ځانونه اچوي، او دا سړی هغه پتنګان د اوره څخه لیرې کوي، چې هغه په اور کې ونه سوځل سي.

داغه رنګه زه تاسو په مشقت سره د اوره څخه را ګرځوم او تاسو زما د لاسه څخه ځان خلاصوی، او په اور کې ځان اچوی.(۱)

بهر حال د پیغمبر ﷺ ټوله ژوند پدې فکر کې تېر سو، چې دا امت په کم شکل د جهنم د عذابه څخه خلاص سي.

نو ایا یو امتي دومره هم نسي کولای چې کله د پیغمبر ﷺ نوم مبارک ذکر سي، نو کم از کم پر ده باندې یو ځل "درود شریف" ووایي.

حالانکه د "درود شریف" ویلو څخه چې پیغمبر ﷺ ته کمه فائده رسیږي، هغه خو به ورسیږي په خپله "درود شریف" ویونکي ته هم د دې ډېره لویه فائده رسېدونکې ده.

**الله تعالی هم پدې عمل کې شریک دی:**

الله تعالی په قرآن کریم کې د "درود شریف" ویلو په باره کې فرمایلي دي، د قرآن کریم آیت دی:

.............﴿إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا﴾.(۲)

بېشکه الله تعالی او د ده فرشتې پر پیغمبر ﷺ باندې "درود" وراستوي، ای ایمان والاوو تاسو هم پر پیغمبر ﷺ باندې "درود" او "سلام" وایاست!

تاسو نه ګورئ! په ابتداء کې الله تعالی انسانانو ته دا نه وایي: چې تاسو پر پیغمبر ﷺ باندې "درود شریف" وایاست، بلکه دا وایي: چې الله او د الله تعالی

---

(۱) مسلم، کتاب الفضائل، باب شفقته ﷺ علی امته، حدیث، ۱۷

(۲) الاحزاب، آیت نمبر: ۵۶

فرشتې "درود" پر پېغمبرﷺ پېشوي، د دې څخه الله تعالی و دوو (۲) خبرو ته اشاره کوي:

۱. اول دا چې پېغمبرﷺ ته ستاسو د "درود" ضرورت نسته، ځکه چې پر هغه باندې د اوله سره څخه الله تعالی رحمت پېشوي او د الله تعالی فرشتې "درود" وايي، نو د هغه ستاسو و "درود" ته څه ضرورت دی؟

کچېرې تاسو خپله کاميابي او فلاح غواړی، نو تاسو هم پر پېغمبرﷺ باندې "درود" واياست.

۲. دوهم پدې کې دا خبرې ته اشاره ده، چې د "درود" استولو چې کم عمل دی، د دې عمل شان هم ډېر ناولده دی، ځکه هيڅ داسې عمل نسته، چې د هغه په کولو کې الله تعالی د بندګانو سره شريک وي.

مثلا بندګان لمونځ کوي، الله تعالي لمونځ نکوي، بندګان روژه نيسي، الله تعالی روژه نه نيسي، بندګان زکوة او حج او نور عبادات کوي، په هغوی کې يو داسې عمل نسته، چې په هغه کې د بنده سره الله تعالی هم شريک وي.

لېکن يو "درود شريف" داسې عمل دی، چې د هغه په باره کې الله تعالی دا فرمايلي دي، چې دا عمل د ټولو څخه مخکې زه کوم، کچېرې تاسو هم دا عمل وکړئ، زه به ستاسو سره په دې عمل کې شريک يم، څومره لوی عمل دی، چې په هغه کې د بنده سره الله تعالی هم شرکت لري.

## بنده به څنګه درود وايي؟

البته د الله تعالی د "درود" ويلو مطلب جلا دی، او د بنده د "درود" ويلو مطلب جلا دئ، د الله تعالی د "درود" ويلو مطلب دا دی: چې الله تعالی براه راست (بالذات) پر ده باندې خپل رحمتونه را نازلوي، او د بنده د "درود" ويلو مطلب دا دی: چې هغه بنده د الله تعالی څخه دا دعاء غواړي، چې يا الله! ته پر محمدﷺ باندې رحمتونه نازل کړه.

چنانچه په حديث شريف کې راځي: چې کله دا آيت نازل سو:

............﴿إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا﴾.(۱)

په دې وخت کې صحابه کرامو د پیغمبر ﷺ څخه دا سوال وکړی، چې ای د الله رسوله! په دې آیت کې الله تعالی موږ ته دوه (۲) حکمه کړیدي، چې تاسو زما پر نبي "درود" وایاست، او هم داغه رنګه "سلام" وایاست.

د سلام ویلو طریقه خو موږ ته را معلومه ده، چې کله موږ ستا خدمت ته حاضر سو، نو ﴿اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ﴾ وایو، داغه رنګه په تشهد کې هم د سلام طریقه دا موږ ته را ښول سوې ده، چې په دې کې ﴿اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ﴾ وایاست.

لېکن موږ به پر تا باندې "درود" څنګه ووایو، د هغه څه طریقه ده؟ پیغمبر ﷺ په جواب کې ورته وایي: چې پر ما باندې د "درود" ویلو طریقه دا ده: چې تاسو داسي وایاست:

............﴿اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ﴾.

د دې معنی دا ده: چې یا الله! ته پر محمد ﷺ "درود" پېش کړه.

د دې څخه دې خبرې ته اشاره ده، چې بنده کله "درود" وایي: نو دا دې یې په دماغ کې وي، چې زما څه حقیقت او حیثیت دی، چې زه پر پیغمبر ﷺ "درود" وایم.

زه د پیغمبر ﷺ پر اوصافو او کمالاتو کله احاطه کولای سم، او زه د هٔ د احساناتو بدله کله ادا کولای سم، نو پر اول قدم باندې د خپلې عاجزۍ اقرار کوي، چې یا الله! چې زه خو د پیغمبر ﷺ د "درود" ویلو حق نه سم ادا کولای، ته پر ده باندې "درود" ووایه.(۲)

---

(۱) الاحزاب، آیت نمبر: ۵٦

(۲) بخاري شریف، حدیث: ۳۳۷۰

## پر "درود" ویلو باندي اجر او ثواب:

پر "درود شریف" ویلو باندي الله تعالی د بنده لپاره ډېر لوی اجر او ثواب خاص کړی دئ، الله تعالی فرمایي: چي کم سړی پر پیغمبرﷺ باندي یو ځل "درود شریف" ووایي: نو الله تعالی پر هغه سړي لس (۱۰) رحمته نازلوي، په یو بل روایت کي لا دا هم سته، چي لس (۱۰) گناهونه یې معافوي، او لس (۱۰) درجات یې بلندوي(۱).

حضرت عبدالرحمن ابن عوفؓ فرمایي: چي یو ورځ پیغمبرﷺ د کور څخه ووتی، د خرماوو یو باغ ته ورغلی، او پر سجده باندي پرېوتئ زه په انتظار کي ورته ناست یم، چي کله دَی د سجدې څخه فارغه سي، نو بیا به زه یو څه پوښتنه ځني کوم، لېکن د ده مبارک سجده دومره اوږده سوه، چي زه په انتظار کي په ناسته ورته ستړی سوم، آخر مي په زړه کي دا وسوسه راولوېدله، چي هسي نه چي د ده روح مبارک د بدن څخه جلا سویوي، او د ځانه سره مي دا فکر وکړئ، چي د پیغمبرﷺ لاس به سره وښوروم او د ژوند معلومات به یې واخلم.

د ډېره ځنډه څخه وروسته چي کله ده مبارک د سجدې څخه سر را پورته کړئ، ما چي ورته وکتل د ده پر مخ مبارک ډېر د خوشحالی آثار ښکاره کېدل، ما پوښتنه ځني وکړه چي ای د الله رسوله! ما نن داسي منظر ولیدئ، چي د دې څخه مخکي مي هیڅکله نه وو لیدلی.

هغه دا چي نن دي دومره اوږده سجده وکړه، چي د دې څخه مخکي دي هیڅکله نه وه کړې، او زما په زړه کي دا خیال پیدا سو، چي هسي نه د سجدې په دوران کي ستا روح د بدنه څخه جلا سوی نه وي، د دې دومري اوږدې سجدې آخر څه وجه وه؟

پیغمبرﷺ په جواب کي ورته وایي: چي حضرت جبرائیل علیه السلام راغلی، او ماته یې دا خوشخبري راوړه، چي الله تعالی فرمایي: چي کم سړی پر تا باندي یو ځل "درود شریف" ووایي: زه پر هغه باندي خپل رحمت را نازلوم، او چي کم سړی پر تا "سلام"

---

(۱) نسائي شریف، کتاب السهو، باب الفضل في الصلوة علی النبیﷺ.

وايي: زه پر هغه باندي "سلام" پیشوم، د دې خوشخبرۍ او انعام په شکر کي، ما دا سجده اداء کړه(۱).

## درود شریف د عباداتو مجموعه ده:

یا "درود شریف" داسي افضل عبادت دی، چي ذکر په ده کي موجود دی، د پیغمبر ﷺ د احساناتو اقرار په ده کي موجود دی، د دعاء فضیلت په ده کي ستهٔ بې شماره عبادات او فضائل په "درود شریف" کي را جمع سوي دي، لهذا چي کله "درود شریف" دومره افضل عمل دی، نو بیا انسان ولي دومره بخیل جوړ سي، چي کله د پیغمبر ﷺ ذکر مبارک وسي یو ځل هم "درود شریف" نه ور باندي وايي.

نو ځکه پیغمبر ﷺ فرمایلي دي:

.............بِحَسْبِ الْمُؤْمِنِ مِنَ الْبُخْلِ إِذَا ذُكِرْتُ عِنْدَهُ، فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ﴾.(۲)

چي د مؤمن د بخالت لپاره دا کافي ده، چي د ده ومخته زما نوم راسي، او دی پر ما باندي "درود شریف" نه ووايي.

## د "درود شریف" سره دعاء قبلیږي:

علماء کرامو لیکلي دي: چي په ټوله کائناتو کي داسي دعاء نسته چي د هغې دي په یقني طریقه سره د قبولیت یقین وي، څوک دا ویلای سي، چي زما دعا یقینًا قبوله ده، او چي زه څه غوارم هغسي کیږي؟

لیکن "درود شریف" یو داسي دعاء ده چي د هغې په متیقنه طریقه سره د قبولیت یقین دی، ځکه د دې دعاء کولو څخه مخکي الله تعالی دا اعلان کړی دی:

.............إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ﴾.

زه او ما فرښتې ستا د دعاء کولو څخه مخکي پر خپل نبي باندي "درود شریف" پیش کوو، نو ځکه د دې دعاء په قبولیت کي د ادنی شبهې گنجائش نه وي.

---

(۱) مسند احمد، جلد: ۱، صفحه: ۱۹۱

(۲) الزهد والرقاق، لابن مبارک، حدیث: ۱۰۲۵

نو په دې وجه بزرګانو د دعاء کولو دا ادب لیکلی دئ، چې انسان کله د خپل مقصد لپاره دعاء کوي، نو د دعا کولو څخه مخکې او وروسته باید "درود شریف" ووایې: ځکه د "درود شریف" قبولیت یقیني دئ، د الله تعالی د کریم شانه څخه دا لیرې ده، چې اوله او آخره دعاء چې "درود شریف" دئ هغه قبوله کړي، او په درمیان کې دعاء قبوله نکړي.

نو "درود شریف" ویل: بیا د خپل مقصد لپاره دعاء کول انشاء الله دا دعاء الله تعالی ضرور قبلوي، نو د دعاء کولو یو ادب دا دی: چې اول د الله تعالی حمد او ثناء ویل، بیا پر پیغمبر ﷺ درود شریف ویل، او بیا د خپل مقصد لپاره دعاء کول.

## "درود شریف" ویل د دنیا او آخرت کامیابي ده:

د احادیثو مبارکه وو د روایاتو څخه معلومیږي، چې "درود شریف" په کثرت سره ویل د انسان لپاره د هر قسم خطراتو څخه نجات دی، د مال او اولاد، او د دین او دنیا د خیر او برکت ذریعه ده.

د "درود شریف" په ویلو او اوریدلو کې او په انسانانو کې د عاملو د دواړو جهانو خیر او صلاح پوشیده ده، او د نبي اکرم ﷺ د قرب او شفاعت بهترینه وسیله ده، او "درود شریف" نه ویونکي ته د پیغمبر ﷺ په حدیث کې بخیل، ظالم او بد بخت ویل سوېدي.

نو ځکه حضرت انس رضی الله عنه د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک را نقل کوي: چې پیغمبر ﷺ به فرمایل:

............مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً وَاحِدَةً صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ عَشْرَ صَلَوَاتٍ، وَحُطَّتْ عَنْهُ عَشْرُ خَطِيئَاتٍ، وَرُفِعَتْ لَهُ عَشْرُ دَرَجَاتٍ﴾.[1]

[1] سنن النسائي، حديث: ۱۲۹۷

چي کم سړی پر ما باندي يو ځل درود شريف ووايي الله تعالی به پر ده باندي لس (۱۰) رحمته نازلوي، او لس (۱۰) به يې ګناهونه معافوي، او لس (۱۰) به يې درجاتي بلندوي.

## د قيامت په ميدان کي د درود شريف وزن:

په "مواهب اللدنية" کي يو روايت را نقل سوی دی، چي په قيامت کي به د يو مؤمن د نيکو اعمالو وزن کم سي، نو پيغمبرﷺ به يو "رقعه" د ګوتي د سر برابر را وکاږي او د نيکو اعمالو په ترازو کي به يې کښېږدي چي د هغه څخه به د هغه مؤمن د نيکو اعمالو پله درنه سي.

هغه مؤمن به وايي: چي زما مور او پلار دي تر تا قربان وي، ته څوک يې؟ او ستا صورت او سيرت څومره ښائسته دی چي زما سره دي دا احسان وکړی.

پيغمبرﷺ به ورته وايي: زه ستاسو نبي يم او دا هغه "درود شريف" دئ، چي تا پر ما باندي ويلی وو، او ستا د حاجت په وخت کي ما د هغه ثواب ستا په نيکو اعمالو کي جمع کړی.

پر دې دي څوک اعتراض نکوي: چي د يوې ګوتي د سر مقدار کاغذ به د ترازو پله څنګه درنه کړي؟ ځکه د الله تعالی په دربار کي اصل وزن د شي د اخلاص پر بنياد دئ، چي په هر عمل کي په څومره زياته اندازه اخلاص وي، هغومره به د هغه عمل وزن زيات وي، هلته د عمل و ظاهري جثه او جسم ته نه کتل کيږي.

لکه په "حديث البطاقة" کي راځي، چي يو ټکره د کاغذ چي پر هغه باندي د شهادت کلمه ليکلې وي، د نه نيوي (۹۹) دفترو په مقابله کي تلل کيږي، او هر دفتر به دومره لوی وي، چي د انسان د سترګو تر نظره پوري به وي، لا به هم هغه کلمه ورباندي درنه سي(۱).

(۱) مواهب اللدنية، افصل الثالث، صفحه: ٦٦٣

## د "درود شریف" په برکت باندي مغفرت کېدل:

په "زاد السعید" کي حضرت تهانوي رحمة الله علیه د یو کاتب حکایت لیکلی دئ، چي یو کاتب وو، د هغه دا معمول وو، چي کله به یې یو مضمون لیکئ، نو د کتابت په دوران کي چي به کله د ده مخته د پیغمبر ﷺ نوم راغلی، نو ده به د هغه نامه سره "صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" لیکئ.

هغه اصل مضمون لیکونکي که به د پیغمبر ﷺ د نامه سره "دورد شریف" لیکلی وو یا نه، خو د کاتب دا معمول وو، چي په کم ځای کي به د پیغمبر ﷺ نوم په کتاب کي لیکل کېدئ، نو ده به د کتابت په دوران کي "درود شریف" ضرور ور سره لیکئ.

چي کله د ده وفات وسو، نو یو چا په خوب کي ولیدی، چي الله تعالی څه در سره وکړه، ده ورته وویل: چي الله تعالی مغفرت را په نصیب کړی، هغه پوښتنه ځني وکړه چي د کم عمل په وجه؟

ده په جواب کي ورته وویل: چي چونکه زما معمول دا وو، چي ما به د پیغمبر ﷺ د نامه مبارک سره "صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" لیکی، نو الله تعالی ته زما عمل دومره خوښ وو، چي د "درود شریف" د لیکلو په برکت الله تعالی زه وبخښلم.

او ماته یې داسي نعمتونه را کړه:

...........مَا لاَ عَيْنٌ رَأَتْ، وَلاَ أُذُنٌ سَمِعَتْ، وَلاَ خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ﴾.

چي تر اوسه پوري نه چا لیدلي وه، او نه یې اورېدلي وه، او نه د چا په وهم او ګمان کي د هغو فکر او تصور را غلی وو.(١)

## د درود لیکلو انعام:

حضرت تهانوي رحمة الله علیه یو بله واقعه هم لیکلې ده، چي یو کاتب وو، د ده عجیبه معمول وو، روزانه چي به کله ده د محنت او مزدورۍ په طریقه کتابت کاوی، نو ده د ځانه سره یو جلا کتابچه ایښې وه، نو اول ځل به یې په هغه کتابچه کي "درود شریف"

(١) خطبات سکهروي، صفحه، ۸۵

ښائسته ليکې او بيا به يې هغه کتابچه کښېښوله او تر مابنامه پورې به يې خپل کتابت کوی، او د هغه کتابت په اجرت او مزدورۍ به يې خپله گذاره کوله او ژوندگي يې دغسې روانه وه.

چې کله د ده د مرگ وخت راغلی، نو يو شاگرد يې را طلب کړی، او هغه ته يې وويل: چې گوره د آخرت معامله مې مخته ده، ته زما حالاتو ته گوره چې الله تعالى زما سره څه معامله کوي؟

نو په دې وخت کې پر ده باندې ډېره بېره محسوسېدله، نو د بېرې په حالت کې يو "مجذوب" او لېونی د ده سره تېرېږي نو هغه "مجذوب" ورته وايي: چې سړيه ولې دومره بېرېږې؟ ستا هغه کتابچه د الله تعالى دربار ته پيش سوه، د هغې پر هر "درود شريف" باندې په ښائسته رنگ سره نښانونه ولگېدل، چې دا "درود" هم صحيح دی، او دا "درود" ډېر ښائسته دئ، نو ستا د "درودو" کتابچه ټوله د الله تعالى په دربار کې قبوله سوه او ته دلته بېرېږې، نو ستا د بېرېدلو ضرورت نسته.(۱)

## د اتيا (۸۰) کالو گناهونه معاف کېدل:

حقيقت دا دی: چې "درود شريف" داسې لوی عبادت دی، چې په هغه کې ډېر عبادات را جمع سوي دي يعني د عباداتو مجموعه ده، الله تعالى دې يې همېشه زموږ پرژبو باندې جاري ولري.

په يو حديث شريف کې راځي کچيرې يو بنده صرف يو ځل "درود شريف" په اخلاص سره ووايي؛ او هغه ذ الله تعالى په دربار کې قبول وگرځي، په داغه گړي باندې الله تعالى د دې سړي د اتيا (۸۰) کالو گناهونه ور معاف کوي، نو "درود شريف" دومره لوی عبادت او فضيلت والا عمل دی.(۲)

(۱) خطبات سکهروي، صفحه: ۸۵

(۲) خطبات سکهروي، صفحه: ۸۶

## په خوب کي د مړي سره د ملاقات کولو نسخه:

حضرت شیخ الحدیث مولانا زکریا رحمة الله علیه په "فضائل درود" کي دا واقعه را نقل کړېده، چي د حضرت حسن بصري رحمة الله علیه خدمت ته یو زنانه راغله هغې ورته وویل: حضرت زما یو څو ورځي مخکي یوه لور وفات سوه، او هغه تر اوسه ما په خوب کي نه ده لیدلې زما زړه غواړي چي په خوب کي یې ووینم، چي هغه په کم حال کي ده؟ ته ماته یو طریقه را وښیه چي په خوب کي مي د خپلي لور سره ملاقات وسي.

حضرت حسن بصري رحمة الله علیه ورته فرمایي: چي ته د شپې د بیدېدلو څخه مخکي څلور (۴) رکعته نفل لمونځ اداء کړه، او د سلام ګرځولو څخه وروسته چي کله پر خپل ځای د خوب لپاره پرېوځې، د هیچا سره خبره مه کوه او "درود شریف" وایه، چي په داغه "درود شریف" ویلو کي ته بیده سې، نو په خوب کي به انشاء الله ستا د خپلي لور سره ملاقات وسي.

نو هغه به تاته خپل حال در ښکاره کړي، چي زه په کم حالت کي یم، نو هغه زنانه ولاړه او د حضرت حسن بصري رحمة الله علیه په طریقه یې عمل وکړی، نو هغې خپله لور په خوب کي ولیده.

لېکن په ډېر سخت دردناکه او خوفناکه عذاب کي مبتلاء وه، چي هغې ته د اور لباس ور اغوستل سوی وو، او په لاسو کي یې د اور زولنې وې، او پښې یې د جهنم په زنځیرانو تړلي وې.

مور چي کله په داسي حالت کي خپله لور ولیده، نو چي سترګي یې را روښي سوې، نو د خولې څخه یې چیغي وختلې او په داغه شپه کي د حضرت حسن بصري رحمة الله علیه په خدمت کي حاضره سوه، او ورته وایي: حضرت! زما خو د خپلي لور سره ملاقات وسو لېکن زما زړه سره چاودل کېږي، څکه ما دا ډېره په خوفناکه او دردناکه عذاب کي مبتلاء ولیده.

حضرت! اوس یو طریقه را وښیه چي زما لور د دې عذابه څخه نجات او خلاصون پیدا کړي.

حضرت حسن بصري رحمة الله عليه ورته وايي: چي اوس داسي وکړه د الله تعالى پر نامه باندي مسکينانو ته صدقه ورکړه، شايد الله تعالى به د صدقې په برکت سره د دې ښځه عذاب ليري کړي، او دا به د دې عذابه ښځه نجات پيدا کړي.

د دې واقعې ښځه دوې (۲) ورځي بعد حضرت حسن بصري رحمة الله عليه خوب ويني چي يو ډېر ښائسته باغ دی، او د هغه په درميان کي يو تخت دی، هغه تخت ډېر ښائسته او مزين دی، او پر هغه تخت باندي سرېره يو ښائسته حسينه او جميله زنانه ناسته ده، او د هغې پر سر باندي د نور يو تاج دی، چي د هغه په وجه پر څلور (۴) طرفه باندي د نور شغلې سره پورته کيږي، هغه نوجوانه زنانه په خپله د حضرت حسن بصري رحمة الله عليه ښځه پوښتنه کوي، چي حضرت! ته ما پيژنې چي زه څوک يم؟

حضرت حسن بصري رحمة الله عليه ورته وايي: زه خو دي نه پيژنم چي ته څوک يې؟ هغه زنانه ورته وايي: چي زه د هغه ښځي لور يم، چي هغې زما په خوب کي د ليدلو طريقه ستا ښځه پوښتلې وه او هغه زما مور وه چي تا ته به راتله، او تا هغې ته زما په خوب کي د ليدلو طريقه ور ښوولې وه.

حضرت حسن بصري رحمة الله عليه ورته وايي: چي ستا مور خو ستا حالت په ډېر خوفناک او درد ناک شکل ماته بيان کړی وو، او ته خو ماشاء الله په ډېر ښه حالت کي يې، او دلته ستا ژوند په ډېره ښه طريقه تېرېږي.

ستا مور چي ته په کم دردناکه حالت کي ليدلې وې د هغه څه وجه وه؟ او اوس دي ولي زه په هغه حالت کي نه وينم؛ ځکه ته خو اوس ډېره په آرام او راحت کي يې او الله تعالى هر قسم سهولت او آساني در سره کړې ده د دې څه وجه ده؟

نو هغه زنانه ورته وايي: حضرت! زما مور چي په کم شکل زه ليدلې وم، او تا ته يې ويلي وه، هغه هم صحيح ده او ته چي مي اوس په کم حالت کي وينې دا هم صحيح ده.

خبره داسي وه چي د مرګه بعد چي زه په کم قبرستان کي ښخه سوم نو په هغه قبرستان کي يواځي زه نه زما ملګري مردګان اويا زره (۷۰۰۰۰) انسانان زما غوندي تول د خپلو ګناهونو په وجه په دردناکه او خوفناکه عذاب کي مبتلاء وه.

یو دوې (۲) ورځې مخکې د الله تعالی یو نېک بنده زموږ قبرستان او هدیرې ته راغلی نه معلوم چې هغه په کم اخلاص سره "درود شریف" ووایي، او د هغه ثواب یې د قبرستان ټولو مړګانو ته ور بخښي، د هغه هغه "درود" الله تعالی داسې قبول کړي، چې د هغه په برکت موږ اویا زره (۷۰۰۰۰) انسانانو ته الله تعالی د قبر د عذابه څخه نجات را کړي، او د ده د "درود شریف" ویلو په برکت الله تعالی دا درجه ماته را کړه، چې په کم شکل ته اوس ما وینې!.([1])

نو ځکه ما مخکې هم دا درته وویل: کچیرې یو "درود" د الله تعالی په دربار کې قبولیت پیدا کړي د حدیث د رویه د اتیا (۸۰) کالو صغیره ګناهونه د هغه په ذریعه باندې الله‌تعالی معاف کوي.

## "درود شریف" د خپل ژوند معمول جوړول:

نو ځکه بهتره دا ده چې "درود شریف" روزانه سل (۱۰۰) سل (۱۰۰) ځله سهار او ماښام انسان وایي: او د خپلې ټولې زندګۍ معمول یې جوړ کړي، نو سهار او ماښام سل(۱۰۰) سل (۱۰۰) ځله "درود شریف" ویل دا د الله تعالی په دربار کې ډېر لوی عبادت بلل کیږي.

کچیرې انسان ډېر زیات مصروفه وي، نو درو ډېرش، درو ډېرش (۳۳-۳۳) ځله او د دې څخه کم یوولس (۱۱) ځله یې د انتهائي مجبورۍ په وخت کې هم ویلای سي، ورنه په عامو حالاتو کې سل (۱۰۰) ځله ویل د انسان لپاره معمول جوړول مناسب دي.

## د درود شریف ویلو درجات:

د جمعې په ورځ چونکه د پیغمبرﷺ تاکید دی، چې تاسو به په کثرت سره پر ما باندې "درود" وایاست!

علماؤ لیکلي دي چې په کثرت سره د "درود شریف" ویلو درې (۳) درجې دي:

۱. ادنی درجه یې دا ده چې درې سوه (۳۰۰) واره وویل سي.

---

([1]) خطبات سکهروي، صفحه، ۸۶

۲. او درمیاني درجه یې زر (۱۰۰۰) واره ویل دي.

۳. او اعلی درجه یې درې زره (۳۰۰۰) واره ویل دي.

او "صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ" داسي آسانه "درود" دی، چي درې سوه (۳۰۰) یا زر (۱۰۰۰) واره یا درې زره (۳۰۰۰) واره ویل، د انسان لپاره آسانه عمل دی.

نو که د چا زړه غواړي درې سوه (۳۰۰) واره دي یې د جمعې په ورځ وایي: او که چاته آساني وي نو زر واره (۱۰۰۰) ویل، یا درې زره (۳۰۰۰) واره ویل، نو چي د "درود شریف" کم برکات دي، الله تعالی به هغه ټوله د ده په نصیب او قسمت کي را ولي.(۱)

## په "درود شریف" سره حاجتونه پوره کېدل:

په یو حدیث شریف کي راځي: چي کم سړی سل (۱۰۰) واره "درود شریف" ووایي: الله تعالی به د ده سل (۱۰۰) ضرورتونه پوره کوي، دېرش (۳۰) د دنیا او اویا (۷۰) حاجتونه د آخرت.

نو چي کم سړی سهار او ماښام سل (۱۰۰) واره "درود شریف" وایي: نو د ده شپېته (۶۰) حاجتونه به د دنیا پوره کېږي او یو سل او څلوېښت (۱۴۰) حاجتونه به یې د آخرت پوره کېږي.(۲)

## په جنت کي خپل ځای لیدل:

په یو بل حدیث شریف کي لا دا هم راغلي دي؛ چي یو بنده زر (۱۰۰۰) واره "درود شریف" ووایي: تر هغه وخته پوري ده ته مرګ نه راځي چي تر څو پوري دی په جنت کي خپل ځای په خپلو سترګو نه ویني.

دا هم یو فضیلت دی؛ چي الله تعالی به مخکي لا دی په دنیا کي مطمئن کړي، چي ته بېغمه او سېږه، چي کله آخرت ته راسې نو ستا به دا محل وي.(۳)

---

(۱) خطبات سکهروي، صفحه: ۸۹

(۲) خطبات سکهروي، صفحه: ۹۱

(۳) خطبات سکهروي، صفحه: ۹۱

**اهمه خبره:**

لېکن يو خبره په دماغ کي کښېښنول ضروري دي، چي دا څومره زيات فضائل بيان سوه، د دې مطلب دا دی: چي د دې "درود شريف" ويلو يقيناً دا ثواب دی.

لېکن يو شرط ور سره دی، هغه دا چي انسان به د ګناهونو څخه د خپل ځان حفاظت کړی وي، او د تيرو ګناهونو څخه به يې په رشتونې طريقه سره توبه کښلې وي.

کچيري يو سړی يو طرفته غلا کوي، يا بد نظري کوي، يا درواغ وايي، يا غيبت کوي، نو د دې ګناهونو عذاب چي په احاديثو مبارکه وو کي راغلی دی، نو هغه هم رشتيا دي، او هغه عذاب هم بر حق دی، چي د دې ګناهو په وجه به بنده ته ور کول کيږي.

نو لهذا د دې فضائلو سره سره د دې خبري پوره اهتمام به کوو چي کم بد اعمال دي، د هغوی څخه به موږ د خپل ځان حفاظت کوو، او په کمو خواهشاتو کي چي موږ غرق يو، نو د هغه څخه به د ځان ليري کولو پوره کوشش کوو.

او چي څومره را څخه سوي دي، پر هغه به پښېماني ښکاره کوو، او په را روانه زمانه کي به د هغه څخه د ځان محفوظه کولو پوره پوره کوشش کوو.

نو انشاء الله کچيري موږ په داسي حالت کي د دنيا څخه رخصت سو، چي د ګناهونو هيڅ رکاوټ او مانع زموږ سره نه وي، نو انشاء الله د الله تعالی د طرفه به زموږ سره معامله آسانه وي.

او که دغسي د ګناهونو څخه ډک د الله تعالی دربار ته ورسو نو اول به الله تعالی د هغه ګناهونو حساب را سره کوي، بيا د الله تعالی مشيت او خوښه ده، چي موږ ته عذاب را کوي او که مي په خپل رحمت سره معافوي.

**زر (۱۰۰۰) واره "درود شريف" او واقعه:**

محمد بن مالک رحمة الله عليه فرمايلي دي: چي په "بغداد" کي زموږ يو استاذ وو، قاري ابو بکر بن مجاهد رحمة الله عليه او زه د هغه خدمت ته ورغلم چي زه د هغه څخه قرآن کريم زده کړم، چنانچه زه او زما د ملګرو يو ډله د هغه په خدمت کي حاضر وو، او د قرآن

کریم تلاوت کېدی، او شاګردانو د ده څخه استفاده کوله، او د ده څخه یې قرآن کریم ازده کوی.

په دې دوران کې د قاري "ابو بکر" صاحب خدمت ته یو بوډا سړی راغلی، چې ډېره زړه او سُلېدلې لنګوټه یې پر سر باندې تړلې وه، چې کله حجرې ته را ننوتی، نو "قاري صاحب" د ده د استقبال لپاره مخته ور ولاړ سو، او دَی یې پر خپل ځای کښېنوی، او د بچیانو او د کور متعلق یې پوښتنه ځنې وکړه.

هغه بوډا ورته وویل: چې د شپې زموږ په کور کې یو نوی بچی پیدا سوی دی، او د کور انسانانو راته وویل: چې لږ شهد او غوړي راوړه، مګر زما سره دومره وس او توفیق نسته چې زه دا سامان ور برابر کړم.

قاري "ابو بکر" صاحب چې کله د ده دا حالت ولیدی، نو ډېر غمجن سو، د هغه څخه وروسته لږ ګړی د آرام کولو په نیت پرېوتی.

نو په خوب کې پیغمبر ﷺ ورته راغلی، ورته وایې: قاري "ابو بکر" صاحب ته ولې دومره غم کوې؟ او د دې بوډا پر مسکنت ولې دومره پرېشانه یې؟ داسې وکړه په دې وخت کې چې د "بغداد" کم وزیر دی، "علي ابن عیسیٰ" هغه ته ور سه او زما "سلام" ورباندې ووایه، او بطور نښانې دا ورته ووایه، چې ته هره شپه د بیدېدلو څخه مخکې پر ما باندې زر (۱۰۰۰) واره "درود" وایې، هغه ما ته را رسیږي.

او نن تا د "درود" زر (۱۰۰۰) واره عدد پوره نه کړی، ځکه چې اته سوه (۸۰۰) واره "درود" تا ووایه، نو د باچا استاذی ستا د وربللو لپاره تاته راغلی، او ته د هغه سره ولاړې بیا چې کله واپس راغلې نو هغه زر (۱۰۰۰) واره "درود" دې بیا پوره کړی.

او ورته ووایه چې پیغمبر ﷺ فرمایل: چې دې بوډا ته سل (۱۰۰) اشرفۍ ورکړه چې هغه خپل ضروریات په پوره کړي.

قاري "ابو بکر" صاحب وایې، چې کله زما سترګې را روڼې سوې نو هغه بوډا مې د ځانه سره "علي ابن عیسیٰ" وزیر ته ور وستی، او "سلام" مې ورته ووایی، او د

پیغمبرﷺ "سلام" مي هم ورته پېش کړی، او د "درود شریف" متعلق چي کم بشارت او نښانه پیغمبرﷺ راته ویلی وه، هغه مي هم ورته بیان کړه.

هغه چي کله دا زېرې واورېدې، نو یو "تېلۍ" یې را وغوښته چي په هغه کي زر (۱۰۰۰) اشرفۍ وې د هغه څخه یې سل (۱۰۰) اشرفۍ را وکښې ماته یې را کړې، چي په دې سره د هغه بوډا ضروریات ورپوره کړه.

او بیا یې سل (۱۰۰) اشرفۍ ماته را کړې، چي دا ستا شیریني ده، تا د پیغمبرﷺ هغه "زېرې" ماته را ورسوی، او بیا یې سل (۱۰۰) اشرفۍ نوري را کړې چي دا ستا د هغه زحمت بدله ده چي ته د لیري ځایه څخه ماته راغلې.

نو دا رنګه یې په مختلفو بهانو باندي هغه اشرفۍ را کښېلې او ماته یې را کولې تر دې حده چي زر (۱۰۰۰) اشرفۍ یې ماته راکړې.

نه سوه (۹۰۰) زما سره پاته سوې او په سل (۱۰۰) اشرفۍ ما د هغه بوډا سامان ورپوره کړی، د هغه څخه ورسته ما هغه نه سوه (۹۰۰) اشرفۍ بیرته هغه وزیر ته ور کړې، ما ورته وویل: چي پیغمبرﷺ ماته د سلو (۱۰۰) اشرفیو ویلي وه، د دې څخه زیات نوري اشرفۍ زه نه اخلم، نو هغه نه سوه (۹۰۰) اشرفۍ مي ور پرېښولې زه بیرته د بوډا سره را روان سوم.

نو دا واقعه هم پر دې باندي شاهده ده، چي کمځوک پر پیغمبرﷺ باندي "درود شریف" وایي، نو هغه یقینًا پیغمبرﷺ ته رسیږي.(۱)

## درود رسونکي ملائکي:

په حدیث شریف کي راځي: چي الله تعالی یو څه فرښتې د "درود شریف" پر رسولو مقرري کړیدي، چي کله یو امتي پر پیغمبرﷺ دورد ووایي: نو هغه فرښتې په خپله

(۱) خطبات سکهروي، صفحه: ۹۳

هغه "درود شریف" اخلي او د پیغمبر ﷺ حضور ته يې رسوي، او د هغه امتي او د هغه پلار نوم ور سره اخلي بيا يې پيغمبر ﷺ ته پيشوي.

لهذا د دې شخه به لويه نېک بختي کمه وي؟ چې د امتي د پلار نوم د پيغمبر ﷺ په خدمت کې پيش سي، او پيغمبر ﷺ د هغه فرشتې په ذريعه ور استول سوې تحفه د "درود شريف" په شکل څني قبوله کړي.(١)

## د علماء ديوبند متفقه عقيده:

چي کم سړی د پيغمبر ﷺ روضې ته ولاړ وي، پر پيغمبر ﷺ "درود شريف" وايي: نو پيغمبر ﷺ په خپله "روضه مباركه" کې ژوندی دی، او دی د "اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ" الفاظ په خپله اوري، د هغه سړي څخه چې روضه ته ولاړ وي.

او دی مبارک په خپله جواب ور کوي. دا څومره لوی دولت او څومره لوی سعادت دئ، چي الله تعالی يې د يو چا په نصيب کړي.

## درود تنجينا:

په "مناهج الحسنات" کې د "ابن فاکهاني" د کتاب "فجر منير" څخه را نقل سوي دي، چې يو بزرګ او نېک شخص "موسیٰ" ضرير (يعني ړوند)، ده خپله تېره سوې قيصه ماته بيان کړه، چې يو کښتۍ په درياب کې سفر کوی.

چي کله د درياب مابين ته ورسېده، نو هغه طوفاني سوه، او په درياب کې غرقېدلو ته قريبه سوه، زه په هغه کښتۍ کې موجود وم، پدې وخت کې پر ما باندي يو څه د خوب کيفيت راغلی.

(١) الترغيب والترهيب، جلد: ٢، صفحه: ٣٢٦

او پدې حالت کې پیغمبر ﷺ ماته را حاضر سو، او ماته یې د یو "درود" ښوونه وکړه، او دا یې راته وویل: چې د دې کښتۍ د انسانانو څخه دې یو دا "درود" زر (۱۰۰۰) واره ووایي، نو الله تعالی به د دوی وکښتۍ ته نجات ورکړي.

نو هغه بزرګ وایې: چې ما ژر هغه "درود" شروع کړی، چې کله تر درې سوه (۳۰۰) واره پوري نوبت رسېدی، نو الله تعالی هغه کښتۍ ته نجات ورکړی.

چې وهغه "درود شریف" ته اوس "دورد تُنجِینا" ویل کیږي او د هغه الفاظ داسي دي:

........اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ صَلَاةً تُنْجِيْنَا بِهَا مِنْ جَمِيْعِ الْأَهْوَالِ وَالْآفَاتِ وَتَقْضِيْ لَنَا بِهَا جَمِيْعَ الْحَاجَاتِ وَتُطَهِّرُنَا بِهَا مِنْ جَمِيْعِ السَّيِّئَاتِ وَتَرْفَعُنَا بِهَا عِنْدَكَ أَعْلَى الدَّرَجَاتِ وَتُبَلِّغُنَا بِهَا أَقْصَى الْغَايَاتِ مِنْ جَمِيْعِ الْخَيْرَاتِ فِي الْحَيَاةِ وَبَعْدَ الْمَمَاتِ إِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ﴾.(۱)

ای الله! ته زموږ پر سردار محمد او د ده پر اولاد باندې رحمتونه نازل کړه، داسې رحمتونه چې د هغه په ذریعه موږ ته د ټولو خطراتو او د ټولو آفاتو څخه نجات را نصیب کړي، او د هغه په ذریعه زموږ ټوله ضرورتونه پوره کړې، او زموږ ټوله ګناهونه معاف کړې، او زموږ درجې بلندي کړې، او د مرګه څخه وروسته د ټولو نیکو مقاصدو پوري موږ ورسوي، بې شکه ته پر هر شي باندي قادر یې!

د حضرت شیخ الاسلام حسین احمد مدني رحمة الله علیه په مکتوباتو کي هم دا لیکلي دي: چې د جمعې په شپه د "محرم الحرام" په اتمه (۸) په (۱۴۳۱) هجري کي په مدینه منوره کي یو مُتبعِ سنت بزرګ چې د پیغمبر ﷺ د نسب څخه وو، په خوب کي یې د پیغمبر ﷺ زیارت په نصیب سو.

پیغمبر ﷺ ورته وفرمایل: چې زما د محبوب "حسین احمد مدني رحمة الله علیه" وظیفه (درود تُنجِینا) په انسانانو کي ښه سره عام کړی.

(۱) نزهة المجالس، صفحه: ۸۶.

خصوصًا د مسلمانانو په هغه ملکو کي چي هلته حالات خراب دي، په خاص اهتمام سره د دې "درود شريف" وظيفه کوی.

شيخ الاسلام مولانا حسين احمد مدني رحمة الله عليه د آفاتو څخه د حفاظت لپاره به دا وظيفه روزانه د ماخستن څخه وروسته اويا (۷۰) واره ويله.

حکيم الامة حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه په "زاد السعيد" کي هم دا "درود شريف" په دا غه الفاظو سره ليکلی دی، او دا يې هم ليکلي دي:

چي د دې "درود شريف" په کثرت سره ويل او په خپل کور کي پر دېوال باندي مېنلول د ټولو امراضو او د ټولو مشکلاتو او د ټولو پرېشانيو څخه د حفاظت لپاره مفيد او مجرب دی، او د انسان وزړه ته عجيب او غريب اطمينان ورکوي، او د دې څخه علاوه د دې برکات ډېر زيات دي.

نو په کار دا دی: چي د پېغمبر ﷺ په حق کي "درود شريف" ويل دا د هر مسلمان پر خوله باندي جاري سي، يو خو به دا د پېغمبر ﷺ د احسان کولو حق انسان د خپل طرفه څخه د ادا کولو کوشش وکړي.

او د دې سره په اوسنی حالاتو کي د خپل ځان او د خپلو بچيانو او د خپل مال او دولت د حفاظت لپاره د "درود شريف" وظائف کول، او بيا خاص "درودِ تُنجِينا" خپله وظيفه جوړول دا ضروري دي.

الله تعالی دي زموږ او ستاسو په زړو کي د پېغمبر ﷺ سره په حقه طريقه سره محبت پيدا کړي، او الله تعالی دي مو پر خولو باندي پر پېغمبر ﷺ باندي درود ويل: جاري او ساري وګرځوي.

او الله تعالی دي دا څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

(آمین یا رب العالمین)

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآیة)

# د درود شریف فضائل، دوهم بیان

(بیان)

مولوی **اطیع الله** صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ **کلیم الله** صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقریر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتي حافظ کلیم الله صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشاعت | اول |
| تاریخ | جمادي الاولی ۱۴۴۲ بمطابق ۲۴ جنوري ۲۰۲۱ |
| تعداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إنّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿إِنَّ اللّٰهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا﴾.(١)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ ﴿مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً وَاحِدَةً صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ عَشْرَ صَلَوَاتٍ، وَحُطَّتْ عَنْهُ عَشْرُ خَطِيئَاتٍ، وَرُفِعَتْ لَهُ عَشْرُ دَرَجَاتٍ﴾.(٢)

يَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا أَبَدًا ☆ عَلَى حَبِيبِكَ خَيْرِ الْخَلْقِ كُلِّهِمْ

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰه رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## د تیري جمعې اعاده:

محترمو مشرانو: په تېره جمعه کي مي دا خبره په تکرار سره کړې وه، چي پیغمبر ﷺ زموږ د ټولو مسلمانانو لپاره مُحسنِ اعظم دی، او د ده بې شماره احسانات پر موږ باندي په دنیا کي هم دي، او داغه رنګه په آخرت کي هم دي.

د ده غونډي عظیم ترین مُحسِن د هر مؤمن لپاره په ټوله انسانیت کي بل هیڅوک کېدای نسي، په دې وجه باندي د ټولو مؤمنانو لپاره د ده د ذات مقدس سره زیات

(١) الاحزاب، آیت نمبر: ٥٦

(٢) سنن النسائي، حدیث: ١٢٩٧

محبت کول ضروري دي او هم پر ټوله انسانیت باندي دَی مبارک د خپل ځان لپاره تر ټوله انسانیت زیات محبوب ګرځول لازمي دي.

د دنیا دا دستور او قانون دی، چي کله یو سړی د یو محبوب حضور ته ورځي نو څه نا څه تحفې او تحائف د ځانه سره ور وړي، کچیري خالي لاس ور سي، نو بیا خو پخپل ځان کي ندامت او شرمندګي محسوسوي.

بلکه کچیري دَی پخپله نه ځي یو بل څوک د ده د محبوب دربار لره ځي، نو هم د هغه تلونکي په لاس باندي خپل مُحسِن او محبوب ته تحفه ور استوي.

نو چي کله قانون داسي دی، نو زموږ ومخته چي کله زموږ د مُحسِن او محبوب او اعظم ذکر راسي، نو ایا پر موږ به د دې خپل مُحسِن او محبوب لپاره تحفه پېشول لازم نه وي؟ ضرور به لازم وي.

او زموږ د مُحسِن اعظم تحفه څه ده؟ ده مبارک پخپله راته ویلي دي: چي زما لپاره لویه تحفه دا ده، چي تاسو پر ما باندي په کثرت سره "درود شریف" وایاست!

﴿اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَعَلٰی آلِ مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی عَدَدَ مَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی﴾.

## د "درود شریف" حکم:

د ټوله امت د علماؤ پر دې باندي اتفاق دی، چي پر هر اُمتي باندي په ژوند کي کم از کم یو ځل "درود شریف" پر پیغمبرﷺ باندي ویل فرض دی.

داسي فرض دی، لکه: لمونځ، روژه، زکوٰة او حج چي فرض دي، د دې د فرضیت دلیل، د قرآن کریم دا آیت دی:

.............إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا﴾.(۱)

الله تعالی پر پیغمبرﷺ باندي رحمتونه را نازلوي او ملائکي د پیغمبرﷺ لپاره استغفار غواړي ای مؤمنانو! تاسو هم پر پیغمبرﷺ باندي صلوة او سلام وایاست.

(۱) الاحزاب، آیت نمبر: ۵۶

په دې آیت مبارک کې چونکه الله تعالی مؤمنانو ته خطاب د امر په صیغه کړیدی، او د امر صیغه چونکه د لزوم لپاره راځي نو ځکه علماؤ په ژوند کې یو ځل پر پیغمبر ﷺ باندې درود ویل لازم بللي دي.

او د دې څخه علاوه چې کله په یو مجلس کې د پیغمبر ﷺ نوم مبارک بار بار یادیږي، د وینا په شکل یا د اوریدلو په شکل نو په دې وخت کې یو ځل "درود شریف" ویل، واجب دي، که یې انسان نه ووایي، نو گناه گاره دی هر ځل ویل یې واجب ندي، بلکه مستحب دي.

## د واجب او فرض فرق:

د واجب او فرض په مابین کې په عملي اعتبار سره څه خاص فرق نشته، ځکه چې په واجب باندې هم عمل کول ضروري دي، او په فرض باندې هم عمل کول ضروري دي، د فرضو پرېښونکی هم گناهګاره دی، او د واجبو پرېښونکی هم گناهګاره دی.

لېکن د دواړو په مابین کې په اعتقادي لحاظ سره فرق دی، هغه دا کچیرې یو سړی د فرضو انکار کوي، نو کافر کیږي، مثلا که یو سړی دا ووایي، چې لمونځ فرض نه دی، نو هغه سړی مسلمان نسي پاته کېدلای په کفر کې داخلیږي، یا د روژې د فرضیت څخه انکار وکړي، نو کافر بلل کیږي.

لېکن د واجبو د انکار کولو څخه انسان نه کافر کیږي البته په ډېر سخته گناه او فسق کې مبتلاء بلل کیږي، لکه یو سړی د وترو د لمانځه څخه انکار وکړي، چې د وتر لمونځ واجب نه دی، نو هغه سړی زیات گناهګاره او فاسق دی، البته په عملي اعتبار سره فرض او واجب دواړه ضروري دي.

## هر ځل "درود شریف" ویل:

البته شریعت په عمل کې د انسانانو د ضروریاتو او سهولیاتو پوره لحاظ ساتلی دی، چې کم حکم بنده ته کول کیږي، هغه به قابل عمل وي او د هغه په کولو کې به انسان ته سهولت وي، لهذا که په یو مجلس کې د پیغمبر ﷺ نوم مبارک مکرر ذکر کیږي، نو په یو ځل "درود شریف" ویلو سره واجب ادا کیږي.

کچیري هر ځل د ده د نامه مبارک سره "درود" نه وویل سي، نو د واجبو پرېښولو ګناه به د انسان پر ذمه نه وي.

لېکن د یو مسلمان د ایمان دا تقاضا ده، چي په یو مجلس کي کچیري مکرر د پیغمبرﷺ ذکر مبارک راځي نو هر ځل دي "درود شریف" وایي: که څه هم مختصرًا "صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ" ووایي.

## د اوداسه په دوران کي "درود شریف" ویل:

د دې څخه علاوه په بعضي اوقاتو کي پر پیغمبرﷺ باندي "درود شریف" ویل مستحب وي، مثلًا د اوداسه کولو په دوران کي یو ځل "درود شریف" ویل مستحب دي، او مکرر "درود شریف" ویل، یعني د یو ځل څخه زیات ویل، د فضیلت سبب دی.

نو ځکه د یو مسلمان دپاره، بهترینه طریقه دا ده: چي تر څو پوري په اوداسه کي مشغوله وي، "درود شریف" وایي: علماء کرامو دا مستحب بللی دی.

## چي کله لاس او پښې شل سي:

داغه رنګه په یو بل حدیث شریف کي دا هم راغلي دي: که په تاسو کي د یو سړي لاس او پښې وچ سي؛ یعني لاس او پښې بیده سي، چي د هغه په وجه یې احساس ختم سي او هغه شل سي، نو په دې وخت کي دي هم هغه سړی پر ما باندي "درود شریف" وایي.

..........اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى آلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ﴾.

چي کله پیغمبرﷺ پر دې موقعه باندي د "درود شریف" ویلو تلقین کړیدی، د دې څخه دا ښکاره کیږي چي "درود شریف" ویل د دې بیماری علاج هم دئ، او د الله تعالی د رحمت څخه دا امید دی، چي د "درود شریف" په ویلو سره به د پښو او لاسو د وچ والي اثر ختم سي.

زه دا وایم چي د دې بیمارۍ علاج دی، یا نه دی، لیکن یو مؤمن ته پر پیغمبرﷺ د "درود شریف" ویلو او د "درود شریف" د فضیلت حاصلولو یو موقعه په لاس ورغلې ده، نو دَی دي دا موقعه غنیمت وبولي او د دې موقعې څخه دي ګټه واخلي او پر پیغمبرﷺ دي "درود شریف" ووایي.

## مسجد ته داخلېدل او راوتل:

داغه رنګه چي کله انسان مسجد ته داخلیږي یا د مسجد څخه راوځي، نو په دې اوقاتو کي هم "درود شریف" ویل مستحب عمل دئ، چنانچه مسجد ته د داخلېدلو مسنونه دعاء خو دا ده:

............اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِکَ﴾.

او د مسجد څخه د راوتلو مسنونه دعاء دا ده:

............اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُکَ مِنْ فَضْلِکَ﴾.

په روایاتو کي راځي چي د دې دعاګانو سره دي د بسم الله او د "درود شریف" ویلو اضافه هم انسان کوي، یعني د درود شریف دي هم وایي، او مسجد ته د داخلېدلو په وخت کي دي دا رنګه دعاء وویل سي:

............بِسْمِ اللهِ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی رَسُوْلِ اللهِ اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِکَ﴾.

او د مسجد څخه د راتولو په وخت کي دي دارنګه دعاء وویل سي:

............بِسْمِ اللهِ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی رَسُوْلِ اللهِ اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُکَ مِنْ فَضْلِکَ﴾.

لهذا پر دې دواړو موقعو باندي یعني د مسجد د ننوتلو او د راوتلو پر وخت هم "درود شریف" ویل مستحب دي.

## د دې دعاګانو حکمت:

په حقیقت کي الله تعالی د مسجد د داخلېدو او د راوتلو په وخت کي دوې عجیبه دعاګاني د پیغمبرﷺ په وینا انسانانو ته بیان کړي دي، چي د داخلېدو په وخت کي

به دا دعاء کوی، چې ای الله! زما لپاره د "رحمت" دروازې خلاصې کړه، او د مسجد څخه د راوتلو په وخت کې دا دعاء وایي: چې ای الله! زه ستا "فضل" غواړم.

ګویا د داخلېدو په وخت کې د "رحمت" دعا غوښتل او د مسجد څخه د راوتلو په وخت کې د الله تعالی د "فضل" دعاء غوښتل.

علماؤ د دې دواړو دعاګانو حکمت دا لیکلی دی: چې په قرآن کریم او په حدیثو مبارکه وو کې عام طور د "رحمت" اطلاق د آخرت پر نعمتو باندې کیږي، چنانچه کله یو څوک وفات سي، او د هغه په حق کې "رحمه الله" یا د "رحمة الله علیه" په الفاظو سره دعاء کول کیږي، یعني الله تعالی دې پر ده باندې رحم وکړي.

او د "فضل" اطلاق عام طور د دنیا پر نعمتو کیږي مثلا مال او دولت ښځه او بچیان کور او کهول، د روزي پیدا کولو اسباب وغیره ته "فضل" وایي.

لهذا چې کله انسان مسجد ته داخلیږي نو دا دعاء دې وغواړي چې ای الله! زما لپاره د "رحمت" دروازې را خلاصې کړه، یعني د آخرت نعمتونه زما په نصیب کړې او په مسجد کې د داخلېدو وروسته ماته د داسې عبادت کولو او د داسې ذکر کولو توفیق را کړه، چې د هغه په ذریعه ستا د "رحمت" یعني د آخرت د نعمتو دروازې پر ما را خلاصې سي، او د آخرت نعمتونه ماته را نصیب سي.

او چونکه د مسجد د راوتلو څخه وروسته یا انسان خپل کور ته ځي، یا خپلې دوکانداري او دفتر ته ځي او د معاش (رزق) طلب کوي، نو پر دې موقعه باندې بیا د الله تعالی څخه دا دعاء غوښتل، چې ای الله! پر ما باندې د خپل "فضل" یعني د دنیا د نعمتو دروازې را خلاصې کړه.

کچیرې د انسان د الله تعالی په دربار کې صرف داغه دوې (۲) دعاګانې قبولې سي، نو بیا انسان نور څه غواړي؟ ځکه په دنیا کې هم د الله تعالی "فضل" د ده په نصیب سو، او په آخرت کې د الله تعالی "رحمت" ورته حاصل سو، الله تعالی دې زموږ د ټولو په حق کې دا دواړې دعاګانې قبولې کړي.

چي کله د دې دواړو دعاګانو قبولیت انسان غواړي نو د دې څخه مخکي دي، زموږ پر نبي محمد ﷺ باندي ضرور "درود شریف" وایي.

ځکه چي تاسو کله پر پیغمبر ﷺ "درود شریف" ووایاست! نو هغه "درود شریف" د الله تعالی په دربار کي ضرور قبولیت پیدا کوي، او دا ممکنه نه ده چي هغه "درود شریف" دي د الله تعالی په دربار کي قبول نه سي، ځکه د "درود شریف" د قبلېدو اعلان مخکي الله تعالی کړیدی، او چي کله "درود شریف" قبول سي، نو د هغې سره الله تعالی د انسان دعاګاني هم قبلوي، او چي کله دا دعاګاني قبولي سي، نو د دنیا او آخرت دواړو نعمتونه به د انسان په نصیب سي.

نو ځکه د مسجد د ننوتلو او راوتلو په وخت کي "درود شریف" انسان ضرور باید ووایي.

## د اهمي خبري څخه مخکي "درود شریف":

داغه رنګه پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: چي کله یو انسان اهمه خبره شروع کوي، یا اهمه خبره لیکي نو د هغه څخه مخکي دي د الله حمد او ثناء ووایي، او بیا دي پر پیغمبر ﷺ "درود شریف" ووایي، د هغه څخه وروسته دي خبره شروع کوي، او یا دي لیکل شروع کوي.

چنانچه تاسو به لیدلي وي چي د تقریر د شروع کېدو څخه مخکي عام طور خطیبان حضرات اکثره یو خطبه پېشوي، او په هغه کي د الله تعالی حمد او توحید بیانوي، په هغه خطبه کي د الله تعالی د حمد او د توحید بیانولو وروسته، پر پیغمبر ﷺ باندي "درود شریف" وایي، او د پیغمبر ﷺ د رسالت بیان کوي.

او کچیري وخت کوتاه وي، نو صرف دومره ویل مناسب وي:

..............نَحْمَدُهٗ وَنُصَلِّيْ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ﴾.

یعني موږ د الله حمد وایو، او پر پیغمبر ﷺ باندي "درود شریف" وایو.

یا دي دا وایي؛

........اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَکَفٰی وَسَلَامٌ عَلٰی عِبَادِهِ الَّذِیْنَ اصْطَفٰی﴾.

دا هم د مختصر "درود شریف" ویلو یو صورت دی.

بلکه زموږ رواج خو دا دی؛ چې کله یو سړی باقاعده تقریر کوي، نو په هغه وخت کې دا جملې ادا کوي:

........نَحْمَدُهٗ وَنُصَلِّیْ عَلٰی رَسُوْلِهِ الْکَرِیْمِ﴾.

لېکن د صحابه کرامو عادت به داوو، چې کله به یې پر یو مسئله خبره کوله که به څه هم د دنیا مسئله وه، مثلًا خرید او فروخت کول، یا یو بل عقد کول وو، نو د خبرې شروع کولو څخه مخکې به یې د الله تعالی حمد او ثناء او پر پیغمبر ﷺ "درود شریف" وایه، د هغه څخه وروسته به یې د خپل مقصد خبره شروع کوله.

چنانچه په عربو کې تر اوسه هم د هغه "نمونه" څه نا څه موجوده ده، دوی چې کله د یو کار د مشورې لپاره سره کښېني نو اول حمد او ثناء او "درود شریف" وایي، بیا هغه مشوره شروع کوي، او زموږ په معاشره کې دا سنت ختم سویدی، نو د دې د ژوندي کولو ضرورت دی، او په خپل ماحول او رواج کې د دې سنت پر جاري کولو به الله تعالی موږ ته لوی اجر او ثواب را کوي.

## د غصې په وخت کې درود شریف ویل:

علماء کرامو لیکلي دي: چې کله یو انسان ته غوصه ورسي او دا یې اندېښنه وي، چې غصه دَی د حاله څخه ونه باسي او د شریعت خلاف یو کار د ده د لاس څخه ونه وځي یا یو بد قول او بده وینا د ده د ژبې څخه صادره نسي، نو د دې غصې په حالت کې دَی "درود شریف" وایي، د "درود شریف" په ویلو سره به انشاء الله هغه غوصه آرامېږي، او غصه به دَی د قابو څخه دباندې نه باسي.

په عربو کې تر اوسه دا ډېر ښه رسم او رواج را روان دی، چې کله د دوو (۲) انسانانو په مابین کې یو غصه او تکرار را سي او تر جنګ او جګړې پورې خبره ورسیږي نو فورًا په دې وخت کې په دوی دوو کې یو انسان یا دریم انسان دا الفاظ و دوی ته ادا کوي چې:

..........صَلِّ عَلَى النَّبِيِّ﴾.

یعني پر نبي اکرمﷺ باندي "درود" ووایاست! د هغه په جواب کي هغه دوهم سړی "درود شریف" ویل شروع کړي.

﴿اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ﴾

بس په دې وخت کي هغه جنګ او جګړه ختمه سي، او د دواړو فریقینو غصه ختمه سي.

دا په حقیقت کي د علماء کرامو د هغه تلقین نتیجه ده، چي د خبتم ختمولو دپاره د "درود شریف" ویل ډېر مفید دي، نو ځکه دې ته هم په خپله معاشره کي د رواج ورکولو ضرورت دئ.

## د خوب کولو ځغه مخکي "درود شریف" ویل:

داغه رنګه علماؤ لیکلي دي، چي کله یو انسان پر بستره باندي د ویدېدلو دپاره پرېوځي نو په دې وخت کي دي اول ټول مسنوني دعاګاني ووایي او د هغه ځخه وروسته دي "درود شریف" ووایي: نو دي ویده سي، چي د انسان د بیدارۍ د وخت آخرنی کلام "درود شریف" سي.

دا داسي خبري دي چي پر دې باندي په عمل کولو کي هیڅ محنت او مشقت نسته او نه د انسان پر دې باندي څه وخت لګیږي، ځکه چي کله تاسو د خوب دپاره پرېوځئ، نو بل کار خو نه سئ کولای! "درود شریف" تر هغه وخته وایاست! چي تر څو پوري تاسو ته خوب در ځي.

چي ستاسو د اعمالو خاتمه په خیر سره سي نو دا هم په خپلو معمولاتو کي را وستل ضروري دي، بهر حال دا هغه مواقع دي، چي په هغه کي "درود شریف" ویل، علماؤ مستحب لیکلي دي، په کار دا دي: چي انسان یې په خپلو معمولاتو کي داخل کړي.

## روزانه درې سوه (۳۰۰) ځله درود شریف:

بعضې بزرګانو لیکلي دي، چې کم از کم سهار او ماښام "درود شریف" پر پیغمبر ﷺ درې سوه (۳۰۰) ځله ویل باید انسان د ځان معمول جوړ کړي.

د حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهي رحمة الله علیه په باره کې را نقل سویدي: چې هغه به خپلو متوصلینو ته دا تلقین کوئ، چې کم از کم په ورځ کې درې سوه (۳۰۰) واره "درود شریف" وایاست!

انشاء الله د دې په وجه به تاسو په هغه انسانانو کې شمار سئ: چې د هغو په عمل نامه کې په کثرت سره "درود شریف" ویل لیکلي وي، ورنه کم از کم سل (۱۰۰) ځله خو "درود شریف" ویل د خپل ځان معمول ضرور جوړ کړي الله تعالی دي موږ ټولو ته د دې د معمول جوړولو توفیق را نصیب کړي.

## "درود شریف" د رسول الله ﷺ د دیدار سبب:

بزرګانو د "درود شریف" ویلو یو دنیوي فائده دا هم بیان کړې ده، چې کم سړی په کثرت سره "درود شریف" وایي: الله تعالی به و ده ته د حضور اکرم ﷺ دیدار ور نصیب کړي.

علامه جلال الدین سیوطي رحمة الله علیه چې د ډیرې لوړې درجې د علماؤ څخه وو، دا هغه بزرګ وو، چې د دین او دنیا په علومو کې ده داسې علم نه پرېښوی، چې پر هغه دي ده یو کتاب نه وي لیکلی.

پر علم تفسیر، علم حدیث، علم فقه، علم بلاغت، علم نحو، علم حساب، ګویا پر هره موضوع د ده تصنیف موجود دی.

بیا پر علم تفسیر باندي د ده درې (۳) کتابونه دي، چې په هغو کې یو پر اتیا (۸۰) جلدو مشتمل دی، چې د هغه نوم دی، "مجمع البحرین" او دوهم تفسیر دی، "الدر المنثور"، او دریم "جلالین" دی د ده ټول لیکل سوي کتابونه کچیرې نن یو سړی وایي: نو پر هغه باندي به د انسان ټوله ژوندګي تېرېږي.

لیکن علامه جلال الدين سيوطي رحمة الله عليه د څلوېښت (۴۰) کاله په عمر کي دا ټوله تصانيف ليکلي دي، د هغه څخه وروسته يې خپل ځان د الله تعالى د عبادت لپاره فارغه کړېدی.

## په ويښه باندي د پيغمبر ﷺ زيارت:

د ده په حالاتو کي ليکلي دي: چي الله تعالى ده ته دا اعزاز او اکرام ور کړی وو، چي پنځه دېرش (۳۵) ځله ده، د پيغمبر ﷺ په ويښه او د بيدارۍ په حالت کي زيارت کړی وو، او د بيدارۍ په حالت کي د پيغمبر ﷺ زيارت کول دا ممکن او د کشف يو قسم دی.

يو چا د علامه جلال الدين سيوطي رحمة الله عليه څخه پوښتنه وکړه، چي حضرت موږ خو اورېدلي دي، چي تا پنځه دېرش (۳۵) ځله د بيدارۍ په حالت کي د پيغمبر ﷺ زيارت کړېدی، نو موږ ته هم هغه عمل را وښيه چي د هغه په خاطر الله تعالى تا ته دا عزاز او اکرام در نصيب کړېدی.

ده په جواب کي ورته وويل: چي ما خو په خپله زندګي کي يو خاص عمل ندی کړی، البته د الله تعالى خاص فضل پر ما دا سوی دی، چي زه "درود شريف" په ډېر کثرت سره وايم، که د ولاړي او ناستي حالت وي، او که د تګ او راتګ حالت وي، که د ويښو او ويدېدو حالت وي زما دا کوشش وي چي زه پر پيغمبر ﷺ "درود شريف" ووايم، شايد د دې عمل په خاطر الله تعالى زما سره دا احسان کړی وي.

## د پيغمبر ﷺ د زيارت طريقه:

بهر حال بزرګانو ليکلي دي: کچيري يو سړی د پيغمبر ﷺ د زيارت شوق لري، هغه دي د جمعې په شپه دوه (۲) رکعته نفل لمونځ په دې شکل اداء کړي، چي په هر رکعت کي دي، د سورة فاتحې څخه وروسته يوولس (۱۱) واره "آية الكرسي" او يوولس (۱۱) واره "سورة الاخلاص" ووايي، او د سلام ګرځولو څخه وروسته دي سل (۱۰۰) واره دا "درود شريف" ووايي.

﴿اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ وَعَلٰى آلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ وَبَارِكْ وَسَلِّمْ﴾.

کڅیري یو سړی څو ځله دا عمل وکړي، نو الله تعالی به ده ته په خوب کې د پیغمبرﷺ زیارت ور نصیب کوي، خو په دې شرط چې په ده کې به شوق او طلب کامل وي، او خپل ځان به د ګناهونو څخه محفوظه ساتي.

## پر "درود شریف" نه ویلو باندې وعید:

پر "درود شریف" نه ویلو باندې د پیغمبرﷺ په احادیثو مبارکه وو کې ډېر وعیدونه راغلي دي:

لکه په یو حدیث شریف کې راځي یو ځل پیغمبرﷺ په مسجد نبوي کې د خطبې ویلو لپاره تشریف را وړی، او صحابه کرامو ته یې وویل: چې تاسو منبر ته نږدې نږدې راسئ، چې کله ټوله صحابه کرام منبر ته را نږدې سوه، د هغه څخه وروسته پیغمبرﷺ منبر ته پورته کېدئ.

نو چې کله یې د منبر پر اوله ځینه باندې پښه کښېښوله نو په دې وخت کې یې په ژبه باندې وفرمایل: ﴿آمین﴾.

بیا چې کله پښه مبارکه د منبر پر دوهمه ځینه باندې ایږدي، نو بیا په خوله سره د ﴿آمین﴾ کلمه ادا کوي. او چې کله د منبر دریمې ځینې ته د ده پښه مبارکه رسیږي نو بیا هم ﴿آمین﴾ وایي.

چې کله پیغمبرﷺ د خطبې ویلو څخه فارغه سو، او د منبر څخه را شوه سو، نو صحابه کرام ورته وایي: چې ای د الله رسوله! نن موږ ستا څخه داسي خبري واورېدلې، چې د دې څخه مخکې موږ هیڅکله نه وې اورېدلي، هغه دا چې کله ته د منبر پر ځینو باندې ختلې نو بغیر د دعاء ویلو دي، درې ځله ﴿آمین﴾ ووایي، د دې څه وجه وه؟

پیغمبرﷺ په جواب کې ورته وایي: چې خبره اصلًا داسې وه چې کم وخت زه منبر ته ختلم نو په دې وخت کې حضرت جبرائیل علیه السلام زما حضور ته راغلی، هغه درې دعاګاني وکړې، او ما د هغه پر دعاګانو باندې ﴿آمین﴾ ووایي.

په حقیقت کې هغه دعاګاني نه وې، بلکه د دعاګانو پر ځای بد دعاء او ښراوي وې.

تاسو د دې خبرې تصور وکړئ! چې مسجد نبوي غونډې مقدس مقام دی، او غالبًا د جمعې مبارکه ورځ ده، او د خطبې وخت دئ، چې د قبوليت د دعاء وخت دی، او دعاء کونکی حضرت جبرائيل عليه السلام دئ، او آمين ويونکی پيغمبر ﷺ دی، نو هغه دعاء به د الله تعالى په دربار کې قبوليت څنګه نه پيدا کوي؟ چې په هغه کې دومره صفات را جمع سي.

بيا يې وفرمايل: چې حضرت جبرائيل عليه السلام اوله دعاء دا وکړه، چې برباد دي هغه سړی وي، چې د هغه مور او پلار بوډا والي ته ورسيږي او دی د هغوی د خدمت کولو په خاطر د خپلو ګناهو مغفرت پيدا نکړي، او جنت ته ځان نه ورسوي.

ځکه بعضې اوقات مور او پلار د اولاد په يو معمولي خبره او په لږ خدمت ډېر خوشحاله سي، خپل اولاد ته دعاګاني کوي، چې هغه د دوی د اولاد د مغفرت ذريعه جوړيږي.

لهذا چې د کم چا مور او پلار بوډا وي، او دی د هغوی په خدمت کولو باندې د جنت مقام ځان ته پيدا نه کړي، او د خپلو ګناهونو د معاف کېدلو ذريعه جوړه نکړي، نو دغسې سړی د هلاکت او بربادی لائق دی، دا بد دعاء حضرت جبرائيل عليه السلام کوي، او پيغمبر ﷺ پر هغه باندې آمين وايي.

دوهمه بد دعاء دا ده، چې هلاک دې وي، هغه سړی چې پر هغه باندې د روژې مبارکه مياشته پوره تېره سي، او د هغه باوجود دی د خپلو ګناهونو مغفرت ونکړي.

ځکه په روژه مبارکه کې د الله تعالى رحمت او مغفرت د انسانانو لپاره صرف يو بهانه تلاشوي.

دريمه بد دعاء هغه دا وکړه، چې هغه سړی دې هلاک او برباد وي، چې د هغه مخته زما نوم واخيستل سي، او هغه پر ما باندې "درود شريف" نه ووايي.(¹)

---

(¹) التاريخ الكبير، للبخاري، جلد: ۷، صفحه: ۲۲۰

نو د "درود شریف" پر نه ویلو باندي دومره سخت وعید پیغمبر ﷺ بیان کړی دی، لهذا چي کله هم د پیغمبر ﷺ نوم مبارک د یو انسان مخته ذکر سي، نو د مسلمان د مسلمانۍ او د مؤمن د ایمان دا تقاضا ده، چي پر هغه باندي "درود شریف" ووایي.

## د حضرت حواء علیها السلام مهر:

شیخ عبد الحق محدث دهلوي رحمة الله علیه په "مدارج النبوة" کي لیکلي دي: چي کله حضرت حواء علیها السلام پیدا سوه، نو د حضرت آدم علیه السلام زړه وغوښتل چي دې ته ځان ور نږدې کړي.

ملائکو ورته وویل: ته صبر کوه، چي تر څو ستا نکاح د دې سره سوي نه وي، او مهر دي اداء کړی نه وي، تر هغه وخته پوري ته دې ته نسې نږدې کېدلای.

حضرت آدم علیه السلام پوښتنه وکړه، چي د دې مهر څه دئ؟ فرشتو په جواب کي ورته وویل: چي پر رسول مقبول ﷺ باندي درې (۳) ځله "درود شریف" ویل، او په یو روایت کي شل (۲۰) ځله "درود شریف" ویل راغلي دي.

دا واقعات فقط په "زاد السعید" کي را نقل سوي دي، د "زاد السعید" څخه علاوه نورو بزرګانو هم دې ته قریب واقعات را نقل کړي دي.(۱)

## د الله تعالی د قرب حاصولو عمل:

حضرت کعب ابن احبار رحمة الله علیه چي د "تورات" ډېر لوی عالم وو، هغه وایي: چي الله تعالی حضرت موسی علیه السلام ته وحي وکړې، چي ای موسی! که چیري په دنیا کي داسي خلک نه وای چي همېشه زما حمد او ثناء ووایي، نو د آسمانه څخه به یو قطره اوبه نه وای را توی سوي، او د مځکي څخه به یو دانه شین بوټی نه وای را شین سوی، او نور یې هم د ډیرو شیانو ذکر وکړی.

د هغه څخه وروسته ورته وایي: ای موسی! که ته دا غواړې چي زه وتاته د دې څخه هم زیات نږدې سم.

---

(۱) شرح وقایة مع حاشیة عمدة الرعایة از مولانا عبد الحی صاحب، جلد: ۲، حاشیه صفحه: ۳۲

لکه څو مره چي ستا وژبه ته ستا کلام در نږدې دی.

او چي څو مره ستا وزړه ته وساوس او فکرونه ورنږدې دي.

او چي څو مره ستا وبدن ته ستا روح ور نږدې دی.

او چي څو مره ستا وسترګه ته د هغې دېد کول ور نږدې دي.

حضرت موسی علیه السلام ورته وايي: ای الله! ماته ضرور دا عمل را وښيه! الله تعالی ورته وايي: چي پر پېغمبر صلی الله علیه وسلم باندي "درود شريف" زيات وايه.(١)

## د پېغمبر صلی الله علیه وسلم مچول:

[illegible] مُطرف رحمة الله علیه چي د تېرو بزرګانو څخه لوی بزرګ وو، دَی وايي: چي ما [illegible] جوړ کړی وو، چي د شپې به د بيدېدو لپاره کله پرېوتم، نو يو معين مقدار "درود شريف" به مي وايه.

يوه شپه ما په بالا خانه کي خپل معمول پوره کړی پرېوتم، د پېغمبر صلی الله علیه وسلم زيارت مي په خوب کي په نصيب سو ما چي ورته وکتل پېغمبر صلی الله علیه وسلم د بالاخانې په دروازه را ننوتی، د ده د راننوتو سره ټوله بالاخانه يو دم روښانه سوه:

نو پېغمبر صلی الله علیه وسلم ماته نږدې راغلی، راته وايي: ته خپله خوله خلاصه کړه، چي په کمه خوله سره ته پر ما باندي دومره زيات "درود شريف" وايې، زه هغه خوله مچوم ماته د دې څخه يو څه شرم راغلی، چي د پېغمبر صلی الله علیه وسلم مخ ته خپله خوله ورنږدې کوم.

نو ما د هغه څخه مخ وپېچی، نو پېغمبر صلی الله علیه وسلم زما پر مخ (بارخو) باندي په محبت سره لاس را تېر کړی، زه د پر وبېرېدم، يو دم مي سترګي را روښي سوې، زما د بيري څخه زما زنانه چي ماته نږدې بيده وه، د هغې هم سترګي را روښي سوې، نو که ګورو ټوله بالاخانه د مشکو غوندي د خوشبويي څخه ډکه ده، او د مشکو خوشبويي زما د بارخو څخه تر اتو (٨) ورځو پوري محسوسېدله.(٢)

(١) القول البديع، الباب الثاني في ثواب الصلوة علی رسول صلی الله علیه وسلم صفحه: ١٢٩
(٢) القول البديع، الباب الثاني في ثواب الصلوة علی رسول صلی الله علیه وسلم صفحه: ١٤٠

## د حضرت شبلي رحمة الله عليه اعزاز:

علامه سخاوي رحمة الله عليه د محمد بن ابو بكر رحمة الله عليه څخه را نقل كړيدي، چي زه د حضرت ابو بكر بن مجاهد رحمة الله عليه سره ناست وم، په دې دوران كي شيخ المشايخ حضرت شبلي رحمة الله عليه راغلى.

حضرت ابو بكر بن مجاهد رحمة الله عليه چي كله دَى وليدى، نو ور ولاړ سو، د ده سره يې معانقه وكړه او پر تندي باندي يې مچ كړى، ما پوښتنه څني وكړه، چي اى زما سرداره ته د حضرت شبلي رحمة الله عليه سره دا معامله كوې! حالانكه ته او ټوله د بغداد علماء دا خيال لري چي دَى ليونى دى.

هغه په جواب كي ورته وايي: چي ما هغه څه وكړه چي څه مي د پيغمبر ﷺ څخه ليدلي وه، بيا ده خپل خوب بيان كړى، چي ماته په خوب كي د پيغمبر ﷺ زيارت نصيب سو، په هغه دوران كي د پيغمبر ﷺ حضور ته حضرت شبلي رحمة الله عليه حاضر سو.

پيغمبر ﷺ ور ولاړ سو، او د ده سره يې معانقه وكړه او دَى يې پر تندي باندي مچ كړى، چي كله ما د پيغمبر ﷺ څخه د دې عمل متعلق پوښتنه وكړه، ده په جواب كي راته وويل: چي دَى د هر لمانځه څخه وروسته دا آيت مبارك:

.........﴿لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنفُسِكُمْ﴾ د سورة تر آخره پورې تلاوت كوي او د هغه څخه وروسته پر ما باندي "درود شريف" وايي.

په يو روايت كي راځي چي پيغمبر ﷺ ويل چي دَى د فرض لمانځه څخه وروسته دا آيت شريفه:

.........﴿لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنفُسِكُمْ﴾ تلاوت كوي.

او د هغه څخه وروسته درې (۳) ځله:

.........﴿صَلَّى اللهُ عَلَيْكَ يَا مُحَمَّدُ، صَلَّى اللهُ عَلَيْكَ يَا مُحَمَّدُ، صَلَّى اللهُ عَلَيْكَ يَا مُحَمَّدُ﴾ وايي.

ابو بکر بن مجاهد رحمة الله عليه وايي: د دې خوبه څخه وروسته چي زما کله د حضرت شبلي رحمة الله عليه سره ملاقات وسو، نوما د ده څخه پوښتنه وکړه، چي ته د لمانځه څخه وروسته څه وايې؟ نو هغه هم بعينه خپل معمول داغسي راته بيان کړی.

يو بل صاحب هم داغه نوعه واقعه را نقل کړېده.

چي ابو القاسم خفاف رحمة الله عليه وايي: چي يو ځل حضرت شبلي رحمة الله عليه د ابو بکر بن مجاهد رحمة الله عليه مسجد ته ورغلی، ابو بکر رحمة الله عليه چي کله دی وليدی ورته ولاړ سو، د ابو بکر رحمة الله عليه په شاګردانو کي تعجب پيدا سو، نو د خپل استاذ څخه پوښتنه کوي، چي تاته د وخت وزير اعظم راغلی دی، ته د هغه لپاره نه يې ولاړ سوی، او د حضرت شبلي رحمة الله عليه لپاره څنګه ولاړ سوې؟

ده په جواب کي ورته وويل: چي زه به د داسي سړي لپاره څنګه نه ولاړېږم؟ چي د هغه تعظيم ما پخپله د حضور اکرم ﷺ څخه ليدلی دی، د هغه څخه وروسته حضرت ابو بکر رحمة الله عليه خپل يو خوب بيان کړی، په هغه کي يې دا وويل.

چي يوه شپه ماته پيغمبر ﷺ په خوب کي را ښکاره سو، او هغه په دې خوب کي راته وويل: چي سبا به ستا حضور ته يو جنتي سړی راځي، چي کله هغه راسي ته به د هغه اکرام کوې، نو په سبا ورځ حضرت شبلي رحمة الله عليه زما حضور ته راغلی او د پيغمبر ﷺ د وصيت پخاطر ما د هغه ډېر اکرام وکړی.

ابو بکر رحمة الله عليه وايي: چي د دې واقعې څخه دوې (۲) يا درې (۳) ورځې بعد دوهم ځل زما په خوب کي د پيغمبر ﷺ زيارت په نصيب سو، پيغمبر ﷺ په خوب کي راته وويل: ای ابو بکره! الله تعالی به ستا داسي اکرام وکړي، لکه تا چي د يو جنتي سړي اکرام وکړی.

ما پوښتنه ځني وکړه، چي ای د الله رسوله! د حضرت شبلي رحمة الله عليه دومره اعزاز او اکرام ستاسو په حضور کي په څه وجه دی؟

هغه په جواب کي راته وويل: چي دی د پنځو (۵) لمنځو وروسته دا آيت:

.........لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ﴾.

تلاوت کوي، او د اتیا (۸۰) کالو څخه یې دا معمول جوړ کړی دی.[1]

**عجیبه واقعه:**

امام غزالي رحمة الله علیه په "احیاء العلوم" کي د عبدالواحد ابن زید بصري رحمة الله علیه څخه را نقل کړیدي، چي زه حج ته روان وم، یو سړی زما د لاري ملګری سو، هغه د سفر په ټوله دورانیه کي که به روان وو، او که به ولاړ وو، غرض دا چي په هر حالت کي یې پر پیغمبر صلی الله علیه وسلم "درود شریف" په ډېر کثرت سره وایي.
ما د ده څخه په دومره کثرت سره د "درود شریف" ویلو د سبب پوښتنه وکړه، ده په جواب کي راته وویل: چي کله زه اول ځل حج ته راتلم، نو زما سره پلار هم ملګری وو، چي کله موږ د حج کولو څخه وروسته د کور طرفته روان سوو، نو په لاره کي یو ځای موږ بیده سوو.
ما په خوب کي دا ولیدل چي ماته یو سړی وایي: چي پورته سه ستا پلار وفات سو، او د هغه رنګ تک تور واوښتی، زه د بیري په حالت کي را پورته سوم، او د خپل پلار د مخه څخه مي کپړه پورته کړه، چي ورته و مي کتل یقینًا هم زما پلار وفات سوی وو، او رنګ یې تک تور اوښتی وو.
د دې واقعې څخه پر ما باندي دومره غم او پرېشاني راغله چي د هغه په وجه باندي زه ډېر په رعب او خوف کي وم، په دې دوران کي زما سترګي سره ورغلې.
دوباره مي په خوب کي لیدل چي زما د پلار وسرته څلور (۴) حبشي تور رنګ والا انسانان چي د هغه په لاس کي د اوسپني ګورزان دي، او زما پلار ته ولاړ دي او دَی د اوسپني په دې ګورزانو وهي.
په دې دوران کي یو بزرګ ډېر ښائسته مخ والا چي دوې (۲) زرغونې کپړې یې اغوستي وې تشریف راوړی، او هغه، هغه حبشیان د هغه ځایه څخه لیري کړه، او خپل لاس مبارک یې زما د پلار پر مخ باندي ورتېر کړی، او ماته یې وویل: چي پورته سه الله تعالی ستا د پلار مخ سپین کړی.

---

[1] القول البدیع، الباب بعد الفراغ من الوضوء، صفحه: ۱۷۷

ما په دې خوب کي ورته وویل: چي زما مور او پلار دي تر تا قربان وي ته څوک يې او زما د پلار سره دي په کمه وجه دا احسان وکړی؟ ده په جواب کي را ته وویل: زما نوم محمد (ﷺ) دی ستاسو نبي يم.

چونکه ستا پلار پر ما باندي په کثرت سره "درود شریف" همېشه وايي، نو د هغه په وجه پر ده باندي د سختۍ په حالت کي د ده د مدد لپاره حاضر سوم او د ده مدد مي وکړی.

د دې واقعې د ليدلو څخه وروسته ما په ټوله زندګي کي بيا "درود شريف" پر پيغمبر ﷺ باندي نه دی پرې ايښی.

داغه نوعه يوه واقعه په "نزهة المجالس" کي د ابو حامد قزويني په حواله هم را نقل سوې ده چي يو سړی او د هغه پلار دواړو سفر کوی په لاره کي يې پلار وفات سو، د هغه سر او مخ ټول د خنزير په شکل سوه، هغه زوی يې ډېر ژړل او د الله تعالی په دربار کي يې دعاء او عاجزي پېشوله.

په دې دوران کي د هغه سترګي سره ورغلې نو په خوب کي ويني چي يو سړی ورده ته وايي، چي ستا پلار په دنيا کي سود کوی، په دې وجه د ده شکل بدل سو او دا هم ورته وايي.

پيغمبر ﷺ د ده په باره کي سفارش وکړی، ځکه چي ده به کله د پيغمبر ﷺ نوم اورېدی، نو پر هغه باندي به يې "درود شريف" وايه، نو د هغه د سفارش په برکت الله تعالی دَی بيرته خپل اصلي صورت ته را وګرځوی.

په "روض الفائق" کي هم داغه نوعه يو واقعه د حضرت سفيان ثوري رحمة الله عليه څخه را نقل سوېده، چي دَی وايي ما طواف کوی.

يو سړی مي په طواف کي وليدی، چي هغه به پر هر قدم باندي "درود شريف" وايه او د "درود شريف" بغيره بل هيڅ ذکر پر خوله نه ورتلی.

ما د هغه څخه پوښتنه وکړه چي د دې څه وجه ده؟ ده په جواب کي راته وويل: ته څوک يې؟ ما ورته وويل: چي زه سفيان ثوري يم، ده راته وويل:

که ته د خپلي زمانې لوی عالم نه وای، ما به تا ته هيڅکله دا واقعه بيان کړې نه وای او نه به مي خپل راز ښکاره کړی وای.

د هغه څخه وروسته يې را ته وويل: چي زه او زما پلار حج ته تلو، يو ځاى ته چي ورسېدو زما پلار بيمار سو، ما د هغه د علاج پوره اهتمام وكړى، لېكن يو دم هغه وفات سو، او مخ يې تک تور سو، ما چي كله ورته وكتل نو ډېر غمجن سوم، او د ﴿إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾ كلمه مي ويله او د هغه مخ مي په يو كپړه باندي ورپټ كړى.

په دې دوران كي زما سترګي سره ورغلې په خوب كي وينم چي يو صاحب چي د هغه څخه زيات ښائسته ما هيڅكله ليدلى نه وو، او د هغه د لباس څخه مي زيات صفا او ښائسته لباس د هيڅ چا نه وو، ليدلى نه مي د هغه غوندي خوشبويي د بل چا د بدنه څخه بوى كړې وه، په ډېره تېزي سره ځان را ورسوى، هغه زما د پلار د مخ څخه كپړه پورته كړه او د هغه پر مخ يې لاس ورتېر كړى، نو د هغه مخ تک سپين سو.

چي كله واپس تلى، نو ما تر دې كپړو ونيوى، او دا مي ورته وويل: چي الله تعالىٰ دي پر تا باندي رحم وكړي، ته څوک يې؟ چي ستا په وجه الله تعالى زما پر پلار باندي د دې سفر په دوران كي احسان وكړى.

ده په جواب كي راته وويل: ته ما نه پېژنې؟ زه "محمد بن عبدالله" صاحب قرآن يم (ﷺ) دا ستا پلار ډېر لوى ګناه ګاره وو، لېكن ده به همېشه په كثرت سره پر ما باندي "درود شريف" وايي، چي كله پر ده باندي دا مصيبت نازل سو، نو د ده پر فرياد باندي ما ځان ورته را ورسوى، او زه د هر هغه سړي پر فرياد باندي ځان ورته را رسوم، او د هغه مدد كوم چي كم څوک پر ما باندي په كثرت سره "درود شريف" وايي.(١)

يَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا أَبَدًا ☆ عَلَى حَبِيْبِكَ خَيْرِ الْخَلْقِ كُلِّهِمِ

الله تعالى دي مو په زړو كي د پېغمبر ﷺ مينه او محبت زا ولي او الله تعالى دي مو پر خولو باندي د پېغمبر ﷺ "درود شريف" جاري كړي، او الله تعالى دي مو زندګي د پېغمبر ﷺ پر نقشه باندي را په نصيب كړي، الله تعالى دي دا څو خبري په خپل دربار كي قبولي او مقبولي وګرځوي. (آمين يا رب العالمين)

وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالَى عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَآلِهِ وَ أَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ.

(١) بركات درود شريف اور اسكے حيرت انگيز واقعات، صفحه: ١٧١

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللّٰهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآیہ)

# د اتباع سنت بیان

(بیان)

مولوی **اطیع اللّٰہ** صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ **کلیم اللّٰہ** صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبہ سلطانیہ الہاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشـــاعــت | اول |
| تــاريــــخ | جمادي الاولى ١٤٤٢ بمطابق ٢٤ جنوري ٢٠٢١ |
| تــعــــداد | (١١٠٠) |

بسم الله الرحمن الرحیم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ ﴿مَنْ تَمَسَّكَ بِسُنَّتِيْ عِنْدَ فَسَادِ أُمَّتِيْ فَلَهُ أَجْرُ مِائَةِ شَهِيدٍ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْمِ وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْمِ، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰه رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## د الله ﷻ د محبت حاصلولو طريقه:

محترمو مشرانو! الله تعالی په قرآن کریم کي و انسانانو ته خپل د محبت پیداکولو آسانه طریقه ښودلېده.

هغه طریقه دا ده چي الله تعالی د خپل کلام مجید په الفاظو کي انسانانو ته په دې شکل بیان کړېده:

............﴿قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللّٰهَ﴾.

ای پیغمبره! ته دې خپل امت ته ووایه: کچیري تاسو د الله تعالی رب العزت سره محبت کوی، نو ﴿فَاتَّبِعُونِيْ﴾ زما اتباع کوئ! او زندګي زما پر نقشه تېروئ! د هغې په بدله کي به ﴿يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ﴾ الله تعالی ستاسو سره محبت کوي.

---

(١) آل عمران، آیت نمبر: ۳۱

(٢) مشکوة المصابیح، حدیث: ۱۷۶

د دې آیت مبارک څخه دا خبره معلومیږي چې کم سړی د پیغمبرﷺ پر سنت طریقه ژوند تېروي او خپل ځان د پیغمبرﷺ په سنتو سره مزین او ښائسته کرځوي، نو هغه انسان د الله رب العزت محبوب جوړیږي.

## د اعضاؤ زینت:

د دې مثال دا سي دی، لکه: د "واده" پر موقعه باندې چې کمه زنانه د خاوند کورته رخصتیږي د هغې ګمان دا وي چې ما د خپل بدن په کم اندام باندي زېورات واغوستل نو هغه اندام مي ښائسته سو.

مثلًا په ګوتو کي ګوتمۍ اچول دا د ګوتو ښائست بولي، او په لاسو کي بنګړي اچول دا د لاسو ښائست بولي، او په غوږو کي والي اچول نو دا د غوږو ښائست وي، او په سترګو کي رانجه اچول دا د سترګو ښائست بلل کیږي.

بعینه پداغه شکل مؤمن چې د خپل بدن کم اندام د پیغمبرﷺ پر سنت طریقه برابر کړي هغه اندام د الله تعالی رب العزت په نظر کي خوبصورت او ښائسته معلومیږي.

نو زنانه چي هر څومره ځان ښائسته کوي د دې کوشش دا وي چې د خپل خاوند په اول نظر کي زه هغه ته خوښه سم، نو مؤمن هم باید خپل ځان په سنت طریقه سره مزین او ښائسته کړي چي الله رب العزت ته محبوب او خوښ وګرځي.

## پیغمبرﷺ د ځان لپاره امام ګرځول:

یا د دې بل مثال عام طور چې کله انسان لمونځ په جماعت کوي نو مخته امام ولاړ وي او وروسته مقتدیان وي، امام چې څه کوي نو مقتدي هغه ور سره کوي امام چي کله قیام وکړي مقتدي هم قیام کوي، امام چي کله رکوع وکړي مقتدٰی هم رکوع کوي، امام چي کله په "التحیات" کي کښېني نو مقتدٰی هم په "التحیات" باندي کښېني.

خو مطلب دا چي امام څه کوي د مقتدي لپاره هغه کول ضروري وي نو بیا د هغه لمونځ مکمل ګرځي کچیري هغه د امام متابعت نه وکړي، نو د ده لمونځ نه کیږي.

مثلا امام رکوع کوي مقتدی سجده کوي، نو پدې وخت کې د مقتدي لمونځ صحیح نه بلل کیږي، بلکه د ده لپاره په امام پسې اقتداء ضروري وي.

نبي اکرم ﷺ زموږ د ټولې زندګۍ امام دی، زموږ زندګي د یو لمانځه په مثال ده او نبي اکرم ﷺ د دې لمانځه امام دی، او موږ یې مقتدیان یو کم کار چې نبي اکرم ﷺ په کمه طریقه سره کړی دی، نو پر هغه طریقه به یې موږ هم کوو، نو بیا زموږ زندګي د الله تعالی په دربار کې محبوبیت پیدا کولای سي.

لېکن کچیرې د دې بر عکس د خپلو خواهشاتو مطابق زندګي تېره وو، نو بیا خو د الله تعالی په دربار کې د قبولیت طمعه نسو کولای.

نو د پیغمبر ﷺ یو یو عادت خپلول په رفتار، او ګفتار، او په خورک او چیښلو کې، د ژوند په هره شعبه کې د پیغمبر ﷺ پر طریقه ژوند انسان د الله رب العزت محبوب جوړوي، چې په څومره اندازه کې د انسان ژوند د پیغمبر ﷺ د سنت طریقې مطابق وي، په هغو مره اندازه کې انسان د الله تعالی په نظر کې محبوب ګرځي.

## د اتباع بغیر قبولیت نسته:

تاسو به څو ځله دا تجربه کړېوي: چې کله انسان یو خیاط او کپړو جوړونکو ته د خپل لباس جوړولو لپاره کپړه ور وړي نو هغه ته د پوره نقشې لارښوونه وکړي، چې زما لباس به زما د پاره پر دغه نقشه جوړوي.

لېکن چې کله د لباس را اخیستلو لپاره ور سي او یې وګوري بعضې اوقات هغه لباس د ده د ورښوولي نقشې څخه یو څه مختلف وي نو دی اکثره هغه ته دا وایي: چې تا خو زما هغه جامه را ضائع کړه، ځکه زه پخپله د رښوول سوي نقشه کې د یو انچ فرق نه سم برداشت کولای.

نو الله رب العزت هم خپل حبيبﷺ د يو نمونې او نقشې په شكل دنيا ته را استولى دئ، او د ټوله انسانيت څخه پر دغه نقشه باندي ژوند تېرول غواړي لكه الله تعالى په قرآن كريم كي فرمايلي دي:

........لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللّٰهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾.(١)

ستاسو لپاره د پېغمبرﷺ زندګي او ژوند بهترينه نمونه او نقشه ده، چي تاسو به پر هغه باندي خپل ژوند تېروی.

اوس كه موږ دغه د الله تعالى د را ښوول سوي نمونې او نقشې اتباع وه نكړو، نو د الله رب العزت په دربار كي به زموږ وزندګي ته د يو ضائع سوي زندګی په نظر كتل كيږي او بيا هلته زموږ زندګي قبوليت نه پيدا كوي.

## د هدايت لپاره دوه (٢) شيان:

په دې وجه پېغمبرﷺ فرمايلي دي:

........تَرَكْتُ فِيكُمْ أَمْرَيْنِ﴾.

ما په تاسو كي دوه (٢) شيان پرېښول او زه در څخه رخصت كېږم:

........لَنْ تَضِلُّوا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا﴾.

تاسو به هيڅكله ګمراه نسئ! كهچيري په دې دواړو پوري لاسونه ونيسئ، او خپله زندګي ور باندي روانه كړي، هغه دوه (٢) څه دي؟ پېغمبرﷺ فرمايلي دي:

........كِتَابَ اللّٰهِ وَسُنَّةَ رَسُولِهِ﴾.

يو د الله تعالى كتاب او دوهم زما سنت.(٢)

كچيري تاسو د دې دوو (٢) سره په پوره طريقه تعلق ساتئ نو تاسو هيڅكله د حقې لاري څخه نه خطا كېږئ!

---

(١) الاحزان، آيت نمبر: ٢١

(٢) مشكوة المصابيح، حديث: ١٨٦

په يو بل ځای کي پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: چي کمچا زما د سنت طريقې سره محبت وکړی هغه زما سره محبت وکړی او چي کمچا زما سره محبت وکړی هغه به زما سره په جنت کي يو ځای وي، نو ځکه د سنت طريقې سره محبت کول در حقيقت د پيغمبر ﷺ سره محبت کول دي.

## د سلو (۱۰۰) شهيدانو ثواب:

او پر سنت طريقه ژوند تېرولو باندي الله تعالى انسان ته ډېر لوی اجر ور نصيب کوي، لکه د خطبې په سر کي ما ستاسو په حضور کي د پيغمبر ﷺ د يو حديث مبارک روايت پېش کړی، چي دی مبارک فرمايي:

......... ﴿مَنْ تَمَسَّكَ بِسُنَّتِيْ عِنْدَ فَسَادِ أُمَّتِيْ فَلَهُ أَجْرُ مِائَةِ شَهِيْدٍ﴾.(۱)

چي کمځوک زما پر سنت باندي په هغه وخت کي عمل کوي چي کله په امت کي فساد راسي او خلک زما په سنت طريقه باندي عمل کول پرېږدي، نو الله تعالى به ده ته د يو سنت د عملي کېدو په خاطر د سلو (۱۰۰) شهيدانو ثواب ور کوي.

چنانچه انسان چي کله هم خپله زندگي ځان ته معلوموي نو د زندگۍ لپاره دي سنت طريقه معيار وگرځوي چي په څومره اندازه کي پر سنت طريقه برابره وي په هغومره درجه کي الله تعالى ته محبوبه زندگي بلل کيږي.

او کچيري د انسان زندگي د سنت طريقې څخه ليري وي نو بيا هغه زندگي الله تعالى ته محبوبه زندگي نه بلکه مبغوضه زندگي بلل کيږي.

لکه يو زرگر ته چي خلک زېور ور وړي نو د هغه سره د هغه زېوراتو د ښه او بدو معلومولو لپاره يو "مِعيار" وي چي پر هغه باندي يې دَی ښه او بد معلوموي، د انسان د زندگۍ د ښه او بد "مِعيار" د الله تعالى په دربار کي د پيغمبر ﷺ سنت طريقه بلل کيږي.

(۱) مشکوة المصابيح، حديث، ۱۷۶

## سنت نبوي د نوح علیه السلام د کښتۍ مثال لري:

امام مالک رحمة الله علیه فرمایلي دي: چي د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سنت د نوح علیه السلام د کښتۍ په مثال دی، لکه د طوفان نوح علیه السلام په دور کي چي کم سړی د نوح علیه السلام په کښتۍ کي کښېنستی نو هغه د طوفانه څخه نجات پیدا کړی.

دا رنګه چي کله په امت کي د فتنو او فسادونو طوفان راسي، نو په دې وخت کي هم چي کمځوک د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د سنت په کښتۍ کي کښېنستی نو هغه د زمانې د فتنو او فسادو څخه نجات پیدا کړی.

## د ټولو څخه لوی کرامت:

د حضرت جنید بغدادي رحمة الله علیه یو مرید وو، لس (۱۰) کاله یې د ده په صحبت کي زندګي تېره کړه او آخر حضرت جنید بغدادي رحمة الله علیه ته وایي: حضرت ماته اجازت را کړه چي زه خپل وطن ته ولاړ سم.

حضرت جنید بغدادي رحمة الله علیه پوښتنه څني کوي چي سړیه! ستا ولي طبیعت خراب دئ، چي زموږ د ملګرۍ څخه بر کناره کېږې؟

هغه سړی په جواب کي ورته وایي: چي حضرت زه خو په دې نیت راغلی وم چي ستا څخه به یو کرامت وینم او کشف به وینم، نو لس (۱۰) کاله مي په دې انتظار تېر کړه، لېکن په دې ټوله دورانیه کي مي ستا څخه هیڅ کشف او کرامت نه ولیدئ، نو دلته مي نور زړه استوګني ته نه غواړي نو ځکه رخصتېږم.

حضرت جنید بغدادي رحمة الله علیه ورته وایي: سړیه! دا راته ووایه چي په دې لس (۱۰) کاله زندګي کي دي زه پر یو خلاف سنت کار کولو باندي ولیدلم؟ هغه ورته وایي نه، نو دی مبارک ورته وایي: چي د دې څخه بل لوی کرامت څه کېدای سي چي په لس (۱۰) کاله کي وماته الله تعالی د پیغمبر صلی الله علیه وسلم پر سنتو برابره د زندګۍ تېرولو توفیق را کړئ؟

## د حضرت بایزید بسطامي رحمة الله عليه وینا:

حضرت بایزید بسطامي رحمة الله عليه فرمایلي دي: چي ما شل (۲۰) کاله مسلسل د خپل نفس خلاف مجاهده وکړه مګر په هر کار کي د سنت د اتباع څخه بهترینه مجاهده د خپل نفس لپاره ما بله هیڅ نه ولیدله.

## د مجدد الف ثاني رحمة الله عليه اقوال:

امام رباني مجدد الف ثاني رحمة الله عليه فرمایلي دي:

نفلي عبادتونه د خپلي خوښي مطابق کول دا څه مشکل نه دی نفس د دې څخه لا غرور پیدا کوي او په دې سره د انسان نفس صحیح لاري ته نه راځي د نفس لپاره د ټولو څخه لویه مجاهده دا ده چي انسان هر کار د سنت طریقې مطابق کوي.

چنانچه دَه، د سنت طریقې په خپل مکتوبات کي په عجیبه الفاظو باندي تذکره کړې ده، چي انسان ورته حیرانیږي.

ده مبارک فرمایلي دي: چي د غرمې په وخت کي د سنت طریقې په نیت سره لږ کړی د قیلولې په شکل ویدېدلو باندي الله تعالی انسان ته هغه اجر ورکوي چي د ډیرو شپو رونولو او پر عباداتو باندي تېرولو هغه اجر انسان ته نه ورکول کیږي.

څومره عجیبه الفاظ دي د دې څخه تاسو اندازه ولګوئ چي سنت د الله تعالی په دربار کي څومره لوی مقام لري.

نو مقصود مي دا دی: چي هر کار د پیغمبر ﷺ د سنت طریقې مطابق کول انسان د الله رب العزت محبوب جوړوي.

چنانچه موږ خپل اکابرین لیدلي دي چي د هغوی به یو یو عمل د سنت طریقې مطابق وو.

او په صحابه کرامو رضي الله عنهم کي که انسان د هغوی سیرت مطالعه کړي، نو یو یو صحابي د پیغمبر ﷺ د سنتو یو نمونه وه.

## د ابو بکر صدیق ﷺ اتباع سنت بلحاظ صورت:

حضرت ابو بکر ﷺ به د پیغمبر ﷺ پر سنت طریقې باندي تر دې حده پوري عمل کوی: چي د هغه هر عمل د پیغمبر ﷺ نقل جوړ سوی وو، چي کله د هجرت وخت راغلئ، نو د مکې مکرمې څخه حضرت ابو بکر ﷺ د پیغمبر ﷺ سره ملګری مدینې منورې ته راغلئ.

د مدینې منورې خلک د "قُباء" پر علاقه باندي د دوی د استقبال او ښه راغلي لپاره را جمع سوي وه، او د مدینې منورې خلک ډېر عقلمند او تجربه کاره خلک وه، چي کله دوی دوه (۲) مسافر په را روان شکل ولیدل، نو دوی مخته ورغله خو په دې دوران کي د هغه دوو (۲) خلګو په مابین کي دوی هیڅ فرق نه لیدئ، د هغو دواړو لباس یو وو، او رفتارېې یو وو، او د ناستي او ولاړي اندازېې یو وو.

آخر د مدینې منورې خلګو ته په دې کي شک سو، چي په دې دوو (۲) انسانانو کي د الله تعالی نبي کم یو دی، او د ده امتي کم یو دی؟

په کتابو کي لیکلي دي: چي هغه ټول خلک ور وړاندي سوه او د صدیق اکبر ﷺ سره يې مصافحه په دې نیت باندي شروع کړه چي دا د الله تعالی نبي دی، او صدیق اکبر ﷺ هم په دې نیت باندي د هغوی سره مصافحه کوله چي پیغمبر ﷺ په دې وخت کي ستړی دی، که ټول خلک د هغه سره مصافحه وکړي، نو د هغه ستړیا به نوره زیاته سي.

چي کله هغه ټولو خلګو د ابو بکر ﷺ سره د الله تعالی د نبي ﷺ په نیت مصافحه پوره کړه نو د دوی سره د ملاقات او مجلس کولو په نیت باندي کښېنستل.

په دې وخت کي لمر را پورته سو او د لمر شُغلې د پیغمبر ﷺ پر مخ مبارک باندي لګېدلې نو حضرت ابو بکر ﷺ ور ولاړ سو، پر یو خاشه باندي يې خپل چادر مبارک واچوی، چي د هغه څخه د پیغمبر ﷺ پر سر او بدن مبارک باندي سایه جوړه سوه.

د دې عمل د لیدلو څخه د مدینې منورې خلکو ته اوس دا معلومه سوه چې په دې دوو انسانانو کې نبي څوک وو، او امتي څوک وو، امام څوک وو، او مقتدي څوک وو، اصل څوک وو، او تابع څوک وو؟

چې پر کم چا باندې دوی د نبي ګمان کوی، یعني ابو بکرﷺ نو دوی ته اوس دا معلومه سوه چې دا په حقیقت کې امتي دی خو خپل نبي ته دومره زیات په هر عمل کې نژدې سوی دی او خپل ځان یې د خپل نبي پر سنتو داسې برابر کړی دی، چې د ده او د نبي په مابین کې هغه خلکو ته فرق کول ګران وو.

نو ځکه چې کله به د نورو علاقو وفدونه مدینې منورې ته راغلل، چې کله به مسجد نبوي ته ور داخل سوه نو صحابه کرام به ناست وه د هغوی ټولو لباسونه یو رنګ، او د هغوی ټولو اعمال او اقوال دومره په یو رنګ وه چې هغه خلکو ته به دا نه معلومېده چې په دې انسانانو کې نبي کم یو دی؟

نو بیا به هغه خلکو پوښتني کولې:

............مَنْ مِنكُمْ مُحَمَّدٌ﴾.

په تاسو کې محمد څوک دی؟ نو دا د صحابه کرامو ﷺ د پیغمبرﷺ د شکل او صورت سره ظاهري مشابهت وو.

## د ابو بکر صدیقﷺ اتباع بلحاظ سیرت:

پر نبي اکرمﷺ باندې چې کله اول ځل وحی راغلې نو حضرت جبرائیل علیه السلام دی په دې خپله سینه پورې په زور سره ونیوی د هغه د نیولو څخه پر نبي اکرمﷺ باندې یو قسم طبعي بېره راغله.

دی مبارک کورته راغلی او د ﴿زَمِّلُونِيْ زَمِّلُونِيْ﴾ وینا کوي، نو په دې وخت کې د ده زنانه مبارکه حضرت خدیجة الکبری ﷺ پوښتنه ځني کوي ای د الله محبوبه! ته ولي دومره په بېره کې یې، د کم شي وهم درسره دی؟

پیغمبرﷺ په جواب کې ورته وایي؛

............خَشِيتُ عَلَى نَفْسِي﴾.

زما سره د خپل ځان بېره ده چې هسې نه ما الله تعالی د هلاکت او رسوایی سره مخامخ نکړي.

چې کله پیغمبرﷺ دا وویل؛ نو حضرت خدیجة الکبری رضي الله عنها د ده مبارک صفات ورته بیانوي.

چې ای د الله نبي!

............كَلَّا وَاللَّهِ مَا يُخْزِيكَ اللَّهُ أَبَدًا﴾. هرګز داسي نده الله تعالی به تا هیڅکله نه هلاک کوي، او نه به تا د رسوایی سره مخامخ کوي.

............إِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ﴾. ته د خپلو قریبانو سره وصله رحمي کوې.

............وَتَحْمِلُ الْكَلَّ﴾. او ته د عامو خلکو بوج او تکلیف ور سره پورته کوې.

............وَتَكْسِبُ الْمَعْدُومَ﴾. چې د کم چا سره څه نه وي هغه نادار وي د هغه مالي مرسته او کومک کوې.

............وَتَقْرِي الضَّيْفَ﴾. او ته مهمان نوازه یې مېلمنو ته نفقه ور کوې.

............وَتُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الْحَقِّ﴾. او په نیکو کارو کي د انسانانو سره تعاون او کومک کونکی یې.

نو چې کله په تا کي دا صفات سته نو ﴿مَا يُخْزِيكَ اللَّهُ أَبَدًا﴾ الله تعالی به تا هیڅکله د هلاکت او رسوایی سره نه مخامخ کوي او نه به دي په تکلیفو او مشقتو کي اچوي.(¹)

اوس دا خو د پیغمبرﷺ حال وو، تاسو د ده د عاشقِ صادق صدیق اکبر رضي الله عنه واتباع ته ګورئ!

---

(¹) بخاري شریف، حدیث: ۳

چي کله حضرت ابو بکرﷺ د حبشې طرفته د هجرت کولو اجازت وغوښتئ او پيغمبرﷺ اجازت ور کړی او دا د حبشې هجرت د مديني منورې د هجرت څخه مخکي صحابه کرامو وکړی.

يوه ورځ صديق اکبرﷺ د هجرت په سفر روان دی نو د مکې مکرمې د ښار څخه دباندي يو کافر چي د هغه نوم "ابن دغنه" وو چي د خپلي قبيلې سردار وو، په مخه ورغلئ نو هغه پوښتنه څني کوي چي ای ابو بکره! ته چيري ځې؟

دی په جواب کي ورته وايي: چي د مکې خلګ مي په مکه مکرمه کي په آرامه سره نه پرېږدي نو ځکه د حبشې وطرفته د هجرت په شکل باندي روان يم.

هغه کافر ورته وايي: ﴿كَلَّا﴾ هر ګز داسي نده، چي د مکې مکرمې خلک به تاته تکليف دررسوي.

..............إِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ﴾. ته خو وصله رحمي کوې.

..............وَتَحْمِلُ الكَلَّ، وَتَكْسِبُ المَعْدُومَ، وَتَقْرِي الضَّيْفَ، وَتُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الحَقِّ﴾.

چي کم صفات حضرت خديجېﷺ د پيغمبرﷺ متعلق بيان کړي وه، بالکل هغه الفاظ او هغه صفات "ابن دغنه" کافر د صديق اکبرﷺ په حق کي ادا کړه، نو د صديق اکبرﷺ دغسي زندګي وه، چي هغه مکمله د پيغمبرﷺ پر طريقه برابره وه، چي هغې ته په کامله طريقه اتباع سيرت او سنت ويل کېدل.(۱)

## د حضرت ابن عمرﷺ اتباع سنت:

حضرت عبدالله ابن عمرﷺ يو ځل د مديني منورې څخه مکې مکرمې ته روان وو، پر يو ځای باندي يې خپله سوارلي ودروله او څني را شوه سو، او د ملګرو څخه يو ليري ځای ته ولاړی هلته يو ګړی کښېنستی، لکه يو انسان چي خپل ضرورت پوره کوي.

(۱) البدء والتاريخ، باب ذکر الهجرة الثانية الى الارض الحبشة، صفحه: ۱۵۱

مګر د خپل ځانه څخه د کپړو لیري کولو بغیر د یو ګړی ناستي څخه وروسته واپس راغلیٔ او پر خپله سوارلي باندي سپور سو او را روان سو.

ملګرو پوښتنه څني وکړه چي حضرت د دریدلو او بیا د هلته تللو او د ضرورت پوره کولو بغیر د را ولاړیدلو وجه څه وه؟

ده په جواب کي ورته وویل: چي ما یو ځل د پیغمبر ﷺ سره پر دې لار سفر کویٔ چي کله موږ په سفر کي دې ځای ته را ورسیدو نو پیغمبر ﷺ د خپلي سوارلی څخه را شوه سو او هلته ولاړی د ضرورت پوره کولو لپاره یو ګړی کښېنستی او د ضرورت پوره کولو بعد واپس راغلی.

نن چونکه زما خو د تقاضا حاجت ضرورت نه وو صرف زړه مي دا غوښتل چي پر دې مقام باندي زه هغه څه وکړم چي زما سردار محمد مصطفٰی ﷺ څه کړي وه، نو په دې وجه باندي دلته ودریدم او د سوارلی څخه را شوه سوم او د پیغمبر ﷺ په شکل هلته ولاړم او واپس راغلم.

نو د پیغمبر ﷺ د یو یو عمل سره د صحابه کرامو په داسي شکل باندي محبت وو.

## د یو حبشي صحابي ﷺ اتباع سنت:

یو صحابي ﷺ چي د حبشې څخه راغلی وو او د پیغمبر ﷺ په اصحاب صفه وو کي به یې وخت تېروی چي کله به یې غسل وکړی یا به یې خپل سر پرېولی، نو د هغه به زړه دا غوښتل چي زه هم په خپل سر کي داسي لار وباسم لکه پیغمبر ﷺ چي په خپلو وریښتانو کي څنګه لار ایستلې ده.

لېکن چونکه هغه د حبشې اوسېدونکی صحابي دی او د هغه نسګا وریښتان سخت او کوچني دي په هغوی کي لار نه ایستل کېږي.

نو په دې وجه به همېشه هغه صحابي په سوچ او فکر کي غمجن اوسېدی چي زما سر زما د محبوب پیغمبر ﷺ د سر مبارک سره مشابهت نه پیدا کوي.

یوه ورځ یې د ځانه سره په خپل دماغ کي یو ترتیب برابر کړی هغه په دا شکل چي یو اوسپنه یې پر اور باندي ګرمه کړه چي کله هغه ښه سره سوه، نو د دې خپل سر پر مایین

باندي يې ولګوله او د هغه ګرمي اوسپنې په وجه د هغه وربښتان او د سر پوست وسوځل سو، او په هغه کي زخم جوړ سو.

چي کله هغه زخم ختم سو نو ده ته به د خپل سر په مابين کي د هغه سوځولو په وجه يو ليکه معلومېده دَی به په دې باندې ډېر خوشحاله وو چي زما په سر کي هم د پيغمبر ﷺ د سر مبارک غوندي لار پيدا سوه.

صحابه کرامو ﷺ به پوښتنه ځني کوله چي تا دومره تکليف ولي کوی؟ ده به په جواب کي ورته ويل چي تکليف خو مي برداشت کړی ليکن په دې خبره باندي ډېر خوشحاله يم، چي زما سر زما د محبوب ﷺ د سَر، سره په لږ تکليف کشولو باندي د تولي زندګۍ دپاره مشابهت پيدا کړی.(١)

## د حضرت حذيفه ﷺ وينا:

د صحابه کرامو ﷺ دا حال وو چي هغوی د پيغمبر ﷺ د يو قول او يو عمل په څومره درجه کي لحاظ ساتی.

سيدنا حضرت حذيفه ﷺ چي کله فارس ته راغلی نو د باچا په دربار کي پر دسترخوان باندي خوړک کوي يوه ګوله لاندي ځني ولوېده، دَه هغه را پورته کړه او بيا يې صفا کړه او ويې خوړله.

ملګرو ورته وويل: چي د بادشاه دربار دی او د دې ځای خلک ستا دا عمل ناخوښه بولي بايد چي تا داسي نه وای کړی!

حضرت حذيفه ﷺ په جواب کي يو مشهوره جمله ورته استعمالوي؛

............اَاَتْرُکُ سُنَّةَ حَبِيْبِيْ لِهٰؤُلَاءِ الْحُمَقَاءِ﴾.

ايا زه به د دې احمقانو په خاطر د خپل محبوب سنت پرېږدم.

---

(١) خطبات فقير، جلد: ٨ صفحه: ١٥٩

**د علماء دیوبند اتباع سنت:**

چنانچه زمونږ اکابر علماء دیوبند په هر عمل کي د سنتو اتباع کولو ته یو خاص اهتمام ور کوی:

☆.....پر حضرت مولانا قاسم نانوتوي رحمة الله علیه باندي د فرنګي عسکرو د طرفه د ده د ګرفتار کولو لپاره "چاپه" راغله چي کله ده ته ور معلومه سوه نو دَی د هغه "چاپې" څخه پټ سو؛ ځکه د خپل ځان حفاظت کول پر هر بنده باندي فرض دي.

د ده د متعلقینو دا ګمان وو چي دَی به اوس څه زمانه پټ ګرځي خپل ځان به نه ښکاره کوي لېکن درې (۳) ورځي بعد چي خلګو ولیدی نو دَی منظر عام ته را ښکاره سو، خپلو شاګردانو ورته وویل: چي حضرت په تا پسي خو د فرنګیانو عسکر راځي او تا به ګرفتار کوي، نو ته ولي منظر عام ته ځان ښکاره کوې او خپل ځان په خطره کي اچوې؟

ده په جواب کي ورته وویل: چي ما د پیغمبر ﷺ مبارکه زندګي وکتله نو ماته درې (۳) ورځي په غار ثور کي د هغه پټوالي مخته راغلی د هغې څخه وروسته بیا پټوالی نه وو ما د پیغمبر ﷺ په دې سنت باندي عمل وکړئ نو ځکه د درو (۳) ورځو د پټوالي څخه وروسته منظر عام ته راغلم.

چي کله د انسان ځان په خطره کي وي په دې وخت کي هم د پیغمبر ﷺ سنت د ځان لپاره خوښول او هغه ته په خپل زړه کي ځای ور کول او په هغه باندي عمل کول څه آسانه خبره نده.

☆.....حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهي رحمة الله علیه د پیغمبر ﷺ د سنتو عاشق وو یو ځل د ده یو ډېر قریب دوست وو، چي کله د ده حضور ته راغلی نو د سلام پر ځای یې دا جمله ادا کړه، چي جناب! آداب، لکه د عامو خلګو او د دین سره د ناواقفو داسي سلام وي.

حضرت ګنګوهي رحمة الله علیه پوښتنه وکړه چي دا څوک دی؟ نو په دومره غوصه سره هغه ته ګویا سو ورته وایي: تاته د پیغمبر ﷺ "السلام علیکم" نه درځي دومره غوصه

یې هغه ته وکړه چې هغه یې په خپل ځان پورې حیران کړی او د آئنده لپاره یې په هغه باندې دا وعده وکړه چې زما سلام به زما په ټوله زندګۍ کې د پیغمبر ﷺ پر سنت طریقه برابر وي.

☆.....حضرت شیخ الهند رحمة الله علیه به د ماخستن د "وتر" د لمانځه کولو څخه وروسته دوه (۲) رکعته نفل لمونځ په ناسته کوی، یو عالم پوښتنه ځني کوي چې حضرت په ناسته د نفلو کولو ثواب نیمی دی او په ولاړه باندې د نفلو کولو ثواب پوره دی، نو ته بیا ولې نفلي لمونځ په ناسته کوې؟

حضرت په جواب کې ورته وویل: چې زما نیمی ثواب قبول دئ مګر عمل به هغه رنګه کوم چې څنګه زما سردار محمد مصطفیٰ ﷺ فرمایلی وي.

هغوی په دې شکل د پیغمبر ﷺ د سنتو عاشقان وه چې کله به یو نوې مېوه راغله حضرت شیخ الهند رحمة الله علیه به په ډېره خوشحالي سره هغې ته کتل او د هغې خوشبویي به یې بویوله او په مجلس کې چې به تر ټولو کم عمره انسان ناست وو، نو اول به یې هغه ته ور کوله؛ ځکه دا د پیغمبر ﷺ سنت طریقه وه.

☆.....چنانچه یو ځل حضرت مولانا اصغر حسین دیوبندي رحمة الله علیه بیمار وو، نو حضرت شیخ الهند رحمة الله علیه د عیادت لپاره د هغه کورته راغلی چې کله حجرې ته راننوتئ نو سلام یې ووایی، او د هغه سره یې مصافحه وکړه او پوښتنه یې پر وکړه چې حضرت اوس څنګه یې؟

هغه په جواب کې ورته وویل چې ښه یمه، نو حضرت شیخ الهند رحمة الله علیه ورته فرمایي:

.............لَابَأسَ طَهُورًا اِنْ شَاءَ اللهُ﴾.(۱) او ځني روان سو.

نو ملګرو ورته ویل چې حضرت تا ډېر مختصر عیادت او پوښتنه ور باندې وکړه ده په جواب کې ورته وویل: چې پیغمبر ﷺ فرمایلي دي:

(۱) بخاري شریف، حدیث، ۳۴۲۰

..........الْعِبَادَةُ فَوَاقُ نَاقَةٍ﴾.(١)

په حديث کي چونکه داغه الفاظ وه نو دا الفاظ يې ورته وويل، چي ما دا عمل بالکل د پېغمبر ﷺ د حديث مطابق وکړی.

نبي اکرم ﷺ ته به "سُرکه" ډېره محبوبه وه شيخ الهند رحمة الله عليه به هم "سُرکه" استعمالول حالانکه يو ځل د "سُرکې" د استعمال څخه د ده پر جسم باندي دانې را وختلې لېکن د "سُرکې" په استعمال کي يې يوه ذره کمي را نه وستله دا د هغه د پېغمبر ﷺ سره کمال محبت وو.

☆.....حضرت مولانا حسين احمد مدني رحمة الله عليه په باره کي راځي چي هغه به کله د تهجد لمونځ کوی په لمانځه کي به يې هغه حالت وو چي کم حالت د پېغمبر ﷺ د سيرت په کتابو کي ليکلی دی.

چي د ده سينه مبارکه به د کټوي په شان باندي د ژړا څخه ختېکېدله او د تهجد د لمانځه څخه وروسته به يې په سگليو باندي ژړل او عام طور به يې د سهار په لمانځه کي "طوال مفصل" سورتونه ويل؛ ځکه چي دا د نبي ﷺ سنت او طريقه وه.

د دارالعلوم ديوبند په "شوریٰ" کي دا خبره پېش سوه چي په دارالعلوم کي به گلان را شنه کيږي، علماؤ د دې متعلق مختلف فرمائشونه پېش کړه چي دا رنگه گلان دي په دارالعلوم کي را شنه سي.

حضرت مولانا حسين احمد مدني رحمة الله عليه ورته ويل چي دلته د "کيکر" درختي ولگوئ اوس علماء د ده د خبري په حکمت نه پوهېدل دوی به ويل چي د بنائست لپاره د گلانو بوټي لگول کيږي او د خوړک لپاره د ميوو درختي لگيږي لېکن د "کيکر" په درخته کي خو د ازغيو بغير نور څه نه وي، نه معلوم چي حضرت په دې کي څه حکمت ويني؟

(١) کنزالعمال، حديث: ٢٥١٥٥

لېکن حضرت مولانا حسین احمد رحمة الله علیه به پر دې خبره اصرار کوئ چي د دار العلوم په دې ګلستان کي د "کیکر" درختي ولګوئ! یو چا پوښتنه ځني وکړه چي حضرت د "کیکر" په درخته کي څه فائده سته؟

ده په جواب کي ورته وویل د احادیثو څخه دا خبره معلومېږي چي نبي اکرم ﷺ "بیعت رضوان" د "کیکر" تر درختي لاندي د صحابه وو څخه اخیستی دی.

لهذا زه دا غوارم چي د "کیکر" درخته وینم نو ماته د خپل محبوب عمل په یاد راځي.

د حضرت مدني رحمة الله علیه پر غاښ باندي یو ځل درد راغلی، یو عالم ته یې وویل چي ماته "لونګ" راوړه په تیرو زمانو کي "لونګ" د غاښ په درد کي استعمالېدل نو د هغه څخه به هغه درد آرامېدی.

هغه عالم ده ته څلور (۴) دانې "لونګ" را وړه حضرت مدني رحمة الله علیه ورته وایي: چي ګوره صوفي هم یې او عالم هم یې او دومره معلومات تر اوسه درته نسته.

............إنّ الله وترٌ يُحِبُّ الوِترَ﴾.(١)

الله تعالی وتر او طاق دی او وتر خوښوي، یو(۱)، درې(۳)، پنځه(۵)، اووه(۷)، دا اعداد الله تعالی ته خوښ دي.

یعني په دومره کوچني عمل کي هم د حضرت مدني رحمة الله علیه ذا رایه وه چي د سنت مطابق عدد به دې را وړی نو هغوی د "لونګ" په راوړلو کي هم د سنت طریقې خیال ساتی.

واقعةً هم چي کم انسان په دنیا کي د سنت په دغه شکل عاشق وي که څه هم په دنیا کي د ده زندګي د ګناهو او د خطاګانو مجموعه سي لا به هم د قیامت په میدان کي الله تعالی دَی د شفاعت مستحق او حقداره جوړوي.

---

(١) سنن الدارمي، حديث: ۱۵۸۰

☆.....چنانچه حضرت مولانا يحيیٰ رحمة الله عليه به يو عجيبه خبره كوله هغه به فرمايل چي پر سنت طريقه په "بيت الخلا" كي د تقاضا حاجت لپاره كښېنستل د الله تعالی په دربار كي تر ډيرو نفلي عباداتو الله تعالی ته ډېر محبوب دی.

نو زموږ په اكابرو كي د سنت طريقې په دومره زياته اندازه سره اتباع وه په كار دا دی: چي موږ هم په خپلو ځانو كي دا اتباع پيدا كړو او چي په كم ځای كي او سېږو كوشش مو دا وي چي زموږ هر قول او فعل د پېغمبر ﷺ د طريقې مطابق وي.

## حضرت عبدالله بن مبارک او اتباع سنت:

د حضرت عبدالله بن مبارک رحمة الله عليه په باره كي سيلمان بن يسار رحمة الله عليه فرمايي: چي ما د ده ژوند د ډيرو كلو څخه ډېر د نژدې څخه مطالعه كړئ.

او زه دې نتيجې ته ورسېدم چي د عبدالله بن مبارک رحمة الله عليه او د صحابه وو په مابين كي يو فرق وو.

هغه دا چي صحابه وو ته د نبي اكرم ﷺ د ديدار شرف حاصل كړی وو، او حضرت عبدالله بن مبارک رحمة الله عليه ته هغه حاصل نه وو، د دې څخه علاوه د ده په زندګي او د صحابه كرامو په زندګي كي ماته هيڅ فرق نور نه را معلومېدی.

د دې څخه تاسو اندازه ولګوئ! چي زموږ اكابرو په هر هر عمل كي د سنت طريقې په څومره زياته اندازه سره خيال ساتئ، كه به هر څومره كوچنی عمل وو د دوی به دا كوشش وو چي پر سنت طريقه يې برابر وكړي.

نو د دې په خاطر به د قيامت په ميدان كي د پېغمبر ﷺ د شفاعت مستحق او حقداره وي او الله تعالی به دوی د پېغمبر ﷺ د شفاعت په بركت د جنت مستحق جوړوي.

## د نبي اكرم ﷺ د شفاعت مستحق:

عام طور په معاشره كي دوه (۲) رنګه انسانان وي، بعضي هغه انسانان وي چي د سنت طريقې سره محبت ساتي او په سنت طريقه باندي خپل ژوند تېروي.

او بعضي خلک داسي وي چي د سنت طریقې خیال نه ساتي چي کمځوک پر سنت طریقه باندي ژوند تېروي د هغو استهزاء کوي او هغه د پخواني دماغ والا بولي او د پیغمبر ﷺ سنتو ته په سپک نظر گوري نو هغه د قیامت په میدان کي د پیغمبر ﷺ د شفاعته څخه خپل ځان محرومه جوړوي.

لېکن کچیري یو سړی د پیغمبر ﷺ د سنت طریقې څخه محرومه وي مگر خپل ځان مجرم بولي او وایي: چي زه د خپل نفس په وجه په گناه اخته یم اصل طریقه د زندگۍ سنت طریقه بولي، نو د الله تعالی په دربار کي د سنت د محبت په وجه به دَی د پیغمبر ﷺ د شفاعت څخه محرومه نه کړځي.

لېکن خدا نه خواسته چي کمځوک د سنتو استخفاف کوي نو هغوی ته به د مرگ په وخت کي کلمه د شهادت نه نصیب کېږي.

بالفرض که یو څوک پر سنتو باندي عمل نسي کولای نو خپل ځان دي مجرم بولي او دا دي وایي چي زما نفس کمزوری دی زه پر سنت طریقه عمل نسم کولای زما د زړه دا تمنٰی ضرور ده چي زما زندگي د پیغمبر ﷺ پر سنت طریقه تېره سي نو بیا به د الله رب العزت تر رحمت لاندي راځي او د قیامت په میدان کي به الله تعالی وده ته د پیغمبر ﷺ شفاعت ور نصیب کوي.

## د پیغمبر ﷺ زړه ته تکلیف رسول:

په معاشره کي چي کم څوک د پیغمبر ﷺ پر سنت طریقه عمل نه کوي یقینًا هغه په دې خپل عمل باندي د پیغمبر ﷺ زړه ته تکلیف رسوي.

کافرانو هم پیغمبر ﷺ ته تکلیفونه ور ورسول مگر هغه خو پردي وه او کافران وه موږ خو د پیغمبر ﷺ امتیان یو او پیغمبر ﷺ موږ خپل بولي او چي کله انسان ته د خپله څخه تکلیف ورسیږي نو پر هغه باندي انسان ته ډېر زیات زړه ور لږېږي، او هم یې ژر گیله کېږي.

چنانچه یو شاعر دی ده د تصوفو پر موضوع باندي په فارسي ژبه کي یو څه اشعار لیکلي وه د ایران یو بزرگ چي کله هغه اشعار وویل نو هغه ته یې ډېر ښه خوند ور کړی.

او دا يې نيت وکړی چې د دې شاعر ملاقات ته به ورځم او دَی به وينم، چې دا څومره لوی صوفي او بزرګ انسان دی، او الله تعالی ده ته د تصوفو سره څومره زيات تعلق ور کړی دی.

چې کله د هغه ملاقات ته راغلئ نو هغه شاعر د "حجام" (ږيره خريونکي) پر دوکان ناست دی او ږيره خروي اوس هغه ايراني بزرګ په ذهن کي د ده متعلق نور تصورات را اخيستي وه لېکن چې دَی يې په کم شکل کي وليدئ نو ډېر د حيرت په حالت کي ورته وايي:

*اغا ريش می تراشی*..............اغا ږيره خروې!

هغه شاعر په جواب کي ورته وويل:

*بلی ريش می تراشم وليکن دل مسلمان نه می خراشم*............ ږيره خو خريم لېکن د مسلمان زړه نه زهيروم.

هغه بزرګ ورته وايي:

*بلی دل مسلمان نه می خراشی ليکن بخدا دل رسول الله می خراشی*...............ته خو د مسلمان زړه نه زهيروې لېکن په خدای قسم د رسول الله ﷺ زړه ته تکليف رسوې!

او دا کمه چاره چې ته پر خپل مخ را کشوې دا په حقيقت کي ستا پر مخ نه بلکه د رسول الله ﷺ پر زړه مبارک را کشيږي.

چې کله هغه بزرګ شاعر ته دا خبره وکړه نو د هغه شاعر پر زړه باندي يو عجيبه کيفيت راغلئ نو هغه په صداقت سره توبه وکښه او دا يې ويل:

*جزاک الله که چشمم باز کردی... مرا باجان جانان همراز کردی*

الله تعالی دې جزاء خير در کړي چې زما سترګي دې را خلاصي کړې، او زه دې د خپل جانان سره يک رنګه کړم.

د سنت د مخالفت کولو څخه د الله تعالی د محبوب پیغمبر ﷺ زړه ته تکلیف ...سیږي کچیري موږ د سنت طریقې خلاف کار کوو، نو د الله تعالی نبي ﷺ ته تکلیف ...سونکي یو.

## ...یو بزرګ واقعه:

...کتابو کي لیکلي دي چي یو بزرګ وو روزانه به یې یو لک (۱۰۰۰۰۰) واره "درود ...ریف" وایي، او دا به یې پیغمبر ﷺ ته د هدیې په شکل وراستوی د ده دا معمول ...و.

...ه شپه په خوب کي یې د پیغمبر ﷺ زیارت په نصیب سو چي کله ورته ګوري نو ...ﷺ ته مخامخ ولاړ دی او د هغه پر سینه مبارکه باندي د زخمو نوښانونه ...ي.

...ی ډېر حیران او پرېشان سو ورته وایي ای د الله نبي ﷺ! ستا پر دې سینه مبارکه ...ندي دا نښانونه د څش دي؟

...یغمبر ﷺ جواب ورکوي چي زما د امت یو څه خلک زما سنتونه ذبح کوي هغه زما ...سینه باندي زخمونه لګوي او ماته تکلیف رسوي نو دا هغه زخمونه دي چي د ...مت د سنتو ذبح کولو په وجه زما پر سینه باندي لیدل کیږي.[1]

## ...سلو (۱۰۰) شهیدانو ثواب:

...نانچه پیغمبر ﷺ فرمایلي دي چي کله چا زما سنت طریقه ژوندۍ کړه د هغه څخه ...روسته چي څومره انسانان پر هغه طریقه عمل کوي د هغه ثواب د هغه بنده په عمل ...امه کي لیکل کیږي.

...ن که موږ د پیغمبر ﷺ پر سنتو باندي عمل وکړو او د ده سنت په خپله زندګي کي ...وندي کړو، نو د قیامت په ورځ به د ده شفاعت زموږ په نصیب سي.

---

[1] خطبات فقیر، جلد: ۲۸ صفحه: ۱۴۳

لیکن که موږ د پیغمبر ﷺ سنت پرېښول، نو پیغمبر ﷺ به د قیامت په میدان کي راته وايي: چي ستاسو او د کافرانو په مابین کي دومره فرق وو چي هغو زما مجسمې جوړلې او تصویرونه یې جوړل او کارټون یې جوړوی او پر ما باندي یې مذاق او مسخرې جوړولې، تاسو هم زما سنت ته د مذاق او مسخرو په نظر کتل او د هغوی مو استخفاف کوی!

## پر اتباع سنت باندي د حوض کوثر جام:

ن د الله تعالی د نبي ﷺ سره د وفا ښکاره کولو وخت دی نو بیا به سبا د قیامت په بیدان کي زموږ په نصیب د الله تعالی د رسول ﷺ شفاعت وي.

کهچیري د قیامت په میدان کي زموږ نبي دا نعره وکړي:

﴿يَا رَبِّ إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوا هَذَا الْقُرْآنَ مَهْجُورًا﴾.(۱) نو بیا به زموږ کم حالت وي؟

و په کار دا ده چي موږ خپل ځانونه مکمل د پیغمبر ﷺ د سنتو مطابق جوړ کړو که چیري "ملک الموت" راسي نو زموږ اندامونه ګوري نو په سنت نبوي سره مزین او ښائسته ور معلومیږي.

و زموږ زړونه وګوري په عشق نبوي سره لبریز او ډک ور معلوم سي، او موږ سبا د قیامت په میدان کي چي کله د الله تعالی د رسول ﷺ ومخته حاضر سو نو هغوی په خوشحالي او په خندا سره موږ ته ګوري چي دا زما د [illegible] او دا زما هغه امت وو چي زما څخه وروسته یې ژوند زما پر نقش قدم باندي تېر کړی او نن د قیامت په میدان کي زما ملاقات ته راغلل.

نو د الله تعالی رسول ﷺ به په خپلو لاسو سره د حوض کوثر جامونه را کوي او چي کله د الله تعالی په دربار کي حاضر سو نو هلته به دا وایو:

*تیرے محبوب کی یارب شباہت لے کر آیا ہوں*

*حقیقت اس کو تو کر دے میں صورت لے کے آیا ہوں*

---

(۱) سورة الفرقان، آیت نمبر، ۳۰

ای رب کریمه! نن زموږ سره صرف ظاهري صورت دی دا په حقیقت بدل کړې او زموږ په سینو کي د خپل محبوب محبت را واچوې او موږ پخپلو محبوبو بندګانو کي شامل کړې د قیامت د ورځي کامیابي او د دنیا عزتونه د پیغمبرﷺ د سنت طریقې سره تړلي دي.

ای الله! موږ ته د سنت طریقو سره رشتونی محبت را نصیب کړې، او زموږ د ژوندکی دا آخره حصه د پیغمبرﷺ پر سنت طریقه جوړه کړې هغه سنت طریقه چي ستا وذات ته محبوبه ده.

(آمین یا رب العالمین)

وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ










مکتبۃ الهاشمیه
0310-4594038